رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا (الكهف)

لعثماني كتابتون

بیانِ یسیر

لعثماني كتابتون

پښتو تقریر

نحو میر

ازافادات

مولانا اطیع الله صاحب

استاد الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب و تزئین و حاشیہ

مفتی حافظ کلیم الله صاحب

فاضل دار العلوم کراچی

استاد جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ ۔ کوئٹہ

- د کتاب نوم:..........................بیان یسیر
- افادات:.........................مولانا اطیع الله صاحب
- ترتیب وتزئین وحاشیه:...............حافظ کلیم الله صاحب
- نظر ثاني:.. مولوی محمد هارون صاحب – حافظ کلیم الله صاحب
- فن:.......................................علم النحو
- کمپوز:..........................عبدالوهاب "متعلم"
- معاون:.....................طالب العلم موسیٰ کلیم

د ملاوېدو ځایونه:

1. مکتبه محمدیه:..............اباسین روډ چمن
2. اسلامي کتب خانه:.........تاج میر خان روډ چمن
3. مکتبه محمودیه:..............سرخاب روډ پشین
4. مکتبه غفاریه:.................ارګ بازار قندهار
5. جامع مسجد حاجي عبدالودود:.............چمن

شماره | # د مضامینو تفصیلي فهرست: | صفحه

د مضامينو تفصيلي فهرست:

شماره | # د مضامینو تفصیلي فهرست: | صفحه

د مضامينو تفصيلي فهرست:

شماره

د مضامینو تفصیلي فهرست:

صفحه

د مضامينو تفصيلي فهرست:

شماره		صفحه
۹۶.	➢ شپږمه خبره د "حيث" د لفظ تحقيق:...........................	۱۲۴
۹۷.	➢ اوومه خبره اسماء كنايات:...........................	۱۲۵
۹۸.	➢ حل سوي جملې او تمرين:...........................	۱۲۷
	(الدرس الخامس عشر)	
۹۹.	➢ اوله خبره د اسم اول تقسيم:...........................	۱۲۸
۱۰۰.	➢ دوهمه خبره فائده:...........................	۱۳۱
۱۰۱.	➢ دريمه خبره د تانيث علامات:...........................	۱۳۲
۱۰۲.	➢ څلورمه خبره فائده:...........................	۱۳۴
۱۰۳.	➢ پنځمه خبره د مؤنث تقسيمات:...........................	۱۳۵
۱۰۴.	➢ شپږمه خبره فائده:...........................	۱۳۶
۱۰۵.	➢ اوومه خبره د چند اوزانو استعمال على السويه دئ:...........................	۱۳۸
۱۰۶.	➢ حل سوي جملې او تمرين:...........................	۱۳۹
	(الدرس السادس عشر)	
۱۰۷.	➢ اوله خبره د اسم دريم تقسيم:...........................	۱۴۱
۱۰۸.	➢ دوهمه خبره د تثنيه مجازي تعريف:...........................	۱۴۳
۱۰۹.	➢ دريمه خبره د جمع حكمي تعريف:...........................	۱۴۴
۱۱۰.	➢ څلورمه خبره د اسم جمع تعريف:...........................	۱۴۶
۱۱۱.	➢ پنځمه خبره د تغير حكمي د پېژندلو طريقه:...........................	۱۴۷

د مضامينو تفصيلي فهرست:

شماره		صفحه
۱۳۲.	اوله خبره د فعل مضارع اعراب:	۱۸۱
۱۳۳.	دوهمه خبره افعال په نزد د نحاتو:	۱۸۲
۱۳۴.	دريمه خبره د فعل مضارع اقسام:	۱۸۳
۱۳۵.	څلورمه خبره د معتل الفي بيان:	۱۸۴
۱۳۶.	پنځمه خبره د عامل لغوي او اصطلاحي معنی:	۱۸۵
۱۳۷.	شپږمه خبره د عامل لفظي تقسيم:	۱۸۶
۱۳۸.	حل سوي جملې او تمرين:	۱۸۹
	(الدرس العشرون)	
۱۳۹.	اوله خبره حروف جاره:	۱۹۱
۱۴۰.	دوهمه خبره د جار او مجرور مختصره تشريح:	۱۹۳
۱۴۱.	دريمه خبره هغه حروف جاره چي متعلق نه غواړي:	۱۹۵
۱۴۲.	څلورمه خبره حروف مشبه بالفعل:	۱۹۶
۱۴۳.	پنځمه خبره د حروف مشبه بالفعل عملي حيثيت:	۱۹۸
۱۴۴.	شپږمه خبره ما و لا مشبهتين بليس:	۱۹۹
۱۴۵.	اوومه خبره د "لا" د عمل دپاره شرائط:	۲۰۱
۱۴۶.	حل سوي جملې او تمرين:	۲۰۲
	(الدرس الحادي والعشرون)	
۱۴۷.	اوله خبره د "إِنَّ" مكسوره او مفتوحه بحث:	۲۰۳
۱۴۸.	دوهمه خبره "أَنَّ" مفتوحه مواقع:	۲۰۴
۱۴۹.	دريمه خبره لاء نفي جنس:	۲۰۷
۱۵۰.	څلورمه خبره د لاء نفي جنس د اسم اقسام:	۲۰۹
۱۵۱.	پنځمه خبره:	۲۰۹
۱۵۲.	شپږمه خبره د لاء نفي جنس د اسم او خبر حذف:	۲۱۰

شماره | د مضامينو تفصيلي فهرست: | صفحه

شماره | د مضامینو تفصیلي فهرست: | صفحه

د مضامینو تفصیلي فهرست:

د مضامينو تفصيلي فهرست:

شماره | صفحه

(الدرس السابع و العشرون)

(الدرس الثامن والعشرون)

د مضامينو تفصيلي فهرست:

شماره | د مضامینو تفصیلي فهرست: | صفحه

د مضامینو تفصیلي فهرست:

شماره | صفحه

شماره | د مضامینو تفصیلي فهرست: | صفحه

د مضامينو تفصيلي فهرست:

شماره		صفحه
۲۸۹.	◄ دريمه خبره حروف شرط:........................	۴۱۹
۲۹۰.	◄ څلورمه خبره د "لولا" بيان:........................	۴۲۱
۲۹۱.	◄ پنځمه خبره د "ما" بيان:........................	۴۲۱
۲۹۲.	◄ شپږمه خبره د "ام" بيان:........................	۴۲۲
۲۹۳.	◄ اوومه خبره د "بل" بيان:........................	۴۲۳
۲۹۴.	◄ حل سوي جملې او تمرين:........................	۴۲۴
	(الدرس الاربعون)	
۲۹۵.	◄ اوله خبره د مستثنى بحث:........................	۴۲۸
۲۹۶.	◄ دوهمه خبره د مستثنى اقسام:........................	۴۲۹
۲۹۷.	◄ دريمه خبره د مستثنى دوهم تقسيم:........................	۴۳۰
۲۹۸.	◄ څلورمه خبره د مستثنى اعراب:........................	۴۳۰
۲۹۹.	◄ پنځمه خبره د دوهم قسم اعراب:........................	۴۳۱
۳۰۰.	◄ شپږمه خبره د څلورم قسم اعراب:........................	۴۳۲
۳۰۱.	◄ اوومه خبره د لفظ د "غير" معنى:........................	۴۳۲
۳۰۲.	◄ حل سوي جملې او تمرين:........................	۴۳۴
۳۰۳.	◄ د مكمل نحو مير خلاصه:........................	۴۳۶
۳۰۴.	◄ د زنځيري تركيب نمونه:........................	۴۴۲

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه:

حَمِدتُّ اللهَ حَمْدًا لَا فَنَاهُ ... وَحَدُّ الْعِلْمِ لَا يَعْلَمُ سِوَاهُ

لَهُ اَسْمَاءٌ وَ صِفَاتٌ قَدْ تَعَالَتْ .... جَلَّتْ وَ انْجَلَتْ فَاطْلُبْ رِضَاهُ

نُصَلِّيْ ثُمَّ بَعْدَ الْحَمْدِ صِدْقًا .... عَلٰى خَيْرِ الْبَرِيَّةِ مُصْطَفَاهُ

دا حقیقت وهر چاته ښکاره دئ چي د علمي سفر په دوران کي پر علم نحو باندي تېرېدل ضروري دي او علم نحو د ډېرو ضروري علومو څخه بلل سوي ده.

صاحب د (مدينة العلوم) او صاحب د (مفتاح السعادة) ليکلي دي چي د علم نحو زده کول د فروض کفايه وو څخه دي، ځکه د کتاب الله، او سنة رسول الله، څخه په استدلال کولو کي و علم نحو ته ډېر احتياج پيدا کيږي.

د حضرت عمر رضي الله عنه قول را منقول دئ چي ده مبارک به فرمايل: "تَعَلَّمُوْا النَّحْوَ كَمَا تَتَعَلَّمُوْنَ السُّنَنَ وَ الْفَرَائِضَ" علم نحو داسي زده کوئ لکه تاسو چي فرائض او سنن زده کوئ.

داغه رنګه د شيخينو يعني ابو بکر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما فرمان دئ چي "اِعْرَابُ الْقُرْآنِ اَحَبُّ اِلَيْنَا مِنْ تَعَلُّمِ حُرُوْفِهِ" د قرآن کريم اعراب صحيح ويل مونږ ته د هغه د حروف تر زده کړه ډېر محبوب دئ.

لېکن زمونږ د علاقې طالبان که څه هم محنت کونکي دي، خو د هغو په ذهن کي د علم نحو زده کړه دا ده چي د علم نحو د لوی کتابو پر عبارت او حاشيو او نکتو زده کولو باندي خپل طاقت او کوشش ختم کي.

او د عربي ترکيب او په عربي عباراتو کي د علم نحو د قواعدو د اجراء د هغوی سره هيڅ فکر نه وو.

نو د هغه به دا نتيجه وه چي طالب العلم به په خپل علمي سفر کي انتهاء ته ورسېدئ لېکن په عربي عباراتو کي به د ترکيب په لحاظ د غلطۍ کولو څخه محفوظ نه وو.

نو بنده د دې کمزورۍ ليري کولو په خاطر د کال په آخيري رخصتيو کي يو کال طالبانو ته (نحومير) د خلاصې په شکل کي د څه ضروري قواعدو ور درساوئ، خو په هغه کي به زيات په

بسم الله الرحمن الرحیم

عرض مرتب:

(اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ سَلَامٌ عَلٰی عِبَادِہِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی).

احقر العباد بنده ناچیز د هرڅه څخه مخکي د الله تعالی شکر ادا کوي چي الله تعالی محض په خپل فضل و کرم سره بغیر د څه استحقاق او د خپلو محترمو استاذانو او بزرگانو خصوصا د بنده د محبوب شیخ حضرت صوفي شاه فیروز عبدالله میمن صاحب (دامت برکاتہم) خلیفه مجاز بیعت شیخ العرب و العجم عارف بالله حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمہ اللہ د خصوصي مشورو او دعاگانو په برکت سره د (بیان یسیر) چي تقریر د نحو میر دئ په پښتو ژبه او په کتابي شکل کي يې تکمیل و کړئ.

د دې مسودې د تیارولو وجه او سبب هم هغه دئ کم چي د (بیان الصرف) تقریر ارشاد الصرف په تیارولو کي بیان سوی دئ، بالاخر د بنده مشرورور او استاذ محترم حضرت مولانا اطیع الله صاحب (دامت برکاتہم) و بنده ته د دې تقریر د تیارولو امر و کړئ.

نو بنده د حضرت (دامت برکاتہم) په امر او حکم باندي د خپل کم علمي او تهی دستی د اعتراف او تدریسي او نورو مصروفیاتو باوجوده صرف د الله د مبارک نوم په ویلو سره د حضرت موصوف (دامت برکاتہم) په نگراني او سرپرستي کي د دغه تقریر په مرتب کولو کي شروع و کړه چي الله تعالی محض په خپل فضل او کرم سره پایه تکمیل ته ورساوئ.

بنده د حضرت موصوف (دامت برکاتہم) د افاداتو یو لیکل سوې مسوده مخ ته کښېښوله او پر هغه باندي يې د تصحیح کار شروع کړئ او په تصحیح کولو کي بنده د مختلفو عربي او اردو شروحو څخه استفاده کړې ده خصوصا د دې تقریر په متن او جاشیه کي د درو قابل الذکر شروحو څخه اخذ سوی دئ هغه لکه: جامع الدروس العربیة (عربی شرح) چي د الشیخ مصطفٰی الغلاییني تالیف دئ.

او دوې اردو شرحي یوه شرح په نامه د (تنویر) چي د حضرت مفتي عطاء الرحمٰن ملتاني صاحب تالیف دئ. او بله په نامه د (نصر الخبیر) چي د بنده د مشتفق استاذ ابو حذیفه حضرت مولانا حسین قاسم صاحب (دامت برکاتہم) استاذ دار العلوم کراچي تالیف دئ. او د اجراء په حل او ترکیب کي اکثر د (اعراب القرآن) څخه استفاده سوې ده، که څوک مراجعت و غواړي نو دغه مذکوره شروحو ته رجوع کولای سي، او د دې څخه علاوه د نورو کتابو حواله په حاشیه کي موجوده ده.

عباراتو کي د قواعدو د اجراء خیال ساتل کېدئ. او بل کال به (ارشاد الصرف) پر داغه ترتیب ویل کېدئ.
او په هغه کي به مبتدي او منتهي طالبانو په ډېر کثرت سره شرکت کاوئ، چي کله طالبانو د هغه فائده زیاته محسوسه کړه نو دوی به همېشه د نحو میر او ارشاد الصرف د تقریرونو سره د اجراء د لیکلو تمنّٰی ښکاره کوله.
خو د دوی دا تمنّٰی د بنده کشر ورور ذکي او با استعداده فاضل او مُدرس حافظ مُفتي کلیم الله صاحب په ښه طریقه ور پوره کړه.
یو ځل یې هغه د دورې ویل سوي د (ارشاد الصرف) سبقانَ سره د اجراء او ضروري قواعدو او فوائدو سره راجمع کړل او هغه یې د (بیان الصرف) په نامه چاپ کړل.
او دوهم ځل یې د نحو میر ویل سوي سبقان سره د اجراء راجمع کړل او د هغه سره یې بهترینه حاشیه اضافه کړه او د (بیان یسیر) په نامه یې چاپ ته برابر کړل، الله دي د ده په عمر او علم کي برکت واچوي او الله تعالی دي د ده دا محنت قبول و ګرځوي.
او الله تعالی دي دواړه تقریرونه د طالبانو د "صرفي" او "نحوي" تُشنګی څخه د سېرابولو ذریعه او سبب و ګرځوي.
او په آخر کي د الله تعالی په دربار کي دا تمنّٰی پېشوم چي هر چا د دې تقریرونو په را جمع کولو او برابرولو کي په هر قسم سره کوشش کړی وي، الله تعالی دي زموږ او د هغو ټولو دپاره د نجات ذریعه و ګرځوي.

"وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ"

اطیع الله (عُفی عنہ) (ولد) حاجي مُلا عبدالعزیز (مرحوم)

جامعہ اسلامیہ (علامہ تاؤن) بائی پاس رود چمن

۱۴ ذی الحجۃ ۱۴۳۶ ہجری

مطابق: ۲۹/۸/۲۰۱۵

د دې کتاب پر خصوصیاتو یو نظر:

الحمد لله د (بیان الصرف) په شان باندې په دې تقریر کې هم د هر قسم استعداد لرونکي طالب العلم خیال ساتل سوی دئ، او هر طالب العلم د خپل استعداد مطابق استفاده ځني کولای سي، او دا تقریر پر یو څو خصوصیاتو باندې مشتمل دئ چې ذکر یې په لاندې ډول دئ.

١. دا تقریر پر ثلوېښت سبقانو او درسو باندې لیکل سوی دئ چې د هر سبق خلاصه تقریبا پر اوو خبرو باندې مشتمله ده چې هر استاذ او طالب العلم د هغه څخه د خپل مقصد اخذ په ښه طریقه کولای سي.

٢. د نحو میر د فارسي عبارت آسانه او سلیسه پښتو ترجمه په دې تقریر کې ور کول سوې ده. چې د ابتدائي طالب العلم دپاره د نحو میر د فارسي عبارت په یادولو کې د یو ښه معاون حیثیت لري ځکه د عبارت معنی یې ازده وي نو په یادولو کي یې شوق زیات وي.

٣. د دې تقریر پښتو ژبه بالکل آسانه او ساده ژبه ده چې په هغه کي ادبي پښتو ژبه نه ده استعمال سوې نو ځکه د پښتو هر قسم ژبه ویونکی خواه که پشاوری وي او که قندهاری وي او که بل پښتو ژبه ویونکی وي د دې تقریر څخه په ډېر آسانه خپل مقصد حاصلوای سي.

۴. د دغه تقریر متن د اوس موجوده عصر حاضر د طالب علمانو د استعداد مطابق لیکل سوی دئ چې نه ډېر مختصر دئ او نه ډېر مطول بلکه متوسط دئ، چې کم از کم د یو طالب العلم په علم نحو کي څه نا څه په دغه خبرو سر خلاص وي چې بیا دی ځان ته په نحوي اعتبار هم فائده ورسوي، او سر یې په ترکیب خلاص سي چې د عربي عبارت صحیح او پُر مقصده ترجمه راوباسي، او بل ته هم فائده ورسوي او بیا د علم نحو په درس کي پرېشاني ورته نه وي.

۵. پر دغه تقریر یو مختصره حاشیه اضافه سوې ده، چې د متن زیاته تشریح یې کړې ده، هر طالب العلم خصوصا ابتدائي مدرسین د نحو میر په درسولو کي بطور تفریح استفاده ځني کولای سي.

٦. د دې تقریر آخیري امتیازي خصوصیت دا دئ: چې په دې تقریر کي د هر سبق څخه وروسته د اجراء دپاره دوولس حل شده مثالونه او اته یا لس غیر حل شده مثالونه صرف د تمرین دپاره چې اکثره قرآني مثالونه دي ور کول سوي دي، چې هغه د حضرت موصوف (دامت برکاتہم) د محترم استاد حضرت مولانا نصر الله خان صاحب (مرحوم) طرز دئ.

او د اسماء عاملو څخه د حضرت موصوف (دامت برکاتہم) د یو خصوصي مشورې مطابق یو علیحده طرز ور کول سوی دئ چې هغه به په آخر کي د ترکیب په اعتبار سره ډېر مفید وي انشاء الله تعالی.

د دې تقرير څخه د استفاده کولو طريقه:

بقول حضرت موصوف (دامت برکاتہم) د دغه تقرير څخه د استفاده کولو طريقه به دا وي چې که چيري نحو مير په دوره کي درس کيږي نو بيا که چيري په ښلو ښت ورځي کي د طالب علمانو د استعداد مطابق د دې تقرير د متن او حاشيه څخه په استفاده کولو درس سي نو به ډېر ښه وي.

او که چيري و ابتدائي طالب علمانو ته په کال کي نحو مير درسيږي نو بيا يې اَوَّلًا د درسولو طريقه د استاد پر صواب ديد باندي موقوفه ده چي په نه (۹) مياشتي کي يې د طالبانو د استعداد مطابق درس کي، او د متن او حاشيې څخه يې د طالب علمانو د استعداد مطابق او د خپل صواب ديد مطابق اخذ وکي، بيا هم کچيري په نه (۹) مياشتي کي روزانه په يوه يوه خبره يا په دوه دوه خبرو باندي وويل سي نو به ډېر مفيد وي انشاء الله.

بنده ناچيز هم چونکه د نېکۍ په کار کي د شموليت او قاعده (اَلْاَمْرُ فَوْقَ الْاَدَبِ) په تقاضا سره د دې تقرير په ترتيب او تزئين کي حصه اخستې ده حتى الوسع بنده د دې تقرير په ترتيب ور کولو کي د غلطۍ تصحيح کړې ده، بيا هم که چيري د بشري کمزورۍ د تقاضا پر بنياد باندي د بنده څخه د دې تقرير په ترتيب او تزئين و غيره کي يو غلطي سوې وي، نو بنده اَوَّلًا د الله تعالى څخه او ثَانِيًا د ټولو مسلمانانو څخه د معافۍ طلب ګار دئ.

او د محترمو ناظرينو پر اطلاع باندي به انشاء الله تعالى په آئنده چاپ کي د هغه غلطۍ اصلاح کيږي.

او په آخر کي د بنده د ټولو مسلمانانو خصوصا د ناظرينو حضراتو څخه غوښتنه او خواست دا دئ چي بنده او د بنده شيخ (دامت برکاتہم) او د بنده والدين، استاذان، شاګردان، او تر قيامته پوري راتلونکي جمله ذُريات په خپلو خصوصي دعاګانو کي ياد وساتي او الله تعالى دي و دې تقرير ته تر قيامته پوري په هر اعتبار سره شرف قبوليت ور نصيب کړي، چي خالص د الله تعالى د رضا سبب و ګرځي. آمين

بنده ناچيز: کليم الله (ابن) ملا عبد العزيز (مرحوم)

مدرس جامعہ اسلامیہ (علامہ تاؤن) بائی پاس رود چمن

۸ ذی الحجہ ۱۴۳۶ ہجری

مطابق: ۲۰۱۵-۸-۲۲ اگست

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

ترجمه:

ټول تعريفونه خاص الله پاک لره دي، چې د ټولو جهانو پالونکي دئ، او ښه انجام د پرهېزګارانو دپاره دئ، او درود او سلام دي وي، پر داسي ذات چي تر ټول مخلوق غوره او بهتره دي، يعني پر محمد ﷺ او د ده پر اولاد او پر تمامو صحابه کرامو رضي الله عنهم باندي.

الدرس الاول:

د نن د سبقه خلاصه شپږ (٦) خبري دي:

اوله خبره:

مقدمه:

مبادیات د نحو:

د هر علم د شروع کولو څخه مخکي د اوو شيانو پېژندل ضروري دي: (۱) تعريف د علم. (۲) غرض او غايت د علم. (۳) موضوع د علم. (۴) واضع د علم. (۵) فضيلت د علم. (٦) وجه د تسميه د علم. (۷) جنسيت د علم.

د نحو د لفظ لغوي معنیٰ:

لفظ د نحو په لغت کي د مختلفو معناګانو دپاره استعمالېږي: (۱) جهت، طرف. (۲) مثل. (۳) نوع. (۴) لاره. (۵) مقدار. (٦) ګرځول. (۷) قصد او اراده. (۸) بعضيت. (۹) قبيله. (۱۰) اندازه. (۱۱) پرهېزول. (۱۲) قِسم. (۱۳) صيانت (ساتل). (۱۴) فصاحت. (۱۵) اعراض، لکه: څنګه چي يو شاعر په دې شعر کي سره راجمع کړي دي.

شعر:

"لِلنَّحْوِ سَبْعُ مَعَانٍ قَدْ اَتَتْ لُغَةً: جَمَعْتُهَا ضِمْنَ بَيْتٍ مُفْرَدٍ كَمُلاً"

"قَصْدٌ وَمِثْلٌ وَمِقْدَارٌ وَنَاحِيَةٌ: نَوْعٌ وَبَعْضٌ وَصَرْفٌ فَاحْفَظِ الْمَثَلَا"

"نَحَوْنَا نَحْوَ نَحْوِكَ يَا حَبِيْبِيْ: نَحَوْنَا نَحْوَ اَلْفٍ مِنْ رَقِيْبِيْ"

"وَجَدْنَاهُمْ مِرَاضًا نَحْوَ قَلْبِيْ: تَمَنَّوْا مِنْكَ نَحْوًا مِنْ زَبِيْبِيْ"

ترجمه:

نحو په لغت کي په اوو معناګانو سره راځي، ما دا ټولي معناګاني د يو مفرد بيت (شعر) په ضمن کي را جمع کړي دي: قصد، مثل، مقدار، طرف، نوع، بعضيت، ګرځول او ته دا ټوله مثالونه ياد کړه.

ما قصد و کړئ ستا د قبيلې و طرفته ای زما محبوبه او ما پرېښول اندازًا (تقريبًا) زر (۱۰۰۰) رقيبان. ما دي پيدا کړي ناجوړه زما د زړه په شان او دهٔ آرزو کوله ستا څخه د کشمش د يو قسم.

دوهمه خبره:

د علم نحو اصطلاحي تعريف:

"اَلنَّحْوُ عِلْمٌ بِاُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ الْاَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلَاثِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةُ التَّرْكِيْبِ بَعْضُهَا مَعَ بَعْضٍ".

ترجمه: علم نحو يو داسي علم دئ چي په هغه کي داسي قواعد بيانيږي چي د هغه په ذريعه سره د دوو شيانو معرفت حاصليږي (۱) يو خو د دا درو کلمو يعني د اسم، فعل او حرف د آخر د حالاتو معرفت په دې اعتبار چي معرب دئ او که مبني دئ. (۲) دا چي د بعض کلمو د نورو بعضو کلمو سره د ملاوېدو په وخت کي کمه کلمه مقدمه او کمه کلمه مؤخره سي او کمه يوه معرفه راوړل سي او کمه يوه نکره راوړل سي.

د علم نحو غرض او غايت:

"صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِيْ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ" يعني ذهن (ژبه) په کلام عربي کي د واقع کېدونکي لفظي غلطی څخه ساتل.

د علم نحو موضوع:

"اَلْكَلِمَةُ وَالْكَلَامُ".

د علم نحو واضع:

د علم نحو د واضع په باره کي څلور اقوال دي: چي په هغه کي اول قول معتمد دئ.

۱. اول قول: حضرت علي رضي الله عنه.
۲. دوهم قول: حضرت ابو الاسود ظالم بن عمرو بن جندل بن سفيان الدولي.
۳. دريم قول: حضرت عبد الرحمان بن هرمز الاعرج.
۴. څلورم قول: نصر بن عاصم.

دريمه خبره:

د علم نحو فضيلت:

د عربو يوه مقوله ده: "اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ". ځکه د کتاب الله او سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په استدلال کولو کي د علم نحو ضرورت پېښيږي نو ځکه د دې علم حاصلول د فروضو کفايه وو څخه دئ داغه رنګه د حضرت عمر رضي الله عنه قول دئ: "تَعَلَّمُوْا النَّحْوَ كَمَا تَتَعَلَّمُوْنَ السُّنَنَ وَالْفَرَائِضَ" علم نحو داسي ايزده کړئ لکه څنګه چي تاسو فرائض او سنن ايزده کوئ د ايوب سختياني قول دئ: "تَعَلَّمُوْا النَّحْوَ فَاِنَّهُ جَمَالٌ لِلْوَضِيْعِ وَتَرْكُهُ هُجْنَةٌ لِلشَّرِيْفِ" تاسو علم نحو ايزده کړئ ځکه دا د کمزوري سړي دپاره باعث د ښائست ده او د شريف دپاره د دې پرېښول لوی عيب دئ.

د علم نحو وجه د تسميه:

علم نحو ته ځکه علم نحو وايي: چي د نحو يوه معنیٰ ده لاره او طريقه نو دا هم د قرآن کريم د ايزده کولو دپاره يو واضحه او ښکاره لاره ده.

څلورمه خبره:

د علم نحو جنسيت:

علوم اَوَّلًا پر دوه قسمه دي: (۱) علوم عقليه. (۲) علوم نقليه. بيا په دوی کي هر يو پر دوه دوه قسمه دئ (۱) عاليه. (۲) آليه. نو ټوله څلور قسمه سوه.

۱. علوم عقليه عاليه لکه: فلسفه.

۲. علوم عقلیه آلیه. لکه منطق.
۳. علوم نقلیه عالیه لکه: تفسیر، حدیث، فقه، و غیره.
۴. علوم نقلیه آلیه لکه: علوم عربیت، صرف، و نحو و غیره.

په دې ټولو قسمو کې اشرف او غوره دریم قسم دئ: یعني تفسیر، و حدیث، و فقه و غیره. او اهم او ضروري آخري څلورم قسم دئ یعني نحو صرف و غیره.

پنځمه خبره:

د علم نحو موجد (جوړونکی):

د دې علم د ایجاد او جوړلو په باره کې بعض مؤرخینو لیکلي دي چې د سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه خلافت کې د دې علم ایجاد وسو او وجه د ایجاد یې دا بیان کړې ده چې یوه ورځ یو اعرابي د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خدمت کې حاضر سو نو یو قاري دا آیت کریمه چې "أَنَّ اللّٰهَ بَرِيْءٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَرَسُوْلُهٗ" یې د "رَسُوْلُهٗ" د لام د ضمې (پېښ) پر ځای یې د لام په کسره (زېر) سره وواییٔ او معنی یې بالکل غلطه راوزي.

ځکه په دې صورت کې بیا د "رَسُوْلُهٗ" عطف پر لفظ د "الْمُشْرِكِيْنَ" باندي راځي چې مطلب او معنی یې دا راوزي چې الله تعالی د مشرکینو او "نَعُوْذُ بِاللّٰهِ" د خپل رسول څخه بېزاره دئ نو دا مطلب بالکل خلاف مقصود دئ حالانکه د قرآن کریم د مشهوره قرائت مطابق "رَسُوْلُهٗ" په ضمه د لام سره دئ او دی عطف دئ پر لفظ د "الله" باندي، او لفظ د "الله" محلا مرفوع دئ، نو بیا یې معنی او مقصد دا راوزي چې الله او د ده رسول دواړه بېزاره دي د مشرکینو څخه او دا معنی بالکل صحیح ده او د آیت مبارک د مقصد مطابق ده.

خلاصه: دا چې کله دا معامله د حضرت عمر رضی الله عنه په مخ کې پېش سوه نو په دې وخت کې حضرت عمر رضی الله عنه ته دا فکر ور ولوېدئ چې کم خلګ د عربي ژبي سره نابلده او ناواقف وي نو هغه خلګ خو به قرآن کریم ډېر غلط وایي.

نو ځکه حضرت عمر رضی الله عنه دا امر و کړئ چې یو داسي قواعد دي وضع سي چې د هغه قواعدو په رڼا کې انسان د اعراب د غلطۍ څخه وساتل سي چنانچه د دې دپاره یو څه قواعد او ضوابط وضع سول او د علم نحو مختصره خاکه تیاره سوه او یو څه اصول او مسائل وضع سول.

چنانچه په بعض تاريخي رواياتو کي راغلي دي: چي لاندي اصول وضع سول:

١. "اَلْكَلِمَةُ ثَلَاثٌ: اِسْمٌ، فِعْلٌ، حَرْفٌ".

٢. "كُلُّ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٌ، كُلُّ مَفْعُوْلٍ مَنْصُوْبٌ، كُلُّ مُضَافٍ اِلَيْهِ مَجْرُوْرٌ". تدريجًا دې علم تدوين او رواج پيدا کوئ حتى چي د خليفه رابع د حضرت علي رضي الله عنه په دور خلافت کي په دې علم کي ډېره ترقي وسو.

چونکه د حضرت علي رضي الله عنه دار الخلافة کوفه وه نو ځکه دغه علم په بصره او کوفه کي ډېره ترقي وکړه او د دې علم کاملين علماء اکثره په دغه علاقو کي پيدا سول او د دوی په خپل مينځ کي د اختلاف رائي په وجه دوه جلا مذهبونه و منل سوه چي يو کوفيين دي او بل بصريين دي.

بالآخر په سنه دوه سوه (٢٠٠) هجري کي علم نحو يو معرکة الاراء فن جوړ سو او په کوفه او بصره کي دوې درسگاه وي د دې علم په اشاعت کي قائمي سوې.

شپږمه خبره:

د نحو مير د مصنف د ژوند مختصره حالات:

نوم کنيت و نسب: د ده نوم علي بن محمد بن علي وو او د ده کنيت ابو الحسن وو د ده نسبي تعلق د جرجان د خاندان سره وو او د سادات خاندان سره د نسبي تعلق په وجه دی د سيد شريف په لقب سره مشهوره سو او دی ډېر زيات ذکي او فهيم انسان وو.

د ده د پيدائش نېټه او کال:

دی په سنه اووه سوه څلوېښت (٧٤٠) هجري کي د شعبان المعظم د مياشتي پر دوه ويشتمه (٢٢) د جرجان په ښار کي د (طاغو) په کلي کي پيدا سو نو ځکه و ده ته جرجاني ويل کيږي، او ده د شيراز په ښار کي خپله استوګنه اختيار کړه.

تصنيفات:

د سيد شريف د يو څو مشهورو کتابو نومونه په دې ډول دي:

١. ترجمة قرآن در فارسي. ٢. حاشيه بيضاوي. ٣. حاشيه مشکوة شريف.

۴. صغری و کبری. ۵. مير قطبي. ٦. نحو مير.

۷. شرح الفرائض السراجيه. ۸. شرح مواقف. ۹. شريفيه.
۱۰. تعريف الاشياء. ۱۱. حاشيه هداية. ۱۲. حاشيه مطول.

وفات:

۷۵ کاله ٦ مياشتي او ۱۴ ورځي الله تعالی ژوند ور نصيب کړئ په ۸۱٦ اته سوه شپاړس هجري کي پر شپږمه ٦ د ربيع الاول په ورځ د چهارشنبې باندي سيد صاحب وفات سو.

استاذان:

د ده په مشهوره استاذانو کي مبارک شاه، شيخ اکمل الدين، محمد بن محمود بابرتي حنفي، او علي بن قطب الدين رازي موجود وو.

الدرس الثاني:

د نن د سبقه خلاصه شپږ (٦) خبري دي:

اوله خبره:

سوال: د مصنف رحمه الله شروع په "بِسْمِ اللهِ" سره پر ځای د دې چي په خپل مقصد سره يې شروع کړې وای دا "اِشْتِغَال بِمَا لَا يَعْنِي" دئ يعني په بې فائدې کار باندي مشغوله کېدل دي او "اِشْتِغَال بِمَا لَا يَعْنِي" عبث دئ. و "كُلُّ عَبَثٍ حَرَامٌ" او هر عبث کار حرام دئ.

جواب: چي کله د يو شي د راوړلو لپاره يوه فائده وي نو هغه عبث نه بلل کيږي، د "بِسْمِ اللهِ" د راوړلو لپاره پنځه فائدې دي:

۱. تبرک.
۲. استعانت.
۳. موافقت د قران کريم سره.
۴. امتثال په حديث مشهور سره، ﴿كُلُّ اَمْرٍ ذِيْ بَالٍ لَمْ يُبْدَءْ فِيْهِ بِبِسْمِ اللهِ فَهُوَ اَقْطَعُ و اَبْتَرُ وَاَجْزَمُ﴾ هر هغه د نېکی کار چي شروع يې په "بِسْمِ اللهِ" سره نه وسي هغه بې برکته وي.

۵. پنځمه فائده د "بِسْمِ اللهِ" د راوړلو لپاره، هغه دفع د وسوسې د شيطان ده.

او بيا يې خاص په كتابت سره "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" وليكه، عملاً بالحديث ﴿اَلَا مَنْ كَتَبَ كِتَابًا فَلْيَكْتُبْ فِيْ اَوَّلِهٖ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ (۱) څوک چې يو خط ليکي په کار دا دئ چې په شروع کې يې "بِسْمِ اللهِ" وليکي.

دوهمه خبره:

په "اَلْحَمْدُلِلّٰهِ" (۲) کې درې تعميمه دي او يو تخصيص دئ:

۱. تعميم د حمد.

۲. تعميم د حامد.

۳. تعميم د زمانې.

تعميم د حمد د الف لام څخه معلوميږي.

تعميم د حامد د نه ذکر څخه د فاعل معلوميږي.

تعميم د زمانې د جملې اسميې څخه معلوميږي.

تخصيص د لام جاره (۳) څخه معلوميږي، ځکه لام د اختصاص لپاره راځي، لکه: "اَلْجُلُّ لِلْفَرَسِ اَیْ مُخْتَصٌّ لِلْفَرَسِ".

(۱) شپږمه فائده پر شيطان باندې تکليف را وستل دي، ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ قَالَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ يَذُوْبُ الشَّيْطَانُ كَمَا يَذُوْبُ الرَّصَاصُ بِالنَّارِ".

يعني "شيطان" د "بسم الله" په ويلو سره داسې ويلې کيږي لکه: قلعي (يعني سرف) په اور سره.

(۲) د "اَلْحَمْدُلِلّٰهِ" معنی "كُلُّ حَمْدٍ مِنَ الْاَزَلِ اِلَى الْاَبَدِ مِنْ اَيِّ حَامِدٍ مِنَ الْخَالِقِ اَوْ مِنْ مَخْلُوْقِهٖ مُخْتَصٌّ لِلّٰهِ تَعَالٰى".

د حمد تعريف: "هُوَ الثَّنَاءُ بِاللِّسَانِ عَلَى الْجَمِيْلِ الْاِخْتِيَارِيْ نِعْمَةً كَانَ اَوْ غَيْرَهَا".

د مدح تعريف: "هُوَ الثَّنَاءُ بِاللِّسَانِ عَلَى الْجَمِيْلِ نِعْمَةً كَانَ اَوْ غَيْرَهَا".

د شکر تعريف: "هُوَ فِعْلٌ يُنْبِئُ عَنْ تَعْظِيْمِ الْمُنْعِمِ سَوَاءٌ كَانَ بِاللِّسَانِ اَوْ بِالْجَنَانِ اَوْ بِالْاَرْكَانِ".

(۳) په لفظ د "الله" کې يا لام د تمليک دپاره دئ يعنې د حمد مالک الله تعالی دئ لفظ الله د صحيح قول مطابق عربي جامد لفظ دئ او علم دئ د هغه ذات چې واجب الوجود دئ او تعريف يې دا دئ "اَللهُ عَلَمٌ لِذَاتِ الْوَاجِبِ الْوَجُوْدِ الْمُسْتَجْمِعِ لِجَمِيْعِ صِفَاتِ الْكَمَالِ

دریمه خبره:

د "رَبٌّ" د لفظ تحقیق:

"رَبِّ الْعَالَمِیْنَ": "رَبٌّ":

۱. یا صیغه د صفت مشبه ده په اصل کي "رَبَبٌ" وو پر وزن د "فَعَلٌ" په معنٰی د تربیت سره، تربیت ویل کیږي: ﴿تَبْلِیْغُ الشَّیْئِ اِلٰی کَمَالِهٖ بِحَسَبِ اِسْتِعْدَادِهٖ شَیْئًا فَشَیْئًا﴾ یو شی د خپل صلاحیت مطابق درجه په درجه و کمال ته رسول.

سوال: "رَبٌّ" که چیري د صفت مشبه صیغه سي، نو بیا د "رَبٌّ" اضافت و "اَلْعَالَمِیْنَ" ته اضافت لفظي دئ، چي نه مفید د تعریف دئ او نه مفید د تخصیص دئ، بلکه صرف تخفیف في اللفظ فائده کوي، او دلته دَی د لفظ الله دپاره صفت واقع سوی دئ، او لفظ الله معرفه دئ، نو نکره صفت د معرفه جوړیږي او دا هیڅ کله جائز نه دي.

جواب: دغه قاعده صرف د هغه صفاتو په باره کي ده چي په کمو صفاتو کي معنٰی د تجدد او حدوث وي، چونکه په دغه صفاتو کي معنٰی د دوام او استمرار ده نو ځکه اضافت مفید د تعریف دئ. "فَلَا یَرِدُ مَا وَرَدَ" او د الله تعالی په ټولو صفاتو کي معنٰی د دوام او استمرار سته.

۲. او یا "رَبٌّ" صیغه د مصدر ده د "رَبَّ، یَرُبُّ، رَبًّا" یعني د "نَصَرَ، یَنْصُرُ" د باب څخه هم په معنٰی د تربیت سره.

سوال: "رَبٌّ" که چیري د مصدر صیغه سي او مصدر صرف وصف دئ او دلته دی حمل دئ پر لفظ د الله باندي او لفظ د الله ذات دئ، نو حمل د صرف وصف پر ذات باندي لازمیږي او حمل د صرف وصف پر ذات باندي باطل دئ.

جواب:

۱. یا خو دلته حمل مبالغةً دئ لکه په "زَیْدٌ عَدْلٌ" کي (ګویا زید په خپله سراسر عدل دئ).

وَالْمُنَزَّهِ عَنِ النَّقْصِ وَالزَّوَالِ" لفظ "الله" په اصل کي "اِلٰهٌ" وو همزه ئې حذف سو او بیا په شروع کي لام تعریف راوړل سو او بیا لام په لام کي مدغم سو "الله" سو، او د لفظ "الله" په همزه کي دوه اعتباره دي:

۱. تعویض: یعني عوضي لکه په "یَا اَللّٰهُ" کي نو ځکه نه حذف کیږي.

۲. تعریف: لکه په "فَاللّٰهُ خَیْرٌ حَافِظًا" غیر منادی کي چي حذف کیږي، (مختصر المعاني).

۲. او یا حمل مجازًا دئ، چي "رَبٌّ" مصدر په معنٰی د "رَابِبٌ" مشتق سره اخستل په طریقه د مجاز سره دئ، نو حمل د ذات مع الوصف پر مطلق ذات باندي جائز دئ.

ځلورمه خبره:

د "رَبٌّ" د لفظ ترکیبي حیثیت:

پر لفظ د "رَبٌّ" باندي درې قسم اعراب ویل جائز دي:

۱. یا مرفوع بنا برخبریت دئ چي دَی د "هُوَ" مبتداء محذوف دپاره خبر دئ "اَیْ هُوَ رَبُّ الْعَالَمِیْنَ".

۲. یا منصوب بنا بر مفعولیت دئ چي د "اَحْمَدُ" یا "اَعْنِيْ" فعل دپاره مفعول دئ "اَیْ اَحْمَدُ رَبَّ الْعَالَمِیْنَ".

۳. یا مجرور بنا بر بدلیت یا بنا بر عطف بیان دئ، د لفظ د "الله" څخه "اَیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ".

د "اَلْعَالَمِیْنَ" د لفظ تحقیق:

"اَلْعَالَمِیْنَ" جمع د "عالَم" ده او "عالَم" صیغه د اسم آله [1] ده په معنٰی د "مَایُعْلَمُ بِهٖ" سره راځي لکه: "خَاتَمٌ" په معنٰی د "مَایُخْتَمُ بِهٖ" سره راځي او دا دواړې صیغې د اسم آله دي.

پنځمه خبره:

د "اَلْعَاقِبَةُ" د لفظ تحقیق:

([1]) اسمِ آله و دې ته ویل کیږي چي د هغه باب د مصدر د حصول ذریعه او آله وي لکه "خاتم" چي د حصول "ختم" یعني د مهر د لګولو ذریعه ده نو "عَالَم" د لغوي معنی په اعتبار سره عام سو کم شی چي هم په کائناتو کي د بل شي د عِلم د حصول ذریعه جوړه سي نو و هغه ته "عَالَم" ویل کیږي، لیکن اوس د "عَالَم" اطلاق پر "جَمِیْعُ مَاسِوَا اللهِ کُلُّ مَا خَلَقَ اللهُ فِي الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ" باندي کیږي ځکه د جمیع کائنات څخه د صانع عِلم حاصلیږي او "عالمین" په اعتبار د انواعو سره جمع راوړل سوی دئ، یعني عالم انس، عالم جن، عالم ملائکه ټولو لره شامل دي.

د "اَلْعَاقِبَةُ" الف لام خو یا عهد خارجي دئ او یا د مضاف محذوف په عوض کي دئ نو بیا تقدیر د عبارت "حُسْنُ الْعَاقِبَةِ یا خَیْرُ الْعَاقِبَةِ" را وځي (۱).

"وَالْعَاقِبَةُ" صیغه د مصدر ده او مصدر کله کله پر وزن د "فَاعِلَةٌ" هم راځي، لکه: "کَاذِبَةٌ" او کله پر وزن د "فَعِیْلٌ" راځي، لکه: "حَرِیْقٌ" او کله پر وزن د "مَفْعُوْلٌ" راځي، لکه: "مَفْتُوْنٌ".

د "مُتَّقِیْنَ" د لفظ تحقیق:

"مُتَّقِیْنَ" جمع د "مُتَّقِيْ" ده، شرعًا د "مُتَّقِيْ" درې معناوي دي (۲).

۱. "مَنْ یَّتَّقِيْ نَفْسَهُ مِنَ الشِّرْكِ وَكَسْبِ الْكَبَائِرِ" متقي هغه دئ چي خپل ځان د شرک او د کبیره ګناهونو څخه و ساتي.

۲. "مَنْ قَالَ قَالَ لِلّٰهِ وَسَكَتَ سَكَتَ لِلّٰهِ" متقي هغه دئ چي وینا او خاموشي یې دواړه د الله دپاره وي.

۳. "مَنْ لَّا یَرٰی نَفْسَهُ خَیْرًا مِّنْ اَحَدٍ" متقي هغه دئ چي خپل ځان تر هیڅ چا ښه نهویني.

مقصود د دې جملې څخه و طلباء کرامو ته د تقوٰی او د عمل ترغیب ور کول دي، ځکه چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: ﴿لَوْ كَانَ لِلْعِلْمِ شَرَفٌ بِدُوْنِ التَّقْوٰی لَكَانَ الشَّیْطَانُ اَعْلٰی مَنْزِلَةً﴾ که چیري بغیر د تقوی څخه علم لره یو څه اعتبار یا شرافت وای نو شیطان به تر ټولو لوی مرتبې والا وای.

شپږمه خبره:

د "صَلٰوةُ" د لفظ تحقیق:

"صَلٰوةُ" یا خو مصدر دئ، د تفعیل د باب او د ده ماده د مجردو څخه نه ده مستعمله او یا اسم مصدر دئ، د تصلیه دپاره نوم دئ.

د لغوي معنی په اعتبار سره یا خو مشترک لفظي دئ په معنٰی د رحمت، دعاء، استغفار، تسبیح.

(۱) لکه د دې مثال په قرآن کریم کي د الله تعالی قول دئ: "وَجَاءَ رَبُّكَ: اَیْ اَمْرُ رَبِّكَ".

(۲) په بل تعبیر سره تقوی پر درې قسمه ده: (۱) تقوای د عوامو. (۲) تقوای د خواصو. (۳) تقوای د اخص الخواص. (تنویر)

دوهمه خبره:

د "آلٌ" د لفظ تحقيق:

"آلٌ" په اصل کي "اَوَلٌ" يا "اَهْلٌ" دئ على اختلاف القولين د "آلٌ" نسبت همېشه و اشرافو ته کيږي خواه شرافت دنيوي ورته حاصل وي، او که اُخروي لکه آل فرعون.

او "اَهْلٌ" عام دئ، په اشرافو او ارزالو دواړو کي استعماليږي.

او د "آلٌ" په مصداق کي شپږ اقوال دي:

١. "كُلُّ تَقِيٍّ نَقِيٍّ فَهُوَ آلِيْ" هر متقي او پرهېزګاره زما آل دئ.
٢. عند الشوافع بنو هاشم دي.
٣. عند الاحناف بنو هاشم او بنو عبد المطلب دي.
۴. عند الروافض د نبي كريمﷺ لوښي خاص بيا بي بي فاطمهؓ او د ده يو زوم حضرت عليؓ.
۵. ازواج مطهرات او بعضو علماء لوښي هم کي داخلي کړي دي.
٦. ټوله قريش دي. ليکن راجح اول قول دئ.

دريمه خبره:

اما بعد: بدان اَرْشَدَکَ الله تعالى في الدارين که اين مختصريست مضبوط در علم نحو که مبتدی را بعد حفظ مفردات لغت الخ:......الى قوله بتوفيق الله و عونه.

ترجمه: پوه سه! الله تعالى دي تا نيک بخته کړي چي دغه مختصره رساله ضبط سوې ده په علم نحو کي چي و مبتدي ته د لغات مفرده د يادولو او د اشتقاق د پېژندلو او د علم الصرف د اهمو قواعدو يادولو وروسته د عربي د ترکيب د کيفيت و طرفته ډېره رهنمائي کوي، او ژر په هغه کي د معرب او مبني د پېژندلو استعداد پيدا کوي، او بل د عربي عبارت په ويلو کي ملکه ورته حاصليږي د الله تعالى په توفيق او مدد سره.

سوال: مصنف "بدان" د څه غرض لپاره ويلى دئ؟

جواب: د طالب د اګاهي او بيداري لپاره.

سوال: کتاب فارسي دئ نو دعاء يې ولي په عربي ژبه سره راوړې ده؟

او یا مشترک معنوي دئ، وضع یې د معنٰی کلي (الامه خیر) دپاره ده کله چي یې نسبت و الله ته وسي مراد ځني رحمت دئ، او کله چي یې نسبت و انسان ته وسي، مراد ځني دعاء ده، او کله چي یې نسبت ملائکو ته وسي، مراد ځني استغفار دئ، او کله چي یې نسبت و حوش او طیور ته وسي، مراد ځني تسبیح و تهلیل دئ.

"صَلٰوةٌ" یې پر نبي کریمﷺ باندي کتابةً ځکه ویلی دئ عملًا بالحدیث ﴿مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ فِيْ كِتَابٍ لَمْ تَزَلِ الْمَلٰئِكَةُ تَسْتَغْفِرُ لَهُ مَادَامَ اِسْمِيْ فِيْ ذَالِكَ الْكِتَابِ﴾ څوک چي پر ما باندي په کتاب کي درود ووایي: نو ملائکه همېشه د ده دپاره بخښنه غواړي تر څو چي زما نوم په دې کتاب کي وي.

او سلام یې ورسره ملګری کړی دئ "لِمُتَابَعَةِ الْقُرَانِ" ﴿صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾.

الدرس الثالث:

د نن دسبقه خلاصه پنځه (۵) خبري دي:

اوله خبره:

د "مُحَمَّدٌ" د لفظ تحقیق:

"مُحَمَّدٌ" صیغه د اسم مفعول ده د تفعیل د باب څخه د مبالغې دپاره د "حَمْدٌ" څخه مشتق سوی دئ، او په تفعیل کي یوه خاصه د تکثیر هم سته نو معنٰی یې دا ده چي محمد هغه ذات دئ، چي د ده ډېر اوصاف بیان سوي دي، او د محمدﷺ صفت هم په ځمکو او آسمانو کي سوی دئ.

د "مُحَمَّدٌ" د لفظ ترکیبي حیثیت:

کله چي د لقب څخه وروسته عَلَم ذکر سي نو بیا په هغه کي درې سره اعرابه ویل جائز دي:

۱. یا مجرور بنا بر بدل کل یا بنا بر عطف بیان دئ د "رَسُوْلِهِ" د لفظ څخه یا د "خَيْرِ خَلْقِهِ" د لفظ څخه.

۲. یا منصوب بنا بر حالیت یا منصوب علی سبیل المدح دئ "اَىْ اَمْدَحُ مُحَمَّدًا".

۳. یا مرفوع بنا بر خبریت دئ د مبتداء محذوف دپاره "اَىْ هُوَ مُحَمَّدٌ".

جواب: په عربي ژبه دعاء ژر قبليږي، ځکه نبيﷺ فرمايلي دي: ﴿اَلدُّعَاءُ بِاللِّسَانِ الْعَرَبِيَّةِ اَسْرَعُ لِلْاِجَابَةِ﴾ دعا په عربي ژبه ژر قبليږي. او بل نبيﷺ د دې ژبې فضيلت داسې بيان کړی دئ: ﴿اَنَا عَرَبِيٌّ وَالْقُرْاٰنُ عَرَبِيٌّ وَلِسَانُ اَهْلِ الْجَنَّةِ فِي الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ﴾ (مفهوم) زه عربي يم قرآن عربي دئ او د جنتيانو ژبه په جنت کې عربي ده.

څلورمه خبره:

که اين مختصريست مضبوط در علم نحو که مبتدی رابعد حفظ مفردات لغت الخ: .... الی قوله بتوفيق الله وعونه.

په عبارت کې د بعضو الفاظو تشريح:

يو مختصر دئ، يو مطول دئ (۱) يوه رسالة ده او يوه فتاوی ده.

۱. مختصر: "قَلِيْلُ الْاَلْفَاظِ كَثِيْرُ الْمَعَانِيْ".

۲. مطول: "كَثِيْرُ الْاَلْفَاظِ قَلِيْلُ الْمَعَانِيْ".

۳. رسالة: "قَلِيْلُ الْاَلْفَاظِ قَلِيْلُ الْمَعَانِيْ".

۴. فتاوی: "كَثِيْرُ الْاَلْفَاظِ كَثِيْرُ الْمَعَانِيْ".

۵. مبتدي: "مَنْ شَرَعَ فِيْ اَوَّلِ الْجُزْءِ مَعَ قَصْدِ تَحْصِيْلِ بَاقِي الْاَجْزَاءِ" څوک چې د کتاب په اول جزء کې شروع وکړي سره د ارادې د حاصلولو د باقي اجزاؤو.

۶. منتهي: "مَنْ وَصَلَ اِلٰى آخِرِ الْاَجْزَاءِ" څوک چې و آخر جزء ته رسېدلی وي.

---

(۱) مصنف رحمه الله عليه مختصر ذکر کړئ ودې خبرې ته يې اشاره وکړه چې زما کتاب پر مطالب کثيره باندې مشتمل دئ، او د حشوې او تطويل څخه محفوظ دئ.

حشوه ودې ته ويل کيږي چې په هغه کې زيادت بلا فائده وي، او زيادت متعين وي. او تطويل ودې ته ويل کيږي. چې پر اصل مراد باندې زياتوب بلا فائده وي، او زيادت متعين نه وي.

اختصار ايجاز او تلخيص درې سره د قلت پر معنی دلالت کوي، ليکن فرق يې داد ئ چې "اختصار" په کمو الفاظو سره زياته معنی اداکول، او "ايجاز" چې د مقصود په بيانولو کې څومره عبارت استعمالول مشهور وي، د هغه څخه په کمو الفاظو کې مقصود بيانول، "تلخيص" مقصود په ښه انداز واضح کول.

او د دوی مقابل دوه لفظونه مشهور دي، چې پر کثرت باندې دلالت کوي، (۱) اطناب (۲) تطويل. اطناب چې په څومره الفاظو باندې مقصود اداکول مشهور وي، د هغه څخه په زياتو الفاظو باندې مقصود ادا کول. تطويل چې اصل مراد په څومره عبارت باندې ادا کيږي د هغه څخه زائد عبارت راوړل. (تنوير)

پنځمه خبره:

مصنف رحمه الله و طالبانو ته یو اعلان کوي، که چیرې تاسو زما کتاب په ښه طریقه ووایاست نو درې فائدې به و تاسو ته حاصلې سي:

۱. اوله فائده: په عربي عبارت کي به ترکیب ښه کولای سئ.

۲. دوهمه فائده: معرب او مبني به و پیژنئ.

۳. دریمه فائده: په عربي عبارت کي به ملکه پیدا کړئ. یعني عربي عبارت به په ښه طریقه او په روانه ګي سره ویلای سئ.

خو دا درې فائدې مشروطه په درو شرطو سره دي.

۱. اول شرط یې دا دئ: حفظ به دي د مفرداتو د علم لغت کړی وي. یعني د الفاظو معاني به دي زده وي.

۲. دوهم شرط یې دا دئ: اشتقاق به دي زده کړی وي.

۳. دریم شرط یې دا دئ: د علم الصرف اهم قوانین به دي یاد کړي وي.

خو دا ټوله کارونه چي کیږي په توفیق د الله ﷻ سره "وَبِعَوْنِهٖ" او په مدد د الله ﷻ سره.

جملې:

عنوان	مستعمل، مهمل	مفرد، مرکب	اسم، فعل، حرف	علامات
اَللّٰهُ	مستعمل	مفرد	اسم	علم، (نوم)
مُحَمَّدٌ	مستعمل	مفرد	اسم	علم، (نوم) تنوین
دِیْنٌ	مستعمل	مفرد	اسم	تنوین
آمَنَ	مستعمل	مفرد	فعل	مبنی بر فتحه
لَیْتَ	مستعمل	مفرد	حرف	خالي والی د علامو څخه
دَیْزٌ	مهمل	+	+	+
یُنْفِقُوْنَ	مستعمل	مفرد	فعل	حروف اتین
رَسُوْلٌ	مستعمل	مفرد	اسم	تنوین
جَسَقٌ	مهمل	+	+	+
مِنْ	مستعمل	مفرد	حرف	خالي والی د علامو څخه
لَمْ نَجْعَلْ	مستعمل	مفرد	فعل	حروف جوازم

علامات	اسم، فعل، حرف	مفرد، مرکب	مستعمل، مهمل	عنوان
الف لام	اسم	مفرد	مستعمل	اَلْاَرْضُ
تا، مدورہ، تنوین	اسم	مفرد	مستعمل	اِمْرَءَةٌ
خالي والی د علامو څخه	حرف	مفرد	مستعمل	عَنْ
تنوین، یاء نسبتی	اسم	مفرد	مستعمل	اَفْغَانِيٌّ

التمرين:

"يَخْتَلِفُوْنَ. مِهَادًا. اَلنَّبَأُ. كَلَّا. ذَهَبَ. قَلَمٌ. كِتَابٌ. قُرَيْشٌ. قَامَ. حَتّٰى. اِشْتَرٰى. مَسْجِدٌ. صَبَرُوْا. بَابٌ. لٰكِنَّ".

فصل: بدانکہ لفظ مستعمل در سخن عرب الخ:..........................الی قولہ چنانکہ در تصریف معلوم شدہ است.

ترجمه:

پوه سه! په کلام د عربو کي چي کم الفاظ استعماليږي هغه پر دوه قسمه دي، اول مفرد، دوهم مرکب. مفرد هغه لفظ دئ، چي يواځي يو لفظ وي او پر يوه معنٰی دلالت کوي، و داسي لفظ ته کلمه هم ويل کيږي (چونکه دغه نوم زيات مشهور وو نو ځکه مصنف رحمة الله عليه د اقسامو په ذکر کولو کي دغه نوم ذکر کړی دئ) کلمه پر درې قسمه ده: (۱) اسم لکه "رَجُلٌ" (۲) فعل لکه "ضَرَبَ" (۳) حرف لکه "هَلْ". لکه څنګه چي په علم صرفو کي دغه خبره معلومه سوې ده.

الدرس الرابع:

د نن د سبقه خلاصه شپږ (٦) خبري دي:

اوله خبره:

د لفظ تقسيم:

لفظ پر دوه قسمه دئ: [۱]

(۱) لفظ په لغت کي "رَمْي" يعني غورځولو ته وايي: او په اصطلاح کي لفظ هغه بې معنی يا با معنی آواز ته ويل کيږي چي انسان يې د خپلي خولې څخه را باسي يا يې را ايستلای سي حقيقتًا وي لکه: "زَيْدٌ" يا تقديرًا وي لکه: "اِضْرِبْ" چي د "اَنْتَ" ضمير پکښي مستتر دئ. (نصر الخبير)

۱. لفظ با معنٰی.
۲. لفظ بې معنٰی.
و لفظ با معنٰی ته لفظ مستعمل، موضوع، او غير مهمل هم وايي: لکه "زَيْدٌ".
و لفظ بې معنٰی ته لفظ غير مستعمل، غير موضوع، او مهمل هم وايي: لکه: "دَيْزٌ".

فائده:

چونکه په کلام عربي کي د لفظ مهمل څخه بحث نه کيږي نو ځکه مصنف رحمه الله د لفظ مستعمل په تقسيم سره شروع وکړه.

د لفظ مستعمل تقسيم:

لفظ مستعمل پر دوه قسمه دئ:
۱. مفرد (۱).
۲. مرکب.

د مفرد تعريف:

مفرد يو لفظ دئ تنها چي پر يوه معنٰی دلالت کوي لکه: "زَيْدٌ". د مفرد دوهم نوم کلمه ده.

د کلمي اقسام:

کلمه پر دري قسمه ده:
۱. اسم لکه "رَجُلٌ".

---

(۱) مفرد په لغت کي تنها شده ته وايي او په اصطلاح کي يو لفظ چي پر يوه معنی دلالت کوي، يعني جزء د لفظ يې پر جزء د معنی دلالت نه کوي لکه: "زَيْدٌ".
مفرد د پنځو شيانو مقابل راځي:
۱. مفرد بمقابله تثنيه او جمع.
۲. مفرد بمقابله مرکب.
۳. مفرد بمقابله جمله.
۴. مفرد بمقابله مضاف.
۵. مفرد بمقابله شبه مضاف.
دلته مفرد مقابل د مرکب او جملې دئ. (نصر الخبير)

۲. فعل لکه "ضَرَبَ".

۳. او حرف لکه "هَلْ".

دوهمه خبره:

وجه د حصر:

وجه د حصر یې داده (۱) چې دا کلمه به خالي نه وي یا به دلالت پر خپله معنٰی بلا ضم د کلمې اُخرٰی کوي یا به یې نه کوي که یې دلالت نه کوئ هغه حرف دئ لکه: "مِنْ و اِلیٰ". که یې دلالت بلا ضم د کلمې اُخرٰی کوئ بیا به خالي نه وي یا به اقتران په یوه د درو زمانو پوري لري، یا به یې نه لري، که یې نه درلودئ هغه اسم دئ لکه: "رَجُلٌ". که یې اقتران درلودئ هغه فعل دئ لکه: "ضَرَبَ".

مختصره وجه د حصر یې داده: چې دا کلمه به خالي نه وي یا به دلالت پر ذات کوي یا به دلالت پر وصف کوي یا به دلالت پر ربط کوي. که یې دلالت پر ذات کوی هغه اسم دئ لکه: "رَجُلٌ". که یې دلالت پر وصف کوی هغه فعل دئ لکه: "ضَرَبَ، شَرِبَ، اَکَلَ". که یې دلالت پر ربط کوی هغه حرف دئ لکه: "مِنْ و اِلیٰ".

دریمه خبره:

د اسم تعریف:

اسم په لغت کې "عُلوِ" یعني لوړ والي ته وایي او په اصطلاح کې دا یوه کلمه ده چې دلالت کوي پر خپله معنٰی بلاضم د کلمې اُخرٰی او معنٰی یې مقترنه نه وي په یوه د دې درو زمانو پوري لکه: "رَجُلٌ".

---

(۱) ابن الانباري د دې حصر علت او حکمت دا لیکلی دئ، چې کله په دغه اقسام ثلاثو سره د جمیع مافي الضمیر تعبیر کیږي او خپل ټول خیالات په ادا کېدای سي نو بیا د څلورم قسم ضرورت نسته نو دا ضرورت نه پیدا کېدل د حصر دلیل دئ.
او ابو جعفر نحوي (اسم فعل) څلورم قسم جوړ کړئ دئ، او د هغه نوم یې "خالفه" ایښی دئ.

د اسم علامات (۱):

د اسم لپاره زموږ د استاد په طبق پنځه دېرش (۳۵) علامې دي:

۱. الف لام دئ (۲) لکه: "اَلْحَمْدُ".

۲. حروف جاره دي، لکه: "بِرَبِّ النَّاسِ".

او حروف جاره اولس (۱۷) دي:

بَا، وتَا، وكَاف، ولَام، وَاو، مُنْذ، ومذ، خَلَا
رُبَّ، حَاشَا، مِنْ، عَدَا، فِيْ، عَنْ، عَلٰى، حَتّٰى، إِلٰى

۳. ميم زائده غالبًا دئ لکه: "مَضْرُوْبٌ".

۴. نوم د يو شخص وي يا د يو ځای وي لکه: "عُمَرُ، بَصْرَةُ".

۵. تنوين دئ (۳) لکه: "زَيْدٌ".

۶. حروف النداء دي لکه: "يَا عَبْدَاللهِ".

او حروف نداء پنځه دي: يَا، اَيَا، هَيَا، وايْ، وهمزه مفتوحه.

۷. تصغير دئ (۴) لکه: "رُجَيْلٌ".

---

(۱) علامه او خاصه د مصداق په اعتبار سره يو دي يعني "مَايُوْجَدُ فِيْهِ وَلَا يُوْجَدُ فِيْ غَيْرِهٖ" او په مجموعي لحاظ باندي د علامې شپږ قسمونه دي: (۱) شامله (۲) غير شامله. (۳) لازمه. (۴) غير لازمه. (۵) باالفعل. (٦) باالقوه. دلته مراد خاصه غير شامله ده چي بعضي لفظي دي او بعضي معنوي دي.

(۲) ابن هشام رحمة الله عليه ليکلي دي، چي د الف لام د تعبير پر ځای "اَلْ" ويل په کار دي، لکه: "هَلْ" "قَدْ" چي ويل کيږي ځکه د حرف تعريف فائده او اثر تعريف د معرفه دئ او دا د اسم څخه ماسوا بل ځای نه پيدا کيږي. (همع الهوامع)

(۳) د امام سبويه په نزد باندي د تنوين وضع د منصرف او غير منصرف د فرق کولو دپاره سوې ده او د امام فراء په نزد باندي د اسماء او د افعالو د فرق دپاره ده، او عند الکوفيين د مفرد او مضاف د فرق دپاره ده او دا غه رنګه د الفاظو عجميو د تعريف او تنکير په مينځ کي د فرق کولو دپاره ده يعني کچيري معرفه وي نو به غير منون وي لکه: "صَهْ" او که چيري نکره وي، نو تنوين را وړل کيږي لکه: "صَهٍ" او داغه رنګه د حرف او کلمې او جملې په عوض کي را وړل کيږي لکه: "جَوَارٍ، غَوَاشٍ. کُلًّا بَعْضًا. يَوْمَئِذٍ".

(۴) تصغير هغه اسم دئ چي په هغه کي زيادت وسي د قلت، حقارت، عظمت، او شفقت د معنى حاصلولو دپاره او علامه يې دا ده چي اول حرف مضموم دوهم مفتوح دريم ځای ياء علامه د تصغير وي.

۸. ياء نسبتي ده (۱) لكه: "جُرْجَانِيٌّ".
۹. تاء متحركه مدوره ده لكه: "ضَارِبَةٌ".
۱۰. الف مقصوره دئ (۲) لكه: "حُبْلٰى".
۱۱. الف ممدوده دئ (۳) لكه: "حَمْرَاءُ".
۱۲. جمع الاقصٰى ده (۴) لكه: "مَصَابِيْحُ".
۱۳. مضاف دئ (۵) لكه: "غُلَامُ زَيْدٍ".
۱۴. موصوف دئ (٦) لكه: "رَجُلٌ عَالِمٌ".
۱۵. مسند اليه دئ لكه: "زَيْدٌ قَائِمٌ".
۱٦. تثنيه ده (۷) لكه: "ضَارِبَانِ".
۱۷. جمع ده لكه: "ضَارِبُوْنَ".

څلورمه خبره:

۱۸. حروف مشبهه بالفعل دي لكه: "اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ".
او حروف مشبه بالفعل شپږ دي: اِنَّ، بااَنَّ، كَاَنَّ، لَيْتَ، لٰكِنَّ، لَعَلَّ.

---

(۱) د اسم په آخر كي د ياء نسبتي څخه مقصود د يو اسم د بل شي سره تعلق ښكاره كول وي، لكه: پاكستاني، افغاني.
(۲) هغه الف چي د كلمې په آخر كي راسي د ده څخه وروسته همزه نه وي.
(۳) هغه الف چي د كلمې په آخر كي راسي د ده څخه وروسته همزه وي. (النحو الوافي)
(۴) چي په جمعيت كي انتهاء ته رسيدلې وي، بيا دوباره په جمع تكسيره سره نسي جمع كېداى لكه د "قَوْلٌ" جمع مكسره "اَقْوَالٌ" او د "اَقْوَالٌ" جمع منتهى الجموع "اَقَاوِيْلُ" ده.
(۵) د صحيح قول مطابق مطلق اضافت د اسم خاصه ده خواه كه مضاف وي او كه مضاف اليه وي.
(٦) د صفت په ذريعه په موصوف كي تخصيص، تعريف، يا توضيح راځي. او دا ټولي خاصې د اسم دي. نو صفت هم خاصه د اسم ده.
(۷) د "ضَرَبَا، ضَرَبُوْا" په وجه سره بايد اعتراض وارد نسي ځكه هلته ضمير تثنيه او جمع كيږي نه فعل او ضمير اسم دئ. (از مرتب عفي عنه)

۱۹. تنوين مقدر دئ (۱) لکه: "اَضْرَبُ".

۲۰. کسره ده (۲) لکه: "غُلَامِ".

۲۱. لا التي لنفي الجنس دئ، لکه: "لَارَجُلَ فِي الدَّارِ".

۲۲. ما ولا مُشبهتان بِليس دي لکه: "مَازَيْدٌ قَائِمًا. وَلَا اَمَةٌ جَالِسَةٌ".

۲۳. مکبر دئ لکه: "ضَارِبٌ".

۲۴. منصرف دئ لکه: "مَسْجِدٌ".

۲۵. غير منصرف دئ لکه: "اَحْمَدُ، عُمَرُ".

۲۶. مستثنى ده لکه په "جَائَنِيْ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا" کي "زَيْدًا".

۲۷. مستثنى منه ده لکه: په "فَمَا جَائَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا بَكْرًا" کي "اَحَدٌ".

۲۸. معرفه ده لکه: "اَلرَّجُلُ".

۲۹. نکره ده لکه: "رَجُلٌ".

۳۰. ذو الحال دئ لکه: په "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا" کي "زَيْدٌ".

۳۱. مذکر دئ لکه "رَجُلٌ".

۳۲. مؤنث دئ لکه: "اِمْرَأَةٌ".

۳۳. فاعل دئ لکه: په "قَامَ زَيْدٌ" کي "زَيْدٌ".

۳۴. مفعول دئ لکه: په "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا" کي "عَمْرًوا".

۳۵. منادیٰ ده لکه: "يَا زَيْدُ".

پنځمه خبره:

د فعل تعريف:

(۱) "اَضْرَبُ" چي کله راسي نو د وزن فعل او وصفيت په وجه باندي غير منصرف دئ، نو ځکه پر ده باندي تنوين مقدر وي.

(۲) د يا د مناسبت په وجه د ده پر آخر کسره راځي ځکه دا په اصل کي "غُلَامِيْ" وو بيا ياء حذف سوه پر ميم باندي کسره پاته سوه.(الموجز في قواعد اللغة العربية)

فعل په لغت کي حدث او کار ته ویل کیږي. په اصطلاح کي دا یوه کلمه ده چي دلالت کوي پر خپله معنٰی او مقترنه وي په یوه د درو زمانو پوري (۱) لکه: "ضَرَبَ".

د فعل علامات:

د فعل یویشت (۲۱) علامې دي:

۱. حروف اَتَین دي، لکه: "یَضْرِبُ، تَضْرِبُ، اَضْرِبُ، نَضْرِبُ".

۲. حرف قَد دئ (۲) لکه: "قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ".

۳. سین دئ (۳) لکه: "سَیَعلَمُوْنَ".

۴. سوف دئ، لکه: "سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ".

۵. حروف جوازم دي، لکه: "لَمْ یَضْرِبْ".

او حروف جوازم شپږ (٦) دي: اِنْ، وَلَمْ، لَمَّا، وَلَامِ امر، لَاءِ نہی.

٦. حروف نواصب دي، لکه: "لَن یَضْرِبَ".

او حروف نواصب څلور دي: اَنَ، لَنْ، کَیْ، اِذَنْ.

۷. امر دئ، لکه: "اِضْرِبْ".

۸. نهي دئ لکه: "لَاتَضْرِبْ".

۹. لا نافیه دئ، لکه: "لَایَضْرِبُ".

(۱) درې زمانې (۱) ماضي. (۲) حال. (۳) استقبال.

(۲) حرف "قَدْ" د تقریب فائده ور کوي چي کله د ده مدخول ماضي وي، لکه: "قَدْ کَانَ". او د تقلیل فائده ور کوي چي کله د ده مدخول فعل مضارع وي، لکه: "قَدْ یَضْرِبُ" او کله کله د تحقیق فائده ور کوي خواه مدخول یې ماضي وي او که مضارع لکه: "قَدْ نَرٰی تَقَلُّبَ".

(۳) "سین" د استقبال قریب دپاره راځي او دَی پر اووه قسمه دئ، (۱) طلب. (۲) تحقیق. (۳) تحویل (۴) استقبال. (۵) زیادت. (٦) اتصاف (۷) سکته صرف دغه آخرنی قسم په اسم پوري خاص دئ، باقي ټوله په فعل پوري خاص دي.(همع الهوامع)

۱۰. نون ثقیله دئ، لکه: "اِضْرِبَنَّ".

۱۱. نون خفیفه دئ، لکه: "اِضْرِبَنْ".

شپږمه خبره:

۱۲. مبني بر فتحه وي، لکه: "ضَرَبَ، دَحْرَجَ".

۱۳. الف ضمیري دئ، لکه: "ضَرَبَا".

۱۴. واو ضمیري دئ، لکه: "ضَرَبُوْا".

۱۵. تاء ساکنه مطوله ده، لکه: "ضَرَبَتْ".

۱٦. نون ضمیري دئ، لکه: "ضَرَبْنَ".

۱۷. تاء متحرکه مطوله ده، لکه: "ضَرَبْتَ".

۱۸. تُمَا ضمیر دئ، لکه: "ضَرَبْتُمَا".

۱۹. تُمْ ضمیر دئ، لکه: "ضَرَبْتُمْ".

۲۰. تُنَّ ضمیر دئ، لکه: "ضَرَبْتُنَّ".

۲۱. نَا ضمیر دئ، لکه: "ضَرَبْنَا".

د حرف تعریف:

حرف په لغت کي و طرف ته وایي او په اصطلاح کي: دا یوه کلمه ده چي دلالت نه کوي پر خپله معنٰی باندي بلاضم د کلمې اُخرى لکه: "مِنْ و اِلٰى".

د حرف علامه داده: چي د اسم او فعل علامې نه وي پکښي هغه حرف دئ.

جملې:

عنوان	مفرد، مرکب	مفید، غیر مفید	خبریه، انشائیه	اسمیه، فعلیه
اَللّٰهُ وَاحِدٌ	مرکب	مفید	خبریه	اسمیه
مُحَمَّدٌ رَسُوْلٌ	مرکب	مفید	خبریه	اسمیه
دَرَسَ خَالِدٌ	مرکب	مفید	خبریه	فعلیه

عنوان	مفرد، مرکب	مفید، غیر مفید	خبریہ، انشائیہ	اسمیہ، فعلیہ
اَلْقُرْآنُ كِتَابُنَا	مرکب	مفید وغیر مفید جزء اضافی	خبریہ	اسمیہ
وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ	مرکب	مفید	خبریہ	اسمیہ
اَلْمَدْرَسَةُ جَمِيْلَةٌ	مرکب	مفید	خبریہ	اسمیہ
قَضٰى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا	مرکب	مفید	خبریہ	فعلیہ
شَرِبَتْ لَيْلٰى	مرکب	مفید	خبریہ	فعلیہ
نَامَ مَجْنُوْنٌ	مرکب	مفید	خبریہ	فعلیہ
تَهَجَّدَ الطَّالِبُ	مرکب	مفید	خبریہ	فعلیہ
اَلْجَنَّةُ حَقٌّ	مرکب	مفید	خبریہ	اسمیہ
اَلْاِنْسَانُ حَائِدٌ	مرکب	مفید	خبریہ	اسمیہ
اَلنَّارُ حَقٌّ	مرکب	مفید	خبریہ	اسمیہ
ضَرَبَ زَيْدٌ	مرکب	مفید	خبریہ	اسمیہ
صَلّٰى بَكْرٌ	مرکب	مفید	خبریہ	فعلیہ

التمرين:

"هُمُ الْفَائِزُونَ.. يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ.. أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ.. قَالَتْ نَمْلَةٌ.. اَللّٰهُ الصَّمَدُ.. وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ.. لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ.. أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ.. يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ.. هُمْ غَافِلُونَ.. ظَهَرَ الْفَسَادُ.. وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى.. يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ.. وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ سَعِيرًا.. سَيَقُولُ الْمُخَلَّفُونَ".

اما مرکب لفظی باشد الخ:............................الی قولہ بدانکہ جملہ خبریہ آن است.

ترجمه:

لېکن مرکب هغه لفظ ته ویل کیږي چې د دوو یا تر دوو زیاتو کلمو څخه جوړ سوی وي، مثلاً (عَبْدُاللّٰهِ، اَللّٰهُ مَوْجُوْدٌ، وغیره) بیا مرکب پر دوه قسمه دئ: (۱) مرکب مفید (۲) مرکب غیر مفید. مرکب مفید هغه ته ویل کیږي چې کله خبري کونکی خبره وکړي او خاموشه سي نو اورېدونکی د هغه څخه یو خبر یا طلب معلوم کړي. (د مرکب غیر مفید تعریف وروسته راځي) مرکب مفید ته جمله هم ویل کیږي او کلام هم (چونکه د مرکب مفید مشهوره نوم جمله دئ، نو ځکه مصنف رحمة الله علیه د

مرکب مفيد پر ځای په هر مقام کی د جملې لفظ استعمالوي) جمله پر دوه قسمه ده (۱) خبريه، (۲) انشائيه.

الدرس الخامس:

د نن د سبقه خلاصه پنځه (۵) خبري دي:

اوله خبره:

د لفظ مستعمل دوهم قسم مرکب دئ:

او د مرکب لپاره درې شيان دي:

۱. تعريف.
۲. تقسيم.
۳. نومونه.

د مرکب تعريف (۱):

مرکب هغه لفظ دئ، چي د دوو يا تر دوو زياتو کلمو څخه جوړ سوی وي پر دوو يا تر دوو زياتو معناوو باندي دلالت کوي.

د مرکب تقسيم:

مرکب پر دوه قسمه دئ:

۱. مفيد.
۲. غير مفيد.

(۱) عقلاً د ترکيب شپږ (۶) صورتونه جوړيږي (۱) اسم و اسم. (۲) فعل و اسم. (۳) فعل وفعل (۴) فعل و حرف (۵) حرف و حرف. (۶) اسم و حرف په اول او دوهم صورت کي د مرکب څخه جمله جوړيږي او په باقي څلورو صورتو کي جمله نه جوړيږي.

سوال: د مرکب تعريف جامع خپلو افرادو لره نه دئ ځکه لفظ د "عبدالله" چي عَلَم سي پر ذات معين باندي دلالت کوي، يعني جزء د لفظ يې پر جزء د معنی دلالت نه کوي، مفرد دئ، حالانکه په ده کي علامه د مرکب موجوده ده چي هغه اجراء د اعرابينو يو پر مضاف او بل پر مضاف اليه دئ.

جواب: په اعلامو جمع د علم (نوم) کي کله کله د وضع سابقي د لحاظ کولو په وجه باندي دوه اعرابه جاري کيږي او لفظ "عبدالله" چونکه د علميت څخه مخکي مرکب اضافي وو نو ځکه پر ده باندي د اضافت د لحاظه دوه اعرابه جاري سوي دي، نه د مرکب والي په وجه باندي. (جامي)

د مرکب غیر مفید تعریف وروسته راځي.

مرکب مفید هغه مرکب ته وایي چي قائل پر هغه سکوت وکړي سامع ته خبر په جمله خبریه کي او طلب په جمله انشائیه کي معلوم سي.

د مرکب مفید نومونه:

د مرکب مفید پنځه نومونه دي:

۱. مرکب مفید.
۲. مرکب تام یعني (اسناد تام).
۳. مرکب اسنادي.
۴. جمله [۱].
۵. کلام.

پس جمله بر دو قسم است خبریه وانشائیه فصل بدانکه جمله خبریه آن است الخ: .... الی قوله دوم انکه جزء اول.

ترجمه:

وروسته جمله پر دوه قسمه ده: خبریه و انشائیه.

پوه سه! چي جمله خبریه و هغه جملې ته ویل کیږي چي د هغه قائل (ادا کونکی) (د هغه جملې په وجه) په صدق او کذب سره موصوفه کېدای سي. او جمله خبریه پر دوه قسمه ده، اول دا چي جزء اول یې اسم وي نو دغي جملې ته جمله اسمیه ویل کیږي. لکه: "زَيْدٌ عَالِمٌ" [۲] یعني زید عالم (پوه) دئ. د دې جزء اول مسند الیه دئ او هغه ته مبتداء ویل کیږي، دوهم جزء یې مسند دئ و هغه ته خبر ویل کیږي.

---

(۱) عند البعض جمله او کلام مترادف دي. او د دوی په مینځ کي نسبت د مساواة دئ. لیکن "عند النحاة" د دوی په منځ کي نسبت د عموم خصوص مطلق دئ. کلام اخص مطلق دئ، او جمله اعم مطلق ده. ځکه د دوی په نزد په کلام کي نسبت مقصودي شرط دئ، او په جمله کي شرط نه دئ، خواه که نسبت مقصودي وي او که غیر مقصودي وي، نو هر کلام جمله ده او هره جمله کلام نه دئ. (مغنی اللبیب)

(۲) "زَيْدٌ عَالِمٌ" "زَيْدٌ" مبتدا، "عَالِمٌ" خبر جمله اسمیه خبریه.

دوهمه خبره:

جمله پر دوه قسمه ده:

۱. خبريه.

۲. انشائيه.

جمله خبريه: هغه جملې ته وايي چي قائل (ويونکی) يې په صدق (رشتيا) او کذب (درواغو) سره موصوفه کېدای سي (۱) لکه "زَيْدٌ قَائِمٌ".

فائده:

ځکه چي په جمله خبريه کي حکايت (واقعه) د محکی عنه (د کم شي څخه چي حکايت کيږي او واقعه يې بيانيږي) څخه کيږي. که حکايت د محکی عنه سره برابر وو بيا قائل په صدق سره موصوف کيږي. که حکايت د محکی عنه سره نه وو برابر بيا قائل په کذب سره موضوف کيږي.

د جملې خبريې اقسام:

جمله خبريه پر څلور قسمه ده:

۱. اسميه.

۲. فعليه.

۳. ظرفيه.

۴. شرطيه.

دريمه خبره:

د جملې اسميه تعريف:

---

(۱) په جمله خبريه کي د قائل د صدق او کذب فيصله و نفس کلام ته په کتلو سره کيږي. قطع نظر د واقع او امر خارج څخه کچيري په نفس کلام کي د قائل په صدق او کذب سره موصوفه کول صحيح وو نو هغه جمله خبريه ده خواه که په واقع او نفس الامر کي هغه جمله صادقه وي او که کاذبه وي. نو ځکه بيا اعتراض په "اَللهُ وَاحِدٌ. لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ. اَلْاَرْضُ فَوْقَنَا . وَالسَّمَاءُ تَحْتَنَا" سره نه وارديږي. (نصر الخبير)

جمله اسمیه هغه جمله ده ([1]) چي د اجزاءوو اصلیه وو څخه یې اول جزء اسم وي او اجزاء اصلیه د جملې مسند او مسند الیه دي لکه: "زَيْدٌ عَالِمٌ" (زید عالم دئ) یا لکه "اَلشَّمْسُ طَالِعَةٌ" (لمر را ختونکی دئ).

فائده:

د جملې اسمیې اول جزء مسند الیه دئ چي مبتداء ورته ویل کیږي او دوهم جزء یې مسند دئ چي خبر ورته ویل کیږي.

د جملې اسمیې د جزء اول نور نومونه هم سته: (۱) مبتداء (۲) مسند الیه (۳) محکوم علیه (۴) مخبر عنه (۵) موضوع (٦) مقدم مشهور ترکیبي نوم یې "مبتداء" ده ([2]).

د جملې اسمیې د دوهم جزء نومونه: (۱) خبر (۲) مسند. (۳) مسند به (۴) محکوم (۵) محکوم به (٦) مخبر (۷) مخبر به (۸) حکم (۹) محمول (۱۰) لي مشهور ترکیبي نوم یې خبر دئ.

څلورمه خبره:

په جمله اسمیه کي د مبتداء او خبر د پېژندلو طریقه او علامات:

۱. ضمیر مرفوع منفصل همېشه مبتداء واقع کیږي د ده څخه وروسته لفظ خبر راځي کله چي دَی د فصل او تاکید دپاره نه وي لکه: "هُوَاللّٰهُ" یا "اَنَا زَيْدٌ".

([1]) جمله اسمیه پر څلور قسمه ده (۱) کله مصدره په مبتداء سره وي، مثال یې لکه: "هُوَ الْاَوَّلُ وَالْآخِرُ" (۲) کله مصدره په حروف مشبه بالفعل سره وي مثال یې لکه: "اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ". (۳) کله مصدره په "مَا" او "لَا" مشبهتین بلیس سره وي، مثال یې لکه: "مَا هٰذَا بَشَرًا" "لَا رَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْكَ" (۴) کله مصدره په لا نفي جنس سره وئ، مثال یې لکه: "لَا رَجُلَ فِيْ الدَّارِ". (العلامات النحویه)

([2]) عمومًا مبتداء او خبر په حالت رفعي کي وي، کله کله مبتداء یوه وي، او خبرونه یې متعدد وي، لکه: "اَللّٰهُ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ" او کله کله مبتداء متعدده وي او خبر یې یو وي، لکه: "مُحَمَّدٌ و اَحْمَدُ خَائِفَانِ" او بعض وخت مبتداء او خبر دواړه مفرد وي، لکه: "خَالِدٌ مُتَعَلِّمٌ" او کله دواړه مرکب وي، لکه: "بَيْتُ اللّٰهِ قِبْلَتُنَا" او کله یو مفرد بل مرکب وي، لکه "رَسُوْلُ اللّٰهِ شَفِيْقٌ". (نصر الخبیر)

۲. د کلام په شروع کي د الف لام والا اسم چي کله راسي او د ده څخه وروسته بغير الف لام والا اسم وي يا فعل وي يا جار و مجرور وي نو اول مبتداء او دوهم خبر واقع کيږي لکه: "اَللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ" "اَلْبَيْعُ يَنْعَقِدُ" "اَلشِّرْكَةُ عَلٰى ضَرْبَيْنِ".

۳. چي کله د اسم اشاره څخه وروسته بغير الف لام والا اسم راسي نو اسم اشاره مبتداء دا وروسته لفظ خبر واقع کيږي (بِشَرْطِ صِحَّةِ الْمَعْنٰى) لکه: "هٰذَا ذِكْرٌ" "هٰذَا كِتَابٌ".

۴. د جزاء په مقام کي د "فاء" جزائيه څخه وروسته او د "اِنَّ، اَنَّ" څخه وروسته متصل او د "لَيْسَ" څخه وروسته او د "استئناف" د علامې څخه وروسته چي جار و مجرور راسي نو جار و مجرور خبر مقدم وي او وروسته لفظ يې مبتداء يا اسم مؤخر وي لکه: "مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا" "اِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا" "لَيْسَ فِي الْوَدِيِّ وَ الْمَذِيِّ غُسْلٌ" "وَفِي اللِّسَانِ الدِّيَةُ" "وفِي شَعْرِ الرَّأْسِ الدِّيَةُ".

۵. چي کله يو مبهم جار او مجرور يا لفظ د حرف يا لفظ د فعل ذکر سي او مقصود د دوی څخه لفظ وي نه معنٰی او د دوی څخه په وروستو الفاظو باندي د دوی تفسير يا اصطلاحي معنٰی يا د دوی معرفت ذکر سي نو دوی مبتداء او وروسته الفاظ يې خبر واقع کيږي لکه: "فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ" "اِنْ لِلشَّرْطِ وَالْجَزَاءِ" "ضَرَبَ صِيْغَةُ مَاضٍ".

۶. په کتابو کي چي څومره عنوانات دي عام طور دوی خبر واقع کيږي د مبتداء محذوفي دپاره يا مبتداء واقع کيږي د خبر محذوف دپاره. لکه: "كِتَابُ الصَّلٰوةِ" "هٰذَا كِتَابُ الصَّلٰوةِ" يا "كِتَابُ الصَّلٰوةِ هٰذَا".

۷. د "عَلَم" څخه وروسته چي کله بغير الف لام والا اسم راسي خواه که معرفه وي او که نکره وي اول مبتداء دوهم خبر وي، لکه: "مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ" "مُحَمَّدٌ رَسُوْلٌ".

پنځمه خبره:

۸. کله چي د يو شي تقسيم وي او وروسته يې تفصيل وي نو په تفصيل کي هر لفظ خبر وي د مبتداء (۱) محذوفي دپاره لکه: "اَلاِسْمُ عَلٰى نَوْعَيْنِ: مُعْرَبٌ وَ مَبْنِيٌّ: اَیْ اَحَدُهُمَا مُعْرَبٌ وَ ثَانِيْهُمَا مَبْنِيٌّ".

۹. "مُعَرَّفَات" (د کمو شيانو چي تعريف کيږي) ټول مبتداء واقع کيږي او مکمل تعريفونه يې خبر واقع کيږي لکه: "اَلْكَلِمَةُ (مُعَرَّف) لَفْظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مُفْرَدٍ (تعريف)" "اَلْكَلَامُ" مَا تَضَمَّنَ الْكَلِمَتَيْنِ بِالْاِسْنَادِ".

۱۰. د "اِنَّمَا" څخه وروسته لفظ مبتداء وي او مابعد يې خبر وي، لکه: "اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ" د "اَمَّا" څخه وروسته اسم مبتداء قائم مقام د شرط وي، او د فاء څخه وروسته اسم خبر قائم مقام د جزاء وي په دې شرط چي د "اَمَّا" څخه وروسته اسم به ظرف يعني "بَعْدُ" و غيره نه وي، لکه: "اَمَّا الْمُقَدِّمَةُ فَفِي الْمَبَادِيْ".

۱۱. د "نَحْوُ" لفظ د ماقبل مبتداء محذوفي دپاره خبر او ما بعد ته مضاف وي، او د ده مبتداء "مِثَالُهُ يا مِثَالُهَا" محذوفه را وزي لکه: "نَحْوُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَیْ مِثَالُهُ نَحْوُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى".

---

(۱) د "مبتداء" او "خبر" په مينځ کي مطابقت په پنځو شيانو کي ضروري دئ او په هر ترکيب کي به په يوه وخت کي دوه شيان موجود وي، لېکن د مطابقت دپاره نه (۹) شرطونه دي، (۱) "مبتداء" او "خبر" به دواړه اسم ظاهر وي، احترازي مثال يې لکه: "هِيَ اِسْمٌ. وَ فِعْلٌ و حَرْفٌ" (۲) خبر به مشتق وي، احترازي مثال يې لکه: "اَلْكَلِمَةُ لَفْظٌ" (۳) خبر به حامل وي "لضمير المبتداء" احترازي مثال "زَيْنَبُ وَ سَقَرُ و مَاهُ و جُوْرُ مُمْتَنِعٌ مِنَ الصَّرْفِ". (۴) خبر به اسم تفضيل مستعمل په "مِنْ" سره نه وي، احترازي مثال يې لکه: "اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ". (۵) خبر به د الفاظو مشترکوو بين المذکر او المؤنث څخه نه وي، احترازي مثال يې لکه: "اَلاِمْرَاَةُ جَرِيْحٌ صَبُوْرٌ". (٦) خبر به د الفاظو مختصوو باالمؤنث څخه نه وي، احترازي مثال يې لکه: "اَلاِمْرَءَةُ طَالِقٌ حَائِضٌ" (۷) خبر به د اسماء متوغله في الابهام څخه نه وي يعني هغه اسماء چي د اضانت الى المعرفې باوجوده نه معرفه کيږي لکه: "غَيْرُ. شِبْهُ. مِثْلُ. قَبْلُ. بَعْدُ. يَمِيْنٌ. شِمَالٌ. فَوْقَ. او تَحْتَ". (۸) خبر به صيغه د مبالغې نه وي احترازي مثال لکه: "زَيْدٌ ظَلَّامٌ". (۹) د خبر فاعل به اسم ظاهر نه وي، احترازي مثال لکه: "هٰذِهٖ اِمْرَءَةٌ قَائِمٌ اَبُوْهَا" ځکه په دې وخت کي رعايت د فاعل کيږي. (کاشفه شرح کافيه)

۱۲. د مثال په شروع کې چې د "کاف" لفظ راسي هغه د "ثَبَتَ" يا "ثَابِتٌ" پورې تعلق نيسي خبر جوړيږي د مبتداء محذوفې "مِثَالُهٗ" يا د "مِثَالُهَا" دپاره لکه: "كَا الخَلِّ: اَیْ مِثَالُهٗ كَا الخَلِّ".

۱۳. د مبتداء وروسته چې "اَنْ" راسي نو دَی سره د فعل په تاويل د مصدر سره خبر جوړيږي د مبتداء دپاره لکه: "اَفْضَلُ الصَّدَقَةِ اَنْ تُشْبِعَ كَبِدًا جَائِعًا".

۱۴. کله چې د کلام په شروع کې مضاف او مضاف اليه راسي او د دوی څخه وروسته بغير د الف لام والا اسم وي، نو مضاف او مضاف اليه مبتداء او وروسته اسم خبر وي، لکه: "صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ".

جملې:

عنوان	مفرد، مرکب	مفيد، غير مفيد	خبريه، انشائيه	اسميه، فعليه
اَلْعِلْمُ نُوْرٌ	مرکب	مفيد	خبريه	اسميه
قَرَئْتُ الْكِتَابَ	مرکب	مفيد	خبريه	فعليه
وَاللهِ اُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ	مرکب	مفيد	انشائيه	اسميه
اَللهُ يُطْعِمُنِيْ	مرکب	مفيد	خبريه	اسميه
اَللهُ اَكْبَرُ	مرکب	مفيد	خبريه	اسميه
وَاللهُ قَدِيْرٌ	مرکب	مفيد	خبريه	اسميه
تَرَكْتُ الْجُبْنَ	مرکب	مفيد	خبريه	فعليه
اَلشَّمْسُ طَالِعَةٌ	مرکب	مفيد	خبريه	اسميه
يَا اَيُّهَا النَّبِيُّ	مرکب	مفيد	انشائيه	اسميه
اَلْمَاءُ بَارِدٌ	مرکب	مفيد	خبريه	اسميه

التمرين:

"اَلطَّعَامُ لَذِيْذٌ.. عَبْدُاللهِ مُتَعَلِّمٌ.. اٰمَنْتُ بِاللهِ.. اَلسَّمَاءُ مُمْطِرَةٌ.. اَلْمَسْجِدُ وَاسِعٌ.. اَلرِّجَالُ قَوّٰامُوْنَ.. لَيْتَ الشَّبَابَ يَعُوْدُ، اَلْاِنْسَانُ جَمِيْلٌ".

دوم آنکه جزء اولش فعل باشد الخ: .... الی قوله بدانکه جمله انشائیه.

ترجمه:

دوهم هغه جمله ده: چې د هغه جزء اول فعل وي، هغه ته جمله فعليه ويل کيږي لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ" (١) د دې جزء اول مسند دئ هغه ته فعل ويل کيږي او دوهم جزء يې مسند اليه دئ، هغه ته فاعل ويل کيږي.

او پوه سه! چې مسند محکوم به دئ او مسند اليه ذات دئ چې پر ده باندې حکم کيږي، (او د دريو کلمو) يعني اسم، فعل، حرف څخه "اسم" مسند او مسند اليه دواړه راتلای سي او "فعل" مسند راتلای سي مسند اليه نسي راتلای او "حرف" نه مسند راتلای سي نه مسند اليه.

الدرس السادس:

د نن د سبقه خلاصه اووه (٧) خبرې دي:

اوله خبره:

د جملې فعليه تعريف:

د جملې خبريه دوهم قسم جمله فعليه ده (٢): جمله فعليه هغه جمله ده چې د اجزاء اصليه وو څخه يې اول جزء فعل وي، لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ" (زيد وهل کړي وه) يا "صَلّٰی حَامِدٌ" (حامد لمونځ کړی وو).

---

(١) "ضَرَبَ زَيْدٌ" "ضَرَبَ" فعل "زَيْدٌ" فاعل جمله فعليه خبريه.

(٢) **فائده:**

د جملې "اسميت" او "فعليت" په خبريه پورې نه دئ خاص بلکه جمله انشائيه هم اسميه او فعليه راتلای سي.

فائده:

د جملې اسميې او فعليې د جزء اول د اعتبار کولو دا مطلب نه دئ چې د ټولو څخه مخکې کم لفظ آدا سي نو ته به هغه جزء اول بولې ځکه کله کله حرف جزء اول واقع سي نو بايد جمله حرفيه وبلل سي لېکن دا جمله نسته بلکه کچيري د يوې جملې په شروع کې حرف وي، نو د حرف څخه وروسته "لفظ" ته په کتلو سره د جملې د اسميت او فعليت فيصله کيږي. لکه: "مَا قَامَ زَيْدٌ" "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ". (نصر الخير)

فائده:

د جملې فعليه اول جزء مسند دئ چي فعل ورته ويل كيږي او دوهم جزء يې مسند اليه دئ، چي فاعل ورته ويل كيږي. او د جملې فعليه د اول جزء هغه نومونه دي، كم چي د جملې اسميه د دوهم جزء دي، او د دوهم جزء يې هغه نومونه دي كم چي د جملې اسميه د اول جزء دي، ماسواى د يو څو نومو څخه.

د جملې فعليې اقسام:

جمله فعليه پر دوه قسمه ده: اول هغه چي "مُصَدَّره" (شروع سوې) په افعالو مطلقوو سره وي دوهم هغه چي "مُصَدَّره" بغير د افعالو مطلقوو سره وي.

او "مُصَدَّره" په افعالو مطلقوو سره بيا پر دوه قسمه ده:

۱. كله "مُصَدَّره" په فعل معلوم سره وي لكه "ضَرَبَ زَيْدٌ".

۲. او كله "مُصَدَّره" په فعل مجهول سره وي لكه "ضُرِبَ زَيْدٌ".

دوهم قسم د جملې فعليه چي "مُصَدَّره" په غير د افعال مطلقوو سره وي، هغه پر پنځه قسمه ده:

۱. كله "مُصَدَّره" په افعال قلوب سره وي لكه: "وَلَا تَحْسَبَنَّ اللهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُوْنَ".

۲. كله "مُصَدَّره" په افعال ناقصه وو سره وي لكه: "وَكَانَ اللهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا".

۳. كله "مُصَدَّره" په افعال مقاربه وو سره وي لكه: "عَسٰى رَبُّنَا اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَا".

۴. او كله "مُصَدَّره" په افعال مدح و ذم سره وي لكه: "فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ".

۵. او كله "مُصَدَّره" په افعال تعجب سره وي لكه: "اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ".

دوهمه خبره:

د جملې ظرفيې تعريف:

جمله ظرفيه هغه جمله ده چي د اجزاء اصليه وو څخه يې اول جزء ظرف وي، لكه: "عِنْدِيْ دَارٌ" "فِيْ الدَّارِ رَجُلٌ". ددې جملو درې قسمه تركيب كېداى سي:

۱. اول ترکیب: "عِنْدِیْ" ظرف مضاف سره د خپل مضاف الیه دا به تعلق تر "ثَابِتٌ" پوري ونيسي، "ثَابِتٌ" صیغه د اسم فاعل سره دخپل فاعله چي د "هُوَ" ضمیر دئ سره دخپل "مُتَعَلِّقْ" چي "عِنْدِيْ" دئ خبر مقدم، "رَجُلٌ" دا به مبتداء مؤخره سي، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخري دا به جمله اسمیه سي.

۲. دوهم ترکیب: "عِنْدِیْ" ظرف مضاف سره د خپل مضاف الیه دا به تعلق تر "ثَبَتَ" پوري ونيسي، "رَجُلٌ" دا به فاعل د "ثَبَتَ" سي، "ثَبَتَ" فعل سره د خپله فاعله چي "رَجُلٌ" دئ سره د خپله متعلقه چي "عِنْدِيْ" دئ دا به جمله فعلیه سي.

۳. دریم ترکیب: "عِنْدِیْ" مضاف سره د خپل مضاف الیه دا به ظرف قائم مقام د فعل سي، "رَجُلٌ" دا به یې فاعل سي، ظرف سره د خپله فاعله دا به جمله ظرفیه سي. په "فِي الدَّارِ رَجُلٌ" کي بعینه داغه دري (۳) ترکیبونه کیږي.

دریمه خبره:

د جار او مجرور د ترکیب طریقه او د ظرف اقسام:

ظرف پر دوه قسمه دئ:

۱. ظرف حقیقي یعني زمان او مکان.
۲. ظرف مجازي یعني جار او مجرور (۱).

ظرف مجازي (او داغه رنګه بعضي ظروف حقیقي لکه "قَبْلُ" و "بَعْدُ" و غیره) پر دوه قسمه دي:

۱. ظرف لغو (۲).
۲. ظرف مستقر (۱).

---

(۱) جار او مجرور ته ځکه ظرف وايي: ظرف په معنی د برتن او لوښي سره دئ، نو د حرف جر مدخول هم د فعل او شبه فعل د معنی دپاره په منزله د برتن او لوښي وي. لکه: "خَتَمَ اللهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ".

(۲) ظرف لغو ته ځکه ظرف لغو وايي: لغو په معنی د محروم سره دئ نو دی هم د خپل عامل د ځای نیولو څخه محروم دئ. ځکه د ده عامل په لفظ کي ذکر وي. (العلامات النحوية)

ظرف لغو: هغه ظرف دئ چي د هغه متعلق په لفظ کي ذکر سوی وي خواه که د افعال عامه وو څخه وي او که د افعال خاصه وو څخه وي.

د ظرف لغو د پېژندلو طریقه:

کله چي د فعل او اسم فاعل، اسم مفعول، اسم تفضیل، صفت مشبه، او د مصدر څخه وروسته جار او مجرور راسي نو دغه جار او مجرور په دغه مذکوره شیانو پوري تعلق نیسي (۲) لکه: "خَتَمَ اللهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ" "اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً".

څلورمه خبره:

د ظرف مستقر تعریف:

ظرف مستقر هغه ظرف دئ چي د هغه متعلق محذوف وي، خواه که د افعال عامه وو (۳) څخه وي او که د افعال خاصه وو څخه وي.

---

(۱) ظرف مستقر ته ځکه ظرف مستقر وایي مستقر د استقرار څخه دئ په معنی د قرار نیولو سره نو دَی هم په لفظ کي د خپل عامل ځای نیسي ځکه ده عامل په لفظ کي محذوف وي.

(۲) کچیري د جار او مجرور څخه مخکي متعدد عوامل یعني فعل، اسم فاعل او اسم مفعول و غیره ذکر وي نو بیا چي د جار او مجرور معنی د کم عامل سره په تعلق نیولو سره صحیح کیږي نو دَی په هغه پوري تعلق نیسي لکه: "قَدْ نَرٰی تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ".

(۳) د افعال عامه وو تعریف:

افعال عامه "مَا لَا يَخْلُوْا عَنْهُ فِعْلٌ" یعني چي د دوی څخه یو فعل هم خالي نه وي، افعال عامه اته دي، څلور مشهور څلور غیر مشهور.

مشهوره: افعال عامه چهار اند نزد ارباب عقول .... کون است وجود است ثبوت، حصول.

غیر مشهوره: تلبس، لصوق، لسوق، لذوق، څلور سره په معنٰی د ملاوېدلو راځي.

د افعال خاصه وو تعریف:

افعال خاصه "مَا يَخْلُوْا عَنْهُ فِعْلٌ" یعني چي د دوی څخه یو فعل خالي وي، د دې اتو افعال عامه وو څخه ما سوا باقي ټوله افعال خاصه دي. ځکه چي د دې اتو څخه غلاوه چي څومره افعال دي، هغه خامخا د یو فعل نه یو فعل څخه خالي وي، لکه: "ضَرَبَ و نَصَرَ" مثلا د "اَكَلَ" او "شَرِبَ" والا فعل څخه خالي دي. لیکن د افعال عامه وو څخه یو فعل هم نه دئ خالي، مثلا "قِرَاءَت" وینا یو فعل دئ په دې کي څلور سره افعال کون، ثبوت، وجود، او حصول موجود دي ځکه وینا ده دا "کون" دئ. وینا ثابته ده نو دا "ثبوت" دئ. وینا حاصله ده نو دا "حصول" دئ. وینا موجوده ده نو دا "وجود" دئ. (العلامات النحویه)

د ظرف مستقر مقامات:

ظرف مستقر په څلورو ځايو كي واقع كيږي (١) په ځاى كي د خبر (٢) صله (٣) صفت (۴) او حال.

١. مقام خبر: كه چيري ظرف مستقر د خبر په مقام كي وو نو عند البصريين د ده متعلق فعل راوځي ځكه دى د عامل پر ځاى واقع سوى دئ، او اصل په عمل كي فعل دئ، لكه: "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" "اَىْ ثَبَتَ لِلّٰهِ".

عند الكوفيين د ده متعلق اسم راوزي ځكه دى د خبر په مقام كي واقع سوى دئ، او اصل په خبر كي افراد دئ نو اسم هم مفرد وي نه جمله لكه: "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" "اَىْ ثَابِتٌ لِلّٰهِ".

٢. مقام صله: كه چيري ظرف مستقر د صلې په مقام كي واقع سي نو بيا دده متعلق فعل راوځي ځكه صله جمله وي، او فعل هم سره د خپله فاعله جمله جوړيږي لكه: "وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ" "اَىْ ثَبَتُوْا مِنْ قَبْلِكُمْ".

٣. مقام صفت: كه چيري ظرف مستقر د صفت په مقام كي واقع سي نو عند الاكثر د ده متعلق فعل دئ، عند البعض اسم دئ لكه: "عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا" "اَىْ ثَبَتَ اَوْ ثَابِتٌ فِيْ نَفْسِهَا".

۴. مقام حال: كه چيري ظرف مستقر د حال په مقام كي واقع سي نو عند الاكثر د ده متعلق فعل دئ، او عند البعض اسم دئ لكه: "فَاللَّفْظِيَّةُ مِنْهَا عَلٰى نَوْعَيْنِ" "اَىْ ثَبَتَتْ اَوْ ثَابِتَةٌ مِنْهَا".

د جملې شرطيې تعريف:

څلورم قِسم د جملې خبريې جمله شرطيه ده، جمله شرطيه [1]: هغه جمله ده چي دا جوړه د دوو جملو څخه وي، د اولي جملې مسند او مسند اليه ته شرط وايي: او د دوهمي جملې مسند او مسند اليه ته جزاء وايي عام طور د جزاء والا فعل مُعَلَّقْ وي، د شرط والا فعل سره لكه: "اِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَاَنْتِ طَالِقٌ" او كله كله د شرط والا فعل مُعَلَّقْ وي په جزاء والا فعل پوري، لكه: "قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ" دلته د الله تعالى محبت مُعَلَّقْ او تړلى دئ د نبي كريم ﷺ د اتباع سره.

---

[1] عند البعض د جملې شرطيې حكم په جزاء كي وي، او شرط صرف قيد وي د جزاء دپاره لېكن عند الآخرين حكم د جزاء او شرط په منځ كي وي، نو ځكه د دې حضراتو په نزد باندي جمله شرطيه د جملې خبريې يو مستقل قسم دئ، نو په دې صورت كي دا د جملې انشائيې قسم نسي راتلاى خواه كه جزاء امر وي او كه نهي و غيره وي.

په جمله شرطیه کې شرط دادی چې دا به مدخوله د حروف شرطیه وو یا د اسماء شرطیه وو وي، د حروف شرطیه وو او اسماء شرطیه وو تفصیلي بحث وروسته راځي.

پنځمه خبره:

د کلمه اعرابیه اقسام:

کلمه اعرابیه پر څلور قسمه ده: (۱) مسند الیه (۲) مسند (۳) فضله (۴) اداة.

د مسند الیه تعریف:

"مَاحُكِمَ عَلَيْهِ بِشَيْئٍ" او مسند الیه به همېشه اسم وي او حکم د مسند الیه همېشه رفع ده یعني دی به همېشه مرفوع وي په دې شرط که چیرې عوامل لفظیه نه وه پر داخل سوي.

مسند الیه په کلام کې اوه (۷) شیان را تلای سي:

۱. فاعل: لکه: په "ضَرَبَ زَيْدٌ" کي "زَيْدٌ".
۲. نائب فاعل: لکه: په "ضُرِبَ زَيْدٌ" کي "زَيْدٌ".
۳. مبتداء: لکه: په "زَيْدٌ قَائِمٌ" کي "زَيْدٌ".
۴. اسم د حروف مشبهة بالفعل: لکه: په "اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ" کي "زَيْدًا".
۵. اسم د افعال ناقصه وو: لکه: په "لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا" کي "زَيْدٌ".
۶. اسم د "مَا" و "لَا" المشبهتان بلیس: لکه: په "مَا زَيْدٌ قَائِمًا" کي "زَيْدٌ".
۷. اسم د "لَا" التي لنفی الجنس: لکه: په "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ" کي "رَجُلٌ".

شپږمه خبره:

د مسند تعریف:

"مَاحُكِمَ بِهِ عَلَى الشَّيْئِ" او د مسند حکم دادی: که چیري اسم وي همېشه به مرفوع وي (۱) په دې شرط که عوامل لفظيه نه وه پر داخل سوي.

مسند په کلام کي اوه (۷) شيان واقع کيږي:

۱. فعل: لکه: په "ضَرَبَ زَيْدٌ" کي "ضَرَبَ".

۲. اسم فعل: لکه: په "هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ" کي "هَيْهَاتَ".

۳. خبر د مبتداء: لکه: په "زَيْدٌ قَائِمٌ" کي "قَائِمٌ".

۴. خبر د حروف مشبهة بالفعل: لکه: په "اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ" کي "قَائِمٌ".

۵. خبر د افعال ناقصه وو: لکه: په "لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا" کي "قَائِمًا".

۶. خبر د "مَا" و "لَا" المشبهتان بليس: لکه: په "مَا زَيْدٌ قَائِمًا" کي "قَائِمًا".

۷. خبر د "لَا" التي لنفى الجنس: لکه: په "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ" کي "فِي الدَّارِ" په اعتبار د مُتَعَلَّقْ سره.

اوومه خبره:

د فضله تعريف:

دريم شئ په جمله کي فضله راځي، د فضله تعريف دادی: "مَا ذُكِرَتْ لِتَتْمِيْمِ مَعْنَى الْجُمْلَةِ".

د فضله حکم:

چي دئ به همېشه منصوب وي په دې شرط چي دی به مدخول د مضاف او حرف جر نه وي احترازي مثال، لکه: "كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ" "رَأَيْتُ غُلَامَ زَيْدٍ".

د "اداة" تعريف:

ثلورم شئ په جمله کي اداة واقع کيږي او د "اداة" تعريف دادی: "هِيَ كَلِمَةٌ رَابِطَةٌ بَيْنَ جُزْأَيِ الْجُمْلَةِ اَوْ بَيْنَهُمَا وَبَيْنَ الْفُضْلَةِ اَوْ بَيْنَ جُمْلَتَيْنِ" لکه: "ضَرَبْتُ زَيْدًا بِالْخَشَبَةِ".

---

(۱) مسند که چیري فعل وي یا به ماضي وي یا به امر وي یا به مضارع وي که چیري ماضي او امر حاضر وي نو به مبني وي او که چیري مضارع وي نو بيا به مرفوع وي په دې شرط چي د نون تاکيد او نون د جمع مؤنث او د عامل لفظي څخه به خالي وي چونکه مسند او مسند اليه د کلام رکن جوړيږي نو ځکه دوی ته عمده ويل کيږي.

د اداة حکم (١):

چي مبني به پر خپل حال وي، لیکن که چیري دَی پر ځای د یو اسم معرب راغلیٔ نو بیا د ده اعراب محلي دیٔ، کله کله مسند الیه وي، لکه: "مَنْ اَمِیْرُکَ" (٢) دلته "مَن" پر ځای د مبتداء واقع سوی دیٔ مرفوع محلاً دیٔ او کله کله مسند وي، مثال یې لکه: "خَیرُ مَالِکَ مَا اَنْفَقْتَهُ فِي سَبِیلِ اللّٰهِ". او کله کله فضله وي، لکه: "اَکْرِمِ الَّذِيْ یُحْيِ السُّنَّةَ وَیُمِیْتُ الْبِدْعَةَ".

جملي:

عنوان	مفرد، مرکب	تعداد اسم، فعل، حرف	خبر، انشاء	اقسام اربعة	مسند الیه	مسند	فضله	اداة
اَللّٰهُ رَبُّنَا (٣)	مرکب	٣_اسم	خبر	اسمیه	اللّٰهُ	رَبُّنَا	×	×
اَلصَّلٰوةُ وَاجِبَةٌ (۴)	مرکب	٣_اسم	خبر	اسمیه	اَلصَّلٰوةُ	وَاجِبَةٌ	×	×
یَشْتَدُّ الحرُّ فِي الصَّیْفِ (۵)	مرکب	٢_اسم، ١_فعل، ١_حرف	خبر	فعلیه	اَلحرُّ	یَشْتَدُّ	اَلصَّیْفُ	فِيْ
اِنْ اَکْرَمْتَنِيْ اَکْرَمْتُکَ (٦)	مرکب	٣_اسم، ٢_فعل، ١_حرف	خبر	شرطیه	تَ، تُ	اَکْرَمَ اَکْرَمَ	کَ، نِيْ	اِنْ

(١) هغه اسم چي د هغه عمدیت او فضلیت دواړه جائز وي، نو پر ده باندي رفع او نصب دواړه ویل کېدای سي په هغه صورت کي چي کله مستثنیٰ په کلام منفي کي وي، او مستثنیٰ منه ذکر سوې وي، مثال یې لکه: "مَا جَاءَ اَحَدٌ اِلَّا سَعِیْدٌ وَ اِلَّا سَعِیْدًا". (جامع الدروس العربیة جلد ١ صفحه ٢٢)

(٢) دلته د اداة څخه مراد حرف نه دیٔ چي بیا اعتراض په "مَن" استفهامیه سره واقع سي چي په "مَنْ اَمِیْرُکَ" کي خو "مَنْ" اسم دیٔ اداة او حرف نه دیٔ بلکي دلته د اداة څخه مراد رابط دیٔ هغه لکه: ادوات الشرط، استفهام، تمنی، ترجی، نواصب، جوازم، او حروف جاره و غیره او "مَنْ" دلته د ادوات استفهام څخه دیٔ.

(٣) د مثالو ترکیب:

"اَللّٰهُ" مبتداء "رَبُّنَا" مضاف او مضاف الیه خبر دپاره د مبتداء، جمله اسمیه خبریه.

(۴) "اَلصَّلٰوةُ" مبتداء "وَاجِبَةٌ" صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښي دیٔ هغه یې فاعل دیٔ اسم فاعل سره د خپله فاعله خبر دپاره د مبتداء، او دا جمله اسمیه خبریه ده.

(۵) "یَشْتَدُّ" فعل "اَلحرُّ" فاعل "فِيْ" حرف جار "اَلصَّیْفِ" مجرور جار سره د خپله مجروره ظرف لغو متعلق تر "یَشْتَدُّ" پوري فعل سره د خپله فاعله او د خپله متعلقه جمله فعلیه خبریه.

(٦) "اِنْ" حرف شرط "اَکْرَمْتَ" فعل و فاعل "نُوْن" د وقایې "یاء" د متکلم مفعول به فعل سره د خپله فاعله او مفعول به دا به شرط سي "اَکْرَمْتُکَ" فعل او فاعل او مفعول دا به جزاء د شرط سي، شرط سره د خپلي جزاء جمله خبریه شرطیه.

عنوان	مفرد، مرکب	تعداد اسم، فعل، حرف	خبر، انشاء	اقسام اربعه	مسند الیه	مسند	فضله	اداة
خَلْفَكَ زَيْدٌ(۱)	مرکب	۳ اسم	خبر	ظرفیه	زَيْدٌ	خَلْفَ	كَ	×
لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ	مرکب	۲ اسم، ۱ فعل، ۱ حرف	خبر	فعلیه	قَتَّاتٌ	يَدْخُلُ	الْجَنَّةَ	لَا
جَلِيْسُ السُّوْءِ شَيْطٰنٌ	مرکب	۳ اسم	خبر	اسمیه	جَلِيْسُ السُّوْءِ	شَيْطٰنٌ	×	×
صَلّٰى زَيْدٌ	مرکب	۱ اسم، ۱ فعل	خبر	فعلیه	زَيْدٌ	صَلّٰى	×	×
إِنِ اجْتَهَدْتَ فَقَدْ أَفْلَحْتَ	مرکب	۲ اسم، ۲ فعل، ۳ حرف	خبر	فعلیه	تَ، تَ	اِجْتَهَدَ، أَفْلَحَ	×	إِنْ قَدْ
اَلْمُؤْمِنُوْنَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ	مرکب	۳ اسم، ۱ فعل	خبر	اسمیه	اَلْمُؤْمِنُوْنَ	يَدْخُلُوْنَ	اَلْجَنَّةَ	×
اِجْتَهَدَ طَالِبٌ فِي الدَّرْسِ	مرکب	۲ اسم، ۱ فعل، ۱ حرف	خبر	فعلیه	طَالِبٌ	اِجْتَهَدَ	اَلدَّرْسَ	فِي
نَحْنُ مُسْتَغْفِرُوْنَ	مرکب	۳ اسم	خبر	اسمیه	نَحْنُ	مُسْتَغْفِرُوْنَ	×	×
مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ	مرکب	۳ اسم	خبر	اسمیه	مُحَمَّدٌ	رَسُوْلُ اللهِ	×	×
مُحَمَّدٌ رَسُوْلٌ أَمِيْنٌ	مرکب	۳ اسم	خبر	اسمیه	مُحَمَّدٌ	رَسُوْلٌ أَمِيْنٌ	×	×

التمرين:

"وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ.. وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ.. ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُورِهِمْ.. وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ.. كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ.. الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا.. وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ.. أَبٰى وَاسْتَكْبَرَ.. وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ.. يَجْعَلُونَ أَصَابِعَهُمْ"

بدانکه جمله انشائیه آن است که قائلش را بصدق و کذب الخ:............................ الی قوله فصل بدانکه مرکب غیر مفید.

ترجمه:

پوه سه! چي جمله انشائیه هغه جمله ده چي قائل يې (د هغه جمله پهٔ وجه باندي) په صدق او كذب سره نه سي موصوفه كېداى دا پر څو قسمه ده: اول امر لكه: "اِضْرِبْ". دوهم نهي لكه: "لَا تَضْرِبْ". دريم استفهام لكه: "هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ". څلورم تمنى لكه: "لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ" پنځم ترجى لكه: "لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ". شپږم عقود لكه: "بِعْتُ وَ اِشْتَرَيْتُ" اووم نداء لكه: "يَا اَللّٰهُ". اتم عرض

---

(۱) "خَلْفَ" ظرف مضاف "كَافْ" ضمير مضاف اليه مضاف سره د خپله مضاف اليه خبر مقدم "زَيْدٌ" مبتداء مؤخره دا به جمله ظرفيه سي.

لکه: "اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا". نهم قسم لکه: "وَاللّٰهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا". لسم تعجب لکه: "مَا اَحْسَنَ زَيْدٌ وَاَحْسِنْ بِهِ".

الدرس السابع:

د نن د سبقه خلاصه شپږ (٦) خبري دي:

اوله خبره:

د جملې انشائيه تعريف: (¹)

جمله انشائيه هغه جمله ده چې قائل يې په صدق او كذب سره نسي موصوف كېداي. ځكه چې په جمله انشائيه كي حكايت د محكي عنه څخه نه وي بلكه انشاء يعني "اِيْجَادُ مَالَمْ يُوْجَدْ" (نوى شى پيدا كول) وي.

د جملې انشائيه اقسام:

جمله انشائيه پر درې (٣) قسمه ده:

١. اسميه.
٢. فعليه.
٣. ظرفيه.

جمله انشائيه اسميه هغه جمله ده: چې د اجزاء اصليه وو څخه يې اول جزء اسم وي او پر سر يې د انشاء د علاماتو څخه يوه علامه داخله سوې وي لكه: "لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ".

جمله انشائيه فعليه: هغه جمله ده: چې د اجزاء اصليه وو څخه يې اول جزء فعل وي او پر سر يې يوه علامه د علاماتو څخه د انشاء داخله سوې وي لكه: "هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ".

(¹) د جمله انشائيه نور اصطلاحي قسمونه دا دي: (١) جمله ابتدائيه (٢) جمله دعائيه (٣) افعال مقاربه (۴) افعال مدح و ذم (۵) شرط: لېكن بعضي نحاتو افعال مقاربه او افعال مدح وذم خبريه شمار كړي دي.

فائده: په حقيقت كي د جملې دوه قسمه دي: (١) ذاتي (٢) وصفي. بيا ذاتي پر څلور قسمه ده (١) اسميه (٢) فعليه (٣) شرطيه (۴) ظرفيه. او وصفي پر نه (٩) قسمه ده: (١) حاليه (٢) معطوفه (٣) نتيجيه (۴) مبينه (۵) مقطوعه (٦) معلله (٧) مستانفه (٨) معترضه (٩) ابتدائيه. (نصر الخبير)

جمله انشائیه ظرفیه هغه جمله ده: چي د اجزاء اصلیه وو څخه یې اول جزء ظرف وي او پر سریې یوه علامه د علاماتو څخه د انشاء داخله سوې وي لکه: "هَلْ فِي الدَّارِ رَجُلٌ".

دوهمه خبره:

د جمله انشائیه علامات:

د جملې انشائیې لس (۱۰) علامې دي: (۱) امر (۲) نهي (۳) استفهام (۴) تمنی (۵) ترجی (۶) عقود (۷) نداء (۸) عرض (۹) قسم (۱۰) تعجب.

د جملې انشائیه د علاماتو لغوي او اصطلاحي معنٰی:

۱. امر [1] په لغت کي حکم کولو ته وایي: او په اصطلاح کي هغه صیغه ده چي د هغه په ذریعه سره فاعل د مخاطب څخه د یو فعل طلب وکړي لکه: "اِضْرِبْ". [2]

۲. نهي [1] په لغت کي منع کولو ته وایي: او په صطلاح کي هغه صیغه ده چي د هغه په ذریعه سره فاعل د مخاطب څخه د یو فعل د ترک طلب وکړي لکه: "لَاتَضْرِبْ".

---

[1] د امر درې درجې دي: (۱) امر: حکم د اعلی و ادنی ته لکه: "اَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ". (۲) دعاء: طلب د ادنی د اعلی څخه لکه: "رَبِّ اغْفِرْ لِيْ". (۳) التماس: طلب د مساوي د مساوي څخه لکه: "مِنْ فَضْلِكَ اَعْطِنِيْ الْقَلَمَ".

[2] "اِضْرِبْ" فعل "اَنْتَ" فاعل جمله فعلیه انشائیه. "لَا تَضْرِبْ" فعل "اَنْتَ" فاعل جمله فعلیه انشائیه. "هَلْ ضَرَبَ زَیْدٌ" "هَلْ" حرف استفهام "ضَرَبَ" فعل "زَیْدٌ" فاعل جمله فعلیه انشائیه. "لَیْتَ زَیْدًا حَاضِرٌ" "لَیْتَ" حرف مشبه با الفعل "زَیْدًا" اسم د لیت "حَاضِرٌ" خبر د لَیْتَ جمله اسمیه انشائیه. "لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ" "لَعَلَّ" حرف مشبه بالفعل "عَمْرًا" اسم د "لَعَلَّ" "غَائِبٌ" خبر د "لَعَلَّ" جمله اسمیه انشائیه. "بِعْتُ وَاِشْتَرَیْتُ" "بِعْتُ" فعل و فاعل جمله انشائیه معطوف علیه "وَ" حرف عطف "اِشْتَرَیْتُ" فعل و فاعل جمله انشائیه. معطوف سره د معطوف علیه جمله معطوفه انشائیه. "یَا اَللّٰهُ" "یَا" حرف نداء قائم مقام د "اَدْعُوْ" فعل "اَنَا" ضمیر یې فاعل "اَللّٰهُ" منادی مفعول به فعل فاعل مفعول به جمله فعلیه ندائیه. "اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْرًا" "اَلَا" حرف عرض "تَنْزِلُ" فعل و فاعل "بَا" جار "نَا" ضمیر یې مجرور جار سره د مجروره ظرف لغو متعلق تر "تَنْزِلُ" پوري فعل سره د خپله فاعله او متعلقه جمله فعلیه عرض "فَا" برائ جواب عرض "تُصِیْبَ" فعل و فاعل "خَیْرًا" مفعول به فعل سره د خپله فاعل او مفعول جواب د عرض عرض سره د خپله جوابه دا به جمله فعلیه انشائیه سي. "وَاللّٰهِ لَاَضْرِبَنَّ زَیْدًا" "وَ" حرف جار برائ قسم "اَللّٰهِ" مجرور جار مع المجرور متعلق تر "اُقْسِمُ" فعل مقدر پوري "اُقْسِمُ" فعل "اَنَا" فاعل فعل سره د خپله فاعله او متعلق جمله فعلیه قسم "لَاَضْرِبَنَّ" فعل "اَنَا" فاعل "زَیْدًا" مفعول به فعل، فاعل، مفعول به جمله فعلیه جواب قسم قسم سره د جوابه جمله انشائیه قسمیه. (نصر الخبیر)

۳. استفهام (۲) په لغت کي طلب د فهم ته ویل کیږي او په صطلاح کي استفهام هغه جمله انشائیه ده چي د هغه په شروع کي حرف استفهام وي، او په هغه کي نا واقف متکلم د یو واقف مخاطبه څخه د یو شي د فهمولو خواهش وکړي. لکه: "هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ".

۴. تمنی (۳) په لغت کي ارزو او خواهش ته ویل کیږي او په اصطلاح کي هغه جمله انشائیه ده چي د هغه په ذریعه سره د یو شي ارزو او خواهش ښکاره سي لکه: "لَيْتَ زَيْدًا عَالِمٌ" (کاشکي زید عالم وای).

۵. ترجی په لغت کي امید ښکاره کولو ته ویل کیږي او په اصطلاح کي هغه جمله انشائیه ده چي د هغه په ذریعه سره د یو شي امید ښکاره سي لکه: "لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ". (امید دئ چي عمر دي غائب وي).

٦. عقود (۴) په لغت کي غوټه ور کولو ته وایي: او په اصطلاح کي د عقود څخه مراد هغه جملې وي چي د هغه په ذریعه سره رانیول او خرڅول کیږي لکه: "بِعْتُ وَاِشْتَرَيْتُ".

۷. نداء (۵) په لغت کي آواز ور کولو ته وایي: او په اصطلاح کي هغه جمله انشائیه ده چي د هغه په ذریعه سره بل څوک خپل ځان ته متوجه کیږي لکه "يَا اَللّٰهُ".

---

(۱) د نهي او نفي فرق دا دئ چي په نهي کي د منهي عنه ممکنه کېدل د "مَنْهِيْ" (منع کونکی) په قدرت کي داخلېدل شرط دي. نو ځکه وړانده ته "لَا تَنْظُرْ" نه سي ویل کېدلای او نفي عام وي.

(۲) که چیري یو واقف متکلم حرف استفهام په خپله استعمال کړي نو هغه ته استخبار ویل کیږي لکه: د الله جَلَّ جَلَالُهُ دا قول: "هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ" او حروف استفهام درې دي: همزه، مَا، هَلْ.

(۳) تمنی په ممکناتو او ممتنعاتو دواړو کي استعمالېدای سي لېکن ترجی صرف په ممکناتو کي استعمالیږي او تمنی صرف په اشیاء محبوبه وو کي استعمالیږي او ترجی عامه ده په اشیاء مبغوضه وو کي هم مستعملیږي.

(۴) د عقود جملې یعني "بِعْتُ" و "اِشْتَرَيْتُ" که چیري په حالت د بیع کولو کي استعمال سي نو دوی جملې انشائیې دي او که د بیع او شراء وروسته اسعمال سي نو بیا جملې خبریې دي.

(۵) نداء پر دوه قسمه ده: (۱) حقیقي: که چیري منادای ذوی العقول او حاضره وي لکه "يَازَيْدُ" (۲) مجازي: که چیري منادای غیر ذوی العقول او یا غائبه وي لکه "يَا طَالِعًا جَبَلًا" او منادای خو جمله انشائیه وي، لېکن د مقصود بالنداء جمله انشائیه کېدل ضروري نه دي.

۸. عرض (۱) په لغت کي پيشولو ته وايي: او په اصطلاح کي هغه جمله انشائيه ده چي د هغه په ذريعه سره د يو شي د حاصلولو ترغيب په نرمي او سنجيدگي سره ور کول سي لکه: "اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا" (ته ولي موږ ته نه راځې چي تا ته خير ورسيږي).

۹. قسم (۲) په لغت کي قسم اخستلو ته وايي: او په اصطلاح کي هغه جمله انشائيه ده چي د هغه په ذريعه سره پر يو شي باندي قسم واخستل سي، لکه: "وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا" (زما دي په خداى سره قسم وي چي زه به خامخا زيد وهم).

۱۰. تعجب (۳) په لغت کي هغه کيفيت ته ويل کيږي چي پر يو ناولده شي باندي د علم راوستولو څخه وروسته پيداسي او په اصطلاح کي هغه جمله انشائيه ده چي د هغه په ذريعه سره پر يو خبره باندي اظهار د تعجب وسي لکه: "مَا اَحْسَنَهُ وَ اَحْسِنْ بِهِ" (څومره ښائسته دئ).

بدانکه مرکب غیر مفید ان است الخ:................ الی قوله دوم مرکب بنائی.

ترجمه:

پوه سه! چي مرکب غير مفيد هغه دئ: چي خبري کونکی پر هغه باندي خاموشه سي او رېدونکي ته خبر يا طلب حاصل نه سي: مرکب غير مفيد پر درې قسمه دئ: اول مرکب اضافي لکه: "غُلَامُ زَيْدٍ"

---

(۱) "اَلَا تَنْزِلُ بِنَا" جمله انشائيه ده "فاء" عاطفه ده "فَتُصِيْبَ خَيْرًا" جمله خبريه ده. چونکه عطف د خبر پر انشاء باندي ناجائز دئ نو تاويل يې دا کيږي "اَلَا يَكُوْنُ مِنْكَ نُزُوْلٌ فَيَكُوْنُ اِصَابَةُ خَيْرٍ مِنِّيْ" نو عطف د خبر به پر خبر راسي.

(۲) په قسم کي جواب قسم جمله خبريه وي. (معارف النحو)

(۳) د "مَا اَحْسَنَهُ" تقدير عبارت "ما اَحْسَنَ زَيْدًا" دئ عند الامام السبويه "مَا" موصوفه تقديره "شَيْئٌ عَظِيْمٌ اَحْسَنَ زَيْدًا" "شَيْئٌ" موصوف "عَظِيْمٌ" صفت موصوف سره د خپله صفته مبتداء "اَحْسَنَ زَيْدًا" فعل، فاعل، مفعول خبر برائ مبتداء جمله اسميه انشائيه.

عند الامام الفراء "مَا" استفهاميه تقديره "اَىُّ شَيْئٍ اَحْسَنَ زَيْدًا" "اَىُّ شَيْئٍ" مضاف او مضاف اليه مبتداء "اَحْسَنَ زَيْدًا" فعل فاعل مفعول به خبر برائ مبتداء جمله اسميه انشائيه.

عند الامام الاخفش "مَا" موصوله دئ تقديره "اَلَّذِيْ اَحْسَنَ زَيْدًا شَيْئٌ عَظِيْمٌ" "اَلَّذِيْ" اسم موصول "اَحْسَنَ زَيْدًا" فعل، فاعل مفعول صله د موصول، موصول مع الصلة مبتداء "شَيْئٌ عَظِيْمٌ" موصوف او صفت خبر برائ مبتداء جمله اسميه انشائيه.

"اَحْسِنْ بِهِ: اَىْ حَسُنَ زَيْدٌ" "حَسُنَ" فعل "با" زائده "زَيْدٌ" فاعل جمله فعليه انشائيه. (نصر الخبير)

جزء اول ته مضاف وايي: او جزء دوهم ته مضاف اليه. (ياد ساته). او مضاف اليه همېشه مجروره وي.

دريمه خبره:

د مركب غير مفيد تعريف:

مركب غير مفيد: وهغه ته وايي چي قائل پر هغه سكوت وكړي سامع ته خبر په صورت د جملې خبريې كي او طلب په صورت د جملې انشائيې كي حاصل نه سي.

مركب غير مفيد پر دوه (٢) قِسمه دئ:

١. تقيدي.
٢. غيرتقيدي.

د مركب تقيدي تعريف:

مركب تقيدي: و هغه ته وايي چي ثاني جزء قيد وي د اول دپاره يعني اول جزء عام وي ثاني تخصيص وركړى وي لكه: "غُلَامُ زَيدٍ".

او مركب تقيدي پر دوه (٢) قسمه دئ:

١. اضافي (١).
٢. توصيفي.

د مركب اضافي تعريف:

مركب اضافي: هغه مركب دئ چي په هغه كي د يو شي تعلق د بل شي سره ښكاره كول مقصود وي، جزء اول ته يې مضاف او جزء ثاني ته يې مضاف اليه ويل كيږي (٢). مضاف اليه به همېشه مجرور وي (١).

---

(١) مضاف او مضاف اليه همېشه جزء د جملې جوړيږي كله مبتداء وي، لكه: "مَطْلُ الغَنِيِّ ظُلْمٌ"، كله خبر وي، لكه: "اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ". كله مبتداء او خبر دواړه وي، لكه: "اَوَّلُ النَّاسِ اَوَّلُ نَاسٍ"، كله فاعل وي، لكه: "وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ"، او كله مفعول وي، لكه: "اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ"، كله حال وي، لكه: "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ" "وَحْدَهُ" بتاويل "مُنْفَرِدًا". (توضيح النحو)

(٢) د مضاف او مضاف اليه په منځ كي فصل نا مناسب دئ، نو ځكه د مضاف صفت د مضاف اليه څخه وروسته راوړل پكار دي لكه: "غُلَامُ الْمَرْءَةِ الصَّالِحُ". (معلم العربي)

د مضاف سره که عامل ذکر وو ډی به په طبق سره د خپل عامل وي، که عامل د رفع وو ډی به مرفوع وي که عامل د نصب وو ډی به منصوب وي که عامل د جر وو دئ به مجرور وي، لکه: "جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ، وَرَأَيْتُ غُلَامَ زَيْدٍ، وَمَرَرْتُ بِغُلَامِ زَيْدٍ".

که چیري عامل نه وو ورسره ذکر بیا مضاف مبنی علی السکون دئ او څوک چي اعراب ور باندي وايي دا غلط مشهور دئ.

څلورمه خبره:

د مضاف او مضاف اليه علامات او د پېژندلو طريقه:

۱. دوه اسمونه وي پر اول باندي الف لام نه وي، لکه: "كِتَابُ الصَّلٰوةِ" يا درې اسمونه وي، پر اولو دوو باندي الف لام نه وي، لکه: "بَابُ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ" يا څلور اسمونه وي، پر اولو درو باندي الف لام نه وي، لکه: "وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِ رَأْسِ الْمَالِ" يا پنځه اسمونه وي، پر اولو څلورو باندي الف لام نه وي، لکه: "بَابُ مُتَابَعَةِ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ".

په دې صورتو کي بغير الف لام والا اسمونه مضاف او د دوی څخه وروسته الف لام والا اسم مضاف اليه جوړېږي.

۲. يو اسم وي بغير الف لام د ده څخه وروسته ضمير راسي لکه: "عَلٰى سَمْعِهِمْ" يا دوه اسمونه بغير الف لام وي، دريم ځای ضمير وي، لکه: "غَسْلُ يَدَيْهِ" يا درې اسمونه بغير د الف لام وي، څلورم ځای ضمير وي، لکه: "وَمَسْحُ رُبْعِ رَأْسِهِ". يا څلور اسمونه بغير د الف لام څخه وي او پنځم ځای ضمير راسي لکه: "وَجَمِيْعُ مُدَّةِ انْقِطَاعِ رُؤْيَتِيْ".

په دې ټولو صورتو کي اسمونه مضاف او ضمير مضاف اليه جوړېږي.

---

(١) مضاف اليه همېشه مجرور وي، او پر مضاف باندي الف لام نه سي راتلای لېکن اسماء مشتقه لکه: اسم فاعل، اسم مفعول، اسم تفضيل، مبالغه او صفت مشبه د دې قاعدې څخه مستثنی دي. (نصر الخبير)

۳. د اسم اشاره څخه مخکي يو اسم بغير الف لام وي لکه: "رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ" يا دوه اسمونه بغير الف لام وي، لکه: "وَتَزْئِيْنُ دِيْبَاجَةِ هٰذَا الْكِتَابِ" يا درې اسمونه بغير الف لام وي، لکه: "وَ بَيَانُ اِعْتِبَارِ صِفَةِ ذَالِكَ الْجُزْءِ".

پنځمه خبره:

داغه رنګه د اسم موصول څخه مخکي يو اسم بغير الف لام وي، لکه: "سُبْحَانَ الَّذِيْ". يا دوه اسمونه بغير د الف لام وي، لکه: "مِثْلُ اَيَّامِ الَّذِيْنَ".
يا د عَلَم څخه مخکي يو اسم بغير د الف لام وي، لکه: "كِتَابُ اللهِ" يا دوه اسمونه بغير د الف لام وي، لکه: "خَلْفَ رَسُوْلِ اللهِ" يا درې اسمونه بغير د الف لام وي، لکه: "بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ".
په دې ټولو صورتو کي بغير الف لام والا اسمونه مضاف او اسم اشاره، اسم موصول او علم مضاف اليه جوړيږي.

۴. د يوه څخه بيا تر لسو پوري عدد او د "مِأَةٌ" او "اَلْفٌ" عدد همېشه او کُسور لکه: نصف، ربع، ثلث، و غيره اکثريت خپل ما بعد ته مضاف وي، لکه: "سَبْعَةُ اَيَّامٍ" يا "مِأَةُ عَامٍ" يا "نِصْفُ الرَّأْسِ" يا "رُبْعُ الرَّأْسِ".

۵. د "مَا" او "مَنْ" څخه مخکي بغير الف لام والا اسم راسي لکه: "جَزَاءُ مَنْ تَزَكّٰى" يا "بِمَوْتِ مَا لَا دَمَ لَهٗ" داغه رنګه د عدد څخه مخکي بغير الف لام والا اسم کله يو وي او کله دوه وي؛ لکه: "تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ. عَلٰى رَأْسِ كُلِّ مِأَةِ سَنَةٍ" او داغه رنګه کله چي لفظ د حرف ذکر سي مراد هم لفظ وي، کله د ده څخه مخکي يو اسم بغير الف لام راسي کله دوه او کله درې او کله څلور لکه: "خَبَرُ اِنَّ. نَعْتُ اِسْمِ لَا. فِيْ مَوَاقِعِ اِسْتِعْمَالِ كَلِمَةِ اِلٰى. بَيَانُ مَوَاضِعِ اِسْتِعْمَالِ كَلِمَةِ حَتّٰى" او داغه رنګه لفظ د فعل يا د جملې ذکر سي او مراد لفظ وي، نو کله يې مخکي يو اسم بغير الف لام وي او کله دوه لکه: "مِنْ بَابِ عَلِمْتُ. بِخِلَافِ بَابِ اَعْطَيْتُ" نو په دې ټولو صورتو کي دوی په خپل مينځ کي مضاف او مضاف اليه سره جوړيږي.

شپږمه خبره:

شل (۲۰) داسي اسماء دي چي لازم الاضافة دي ([1]):

۱. كُلٌّ.	۷. مِثْلُ.	۱۳. عِنْدَ.
۲. ذُوْ.	۸. بَعْضٌ.	۱۴. بَيْنَ.

([1])

اول: بعضي هغه اسماء دي چي په هغه کي اضافت او افراد دواړه صحيح وي، لکه: "غُلَامٌ، ثَوْبٌ وغيره".

دوهم: هغه اسماء دي، چي د هغه اضافت نه واقع کيږي لکه: مضمرات، اشارات، موصولات، اسماء الشرط او استفهام ما سوای د "اَیٌّ" څخه.

دريم: هغه اسماء دي، چي لازم الاضافة الى المفرد وي، بيا هغه پر دوه قسمه دي: اول (۱) چي د هغه مضاف اليه حذف کول جائز وي يعني مضاف اليه منوي په ذهن کي وي هغه بعض ظروف دي: لکه: "اَوَّلُ، دُوْنَ، فَوْقَ، تَحْتَ، يَمِيْنَ، شِمَالٌ، اَمَامٌ، قُدَّامٌ، خَلْفَ، وَرَاءَ، تِلْقَاءَ، تُجَاهَ، اِزَاءُ، حِزَاءُ، قَبْلُ، بَعْدُ، مَعَ" او بعض غير ظروف دي لکه: "كُلٌّ، بَعْضٌ، غَيْرُ، جَمِيْعٌ، حَسْبٌ، اَیٌّ". مثال يې لکه: "وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ" "فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ" يا لکه: "اَيًّامَّا" (۲) چي د هغه مضاف اليه په لفظ کي حذف کول جائز نه وي، هغه هم بعض ظروف دي: لکه: "عِنْدَ، لَدٰى، لَدُنْ، بَيْنَ، وَسْطٌ" او بعض غير ظروف دي لکه: "شِبْهٌ، قَابٌ، كِلَا، وَكِلْتَا، سِوَاى، ذُوْ، ذَاتٌ، ذَوَا، ذَوَاتَا، ذُوُوْ، ذَوَاتٍ، اُوْلُوْ، اُوْلَاتُ، قُصَارٰى، سُبْحَانَ، مَعَاذَ، سَائِرُ، وَحْدُ، لَبَّيْكَ، سَعْدَيْكَ، حَنَانَيْكَ، دَوَالَيْكَ". هغه بيا پر درې قسمه دي:

۱. چي اسم ظاهر او ضمير دواړو ته مضاف وي، لکه: "كِلَا، كِلْتَا، لَدٰى، لَدُنْ، عِنْدَ، سِوَاى، بَيْنَ، لَغْرٰى، قُصَارٰى، وَسْطٌ، مِثْلُ، ذُوُوْ، مَعَ، سُبْحَانَ، سَائِرُ، شِبْهٌ".

۲. چي صرف و اسم ظاهر ته مضاف وي، لکه: "اُوْلِى، اُوْلَاتُ، ذِيْ، ذَاتَ، اُوْلُوْ، ذُوْ، ذَوَا، ذَوَاتَ، قَابٌ، مَعَاذَ" مثال يې لکه: "نَحْنُ اُوْلُوْ قُوَّةٍ" يا "اُوْلَاتُ الْاَحْمَالِ" "ذَاتَ بَهْجَةٍ".

۳. چي صرف په ضمير پوري خاص وي، هغه بيا پر دوه قسمه دي: (۱) چي د هر ضمير و طرفته مضاف کيږي هغه لفظ د "وَحْدَ" دئ لکه: "اِذَا دُعِيَ اللهُ وَحْدَهُ، وَحْدَهَا، وَحْدَهُمَا، وَحْدَكُمْ. الخ" (۲) چي صرف د مخاطب و ضمير ته مضاف کيږي هغه مصادر دي چي لفظًا تثنيه وي او معنى د تکرار ور کوي لکه: "لَبَّيْكَ، اِجَابَةً لَكَ بَعْدَ اِجَابَةٍ، سَعْدَيْكَ، اِسْعَادًا لَكَ بَعْدَ اِسْعَادٍ" "حَنَانَيْكَ" "تَحَنُّنًا عَلَيْكَ بَعْدَ تَحَنُّنٍ" دَوَالَيْكَ" "تَدَاوُلًا بَعْدَ تَدَاوُلٍ" چي صرف د مخاطب و ضمير ته مضاف وي لکه: "لَبَّيْكَ، لَبَّيْكُمَا، سَعْدَيْكُمْ".

څلورم: هغه اسماء چي لازم الاضافة وي و جمله ته لکه: "اِذْ، حَيْثُ، اِذَا، لَمَّا، مُذْ، مُنْذُ" مثال يې لکه: "وَاذْكُرُوْا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ" "وَاذْكُرُوْا اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا" "فَأْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللهُ" "اِجْلِسْ حَيْثُ العِلْمُ مَوْجُوْدٌ" "اِذَا جَاءَ عَلِيٌّ اَكْرَمْتُهُ" "وَلَمَّا جَاءَ خَالِدٌ اَعْطَيْتُهُ" "مَارَاَيْتُكَ مُذْ سَافَرَ سَعِيْدٌ" "وَمَا اِجْتَمَعْنَا مُنْذُ سَعِيْدٌ مُسَافِرٌ". (جامع الدروس العربية جلد ۳ صفحه ۱٦٥)

۳. جَمِیْعٌ.

۴. حَسْبٌ.

۵. ذَاتَ.

۶. غَیْرُ.

۹. شِبْهٌ.

۱۰. إِذْ.

۱۱. إِذَا.

۱۲. أُوْلُوْ.

۱۵. لَدُنْ.

۱۶. دُوْنَ.

۱۷. حَیْثُ.

۱۹. سِوَای.

۲۰. جهات سته، قَبْلُ، بَعْدُ، تَحْتَ، فَوْقَ، یَمِیْنٌ شِمَالٌ

فائده:

د لوړي حاشیه اسماء هم په لازم الاضافة کي داخل دي.

جملي:

عنوان	مفرد، مرکب	تعداد اسم، فعل، حرف	خبر، انشاء	انشاء علامات	اقسام اربعه علامة	مسند	مسندالیه	فضله	ادات
لَاتُشْرِکُوْا بِهٖ شَیْئًا	مرکب	۳ اسم ۲ حرف ۱ فعل	انشاء	نهي	فعلیه	لَاتُشْرِکُوا	أَنْتُمْ	ہ، شَیْئًا	لَا، بِ
أَسْتَغْفِرُ اللهَ	مرکب	۲ اسم ۱ فعل	انشاء	دعاء	فعلیه	أَسْتَغْفِرُ	أَنَا	لفظ (الله)	×
صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ	مرکب	۳ اسم ۲ فعل ۲ حرف	انشاء	دعاء	فعلیه	صَلَّی وَسَلَّمَ	اللهُ، هُوَ	ہ	و، عَلٰی
أُعْبُدُوْا اللهَ	مرکب	۲ اسم ۱ فعل	انشاء	امر	فعلیه	أُعْبُدُوْا	أَنْتُمْ	لفظ (الله)	×
لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِیْبٌ	مرکب	۲ اسم ۱ حرف	انشاء	ترجي	اسمیه	قَرِیْبٌ	اَلسَّاعَةَ	×	لَعَلَّ
لَیْتَ سَعِیْدًا حَاضِرٌ	مرکب	۲ اسم ۱ حرف	انشاء	تمني	اسمیه	حَاضِرٌ	سَعِیْدًا	×	لَیْتَ
آمَنُوْا	مرکب	۱ اسم ۱ فعل	خبر	+	فعلیه	آمَنُوْا	هُمْ	×	×
آمِنُوْا	مرکب	۱ اسم ۱ فعل	انشاء	امر	فعلیه	آمِنُوْا	أَنْتُمْ	×	×
مَافِي الْبَیْتِ بَکْرٌ	مرکب	۳ اسم ۲ حرف	خبر	+	ظرفیه	مَوْجُوْدٌ	بَکْرٌ	اَلْبَیْتِ	مَا، فِي
فِي الْإِمْتِحَانِ یُکْرَمُ الرَّجُلُ أَوْ یُهَانُ	مرکب	۳ اسم ۲ فعل ۲ حرف	خبر	+	ظرفیه	یُکْرَمُ، یُهَانُ	اَلرَّجُلُ، هُوَ	اَلْإِمْتِحَانِ	فِي، أَوْ
مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْیُعَجِّلْ	مرکب	۳ اسم ۲ فعل ۱ حرف	خبر	+	اسمیه	أَرَادَ، فَلْیُعَجِّلْ	هُوَ، هُوَ	اَلْحَجَّ	ف
وَالتِّیْنِ وَالزَّیْتُوْنِ	مرکب	۳ اسم ۱ فعل ۲ حرف	انشاء	قسم	اسمیه	أُقْسِمُ	أَنَا	اَلتِّیْنِ اَلزَّیْتُوْنِ	وَ، وَ
لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ	مرکب	۳ اسم ۱ فعل ۱ حرف	انشاء	ترجي	فعلیه	تُفْلِحُوْنَ	کُمْ	+	لَعَلَّ

التمرین:

"أُنْظُرْنَا.. وَلَا تَقُوْلُوْا.. هَلْ تَرٰی مِنْ فُطُوْرٍ.. وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ.. لَیْتَ قَوْمِي یَعْلَمُوْنَ.. لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ.. مَا أَصْبَرَهُمْ عَلَی النَّارِ.. لَعَلَّ السَّاعَةَ تَکُوْنُ قَرِیْبًا.. مَا أَکْفَرَهُ.. یٰلَیْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِیْلًا".

دوم مرکب بنائی الخ: .... الی قوله فصل بدانکه چون کلمات جمله بسیار باشد.

ترجمه:

دوهم مرکب بنائي هغه مرکب دئ چي دوه اسمونه يې سره يو ځای کړي وي، او اسم دوهم متضمن (شامل) حرف عطف لره وي، لکه: "اَحَدَ عَشَرَ" بيا تر "تِسْعَةَ عَشَرَ" پوري. په اصل کي "اَحَدٌ وَ عَشَرٌ" او "تِسْعَةٌ وَّ عَشَرٌ" وو. واو يې حذف کړئ او دواړه اسمونه يې سره يو ځای کړل. د دې مرکب دواړه جزئونه مبني بر فتحه دي، ماسوای د "اِثْنَا عَشَرَ" څخه. د هغه جزء اول معرب دئ.
دريم مرکب منع صرف هغه مرکب دئ چي دوه اسمونه يې سره يو ځای کړي وي، او اسم دوهم متضمن حرف لره نه وي، لکه: "بَعْلَبَکَّ" و "حَضْرَمَوْتَ". جزء اول يې مبني بر فتحه دئ پر مذهب د اکثرو علماؤ او جزء دوهم يې معرب دئ.
پوه سه! چي مرکب غير مفيد همېشه جزء د جملې وي، لکه: "غُلَامُ زَيْدٍ قَائِمٌ" (۱) "عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا" "جَاءَ بَعْلَبَکُّ".

الدرس الثامن:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د مرکب توصيفي تعريف:
دوهم قِسم د مرکب تقيدي مرکب توصيفي دئ:
مرکب توصيفي: هغه مرکب دئ چي د صفت او موصوف څخه جوړ وي لکه "رَجُلٌ عَالِمٌ" اول جزء ته موصوف او دوهم جزء ته صفت وايي.

(۱) "غُلَامُ زَيْدٍ قَائِمٌ" "غُلَامُ" مضاف "زَيْدٍ" مضاف اليه مضاف سره د خپله مضاف اليه مبتداء "قَائِمٌ" صيغه د اسم فاعل سره له فاعله خبر د مبتداء مبتداء سره د خپله خبره جمله اسميه خبريه. "عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا" "عِنْدِيْ" ظرف مضاف "يْ" متکلم مضاف اليه دا مفعول فيه د موجود "مَوْجُوْدٌ" صيغه د اسم مفعول ضمير مستتر يې فاعل "عِنْدِيْ" مفعول فيه سره د خپل متعلق دا به خبر مقدم سي "اَحَدَ عَشَرَ" مميز "دِرْهَمًا" تميز مميز سره د خپله تميزه مبتداء مؤخره دا به جمله اسميه خبريه سي. "جَاءَ بَعْلَبَکُّ" "جَاءَ" فعل "بَعْلَبَکُّ" فاعل جمله فعليه خبريه. (نصر الخبير)

د موصوف او صفت علامات او د پېژندلو طريقه:

د صفت او موصوف په معنٰی کې د پښتو په ژبه کې د "هسې" لفظ زياتول کېږي لکه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ" (ما له راغلئ هسې سړی چې عالم وو يعني ما له عالم سړی راغلئ) ودې ته صفت حقيقي ويل کيږي يعني "صفت بحاله".

صفت به يا جمله وي او يا به مفرد وي که چيرې جمله وي نو بيا د ده د پاره درې شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې صفت به جمله خبريه وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې په صفت کې به يو ضمير وي، چې راجع به وي و موصوف ته.

۳. دريم شرط يې دا دئ: چې موصوف به نکره وي، لکه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ" (ما له راغلئ هسې سړی چې د ده پلار عالم وو) ودې ته صفت سببي ويل کيږي يعني "صفت بحال متعلقه".

دوهمه خبره:

او که چيرې صفت مفرد وو نو بيا خو يې د معلوملو يوه لويه طريقه په اعتبار د معنی سره ده چې تېره سوه لېکن په لفظ کې يې د معلومولو يو څو مشهوره طريقې او علامې په دې شکل دي:

۱. که چيرې دواړه اسمونه معرفه وي يا دواړه نکره وي نو عموما دوی موصوف او صفت جوړيږي، په دې شرط چې حکم به نه وي ور باندې سوی لکه: "زَيْدُنِالْعَالِمُ، رَجُلٌ عَالِمٌ".

۲. د اسم اشاره وروسته چې کله معرف باللام راسي لکه: "ذٰلِکَ الْکِتَابُ"، نو عام طور اسم اشاره موصوف او هغه وروسته اسم صفت بلل کيږي.

۳. کله دوه اسمونه وي، پر دواړو الف لام وي ([1]) لکه: "اَلصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ" يا درې څلور پنځه اسمونه وي، پر ټولو الف لام وي، لکه: "هُوَ اللّٰهُ الخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ" يا دوه اسمونه وي،

([1]) شرط يې دا دئ چې دواړه به يا مفرد وي، خواه که مفرد صريحي وي، او که تاويلي وي، يا به دواړه تثنيه وي، او يا به دواړه جمع وي، او معنی به يې هم صحيح وي، يعني حمل به د صفت پر موصوف باندې صحيح وي.

پر دواړو تنوین وي (۱) او نکره وي، لکه: "صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا" په دې دواړو صورتو کي اول موصوف او دوهم صفت واقع کيږي.

۴. کله چي د نکره څخه وروسته فعل راسي (۲) لکه: "اَلْكَلِمَةُ لَفْظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى" يا جار و مجرور راسي (۳) لکه: "مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا" يا د "ذَاتٌ" لفظ راسي لکه: "فِيْ كُلِّ صَلٰوةٍ ذَاتِ رُكُوْعٍ وسُجُوْدٍ" يا "مِنْ" بيانيه راسي لکه: "وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ" يا د "غَيْرُ" لفظ راسي لکه: "إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ" په دې دواړو صورتو کي اول اسم موصوف او دوهم صفت وي.

۵. کله چي يو اسم مضاف وي، و ضمير ته او د ده څخه وروسته الف لام والا اسم راسي لکه: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى" يا اسم موصول راسي لکه: "وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ" يا اسم اشاره راسي لکه: "مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا" په دې صورتو کي اول اسم موصوف او دوهم صفت وي.

٦. کله چي د اسم اشاره (۴) څخه وروسته الف لام والا اسم راسي لکه: "رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ" يا د اسم موصول څخه مخکي الف لام والا اسم راسي لکه: "هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ" اول اسم موصوف او دوهم صفت وي.

---

(۱) شرط يې دا دئ چي اول اسم به د چا دپاره علم نه وي او دواړه اسمونه به د "كَانَ" و غيره او حروف مشبه با الفعل څخه وروسته نه وي، که چيري اول اسم د چا دپاره نوم وي، نو بيا په ابتداء کلام کي هغه مبتداء او خبر جوړيږي لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ" او که چيري د "كَانَ" او حروف مشبه با الفعل څخه وروسته وي، نو بيا په بعضو مقاماتو کي دوه جلا جلا خبرونه جوړيږي لکه: "إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ" او "وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا".

(۲) په دې شرط چي فعل به د جزاء په مقام کي نه وي، که چيري فعل د جزاء په مقام کي وي، بيا موصوف او صفت نه جوړيږي، لکه: "مَنْ بَنٰى لِلّٰهِ مَسْجِدًا، بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ".

(۳) په دې شرط چي جار او مجرور به په ماقبل کي د دغه نکره يا د بل لفظ سره متعلق نه وي.

(۴) شرط يې دا دئ: چي د يو بل ترکيب قرينه به نه وي موجوده لکه: "أَنّٰى يُحْيِي هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا" په دې ترکيب کي "هٰذِهِ" منعول به مقدم دئ.(العلامات النحوية)

دريمه خبره:

۷. لفظ د "اِبْنٌ" د ماقبل دپاره صفت او و مابعد ته مضاف وي، لكه: "اَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَسَنٍ".

۸. چي كله لفظ د حرف ذكر سي او مراد هم لفظ وي، نه معنٰى او د ده څخه وروسته الف لام والا اسم راسي لكه: "مَا وَلَا الْمُشَبَّهَتَانِ بِلَيْسَ" اول اسم موصوف او دوهم صفت وي.

۹. كله صفت مضاف وي و موصوف ته لكه: "بِكَرِيْمِ خِطَابِهٖ: اَیْ اَلْخِطَابُ الْكَرِيْمُ" يعني كريمانه خطاب. او كله موصوف مضاف وي، و صفت ته لكه: "بِرُوْحِ الْقُدُسِ" يعني پاكيزه روح.

د موصوف او صفت د مبتداء او خبر څخه فرق:

۱. اول فرق يې په حكم سره كيږي كه چيري د "دیٔ" او د "نه دیٔ" حكم ور باندي لګېدلی وي نو مبتداء او خبر بلل كيږي او كه نه وي نو بيا موصوف و صفت دي لكه: "زَيْدٌ عَالِمٌ" زيد عالم دیٔ، "زَيْدُنِ الْعَالِمُ" هسي زيد چي عالم يعني عالم زيد.

۲. دوهم يې فرق په لفظ كي دیٔ كه چيري دواړه نكره وي يا دواړه معرفه وي خو په مابين كي يې ضمير فصل نه وي نو صفت او موصوف دي.

او كه چيري يو نكره او بل معرفه وي يا دواړه معرفه وي خو په مابين كي يې ضمير فصل وي نو بيا مبتداء او خبر بلل كيږي لكه: "زَيْدٌ قَائِمٌ، اُوْلٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ".

څلورمه خبره:

د مركب غير تقيدي اقسام:

دوهم قسم، د مركب غير مفيد، مركب غير تقيدي دیٔ او مركب غير تقيدي پر دري (۳) قِسمه دیٔ:

۱. مركب بنائي، يا عددي.
۲. مركب منع صرف، يا مزجي.
۳. مركب صوتي.

د مركب بنائي تعريف:

مرکب بنائي هغه مرکب غیر مفید دئ چي دوه اسمونه يې سره يو ځای کړي وي، او اسم دوهم متضمن حرف لره وي، لکه: "اَحَدَ عَشَرَ" (۱) په اصل کي "اَحَدٌ وَّ عَشَرٌ" وو او دواړه جزؤنه يې مبني دي.

د مرکب بنائي اقسام:

مرکب بنائي پر درې قسمه دئ:

۱. کله مرکب من العدد وي، لکه: "اَحَدَ عَشَرَ" دواړه جزؤنه يې مبني بر فتحه دي، اول جزء ځکه مبني (۲) دئ چي آخر حرف يې په وسط د کلمې کي راغلی دئ او پر وسط د کلمې اعراب نسي جاري کېدای، او دوهم جزء ځکه مبني دئ، چي متضمن حرف لره دئ (۳) او حرف مبني الاصل دئ.

۲. کله مرکب من الظروف وي، لکه: "مَنْ لَّا يَصْرِفُ الْوَاشِيْنَ عَنْهُ صَبَاحَ مَسَاءَ يَبْغُوْهُ خَبَالًا" په اصل کي "صَبَاحًا وَّ مَسَاءً" وو، د بنا وجه يې په اول قسم کي تېره سوه.

۳. کله مرکب من الاحوال وي، لکه: "فُلَانٌ جَارِيْ بَيْتَ بَيْتَ" په اصل کي "بَيْتًا لِبَيْتٍ اَیْ مُلَاصِقًا" قَدْ مَرَّ وَجْهُ بِنَائِهٖ فِي الْقِسْمِ الْاَوَّلِ.

---

(۱) د "اَحَدَ عَشَرَ" څخه بيا تر "تِسْعَةَ عَشَرَ" پوري دواړه جزؤنه مبني دي، مگر په "اِثْنَا عَشَرَ" کي اول جزء معرب دئ ځکه دا په اصل کي "اِثْنَانِ" وو، لفظًا او معنًا د تثنيې سره مشابه دئ تثنيه چي کله مضاف وي، نون يې غورځي او دا معربه وي، نو "اِثْنَانِ" و "اِثْنَتَانِ" هم د تثنيې سره د شبه اضافت په وجه باندي معرب وي، او داغه رنگه که چيري اسم عدد د "فَاعِلٌ" پر وزن راسي او د "عَشَرَ" سره مرکب وي، هغه به هم مبني بر فتحه وي، لکه: "ثَالِثَ عَشَرَ". لېکن که چيري ناقص يايي وي، نو بيا به جزء اول مبني بر سکون وي، لکه: "حَادِيْ عَشَرَ".

(۲) د جزء اول دوهمه وجه د بناء دا ده چي جزء ثاني د تاء متحرکه حيثيت لري لکه: څنگه چي تا خپل ماقبل مبني بر فتحه گرځوي لکه: په "ضَارِبَةٌ" کي او داغه رنگه جزء ثاني هم جزء اول مبني بر فتحه گرځوي.

(۳) واو حرف دئ او جمله حروف مبنی الاصل دي ضابطه دا ده چي کم شی د مبنی الاصل معنی لره متضمن وي، هغه هم مبني وي، او دوی مبني علی الحرکت ځکه دئ چي دوی مشابه د مبنی الاصل دئ او مبني بر فتحه ځکه دئ. چي فتحه اخف الحرکات ده.

پنځمه خبره:

د مرکب منع صرف تعریف:

دوهم قسم د مرکب غیرتقیدي (۱) مرکب منع صرف دئ.

مرکب منع صرف هغه مرکب غیر مفید دئ چي دوه اسمونه یې سره یو ځای کړي وي، او اسم دوهم متضمن حرف لره نه وي، لکه: "بَعْلَبَکّ، حَضْرَمَوْتَ" د مرکب منع صرف په اعراب کي درې مذهبونه دي.

د مرکب منع صرف په اعراب کي د نحویانو اختلاف:

۱. عند البعض د مرکب منع صرف دواړه اجزاء معرب دي اول مضاف او دوهم مضاف الیه منصرف دئ. لکه: "جَائَنِيْ بَعْلُبَکٍّ" "وَرَاَیْتُ بَعْلَبَکٍّ" "وَمَرَرْتُ بِبَعْلِبَکٍّ".

۲. عند البعض دواړه جزئونه معرب دي لیکن اول معرب مضاف دوهم معرب مضاف الیه غیر منصرف دئ لکه: "جَائَنِيْ بَعْلُبَکَّ" "وَرَاَیْتُ بَعْلَبَکَّ" "وَمَرَرْتُ بِبَعْلِبَکَّ".

۳. عند الاکثر جزء اول یې مبني بر فتحه دئ جزء دوهم یې معرب غیر منصرف دئ لکه: "جَائَنِيْ بَعْلَبَکُّ" "وَرَاَیْتُ بَعْلَبَکَّ" "وَمَرَرْتُ بِبَعْلَبَکَّ".

د مرکب صوتي تعریف:

مرکب صوتي هغه مرکب غیر مفید دئ چي دوه اسمونه یې سره یو ځای کړي وي، او اسم دوهم صوت وي، او دی د ترکیبه څخه مخکي مبني دئ، او اول جزء یې بیا څکه مبني دئ چي آخر یې په وسط کي راغلی دئ. لکه: "سِبْوَیْه، نِفْطَوَیْه".

---

(۱) ذ مرکب وجه د حصر: مرکب به د دوو خالو څخه خالي نه وي، یا به د ده د دواړو جزئو په مابین کي نسبت وي، یا به نه وي، کچیري نسبت وو، هغه به یا تام وي یا به ناقص وي، کچیري تام وو، هغه اول (۱) قسم مرکب تام دئ. که یې نسبت ناقصه وو، یا به انفصال وي، یا به اتصال وي، که انفصال وو، هغه (۲) دوهم قسم مرکب عطفي دئ. که اتصال وو، یا به اتصال لفظي وي، یا به معنوي وي، که لفظي وو، هغه (۳) دریم قسم مرکب اضافي دئ او که معنوي وو یا به عامل او معمول جوړېدای سي یا به نسي جوړېدای که نه سو جوړېدای هغه (۴) څلورم قسم مرکب توصیفي دئ او که جوړېدای سو هغه پنځم (۵) قسم شبه جمله ده. او کچیري د اجزاوو په مابین کي نسبت نه وو، یا به دوهم جزء صوت وي، هغه (۶) شپږم قسم مرکب صوتي دئ او که نه وو، یا به اول جزء متضمن حرف لره وي، یا به نه وي، که نه وو (۷) اووم قسم مرکب منع صرف دئ، که وو یا به مرکب من الاحوال وي هغه (۸) اتم قسم دئ یا به مرکب من الظروف هغه (۹) نهم قسم دئ یا به مرکب من العدد وي هغه (۱۰) لسم قسم دئ. (شرح شذور الذهب)

شپږمه خبره:

سوال: کله چي دا مرکب غير مفيد دئ او پر ده څه فائده مشتمله نه ده نو نحوي حضرات دَی د څه غرض دپاره ذکر کوي.

جواب: که څه هم دَی پوره جمله نسي واقع کېدای لېکن جزء د جملې ضرور واقع کيږي، د دوهم جزء سره چي يو ځای سي نو بيا پوره جمله ځني جوړيږي.

بدانکه هیچ جمله کمتر الخ:.............................. الی قوله بدانکه چون کلمات جمله بسیار شود.

ترجمه:

پوه سه! چي جمله (خواه خبريه وي او که انشائيه) تر دوو کلمو کمه نه وي مرکبه، خواه که هغه دواړي کلمې ښکاره وي، لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ، زَيْدٌ قَائِمٌ" (۱) يا يوه ښکاره او بله پټه وي؛ لکه: "اِضْرِبْ" چي د "اَنْتَ" ضمير پکښي پټ دئ، او د دې څخه د زياتو کلمو څخه هم جمله مرکبه کېدای سي. او زياتوب لره څه حد او اندازه نسته.

اوومه خبره:

اعتراض: مخکي د جملې يعني د مرکب مفيد په تعريف کي دا خبره تېره سوه چي دَی به د دوو يا تر دوو زياتو لفظو څخه مرکب وي، لېکن "اِضْرِبْ" يوه کلمه ده بيا هم و دې ته جمله ويل کيږي.

جواب: جمله عامه ده کله يې دواړه اجزاء لفظي وي، لکه: په "ضَرَبَ زَيْدٌ، زَيْدٌ قَائِمٌ" او کله يو لفظي او بل تقديري وي، لکه په "اِضْرِبْ" کي چي د "اَنْتَ" ضمير پکښي مستتر دئ.

سوال: د "اَنْتَ" ضمير مرفوع منفصل دئ او استتار يعني پټوالی خو خاصه د مرفوع متصل ده.

جواب: په "اِضْرِبْ" کي مرفوع متصل ضمير مستتر دئ (۲) خو "مُعَبِّرْ" په "اَنْتَ" سره دئ لېکن تعبير يې د استتار اختيار کړی دئ د مبتديانو د سهولت دپاره.

---

(۱) "ضَرَبَ زَيْدٌ، و زَيْدٌ قَائِمٌ" "ضَرَبَ زَيْدٌ" فعل و فاعل معطوف عليه "زَيْدٌ قَائِمٌ" مبتداء او خبر معطوف دا به جمله معطوفه سي.

(۲) د مستتر ضمائرو دپاره څه شکل او صورت نه وي، لېکن د مبتديانو د سهولت دپاره مونږ دا وايو چي په "اِضْرِبْ" کي "اَنْتَ" مستتر دئ.

جملي:

عنوان	اسم، فعل، حرف	خبر، انشاء	اقسام اربعه یا ثلاثه	تعیین مرکب خبر مفید	مسند	مسند الیه	فضله	ادات
صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ	۳.۱اسم	خبر	اسمیه	مرکب تقیدی بصورت اضافی	وَاجِبَةٌ	صَدَقَةُ الْفِطْرِ	+	+
جبرئیل علیه السلام رَسُوْلٌ أَمِیْنٌ	۱.۵اسم،۱.حرف	خبر	اسمیه	مرکب تقیدی بصورت توصیفی	رَسُوْلٌ أَمِیْنٌ	جبرئیل	اَلسَّلَامُ	عَلَیْ
اَلْقَبْرُ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ	۱.۵اسم،۱.حرف	خبر	اسمیه	۲.مرکب تقیدی بصورت اضافی	أَوَّلُ مَنْزِلٍ	اَلْقَبْرُ	مَنَازِلِ الْآخِرَةِ	مِنْ
قِيَامُ اللَّيْلِ دَأْبُ الصَّالِحِيْنَ	۳.۱اسم	خبر	اسمیه	۲.مرکب تقیدی بصورت اضافی	دَأْبُ الصَّالِحِيْنَ	قِيَامُ اللَّيْلِ	+	+
خَطَبَ سِيْبَوَيْهِ	۱.فعل،۱.۱اسم	خبر	فعلیه	مرکب غیر تقیدی بصورت صوتی	خَطَبَ	سِيْبَوَيْهِ	+	+
عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ	۳.۱اسم	خبر	اسمیه	مرکب تقیدی بصورت اضافی	حَقٌّ	عَذَابُ الْقَبْرِ	+	+
جَاءَنِيْ أَحَدَ عَشَرَ مُعَلِّمًا	۳.۱اسم،۱.فعل	خبر	فعلیه	مرکب غیر تقیدی بصورت بنائی	جَاءَ	أَحَدَ عَشَرَ	نِيْ مُعَلِّمًا	+
رَاهْوَيْهِ رَجُلٌ صَالِحٌ	۳.۱اسم	خبر	اسمیه	مرکب تقیدی، غیر تقیدی بصورت صوتی و توصیفی	رَجُلٌ صَالِحٌ	رَاهْوَيْهِ	+	+
حَضْرَمَوْتُ بَلْدَةٌ كَبِيْرَةٌ	۳.۱اسم	خبر	اسمیه	مرکب غیر تقیدی و تقیدی بصورت منع صرف و توصیفی	بَلْدَةٌ كَبِيْرَةٌ	حَضْرَمَوْتُ	+	+
لَاتَجُوْزُ الصَّلٰوةُ خَلْفَ مُنْكِرِ الشَّفَاعَةِ	۱.فعل،۳.۱اسم	خبر	فعلیه	مرکب تقیدی بصورت اضافی	لَاتَجُوْزُ	اَلصَّلٰوةُ	خَلْفَ مُنْكِرِ الشَّفَاعَةِ	+
صَامَ مَعْدِيْكَرِبُ	۱.فعل،۱.۱اسم	خبر	فعلیه	مرکب غیر تقیدی بصورت منع صرف	صَامَ	مَعْدِيْكَرِبُ	+	+
أَدَبُ الْأُسْتَاذِ لَازِمٌ	۳.۱اسم	خبر	اسمیه	مرکب تقیدی بصورت اضافی	لَازِمٌ	أَدَبُ الْأُسْتَاذِ	+	+

التمرين:

"رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا،، إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ،، اِتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهِ،، مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ،، فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُوْلٍ،، اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ،، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ،، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ".

بدانکه چون کلمات جمله بسیار باشد الخ: (۱) .... الی قوله بدانکه علامات اسم آن است.

---

(۱) مصنف رحمة الله علیه فرمايي: چي په جمله کي زياتي کلمې هم راځي او زياتوب لره څه حد او اندازه نشته په دې خبره کي د نحاتو اختلاف دئ چي آيا د مسند او مسند اليه د متعلقاتو په کلام کي دخل شته او که نه د صاحب المفصل د کلام د تعريف څخه دا معلوميږي چي کلام صرف په دوو لفظو کي حصر دئ د متعلقاتو او ملحقاتو په کلام کي قطعا دخل نشته لکه: په "ضَرَبْتُ زَيْدًا قَائِمًا" کي کلام فقط "ضَرَبْتُ" دئ "زَيْدًا قَائِمًا" د کلام څخه خارج دي. ځکه ده د کلام تعريف "اَلْكَلَامُ هُوَ الْمُرَكَّبُ" کړی دئ کله چي ضمير فصل د مبتداء او خبر په مينځ کي د معرفتوب په حالت کي راسي نو بيا د حصر فائده ورکوي.
او د علامه ابن حاجب د کافيه د عبارت څخه په ظاهر دا معلوميږي چي متعلقاتو لره په کلام کي دخل شته ځکه هغو په تعريف د کلام کي نه د دو حصر کلمه راوړي ده او نه يې قيد د فقط ذکر کړی دئ. (تنوير)

ترجمه:

پوه سه! چي په جمله کي کله کلمات زياتي وي، (نو بيا د هري کلمې پېژندل پکار دي) چي کمه کلمه اسم ده او کمه فعل ده او کمه حرف ده، او بيا ودې ته کتل پکار دي چي کمه کلمه معرب ده او کمه کلمه مبني ده عامل کم يو دئ او معمول کم يو دئ دا هم پېژندل پکار دي، چي د دې کلمو په خپل ميانځ کي څه رنګه تعلق دئ چي په جمله کي مسند او مسند اليه پيداسي او د جملې معنٰی په تحقيق سره معلومه سي.

الدرس التاسع:

د نن سبقه خلاصه څلور (۴) خبري دي:

اوله خبره:

د مطالعې اجمالي طريقه:

مصنف رحمة الله عليه د دې ځای څخه چي، بدانکه چون کلمات جمله بسيار باشد الخ: دستور المطالعة اجمالاً ذکر کوي چي په کلام عربي کي کله ستا ومخ ته لفظ راسي.

۱. اول: به په جمله کي اسم، فعل او حرف معلوموې.
۲. دوهم: به معرفه او نکره معلوموې.
۳. دريم: به مذکر او مؤنث معلوموې.
۴. څلورم: به معرب او مبني معلوموې.
۵. پنځم: به اعراب معلوموې چي دا لفظ مرفوع دئ منصوب دئ او که مجرور دئ.
۶. شپږم: به وجه د اعراب معلوموې چي بنا بر فاعليت، مفعوليت، اضافت، وغيره اعراب ورکول سوی دئ، يا پر بله بنا باندي.
۷. اووم: به عامل او معمول معلوموې.

دوهمه خبره:

د مطالعې تفصيلي طريقه:

دستور او (طریقه) د مطالعې تفصیلاً په دې شکل وي چې په کلام کې به اول مفرد او مرکب معلوموې که چیرې مفرد وو. بیا به په دې کې اسم، فعل او حرف پیژنې که چیرې اسم وو، بیا به په اسم کې پنځه شیان ګورې (۱) معرفه او نکره (۲) مذکر او مؤنث (۳) منصرف او غیر منصرف (۴) معرب او مبني (۵) عامل او معمول.

که چیرې فعل وو، په هغه کې به هم پنځه شیان ګورې (۱) معلوم او مجهول (۲) لازمي او متعدي (۳) متعدي بیک مفعول بدو مفعول بسه مفعول. (۴) معرب او مبني (۵) عامل او معمول.

که چیرې حرف وو، بیا به دوه شیان پکښې ګورې (۱) حروف عامله (۲) حروف غیر عامله. که حروف عامله وه بیا په اوو انواعو کې د حروفو کمه نوعه ده. او که غیر عامله وه، بیا په شپاړس اقسامو کې د حروف غیر عامله کم قسم دئ.

دریمه خبره:

د لفظ مرکب د اجراء طریقه:

که چیرې لفظ مرکب وو، بیا په هغه کې د یو څو شیانو پېژندل ضروري دي:

۱. مفید او غیر مفید.
۲. که چیرې مرکب مفید وو، نو بیا خبریه او انشائیه معلومول.
۳. که چیرې خبریه وه بیا په خبریه کې اسمیه، فعلیه، ظرفیه، او شرطیه معلومول.
۴. که چیرې انشائیه وه بیا په انشائیه کې اسمیه، فعلیه، ظرفیه او د انشاء علامه معلومول.
۵. که چیرې مرکب غیر مفید وو بیا به تقیدي وي او یا به غیر تقیدي وي.
۶. که چیرې تقیدي وو، بیا په مرکب تقیدي کې اضافي، توصیفي معلوموا.
۷. که چیرې غیر تقیدي وو، بیا په غیر تقیدي کې مرکب منع صرف، مرکب صوتي، او مرکب بنائي معلوموا دي. بیا په مرکب بنائي کې مرکب من العدد، مرکب من الظروف او مرکب من الاحوال معلوموا ضروري دي:

فصل بدانکه علامات اسم آن است الخ: .... الی قوله فصل بدانکه جمله کلمات عرب بر دو قسم است.

ترجمه:

د اسم علامه دا ده چي الف لام يا حرف جر يې په سر کي وي، لکه: "اَلْحَمْدُ" و "بِزَيْدٍ" يا يې تنوين په آخر کي وي، لکه: "زَيْدٌ". يا مسند اليه وي، لکه: په "زَيْدٌ قَائِمٌ" کي "زَيْدٌ" يا مضاف وي، لکه: په "غُلَامُ زَيْدٍ" کي "غُلَامٌ" يا تصغير وي، لکه: "قُرَيْشٌ" يا ياء نسبتي يې په آخر کي راغلې وي، لکه: "بَغْدَادِيٌّ" يا تثنيه وي، لکه: "رَجُلَانِ" يا جمع وي، لکه: "رِجَالٌ" يا موصوف وي، لکه: په "جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ" (۱) کي "رَجُلٌ" يا تاء متحرکه د هغه په آخر کي راغلې وي، لکه: "ضَارِبَةٌ".

او د فعل علامه دا ده: چي "قَدْ" يې په شروع کي راغلئ وي، لکه: "قَدْ ضَرَبَ" يا "سِيْن" وي، لکه: "سَيَضْرِبُ" يا "سَوْفَ" وي، لکه: "سَوْفَ يَضْرِبُ" يا حرف جزم وي، لکه: "لَمْ يَضْرِبْ". يا ضمير مرفوع متصل يې په آخر کي راغلى وي، لکه: "ضَرَبْتُ" يا "امر" وي، لکه: "اِضْرِبْ" يا "نهي" وي، لکه: "لَاتَضْرِبْ".

او د حرف علامه دا ده: چي يوه علامه د علامو څخه د اسم او فعل په ده کي نه وي.

څلورمه خبره:

د علامې لغوي او اصطلاحي معنٰى:

يو وجود ذهني دشي وي چي (هغه په تعريف سره معلوميږي او هغه تېر سو) يو وجود خارجي د شي وي (هغه په علامو سره معلوميږي).

اوس مصنف رحمه الله د اسم او فعل علامې ذکر کوي. علامه په لغت کي نښانې ته وايي او په اصطلاح کي "عَلَامَةُ الشَّيْئِ مَايُوْجَدُ فِيهِ وَلَايُوجَدُ فِي غَيْرِهِ".

د اسم او د فعل او د حرف علامې موږ مخکي په تفصيل سره ذکر کړې او يوه علامه د اسم تنوين هم دئ.

د تنوين لغوي او اصطلاحي معنٰى:

---

(۱) "جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ" "جَاءَ" فعل "رَجُلٌ" موصوف "عَالِمٌ" صفت موصوف مع الصفت فاعل د فعل جمله فعليه خبريه.

تنوين په لغت کي نون دادن ته ويل کيږي يعني يو کلمه ته په وينا کي نون ور کول نه په کتابت کي لکه په "ضَارِبٌ" کي او په اصطلاح کي "نُونٌ سَاكِنَةٌ تَتْبِعُ حَرَكَةَ آخِرِ الْكَلِمَةِ لَالِتَاكِيْدِ الْفِعْلِ" تنوين هغه نون ساکن دئ چي د کلمې د آخر حرف تابعداري کوي يعني که د کلمې آخر حرف مضموم وو دی به هم مضموم وي لکه په "ضَارِبٌ" کي او که هغه منصوب يا مکسور وو دَی به هم منصوب يا مکسور وي او د فعل د تاکيد دپاره نه راځي لکه په "اِضْرِبَنَّ" او "اِضْرِبَنْ" کي.

د تنوين اقسام:

تنوين پرپنځه (۵) قسمه دئ.

۱. تنوين تمکن.
۲. تنوين تقابل.
۳. تنوين عوض.
۴. تنوين تنکير.
۵. تنوين ترنم.

تنوين تمکن: هغه تنوين دئ چي پر اسم متمکن باندي راځي لکه: "سَعِيْدٌ".

تنوين تقابل: هغه تنوين دئ چي د جمع مؤنث په اخير کي راوړل کيږي په مقابله کي د (نون) د جمع مذکر سالم کي لکه: "مُسْلِمَاتٌ".

تنوين عوض: هغه تنوين دئ چي د مضاف اليه محذوف په عوض کي پر مضاف باندي راوړل کيږي لکه: "يَوْمَئِذٍ، حِيْنَئِذٍ" په اصل کي "يَوْمَ اِذْ كَانَ كَذَا، حِيْنَ اِذْ كَانَ كَذَا" وو.

تنوين تنکير: هغه تنوين دئ چي د نکره جوړولو په صورت کي راځي لکه: "صَهٍ اى اُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِي وَقْتٍ مَّا" هسي په يو وخت کي خاموشه سه.

فائده: د تنوين دغه څلور قسمه په اسم پوري خاص دي.

تنوين ترنم: هغه تنوين دئ چي صرف د وزن د برابرېدو دپاره د شعرو په آخر کي را وړل کيږي لکه: په "عِتَابَنْ" او "اَصَابَنْ" کي په دې **شعر** کي: "اَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلُ وَالْعِتَابَنْ....وَقُوْلِي اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ" (اى محبوبه پر ما باندي ملامتيا او سرزنش کم کړه چي زه کله يو سم کار و کړم نو ته وايې چي تا ښه و کړه). دغه تنوين (ترنم) پر اسم، فعل، حرف پر ټولو باندي راتلای سي.

جملې:

عنوان	اسم، فعل، حرف	خبر، انشاء	اقسام اربعہ یا ثلاثہ	تعیین مرکب غیر مفید	مسند	مسند الیہ	فضلہ	اداۃ
إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ	۳۔اسم ۳۔حرف	خبر	اسمیہ	×	كَائِنٌ لَفِي خُسْرٍ	اَلإِنْسَانَ	خُسْرٍ	إِنَّ، لِ، فِي
قَرَأْتُ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ كِتَابًا	۳۔اسم ۱۔فعل	خبر	فعلیہ	مرکب بنائی بصورت اسم عدد	قَرَءَ	تُ	ثَمَانِيَةَ عَشَرَ كِتَابًا	×
مَاءُ الحَوضِ حَارٌّ	۳۔اسم	خبر	اسمیہ	مرکب تقیدی بصورت اضافی	حَارٌّ	مَاءُ الحَوْضِ	×	×
جَلِيسُ السُّوءِ شَيْطَانٌ	۳۔اسم	خبر	اسمیہ	مرکب تقیدی بصورت اضافی	شَيْطَانٌ	جَلِيسُ السُّوءِ	×	×
أَدَاءُ الزَّكٰوةِ بَرَكَةُ المَالِ	۳۔اسم	خبر	اسمیہ	۲۔مرکب تقیدی بصورت اضافی	بَرَكَةُ المَالِ	أَدَاءُ الزَّكٰوةِ	×	×
رَأَيْتُ مَعدِيكَرِبَ	۲۔اسم ۱۔فعل	خبر	فعلیہ	مرکب منع الصرف	رَآى	تُ	مَعْدِيكَرِبَ	×
إِحْرَوْرَقَ ثَوْبُ بَكْرٍ	۲۔اسم ۱۔فعل	خبر	فعلیہ	مرکب تقیدی بصورت اضافت	إِحْرَوْرَقَ	ثَوْبُ بَكْرٍ	×	×
مُحَمَّدٌ رَسُولٌ أَمِينٌ	۳۔اسم	خبر	اسمیہ	مرکب تقیدی بصورت توصیفی	رَسُولٌ أَمِينٌ	مُحَمَّدٌ	×	×
اَلدُّنْيَا سِجْنُ المُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الكَافِرِ	۵۔اسم ۱۔حرف	خبر	اسمیہ	مرکب تقیدی ۲۔اضافی	سِجْنُ المُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الكَافِرِ	اَلدُّنْيَا	×	وَ
اَلحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ	۵۔اسم ۱۔حرف	خبر	اسمیہ	مرکب تقیدی بصورت توصیفی	كَائِنَةٌ	اَلحَيَاءُ	اَلإِيمَانِ	مِنْ
اَلمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيمٌ وَالفَاجِرُ خَبٌّ لَئِيمٌ	۸۔اسم ۱۔حرف	خبر	اسمیہ	+	غِرٌّ كَرِيمٌ، خَبٌّ لَئِيمٌ	اَلمُؤْمِنُ، وَالفَاجِرُ	×	وَ
اَلأَنَاةُ مِنَ اللهِ وَالعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ	۸۔اسم ۳۔حرف	خبر	اسمیہ	×	كَائِنَةٌ مِنَ اللهِ، كَائِنَةٌ مِنَ الشَّيْطَانِ	اَلأَنَاةُ، وَالعَجَلَةُ	اَللهُ، الشَّيْطَانِ باعتبار لفظ	مِنْ، مِنْ
اَلخَمْرُ جِمَاعُ الإِثْمِ	۳۔اسم	خبر	اسمیہ	مرکب اضافی	جِمَاعُ الإِثْمِ	اَلخَمْرُ	×	×
اَلنِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ	۳۔اسم	خبر	اسمیہ	مرکب اضافی	حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ	اَلنِّسَاءُ	×	×

التمرين:

"وَلِلّٰهِ الأَسْمَاءُ الحُسْنٰى،، وَلَاتَأْكُلُوا أَمْوَالَ اليَتَامٰى،، فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ،، وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ،، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الفَلَقِ،، وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ،، وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ،، إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ المُحْصَنَاتِ الغَافِلَاتِ المُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا".

بدانکہ جملہ کلمات عرب بر دو قسم است الخ: .... الی قولہ بدانکہ اسم غیر متمکن ہشت قسم است.

ترجمه:

پوه سه! چي جمله کلمات د عربو پر دوه قسمه دي اول معرب: هغه دئ چي آخر د ده مختلف کیږي په اختلاف د عوامل سره لکه: "جَاءَنِي زَيْدٌ" و "رَأَيْتُ زَيْدًا" و "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ" (په مثال اول کي) "جَاءَ" عامل دئ "زَيْدٌ" معرب (معمول) دئ او "ضمه" اعراب ده او "دال" محل د اعراب دئ.

او مبني هغه ته ويل کيږي چې آخر ئې د نه مختلف کيږي په اختلاف د عوامل سره لکه: "هٰؤُلَاءِ" په حال د رفع او نصب او جر کې يو رنګه دئ.
پوه سه! چې ټوله حروف مبني دي، او په افعالو کې فعل ماضي (او د هغه ټول ګردانونه) او د فعل مضارع هغه صيغې چې په هغه کې نون د جمع مؤنثي وي، يا نونی د تاکيد (ثقيله او خفيفه) راغلي وي، هغه مبني دي.
پوه سه! چې اسم غير متمکن مبني دئ او اسم متمکن معرب دئ په دې شرط چې په ترکيب کې واقع سوی وي، او د فعل مضارع هغه ټولي صيغې معرب دي، چې په هغه کې نون د جمع مؤنثي او نونی د تاکيد نه وي، پس په کلام عرب کې زيات تر دې دوو قسمو معرب نسته باقي ټوله مبني دي.
اسم غير متمکن هغه اسم دئ چې د مبنی الاصل سره مشابهت لري او مبنی الاصل درې شيان دي، (۱) فعل ماضي (۲) امر حاضر معروف (۳) جمله حروف. او اسم متمکن هغه اسم دئ چې د مبنی الاصل سره مشابهت نه لري.

الدرس العاشر:

د نن د سبقه خلاصه پنځه (۵) خبري دي:

اوله خبره:

د معرب لغوي معنٰی (۱):

---

(۱) د معرب دپاره څلور شيان ضروري دي، (۱) اعراب (۲) عامل (۳) سبب اعراب (۴) محل اعراب.
اعراب: هغه حرف يا حرکت دئ چې د هغه سره د معرب آخيري لفظ بدليږي يعني د چا په ذريعه سره چې د عامل اثر ښکاره وي.
عامل: چې د چا په وجه د کلمې آخر بدليږي يعني چې د اعراب تقاضا کونکې معنی په معرب کې پيدا کوي.
سبب اعراب: يعني هغه معنی چې اعراب غواړي.
محل اعراب: د کلمې هغه آخيري حرف چې پر هغه باندي د اعراب تبديلي ښکاره کيږي. (نصر الخبير)
فائده:
عمومًا دا ويل کيږي چې د عامل په وجه باندي د معرب آخر بدليږي مګر تحقيق دا دئ چې عامل پر معرب داخليږي په معرب کې معنی پيدا کوي، بيا هغه معنی د اعراب تقاضا کوي، بيا هغه اعراب پر داخليږي چې د هغه په وجه باندي د معرب آخر بدليږي لکه: "قَامَ زَيْدٌ" نو ځکه اعراب سبب قريب سو، معنی مقتضي سبب بعيد سوه او عامل سبب ابعد سو. د اسم اعراب رفع، نصب،

معرب د ظرف مکان صیغه ده مشتق دئ د اعراب څخه اعراب وايي: اظهار ته نو د معرب معنٰی (جائ ظهور).

د معرب اصطلاحي معنٰی:

معرب په اصطلاح کي "اَلْمُرَكَّبُ الَّذِیْ لَمْ یُشْبِهْ مَبْنِیَّ الْاَصْلِ".

د معرب وجه د تسمیې:

معرب ته ځکه معرب وايي: چي د معرب معنٰی (جائ ظهور) یعني ځای د ښکاره کېدو نو پر معرب باندي هم درې قسمه اعراب لفظًا ښکاره کیږي کله حرفًا وي لکه: واو، الف، یا، کله حرکةً وي لکه: رفع، نصب، جر، د حرکاتو او حروفو د تبدیلۍ په وجه باندي معنٰی د فاعلیت، مفعولیت او اضافت ښکاره کیږي.

د معرب حکم:

"مَا یَتَغَیَّرُ آخِرُهٗ بِدُخُوْلِ الْعَوَامِلِ الْمُخْتَلِفَةِ عَلَیْهِ" لکه: "جَائَنِیْ زَیْدٌ" "وَرَاَیْتُ زَیْدًا" "وَمَرَرْتُ بِزَیْدٍ".

د مبني معنٰی لغوي:

"مَبْنِیٌّ" بروزن "مَرْمِیٌّ" د اسم مفعول صیغه ده مشتق د بناء څخه په معنٰی د مضبوط والي سره راځي.

د مبني معنٰی اصطلاحي:

مبني په اصطلاح کي: "مَا نَاسَبَ مَبْنِیَّ الْاَصْلِ اَوْوَقَعَ غَیْرَ مُرَکَّبٍ".

دمبني وجه د تسمیې:

مبني ته ځکه مبني وايي: چي د مبني معنٰی مضبوط والی او د ده آخر هم مضبوطه وي د عواملو د اثراتو څخه.

د مبني حکم:

"مَالَا یَتَغَیَّرُ آخِرُهٗ بِدُخُوْلِ الْعَوَامِلِ الْمُخْتَلِفَةِ عَلَیْهِ" لکه: "جَائَنِیْ هٰؤُلَاءِ" "وَرَاَیْتُ هٰؤُلَاءِ" "وَمَرَرْتُ بِهٰؤُلَاءِ".

او جر دي. او د فعل اعراب رفع، نصب، جزم دي. د معرب د حرکاتو نوم رفع، نصب او جر دي د مبني د حرکاتو نوم: ضمه، فتحه او کسره دي. (تنویر)

دوهمه خبره:

د معرب او مبني د پېژندلو طريقه:

چي کله د مطالعې په دوران کي جمله مخته راسي نو "جُمْلَه مِن حَيْثُ الْجُمْلَه" د مبني په حکم کي ده او که مفرد مخته راسي کچيري حروف وه نو جمله حروف مبني دي، او که افعال وه نو په افعالو کي فعل ماضي، امر حاضر معروف، او فعل مضارع سره د نون د تاکيد او نون د جمع مؤنثي مبني ده.
او که چيري نون د جمع مؤنثي يا نونی د تاکيد نه وو ورسره بيا معربه ده.
او که چيري اسم مخته راسي، نو په اسماءوو کي اسم غير متکمن او اسم متمکن چي په ترکيب کي نه وي واقع سوی مبني دئ، او که په ترکيب کي واقع سوی وو، بيا معرب دئ.

د معرب او مبني د اقسامو خلاصه:

نو خلاصه د کلام دا سوه چي په ټوله کلام عربي کي صرف دوه شيان معرب واقع کيږي:

۱. فعل مضارع چي کله د نونی د تاکيد او د نون د جمع مؤنثي څخه خالي وي لکه: "يَضْرِبُ".
۲. اسم متمکن چي کله په ترکيب کي د عامل سره واقع سوی وي لکه: "زَيْدٌ" په "جَائَنِيْ زَيْدٌ" کي.

دريمه خبره:

د مبني اقسام:

مبني پر دوه قسمه دئ:

۱. مبنی الاصل.
۲. مبنی غير اصل.

د مبنی الاصل تعريف:

مبنی الاصل هغه مبني دئ چي په اصل وضع کي مبني وي، او د چا سره د مشابهت په وجه نه وي مبني سوئ.

او مبنی الاصل ذرې شيان دي:

۱. جمله حروف (۱).

---

(۱) حروف ځکه مبني دي، چي په دوی کي هغه معنی مقتضي د اعراب چي فاعليت، مفعوليت، اضافت ده نه پيدا کيږي.

۲. فعل ماضي (۱).
۳. امر حاضر معروف.

د مبني غير اصل تعريف:

مبني غير اصل هغه مبني دئ چي په اصل وضع كي نه وي مبني بلكه د يو مبنی الاصل سره په يو شي كي د مشابهت په وجه مبني سوی وي.

او مبني غير اصل څلور شيان دي (۲):

۱. "جُمْلَه مِنْ حَيْثُ الْجُمْلَه" (۳).
۲. اسم غير متمكن.
۳. اسم متمكن چي په تركيب كي نه وي واقع سوی.
۴. فعل مضارع چي نونات د تاكيد او يا نون د جمع مؤنثي ور سره وي.

سوال: "اَلْبَاءُ، اَلتَّاءُ" حروف دي بيا هم اعراب پر جاري سوی دئ.

جواب: دا حروف نه دي، بلكه د حروفو اسماء دي او دا پر دوه قسمه دي: يو هغه دي چي د شكل او صورت په اعتبار سره د مسمی څخه غير وي، لكه: (ب) مسمی ده او "اَلْبَاءُ" يې اسم دئ نو په دې صورت كي اسم معرب دئ مسمی مبني ده. دوهم هغه دئ چي اسم د مسمی سره عين وي، لكه: "حَتّٰى" اسم هم دئ مسمی هم دئ دا رنګه "فِيْ" په دې صورت كي اسم او مسمی دواړه مبني دي، ځكه كه چيري د عامل په وجه بانديٰ تغير پكښې وسي نو په مبنی الاصل كي تغير كول لازميږي چي باطل دئ.

(۱) فعل ماضي ځكه مبني ده چي اصل په افعالو كي بناء ده.

(۲) مبنی غير اصل پر دوه قسمه دئ: (۱) مبنی غير اصل لازمي (۲) مبنی غير اصل عارضي. مبنی غير اصل لازمي چي د مبنی الاصل سره مشابهت لري هغه پر دولس (۱۲) قسمه دئ:

(۱) مضمرات (۲) اشارات (۳) موصولات (۴) اسماء افعال (۵) بعضي ظروف (٦) اسماء اصوات (۷) اسماء كنايات (۸) مركب بنائي (۹) اسماء شرط (۱۰) استفهام (۱۱) "مَنْ وَمَا اَلْمَوْصُوْفَتَانِ" (۱۲) "لَا، غَيْرُ، لَيْسَ، حَسْبُ".

مبني غير اصل عارضي هغه دئ چي يا خو مركب نه وي، او كه مركب وي، خو د خپل عامل سره مركب نه وي، لكه: "غُلَامُ" په "غُلَامُ زَيْدٍ" كي او دا پر پنځه قسمه دئ: (۱) اسماء معدوده مفرده (۲) اسماء مضافه، (۳) اسم د "لَا" نفي جنس چي كله نكره غير مضاف وي، لكه: "لَارَجُلَ فِيْ الدَّارِ". (۴) منادای مفرده معرفه لكه: "يَازَيْدُ" (۵) منادای نكره مقصوده لكه: "يَا رَجُلُ".(علل النحو)

(۳) كمه جمله چي د كلام په شروع كي واقع سي هغه مبني ده لېكن كه چيري د كلام په مينځ كي واقع سي يا د يو عامل معمول واقع سي نو د صحيح قول مطابق معرب ده.

څلورمه خبره:

د اسم غير متمکن تعريف:

اسم غير متمکن هغه اسم دئ چي د مبنی الاصل سره مشابهت لري.

د مشابهت اقسام:

مشابهت پر لس (۱۰) قسمه دئ:

۱. شبه وضعي (۱): شبه وضعي هغه شبه ده چي يو شئ په وزن کي د مبنی الاصل سره مشابه وي: لکه: په "جِئْتُ" کي "تُ" مشابه ده د "بَ" سره يا په "ضَرَبْنَا" کي "نَا" مشابه دئ د "قَدْ او بَلْ" سره.

۲. شبه معنوي (۲): شبه معنوي هغه شبه ده چي يو شئ په معنٰی کي د مبنی الاصل سره مشابه وي لکه: اسماء شرطيه او اسماء استفهاميه دحروف شرطيه وو او د حروف استفهاميه وو سره په معنٰی د استفهام او شرط کي مشابهت لري.

۳. شبه استعمالي: شبه استعمالي هغه شبه ده چي يو شئ د مبنی الاصل سره په استعمال کي مشابهت لري لکه: اسماء افعال چي د حروف عامله وو سره په استعمال کي مشابهت لري (لکه څنګه چي حروف عامله همېشه عامل واقع کيږي نه معمول) داغه رانګه اسماء افعال هم عامل واقع کيږي نه معمول.

---

(۱) د شبه وضعي د بناء وجه دا ده: چي په اسم کي کم از کم د درو حروفو وجود ضروري دئ، که چيري په اسم کي دوه حرفه وي، نو د وضع په اعتبار سره يې يو حرف کم سو او که يو حرف وي، نو بيا دوه حرفه کم سوه نو د دغه کموالي په وجه باندي اسم په وزن کي د حرف سره برابر سو، او په مضمراتو کي شبه وضعي ځکه ده، چي د اکثرمضمائرو وضع پر يوه يا پر دوه حرفه باندي راغلې ده، او باقي ضمائر طردًا للباب پر دې نورو باندي حمل دي.

او "اَبٌ" و "اَخٌ" که څه هم دوه حرفه دي لېکن په اصل کي "اَبَوٌ" او "اَخَوٌ" وو.

(۲) شبه معنوي پر دوه قسمه ده: (۱) هغه ده چي د موجود حرف معنی لره متضمن وي، لکه: اسماء شرطيه د حروف شرطيوو معنی لره متضمن دي، او حروف شرطيه موجود دي. (۲) بله هغه ده چي د داسي حرف معنی لره متضمن وي، چي هغه موجود نه وي، لکه: اسماء اشارات چي د دوی د معنی دپاره حرف وضع کول په کار وو، لېکن نه دئ وضع سوئ. لېکن "اَيٌّ" شرطيه لکه: "اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ" او "اَيٌّ" استفهاميه لکه: "اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ" دا دواړه معرب دي، ځکه چي د اضافت په وجه باندي مشابهت کمزوری سوی دئ. (شرح ابن عقيل)

۴. شبه افتقاري: شبه افتقاري هغه شبه ده چي يو شی په احتياج کي د مبنی الاصل سره مشابهت لري لکه: څنګه چي حروف په دلالت کولو کي پر خپله معنٰی احتياج لري و ضم د کلمې اخرى ته داغه رنګه مضمرات و مرجع ته احتياج لري او اسماء اشارات و مشار اليه ته احتياج لري او اسماء موصولات و صله ته احتياج لري.

۵. شبه اهمالي: شبه اهمالي هغه شبه ده چي يو شئ د مبنی الاصل سره په اهمال کي مشابه وي لکه: اسماء اصوات چي مشابهت د حروف غير عامله وو سره په اهمال کي لري (لکه څنګه چي حروف غير عامله په ترکيب کي نه عامل واقع کيږي او نه معمول) داغه رنګه اسماء اصوات هم په ترکيب کي نه عامل واقع کيږي او نه معمول.

پنځمه خبره:

٦. شبه جمودي: شبه جمودي هغه شبه ده چي يو شئ د مبنی الاصل سره په جموديت (وچوالى) کي مشابه وي لکه: "قَطُّ، عَوْضُ" چي مشابهت د حروفو سره په جمودوالي کي لري (لکه څنګه چي حروف تثنيه او جمع نسي را تلاى) داغه رانګه "قَطُّ، عَوْضُ" هم تثنيه او جمع نسي را تلاى.

٧. شبه نيابتي: شبه نيابتي هغه شبه ده چي يو شئ د مبني پر ځاى نائب واقع سوى وي لکه: په "يَازَيْدُ" کي "زَيْدُ" نائب دئ په "اَدْعُوْکَ" د "کَ" اسمي خطابي پر ځاى او "کَ" اسمي خطابي مشابه دئ په شکل او صورت کي د "کَ" حرفي خطابي سره په "ذٰلِکَ" کي.

٨. شبه وقوعي: شبه وقوعي هغه شبه ده چي يو شئ د مبني الاصل پر ځاى واقع سوى وي لکه: "نَزَالِ، تَرَاکِ" د "اِنْزِلْ، او اُتْرُکْ" پر ځاى واقع سوى دئ.

٩. شبه د شبه وقوعي ده: شبه د شبه وقوعي هغه شبه ده چي يو اسم د بل اسم سره په وزن کي مشابهت لري او هغه بل اسم پر ځاى د مبني الاصل واقع سوى وي لکه: "فَجَارِ، فَسَاقِ" دا په وزن کي مشابه دي د "نَزَالِ و تَرَاکِ" سره او "نَزَالِ و تَرَاکِ" پر ځاى د "اِنْزِلْ او اُتْرُکْ" واقع سوي دي.

١٠. شبه اضافي: شبه اضافي هغه شبه ده چي يو اسم مضاف وي و مبني ته لکه: "يَوْمَئِذٍ" اصل يې "يَوْمَ اِذْ کَانَ کَذَا" وو (دلته "يَوْمَ" مضاف دئ و جمله ته بيا يې جمله حذف کړه د دې په

عوض کي يې تنوين راوړئ نو دلته خو "يَوْمَ" يا و جمله ته مضاف سو، او "جُمْلَه مِنْ حَيْثُ الْجُمْلَه" د مبني په حکم کي ده او يا "يَوْمَ" مضاف دئ و "إِذْ" ته او "إِذْ" مبني دئ).

جملي:

عنوان	خبریہ، انشاء	اقسام اربعہ باعتبار	تعین مرکب غیر مفید	معرب	مبنی	مسند	مسندالیہ	فضلہ	ادات
اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ	انشاء	فعلیہ	مرکب توصیفی	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	اِهْدِ	أَنْتَ	نَا. اَلصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ	×
قُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ	انشاء	فعلیہ	×	۱۔ معرب	۸۔ مبنی	قُلْ. اٰمَنْ. اِسْتَقِمْ	أَنْتَ. تُ. أَنْتَ	لفظ (الله)	ثُمَّ. بَا.
وَالْعَصْرِ	انشائیہ	فعلیہ	×	۲۔ معرب باعتبار اقسم	۲۔ مبنی	أُقْسِمُ	أَنَا	اَلْعَصْرِ	وَ
هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ	خبریہ	اسمیہ	×	۲۔ معرب	۵۔ مبنی	اَلَّذِيْ يُصَوِّرُ الخ	هُوَ	اَلْاَرْحَامِ. كُمْ	فِيْ
يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا	انشائیہ	اسمیہ	مرکب اضافی	۳۔ معرب	۷۔ مبنی	اِتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا	نِيْ	مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا	يَا. لَيْتَ
اَلْقُرْاٰنُ كَلَامُ اللّٰهِ غَيْرُ مَخْلُوْقٍ	خبریہ	اسمیہ	۲. مرکب اضافی ۱. توصیفی	۵۔ معرب	۱. مبنی	كَلَامُ اللّٰهِ	اَلْقُرْاٰنُ	×	×
سَلَامَةُ الْاِنْسَانِ فِيْ حَبْسِ النَّفْسِ	خبریہ	اسمیہ	۲. مرکب اضافی	۵۔ معرب	۲۔ مبنی	كَائِنٌ فِيْ حَبْسِ النَّفْسِ	سَلَامَةُ الْاِنْسَانِ	حَبْسِ النَّفْسِ	فِيْ
اَلَا تَأْكُلُ مَعَنَا	انشائیہ	فعلیہ	مرکب اضافی	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	تَأْكُلُ	أَنْتَ	مَعَنَا	+
نَحْنُ طُلَّابٌ مُجْتَهِدُوْنَ	خبریہ	اسمیہ	مرکب توصیفی	۲۔ معرب	۲۔ مبنی	طُلَّابٌ مُجْتَهِدُوْنَ	نَحْنُ	×	×
فَقِيْهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ	خبریہ	اسمیہ	مرکب توصیفی و اضافی	۶۔ معرب	۳۔ مبنی	اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ	فَقِيْهٌ وَاحِدٌ	اَلشَّيْطَانِ اَلْفِ. عَابِدٍ	عَلٰى، مِنْ
رِضَى الرَّبِّ فِيْ رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِيْ سَخَطِ الْوَالِدِ	خبریہ	اسمیہ	۴. مرکب اضافی	۱۰۔ معرب	۵۔ مبنی	كَائِنٌ فِيْ رِضَى الْوَالِدِ، فِيْ سَخَطِ الْوَالِدِ	رِضَى الرَّبِّ، وَسَخَطُ الرَّبِّ	رِضَى الْوَالِدِ وَ سَخَطُ الْوَالِدِ	واو، فِيْ. فِيْ
حُبُّ الدُّنْيَا رَاْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ	خبریہ	اسمیہ	۳. مرکب اضافی	۵۔ معرب	×	رَاْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ	حُبُّ الدُّنْيَا	×	×
طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ	خبریہ	اسمیہ	۳. مرکب اضافی ۱. مرکب توصیفی	۷۔ معرب	۱. مبنی	فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ	طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ	بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ	×

التمرين:

"وَإِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ،، قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ،، لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ،، وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ،، إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ،، وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ أَفْوَاجًا،، فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ".

فصل بدانکہ اسم غیر متمکن ہشت قسم است الخ: .... الی قولہ دوم اسماء اشارات.

ترجمه:

پوه سه! چي اسم غير متمكن پر اته(۸) قسمه دئ اول مضمرات يعني ضميرونه لكه: "أَنَا" (زه يو سړى يا يوه ښځه) "ضَرَبْتُ" (ما وهل كړي وه) "إِيَّايَ" (خاص ما لره) "ضَرَبَنِيْ" (زه يې ووهلم) "لِيْ" (ما لرهَ) دا ټول اويا (۷۰) ضميرونه دي.

څوارلس (۱۴) مرفوع متصل: "ضَرَبْتُ، ضَرَبْنَا، ضَرَبْتَ، ضَرَبْتُمَا، ضَرَبْتُمْ، ضَرَبْتِ، ضَرَبْتُمَا، ضَرَبْتُنَّ، ضَرَبَ، ضَرَبَا، ضَرَبُوْا، ضَرَبَتْ، ضَرَبَتَا، ضَرَبْنَ".

څوارلس مرفوع منفصل: "أَنَا، نَحْنُ، أَنْتَ، أَنْتُمَا، أَنْتُمْ، أَنْتِ، أَنْتُمَا، أَنْتُنَّ، هُوَ، هُمَا، هُمْ، هِيَ، هُمَا، هُنَّ".

او څوارلس منصوب متصل: "ضَرَبَنِيْ، ضَرَبَنَا، ضَرَبَكَ، ضَرَبَكُمَا، ضَرَبَكُمْ، ضَرَبَكِ، ضَرَبَكُمَا، ضَرَبَكُنَّ، ضَرَبَهُ، ضَرَبَهُمَا، ضَرَبَهُمْ، ضَرَبَهَا، ضَرَبَهُمَا، ضَرَبَهُنَّ".

او څوارلس منصوب منفصل: "إِيَّايَ، إِيَّانَا، إِيَّاكَ، إِيَّاكُمَا، إِيَّاكُمْ، إِيَّاكِ، إِيَّاكُمَا، إِيَّاكُنَّ، إِيَّاهُ، إِيَّاهُمَا، إِيَّاهُمْ، إِيَّاهَا، إِيَّاهُمَا، إِيَّاهُنَّ".

او څوارلس مجرور متصل: "لِيْ، لَنَا، لَكَ، لَكُمَا، لَكُمْ، لَكِ، لَكُمَا، لَكُنَّ، لَهُ، لَهُمَا، لَهُمْ، لَهَا، لَهُمَا، لَهُنَّ".

د اسم غير متكن اته قسمونه دا دي: (۱) مضمرات (۲) اسماء اشارات (۳) اسماء موصولات (۴) اسماء افعال (۵) اسماء ظروف (٦) اسماء اصوات (۷) اسماء كنايات (۸) مركب بنائي.

الدرس الحادي عشر:

د نن د سبقه خلاصه شپږ (٦) خبري دي:

اوله خبره:

د ضمير لغوي او اصطلاحي معنیٰ:

"مُضمرات" جمع د "مُضْمَرْ" ده: او "مضمر" (۱) صيغه د اسم مفعول ده د "اضمار" څخه. "مضمر" په لغت کي پوشيده او (پټ کړل سوي ته وايي) او زړه ته هم ضمير وايي: ځکه دی هم پټ دئ په څو پردو کي، لکه: بعضي خلک وايي: زه اظهار د "مَا فِي الضَّمِيْرِ" کوم او په اصطلاح کي "مَا وُضِعَ لِمُتَكَلِّمٍ اَوْ مُخَاطَبٍ اَوْ غَائِبٍ تَقَدَّمَ ذِكْرُهُ لَفْظًا اَوْ مَعْنًا اَوْ حُكْمًا" ضمير هغه اسم دئ چي دی وضع سوی وي، د متكلم يا مخاطب يا غائب د پاره هسي غائب چي د هغه تذكره مخكي تېره سوې وي، لفظًا يا معنًا يا حكمًا.

د مرجع اقسام:

مرجع پر درې قسمه ده:

۱. لفظي.
۲. معنوي.
۳. حكمي.

بيا هره يو پر دوه قسمه دئ.

د مرجع لفظي اقسام:

مرجع لفظي پر دوه قسمه ده:

۱. مرجع حقيقي.
۲. مرجع تقديري:

مرجع حقيقي هغه مرجع ده چي لفظًا و رتبةً په دواړه اعتبار سره مقدم وي، لكه: "ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَهُ" (۲):

مرجع تقديري: هغه مرجع ده چي د رتبې په لحاظ سره مقدمه وي، لېکن په لفظو کي مؤخره وي، لكه: "ضَرَبَ غُلَامَهُ زَيْدٌ" (۱).

(۱) د ضمير د خپلي مرجع سره په پنځو شيانو کي مطابقت ضروري دئ: (۱) وحدت (۲) تثنيه (۳) جمع (۴) تذكير (۵) تانيث. د ضمير متكلم او د مخاطب د ضمير د مرجع د تلاشولو ضرورت نسته ځکه دا ضمائر د مرجع محتاجه نه دي چونکه د متكلم ضمير "اعرف المعارف (يعني د ټولو زيات معرفه دئ) نو ځکه يې مقدم کړی دئ. (مفقود النظير في تراكيب نحو مير).

(۲) په "ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَهُ" کي د "غُلَامَهُ" ضمير و "زَيْدٌ" ته راجع دئ او "زَيْدٌ" هم رتبةً مخكي دئ ځکه دی فاعل دئ او د فاعل رتبه د فعل څخه وروسته وي، او د مفعول څخه مخكي وي، او هم لفظاً مخكي دئ. وهو ظاهر.

دوهمه خبره:

د مرجع معنوي اقسام:

مرجع معنوي هم پر دوه قسمه ده: (۱) خاص الکلام (۲) سیاق الکلام.

خاص الکلام: هغه مرجع معنوي ده چې لفظًا مخکې نه وي تېره سوې بلکه په ماقبل کې د یو خاص کلام څخه معلومېږي لکه: "اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰی" (۲).

سیاق الکلام: چې مرجع مخکې لفظًا نه وي تېره سوې بلکه: د کلام د سیاق و سباق څخه معلومېږي لکه: "وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ" (۳).

د مرجع حکمي اقسام:

مرجع حکمي هم پر دوه قسمه ده یو هغه مرجع چې نه لفظًا مقدمه وي او نه معنًا مقدمه وي، بلکه "معهود في الذهن" وي. په وروسته کې یې تفسیر په مفرد نکره سره سوی وي، لکه: "نِعْمَ رَجُلًا" "رُبَّهُ رَجُلًا جَوَّادًا" (۴) ودې ضمیر ته ضمیر "مبهم" ویل کېږي.

دوهم هغه مرجع ده چې نه لفظًا مقدمه وي، او نه معنًا بلکه "معهود في الذهن" وي، په وروسته کې یې تفسیر په جمله سره سوی وي، کچېرې د مذکر ضمیر وي، ضمیر "شان" (۱) ورته ویل کېږي

(۱) په "ضَرَبَ غُلَامَهٗ زَيْدٌ" کې د "غُلَامَهٗ" ضمیر راجع دئ و "زَيْدٌ" ته او "زَيْدٌ" که څه هم کتابةً وروسته دئ لېکن رتبةً مخکې دئ ځکه په دې مثال کې دی فاعل دئ او فاعل رتبةً تر مفعول مخکې وي. (از مرتب عفي عنه)

(۲) په "اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰی" کې مشتق منه د مشتق په ضمن کې موجود دئ ځکه په هر مشتق کې خپله مبدء موجوده وي یعني دلته د "هُوَ" ضمیر راجع دئ و "عدل" ته او د "عدل" لفظ مخکې نه رتبةً ذکر سوی دئ او نه کتابةً بلکه: معنًا موجود دئ په ضمن د مشتق چې "اِعْدِلُوْا" دئ ځکه په هر فعل کې د خپل مصدر معنٰی موجوده وي.

(۳) په "وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ" کې د "لِاَبَوَيْهِ" ضمیر و میت (مړي) ته راجع دئ چې نه کتابةً مخکې ذکر سوی دئ او نه رتبةً بلکه معنًا د کلام د "سیاق" او "سباق" څخه د ده تذکره معلومېږي ځکه دا مضمون د میراثو دئ او میراث صرف د مړي وي نه د ژوندي.

(۴) په "نِعْمَ رَجُلًا" کې او په "رُبَّهُ رَجُلًا جَوَّادًا" کې په "نِعْمَ" او "رُبَّهُ" کې ضمیر دئ راجع دئ "رَجُلًا" ته او د "رَجُلًا" تذکره مخکې نه لفظًا تېره سوې ده او نه معنًا بلکه حکمًا یې تذکره سوې ده. ځکه وروسته یې تفسیر په نکره مفرده سره سوی دئ او دا غه رنګه یې په "قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ" کې یې تفسیر په جمله سره سوی دئ.

لکه: "إِنَّهُ زَيْدٌ قَائِمٌ" یا "قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" او که د مؤنث ضمير وي، و هغه ته ضمير "قصه" ويل کيږي: لکه "إِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ".

دریمه خبره:

د ضمير تقسيمات (۲):

په ضمير کي درې تقسيمونه جوړيږي: اول تقسيم په اعتبار د "اتصال" او "انفصال" سره دئ، دوهم تقسيم په اعتبار د اعراب يعني مرفوع، منصوب، مجرور، سره دئ. دريم تقسيم په اعتبار د "ابراز" يعني اظهار او د "استتار" سره دئ.

د ضمير اول تقسيم:

د اتصال او انفصال په اعتبار سره ضمير پر دوه قسمه دئ:

۱. ضمير متصل:
۲. ضمير منفصل.

د ضمير متصل تعريف:

---

(۱) د ضمير شان دپاره څلور شرطونه دي: (۱) ضمير د غائب به وي (۲) د ده وروسته به جمله وي (۳) وروسته جمله به د ده تفسير کوي (۴) د جمله مضمون به عظيم الشان وي، ضمير شان کله منصوب وي لکه: "إِنَّهُ زَيْدٌ قَائِمٌ" کله مرفوع بارز وي، لکه: "قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" کله مرفوع مستتر وي لکه: "كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا" او ضمير شان کله کله حذف کيږي وجوبًا لکه: "أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ" په اصل کي "أَنَّهُ" وو او کله جوازًا لکه: "إِنْ هٰذَانِ لَسَاحِرَانِ" "إِنْ" مخففه من المثقله د ده اسم ضمير شان محذوف دئ او د ضمير شان څخه مقصود د واقعي عظمت بيانول وي نو ځکه اول ضمير مبهم ذکر سي وروسته يې بيا تفصيل بيان سي چي د مخاطب په ذهن کي د واقعي عظمت زيات سي او "أَوْقَعُ فِي النَّفْسِ" سي. (حاشية الصبيان على شرح اجرومية)

(۲) په اصل کي دوی نيوي (۹۰) ضميرونه دي هغه په دې شکل چي شپږ د غائب او شپږ د مخاطب او شپږ د متکلم دا ټوله اتلس (۱۸) جوړيږي بيا چي اتلس (۱۸) ته په پنځو کي ضَرب ور کړې نيوي (۹۰) جوړيږي لېکن د متکلم دپاره صرف دوې صيغې استعماليږي او د غائب او مخاطب دپاره صرف دولس (۱۲) صيغې استعماليږي ځکه په تثنيه غائب او غائبه کي "الف" ضمير د فاعل دئ چي يو دئ او په تثنيه مخاطب او مخاطبه کي د "تُمَا" ضمير فاعل دئ چي يو دئ. پنځو ته چي په څلوار لس (۱۴) کي ضرب ور کړې نو اويا (۷۰) ضميرونه کيږي.

"هُوَ مَا لَا يَفْتَتِحُ النُّطْقُ بِهِ وَلَا يَقَعُ بَعْدَ إِلَّا" چي نه په ده سره شروع د کلام کېداى سي يعني نه مبتداء جوړېداى سي او نه تر "إِلَّا" وروسته واقع کېږي "الالضرورة الشعر". مجرور لکه: "غُلَامِيْ" مرفوع لکه: "ضَرَبْتَ" منصوب لکه: "أَكْرَمْتُكَ".

د ضمير منفصل تعريف:

"هُوَ مَا يَفْتَتِحُ النُّطْقُ بِهِ وَيَقَعُ بَعْدَ إِلَّا". چي په ده سره نطق هم صحيح کېږي او د "إِلَّا" بعد هم واقع کېږي لکه: "أَنَا زَيْدٌ" يا "مَا ذَهَبَ إِلَّا أَنَا".

د ضمائرو متصلو تعداد:

ضمائري متصله نه دانې دي (۱): (۱) "الف" لکه "ضَرَبَا" (۲) "واو" لکه: "ضَرَبُوْا" (۳) "نون" لکه: "ضَرَبْنَ" (۴) "تا" لکه: "ضَرَبْتِ" دغه څلور صِرف مرفوع متصل واقع کېږي (۵) "يا" او (٦) "نا" دا مرفوع متصل هم راځي لکه: "تَكْتُبِيْنَ كَتَبْنَا" او منصوب متصل هم راځي لکه: "أَكْرَمَنِيْ أَكْرَمَنَا" او مجرور متصل هم راځي لکه: "عَنِّيْ عَنَّا". (۷) "كاف" (۸) "هاء" (۹) "ها" دا درې سره منصوب متصل هم راځي د "كاف" مثال لکه: "ضَرَبَكَ". د "ها" مثال لکه: "ضَرَبَهُ". د "هاء" مثال لکه: "ضَرَبَهَا" او مجرور متصل هم راځي د "كاف" مثال لکه: "لَكَ". د "ها" مثال لکه: "لَهُ". د هاء مثال لکه: "لَهَا".

څلورمه خبره:

د ضمير دوهم تقسيم په اعتبار د اعراب سره دئ:

ضمير په اعتبار د اعراب سره پر درې قسمه دئ:

۱. مرفوع. ۲. منصوب. ۳. مجرور.

---

(۱) مختص بالرفع پنځه دانې دي (۱) "تاء" په "قُمْتِ" کي (۲) "الف" په "قَامَا" کي. (۳) "واو" په "قَامُوْا" کي (۴) "نون" په "قُمْنَ" کي (۵) يا ضمير د مخاطبه په "تَضْرِبِيْنَ" کي. (النحو الوافي)

مشترک بين النصب والكسرة درې دانې دي: (۱) "ياء" د متکلم په "أَكْرَمَنِيْ" او په "غُلَامِيْ" کي (۲) "كاف" د خطاب په "مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ" کي (۳) "ها" د غائب په "قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ" کي.

مشترک بين الثلاثة يو ضمير دئ: چي د "نا" ضمير دئ لکه: په "رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا" کي. (النحو الوافي)

بيا هر يو پر دوه قسمه دئ: متصل او منفصل خلاصه دا چي ټوله شپږ قسمونه جوړيږي: (۱) مرفوع متصل، (۲) مرفوع منفصل، (۳) منصوب متصل، (۴) منصوب منفصل، (۵) مجرور متصل، (٦) مجرور منفصل.

لېکن مجرور منفصل په کلام عربي کي وجود نه لري ځکه د منفصل دا مطلب دئ چي دی مخکي هم راتلای سي او وروسته هم راتلای سي نو که چيري مخکي سي بيا به تقديم د مجرور پر جار راسي او دا باطل دئ، لکه: د "مِنکَ" ځخه "اِيَّاکَ مِنْ" ويل.

په ترکيب کي د دې پنځو قسمو ضمائرو معرفت (پېژندنه):

۱. ضمير مرفوع متصل: د فعل سره متصل (موښتئ) وي او په ترکيب کي "فاعل" يا "نائب فاعل" واقع کيږي، لکه: "ضَرَبْتَ" او "ضُرِبْتَ".

۲. ضمير مرفوع منفصل: د فعل ځخه منفصل (جلا) وي او په ترکيب کي "مبتداء، فاعل، يا خبر" واقع کيږي. د مبتداء مثال لکه: "اَنَا مُؤْمِنٌ"، او د خبر مثال لکه: "اَرَاغِبٌ اَنْتَ". او د "فاعل" مثال لکه: "مَاقَامَ اِلَّا اَنَا".

۳. ضمير منصوب متصل: د فعل سره متصل (موښتئ) وي او په تر کيب کي مفعول به واقع کيږي لکه: "ضَرَبَکَ" يا د حروف مشبه بالفعل سره متصل (موښتئ) وي او د هغه دپاره اسم واقع کيږي، لکه: "اِنَّکَ".

۴. ضمير منصوب منفصل: د فعل ځخه منفصل (جلا) وي او په ترکيب کي "مفعول" واقع کيږي، لکه: "اِيَّاکَ نَعْبُدُ".

۵. ضمير مجرور متصل: چي د حرف جر يا مضاف سره متصل او موښتئ وي، او په ترکيب کي د مضاف دپاره "مضاف اليه"، او د حرف جر دپاره "مجرور" واقع کيږي، لکه: "غُلَامِيْ" او "لِيْ".

پنځمه خبره:

د ضمير دريم تقسيم:

ضمیر په اعتبار د ابراز او استتار سره هم پر دوه قسمه دئ: (۱) بارز (ښکاره) (۲) مستتر (پټ).
بیا مستتر پر دوه قسمه دئ: (۱) "جَائِزُ الاِسْتِتَارْ" یعني ضمیر عارضي (۲) "وَاجِبُ الاِسْتِتَارْ" یعني ضمیر دائمي.

د ضمیر بارز تعریف:

"مَالَهُ صُوْرَةٌ ظَاهِرَةٌ فِيْ التَّرْكِيْبِ نُطْقًا وَ كِتَابَةً" چې دی ظاهري وجود لري په ترکیب کي لکه: "اَنَا رَاَيْتُکَ".

د ضمیر مستتر تعریف:

"مَا يَكُوْنُ خَفِيًّا غَيْرَ ظَاهِرٍ فِي النُّطْقِ وَ الْكِتَابَةِ" چې دی ظاهري وجود نه لري په ترکیب کي. لکه: د "هُوَ" ضمیر په "ضَرَبَ" کي.

فائده:

په ټولو ضمائرو کي صرف مرفوع متصل ضمیر مستتر يږي.

د مستتر ضمیرو تعداد:

مستتر ضمیرونه پنځه داني دي دوه داني "جَائِزُ الاِسْتِتَار" دي اول "هُوَ" دوهم "هِيَ". دري داني "وَاجِبُ الاِسْتِتَار" دي اول "اَنْتَ" دوهم "اَنَا". دريم "نَحْنُ".

د استتار ځایونه:

د استتار دپاره یو څو محلونه او ځایونه دي د ماضي په دوو صیغو کي: (۱) "ضَرَبَ" (۲) "ضَرَبَتْ". او د مضارع په پنځو صیغو کي: (۱) "يَضْرِبُ" (۲) "تَضْرِبُ" (۳) "تَضْرِبُ" (۴) "اَضْرِبُ" (۵) "نَضْرِبُ". او د صفت په صیغو کي همېشه مطلقا مستتر وي یعني بارز نه راځي او د امر حاضر معروف په اوله صیغه کي لکه: په "اِضْرِبْ" کي، او باقي "امر غائب، نهي حاضر و غائب" او "نفي" "مُؤَكَّدْ بَلَنْ" او جحد و غیره د مضارع په حکم کي دي.

شپږمه خبره:

د ضمیر مستتر اقسام:

ضمير مستتر پر دوه قسمه دئ:

۱. ضمير مستتر جوازي (عارضي).
۲. ضمير مستتر وجوبي (دائمي).

د ضمير مستتر جوازي تعريف:

ضمير مستتر جوازي هغه ضمير دئ چې په صيغه کې يې پټول او نه پټول دواړه جائز دي کچيرې وروسته اسم ظاهر فاعل جوړېداى سي نو هغه يې فاعل دئ ورنه په ده کې ضمير مستتر دئ د ده دپاره فاعل دئ.

د ضمير مستتر جوازي ځايونه:

"جَائِزُ الْاِسْتِتَارْ" ضمير صرف په پنځو صيغو کې راځي د فعل ماضي په دوو صيغو کې (۱) په "ضَرَبَ" کې "هُوَ" (۲) په "ضَرَبَتْ" کې "هِيَ" [1] باقي په دولس صيغو کې بارز يعني ښکاره دئ مطلب په "ضَرَبَا" کې الف. په "ضَرَبُوْا" کې واو. "وَ قِسْ عَلَيْهِ الْآخِرِيْنَ" او د فعل مضارع په دوو صيغو کې (۱) په "يَضْرِبُ" کې "هُوَ". (۲) په "تَضْرِبُ" کې "هِيَ" باقي په نه (۹) صيغو کې بارز

---

(۱) د ماضي او مضارع په دغه دوو صيغو کې فاعل کله ظاهر راځي او کله ضمير.

د پېژندلو طريقه يې دا ده کچيرې دغه دوې صيغې د کلام په شروع کې راسي نو بيا د دوی فاعل اسم ظاهر وي، لکه: "خَتَمَ اللّٰهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ" او کچيرې دغه دوې صيغې د کلام په مينځ کې راسي نو بيا د دوی فاعل ضمير وي، او هغه په څو ځايو کې راځي:

۱. کله چې خبر د مبتداء وي، لکه: "اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ".
۲. يا صله دپاره د موصول وي لکه: "اَلَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ".
۳. يا صفت د موصوف وي لکه: "تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ".
۴. يا حال د ذوالحال وي لکه: "جَاۤءَنِيْ زَيْدٌ قَدْ رَكِبَ".
۵. يا معطوف د معطوف عليه وي لکه: "اَلَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَاۤءَ بِنَاۤءً وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۤءِ مَاۤءً"
٦. يا يو داسي قرينه موجوده وي چې د ماقبل د مرجع پر وجود دلالت کوي لېکن که چيرې د دغه دوو صيغو د کلام په مينځ کې د راتللو باوجود د دوی څخه وروسته ضمير راغلى وو چې راجع و مبتداء يا موصول ته وو نو بيا د دوی فاعل اسم ظاهر واقع کيږي نه ضمير لکه: "وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهَارُ" "اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ" (العلامات النحوية).

دئ. او د صفت یعني د اسم فاعل، او اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضیل و غیره په صیغو (۱) کي همېشه مطلقا "جَائِزُ الاِسْتِتَارْ" وي.

د ضمیر مستتر وجوبي تعریف:

ضمیر مستتر وجوبي هغه ضمیر دئ چي د ده پټول په صیغه کي همېشه واجب وي، که څه هم وروسته اسم ظاهر راسي.

د ضمیر مستتر وجوبي ځایونه:

"وَاجِبُ الْاِسْتِتَارْ" ضمیرونه هم صرف په اتو (۸) ځایو کي راځي د مضارع په درو صیغو کي (۱) "تَضْرِبُ" مخاطب کي "اَنْتَ" (۲) په "اَضْرِبُ" کي "اَنَا". (۳) په "نَضْرِبُ" کي "نَحْنُ". (۴) او د امر حاضر معروف په اوله صیغه: په "اِضْرِبْ" کي "اَنْتَ". (۵) او په اسماء افعالو کي کله چي په معنیٰ د امر سره وي، لکه: "رُوَیْدَ" په معنیٰ د "اَمْهِلْ" سره د "اَنْتَ" ضمیر کي مستتر دئ. (٦) په فعل تعجب کي چي پر وزن د "مَااَفْعَلَ" باندي راځي لکه: "مَا اَحْسَنَ الْعِلْمَ". (۷) په افعالو د استثناء کي لکه: "خَلَا، عَدَا، حَاشَا، لَیْسَ، وَ لَایَکُوْنُ" کي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا". (۸) په هغه مصدر کي چي دی قائم مقام د خپل فعل وي لکه: "صَبْرًا عَلَی الشَّدَائِدِ اَیْ اِصْبِرْ صَبْرًا" چي د "اَنْتَ" ضمیر وجوبًا پکښي مستتر دئ.

---

(۱) د صفت په صیغو یعني په اسم فاعل، اسم مفعول، اسم تفضیل، صفت مشبه او اسم مبالغه کي همېشه مطلقا ضمیر مرفوع متصل "جَائِزُ الاِسْتِتَارْ" وي او هغه ټوله شپږ ضمیرونه دي: "هُوَ. هُمَا. هُمْ. هِيَ. هُمَا. هُنَّ" او په اسم ظرف او اسم آله کي ضمیر نه راځي او په فعل تعجب کي اختلاف دئ.

لېکن یوه اهمه نکته یاد ساتل هغه دا چي که چیري د اسماء صفاتو څخه مخکي د مرفوع متصل ضمیر راسي نو بیا په دوی کي هغه مرفوع متصل ضمیر نه پاته کیږي چي مخکي پکښې وو بلکه: دغه منفصل ضمیر په دوی کي "جَائِزُ الاِسْتِتَارْ" دئ لکه: په "اَنَا غَائِبٌ" کي د "هُوَ" ضمیر نسته بلکه د "اَنَا" ضمیر دئ او په "نَحْنُ اَقْرَبُ" کي د "هُوَ" ضمیر نسته بلکه د "نَحْنُ" ضمیر مرفوع متصل مستتر "جَائِزُ الاِسْتِتَارْ" دئ. (العلامات النحویة)

جملے :

عنوان	خبریہ، انشائیہ	اقسام اربعہ یا ثلاثہ	تعداد مرکب غیر مفید	تعداد معرب	تعداد مبنی	مسند	مسند الیہ	متصل	منفصل
فَادْخُلِي فِي عِبَادِي وَادْخُلِي جَنَّتِي	انشائیہ	فعلیہ	۲۔ مرکب اضافی	۲۔ معرب	۹۔ مبنی	فادخلي	أنتِ	۲۔ مرفوع، ۲۔ مجرور	×
قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ	انشائیہ	فعلیہ	×	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	قُلْ	أنتَ	۱۔ مرفوع	هُوَ
رَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ	خبریہ	اسمیہ	۲۔ مرکب اضافی	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ	رَحْمَتِي	۱۔ مجرور، ۱۔ مرفوع	×
قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِي .. تُجَادِلُكَ	خبریہ	فعلیہ	۱۔ مرکب اضافی	۳۔ معرب	۵۔ مبنی	سَمِعَ	اللّٰه	۱۔ مرفوع، ۱۔ منصوب	×
اُذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ	انشائیہ	فعلیہ	۲۔ مرکب توصیلی و اضافی	۱۔ معرب	۸۔ مبنی	اُذْكُرُوا	أَنْتُمْ	۲۔ مرفوع، ۲۔ مجرور	×
لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ	خبریہ	ظرفیہ	۱۔ مرکب اضافی	۳۔ معرب باعتبار متعلق	۲۔ مبنی	ثابتٌ	مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ	۱۔ مرفوع، ۱۔ مجرور	×
اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ	انشائیہ	فعلیہ	۱۔ مرکب توصیفی	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	اِهْدِ	أَنْتَ	۱۔ مرفوع، ۱۔ منصوب	×
لَكُمْ دِيْنُكُمْ	خبریہ	ظرفیہ	۱۔ مرکب اضافی	۲۔ معرب باعتبار متعلق	۳۔ مبنی باعتبار متعلق	لَكُمْ باعتبار متعلق	دِيْنُكُمْ	۱۔ مرفوع باعتبار متعلق، ۲۔ مجرور	+
اِغْسِلْ يَدَيْكَ	انشائیہ	فعلیہ	۱۔ مرکب اضافی	۱۔ معرب	۳۔ مبنی	اِغْسِلْ	أَنْتَ	۱۔ مرفوع، ۱۔ مجرور	×
جَاءَ الَّذِي أَعْطَاكَ	خبریہ	فعلیہ	×	×	۵۔ مبنی	جَاءَ	الَّذِي أَعْطَاكَ	۱۔ مرفوع، ۱۔ منصوب	×
وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا	خبریہ	فعلیہ	۱۔ مرکب اضافی	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	جَعَلَ	نَا	۱۔ مرفوع، ۱۔ مجرور	×
أَنْتُمْ رِجَالٌ عَالِمُوْنَ	خبریہ	اسمیہ	۱۔ مرکب توصیفی	۲۔ معرب	۱۔ مبنی	رِجَالٌ عَالِمُوْنَ	أَنْتُمْ	۱۔ مرفوع	۱۔ مرفوع
رَسُوْلُنَا مُحَمَّدٌ	خبریہ	اسمیہ	۱۔ مرکب اضافی	۲۔ معرب	۱۔ مبنی	مُحَمَّدٌ	رَسُوْلُنَا	۱۔ مجرور	×
نَصَرْتَنِي	خبریہ	فعلیہ	×	×	۳۔ مبنی	نَصَرَ	تَ	۱۔ مرفوع، ۱۔ منصوب	×
لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ	خبریہ	اسمیہ	×	۱۔ معرب باعتبار ثابت	۶۔ مبنی	لَكُمْ باعتبار متعلق	مَا سَأَلْتُمْ	۲۔ مرفوع، ۱۔ مجرور	×
ضَرَبْنَاكَ	خبریہ	فعلیہ	×	×	۳۔ مبنی	ضَرَبَ	نَا	۱۔ مرفوع، ۱۔ منصوب	+
أَنَا أَخُوْ عَمْرٍو	خبریہ	اسمیہ	۱۔ مرکب اضافی	۲۔ معرب	۱۔ مبنی	أَخُوْ عَمْرٍو	أَنَا	+	۱۔ مرفوع
ضَرَبَكَ زَيْدٌ	خبریہ	فعلیہ	×	۱۔ معرب	۲۔ مبنی	ضَرَبَ	زَيْدٌ	۱۔ منصوب	×
ضَرَبَهَا عَمْرٌو	خبریہ	فعلیہ	×	۱۔ معرب	۲۔ مبنی	ضَرَبَ	عَمْرٌو	۱۔ منصوب	×

التمرين:

"نَحنُ مُصلِحُونَ،، إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفسِدُونَ،، وَإِذَا خَلَوْا إِلَى شَيَاطِينِهِمْ،، هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ،، تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الفُرْقَانَ،، أَأَنْذَرْتَهُمْ،، وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ،، إِيَّاكَ نَعْبُدُ".

دوم اسماء اشارات الذی، الذان، الخ:............................ الی قوله پنجم اسماء اصوات.

ترجمه:

دوهم اسماء اشارات دي هغه "ذَا، ذَانِ، ذَيْنِ، تَا، تِيْ، تِهُ، ذِهْ، ذِهِيْ، تِهِيْ، تَانِ، تَيْنِ، أُوْلَاءِ باللالف الممدوده و أُوْلٰى باللالف المقصوره".

الدرس الثاني عشر:

د نن د سبقه خلاصه اووه (٧) خبري دي:

اوله خبره:

د اسماء اشارات لغوي او اصطلاحي معنٰى:

دوهم قسم د اسم غير متمكن اسماء اشارات دي. "اشارات" جمع د "اِشَارَة" ده. "اِشَارَة" په لغت کي اشاره کولو ته ويل کيږي او په اصطلاح کي "مَاوُضِعَ لِتَعْيِيْنِ الْمُشَارُإِلَيْهِ" (چي دوی د مشار اليه د متعين کولو دپاره وضع سوي وي).

د اسماء اشارات الفاظ:

"ذَا. ذَانِ. ذَيْنِ. تَا. تِيْ. تِهُ. ذِهْ. ذِهِيْ. تِهِيْ. تَانِ. تَيْنِ. أُوْلَاءِ بِالْمَدْ:أُوْلٰى بِالْقَصْرْ".

اسماء اشارات پنځه لفظونه دي: د شپږو معناؤ دپاره راځي: (١) "ذَا"د واحد مذکر دپاره راځي لکه: "هٰذَا الْكِتَابُ". (٢) "ذَانِ" په حالت رفعي کي "ذَيْنِ" په حالت نصبي او جري کي د تثنيې مذکر دپاره راځي لکه: "هٰذَانِ رَجُلَانِ. فَذَانِکَ بُرْهَانَانِ مِنْ رَّبِّکَ" (٣) "تَا، تِيْ، تِهُ، ذِهْ، ذِهِيْ، تِهِيْ" دا د واحد مؤنث دپاره راځي لکه: "هٰذِهِ الْمَرْءَةُ، تِلْکَ الْمَرْءَةُ". (۴) "تَانِ" په حالت رفعي کي "تَيْنِ" په حالت نصبي او جري کي د تثنيې مؤنث دپاره راځي لکه: "هَاتَانِ الْيَدَانِ نَظِيْفَتَانِ". (۵) "أُوْلَاءِ

بِالْمَدِ أَوْلٰى بِالْقَصْرِ" د جمع مذکر او جمع مؤنث د دواړو دپاره راځي لکه: "هٰؤُلَاءِ الرِّجَالُ" "أُوْلٰئِكَ النَّاسُ" "هٰؤُلَاءِ النِّسَاءُ".

د اسماء اشارات د بناء وجه:

اسماء اشارات د شبه افتقاري په وجه سره مبني دي (۱): د حروفو سره په احتیاج کې مشابهت لري ځکه دوی مشار الیه ته محتاجه وي.

دوهمه خبره:

د اسماء اشاراتو ترکیبي حیثیت:

د اسماء اشاراتو د ترکیب خلاصه په دې شکل ده: (۱) د اسم اشاره څخه وروسته که چیرې نکره راغله نو اسم اشاره مبتداء او مابعد یې خبر دئ لکه: "هٰذَا ذِكْرٌ مُبَارَكٌ". (۲) که چیرې د اسم اشاره څخه وروسته علم وه یا مضاف وو بیا اسم اشاره مبتداء مابعد یې خبر لکه: "هٰذَا زَيْدٌ. هٰذَا غُلَامُ زَيْدٍ" لیکن که چیرې د اضافت په صورت کې مضاف او مضاف الیه تر اسم اشاره رامخکې سي نو بیا بیرته موصوف او صفت جوړیږي لکه: "غُلَامُ زَيْدٍ هٰذَا". (۳) که چیرې د اسم اشاره څخه وروسته معرف باللام وو لکه: "تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي". یا اسم موصول وو لکه: "أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ" نو بیا په هغه کې عموما څلور ترکیبونه کیږي: (۱) موصوف و صفت. (۲) مُبَيَّن و عطف بیان. (۳) مبدل منه و بدل (۴) مبتداء و خبر لیکن دغه ترکیب قلیل الاستعمال دئ.

په اسماء اشاراتو کې څلور شیان وي (۱) "مُشِيْرٌ" اشاره کونکی. (۲) "مُشَارٌ إِلَيْهِ" چې و کم چاته اشاره کیږي (۳) "مُشَارٌ لَهٗ" چې د کم چا دپاره اشاره کیږي. (۴) "إِسْمِ إِشَارَه" ده چې په کم شي سره اشاره کیږي.

---

(۱) اسماء اشارات ټول مبني دي لیکن په "ذَانِ وذَيْنِ" او "تَانِ وتَيْنِ" کې اختلاف دئ. بعضې علماء وایي: چې دغه څلور الفاظ معرب دي ځکه چې آخر یې مختلف سوی دئ په اختلاف دعواملو سره ځکه په حالت د رفعي کې "ذَانِ" او "تَانِ" ویل سوی دئ او په حالت د نصب وجر کې "ذَيْنِ او تَيْنِ" ویل سوی دئ.

د جمهور علماء مسلک دا دئ: چې دغه څلور الفاظ چې "ذَانِ وذَيْنِ او تَانِ وتَيْنِ" دي دغه هم مبني دي او اختلاف چې په کې راغلئ دئ دا د عامل د وجه نه دئ بلکه دا اختلاف د وضعي د وجه څخه دئ (وضع یې دا غه دول راغلې ده). (شرح جامي)

ضابطه:

اسم اشاره په مطابقت د "مُشَارٌ اِلَيْهِ" راوړل کيږي. "مُشارٌ اِلَيْهِ" به مذکر وي يا به مؤنث وي، بيا به هر يو مفرد وي يا به تثنيه وي يا به جمع وي، شپږ قسمونه جوړيږي او کاف خطاب [1] چي د اسم اشاره په آخر کي راځي هغه په مطابقت د مخاطب سره راځي په اعتبار د افراد، تثنيه، جمع، تذکير او تانيث سره لکه: "ذَاکَ، ذَاکِ، ذَاکُمَا، ذَاکُمْ، ذَاکُنَّ".

دريمه خبره:

د اسماء اشاراتو اقسام:

د مشار اليه په اعتبار سره اسم اشاره پر دري قسمه ده: (۱) قريب (۲) متوسط (۳) بعيد.

د اسم اشاره قريب تعريف:

اسم اشاره قريبه هغه اسم اشاره ده چي په هغه سره مشار اليه قريب ته اشاره وسي او پر سر يې "هَا" د تنبيه داخله سي لکه: "هٰذَا، هٰذَانِ، هَاتَانِ" وغيره يعني (دغه).

د اسم اشاره متوسط تعريف:

اسم اشاره متوسطه هغه اسم اشاره ده چي په هغه سره مشار اليه متوسط ته اشاره وسي او په آخر کي يې کاف خطاب راسي لکه: "ذَاکَ، تَاکَ" يعني (هغه).

د اسم اشاره بعيد تعريف:

اسم اشاره بعيد هغه اسم اشاره ده چي په هغه سره مشار اليه بعيد ته اشاره وسي او د اسم اشاره او کاف خطاب په مينځ کي "لام بُعد" [2] راوړل سي لکه: "ذَالِکَ، تِلْکَ" يعني (هغه ليري).

---

(۱) کاف خطاب د دوه غرضو دپاره راوړل کيږي: (۱) يو خو د مخاطب د تعين دپاره چي مخاطب يو دئ دوه دي، دري دي او مذکر دئ که مؤنث دئ. (۲) او بل د "ذَا" اسم اشاره معنى د قريب څخه بعيد ته وړي لېکن يوه نکته ياد ساتل ضروري دي هغه دا چي اسم اشاره په خپله د حروف خطابو سره نه تثنيه کيږي او نه جمع کيږي بلکه حروف خطاب پخپله تثنيه او جمع کيږي او اسم اشاره هغه رنګه پر خپل وحدت باندي پاته وي لکه: "ذَالِکَ، ذَالِکُمَا، ذَالِکُمْ" ځکه اسم اشاره د مشار اليه مطابق راوړل کيږي، لکه: "ذَانِ وَ ذَيْنِ وغيره" (النحو الوافي)

(۲) "لام بُعد" د کاف خطاب بغيره پر اسم اشاره باندي نه راځي او داغه رنګه په پنځو ځايو کي د اسم اشاره سره لام بعد راوړل منع دي: (۱) کله چي اسماء اشارات مختص بالمؤنث وي سِوٰى د "تَا، وتِيْ" څخه. (۲) کله چي اسماء اشارات تثنيه وي خواه

خلورمه خبره:

"کَذَالِکَ. هٰکَذَا" یعني (داغه رنګه) هم په اسماء اشاراتو کي زيات استعماليږي. او "هٰهُنَا. هُنَا" یعني (دلته) "هُنَاکَ" یعني (هلته) هم اسماء اشارات دي.

په اسم اشاره کي لحاظ صرف د مشار اليه د وحدت (يووالی) او تعدد (ډېر والی) کيږي. او په کاف کي لحاظ د مخاطب د وحدت او تعدد کيږي، يعني که مشاراليه او مخاطب يو وو "ذَلِکَ" ويل کيږي، که دواړه تثنيه وه بيا "ذَانِکُمَا" ويل کيږي، که دواړه جمع وه بيا "أُولَائِکُم" ويل کيږي، که مشاراليه يو وو مخاطبين دوه وه بيا "ذَالِکُمَا" ويل کيږي، که مخاطب يو وو مشاراليه دوه وه بيا "ذَانِکَ" ويل کيږي، که مشاراليه دوه وه مخاطبين جمع وه بيا "ذَانِکُمْ" ويل کيږي، که مخاطبين تثنيه وه مشاراليه جمع وه بيا "أُوْلَائِکُمَا" ويل کيږي، "وَعَلٰى هٰذا فَقِسْ".

سوم اسماء موصوله الخ:.......................... الی قوله چهارم اسماء افعال.

ترجمه:

د اسم غير متمکن دريم قسم اسماء موصولات دي "اَلَّذِيْ، اَلَّذَانِ، اَلَّذَيْنِ، اَلَّذِيْنَ، اَلَّتِيْ، اَللَّتَانِ، اَللَّتَيْنِ، اَللَّاتِيْ، وَاللَّوَاتِيْ، وَمَا وَمَنْ، واَيٌّ واَيَّةٌ" الف لام چي په معنٰی د "اَلَّذِيْ" سره وي، اسم موصول دئ، او الف لام پر اسم فاعل او اسم مفعول باندي داخليږي لکه: "اَلضَّارِبُ، اَلْمَضْرُوْبُ" او د بني طی په لغت کي "ذُوْ" هم اسم موصول دئ لکه: "جَائَنِيْ ذُوْ ضَرَبَکَ بِمَعْنٰی اَلَّذِيْ ضَرَبَکَ". پوه سه! چي "اَيٌّ" و "اَيَّةٌ" په اسم موصول کي معرب دي.

پنځمه خبره:

د اسماء موصولات (۱) لغوي او اصطلاحي معنٰی:

مذکر وي او که مؤنث. (۳) پر "اُوْلَاءِ بِالْمَد" باندي ممتنع دئ او پر بالقصر باندي جائز دي لکه: "اُوْلٰی لِکَ". (۴) د جمع پر اسم اشاره باندي چي کله "هَا" تنبيه داخله وي نو د لام دخول ممتنع دئ لکه: "هٰؤُلَاءِ". (۵) او کله چي د اسم اشاره په آخر کي کاف خطاب نه وي ملحق سوی بيا هم پر اسم اشاره باندي لام داخلول ممتنع دئ. (النحو الوافي)

(۱) اسماء موصولات د شبه افتقاري په وجه باندي مبني دي ځکه دوی و صله ته محتاجه دي.

اسم موصول [۱] په لغت کي د "وَصْلٌ" څخه دئ په معنٰی د یو ځای کولو او ملاوېدلو سره راځي.
د موصول اصطلاحي معنٰی "هُوَ اِسْمٌ مُحْتَاجٌ اِلٰی جُمْلَةٍ اَوْ مُؤَوَّلٍ بِجُمْلَةٍ وَ عَائِدٍ وَ خَلَفِهٖ" موصول هغه اسم دئ چي محتاج وي و جملې ته یا مؤول بالجمله (چي تاویل یې په جمله سره سوی وي) او خودي عائد یا د عائد قائم مقام ته. د جملې مثال لکه: "اَلَّذِيْ خَلَقَکَ" د مؤول بالجمله مثال لکه: "اَلضَّارِبُ: اَیْ اَلَّذِيْ یَضْرِبُ" یا "اَلْمَضْرُوْبُ: اَیْ اَلَّذِيْ یُضْرَبُ" "اَلَّذِيْ عِنْدِيْ: اَیْ اَلَّذِيْ ثَبَتَ عِنْدِيْ" "اَلَّذِيْ فِي الدَّارِ: اَیْ ثَبَتَ فِي الدَّارِ".

د صله تعریف:

"اَلصِّلَةُ هِيَ الْجُمْلَةُ تَذْکُرُ بَعْدَهٗ لِتَتْمِیْمِ الْمَعْنٰی" صله هغه جمله ده چي د موصول څخه وروسته ذکر کیږي دپاره د اتمام د معنٰی د موصول.

شپږمه خبره:

د اسماء موصولات اقسام:

اسماء موصولات پر دوه قسمه دي: (۱) اسماء موصوله خاصه (۲) اسماء موصوله عامه.

د اسماء موصوله خاصه تعریف:

اسماء موصوله خاصه هغه اسماء موصولات دي چي د مذکر، مؤنث، مفرد، تثنیه، جمع هر یوه دپاره خپل خاص الفاظ وضع سوي وي.

د اسماء موصوله خاصه تعداد:

اسماء موصوله خاصه نه (۹) دانې دي:

---

[۱] اسم موصول سره د خپلي صلې جزء د جملې جوړیږي نه مکمله جمله (۱) کله مبتداء وي لکه: "اَلَّذِيْ ضَرَبَهٗ زَیْدٌ قَائِمٌ" (۲) کله خبر وي لکه: "اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ" (۳) کله فاعل وي لکه: "وَقَالَ الَّذِیْنَ لَایَرْجُوْنَ لِقَائَنَا" (۴) کله صفت وي لکه: "اُذْکُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْ اَنْعَمْتُ عَلَیْکُمْ" په دې صورت کي به موصوف ضرور معرفه وي. (۵) کله نائب فاعل وي لکه: "ضُرِبَ الَّذِيْ هُوَ قَائِمٌ" (٦) کله مشار الیه وي لکه: "خُذْ هٰذَا الَّذِيْ یَضْرِبُ عَمْرًا" په دې ټولو صورتو کي د دوی اعراب محلي دئ. او موصول پر دوه قسمه دئ: (۱) موصول اسمي چي بحث یې تېر سو (۲) موصول حرفي چي هغه حروف مصدریه دي او فعل په تاویل د مصدر سره اړوي او د دوی صله همېشه فعل وي، او د دوی تعداد پنځه دانې دي: "اَنْ. وَ اَنَّ. وَ کَيْ. وَ مَا. وَ لَوْ". (ضوابط نحوية)

(۱) "اَلَّذِيْ" د واحد مذکر دپاره (۲) "اَلَّذَانِ" په حالت رفعي کي (۳) "اَلَّذَيْنِ" په حالت نصبي او جري کي د تثنيې مذکر دپاره. (۴) "اَلَّذِيْنَ" د جمع مذکر دپاره (۵) "اَلَّتِيْ" د واحد مؤنث دپاره (۶) "اَللَّتَانِ" په حالت رفعي کي (۷) "اَللَّتَيْنِ" په حالت نصبي او جري کي د تثنيې مؤنث دپاره (۸) "اَللَّاتِيْ" (۹) "اَللَّوَاتِيْ" د جمع مؤنث دپاره.

د اسماء موصوله عامه تعريف:

اسماء موصولات عامه هغه اسماء موصولات دي چي دوی په مشترک طور د مذکر، مؤنث، مفرد، تثنيه، جمع د ټولو دپاره استعماليږي.

د اسماء موصوله عامه تعداد:

اسماء موصوله عامه پنځه (۵) داني دي:

(۱) "مَا" (۲) "مَنْ" (۳) اَیٌّ (۱) اَيَّةٌ" (۴) "الف لام" (۵) "ذُوْ" او "ذَا" (۲) بمعنی "اَلَّذِيْ".

اوومه خبره:

د اسماء موصوله عامه مختصره تشريح:

"مَا" او "مَنْ" "مَا" اکثره د غير ذوی العقول دپاره راځي او "مَنْ" د ذوی العقول دپاره راځي. کله کله (۳) يو د بل پر ځای استعماليږي او دوی په ترکيب کي همېشه مبتداء، فاعل، يا مفعول، واقع کيږي.

---

(۱) "اَیٌّ" پر څلور قسمه دئ: (۱) شرطيه: (۲) استفهاميه (۳) صفتيه (۴) موصوله. "اَیٌّ" او "اَيَّةٌ" کله کله د نداء او جواب نداء په مينځ کي د فصل دپاره راوړل کيږي لکه: "يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ" "يَا اَيَّتُهَا النَّفْسُ" او "ه" د تنبيه دپاره راځي نو بيا په دې صورت کي دوی په ترکيب کي موصوف او منادای يې صفت واقع کيږي. (نصر الخبير)

(۲) "ذَا" چي کله موصولي جوړيږي د هغه دپاره درې شرطونه دي: (۱) "ذَا" به د "مَنْ" يا "مَا" استفهاميه وروسته واقع سوی وي، نو "ذَا رَاَيْتُ" ويل غلط دي. (۲) د اسم اشاره معنی به مراده نه وي نو ځکه په "مَا ذَا الْكِتَابُ" کي "ذَا" اسم اشاره ده موصولي نه دئ. (۳) "ذَا" به د "مَنْ" او "مَا" سره يوه کلمه نه وي جوړه سوې نو ځکه په "لِمَاذَا اَتَيْتَ" او "مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗ" کي "ذَا" موصولي نه دئ. (الموجز في قواعد اللغة العربية)

(۳) "مَنْ" د غير ذوی العقول دپاره په درو ځايو کي استعماليږي اول (۱) چي کله غير عاقل په منزله د عاقل سره و ګرځي لکه: "وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ". (۲) چي کله غير عاقل د عاقل سره په يو حکم کي داخل سي لکه: "اَفَمَنْ يَخْلُقُ كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ"

"الف لام" چي كله په معنىٰ د "اَلَّذِيْ" سره راځي او موصول واقع كيږي نو بيا د هغه دپاره پنځه شرطونه دي: دوه د الف لام دپاره او درې د اسم فاعل او اسم مفعول دپاره د الف لام شرطونه په دې ډول دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: الف لام به عهدي او جنسي نه وي، ورنه بيا په دوی كي ابهام نه وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي د ده مدخول به اسم فاعل، يا اسم مفعول وي.

او د اسم فاعل او اسم مفعول شرطونه په دې شكل دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي په اسم فاعل او اسم مفعول كي به د اشتقاق معنىٰ باقي وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي دوی به د تجدد او حدوث پر معنىٰ دلالت كوي نه د دوام او استمرار.

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي دوی به په معنی د حال او استقبال سره وي، نه د ماضي لكه: "اَلضَّارِبُ" په معنىٰ د "اَلَّذِيْ يَضْرِبُ" سره او "اَلْمَضْرُوْبُ" په معنىٰ د "اَلَّذِيْ يُضْرَبُ" سره.

"ذُوْ" [1] پر دوه قسمه دئ: (۱) "ذُوْ" په معنىٰ د خاوند او صاحب سره په دې وخت كي دی همېشه معرب وي (۲) "ذُوْ" په معنىٰ د "اَلَّذِيْ" سره په لغت د بني طی كي په دې وخت كي دی مبني وي، لكه: "جَاءَنِيْ ذُوْ ضَرَبَكَ اَیْ اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ" او و ده ته "ذُوْ طَائِيَّه" ويل كيږي او داغه رنګه "ذَا" هم اسم موصول واقع كيږي په چند شرائطو سره. ان شئت فارجع الی الحاشيه.

په "لَايَخْلُقُ" كي انسانان، ملائكه، اصنام ټول شامل دي. (۳) چي كله غير عاقل د عاقل سره مقترن سي په عموم د مفصَّل (چي تفصيل يې بيان سوی وي په "مِنْ" بيانيه سره) لكه: "وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِنْ مَّاءٍ فَمِنْهُمْ مَنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ وَمِنْهُمْ مَنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَّمْشِيْ عَلٰى أَرْبَعٍ" دلته لفظ د "دَآبَّةٍ" ټولو اصنافو لره شامل دئ كم چي تفصيل يې بيان سوی دئ او "مَا" هم كله د عاقل دپاره راځي لكه: "فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ". او دی اكثره په هغه ځای كي راځي چي عاقل د غير عاقل سره په يو حكم كي مقترن سي. (جامع الدروس العربية)

[1] د "ذُوْ" موصولي او "ذُوْ" په معنی د "صاحب" سره په منځ كي يو څو فرقونه دي: (۱) "ذُوْ" موصولي په معنی د "اَلَّذِيْ" سره راځي او "ذُوْ" صاحبي په معنی د صاحب سره راځي. (۲) د "ذُوْ" موصولي مدخول جمله وي او د "ذُوْ" صاحبي مدخول مفرد وي. (۳) "ذُوْ" موصولي مبني وي او "ذُوْ" صاحبي معرب وي.

جملي:

عنوان	خبر، انشاء	مسند	مسند اليه	معرب، مبني	متصل	منفصل	اسماء مرکب لغیر مفید	تقیید مرکب لغیر مفید
ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ	خبر	لَا رَيْبَ فِيهِ	ذٰلِكَ الْكِتَابُ	۲. معرب ۶. مبني	۱. مرفوع ۱. مجرور متصل	+	اسم اشاره / ضمیر	ذٰلِكَ، ه، هُوَ
أُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ	خبر	الْمُفْلِحُونَ	أُولٰئِكَ	۱. معرب ۲. مبني	هُمْ: لی صیغة الصلاة جائز	۱. مرفوع منفصل	اسم اشاره / ضمیر	أُولٰئِكَ، هُمْ
أُدْخُلُوا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ	انشاء	أُدْخُلُوا	أَنْتُمْ	۱. معرب ۳. مبني	۱. مرفوع متصل	+	اسم اشاره / ضمیر	هٰذِهِ، أَنْتُمْ
أَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ	انشاء	أَخْرِجْ	أَنْتَ	۲. معرب ۵. مبني	۱. مرفوع متصل، ۱. منصوب متصل	+	اسم اشاره / ضمیر	هٰذِهِ، أَنْتَ، نَا
إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ	خبر	يَهْدِي، أَقْوَمُ	هٰذَا الْقُرْآنَ، هِيَ	۳. معرب ۷. مبني	۲. مرفوع متصل	۱. مرفوع منفصل	اسم اشاره / ضمیر، اسم موصول	هٰذَا، هُوَ، هِيَ، الَّتِي
إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ	خبر	قَاعِدُونَ	نَا	۱. معرب ۳. مبني	۱. منصوب ۱. مرفوع	+	اسم اشاره / ضمیر	هَاهُنَا، نَا، هُمْ
وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا	خبر	الْجَنَّةُ الْآتِيَةُ	تِلْكَ الْجَنَّةُ	۱. معرب ۶. مبني	۱. مرفوع ۱. منصوب	+	اسم اشاره / ضمیر، اسم موصول	تِلْكَ، الَّتِي، أَنْتُمْ، هَا
أُرِيدُ أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ	خبر	أُرِيدُ	أَنَا	۳. معرب ۶. مبني	۲. مرفوع ۱. منصوب ۱. مجرور	+	اسم اشاره / ضمیر	هَاتَيْنِ، أَنَا، أَنَا، كَ، يَ
أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ	انشاء	أَنْهَ	أَنَا	۲. معرب ۶. مبني	۱. مرفوع ۱. منصوب	+	اسم اشاره / ضمیر	أَنَا، كُمَا، تِلْكُمَا
وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ	خبر	نَضْرِبُهَا	تِلْكَ	۳. معرب ۵. مبني	۱. مرفوع ۱. منصوب	+	اسم اشاره / ضمیر	تِلْكَ، نَحْنُ، هَا
تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ	خبر	أَمَانِيُّهُمْ	تِلْكَ	۱. معرب ۲. مبني	۱. مجرور	+	اسم اشاره / ضمیر	تِلْكَ، هُمْ
إِنْ هٰذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ	خبر	هٰذَانِ لَسَاحِرَانِ	(إِنَّهُ) ضمیر شان محذوف	۲. معرب ۶. مبني	۱. منصوب ۲. مرفوع	+	اسم اشاره / ضمیر	هٰذَانِ، هُ، هُمَا

التمرين:

"وَإِنَّهُ عَلَى ذٰلِكَ لَشَهِيدٌ،، هٰذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ،، هٰذِهِ نَاقَةُ اللهِ،، أُولٰئِكَ عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ،، إِنَّهُ صَرْحٌ مُمَرَّدٌ مِنْ قَوَارِيرَ،، وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا،، قُلْ هٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللهِ،، هُمْ أُولَاءِ عَلَى أَثَرِي،، ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي،، فَذَانِكَ بُرْهَانَانِ مِنْ رَبِّكَ".

الدرس الثالث عشر:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

"اَیٌّ" و "اَیَّةٌ" چي کله موصول واقع کیږي د دوی دپاره شرط دا دئ چي دوی به مضاف وي و ضمیر ته د جمع مذکر یا به مطلقًا مضاف وي خواه که لفظًا مضاف وي لکه: "اَیُّهُمْ قَائِمٌ" یا معنًا مضاف وي لکه: "اَیٌّ قَائِمٌ" په اصل کي "اَیُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ" وو، ورنه بیا استفهامیه جوړیږي، لکه: "اَیُّ رَجُلٍ جَاءَ. أَیُّکُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِیمَانًا".

د "اَیٌّ. اَیَّةٌ" دپاره څلور حالتونه:

"اَیٌّ. اَیَّةٌ" یا به لفظًا مضاف وي یا به نه وي. بیا به په دواړو صورتو کي صدر د صله چي ضمیر دئ هغه به ذکر وي یا به نه وي، نو ټوله څلور صورتونه جوړیږي په درې حالتو کي معرب دئ او په یو حالت کي دی مبني دئ. هغه دا چي دی مضاف وي او صدر د صلې یې نه وي ذکر لکه: "أَیُّهُمْ أَشَدُّ عَلَی الرَّحْمٰنِ عِتِیًّا". او د صورتو تفصیل په دې شکل دئ.

۱. اول صورت: د "اَیٌّ" مضاف الیه او صدر د صله دواړه لفظا ذکر وي لکه: "اَیُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ".
۲. دوهم صورت: د "اَیٌّ" مضاف الیه او صدر د صله دواړه معنا ذکر وي لېکن په لفظ کي محذوف (حذف سوی) وي لکه: "اَیٌّ قَائِمٌ" په اصل کي "اَیُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ" وو.
۳. دریم صورت: د "اَیٌّ" مضاف الیه لفظا محذوف وي او صدر د صله یې مذکور (ذکر سوی وي) لکه: "اَیٌّ هُوَ قَائِمٌ".
۴. څلورم صورت: چي د "اَیٌّ" مضاف الیه مذکور وي او صدر د صله یې حذف سوی وي لکه: "اَیُّهُمْ قَائِمٌ". صرف په دغه څلورم صورت کي دی مبني بر ضمه دئ لېکن اعراب یې هم جائز دئ لکه: څنګه چي په قرآن کریم کي په یوه قرائت کي "اَیُّهُمْ" هم رانقل سوی دئ. او په شعر کي په جر (زېر) سره هم استعمال سوی دئ لکه: "فَسَلِّمْ عَلٰی اَیِّهِمْ اَفْضَلُ اَیْ عَلٰی اَیِّهِمْ هُوَ اَفْضَلُ".

د صله جوړېدلو دپاره څلور شرطونه دي:

۱. صله به جمله خبریه وي احترازي مثال لکه: "جَائَنِيَ الَّذِيْ لَیْتَهُ قَائِمٌ".

۲. او په دې جمله کي به يو عائد وي، چي راجع به و اسم موصول ته وي او دَی په شکل د ضمير کي وي او د اسم موصول (۱) سره به په افراد، تثنيه او جمع کي مطابق (يو شی) وي، او عائد په پنځو ځايو (۲) کي حذف کيږي تفصيل يې په حاشيه کي موجود دئ.

۳. په جمله کي به معنی د تعجب نه وي احترازي مثال "جَائَنِيْ الَّذِيْ مَا اَحْسَنَهُ".

۴. جمله به محتاجه و کلام ته نه وي احترازي مثال يې لکه: "جَائَنِيْ الَّذِيْ لٰكِنَّهُ قَائِمٌ" ځکه دا محتاجه ده و کلام ته.

چهارم اسماء افعال الخ: .... الی قوله پنجم اسماء اصوات.

ترجمه:

د اسم غير متمکن څلورم قسم اسماء افعال دي هغه پر دوه قسمه دي: اول هغه اسماء چي په معنٰی د امر حاضر سره راځي لکه: "رُوَيْدَ، بَلْهَ، حَيَّهَلْ، هَلُمَّ" دوهم هغه اسماء چي په معنٰی د فعل ماضي سره راځي لکه: "هَيْهَاتَ، شَتَّانَ".

دوهمه خبره:

څلورم قسم د انسم غير متکمن اسماء افعال دي:

د اسماء افعال تعريف (۳):

"مَانَابَ عَنِ الْفِعْلِ معنًى وَاِسْتِعْمَالًا" چي دی د فعل قائم مقام وي په معنٰی او استعمال کي.

---

(۱) د ضمير د موصول خاص سره مطابقت واجب دئ او په موصول عام کي دوړ وجهي جائز دي، يعني رِعايت د لفظ يا د معنی.

(۲) په پنځو ځايو کي عائد حذف کيږي: (۱) کله چي دَی ضمير د مفعول وي، لکه: "اَلَّذِيْ ضَرَبْتُ" (اَیْ ضَرَبْتُهُ) (۲) عائد چي کله ضمير د مجرور وي لکه: "أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا" (اَیْ تَأْمُرُنَا بِهٖ) (۳) عائد چي کله د "اَیٌّ" ځخه وروسته راسي لکه: "يُعْجِبُنِيْ اَيُّهُمْ قَائِمٌ اَیْ هُوَ قَائِمٌ" (۴) عائد چي کله داسي مبتداء وي چي د ده خبر جمله نه وي بلکه مفرد وي مثال يې لکه: "وَهُوَ الَّذِيْ فِي السَّمَاءِ اِلٰهٌ اَیْ: هُوَ اِلٰهٌ" (۵) چي کله د صلې د اوږدېدلو خوف وي لکه: "جَائَنِي الَّذِيْ ضَارِبٌ زَيْدًا اَیْ هُوَ ضَارِبٌ زَيْدًا". (شرح ابن عقيل)

(۳) "اِسْمُ الْفِعْلِ" د واحد، تثنيه، جمع، مذکر، مؤنث د ټولو دپاره يوه صيغه استعماليږي لکه: "صَهْ" لېکن کله چي يې په آخر کي کاف خطاب ملحق سي نو بيا د مخاطب خيال ساتل کيږي لکه: "عَلَيْكَ، عَلَيْكُمَا، عَلَيْكُمْ".

د اسماء افعالِ اول تقسيم:

اسماء افعال د اصالت او عدم اصالت په اعتبار سره پر درې قسمه دي: (۱) "مُرْتَجَلْ" يعني موضوع غير منقولي چې دوی د اوله سره څخه اسم فعل وضع سوي وي، لکه: "شَتَّانَ وَيْ، مَهْ" (۲) منقولي (۱) چې په اول کې د بلې معنٰى دپاره وضع سوی وي، او بيا وروسته اسم فعل ته نقل سوی وي بيا دا نقل په درو شکلو سره راځي:

۱. اول شکل: کله د ظرف څخه منقول وي، لکه: "مَكَانَكَ، دُوْنَكَ، اَمَامَكَ، وَرَائَكَ".

۲. دوهم شکل: کله د جار او مجرور څخه منقول وي، لکه: "عَلَيْكَ، اِلَيْكَ".

۳. دريم شکل: کله د مصدر څخه منقول وي بيا کله د دوی دپاره د خپل لفظ څخه فعل مستعمل وي لکه: "رُوَيْدًا" دا تصغير بنا بر ترخيم دئ، د "اَرْوَدَ، يُرْوِدُ، اِرْوَادًا" څخه، او کله د خپل لفظ څخه يې فعل مستعمل نه وي لکه: "بَلْهَ" او دوی د مصدر څخه په دې شکل را نقل سوي دي چې که چيري د دوی مابعد مجرور سي لکه: "رُوَيْدَ زَيْدٍ، بَلْهَ زَيْدٍ" بيا دوی معنٰى د مصدر ور کوي، يعني "اِرْوَادُ زَيْدٍ، وَاِمْهَالُهُ". او که چيري د دوی ما بعد منصوب سي نو بيا دوی اسم فعل استعماليږي لکه: "رُوَيْدَ زَيْدًا اَیْ اَمْهِلْهُ، بَلْهَ زَيْدًا اَیْ اُتْرُكْهُ". (۳) معدول، چې دوی را معدول سوي وي، لکه: "نَزَالِ، تَرَاكِ" د "اِنْزِلْ، اُتْرُكْ" څخه معدول دي.

دريمه خبره:

د اسماء افعال دوهم تقسيم:

اسماء افعال په اعتبار د تعريف و تنکير سره پر درې قسمه دي: (۱) چې همېشه معرفه يعني واجب التعريف وي، لکه: "نَزَالِ تَرَاكِ: اَیْ اِنْزِلِ الْآنَ اُتْرُكِ الْآنَ" (۲) چې همېشه نکره يعني واجب

---

(۱) "اِسْمُ الْفِعْل" منقول او معدول همېشه د امر حاضر په معنى سره راځي او "اِسْمُ الْفِعْل" معدول قياسي دئ او غير محصور دئ او دَی همېشه د "فَعَالِ" پر وزن راځي. او د هر فعل ثلاثي مجرد تام، متصرف څخه راتلای سي. او د ثلاثي مزيد فيه څخه د ده راتلل شاذ او نادر دي، لکه: "دَرَاكِ" په معنى د "اَدْرِكْ" سره. او "بَدَارِ" په معنى د "بَادِرْ" سره دئ.(الموجز في قواعد اللغة العربية)

التنكير وي، لكه: "وَاهًا أَيْ أَتَعَجَّبُ فِي وَقْتٍ مَّا. وَيْهًا أَيْ أَغْرِ فِي وَقْتٍ مَّا". (۳) كه چيري منون وه (يعني تنوين والا وه) نو بيا نكره دي لكه: "صَهٍ: أَيْ أُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِي وَقْتٍ مَّا. يَا أُسْكُتْ عَنْ كُلِّ حَدِيْثٍ" او كه غير منون وو بيا معرفه دئ لكه: "صَهْ: أَيْ أُسْكُتْ سُكُوْتَ الْآنَ. يَا أُسْكُتْ عَنْ حَدِيْثِكَ هٰذَا. يا إِيْهِ يعني "إِمْضِ فِي حَدِيْثِكَ الْمَعْهُوْدِ، إِيْهٍ يعني خُذْ فِي حَدِيْثٍ شِئْتَ".

د اسماء افعال د بناء وجه:

اسماء افعال د شبه استعمالي په وجه مبني دي لېكن عند البعض دوی د مبني الاصل پر ځای باندي واقع کیږي.

د اسماء افعال دريم تقسيم:

اسماء افعال په اعتبار د معنٰی سره پر دري قسمه دي:

اول قسم:

اول هغه اسماء افعال دي چي په معنٰی سره د فعل ماضي وي، هغه شپږ (٦) دي:

۱. اول: "هَيْهَاتَ" په معنٰی د "بَعُدَ" دئ (ليري کېدل).
۲. دوهم: "وَشْكَانَ" په معنٰی د "أَسْرَعَ" دئ (تېزول).
۳. دريم: "شَتَّانَ" په معنٰی د "إِفْتَرَقَ" دئ لکه: "شَتَّانَ عَلِيٌّ وَمُعَاوِيَةُ فِي الشُّجَاعَةِ" (جلا کېدل).
۴. څلورم: "سُرْعَانَ" په معنٰی د "سَرُعَ" دئ (تېزېدل).
۵. پنځم: "بُطْئَانَ" په معنٰی د "بَطُؤَ" دئ (سست کېدل).
٦. شپږم: "هَبَّ" په معنٰی د "سَلَّمْنَا" دئ (تسليمول).

څلورمه خبره:

دوهم قسم:

دوهم هغه اسماء افعال دي چي په معنٰی سره د فعل مضارع وي، هغه نه (۹) داني دي:

۱. اول: "أَوَّهْ" په معنٰی د "أَتَوَجَّعُ" دئ (تکليف محسوسول).
۲. دوهم: "آهِ" په معنٰی د "أَتَوَجَّعُ" دئ (تکليف محسوسول).

۳. دريم: "اُفٍّ" په معنٰی د "اَتَضَجَّرُ" دئ (زړه تنګېدل).

۴. څلورم "وَاهًا" په معنٰی د "اَتَعَجَّبُ" دئ (تعجب کول).

۵. پنځم: "بَخٍ" په معنٰی د "اَسْتَحْسِنُ" دئ (خوښول).

٦. شپږم: "بَجَلْ" په معنٰی د "يَكْفِيْ" دئ (كفايت كول).

۷. اووم: "اَيْنَ" په معنٰی د "اَمْكَنَ" دئ (ممكن كېدل).

۸. اتم: "وَا" په معنٰی د "اَتَعَجُّبُ" دئ (تعجب كول).

۹. نهم: "وَیْ" (۱) په معنٰی د "اَعْجَبُ" دئ لكه "وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ" (خوښول).

پنځمه خبره:

دريم قسم:

دريم هغه اسماء افعال دي چي په معنٰی سره د امر وي، هغه پنځه څلوېښت (۴۵) دي:

۱. اول: "رُوَيْدَ" په معنٰی د "اَمْهِلْ" دئ (مهلت وركړه).

۲. دوهم: "بَلْهَ" په معنٰی د "دَعْ" دئ (پرېږده).

۳. دريم: "حَيَّهَلْ" (۲) په معنٰی د "اَقْبِلْ" دئ (مخته راسه).

۴. څلورم: "هَلُمَّ" (۳) په معنٰی د "اِيْتِ" دئ (رايې وړه).

---

(۱) "وَيْ" د تعجب دپاره راځي او د ده سره چي كم كاف راځي هغه زائد دئ لېكن عند البعض د تعليل دپاره دئ. (اشموني جلد ۴)

(۲) "حَيَّهَلْ" مركب دئ د "حَيَّ هَلًا" څخه يعني په معنی د "اَقْبِلْ" سره او هغه "هَلًا" چي "لِلْحِثِّ وَالْعَجَلَةِ" دپاره راځي بيا الف و غورځېدئ او "حَيَّهَلْ" بلا تنوين او مع التنوين لكه: "حَيَّهَلًا" ويل ټوله فصيح دي او دَی كله متعدي بنفسه وي او كله په "عَلٰی، او لَام او بَا" سره راځي. (جامع الدروس العربية)

(۳) "هَلُمَّ" عند البصريين دَی مركب دئ د "هَا" تنبيه او د "لُمَّ" فعل امر څخه او د ده معنی "اَیْ: اِجْمَعْ نَفْسَكَ اِلَيْنَا" دا غه رنګه دَی كله متعدي بنفسه وي په معنی د "اُحْضُرْ" سره لكه: "هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ الَّذِيْنَ" او كله متعدي په "اِلٰی" سره وي په معنی د "اَقْبِلْ" سره وي لكه: "هَلُمَّ اِلَيْنَا" او كله متعدي په "لام" سره وي لكه: "هَلُمَّ لِلثَّرِيْدِ" او عند اهل حجاز "هَلُمَّ" اسم فعل دئ كله لازمي وي: لكه: "اُحْضُرْ" په معنی د "حَاضِرْ" سره او كله متعدي وي په معنی د "اِيْتِ" سره، او د بنو تميم په نزد باندي دَی

۵. پنځم: "هَا" په معنٰی د "خُذْ" ده (و یې نیسه).

۶. شپږم: "هَاکَ" په معنٰی د "خُذْ" دئ (و یې نیسه).

۷. اووم: "دُوْنَکَ" په معنٰی د "خُذْ" دئ (و یې نیسه).

۸. اتم: "عِنْدَ" په معنٰی د "خُذْ" دئ (و یې نیسه).

۹. نهم: "لَدَیْکَ" په معنٰی د "خُذْ" دئ (و یې نیسه).

۱۰. لسم: "اَمَامَکَ" په معنٰی د "تَقَدَّمْ" دئ (مخته سه).

۱۱. یوولسم: "وَرَائِکَ" په معنٰی د "تَأَخَّرْ" دئ (وروسته سه).

۱۲. دوولسم: "آمِیْنَ" په معنٰی د "اِسْتَجِبْ" دئ (قبول یې کړه).

۱۳. دیارلسم: "قَطُّ" په معنٰی د "اِکْتَفِ" دئ (اکتفا او قناعت وکړه).

۱۴. څوارلسم: "مَه" په معنٰی د "اِنْکَفِفْ" دئ (ځان منع کړه).

۱۵. پنځلسم: "صَهْ" په معنٰی د "اُسْکُتْ سُکُوْتَ الْآنَ" (اوس في الحال خاموش سه).

۱۶. شپاړسم: "حَيَّ" په معنٰی د "اَقْبِلْ" دئ (مخته راسه).

۱۷. اوه لسم: "مَکَانَکَ" په معنٰی د "اُثْبُتْ" دئ (پر خپل ځای و دریږه).

۱۸. اتلسم: "اِیْهِ" په معنٰی د "اِمْضِ" دئ "اَیْ زِدْ مِنْ حَدِیْثِکَ" (خپله خبره جاري و ساته).

۱۹. نولسم: "وَیْهًا" په معنٰی د "اِغْرَ" دئ (هوښیار سه).

۲۰. شلم: "هَیًا" په معنٰی د "اَسْرِعْ" دئ (ژر کوه).

۲۱. یویشتم: "هَیْتَ" په معنٰی د "اَسْرِعْ" دئ. (ژر کوه).

۲۲. دوه ویشتم: "تَیْدَخْ" په معنٰی د "اَمْهِلْ" دئ (مهلت ور کړه).

فعل دئ ځکه دَی "یَا" د مؤنث مخاطب قبلوي لکه: "هَلُمِّيْ" او "هَا" د تنبیه ده "لُمِّيْ" لکه "مُدِّيْ". (همع الهوامع جلد ۳ صفحه ۸۶)

شپږمه خبره:

۲۳. درويشتم: "عَلَيْكَ" په معنٰى د "اَلْزِمْ" دئ "اَىْ اَلْزِمْ نَفْسَكَ" (خپل ځان پابنده کړه).

۲۴. څلورويشتم: "تَعَالِ" په معنٰى د "اَقْبِلْ" دئ (مخته راسه).

۲۵. پنځه ويشتم: "نَزَالِ" په معنٰى د "اِنْزِلْ" دئ (را شوه سه).

۲۶. شپږ ويشتم: "قِتَالِ" په معنٰى د "اُقْتُلْ" دئ (قتل يې کړه).

۲۷. اووه ويشتم: "حَذَارِ" په معنٰى د "اِحْذَرْ" دئ (ځان وګوره).

۲۸. اته ويشتم: "ضَرَابِ" په معنٰى د "اِضْرِبْ" دئ (و يې وهه).

۲۹. نه ويشتم: "تَرَاكِ" په معنٰى د "اُتْرُكْ" دئ (پرېږده).

۳۰. دېرشم: "لَقَاعِ" په معنٰى د "لَاقِعَةٌ" دئ (بد ژبانه زنانه).

۳۱. يو دېرشم: "فَجَارِ" (۱) په معنٰى د "اَلْفُجُوْرُ" دئ (بدکاري).

۳۲. دو دېرشم: "عَلَى الاَمْرِ" په معنٰى د "اَقْبِلْ عَلَيْهِ" دئ (پر کار متوجه سه).

۳۳. درو دېرشم: "هَيْتَ لَكَ" په معنٰى د "عَجِّلْ بِهِ" دئ (ژر سه).

۳۴. څلور دېرشم: "اِلَى الاَمْرِ، وَبِالْاَمْرِ" په معنٰى د "عَجِّلْ بِهِ" دئ (پر کار تلوار وکړه).

۳۵. پنځه دېرشم: "فَسَاقِ" په معنٰى د "فَاسِقَةٌ" دئ (فاسقه ښځه).

۳۶. شپږ دېرشم: "اِلَيْكَ عَنِّيْ" په معنٰى د "تَنَحَّ" دئ (زما څخه ليري سه).

۳۷. اووه دېرشم: "وَبِهِ" په معنٰى د "اَلْزِمْهُ الْقَصْعَةَ" دئ (و يې نيسه).

---

(۱) "فَعَالِ" اسم فعل په معنى د امر سره د ثلاثي مجرد و د هر وزن څخه دَی قياسي راځي او د هر ثلاثي مجرد څخه دَی په معنى د امر سره مشتق کول صحيح دئ لکه: "ضَرَابِ" په معنى د "اِضْرِبْ" سره "نَزَالِ" په معنى د "اِنْزِلْ" سره "كَتَابِ" په معنى د "اُكْتُبْ" سره او د "فَعَالِ" وزن پر څلور قسمه راځي (۱) "فَعَالِ" امري چي د امر په معنى سره راځي لکه: "نَزَالِ" په معنى د "اِنْزِلْ" سره (۲) "فَعَالِ" مصدري چي د مصدر معرفه په معنى سره راځي لکه: "فَجَارِ" په معنى د "اَلْفُجُوْرُ" سره (۳) "فَعَالِ" صفتي چي د صفت په معنى سره راځي لکه: "فَسَاقِ" په معنى د "فَاسِقَةٌ" سره (۴) "فَعَالِ" "عَلَمِيْ" چي د اعيان مؤنثه دپاره علم وي لکه: "قَطَامِ" "شكره" (يو ښکاري باز دئ). (المفصل في صنعة الاعراب لزمخشري)

۳۸. اته دېرشم: "هَاءَ" په معنی د "خُذْ" دئ (و يې نيسه).
۳۹. نه دېرشم: "قَدْکَ" په معنی د "اِکْتَفِ" دئ (قناعت وکړه).
۴۰. څلوېښتم: "فِدَاءً" په معنی د "اَفْدِکَ" دئ (ځان قربان کړه).
۴۱. يو څلوېښتم: "بَسْ" په معنی د "اِکْتَفِ" دئ (قناعت وکړه).
۴۲. دو څلوېښتم: "اِيْهًا" په معنی د "کُفَّ" دئ (ځان بند کړه).
۴۳. درو څلوېښتم: "شُهَدَائُکُمْ" په معنی د "اُحْضُرُوْا" دئ (حاضر سئ).
۴۴. څلور څلوېښتم: "رُوَيْدَ" په معنی د "اَمْهِلْهُ" دئ (مهلت ورکړه).
۴۵. پنځه څلوېښتم: "تَيْدَ" په معنی د "اَمْهِلْ" دئ (مهلت ورکړه).

پنجم اسماء اصوات الخ: .... الی قوله ششم اسماء ظروف.

ترجمه:

د اسم غير متمکن پنځم قسم اسماء اصوات دي هغه دا دي: "اُخْ، اُحْ، اُفْ، بَخْ، نِخْ، غَاقِ".

اوومه خبره:

پنځم قسم د اسم غير متمکن څخه اسماء اصوات دي.

د اسماء اصوات لغوي او اصطلاحي معنٰی:

اصوات جمع د صوت ده صوت په لغت کي اواز ته ويل کيږي او د اصطلاحي معنٰی په اعتبار سره دوی دوې نوعي دي.

د اولي نوعي تعريف:

۱. "نَوْعٌ يُخَاطَبُ بِهِ مَالَايَعْقِلُ اَوْ صِغَارٌ مِّنَ الْاِنْسَانِ". يوه نوع هغه ده چي په هغه سره و غير ذوی العقول او کوچيانو ته آواز ورکول کيږي لکه: "عَدَسْ، سَا، کَخْ".

د دوهمي نوعي تعريف:

۱. "نَوْعٌ يُحْکٰی بِهِ صَوْتٌ مِنَ الْاَصْوَاتِ الْمَسْمُوْعَةِ". چي په ده سره د اورېدل سوو اوازو نقل کيږي خواه که د غم وي او که د خوشحالی وي لکه: "قَبْ، طَاقْ، طَقْ".

د اسماء اصوات معنیٰ (۱):

(۱) "اُخ، اُحْ" د ټوخي او د ستوني د درد په وخت کي اواز را ایستل. (۲) "اُفْ" هغه اواز چي د درد او افسوس په وخت کي را ووځي. (۳) "بَخْ" د خوشحالۍ په وخت کي اواز را ایستل. (۴) "نِخْ" د اوښ د کښېنولو په وخت کي اواز را ایستل. (۵) "غَاقَ" د کارګه اواز. (۶) "وَیْ" د تعجب یا مذمت په وخت کي اواز را ایستل. (۷) "هَلًا" د آس د ځغلولو په وخت کي اواز را ایستل.

د اسماء اصوات د بناء وجه:

اسماء اصوات د شبه اهمالي په وجه باندي مبني دي (۲). ځکه دوی نه عامل واقع کیږي او نه معمول.

جملي:

عنوان	خبریه، انشاء	اقسام اسمیه یا فعلیه	مسند	مسند الیه	معرب	مبنی	تعداد اسم غیر متمکن
هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ	خبریه	اسمیه	اَلَّذِيْ خَلَقَكُمْ	هُوَ	×	۵_ مبنی	۳_ ضمیر، ۱_ موصول
قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا	خبریه	فعلیه	اَفْلَحَ	مَنْ زَكّٰهَا	×	۶_ مبنی	۲_ ضمیر، ۱_ موصول
نَحْنُ ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا	خبریه	اسمیه	ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا	نَحْنُ	۱_ معرب	۳_ مبنی	۳_ ضمیر: ۲_ متصل، ۱_ منفصل
عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا اَحْضَرَتْ	خبریه	فعلیه	عَلِمَتْ	نَفْسٌ	۱. معرب	۳. مبنی	۱. اسم موصول، ۱. ضمیر
تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ	خبریه	اسمیه	حُدُوْدُ اللهِ	تِلْكَ	۲. معرب	۱. مبنی	۱. اسم اشاره
تَبَارَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ	خبریه	فعلیه	تَبَارَكَ	اَلَّذِيْ موصول مع الصلة	۲. معرب	۶. مبنی	۱. موصول ۲. ضمیر متصل
قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ	خبریه	فعلیه	اَفْلَحَ	اَلْمُؤْمِنُوْنَ موصوف مع الصفة	۳. معرب	۷. مبنی	۱. موصول ۳. ضمیر
هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ	خبریه	اسمیه	بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ	هٰذَا	۲. معرب	۲. مبنی	۱. ضمیر ۱. اسم اشاره
هٰؤُلَاءِ بَنَاتِيْ	خبریه	اسمیه	بَنَاتِيْ	هٰؤُلَاءِ	۱. معرب	۲. مبنی	۱. اسم اشاره، ۱. ضمیر
وَالَّذِيْ جَاءَ بِالصِّدْقِ	خبریه	اسمیه	الجملة الآتية	وَالَّذِيْ جَاءَ	۱. معرب	۵. مبنی	۱. موصول ۱. ضمیر
اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ	انشائیه	اسمیه	يَكْفُلُ مَرْيَمَ	اَيُّهُمْ	۲. معرب	۳. مبنی	۲. ضمیر

---

(۱) یو څو نور الفاظ دي چي عرب یې بطور اسماء اصوات استعمالوي لکه: د "عَدَسْ" لفظ د غاتري د ځغلولو دپاره. او د "كَخْ" لفظ د ماشوم د یوشي څخه د لیري کولو دپاره. او د "سَأْ" لفظ د "حِمَار" د زجر دپاره او د "قَبْ" لفظ د توري د واقع کېدلو د آواز دپاره او د "طَقْ" لفظ د ډبري د آواز دپاره او د "وَيْهِ" لفظ پر میت باندي د غم د کولو د آواز دپاره او د "طَاقَ" لفظ د وهلو د آواز دپاره.

(۲) اسماء اصوات چي کله د نقل او حکایت په طور استعمال سي نو دوی مبني دي لېکن کله کله دوی د معرب پر ځای واقع کیږي یا دوی معرب دي، لکه: "رَاَیْتُ غَاقًا، وَرَكِبْتُ عَدَسًا ای: رَاَیْتُ غُرَابًا وَرَكِبْتُ بَغْلًا". (الموجز في قواعد اللغة العربية)

عنوان	خبر، انشاء	اقسام اربعه، یا ثلاثه	مسند	مسند الیه	معرب	مبنی	تعداد اسم غیر متمکن
وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا	انشائیه	فعلیه	بَشِّرْ	أَنْتَ	+	۶. مبنی	۱. موصول ۲. ضمیر

التمرين:

"تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ،، وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ،، أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا،، أَرِنَا اللَّذَيْنِ أَضَلَّانَا،، أَيُّهُمْ بِذَلِكَ زَعِيمٌ،، إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ،، وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ،، أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا،، سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرٰى بِعَبْدِهِ لَيْلًا،، مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ".

الدرس الرابع عشر:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د اسماء ظروف لغوي او اصطلاحي معنٰی:

ظروف جمع د ظرف ده ظرف په لغت کي لوښي ته وايي: او په اصطلاح کي ظروف هغه اسماء دي چي پر زمان يا مکان دلالت کوي.

د اسماء ظروف اول تقسيم:

اسماء ظروف د اول تقسيم په اعتبار سره پر دوه قسمه دي:

۱. ظرف زمان.
۲. ظرف مکان.

بيا هريو پر دوه قسمه دئ:

۱. محدود: چي اندازه يې معلومه وي. لکه: شپه او ورځ، مسجد، او کور.
۲. مبهم: چي د هغه څه اندازه نه وي معلومه لکه: "حِيْنَ، يَا دَهْرَ، زَمانه، يا فَوْقَ، تَحتَ، قُدَّامٌ".

د اسماء ظروف دوهم تقسيم:

د دوهم تقسيم په اعتبار سره اسماء ظروف پر دري قسمه دي:

۱. اول هغه اسماء ظروف دي چي خاص په زمان پوري وي (۱) لکه: "اِذْ، اِذَا، مَتٰی، کَیْفَ، کَیْفَمَا، مُذْ، مُنْذُ، قَطُّ، عَوْضُ، بَیْنَا، بَیْنَمَا، رَیْثَ، رَیْثَمَا، اَمْسِ اَلْآنَ، لَمَّا، اَیَّانَ" داغه رنګه هغه اسماء چي د ظروف زمان څخه مرکب سوي وي لکه: "زُرْنَا صَبَاحَ مَسَاءَ، وَلَیْلَ لَیْلَ، وَنَهَارَ نَهَارَ، وَیَوْمَ یَوْمَ اَیْ کُلَّ صَبَاحٍ، کُلَّ مَسَاءٍ، کُلَّ لَیْلٍ وَکُلَّ نَهَارٍ، وَکُلَّ یَوْمٍ".

۲. دوهم هغه اسماء ظروف دي چي خاص په مکان پوري وي لکه: "حَیْثُ، هُنَا، ثَمَّ، اَیْنَ، او جهات سته هغه لکه: "اَمَامٌ" او د ده هم مثل "قُدَّامٌ" او داغه رنګه "وَرَاءٌ" او د ده هم مثل "خَلْفٌ وَیَمِیْنٌ اَوْ یَسَارٌ" او د ده هم مثل "شِمَالٌ، اَوْ تَحْتَ، اَوْ فَوْقَ".

۳. دریم هغه اسماء ظروف دي چي مشترک وي "بَیْنَ الزَّمَانِ وَالْمَکَانِ" لکه: "اَنّٰی، لَدُنْ، لَدٰی، او قَبْلُ، وبَعْدُ" په بعض حالاتو کي.

دوهمه خبره:

د ظروف زمانیه مبهمه مختصر وضاحت او احکام:

چونکه ظرف زمان محدود معرب دئ، نو ځکه مصنف رحمه الله هغه نه دئ ذکر کړئ.

۱. "اِذْ" (۲) د "اِذْ" معنٰی (چي کم وخت) دئ د زمان ماضي دپاره راځي که څه هم پر مضارع داخل سي او د ده څخه وروسته اکثریت جمله اسمیه هم راتلای سي او فعلیه هم، لکه: "ذَهَبْتُ اِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ، یا اِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ".

---

(۱) فائده: دغه تخصیص په زمان یا په مکان پوري څه قاعده کلیه نه ده بلکه په اکثره اوقاتو کي دغه تخصیص وي ورنه ظروف زمان و مکان کله کله یو د بل پر ځای هم استعمالیږي لکه: په "مَنْ" او "مَا" کي چي کله کله یو د بل پر ځای استعمالیږي. (از مرتب عفي عنه)

(۲) "اِذْ" کله کله د تعلیل دپاره راځي: لکه: "وَلَنْ یَّنْفَعَکُمُ الْیَوْمَ اِذْ ظَلَمْتُمْ: اَیْ لِاَجْلِ ظُلْمِکُمْ". او کله کله د استقبال دپاره راځي لکه: "اِذِ الْاَغْلَالُ فِيْ اَعْنَاقِهِمْ" "یَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا" او دی همېشه و جملې ته مضاف وي کله یې مضاف الیه حذف سوی وي، او په عوض کي یې تنوین راغلی وي، لکه: "وَاَنْتُمْ حِیْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ: اَیْ وَاَنْتُمْ حِیْنَ اِذْ بَلَغَتِ الرُّوْحُ الْحُلْقُوْمَ تَنْظُرُوْنَ" او کله دی سره د مضاف الیه مفعول فیه جوړیږي د فعل محذوف "اُذْکُرُوْا" دپاره لېکن په قرآن کریم کي د فعل چي "اُذْکُرُوْا" دئ د هغه تصریح موجوده ده لکه "وَاذْکُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَیْکُمْ اِذْ کُنْتُمْ اَعْدَاءً" او کله کله دی مضاف الیه واقع کیږي لکه: "بَعْدَ اِذْ هَدَیْتَنَا" او دلته

۲. "إِذَا" (۱) د "إِذَا" معنٰی (چي کم وخت) (چي کله) (اچانک) "إِذَا" د زمان مستقبل دپاره راځي که څه هم پر ماضي داخل سي په معنٰی د مستقبل يې اړوي لکه: "إِذَا اَكَلْتَ الطَّعَامَ اَكَلْتُ".

"إِذَا" پر درې قسمه دئ: (۱) مکانيه (۲) زمانيه دغه دواړه قسمونه متضمن معنٰی د شرط لره دي، او ضرف پر فعل داخليږي. (۳) "إِذَا" مفاجاتيه[۲] چي د اچانک په معنٰی سره راځي او د ده مدخول جمله اسميه وي لکه: "خَرَجْتُ إِذَا الْأُسْتَاذُ قَائِمٌ".

۳. "مَتٰى" (۱) د "مَتٰى" معنٰی (چه کم وقت) "مَتٰى" د دوو معناوو دپاره راځي: (۱) د استفهام دپاره په دې وخت کي دَی منصوب محلا علی الظرفيت وي لکه: "مَتٰى نَصْرُ اللهِ" (۲) د شرط دپاره لکه: "مَتٰى تَذْهَبْ اَذْهَبْ".

دی د "بَعْدُ" دپاره مضاف اليه دئ. او کله مفعول به لکه: "وَاذْكُرُوْا إِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا" د "اذْكُرُوْا" دپاره مفعول به دئ "اَىْ اذْكُرُوْا وَقْتًا كُنْتُمْ قَلِيْلًا" يا بدل جوړيږي لکه: "وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا". دلته "إِذْ" بدل اشتمال دئ د "مَرْيَمُ" څخه او "مَرْيَمُ" مفعول به دئ د "اذْكُرْ" دپاره "اَىْ اُذْكُرْ وَقْتَ اِنْتِبَاذِ مَرْيَمَ" په دې ټولو صورتو کي دی زمان دئ او اسم دئ يا ظرف زمان دئ يا مفعول به و غيره دئ او د اسميت په صورت کي دی همېشه مضاف وي و جمله ته. (جامع الدروس العربية)

او "إِذْ" د شبه افتقاري په وجه مبني دئ ځکه کچيري دی اسم سي نو همېشه جملې ته مضاف کيږي يا د شبه وضعي په وجه که چيري دی حرف سي ځکه چي د "مِنْ" او "قَدْ" سره په وضع کي مشابهت لري.

(۱) "إِذَا" کله کله د ماضي دپاره هم استعماليږي لکه: "وَإِذَا رَاَوْ تِجَارَةً. حَتّٰى إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ" لېکن ډېر کم. او کله کله محض د ظرفيت دپاره راځي لکه: "وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى" چونکه په "إِذَا" کي د شرط معنی موجوده وي (يعني د يوې جملې مضمون مُرَتَّبْ وي، د بلي جملې پر مضمون باندي). نو ځکه د ده څخه وروسته جمله فعليه راوړل مختاره دئ.

(۲) او "إِذَا" کله کله د مفاجاة دپاره هم راځي لېکن په دې وخت کي به په ده کي د شرط معنی نه وي موجوده، داغه وجه ده چي د ده مابعد مبتداء جوړول مختاره دي دپاره د فرق په مېنځ کي د "إِذَا" مفاجاتيه او شرطيه او د مفاجاة په وخت کي دَی په معنی د حال سره وي نه د استقبال او دی حرف وي "لَا مَحَلَّ لَهَا مِنَ الْاِعْرَابِ" لکه: "فَاَلْقٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى" او په اتفاق د محققينو د "إِذَا" زمانيه عامل فعل شرط دئ او دا حمل دئ پر ټولو ادواتو د شرط او "عندالاكثر" د "إِذَا" عامل په جزاء کي نصب ور کونکی فعل يا شبه فعل دئ او "إِذَا" يا د شبه معنوي په وجه مبني دي ځکه دَی متضمن دئ معنی د شرط لره يا د شبه افتقاري په وجه ځکه دَی اکثره و جمله ته مضاف وي.

دريمه خبره:

۴. "كَيْفَ" (۲) د "كَيْفَ" معنٰى (څنګه) "كَيْفَ" هم د دوو معناوو دپاره راځي: (۱) د استفهام دپاره لکه: "كَيْفَ حَالُكَ" (۲) د شرط دپاره چي کله د ده څخه وروسته لفظ د "مَا" راسي لکه: "كَيْفَمَا تَذْهَبْ اَذْهَبْ".

۵. "اَيَّانَ" (۳) د "اَيَّانَ" معنٰى (کله) دی هم کله د استفهام دپاره راځي لکه: "اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ" او کله د شرط دپاره راځي لکه: "اَيَّانَ تَجْتَهِدْ تَجِدْ نَجَاحًا".

٦. "قَطُّ" (۴) د "قَطُّ" معنٰى (هيڅ کله) او "قَطُّ" د ماضي منفي دتاکيد دپاره راځي لکه: "مَارَاَيْتُ زَيْدًا قَطُّ" (ما هيڅ کله زيد نه دئ ليدلی).

۷. "عَوْضُ" (۵) "عَوْضُ" د مستقبل منفي د تاکيد دپاره راځي لکه: "لَااَشْرَبُ الْخَمْرَ عَوْضُ" (زه به هيڅ کله شراب نه چيښم) لېکن کچيري دی مضاف واقع سي بيا معرب منصوب دئ لکه "كَمَا يُقَالُ لَا اَفْعَلُهُ عَوْضَ الْعَائِضِيْنَ" "لَا اَفْعَلُهُ دَهْرَ الدَّاهِرِيْنَ وَ اَبَدَ الْآبِدِيْنَ".

---

(۱) "مَتٰى" د شبه معنوي په وجه مبني دئ ځکه دَی متضمن معنی د استفهام او شرط لره دئ، او "مَتٰى" کله په "حَتّٰى" او "اِلٰى" سره مجروره وي لکه: "اِلٰى مَتٰى يَرْتَعُ الْغَاوِيْ فِيْ غَيِّهِ. حَتّٰى مَتٰى يَبْقَى الضَّالُّ فِيْ ضَلَالِهِ". (همع الهوامع)

(۲) "كَيْفَ" کله خبر واقع کيږي لکه: "كَيْفَ اَنْتَ" (۲) کله د افعالو ناقصو خبر واقع کيږي لکه: "كُنْتَ كَيْفَ". (۳) کله حال مقدم واقع کيږي لکه: "كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ" (۴) کله مفعول به واقع کيږي لکه: "كَيْفَ جِئْتَ" (۵) کله د افعال قلوب دپاره مفعول ثاني وي لکه: "كَيْفَ ظَنَنْتَ الْاَمْرَ" او دَی د شبه وضعي او د شبه معنوي په وجه مبني دي ځکه دَی متضمن دي معنی د استفهام لره.

(۳) "اَيَّانَ" د شبه معنوي په وجه مبني دي ځکه دَی متضمن دئ معنی د استفهام لره د "اَيَّانَ" او "مَتٰى" په مينځ کي فرق دا دئ چي "اَيَّانَ" صرف د زمان مستقبل دپاره او د امور عظيمو د پوښتني دپاره راځي او "مَتٰى" عام دئ ماضي، مستقبل امور عظيمه غير عظيمه د ټولو دپاره راځي. (جامع الدروس العربية)

(۴) "قَطُّ" کله کله اسم فعل وي په معنی د "يَكْفِيْ" سره راځي او مضاف وي، بيا کله مضاف وي و اسم ظاهر ته لکه: "قَطُّ زَيْدٍ دِرْهَمٌ يَعْنِيْ يَكْفِيْ زَيْدًا دِرْهَمٌ" او په دې صورت کي دی مبني دئ او کله مضاف وي و ضمير ته، بيا کله و يا د متکلم ته مضاف کيږي لکه: "قَطْنِيْ" او کله کاف خطاب ته مضاف کيږي لکه: "قَطُّكَ" او دَی کله معرب جوړيږي لکه: "قَطُّ زَيْدٍ دِرْهَمٌ" په معنی د "حَسْبُ زَيْدٍ دِرْهَمٌ" سره وي او دَی چي کله ظرف وي نو دَی د شبه جمودي يا د شبه معنوي په وجه مبني دئ ځکه دَی متضمن معنی د "مِنْ اِسْتِغْرَاقِيَه" يا د "لام استغراقيه" لره وي. (همع الهوامع)

۵ "عَوْضُ" د مستقبل منفي د استغراق دپاره راځي او دَی د شبه جمودي يا شبه معنوي په وجه سره مبني دئ "كَمَا مَرَّ".

۸. "اَمْسِ" (۱) د "اَمْسِ" معنٰی (تېره سوې ورځ) "اَمْسِ" د تيرې سوې ورځې دپاره راځي او دی مبني بر کسره وي لکه: "جَاۤئَنِيْ زَيْدٌ اَمْسِ" او لفظ د "مَسَاءَ" هم ظرف دئ په معنٰی د مابنام سره استعماليږي.

څلورمه خبره:

"مُذْ و مُنْذُ" (۲) د دوو معناوو دپاره راځي:

(۱) د ابتداء مدت دپاره راځي. کله چې په جواب د "مَتٰی" کې راسي لکه: "مَتٰی مَا رَاَيْتَ زَيْدًا". جواب "مَارَاَيْتُهٗ مُذْ يَوْمُ الْجُمُعَةِ".

(۲) او کله د جميع مدت دپاره راځي چې په جواب کې د "کَمْ" راسي لکه: "کَمْ مُدَّةً مَارَاَيْتَ زَيْدًا" جواب: "مَارَاَيْتُهٗ مُذْ يَوْمَانِ".

---

(۱) "اَمْسِ" چې کله معرفه وي نو مبني بر کسره وي او منصوب محلاً وي بناء بر ظرفيت زمان، او د ده څخه مراد د نن ورځې څخه مخکې پرون ورځ ده ليکن کله کله دَی د نصب على الظرفيت څخه خارج سي او د "مِنْ" يا د "مُنْذُ مُذْ" په وجه مجروره سي او محلاً فاعل وي يا مفعول او يا بل شی وي "اَمْسِ" چې کله نکره وي يا مضاف وي يا الف لام پر داخل سي نو په دې درې صورتو کې په اتفاق سره دَی معرب دئ لکه: "مَضٰى اَمْسُنَا وَ مَضٰى الْاَمْسُ الْمُبَارَکُ کُلُّ غَدٍ صَارَ اَمْسًا اَمْسِ". "اَمْسِ" د شبه معنوي په وجه مبني دئ ځکه دَی د فعل ماضي معنی لره متضمن دئ او په دې صورت کې د ده څخه مراد د نن ورځې څخه مخکې هسې يو عامه ورځ ده د تيرو سوو ورځو څخه. (المقاصد النحوية بحواله جامع الدروس العربية)

(۲) "مُذْ. مُنْذُ" کله ظرف واقع کيږي: کله غير ظرف او حرف جر واقع کيږي. درې صورتونه دي: (۱) که چيرې د دوی څخه وروسته جمله اسميه وه يا فعليه ماضويه نو بيا دوی ظرف مضاف وي او د دوی څخه وروسته جمله په محل د جر کې ده لکه: "مَا تَرَکْتُ خِدْمَةَ الْاُمَّةِ مُنْذُ نَشَاْتُ". (۲) که چيرې د دوی څخه وروسته اسم مفرد مرفوع وو، نو بيا دوی غير ظرف دي. لکه: "مَا رَاَيْتُکَ مُذْ يَوْمُ الْجُمُعَةِ اَوْ مُذْ يَوْمَانِ"، نو بيا عند البصريين دوی مبتداء ما بعد اسم مرفوع يې خبر دئ يا برعکس، او عند الکوفيين هغه اسم مرفوع د فعل مقدر په وجه مرفوع دئ، "تَقْدِيْرُهٗ اَیْ مُذْ کَانَ اَوْ مَضٰى يَوْمُ الْجُمُعَةِ اَوْ يَوْمَانِ". (۳) که چيرې د دوی څخه وروسته اسم مجرور وي، نو بيا دوی حروف جاره دي بيا که چيرې ماضي زمانه وي نو دوی د "مِنْ" په معنی سره دي لکه: "مَارَاَيْتُهٗ مُذْ يَوْمِ الْخَمِيْسِ: اَیْ مِنْ يَوْمِ الْخَمِيْسِ" او که زمانه حال وي نو بيا دوی د "فِيْ" په معنی سره دي لکه: "مَارَاَيْتُهٗ مُذْ يَوْمِنَا: اَیْ فِيْ يَوْمِنَا" او که چيرې نکره معدوده وه نو بيا دوی په معنی د "مِنْ او اِلٰى" سره دي لکه: "مَارَاَيْتُهٗ مُنْذُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ: اَیْ مِنْ يا اِلٰى ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ". (حاشية الصبيان على شرح الاشموني)

او دوی د شبه وضعي په وجه باندي مبني دي ځکه د "مُذْ" وضع لکه: د "مِنْ" و "مُنْذُ" حمل دئ پر "مُذْ" باندي.

"لَمَّا" (۱) دا هم ظرف دئ د زمان ماضي دپاره راځي په معنٰی د "حِيْن" يعني د (کم وخت سره) لکه: "لَمَّا هَطَلَ الْمَطَرُ جَرَى السَّيْلُ" (چي کم وخت سخت باران وورېدئ نو سېلاب راغلئ).

"رَيْثَ، رَيْثَمَا" (۲) دا هم ظرف زمان دئ منقول د مصدر څخه دئ "رَاثَ، يَرِيْثُ، رَيْثًا" او بيا دی متضمن معنی د زمان لره سو او د ده څخه مراد مقدار وي لکه: "اِنْتَظَرْتُهُ رَيْثَ صَلّٰى اَیْ: قَدْرَ مُدَّةِ صَلَاتِهٖ، وَانْتَظِرْنِيْ رَيْثَ اَجِيْءُ اَیْ قَدْرَ مُدَّةِ مَجِيْئِيْ".

"آلْآنَ" (۳) ظرف زمان دئ د موجوده وخت دپاره راځي لکه: "آلْآنَ اَذْهَبُ".

"بَيْنَا، بَيْنَمَا" (۴) په اصل کي "بَيْنَ" دئ په آخر کي الف د اشباع دئ دمکان دپاره استعمالېږي لېکن کله د زمان دپاره هم استعمالېږي چي کله د ده په آخر کي الف او ما زائده راسي لکه: "سَاعَةُ الْجُمُعَةِ بَيْنَ خُرُوْجِ الْاِمَامِ وَاِنْقِضَاءِ الصَّلٰوةِ".

---

(۱) "لَمَّا" د شرط او جزاء تقاضا کوي کله چي دواړه فعلونه ماضي وي لکه: "لَمَّا جَاءَ اَكْرَمْتُهُ" او که چيري دی پر مضارع داخل سي نو بيا دی حرف جازم دئ لکه: "لَمَّا يَضْرِبْ" او که پر ماضي داخل سي، نو بيا حرف شرط دئ مثال يې تېر سو او که چيري د دې دوه ځايه څخه علاوه راسي نو بيا دی حرف استثناء دي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ وَ لَمَّا جَاءَ خَالِدٌ" په دې ټولو صورتو کي دی "مبني الاصل" حرف دي.

(۲) کله کله د "رَيْثَ، رَيْثَمَا" استعمال د هغه فعل سره راځي چي هغه مُصَدَّر په "مَا" او "اَنْ" مصدريتين سره وي لکه: "اِنْتَظِرْنِيْ رَيْثَمَا اَحْضُرُ، وَانْتَظَرْتُهُ رَيْثَ اَنْ صَلّٰى" يا د دوی دواړو څخه مجرد او خالي وي لکه: د متن په مثال کي نو په دې صورت کي به دوی مضاف وي و هغه مصدر مؤول ته چي هغه مؤول وي په "مَا" او "اَنْ" سره لکه د متن په مثال کي. او که چيري دوی مُصَدَّر په "مَا" و "اَنْ" سره نه وه نو بيا به دوی مضاف وي وجمله ته که چيري د جملې صدر مبني وو دوی به هم مبني بر فتحه وي لکه: "وَقَفَ رَيْثَ صَلَّيْنَا" او که چيري صدر د جملې معرب وو نو بيا به دوی هم معرب وي لکه: "لَا يَصْعُبُ الْاَمْرُ اِلَّا رَيْثَ يَرْكَبُهُ" او دوی د شبه افتقاري په وجه مبني دي ځکه دوی اکثره و جمله ته مضاف وي. (جامع الدروس العربية)

(۳) "آلْآنَ" يا خو د شبه معنوي په وجه مبني دئ ځکه دی متضمن معنی لره د "فِيْ" دئ. يا د شبه جمودي په وجه باندي او پر ده باندي د حروف جاره څخه "مِنْ، اِلٰى، حَتّٰى، مُذْ، مُنْذُ" داخلېدای سي لفظا مبني بر فتحه دئ محلا مجروره وي.

(۴) "بَيْنَا، بَيْنَمَا" د دوی څخه وروسته اکثره جمله اسميه راځي لېکن کله کله جمله فعليه هم راځي دوی د مکان دپاره دي کله د زمان دپاره هم راځي لېکن کله چي د ده سره "الف" يا "مَا" زائده ملحق سي نو بيا دوی په زمان پوري خاص دي.

پنځمه خبره:

ظروف مكان:

ظروف مكان مبهم هم پر دوه قسمه دي:

١. محدود لكه: "بَيْتٌ، مَسْجِدٌ، دَارٌ" او دوی معرب دي نو ځكه مصنف رحمه الله نه دي ذكر كړي.

٢. مبهم لكه: "قُدَّامٌ، تَحْتَ، فَوْقَ".

د ظروف مكان مبهم مختصره تشريح:

"اَيْنَ، اَنّٰى" (١) د دوو معناوو دپاره راځي (١) د استفهام دپاره لكه: "اَيْنَ تَذْهَبُ، اَنّٰى تَذْهَبُ". (٢) د شرط جازم دپاره لكه: "اَيْنَ تَجْلِسْ اَجْلِسْ، اَنّٰى تَقْعُدْ اَقْعُدْ".

"قَبْلَ، بَعْدَ (٢) قُدَّامٌ، فَوْقَ، خَلْفٌ، تَحْتَ، يَمِيْنٌ، شِمَالٌ، يَسَارٌ، اَوَّلُ، اَسْفَلُ، دُوْنَ، عَلُ بمعنى فَوْقَ، لكه: نَزَلْتُ مِنْ عَلٍ، اَمَامٌ، وَرَاءٌ" دا ټوله ظروف غايات دي د دوی دپاره ځلور حالتونه دي صرف په يوه

---

(١) "اَيْنَ، اَنّٰى" د شبه معنوي په وجه مبني دي او "اَيْنَ" په معنى د استفهام كله منصوب بيا بر ظرفيت وي لكه: "اَيْنَ خَالِدٌ" يا "اَيْنَ كُنْتَ" كله په "مِنْ" او "اِلٰى" سره مجرور وي لكه: "مِنْ اَيْنَ جِئْتَ اِلٰى اَيْنَ تَذْهَبُ" او كله په ده پسي "مَا" زائده د تاكيد هم ملحق كيږي لكه: "اَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ" "اَنّٰى" كله اسم شرط وي په معنى د "اَيْنَ" سره راځي لكه: "اَنّٰى تَجْلِسْ اَجْلِسْ" او كله استفهام وي په معنى د "مِنْ اَيْنَ" سره راځي لكه: "يَا مَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا اَىْ مِنْ اَيْنَ لَكِ هٰذَا" او كله په معنى د "كَيْفَ" سره راځي لكه: "اَنّٰى يُحْيِ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا اَىْ كَيْفَ يُحْيِيْهَا" او "اَنّٰى" كله ظرف زمان په معنى د "مَتٰى" سره راځي د استفهام دپاره لكه: "اَنّٰى جِئْتَ اَىْ مَتٰى جِئْتَ". (جامع الدروس العربية)

(٢) لفظ "غَيْرُ" چي كله د "لَيْسَ" او د "لَا" څخه وروسته راسي لكه: "لَيْسَ غَيْرُ لَا غَيْرَ" او لفظ د "حَسْبُ" و دې ټولو ته د ظروف غاياتو د مشابهت په وجه د ظروف غاياتو حكم وركول كيږي هغه په دې شكل چي كم ظروف مبني نه وي هغه چي كله مضاف سي و جملې ته يا و كلمه د "اِذْ" ته نو هغه مبني بر فتحه ويل هم جائز دي. د مبني د مصاحبت په وجه يا ٩ اضافت په وجه ځكه مضاف د مضاف اليه څخه بناء حاصلوي لكه: "يَوْمَ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ" او د دوی معرب ويل هم جائز دي، ځكه د مضاف د مضاف اليه څخه بناء حاصلول واجب نه دي. دا غه رنګه د لفظ د "غَيْرَ" او "مِثْلُ" هم معرب او مبني دواړه ويل جائز دي. په دې شرط چي يا به د "مَا" مصدريه سره راغلى وي، لكه: "مِثْلَ مَا اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ" يا به د "اَنْ" مفتوحه سره راغلى وي لكه: "ضَرَبْتُهُ، غَيْرَ اَنْ ضَرَبَ زَيْدٌ". يا به د "اَنْ" مخفف من المثقل سره وي لكه: "ضَرَبْتُهُ غَيْرَ اَنْ زَيْدًا قَائِمٌ" او د دوی بناء (مبني والى) د شبه افتقاري په وجه جائز وي، ځكه دوی مضاف اليه ته محتاجه دي او اعراب يې ځكه جائز دئ چي دوی په اصل كي اسم دي او د اسم اعراب جائز دئ او دوی ظروف نه دي صرف د بناء د مناسبت په وجه باندي دلته په ظروفو كي ذكر سوي دي. (همع الهوامع)

حالت کي مبني دي هغه دا چي مضاف الیه يې محذوف منوي وي، تفصیل د صورتو په دې شکل دئ:

۱. دواړه مضاف وي او مضاف الیه مذکور وي لفظًا او معنًا لکه: "جِئْتُکَ قَبْلَ زَیْدٍ وَ بَعْدَ عَمْرٍ".
۲. دواړه مضاف وي او مضاف الیه محذوف وي نسیًا منسیًا لکه: "رُبَّ بَعْدٍ کَانَ خَیْرًا مِنْ قَبْلٍ".
۳. دواړه بالکل مضاف نه وي لکه: "مِنْ قَبْلُ وَ مِنْ بَعْدُ".
۴. د دواړو مضاف الیه محذوف منوي وي یعني په لفظ کي حذف سوی وي صرف په نیت کي موجود وي لکه: "اَمَّا بَعْدُ اَیْ بَعْدَ الْحَمْدِ وَالصَّلٰوۃِ وَالتَّسْمِیَۃِ" "لِلّٰہِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ: اَیْ مِنْ قَبْلِ الْغَلَبَۃِ وَ مِنْ بَعْدِھَا" صرف په دغه صورت کي دی مبني بر ضمه دئ په باقي صورتو کي معرب دئ.

شپږمه خبره:

"حَیْثُ" (۱) ظرف مکان مبني علی الضم دئ اکثره و جمله فعلیه ته مضاف وِي لکه: "سَنَسْتَدْرِجُھُمْ مِنْ حَیْثُ لَا یَعْلَمُوْنَ" او کله کله و جمله اسمیه ته هم مضاف کیږي لکه: "اِجْلِسْ حَیْثُ خَالِدٌ جَالِسٌ".
لېکن کله چي په ده پوري "مَا" زائده ملحق سي نو بیا دَی شرط جازم دئ، لکه: "حَیْثُمَا تَذْھَبْ اَذْھَبْ".
"ھُنَا، ثَمَّ" (۲) دا اشارات د مکان دپاره راځي "ھُنَا" د مکان قریب دپاره "ثَمَّ" د مکان بعید دپاره راځي.

---

(۱) "حَیْثُ" د شبه افتقاري په وجه مبني دئ ځکه دَی مضاف الیه ته محتاج دئ او اکثره جمله ته مضاف وي لېکن کله کله مفرد ته هم مضاف وي بیا دی د مکان په معنی سره راځي بیا ځوک وايي دَی معرب دئ او ځوک وايي مبني دئ. لېکن مشهوره بنا ده لکه: "اَمَا تَرٰی حَیْثُ سُھَیْلٌ طَالِعًا اَیْ: مَکَانَ سُھَیْلٍ". او په ترکیب کي به دی مرفوع وي بنا بر ابتدائیت او د ده خبر محذوف وي لکه: "اِجْلِسْ حَیْثُ خَالِدٌ اَیْ حَیْثُ خَالِدٌ جَالِسٌ" او کله په "مِنْ" او "اِلٰی" سره مجروره وي لکه: "مِنْ حَیْثُ اَتَیْتَ اِلٰی حَیْثُ کُنْتَ".

(۲) او کله کله د "ثَمَّ" سره تاء تانیث ملحقه کیږي لکه: "فَمَضَیْتُ ثَمَّۃَ قُلْتُ لَا یَعْنِیْنِیْ" په دې وخت کي په محل د نصب کي وي او کله په "مِنْ" او "اِلٰی" سره محلًا مجروره کیږي لکه: "مِنْ ھٰھُنَا، اِلٰی ھٰھُنَا".

"مَعَ" (۱) د مكان او زمان د دواړو دپاره استعماليږي او د اجتماع معنٰى ور کوي لکه: "أَنَا مَعَكَ، جِئْتُ مَعَ الْفَجْرِ".

"دُوْنَ" (۲) ظرف مكان دئ او معنٰى د "فَوْقَ" ضد دئ لکه: "هُوَ دُوْنَهُ، اَحَطُّ مِنْهُ رُتْبَةً اَوْ مَنْزِلَةً اَوْ مَكَانًا".

"عِنْدَ، لَدٰى، لَدُنْ" عِنْدَ هم (۳) ظرف مكان دي په معنٰى د (لرولو) سره راځي لکه: "اَلْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ" (مال د زيد سره دئ) او "لَدٰى، لَدُنْ" هم د "عِنْدَ" په معنٰى سره راځي لېکن "عِنْدَ" عام دئ او "لَدٰى او لَدُنْ" خاص دي.

اوومه خبره:

اسماء کنايات:

اووم قسم د اسم غير متمكن اسماء کنايات دي (۴):

د اسماء کناياتو لغوي او اصطلاحي تعريف:

---

(۱) "مَعَ" عند البعض همېشه مبني بر سکون وي لېکن عند البعض دَی معرب لازم النصب دئ دَی اکثره په اضافت سره استعماليږي لېکن کله کله بغير اضافت د تنوين سره استعماليږي لکه: (مَعًا) په دې صورت کې دَی اکثره حال واقع کيږي لکه: "جِئْنَا مَعًا: اَیْ جَمِيْعًا" او کله په محل د خبر کې وي او دی ظرف متعلق با لخبر وي لکه: "خَالِدٌ وَسَعِيْدٌ مَعًا".

(۲) "دُوْنَ" کله کله د "اَمَامٌ، وَرَاءٌ" په معنى سره هم استعماليږي لکه: "اَلشَّيْئُ دُوْنَکَ اَیْ اَمَامَکَ. قَعَدَ دُوْنَ الصَّفِ اَیْ وَرَائَهُ".

(۳) "عِنْدَ، لَدٰى، لَدُنْ" په "لَدٰى، لَدُنْ" کې حضور شرط وي "فَلَا يُقَالُ لَدَیَّ کِتَابٌ نَافِعٌ اِلَّا اِذَا کَانَ حَاضِرًا" او "عِنْدَ" عام دئ د حاضر او غائب دواړو دپاره استعماليږي لفظ د "اَوَّلُ، او اَسْفَلُ، دُوْنَ" هم په اعراب کې د "قَبْلُ" او "بَعْدُ" په حکم کې دي. او "اَوَّلُ، اَسْفَلُ" د وزن فعل او وصفيت په وجه غير منصرف دي ځکه پر دوی تنوين نه راځي د لفظ "اَوَّلُ" څخه مراد که چيري وصف وي نو دَی په معنى د "اَسْبَقُ" سره دئ لکه: لَقِيْتُکَ عَامَ اَوَّلَ. او دَی غير منصرف دئ. او که وصف نه وي مراد بيا دَی منصرف دئ. لکه: "مَالَهُ اَوَّلٌ وَلَا آخِرٌ" اَوْ مَالَهُ اَوَّلَةٌ وَلَا آخِرَةٌ".

او کم ظروف چې جمله ته مضاف وي يا و مبهم معرفه ته مضاف وي يا د شرط او استفهام په معنى سره وي هغه نکره وي.

(۴) د کناياتو څخه ټول کنايات نه دي مراد ځکه بعضي کنايات معرب وي لکه: "فُلَانٌ، فُلَانَةٌ" چې د اعلامو څخه کنايه وي نو دوی معرب دي. (همع الهوامع)

کنایات جمع د کنایة ده کنایه په لغت کي "مَا یُکْنٰی بِهٖ" د یو شي د یو غرض پر بنیاد باندي په داسي الفاظو تعبیر کول چي هغه دلالت صراحةً نه وي بلکه کنایةً وي.

او په اصطلاح کي "هِيَ اَلْفَاظٌ مُبْهَمَةٌ مَا یُکْنٰی بِهَا مِنْ عَدَدٍ اَوْ حَدِیْثٍ اَوْ فِعْلٍ" کنایه هغه اسم دئ چي پر مبهم عدد یا پر مبهمه خبره باندي دلالت کوي.

او الفاظ د کنایة پنځه دي:

"کَمْ، کَذَا، کَاَیِّنْ، کَیْتَ، وَ ذَیْتَ".

"کَمْ، کَذَا، کَاَیِّنْ" (۱) کنایه د عدد څخه دي لکه: "کَمْ مَالًا اَنْفَقْتَ، عِنْدِيْ کَذَا دِرْهَمًا، وَ کَاَیِّنْ مِنْ آیَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ".

"کَیْتَ، ذَیْتَ" (۲) کنایه د خبري څخه دي او دوی اکثره د واو عطف سره مکرر استعمالیږي لکه: "سَمِعْتُ کَیْتَ وَ کَیْتَ" (ما داسي و داسي واورېدل)، یا لکه: "کَانَ بَیْنِيْ وَ بَیْنَ فَلَانٍ ذَیْتَ وَ ذَیْتَ" (زما او د فلانکي په مینځ کي داسي و داسي خبري وسوې) "فَعَلْتُ ذَیْتَ وَ ذَیْتَ" (ما داسي و داسي کار و کړئ).

مرکب بنائي:

اتم قسم د اسم غیر متمکن مرکب بنائي دئ: چي د ده بحث په تفصیل سره تېر سوی دئ، "فَلَانُعِیْدُهٗ".

---

(۱) "کَمْ" پر دوه قسمه دئ: (۱) "کَمْ" خبریه (۲) "کَمْ" استفهامیه او دَی د شبه معنوي په وجه مبني دئ ځکه دَی متضمن دئ معنی د استفهام لره او کم خبریه پر ده باندي حمل دئ.

"کَذَا" د کاف تشبیه او "ذَا" اسم اشاره څخه مرکب دئ "کَذَا" لکه: څنګه چي دَی د ترکیبه څخه مخکي مبني ور بعد الترکیب هم مبني دئ.

(۲) د "کَیْتَ و ذَیْتَ" پر "تَا" باندي درې سره اعرابه ویل جائز دي، "کَیْتُ، ذَیْتِ" او دوی د شبه اهمالي یا د شبه وقوعي په وجه مبني دي: ځکه دوی د جملې پر ځای واقع کیږي.

جملې:

عنوان	خبر انشاء	مسند	مسند الیه	معرب	مبنی	اسم غیر متمکن	تعیین اقسام اسم غیر متمکن
ثُمَّ بَعَثْنَاكُمْ مِنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ	خبر	بَعَثْنَا	نَا	۲. معرب	۶. مبنی	ظرف زمان/اسم ضمیر	بَعْدِ/كُمْ. نَا. كُمْ
فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ	انشاء	كُلُوا	أَنْتُمْ	+	۸. مبنی	ظرف مکان/اسم ضمیر	حَيْثُ/أَنْتُمْ/هَا/تُمْ
هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللهِ	خبر	مِنْ عِنْدِ اللهِ	هٰذَا	۳. معرب	۳. مبنی	اسم اشاره/اسم ظرف	هٰذَا/عِنْدِ
اللهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ	خبر	يَحْكُمُ	اللهُ	۳. معرب	۳. مبنی	ظرف زمان/اسم ضمیر	بَيْنَ/يَوْمَ/هُوَ/هُمْ
أَيْنَ تَذْهَبُونَ	انشاء	تَذْهَبُونَ	أَنْتُمْ	۱. معرب	۲. مبنی	ظرف زمان/ضمیر	أَيْنَ/أَنْتُمْ
وَيَقُولُونَ مَتَى هٰذَا الْوَعْدُ	خبر	يَقُولُونَ	هُمْ	۲. معرب	۳. مبنی	ظرف زمان/اسم اشاره/اسم ضمیر	مَتَى/هٰذَا/هُمْ
وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا	انشاء	اِجْعَلْ	أَنْتَ	۱. معرب	۸. مبنی	ظرف مشترک/اسم ضمیر	لَدُنْ/أَنْتَ/نَا/كَ
فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ	خبر	تُوَلُّوْنَ. فَثَمَّ	أَنْتُمْ/وَجْهُ اللهِ	۳. معرب	۵. مبنی	ظروف مکان/اسم ضمیر	أَيْنَمَا/ثَمَّ/أَنْتُمْ
قَبْ قَبْ صَوْتُ السَّيْفِ	خبر	صَوْتُ السَّيْفِ	قَبْ قَبْ	۲. معرب	۱. مبنی	اسماء اصوات	قَبْ قَبْ
قَدْ زَيْدًا دِرْهَمٌ	خبر	قَدْ	دِرْهَمٌ	۲. معرب	۱. مبنی	اسم فعل	قَدْ بمعنی يَكْفِي
وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا	خبر	يَمُرُّونَ	كَأَيِّنْ الخ	۵. معرب	۹. مبنی	اسم کنایه/اسم ضمیر	كَأَيِّنْ/هُمْ. هَا
أَمَامَكَ	انشاء	أَمَامَكَ بمعنی تَقَدَّمْ	أَنْتَ	۱. معرب	۲. مبنی	اسم فعل/اسم ضمیر	أَمَامَكَ بمعنی تَقَدَّمْ/أَنْتَ

التمرين:

"فَجَعَلْنَاهَا نَكَالًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا،، قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ،، أَيْنَ الْمَفَرُّ،، قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ،، وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ،، قَالَ زَيْدٌ نِخْ نِخْ،،وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ،، وَكَمْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا،، حَيَّهَلِ الصَّلٰوةَ،، مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِتَسْحَرَنَا بِهَا".

فصل بدانکه اسم بر دو ضرب است معرفه ونکره الخ:.......... الی قوله فصل بدانکه اسم بر سه صنف است.

ترجمه:

پوه سه! چې اسم پر دوه قسمه دئ: (۱) معرفه (۲) نکره.

معرفه هغه ده چې د معین شي دپاره وضع سوی وي او دا پر اووه قسمه ده: اول "مضمرات"، دوهم "اعلام" لکه: "زَيْدٌ وَعَمْرٌو" دریم "اسماء اشارات"، څلورم "اسماء موصولات"، او دې دوو قسمو ته مبهمات ویل کیږي. پنځم قسم معرفه بنداء لکه: "يَا رَجُل" شپږم قسم معرفه په الف لام سره لکه:

"اَلرَّجُلُ" اووم قسم چي ددوی څخه ويوه ته مضاف وي لکه: "غُلَامُهُ، غُلَامُ زَيْدٍ، غُلَامُ هٰذَا، غُلَامُ الَّذِيْ عِنْدِيْ، غُلَامُ الرَّجُلِ".

او نکره هغه ده چي د غير معين شي دپاره وضع سوی وي. لکه: "رَجُلٌ، فَرَسٌ".

پوه سه! چي اسم پر دوه قسمه دئ: (۱) مذکر (۲) مؤنث، مذکر: هغه اسم دئ چي په ده کي علامه د تانيث نه وي لکه: "رَجُلٌ" وغيره. او مؤنث هغه کلمه ده چي په ده کي علامه د تانيث موجوده وي، لکه: "اِمْرَاَةٌ" علامې د تانيث څلور دانې دي: اول تاء لکه: "طَلْحَةُ" دوهم الف مقصوره لکه: "حُبْلٰی". دريم الف ممدوده لکه: "حَمْرَاءُ". څلورم تاء مقدره لکه: "اَرْضٌ" چي په اصل کي "اَرْضَةٌ" وو په دليل د "اُرَيْضَةٌ" سره. ځکه تصغير شی خپل اصل ته ردوي. او و دې مؤنث ته مؤنث سماعي ويل کيږي.

پوه سه! چي مؤنث پر دوه قسمه دئ مؤنث حقيقي مؤنث لفظي، مؤنث حقيقي هغه دئ چي د ده په مقابله کي يو حيوان مذکر موجود وي. لکه: "اِمْرَاَةٌ" چي د دې په مقابله کي "رَجُلٌ" دئ. او "نَاقَةٌ" د دې په مقابله کي "جَمَلٌ" دئ او مؤنث لفظي هغه دئ چي د ده په مقابله کي حيوان مذکر نه وي. لکه: "ظُلْمَةٌ و قُوَّةٌ".

الدرس الخامس عشر:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د اسم اول تقسيم:

اسم په اعتبار د عموم او خصوص سره پر دوه قسمه دئ: (۱) معرفه (۲) نکره.

د معرفې تعريف:

معرفه "مَاوُضِعَ لِشَيْئٍ مُعَيَّنٍ" چي دی د يو معلوم شي دپاره وضع سوی وي. لکه: "عَمْرٌو بَكْرٌ".

د معرفې اقسام:

معرفه پر اووه قسمه ده: (۱) أعلام (۲) مضمرات (۳) اشارات (۴) موصولات (۵) معرفه بالنداء (٦) معرفه بالف لام (۷) چي مضاف وي و یوه د دا پنځو اقسامو ته ماسوای د معرفه بالنداء څخه.

فائده:

په ټوله دنیا کي اعرف د معارف لفظ د "الله" دئ ځکه چي د ده په وجه باندي و هر شي ته تعین او تعریف حاصل دئ.

اول علم:

د علم تعریف:

"اَلْعَلَمُ مَا وُضِعَ لِشَیْئٍ مُعَیَّنٍ لَا یَتَنَاوَلُ غَیْرَهُ بِوَضْعٍ وَاحِدٍ". علم هغه اسم دئ چي د معین شي دپاره وضع سوی وي. په داسي حال کي چي په وضع واحد سره بل شي لره شامل نه وي.

د علم اقسام [1]:

علم پر دري قسمه دئ: (۱) کنیت (۲) لقب (۳) اسم محضه.

که چیري په سر کي یې لفظ د "أَبٌ" یا د "أُمٌّ" یا د "اِبْنٌ" یا د "بِنْتٌ" راغلی وو هغه کنیت دئ: لکه: "أَبُوْ مُوْسٰی الْاَشْعَرِيّ". او که چیري د ده څخه مقصود مدح وه لکه: "اَلرَّشِیْدُ وَ زَیْنُ الْعَابِدِیْنَ"

---

[1] علم د بل تقسیم په اعتبار سره پر دوه قسمه دئ: (۱) علم شخص (۲) علم جنس. علم شخص چي د وضع په اعتبار سره په یو فرد پوري خاص وي د جنس نورو افرادو لره شمول نه کوي لکه: "زَیْدٌ".

علم جنس چي د جنس ټولو افرادو لره شمول کوي او په یو فرد پوري خاص نه وي لکه: "أُسَامَه". چي علم دئ د "اَسَدٌ" دپاره او د لفظ په اعتبار سره پر ده باندي د علم احکام جاري کیږي یعني په ده سره ابتداء کیږي لکه: "أُسَامَةُ هٰذَا" او د ده څخه حال واقع کیږي لکه: "هٰذَا أُسَامَةُ مُقْبِلًا" او دی غیر منصرف دئ نه پر ده باندي حرف تعریف داخلېدای سي او نه دده اضافت کیږي نو ځکه "اَلْأُسَامَةُ" یا "أُسَامَةُ الْغَابَةِ" ویل جائز نه دي، لکه: څنګه چي "اَلْاَسَدُ" و "اَسَدُ الْغَابَةِ" ویل کیږي، نو په دې اعتبار سره دَی معرفه دئ لېکن د معنی په اعتبار سره جنس دئ نکره دئ اطلاق یې پر کثیر او قلیل دواړو باندي کیږي.

د علم جنس او اسم جنس فرق دا دئ: چي علم جنس لفظا معرفه وي او معنا نکره او اسم جنس لفظا او معنا نکره وي نو ځکه پر ده باندي د علم احکام نسي جاري کېدای.

او اسم به یا د معین شخص دپاره وضع سوی وي. علم شخص دئ لکه: "زَیْدٌ" او که د ماهیت کلي دپاره وضع سوی وي نو بیا به یا په ذهن کي متعین وي یا به نه وي که په ذهن کي متعین وو هغه علم جنس دئ لکه: "أُسَامَةُ" او که په ذهن کي متعین نه وو هغه اسم جنس دئ لکه: "اَسَدٌ". (همع الهوامع جلد ۱ صفحه نمبر ۲۳۲)

او یا ذم وو لکه: "اَعْشٰی" (چي د شپې په سترګو نه ویني) "اَلشَّنْفَرِيُّ" (غټو شنډو والا) بیا لقب دئ او که چیرې مدح او ذم مقصود نه وو بیا اسم محضه دئ لکه: "زَیْدٌ".

مضمرات (۱):

په ټولو ضمائرو کې اعرف ضمیر د متکلم دئ بیا د مخاطب دئ او بیا د غائب ضمیر دئ.

دوهم اسماء اشارات (۲):

دریم موصولات:

"قَدْمَرَّ تَفْصِیْلُهَا".

معرفه بالنداء (۳):

لکه: "یَارَجُلُ" معرفه بالنداء هغه وخت معرفه وي چي کم وخت په ده کي تعین مقصود وي ورنه بیا دی نکره دئ لکه: "یَارَجُلًا خُذْ بِیَدِيْ".

معرفه بالف لام:

لکه: "اَلرَّجُلُ".

معرفه په اضافت معنوي:

---

(۱) په مضمرات کي اعرف د معارف ضمیر د متکلم دئ ځکه په ده کي التباس بالکل نه راځي لیکن د مخاطب په ضمیر کي ډېر ځله التباس راځي چي کم وخت مخاطب متعدد وي او بیا د غائب په ضمیر کي اَلتباس راځي په دې شرط چي دَی به سالم عن الابهام وي یعني د ده څخه مخکي به یو اسم صریحي وي خواه کهٔ معرفه وي او که نکره وي، او دَی هغه ته راجع وي، احترازي مثال لکه: "جَائَنِيْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو فَأَکْرَمْتُهٗ" د "اَکْرَمْتُهٗ" په ضمیر کي ابهام دئ چي "زَیْدٌ" ته راجع دئ او که "عَمْرٌو" ته په دې صورت کي د دغه ضمیر چي سالم عن الابهام نه دئ د ده مرتبه د علم ده بلکه د علم څخه هم کمه ده. (شرح شذور الذهب صفحه نمبر ۱۳۲، وحاشیة الصبیان ج۱ ص ۱۶۰)

(۲) اسماء اشارات وموصولات و دې دوه قسمو ته مبهمات وایي: ځکه اسم اشاره بغیر د اشاره حسیه څخه د مخاطب په ذهن کي مبهمه وي هغه په دې شکل چي د متکلم سره ډېر شیان وي او هر شی مشار الیه جوړېدای سي او دا غه رنګه موصول بغیر صله مبهم وي نو ځکه دوی ته مبهمات ویل کیږي. (نصر الخبیر)

(۳) عند البعض "یَارَجُلُ" نکره دئ لکه: څنګه چي قبل النداء نکره وو او عند البعض معرفه دئ لیکن د معرفه مستقل قسم نه دئ بلکه په معرف باللام کي داخل دئ ځکه دا په اصل کي "اَلرَّجُلُ" وو، کله چي حرف نداء پر داخله سوه نو بیا دوه صورته جوړیږي یا به "اَیُّهَا" د فاصله دپاره راوړل کیږي، یا به الف لام حذف کیږي. (همع الهوامع)

چي يو د دې پنځو شيانو ته مضاف وي. ما سواى د نداء څخه څکه په نداء کي دوه صورتونه ممکن دي او دواړه باطل دي:

۱. اول صورت: "غُلَامُ يَا زَيْدُ" په دې صورت کي فصل په مينځ کي د مضاف او مضاف اليه راځي "وَهُوَ بَاطِلٌ".

۲. دوهم صورت: "يَا غُلَامُ زَيْدٍ" په دې صورت کي زيد منادىٰ نه سو پاته "وَ هٰذَا اَيْضًا بَاطِلٌ لِاَنَّهُ خِلَافُ الْمَفْرُوْضِ".

دوهمه خبره:

فائده:

بعضي الفاظ د توغل ابهام په وجه باندي د اضافت الى المعرفه باوجود نه معرفه کيږي هغه [1] لکه: (۱) "نَحْوُ" (۲) "نَظِيْرُ" (۳) "شِبْهُ" (۴) "وَحْدُ" (۵) "غَيْرُ" (۶) "مِثْلُ" (۷) "شَانُ" (۸) "سِوٰى".

د نکرې تعريف:

"مَا وُضِعَ لِشَيْئٍ غَيْرِ مُعَيَّنٍ" (چي د نا معلوم شي دپاره وضع سوى وي).

د نکرې اقسام [2]:

نکره پر دوه قسمه ده: (۱) اسم ذات چي د جاندار (ساه لرونکي) يا بې جانه شيانو د ذات نوم وي، لکه: "اِنْسَانٌ، فَرَسٌ". (۲) اسم صفت چي د يو شي صفت يا شان بيانوي لکه: "حَسَنٌ، قَبِيْحٌ".

د اسم دوهم تقسيم:

---

[1] ليکن که چيري د دوى د مضاف اليه ضد يو شى وو نو بيا دوى معرفه کيږي لکه: "غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ" دلته د "اَلْمَغْضُوْب" ضد يو دئ چي "اَلضَّالِيْنَ" دئ او داغه رنگه "عَلَيْکَ بِالْحَرَکَةِ غَيْرَ السُّکُوْنِ" دلته د سکون ضد يو دئ چي حرکت دئ. (خضري جلد ا صفحه ۵۳)

[2] د نکرې علامات دا دي چي پر نکره باندي "اَلِف لَام، رُبَّ، کَمْ خبريه"، داخلېداى سي او حال و تميز واقع کېداى سي او د "لَا" "مُشَبَّه بِلَيْسَ" دپاره اسم واقع کېداى سي.

اسم په اعتبار د جنس سره پر دوه قسمه دئ: (۱) مذکر (۲) مؤنث ([1]).

د مذکر تعريف:

مذکر هغه اسم دئ چي په ده کي علامه د تانيث نه وي لکه: "رَجُلٌ".

د مؤنث تعريف:

مؤنث هغه اسم دئ چي په ده کي يوه علامه د علامو څخه د تانيث موجوده وي، لکه: "اِمْرَاَةٌ".

دريمه خبره:

د تانيث علامات:

د تانيث څلور علامې دي:

۱. "تاء" ملفوظه ([2]) لکه: "طَلْحَةُ".

۲. "تاء" مقدره ([3]) لکه: "اَرْضٌ" چي په اصل کي "اَرْضَةٌ" وو په دليل د "اُرَيْضَةٌ" سره.

۳. الف مقصوره لکه: "حُبْلٰی".

([1]) بعضي حضراتو د مذکر او مؤنث سره د متمکن قيد لګولی دئ چي اسم متمکن په اعتبار د جنس سره پر دوه قسمه دئ مذکر و مؤنث ځکه چي په اسم غير متمکن کي تذکير و تانيث وضعي دي لکه: "هُوَ" د مذکر دپاره او "هِيَ" د مؤنث دپاره وضع سوي دي. لېکن مذکر اصل دئ او مؤنث فرع دئ ځکه په دنيا کي پر هر شي باندي د "شي" اطلاق کېږي خواه که مذکر وي او که مؤنث وي او لفظ د "شي" مذکر دئ. او بله وجه دا ده چي مذکر د علامې او زياتوب محتاجه نه دئ او مؤنث د علامې يا د زياتوب محتاجه دئ، نو ځکه مذکر اصل دئ او مؤنث فرع ده.

که چيري د لفظ "مدلول" مراد سي بيا تذکير و تانيث صرف په اسماء کي متحقق کېږي نه په افعالو کي او نه په حروفو کي او که چيري لفظ "من حيث اللفظ" مراد سي نه د لفظ مدلول نو بيا تذکير و تانيث په اسماؤ او افعالو او حروفو په ټولو کي راتلای سي. (الصبيان جلد ۲ صفحه نمبر ۱۳۴)

([2]) "تَا" چي کله علامه د تانيث جوړېږي نو ددې دپاره شرط دا دئ چي دا به په حالت د وقف کي په "هَا" سره بدلېږي خواه که تاء ملفوظه وي او که مقدره وي لکه: "طَلْحَة، اَرْضَة".

([3]) "تَا" مقدره په درې علامو سره پېژندل کېږي: (۱) کله په تصغير سره پېژندل کېږي ځکه دا قاعده ده "لِاَنَّ التَّصْغِيْرَ وَالتَّكْسِيْرَ تَرُدَّانِ الشَّيْئَ اِلٰى اَصْلِهَا". لکه: د "اَرْضٌ" تصغير "اُرَيْضَةٌ" راځي. (۲) کله په ضمير سره پېژندل کېږي چي ضمير د مؤنث ورته راجع وي لکه: "فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ اُعِدَّتْ لِلْكَافِرِيْنَ". كَمَا قَالَ الشَّاعِرُ "يُعْرَفُ التَّقْدِيْرُ بِالضَّمِيْرِ... وَنَحْوِهٖ كَالرَّدِّ فِي الصَّغِيْرِ". (۳) او کله په اسم اشاره سره پېژندل کېږي چي د اسم اشاره مؤنث دپاره دی مشار اليه واقع سي لکه "هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ".

۴. الف ممدوده لکه: حَمْرَاءُ".

الف ممدوده چي کله علامه د تانیث جوړیږي د ده دپاره درې شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: د الف څخه وروسته به همزه اصلي نه وي احترازي مثال يې لکه: "قُرَّاءٌ" بر وزن "فُعَّالٌ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي همزه به منقلبه نه وي يعني د "واو" او "يَا" څخه به بدل نه وي راغلئ احترازي مثال لکه: "عَلَاءٌ، قَضَاءٌ" په اصل کي "عَلَاوٌ، او "قَضَايٌ" وو.

۳. دریم شرط يې دا دئ: چي همزه به د الحاق دپاره نه وي زیات سوی احترازي مثال لکه: "عِلْبَاءٌ" (د غاړي هغه اوږده پوله چي و دواړو طرفو ته وجود لري) ملحق د "قِرْطَاسٌ" (نښانه، ورق) اتفاقي مثال "صَحْرَاءُ، خَضْرَاءُ، عَزْرَاءُ".

فائده:

الف مقصوره چي کله علامه د تانیث جوړیږي نو د ده دپاره هم درې شرطونه دي (۱):

۱. چي الف مقصوره به زائده وي د تانیث دپاره او منقلبه نه وي احترازي مثال لکه: "فَتًی" (ځوان) "عَصًا" (لکړه) په اصل کي "فَتَيٌ" او "عَصَوٌ" وو.

۲. چي الف مقصوره به د الحاق دپاره نه وي زیات سوی احترازي مثال لکه: "اَرْطٰی" (یو قسم درخته ده) د "جَعْفَرٌ" سره د الحاق په وجه باندي الف مقصوره الحاقي دئ.

۳. الف مقصوره به د محض زیادت دپاره نه وي احترازي مثال لکه: "قَبَعْثَرٰی" (د ډنګر اوښ بچی) اتفاقي مثال لکه: "حُبْلٰی" (حامله ښځه).

---

(۱) الف مقصوره او الف ممدوده مطلقا پر څو قسمه راځي لیکن دلته د تانیث په باب کي مراد هغه الف مقصوره او الف ممدوده دي چي د تانیث دپاره زیات سوي وي نو ځکه بیا اعتراض په "مُوْسٰی، عِیْسٰی، مُصْطَفٰی، فَتٰی، عَصَا، قُرَّاءٌ، عِلْبَاءٌ" و غیره سره نه واردیږي؛ که څه هم په هغه کي الف مقصوره او الف ممدوده سته. (از مرتب عفي عنه)

ثلورمه خبره:

"تَا" د مختلفو معناوو دپاره استعمالیږي که چیري د اسم په شروع کي راغلې وه یا به حرف جر وي لکه: "تَاللهِ" یا به اسم اشاره وي لکه: "تَا، تِيْ، تِهٖ، تِهِيْ" او کچیري د اسم په آخر کي راغلې وه:

۱. کله د خطاب دپاره راځي لکه: "اَنْتَ".

۲. کله د واحد او جنس په مینځ کي د فرق کولو دپاره راځي لکه: "تَمْرٌ، تَمْرَةٌ، كَلِمٌ، كَلِمَةٌ".

۳. کله د مذکر دپاره راځي لکه: "ثَلَاثَةُ رِجَالٍ".

۴. کله د حرف محذوف په عوض کي وي لکه "عِدَّةٌ" (وعده) چي په اصل کي "وِعْدٌ" وو.

۵. کله د یا نسبت په عوض کي د جمع په آخر کي راځي لکه: د "حَنْبَلِيٌّ" څخه "حَنَابِلَةٌ" د "اَشْعَرِيٌّ" څخه "اَشَاعِرَةٌ".

٦. کله د نقل دپاره راځي لکه: "كَافِيَةٌ".

۷. کله د مبالغې دپاره راځي لکه: "رِوَايَةٌ" بمعنی "كَثِيْرُ الرِّوَايَة".

۸. کله د تاکید د مبالغې دپاره راځي لکه: "عَلَّامَةٌ نَسَّابَةٌ".

۹. کله د مصدریت دپاره راځي لکه: "فَاعِلِيَّت، مَفْعُوْلِيَّتْ".

۱۰. کله د وحدت دپاره راځي لکه: "نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ".

۱۱. کله د تاکید د تانیث دپاره راځي لکه: "نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ".

۱۲. کله د زینت (ښائست) دپاره راځي لکه: "بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ".

۱۳. کله زائده راځي لکه: د "زِنْدِيْقٌ" څخه "زَنَادِقَةٌ" لیکن د اسم په آخر کي د "تَا" اصل استعمال د مذکر او مؤنث د فرق کولو دپاره دئ په صفاتو کي په کثرت سره لکه: "مُسْلِمٌ، مُسْلِمَةٌ" او په اسماؤ کي په قلت سره.

او که چیري "تَا" د فعل په شروع کي راغلې وه نو بیا دا اکثره د حروف اتین څخه راځي لکه: "تَضْرِبُ" او که د فعل په آخر کي راغلې وه بیا کله صرف علامه د تانیث وي لکه: "ضَرَبَتْ" او کله

علامه د تانيث او ضمير د فاعل هم وي لکه: "ضَرَبْتِ" او کله صرف ضمير د مخاطب وي لکه: "ضَرَبْتَ" او کله ضمير د متکلم وي لکه: "ضَرَبْتُ".

پنځمه خبره:

د مؤنث تقسيمات:

په مؤنث کي دوه تقسيمونه کيږي:

"اَلتَّقْسِيْمُ الْاَوَّلُ":

د اول تقسيم په اعتبار سره مؤنث پر دوه قسمه دئ: (۱) مؤنث سماعي (۲) مؤنث قياسي.

د مؤنث سماعي تعريف:

مؤنث سماعي هغه مؤنث دئ چي په ده کي علامه د تانيث نه وي بلکه اهل لغت دی مؤنث استعمال کړی وي لکه: "شَمْسٌ".

د مؤنث قياسي تعريف:

مؤنث قياسي هغه مؤنث دئ چي په ده کي علامه د تانيث موجوده وي لکه: "اِمْرَاَةٌ" او علامې د تانيث خلور دي: "قَدْ مَرَّ تَفْصِيْلُهَا آنِفًا".

د مؤنث سماعي علامات:

د مؤنث سماعي نولس (۱۹) علامات دي:

۱. تاء مقدره ده لکه: "اَرْضٌ".
۲. هغه اسما چي صرف د مؤنث دپاره استعماليږي لکه: "اُمٌّ، اُخْتٌ، عَرُوْسٌ".
۳. اعلام د مؤنث يعني د مؤنث نومونه لکه: "زَيْنَبُ، مَرْيَمُ".
۴. صفات خاصه د مؤنث دي يعني هغه صفتونه چي صرف په ښځو کي استعماليږي لکه: "حَائِضٌ، طَالِقٌ، ثَيِّبٌ، بَاكِرٌ، مُطْفِلٌ، مُتْئِمٌ".
۵. د ملکو نومونه لکه: "مِصْرُ شَامُ".
۶. د قبيلو نومونه لکه: "بَنُوْ نَظِيْر، بَنُوْ قُرَيْظَه".
۷. اعضا متکرره د انسان سِوای د "خَدَّيْنِ او حَاجِبَيْنِ" څخه.

۸. د حيوانانو نو مونه لکه: "ثَعْلَبُ، اَرْنَبُ".

۹. د قدرتي اشياء نو مونه لکه: "اَرْضٌ، نَارٌ، مِلْحٌ".

۱۰. د جهنم نو مونه لکه: "سَقَرُ، سَعِيْرُ".

۱۱. د مصنوعي اشياء نو مونه لکه: "عَصَا، دَلْوٌ".

۱۲. د شرابو نو مونه لکه: "صَبُوْحٌ، غَبُوْقٌ".

۱۳. د غزاګانو نو مونه لکه: "حُنَيْن، بَدْر، اُحُدْ".

۱۴. د هواګانو نو مونه لکه: "قَبُوْلٌ، دَبُوْرٌ".

۱۵. د حروف نو مونه لکه: "حُرُوْفِ جَارَهْ، حُرُوْفِ نِدَاءْ".

۱٦. حروف تهجي لکه: "بَا، تَا".

۱۷. کله چي ضمير د مؤنث ورته راجع وي لکه: "وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا".

۱۸. چي اسم اشاره مؤنث ورته استعمال سوې وي، لکه: "هٰذِهٖ جَهَنَّمُ".

۱۹. چي صفت يې مؤنث راغلی وي، لکه: "جَهَنَّمُ الَّتِيْ".

شپږمه خبره:

فائده:

يو څو نور الفاظ دي چي عرب يې کله مؤنث استعمالوي او کله مذکر تفصيل يې په حاشيه کي موجود دئ ([1]).

([1]) بعض الفاظ چي عرب يې کله مذکر استعمالوي او کله مؤنث هغه دا الفاظ دي:
"اَرْضٌ، حَرْبٌ، خَمْرٌ، دَارٌ، رِيْحٌ، عَصَا، قَوْسٌ، رَحْمٌ، سُوْقٌ، نَفْسٌ، نَعْلٌ، كَاسٌ، سَبِيْلٌ، اِزَارٌ، حَالٌ، حَانُوْتٌ، طَرِيْقٌ، سِكِّيْنٌ، صَاعٌ، لِسَانٌ، اِسْتٌ"
لکه: عرب وايي: "اَلْفٌ فِي الْمَاءِ...وَاِسْتٌ فِي السَّمَاءِ". (ضوابط النحوية)

د مؤنث سماعي اقسام:

مؤنث سماعي پر دوه قسمه دئ: (۱) جائز التانيث (۲) واجب التانيث.

جائز التانيث (۱) هغه مؤنث سماعي دئ چي د ده تذكير او تانيث دواړه جائز وي يعني كله د مذكر ضمير ورته راجع كيږي لكه: "اَلسَّمَاءُ مُنْفَطِرٌ بِهِ" او كله د مؤنث ضمير ورته راجع كيږي لكه: "وَالسَّمَاء بَنَيْنَاهَا".

واجب التانيث (۲) هغه مؤنث سماعي دئ چي د ده تانيث واجب وي يعني د مذكر ضمير نسي ورته راجع كېداى بلكه همېشه د مؤنث ضمير ورته راجع كيږي لكه: "عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا اَحْضَرَتْ" "يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ،، وَنَفْسٍ وَّ مَا سَوَّاهَا".

فائده:

هغه مصادر چي د هغه څخه مراد وصف وي په هغه كي تذكير او تانيث على السوية (برابر) دي نو ځكه مصدر چي كله مبتداء واقع سي نو د ده خبر مذكر او مؤنث دواړه راوړل كېداى سي لكه: "اَلصَّلٰوةُ حَاضِرٌ، حَاضِرَةٌ". او دَی چي كله خبر واقع سي نو د ده مبتداء مذكر او مؤنث دواړه راتلاى سي لكه: "هٰذَا قَوْلٌ حَقٌّ. تِلْكَ قَضِيَّةٌ حَقٌّ".

فوائد:

۱. او علامې د تانيث همېشه د حروف اصليه وو څخه جلا وي. نو ځكه لفظ د "شَمْسٌ" په اصل كي "شَمْسَةٌ" وو او "عَيْنٌ" په اصل كي "عَيْنَةٌ" وو.

۲. او د بعضو اسماء وو په آخر كي علامه تانيث وي لېكن هغه مذكر استعماليږي لكه: "طَلْحَةُ. خَلِيْفَةٌ. مُغِيْرَةُ".

۳. او كله كله د جمع په آخر كي تاء زياتيږي لكه: "اَشَاعِرَةٌ. تَلَامِذَةٌ. اَسَاتِذَةٌ". (نصر الخبير)

(۱) د جائز التانيث الفاظ: "سَمَاءٌ. سَلَمٌ. قِدْرٌ. مِسْكٌ. حَالٌ. بَيْتٌ. طَرِيْقٌ. ثَرىٰ. عُنُقٌ. لِسَانٌ. سَبِيْلٌ. ضُحٰى. صَلَاحٌ. قَفَا. سِرْطَانٌ. سِكِّيْنٌ".

(۲) د واجب التانيث الفاظ: "عَيْنٌ. اُذْنٌ. نَفْسٌ. دَارٌ. دَلْوٌ. مِنٰ. كَفٌّ. جَهَنَّمُ. جَحِيْمٌ. سَعِيْرٌ. نَارٌ. لَظٰى. عَقْرَبٌ. اَرْضٌ. اِسْتٌ. عَضُدٌ. يَدٌ. عَصَا. فِرْدَوْسٌ. رِيْحٌ. خَمْرٌ. فَلَكٌ. غَوْلٌ. ثَعْلَبٌ. فَارِسٌ. اَرْنَبٌ. بِئْرٌ. ذَهَبٌ. تِبْرٌ. يَنْبُوْعٌ. دِرْعٌ. قَدَمٌ. كَبِدٌ. عَقِبٌ. اَفْعٰى. سَقَرٌ. حَرْبٌ. كَاْسٌ. ثَدْيٌ. عَنْكَبُوْتٌ. يَمِيْنٌ. شِمَالٌ. اِصْبَعٌ. رِجْلٌ. سَرَاوِيْلُ. ضَبُعٌ. سَاقٌ. شَمْسٌ". (ضوابط نحويه)

اوومه خبره:

د يو څو اوزانو او اسماؤ استعمال په اعتبار د تذکير او تانيث سره على السويه دئ:
يو څو اسماء او اوزان دي چي د مذکر او مؤنث دپاره على السويه (برابر) استعماليږي.

۱. اسم تفضيل چي کله مستعمل په "مِنْ" سره وي لکه: "اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ".
۲. حروف هجاء، لکه: "بَا، تَا، ثَا".
۳. مصادر او هغه اوزان چي د هغه په آخر کي تاء نه ملحق کيږي او هغه پنځه وزنونه دي:
۱. "فَعِيْلٌ" وزن دئ چي کله په معنى د مفعول سره وي لکه "رَجُلٌ جَرِيْحٌ، اِمْرَاَةٌ جَرِيْحٌ".
۲. "فَعُوْلٌ" وزن دئ چي کله په معنى د فاعل سره وي لکه "رَجُلٌ صَبُوْرٌ، اِمْرَاَةٌ صَبُوْرٌ".
۳. "مِفْعَالٌ" وزن دئ لکه "مِعْطَارٌ، مِقْوَالٌ، مِفْتَاحٌ".
۴. "مِفْعَلٌ" وزن دئ لکه "مِغْشَمٌ" په معنى د "شجاع او بهادر" سره.
۵. "مِفْعِيْلٌ" وزن دئ لکه "مِنْطِيْقٌ رَجُلٌ مِنْطِيْقٌ وَ اِمْرَاَةٌ مِنْطِيْقٌ، مِعْطِيْرٌ، مِسْكِيْرٌ يَعْنِيْ كَثِيْرُ الشُّكْرِ".
۶. "فِعْلٌ" وزن دئ چي کله په معنى د مفعول سره وي لکه: "ذِبْحٌ، طِحْنٌ" "نَاقَةٌ ذِبْحٌ" "جَمَلٌ ذِبْحٌ".
۷. "فَعَلٌ" وزن دئ چي کله په معنى د مفعول سره وي لکه: "جَزَرٌ، سَلَبٌ، نَاقَةٌ جَزَرٌ، جَمَلٌ جَزَرٌ".

د مؤنث دوهم تقسيم:
د دوهم تقسيم په اعتبار سره مؤنث پر دوه قسمه دئ:
۱. حقيقي.
۲. لفظي.

د مؤنث حقيقي تعريف:
مؤنث حقيقي هغه مؤنث دئ چي د ده په مقابله کي مذکر حيوان وي، لکه: "اِمْرَاَةٌ" د ده په مقابله کي "رَجُلٌ" دئ، او "نَاقَةٌ" د ده په مقابله کي "جَمَلٌ" دئ.

د مؤنث لفظي تعريف:

مؤنث لفظي هغه مؤنث دئ چي د ده په مقابله کي حيوان مذکر نه وي لکه: "ظُلْمَةٌ، قُوَّةٌ".

جملي:

عنوان	خبر، انشاء	مسند	مسند الیه	تعداد اسم غیر متمکن	تعداد معرفه، نکره	اقسام معرفه	مذکر	مؤنث
كَلَامُ اللهِ دَوَاءُ الْقَلْبِ	خبر	دَوَاءُ الْقَلْبِ	كَلَامُ اللهِ	+	۳. معرفه	اضافت/معرف باللام	۳. مذکر	+
جِرْفَةُ الْمَرْءِ كَنْزُهُ	خبر	كَنْزُهُ	جِرْفَةُ الْمَرْءِ	۱. ضمیر	۳. معرفه	اضافت/معرف باللام/ضمیر	۳. مذکر	۱. مؤنث
اَلدُّنْيَا مَشْحُونَةٌ بِالرَّزَايَا	خبر	مَشْحُونَةٌ	اَلدُّنْيَا	هِيَ	۳. معرفه ۱. نکره	معرف باللام/ ضمیر	+	۳. مؤنث
عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ	انشاء	اَلْزِمُوْا	اَنْتُمْ	۱. اسم فعل ۳. ضمائر	۸. معرفه	اضافت/معرف باللام/ ضمیر	۷. مذکر	۲. مؤنث
إِذَا أَرَادَ اللهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ	خبر	أَرَادَ/لَهُ	اَللهُ/مَرَدَّ	۱. اسم ظرف ۱. اسم ضمیر	۳. معرفه ۳. نکره	علم/ضمیر	۶. مذکر	+
يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ	انشاء	اُدْعُوْا	اَنَا	۲. اسم ضمیر	۲. معرفه	اضافت/معرف باللام/ضمیر	۱. مشترک	۳. مؤنث
وَالْأَرْضُ مُدَّتْ	خبر	مُدَّتْ	الْأَرْضُ	۱. اسم ضمیر	۲. معرفه	ضمیر/معرف باللام	+	۲. مؤنث
بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُوْرٌ	خبر	بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُوْرٌ	هٰذِهٖ/هُوَ	۱. اسم اشاره ۳. اسم ضمیر	۳. معرفه ۳. نکره	۱. اسم اشاره/ ۳. اسم ضمیر	۳. مذکر	۳. مؤنث
وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ	خبر	زَيَّنَ	نَا	۱. اسم ضمیر	۳. معرفه ۱. نکره	ضمیر/معرف باللام	۲. مذکر	۲. مؤنث
أُسْلُكْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوْءٍ	انشاء	أُسْلُكْ، تَخْرُجْ	هِيَ، أَنْتَ	۳. اسم ضمیر	۶. معرفه ۳. نکره	اضافت/ اسم ضمیر	۶. مذکر	۳. مؤنث
وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَاءَ	خبر	اَنْشَاَ	نَا	۲. اسم ضمیر	۳. معرفه ۱. نکره	ضمیر/علم/اضافت	۱. مذکر	۳. مؤنث
ذٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ	خبر	يُخَوِّفُ	ذٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ	اسم اشاره ۲. ضمیر	۵. معرفه	اسم اشاره/ضمیر/معرف باللام/اضافت	۵. مذکر	+

التمرين:

"وَاللهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ،، ذِكْرُ اللهِ طَمَانِيْنَةُ الْقَلْبِ،، هٰذِهٖ نَاقَةُ اللهِ،، اَلشَّيْخَانِ اَفْضَلُ الصَّحَابَةِ،، وَأَرْضُ اللهِ وَاسِعَةٌ،، سَادَةُ الْأُمَّةِ الْفُقَهَاءُ،، يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ،، وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى،، دَوْلَةُ الْأَرْذَالِ آفَةُ الرِّجَالِ،، سَلَامَةُ الْإِنْسَانِ فِي حَبْسِ النَّفْسِ".

بدانکه اسم بر سه صنف است واحد، مثنی مجموع الخ: .... الی قوله بدانکه اسم متمکن باعتبار وجوه اعراب بر شانزده قسم است.

ترجمه:

پوه سه! چي "اسم" پر دري قسمه دئ واحد، تثنيه، جمع "واحد" هغه اسم دئ چي پر يوه دلالت کوي لکه: "رَجُلٌ". مثنی هغه اسم دئ چي پر دوو دلالت کوي په دي طريقه: چي په آخر کي الف و

نون مكسوره يا "ياء" ماقبل مفتوح او نون مكسور يې په آخر كي راغلى وي، لكه: "رَجُلَانِ، رَجُلَيْنِ". او جمع هغه اسم دئ چي د دوو څخه پر زياتو باندي دلالت كوي په دې طريقه: چي په واحد كي تغير راغلى وي، لفظًا لكه: "رِجَالٌ" يا تقديرًا لكه: "فُلكٌ" واحد يې هم "فُلكٌ" دئ چي كله پر وزن د "قُفلٌ" راسي او جمع يې هم "فُلكٌ" ده چي كله پر وزن د "أُسْدٌ" راسي.

پوه سه! چي جمع د لفظ په اعتبار سره پر دوه قسمه ده:

۱. جمع تكسير.
۲. جمع تصحيح.

جمع تكسير هغه جمع ده چي د واحد بنا او وزن په دې كي محفوظه نه وي پاته سوى لكه: "رِجَالٌ، مَسَاجِدُ" د جمع تكسير اوزان په ثلاثي كي په سماع پوري تعلق لري قياس لره په دې كي دخل نسته او په رباعي او خماسي كي جمع تكسير د "فَعَالِلُ" پر وزن راځي لكه: د "جَعْفَرٌ" څخه "جَعَافِرُ" او د "جَحْمَرِشٌ" څخه "جَحَامِرُ" په حذف د حرف خامس سره.

او جمع تصحيح هغه ده: چي د واحد بنا په دې كي سالمه پاته سوې وي (صرف په آخر كي يې زياتوب راغلى وي).

بيا جمع تصحيح پر دوه قسمه ده:

۱. جمع مذكر.
۲. جمع مؤنث.

جمع مذكر هغه ده چي په آخر كي يې واو ماقبل مضموم او نون مفتوح راغلى وي لكه: "مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمِيْنَ".

جمع مؤنث هغه ده چي په آخر كي يې الف و تاء راغلي وي، لكه: "مُسْلِمَاتٌ".

پوه سه! چي جمع د معنٰى په لحاظ سره پر دوه قسمه ده:

۱. جمع قلته.
۲. جمع كثرته.

جمع قلته هغه ده: چي تر لسو پر کم باندي د دې اطلاق کيږي او د دې څلورو وزنو څخه پر يو وزن راغلې وي هغه: "اَفْعُلٌ" لکه: "اَكْلُبٌ"، "اَفْعَالٌ" لکه: "اَقْوَالٌ"، "اَفْعِلَةٌ" لکه: "اَعْوِنَةٌ"، "فِعْلَةٌ" لکه: "غِلْمَةٌ"، او دوې جمع تصحيح بغير الف و لام لکه: "مُسْلِمُوْنَ مُسْلِمَاتٌ".

او جمع کثرته هغه ده چي پر لس يا تر لسو پر زيات باندي دلالت کوي د دغه شپږو وزنو څخه ماسوای باقي وزنونه د جمع کثرته دي.

الدرس السادس عشر:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د اسم دريم تقسيم:

اسم په اعتبار د تعدد سره پر درې قسمه دئ:

۱. واحد.
۲. مثنى.
۳. مجموع.

د واحد تعريف (۱):

واحد هغه اسم دئ چي پر يوه باندي دلالت کوي لکه: "رَجُلٌ".

د مثنى تعريف (۲):

---

(۱) واحد هغه مفرد دئ چي دى پر يوه دلالت کوي لکه: "رَجُلٌ" نو ځکه "اَلرَّجُلُ" دوې کلمې جوړيږي. (نصر الخبير)

(۲) بعضو حضراتو د تثنيې تعريف او وضاحت په دې شکل بيان کړى دئ "اِسْمٌ مُعْرَبٌ نَابَ عَنْ مُفْرَدَيْنِ اِتَّفَقَا لَفْظًا وَ مَعْنًا بِزِيَادَةِ اَلِفٍ وَنُوْنٍ اَوْ يَاءٍ و نُوْنٍ مَكْسُوْرَةٍ فَاِنْ اِخْتَلَفَا فِي اللَّفْظِ فَهُوَ مِنْ بَابِ التَّغْلِيْبِ نَحْوَ عُمَرَيْنِ فَلَا يُثَنَّيَانِ فَاِنْ اِخْتَلَفَا فِي الْمَعْنٰى فَهُوَ مِنَ الْمُشْتَرَكِ نَحْوَ عَيْنَيْنِ فَلَا يُثَنَّيَانِ.

لِلَّفْظِ مَعْنَيَانِ حَقِيْقِيٌّ وَ مَجَازِيٌّ نَحْوَ رَاَيْتُ اَسَدَيْنِ اَىْ اَسَدًا حَقِيْقِيًّا وَ رَجُلًا شُجَاعًا وَ اِنْ نَابَ عَنْ مُفْرَدَيْنِ بِلَا زِيَادَةٍ فَلَيْسَ بِمُثَنًّى كَشَفْعٍ وَ زَوْجٍ وَ اِنْ نَابَ عَنْ مُفْرَدَيْنِ بِزِيَادَةٍ غَيْرِ صَالِحَةٍ لِلْاِسْقَاطِ وَ تَجْرِيْدِ الْاِسْمِ مِنْهَا كَاثْنَيْنِ وَ كِلَا وَ كِلْتَا فَلَيْسَ بِمُثَنًّى بَلْ مُلْحَقٌ بِهٖ فِي الْاِعْرَابِ". (همع الهوامع)

مثنى هغه اسم دئ: چي پر دوو دلالت کوي په دې سبب چي "الف" ماقبل مفتوح يا "يَاء" ماقبل مفتوح او نون مکسوره (۱) يې په آخر کي راغلی وي، لکه: "رَجُلَانِ، رَجُلَيْنِ".

د مجموع تعريف:

جمع هغه اسم دئ چي د دوو څخه پر زيات باندي دلالت کوي په دې سبب چي په واحد کي يې تغير يا زياتوب راغلی وي لکه: "رِجَالٌ، مُسْلِمُوْنَ".

د تثنيې اقسام:

تثنيه پر درې قسمه ده:

۱. تثنيه حقيقي.
۲. تثنيه مجازي.
۳. تثنيه تغليبي.

د تثنيه حقيقي تعريف:

تثنيه حقيقي هغه تثنيه ده چي دا په حقيقت کي لفظًا، معنًا او مفردًا تثنيه وي لکه: "مُسْلِمَانِ".

د تثنيې حقيقي شرطونه:

د تثنيې حقيقي دپاره څلور شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي لفظ به يې د تثنيې وي، احترازي مثال لکه: "كِلَا وَكِلْتَا".
۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي معنٰى به يې د تثنيې وي احترازي مثال لکه: "صِنْوَانٌ".

---

(۱) نون د تثنيې د څو وجو په وجه مکسوره دئ:

۱. چي دی د الف او ياء ماقبل مفتوح څخه وروسته راځي نو ځکه پر ده باندي کسره نه ده ثقيله او نون د جمع د واو ماقبل مضموم او ياء ماقبل مکسور څخه وروسته راځي نو پر ده باندي کسره ثقيله ده نو ځکه يې فتحه ور کړه او که چيري يې عکس کړی وای نو بيا ثقل لازمېدئ "لِتَوَالِي الْاَجْنَاسِ اَوْ لِلْخُرُوْجِ مِنَ الضَّمِّ اِلَى الْكَسْرِ" (اسرار العربية).
۲. او تثنيه متوسطه ده په مينځ د مفرد او جمع کي او کسره متوسطه ده په مينځ د فتحې او ضمې کي نو متوسط يې متوسط ته ور کړئ.
۳. عند البعض نون د تثنيې د تنوين عوض دئ او تنوين په اصل کي نون ساکن دئ او قاعده ده "اَلسَّاكِنُ اِذَا حُرِّكَ حُرِّكَ بِالْكَسْرِ".
۴. او که چيري يې فتحه ور کړې وای، نو بيا توالي د اربع فتحاتو لازمېده.
۵. نون د تثنيې به ځکه مکسوره وي چي فرق راسي په مينځ د تثنيې او جمع کي. (همع الهوامع)

۳. دریم شرط یې دا دئ: چې د خپل لفظ څخه به مفرد لري احترازي مثال لکه: "اِثْنَانِ اِثْنَتَانِ".

۴. څلورم شرط یې دا دئ: چې مرکب مِنَ الْمِثْلَیْن به وي احترازي مثال لکه: "اَبَوَیْنِ، شَمْسَیْنِ" اتفاقي مثال: "مُسْلِمَانِ، مُسْلِمَیْنِ".

دوهمه خبره:

د تثنیې مجازي تعریف:

تثنیه مجازي هغه تثنیه ده چې حقیقتا تثنیه نه وي: بلکه د تثنیې سره د یو مشابهت په وجه مجازًا تثنیه ورته ویل کیږي لکه: "کِلَا، کِلْتَا، اِثْنَانِ وَاِثْنَتَانِ".

او د دې څلور شکلونه جوړیږي چې د تثنیې حقیقي د شرطو په ضمن کې تېر سو.

د تثنیې تغلیبي تعریف:

تثنیه تغلیبي هغه تثنیه ده چې د حقیقت په لحاظ سره پر یوه فرد صادقیږي لېکن و دغه فرد ته یې غلبه ور کړې وي پر بل فرد باندې لکه: "اَبَوَیْنِ، شَمْسَیْنِ، قَمَرَیْنِ، عُمَرَیْنِ".

د جمعې تقسیمات:

په جمع کې درې تقسیمونه کیږي:

"اَلتَّقْسِیْمُ الْاَوَّل":

د اول تقسیم په اعتبار سره جمع پر درې قسمه ده:

۱. جمع حقیقي.
۲. جمع حکمي.
۳. اسم جمع.

د جمع حقیقي تعریف (۱):

جمع حقیقي هغه جمع ده چې لفظًا، معنًا او مفردًا جمع وي لکه: "رِجَالٌ، مُسْلِمُوْنَ".

---

(۱) بعضو حضراتو د جمع تعریف په دې ډول کړی دئ: "اِسْمٌ مُعْرَبٌ نَابَ عَنْ ثَلَاثَةٍ اَوْ اَکْثَرَ بِزِیَادَةٍ فِيْ آخِرِهٖ کَکَاتِبِیْنَ اَوْ تَغْیِیْرٍ فِيْ بِنَائِهٖ مِثْلُ "رِجَالٍ". (خضري جلد ۲ صفحه ۱۰۰)

د جمع حقيقي شرائط:
د جمع حقيقي دپاره درې شرطونه دي:
۱. اول شرط يې دا دئ: چي د خپل لفظ څخه به مفرد لري احترازي مثال لكه "أُولُوْ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي لفظ به يې د جمع وي، احترازي مثال لكه: "قَوْمٌ، رَهْطٌ".
۳. دريم شرط يې دا دئ: چي معنٰى به يې د جمع وي احترازي مثال لكه: "عِشْرُوْنَ".
اتفاقي مثال لكه: "رِجَالٌ، مُسْلِمُوْنَ".

دريمه خبره:

د جمع حكمي تعريف:
جمع حكمي هغه جمع ده چي د حقيقت په لحاظ سره خو جمع نه وي لېكن د جمع سره د مشابهت په وجه حكمًا جمع ورته ويل كيږي لكه: "أُولُوْ، عِشْرُوْنَ".
او د جمع حكمي درې شكلونه جوړيږي، چي د جمع حقيقي په ضمن كي يې تفصيل تېر سو.
د تثنيې او جمعي دپاره چند مشترک شرطونه:
د تثنيې او جمعي د ثبوت دپاره اته (۸) شرطونه دي:
۱. اول شرط يې دا دئ: چي افراد به وي (مفرد والى) نو ځكه د تثنيې تثنيه او د جمع جمع نه سي جوړېداى.
۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي معرب والى به وي، ځكه د مبني تثنيه او جمع نه سي جوړېداى.
۳. دريم شرط يې دا دئ: چي مركب به نه وي، ځكه د مركب لكه: "زَيْدٌ عَالِمٌ" تثنيه او جمع نه سي راتلاى.
۴. څلورم شرط يې دا دئ: چي تنكير (۱) به وي، ځكه د علم تثنيه او جمع نه سي جوړېداى. "إِلَّا بَعْدَ التَّنْكِيْرِ".

---

(۱) ځكه د علم جمع نه سي جوړېداى مگر بعد التنكير دغه وجه ده چي كم اسماء د اعلامو څخه كنايه واقع كيږي لكه: "فُلَانٌ، فُلَانَةٌ"، د هغه تثنيه او جمع نه سي جوړېداى چي كله دوى نكره واقع سي د دوى د معرفه توب دپاره پر دوى الف لام داخليږي چي د دوى علميت مسلوب نه سي مگر "جَمَادَيْنِ" چي د دوو مياشتو نومونه دي، او "عَمَايَتَيْنِ" چي د دوو غرو نومونه دي او

۵. پنځم شرط يې دا دئ: چي اتفاق د لفظ (يعني لفظ به يې سره يو وي) لکه: "مُسْلِمٌ، مُسْلِمَانِ، مُسْلِمُوْنَ". لهذا چي د کمو اسماؤ ثاني د اوله سره نه وي لکه: "شَمْسٌ، قَمَرٌ"، د هغه تثنيه او جمع نه سي راتلای. "اِلَّا تَغْلِيْبًا".

۶. شپږم شرط يې دا دئ: چي د دغه تثنيې (۱) او جمع په وجه به د يو بلي تثنيه او جمع څخه استغناء نه راځي نو لهذا د لفظ د "بَعْضٌ، اَوْ سَوَاءٌ"، تثنيه او جمع نه سي راتلای. ځکه د لفظ د "بَعْضٌ" د تثنيه څخه استغناء په لفظ د "جُزْءٌ" د تثنيه سره راځي او د لفظ د "سَوَاءٌ" د تثنيې څخه استغناء په لفظ د "سِيَّانِ" سره راځي.

۷. اووم شرط يې دا دئ: چي د تثنيې او جمعي پر جوړولو باندي به يو فائده مرتبه وي نو لهذا د لفظ د "کُلٌ" تثنيه او جمع جوړول جائز نه دي.

۸. اتم شرط يې دا دئ: چي هغه اسم به مشابهت د فعل سره نه لري نو ځکه کم اسم تفضيل چي مستعمل په "مِنْ" سره وي د هغه تثنيه او جمع راوړل جائز نه دي، ځکه اسم تفضيل د فعل سره په معنى حدثي کي مشابهت لري.

"عَرَفَاتٌ" و غيره مستثنى دي ځکه د دوی علميت په تثنيه او جمع جوړولو سره نه سي مسلوب کېدای نو داغه وجه ده چي نه پر دوی باندي الف لام داخلېږي او نه دوی مضاف واقع کيږي.

(۱) دغه وجه ده چي د اسماء عددو تثنيه او جمع نه سي راوړل کېدای ماسوا د لفظ د "مِاَةٌ"، او د "اَلْفٌ" څخه ځکه د "ثَلَاثَةٌ" د تثنيې کار "سِتَّةٌ" اجراء کوي داغه رنګه عندالبعض د لفظ د "اَجْمَعُ" او د "جُمَعُ" تثنيه جائزه نه ده؛ ځکه د دوی د تثنيې وظيفه "کِلَا وکِلْتَا" اجراء کوي.(همع الهوامع)

او د تثنيې او جمع اصل حقيقت عطف دئ د اختصار دپاره تثنيه او جمع جوړيږي مثلاً "قَامَ الزَّيْدَانِ" په اصل کي "قَامَ زَيْدٌ وَ زَيْدٌ" وو. او د دوی د عطفيت پر اصليت باندي دليل دا دئ چي په اضطراري حالت کي د مفرد تکرار را وړل کيږي لکه: "لَيْثٌ وَ لَيْثٌ".

څلورمه خبره:

د اسم جمع تعريف (۱):

اسم جمع هغه اسم دئ چي معنٰی يې د جمع وي لېکن لفظًا درې شکلونه لري:

د اسم جمع شکلونه:

۱. اول شکل يې دا دئ: چي معنٰی يې د جمع وي، لېکن واحد نه لري لکه: "قَوْمٌ، رَهْطٌ" (قبيله) "جَيْشٌ، قَبِيْلَةٌ".

۲. دوهم شکل يې دا دئ: چي معنًا جمع وي او واحد هم لري لېکن وزن يې د جمع نه وي لکه: "رَكْبٌ" جمع د "رَاكِبٌ" ده او "صَحْبٌ" جمع د "صَاحِبٌ" ده.

۳. دريم شکل يې دا دئ: چي واحد هم لري او وزن يې هم د جمع وي لېکن احکام د مفرد پر جاري کيږي لکه: د "رَكُوْبَةٌ" څخه "رَكَابِيٌّ" په ياء نسبتي سره ويل.

"اَلتَّقْسِيْمُ الثَّانِيْ":

جمع په اعتبار د لفظ سره پر دوه قسمه ده:

۱. جمع تکسير.

۲. جمع تصحيح. (سالم)

د جمع تکسير تعريف:

جمع تکسير هغه جمع ده چي بنا د واحد په دې کي سالمه نه وي پاته سوی. لکه: "رِجَالٌ، مَسَاجِدُ".

فائده:

په جمع مکسره کي به تغير د واحد څخه راغلی وي او تغير پر دوه قسمه دئ:

---

(۱) يو اسم جمع ده او بل اسم جنس دئ: اسم جنس هغه دئ چي د ده اطلاق پر قليل او کثير باندي على السويه (برابر) کيږي بيا اسم جنس پر درې قسمه دئ: (۱) افرادي (۲) جمعي، (۳) احادي. اسم جنس افرادي هغه اسم جنس دئ چي "مُتَشَابِهُ الْاَجْزَاءِ" وي او د کل او جزء نوم يې سره يو وي يعني پر قليل او کثير باندي برابر صادقيږي لکه: "مَاءٌ اَوْ لَبَنٌ".
او اسم جنس جمعي هغه اسم جنس دئ: چي د وضع په اعتبار سره د ده اطلاق پر قليل او کثير باندي کيږي لېکن د استعمال په اعتبار سره د ده اطلاق تر دوه څخه پر زيات باندي کيږي. او د ده او د واحد په مينځ کي فرق ور کونکی شی "تَا" يا "يَا" وي لکه: "تَمْرٌ، وَتَمْرَةٌ، رُوْمٌ، رُوْمِيٌّ". اسم جنس احادي چي على سبيل البدليت پر هر فرد باندي صادقيږي لکه: "رَجُلٌ". (همع الهوامع)

۱. تغیر حکمي.
۲. تغیر حقیقي.
د تغیر حکمي تعریف:
تغیر حکمي هغه تغیر دئ چي په لفظو کي بالکل تغیر نه وي بلکه تغیر فرض سوی وي لکه: "فُلْکٌ" (۱) واحد یې هم "فُلْکٌ" دئ او جمع یې هم "فُلْکٌ" ده لفظًا څه تغیر نسته. تقدیرًا تغیر دا دئ: چي "فُلْکٌ" که چیري پر وزن د "قُفْلٌ" فرض سي بیا دَی واحد دئ او که چیري پر وزن د "أُسْدٌ" فرض سي بیا دی جمع ده.

پنځمه خبره:

د تغیر حکمي د پېژندلو طریقه:
۱. تغیر حکمي یا خو د بین السطور و الحاشیة څخه معلومیږي.
۲. یا د ضمیر څخه معلومیږي که د مفرد مؤنث ضمیر یا د جمع ضمیر ورته راجع وو بیا جمع ده او که د مفرد مذکر ضمیر ورته راجع وو، نو بیا مفرد دئ.
۳. یا د صفت څخه معلومیږي.
تغیر حقیقي:
تغیر حقیقي هغه تغیر دئ چي دی ظاهرًا په لفظو کي موجود وي او تغیر حقیقي په شپږو شکلو باندي راځي:
۱. اول: د مفرد څخه یې تغیر په زیاتوب سره راغلی وي، معْ بقاء الشکل، لکه: د "صِنْوٌ" څخه "صِنْوَانٌ".
۲. دوهم: د مفرد څخه یې تغیر په نقصان د حروفو راغلی وي مع بقاء الشکل لکه: د "تُخَمَةٌ" څخه "تُخَمٌ".

---

(۱) د "فُلْکٌ" مفرد کېدل او جمع کېدل دا د سبویه مذهب دئ او عند صاحب تسهیل مختاره خبره دا ده: چي "فُلْکٌ" لفظ مشترک دئ، په مینځ د مفرد او جمع کي: "فَلَا یُقَدَّرُ فِیْهِ التَّغْیِیْرُ". (حاشیة خضري جلد ۲ صفحه ۱۰۰)

۳. دريم: د مفرد څخه يې تغير په تبديلي د شکل راغلی وي، نه په تغير د زياتوب او نقصان سره د حروفو لکه: د "اَسَدٌ" څخه "اُسْدٌ".

۴. څلورم: د مفرد څخه يې تغير په زياتوب د حروفو راغلی وي او شکل يې هم بدل سوی وي، لکه: د رَجُلٌ" څخه "رِجَالٌ".

۵. پنځم: د مفرد څخه يې تغير په نقصان د حروفو راغلی وي او شکل يې هم بدل سوی وي، لکه: د "رَسُوْلٌ" څخه "رُسُلٌ".

٦. شپږم: د مفرد څخه يې تغير په زياتوب او نقصان سره راغلی وي، او شکل يې هم بدل سوی وي. لکه: د "غُلَامٌ" څخه "غِلْمَانٌ".

شپږمه خبره:

فائده:

جمع تکسيره کچيري ثلاثي وه بيا په سماع پوري تعلق لري او مستعمل مشهوره اوزان يې په حاشيه کي موجود دئ[1].

او که چيري رباعي يا خماسي وه بيا پر وزن د "فَعَالِلُ" راځي په حذف د حرف خامس سره لکه: د "جَعْفَرٌ" څخه "جَعَافِرُ" او د "جَحْمَرِشٌ" څخه "جَحَامِرُ".

د جمع تکسيري اقسام:

جمع تکسيره پر دوه قسمه ده:

---

[1] د جمع تکسيري ثلاثي مشهوره اوزان دا دي: (۱) "فِعَالٌ" لکه: "كِلَابٌ" "كَلْبٌ" (۲) "فُعُوْلٌ" لکه: "حُقُوْقٌ" "حَقٌّ" (۳) "فُعُلٌ" لکه: "كُتُبٌ" "كِتَابٌ" (۴) "فُعْلَانٌ" لکه: "بُلْدَانٌ" "بَلَدٌ" (۵) "اَفْعِلَاءُ" لکه: "اَنْبِيَاءُ" "نَبِيٌّ" (٦) "فَعْلٰى" لکه: "مَرْضٰى" "مَرِيْضٌ" (۷) "فُعَلَاءُ" لکه: "عُلَمَاءُ" "عَالِمٌ". (۸) "فَعَلَةٌ" لکه: "كَفَرَةٌ" "كَافِرٌ" (۹) "فِعَلٌ" لکه: "فِرَقٌ" "فِرْقَةٌ" (۱۰) "فِعْلَانٌ" لکه: "غِلْمَانٌ" "غُلَامٌ" (۱۱) "اَفْعَالٌ" لکه: "اَقْوَالٌ" "قَوْلٌ" (۱۲) "اَفْعُلٌ" لکه: "اَكْلُبٌ" "كَلْبٌ"، (۱۳) "فِعْلَةٌ" لکه: "غِلْمَةٌ" "غُلَامٌ". (۱۴) "اَفْعِلَةٌ" لکه: "اَعْوِنَةٌ" "عَوَانٌ" (۱۵) "فَعِيْلٌ" لکه: "عَبِيْدٌ" "عَبْدٌ". (١٦) "مَفَاعِلُ" لکه: "مَسَاجِدُ" "مَسْجِدٌ". (۱۷) "فُعَّالٌ" لکه: "خُدَّامٌ" "خَادِمٌ". (۱۸) "فَعَالِلُ" لکه: "عَنَاصِرُ" "عُنْصَرٌ" (۱۹) "فَعَالِلَةٌ" لکه: "تَلَامِذَةٌ" "تِلْمِيْذٌ". (۲۰) "فَعَالِيْلُ" لکه: "صَنَادِيْقُ" "صُنْدُوْقٌ"، (۲۱) "مَفَاعِيْلُ" لکه: "مَكَاتِيْبُ" "مَكْتَبٌ".(نصر الخبير)

۱. جمع منتهى الجموع.

۲. جمع غير منتهى الجموع.

د جمع منتهى الجموع تعريف:

جمع منتهى الجموع هغه جمع ده چي په خپل جمعيت كي انتهاء ته رسېدلې وي دوباره په جمع تكسيره سره نسي جمع كېداى لكه: "مَسَاجِدُ".

او د دې مشهوره اوزان پنځه دي: (۱) "مَفَاعِلُ". (۲) "مَفَاعِيلُ" (۳) "اَفَاعِلُ". (۴) "اَفَاعِيلُ". (۵) "فَوَاعِلُ".

د جمع غير منتهى الجموع تعريف:

جمع غير منتهى الجموع هغه جمع ده چي په خپل جمعيت كي انتهاء ته نه وي رسېدلې بل وار په جمع تكسيره سره جمع كېداى سي، لكه: د "قَوْلٌ" جمع "اَقْوَالٌ" ده او د "اَقْوَالٌ" جمع "اَقَاوِيْلُ" راځي.

د جمع تصحيح ([1]) (سالمه) تعريف ([2]):

([1]) د جمع مكسري او سالمي په مېنځ كي يو لوى فرق دا دئ: چي جمع مكسره چي كله فاعل واقع سي د دې دپاره د فعل مذكر او مؤنث دواړه راوړل جائز دي. لكه: "قَالَ الرِّجَالُ. قَالَتِ الرِّجَالُ" او جمع سالمه چي كله فاعل واقع سي، فعل صرف واحد مذكر راوړل جائز دي، لكه: "قَالَ الْمُسْلِمُوْنَ". (حاشية خضري)

([2]) په الف و تاء سره چي كم جمع راوړل كيږي هغه پر پنځه نوعي ده:

۱. چي په كم چا كي تا د تانيث وي مطلقا خواه كه د مذكر علم وي لكه: "طَلْحَةُ" او كه د مؤنث علم وي لكه: "فَاطِمَةُ" يا اسم جنس وي لكه: "تَمْرَةٌ" يا صفت وي لكه: "نَسَّابَةٌ" خواه كه "تَا" په حالت د وقف كي په "هَا" سره بدله سي لكه: په "طَلْحَةُ" كي او كه نسي بدله لكه: په "بِنْتٌ" او "اُخْتٌ" كي د دې شيانو جمع په الف و تاءسره راځي لېكن د دې څخه "شَاةٌ. شَفَةٌ" او "اَمَةٌ" مستثنى دي.

۲. د مؤنث د علم جمع خواه كه "تَا" وي او كه نه وي خواه كه ذو العقول وي او كه غير ذو العقول لكه: "فَاطِمَاتٌ. زَيْنَبَاتٌ".

۳. د مذكر لا يعقل د صفت جمع لكه: "اَيَّامٍ مَعْدُوْدَاتٍ".

۴. د مذكر لا يعقل د تصغير جمع لكه: "فُلَيْسَاتٌ" په خلاف د مؤنث د تصغير.

۵. د اسم جنس د مؤنث جمع خواه كه اسمي وي لكه: "سَحَرَةٌ" او كه صفتي وي لكه: "حُبْلَى". (همع الهوامع جلد ۱ صفحه ۷۹)

جمع تصحيح هغه جمع ده چي د واحد بنا په دې کي سالمه پاته وي صرف په آخر کي يې زياتوب راغلی وي (۱) لکه: "مُسْلِمُوْنَ. مُسْلِمَاتٌ".

د جمع تصحيح اقسام:

جمع تصحيح پر دوه قسمه ده:

۱. جمع مذکر سالمه.

۲. جمع مؤنث سالمه (۲).

د جمع مذکر سالمي تعريف:

---

(۱) "اَلْاَسْمَاءُ الَّتِيْ تُجْمَعُ هٰذَا الْجَمْعَ اَیْ (اَلْمُؤَنَّثُ السَّالِمُ)":

وَيَطَّرِدُ هٰذَا الْجَمْعُ عَشَرَةَ اَشْيَاءَ:

۱. "عَلَمُ الْمُؤَنَّثِ كَمَرْيَمَ وَ فَاطِمَةَ".

۲. "مَا خُتِمَ بِتَاءِ التَّانِيْثِ كَشَجَرَةٍ وَ ثَمْرَةٍ وَ طَلْحَةَ وَ حَمْزَةَ. وَيُسْتَثْنٰى مِنْ ذٰلِكَ اِمْرَاَةٌ. شَاةٌ. اَمَةٌ. اُمَّةٌ. شَفَةٌ. مِلَّةٌ".

۳. "صِفَةُ الْمُؤَنَّثِ مَقْرُوْنَةٌ بِالتَّاءِ كَمُرْضِعَةٍ وَ مُرْضِعَاتٍ اَوْ دَالَّةٍ عَلَى التَّفْضِيْلِ كَفُضْلٰى "مُؤَنَّثُ اَفْضَلَ" وَ فُضْلَيَاتٍ. فَلِذٰلِكَ حَامِلٌ وَ حَائِضٌ لَمْ يُجْمَعْ هٰذَا".

۴. "صِفَةُ الْمُذَكَّرِ غَيْرِ الْعَاقِلِ كَجَبَلٍ شَاهِقٍ وَ جِبَالٍ شَاهِقَاتٍ".

۵. "اَلْمَصْدَرُ الْمُجَاوِزُ ثَلَاثَةَ اَحْرُفٍ. (غَيْرُ ثُلَاثِيْ) غَيْرُ الْمُؤَكِّدِ لِفِعْلِهِ كَاِكْرَامَاتٍ. وَ اِنْعَامَاتٍ وَ تَعْرِيْفَاتٍ".

۶. "مُصَغَّرُ مُذَكَّرٍ مَالَا يَعْقِلُ كَدُرَيْهِمٍ وَ دُرَيْهِمَاتٍ وَ كُتَيِّبٍ وَ كُتَيِّبَاتٍ".

۷. "مَا خُتِمَ بِاَلِفِ التَّانِيْثِ الْمَمْدُوْدَةِ كَصَحْرَاءَ وَ صَحْرَاوَاتٍ وَ عَذْرَاءَ وَ عَذْرَاوَاتٍ".

۸. "مَا خُتِمَ بِاَلِفِ التَّانِيْثِ الْمَقْصُوْرَةِ كَذِكْرٰى وَ ذِكْرَيَاتٍ. وَفُضْلٰى وَ فُضْلَيَاتٍ".

۹. "اَلْاِسْمُ لِغَيْرِ الْعَاقِلِ الْمُصَدَّرُ بِابْنٍ اَوْ ذِيْ: كَابْنِ آوٰى وَ بَنَاتِ آوٰى. وَ ذِی قَعْدَةٍ وَ ذَوَاتِ الْقَعْدَةِ".

۱۰. "كُلُّ اِسْمٍ اَعْجَمِيٍّ لَمْ يُعْهَدْ لَهُ جَمْعٌ آخَرُ كَالتِّلِغْرَافِ وَ التِّلِفُوْنِ".

او د دې څخه ما سوای ټوله سماعي دي لکه: "سَمَاوَات. اَرْضَات. اُمَّهَات. اُمَّات. سِجِلَّات. اَهِلَّات. حَمَّامَات" او بعض جمع منتهی الجموع لکه: "جِمَالَات. رِجَالَات. كِلَابَات"، دا ټولي جمع سماعي دي. (جامع الدروس العربية).

(۲) جمع مؤنث سالمه کله کله د جمع مذکر سالمي رنګه استعماليږي لکه: "سَنَةٌ" د دې جمع "سِنُوْنَ. سِنِيْنَ. سَنَوَاتٌ" درې قسمه راځي. د بعضو الفاظو جمع پر مختلفو وزنو باندي راځي لکه: "طَلَبَةٌ. طُلَّابٌ. طُلَبَاءُ. طُلَّبٌ" دا ټولي د "طَالِبٌ" جمع دي، او کله کله د معنی د تبديلی په وجه د جمع وزن هم بدليږي لکه: "عَبْدٌ" په معنی د "غُلَامٌ" سره جمع يې "عَبِيْدٌ" راځي، او "عَبْدٌ" په معنی (بنده) سره. جمع يې "عِبَادٌ" راځي. د "اِبْنٌ" جمع "بَنُوْنَ" او "اَبْنَاءٌ" راځي د "بِنْتٌ" جمع "بَنَاتٌ" د "اَخٌ" جمع "اِخْوَانٌ. اِخْوَةٌ". او د "اُخْتٌ" جمع "اَخَوَاتٌ" او د "اِمْرَاَةٌ" جمع "نِسَاءٌ" يا "نِسْوَةٌ" او د "اُمٌّ" جمع "اُمَّهَاتٌ" راځي. (المعلم العربي و نصر الخبير)

د جمع مذکر سالمي تعریف:
جمع مذکر سالمه هغه جمع ده چي په آخر کي یې واو ماقبل مضموم یا یاء ماقبل مکسور او نون مفتوحه راغلی وي، لکه: "مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمِیْنَ".

اوومه خبره:

په جمع مذکر سالمه سره صرف د دوو شیانو جمع راځي: (۱) د عَلم (۲) او د صفت.
"اَلْعَلَمُ لِمُذَکَّرٍ عَاقِلٍ خَالِیًا عَنِ التَّاءِ" د مذکر عاقل نوم چي خالي وي د تاء څخه لکه: "زَیْدٌ، اَحْمَدُ، سَعِیْدٌ".
"اَلصِّفَةُ لِمُذَکَّرٍ عَاقِلٍ خَالِیَةٌ عَنِ التَّاءِ وَ صَالِحَةٌ لِدُخُوْلِهَا اَوْ لِلدَّلَالَةِ عَلَی التَّفْضِیْلِ". صفت د مذکر عاقل چي خالي وي د "تَا" څخه او د دخول د "تَا" صلاحیت لري یا دلالت کوي پر تفضیل باندي لکه: "عَالِمٌ، کَاتِبٌ، اَفْضَلُ".
د جمع مؤنث سالمې تعریف:
جمع مؤنث سالم هغه جمع ده: چي په آخر کي یې "الف" و "تَا" راغلي وي، لکه: "مُسْلِمَاتٌ".
د جمع دریم تقسیم:
جمع په اعتبار د معنٰی سره پر دوه قسمه ده:

۱. جمع قلته [۱].
۲. جمع کثرة.

د جمع قلتي تعریف:
جمع قلته هغه جمع ده: چي د لسو څخه پر کم باندي دلالت کوي او د دې دپاره شپږ وزنونه دي:

۱. "اَفْعَالٌ" لکه: "اَقْوَالٌ"، د "قَوْلٌ" جمع ده.

---

(۱) جمع قلته او کثرته د دواړو مبداء یوه ده لیکن جمع قلته صرف د لسو څخه پر کم دلالت کوي او کثرته پر زیات باندي او کله یو د بل پر ځای باندي مجازًا استعمالیږي کله کثرته د قلتي پر ځای مجازًا استعمال سي لکه: "ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ" "قُرُوْءٌ" پر وزن د "فُعُوْلٌ" د جمع کثرتي وزن دئ لیکن په دې ځای کي یې معنی د جمع قلتي ده، ځکه دلته مراد صرف درې دي، او کله قلته د کثرتي پر ځای استعمال سي، لکه: "لَقَدْ کَانَ فِیْ یُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖ" "اِخْوَةٌ" د جمع قلتي وزن دئ لیکن معنی یې د کثرتي ده.

۲. "اَفْعُلٌ" لکه: "اَکْلُبٌ" د "کَلْبٌ" جمع ده.

۳. "اَفْعِلَةٌ" لکه: "اَعْوِنَةٌ" د "عَوَانٌ" جمع ده.

۴. "فِعْلَةٌ" لکه: "غِلْمَةٌ" د "غُلَامٌ" جمع ده.

۵. جمع مذکر سالمه چي بغير الف لام وي لکه: "مُسْلِمُوْنَ".

٦. جمع مؤنث سالمه چي بغير الف لام وي لکه: "مُسْلِمَاتٌ".

د جمع کثرتي تعريف:

جمع کثرته هغه جمع ده چي پر لسو يا تر لسو څخه پر زيات باندي دلالت کوي د دې شپږو وزنو څخه علاوه باقي اوزان د جمع کثرتي دي. د ټولو جموعو تعين بايد د لاندي نقشې څخه وسي.

جملې:

جمع	مفرد	تکسير، تصحيح	مذکر، مؤنث	قلت، کثرت	باب
اَخْيَارٌ	خَيْرٌ	تکسير	مذکر	قلت	ثلاثي
مُتَّقُوْنَ	مُتَّقِيْ	تصحيح	مذکر	قلت	ثلاثي
قَانِتَاتٌ	قَانِتَةٌ	تصحيح	مؤنث	قلت	ثلاثي
شُمُوْسٌ	شَمْسٌ	تکسير	مؤنث	کثرت	ثلاثي
عَقَارِبُ	عَقْرَبٌ	تکسير	مذکر	کثرت	رباعي
دَرَاهِمُ	دِرْهَمٌ	تکسير	مذکر	کثرت	رباعي
رُکَبٌ	رُکْبَةٌ	تکسير	مؤنث	کثرت	ثلاثي
اَبْيَاتٌ	بَيْتٌ	تکسير	مذکر	قلت	ثلاثي
اَغْرِبَةٌ	غُرَابٌ	تکسير	مؤنث	قلت	ثلاثي
عُلَمَاءُ	عَالِمٌ	تکسير	مذکر	کثرت	ثلاثي
کُنُزٌ	کَنْزٌ	تکسير	مذکر	کثرت	ثلاثي
مَنَادِيْلُ	مِنْدِيْلٌ	تکسير	مذکر	کثرت	رباعي
جَفْنَاتٌ	جَفْنَةٌ	تصحيح	مؤنث	کثرت	ثلاثي
اَلصَّالِحَاتُ	صَالِحَةٌ	تصحيح	مؤنث	کثرت	ثلاثي
مَنَازِلُ	مَنْزِلٌ	تکسير	مذکر	کثرت	ثلاثي
صَيَاقِلُ	صَيْقَلٌ	تکسير	مذکر	کثرت	رباعي
مُصْطَفَوْنَ	مُصْطَفٰی	تصحيح	مذکر	قلت	ثلاثي

التمرين للجموع :

"مَشَارِقُ، صَلَوَاتٌ، مَصَابِيْحُ، سَفَارِجُ، كَبُوْدٌ، آذَانٌ، رُكُوْبَاتٌ، قَنَادِيْلُ، رِقَابٌ، اَصَابِعُ، كَلَالِيْبُ، مَسَاجِدُ، كُتُبٌ".

التمرين للجمل :

"وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ،، فِيْ صُحُفٍ مُكَرَّمَةٍ مَرْفُوْعَةٍ مُطَهَّرَةٍ،، بِأَيْدِيْ سَفَرَةٍ كِرَامٍ بَرَرَةٍ،، وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رَاسِيَاتٍ،، رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ،، وَأَنْبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ،، أَأَنْتُمْ أَنْشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنْشِئُوْنَ،، هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ".

فصل بدانکه اعراب اسم سه است رفع، نصب، جر واسم متمکن باعتبار وجوه الخ:.

الدرس السابع عشر :

د نن د سبقه خلاصه اته (۸) خبري دي:

اوله خبره:

بحث د منصرف و غير منصرف:

د اسم معرب اقسام:

معرب پر دوه قسمه دئ:

۱. منصرف.

۲. غير منصرف.

د منصرف تعريف:

منصرف (۱) هغه اسم دئ چي دوه سببه يا يو سبب چي قائم مقام د دوو سببو وي، د اسبابو د منع صرفي څخه په ده کي نه وي موجود. لکه: "اَلرَّجُلُ".

د منصرف حکم:

(۱) منصرف ته اسم متمکن هم ويل کيږي ځکه متمکن په معنیٰ د قوي سره راځي، او دی هم قوي دئ ځکه دی دري سره حرکته مع التوينه پر ځان برداشه وای سي.

د منصرف حکم دا دئ: چي پر ده باندي حرکات ثلاثه مع التنوين راتلای سي، لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ، وَرَاَيْتُ زَيْدًا، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ".

د غير منصرف تعريف:

غير منصرف هغه اسم دئ چي په ده کي دوه سببه يا يو سبب چي قائم مقام د دوو سببو وي (۱) د اسبابو د منع صرفي څخه موجود وي، لکه: "عُمَرُ".

د غير منصرف حکم:

د غير منصرف حکم دا دئ: چي پر ده باندي کسره (۲) او تنوين نه سي راتلای بلکه همېشه يې حالت جري (۱) تابع د حالت نصبي وي. لکه: "جَائَنِيْ عُمَرُ، وَرَاَيْتُ عُمَرَ. مَرَرْتُ بِعُمَرَ".

---

(۱) کم اسباب چي قائم مقام د دوو سببو جوړېږي هغه درې دي: (۱) "الف مقصوره". (۲) "الف ممدوده". (۳) "جمع منتهی الجموع".

(۲) چونکه غير منصرف د فعل سره مشابهت لري په وجود د فرعتين کي يعني "احتياج الی الفاعل او اشتقاق من المصدر" او پر فعل باندي کسره و تنوين نه سي راتلای نو پر غير منصرف باندي هم د فعل سره د مشابهت په وجه کسره او تنوين نه سي راتلای او د اسم چي د فعل سره مشابهت راځي هغه مشابهت پر درې قسمه دئ: (۱) يو اسم د فعل سره په معنی کي شريک وي لکه: "اسماء افعال" او د دغه قسم مشابهت نتيجه دا راوزي چي په دې صورت کي و اسم ته د فعل دوه اصليتونه ملاوېږي. (۱) اصليت في البناء (۲) اصليت في العمل نو ځکه اسماء افعال به مبني هم وي او عامل به هم وي. (۲) دوهم قسم مشابهت چي يو اسم د فعل سره په حرکاتو و سکناتو او په تعداد د حروفو کي مشابهت لري لکه: اسم فاعل چي د فعل مضارع سره مشابهت لري په دغه مذکوره شيانو کي او د دې دوهم قسم نتيجه دا راوزي چي و داسي اسم ته د فعل يو اصليت ملاوېږي هغه اصليت في العمل يعني هغه اسم به عامل جوړېږي نو ځکه ټوله اسم فاعل به عامل وي په شرائط مذکوره سره. (۳) دريم قسم مشابهت چي يو اسم د فعل سره نه په معنی کي مشابهت لري او نه په حرکاتو، او سکناتو او په تعداد د حروفو کي بلکه د فعل سره په ـ صفت کي مشابهت لري هغه دا لکه: څنګه چي فعل فرع دئ د مصدر او د فاعل داغه رنګه د غير منصرف اسباب فرع دئ د نورو شيانو. نو د دې دريم قسم مشابهت نتيجه دا راوزي چي و دې اسم ته به د فعل يو خصوصيت ملاوېږي هغه دا چي پر ده باندي به کسره او تنوين نه داخلېږي. (تنوير)

فائده:

د اسم مشابهت به يا د حرف سره وي يا د فعل سره که چيري د حرف سره وو خواه که په وضع کي مشابهت وي او که په معنی کي او که په استعمال کي نو هغه اسم به مبني وي او و هغه ته د اسم غير متمکن نوم ور کول کېږي او که يې چيري د حرف سره مشابهت نه وو بيا هغه اسم معرب دئ بيا که چيري اسم معرب د فعل سره مشابه وو په وجود د فرعتين کي يعني فعل د اسم فرع وي من جهت اللفظ يعني فعل د مصدر ه څخه مشتق دئ او فرعيت من جهة المعنی احتياج الی الفاعل دئ، نو که چيري اسم معرب د فعل سره

فائده:

"وَجَمِيْعُ الْبَابِ بِاللَّامِ وَ بِالْإِضَافَةِ يَنْجَرُّ بِالْكَسْرِ". كه چيري غير منصرف معرف باللام سي لكه: "ذَهَبْتُ إِلَى الْمَسَاجِدِ". يا مضاف سي لكه: "مَرَرْتُ بِأَحْمَدِكُمْ" نو بيا به دى مجروره په كسره سره وي، او دى د منصرف په حكم كي وي.

دوهمه خبره:

د غير منصرف اسباب:

د غير منصرف نه (۹) اسباب دي: (۱) عدل (۲) وصف (۳) تانيث (۴) معرفه (۵) عجمه (٦) جمع (۷) تركيبْ (۸) وزن فعل (۹) الف و نون زائدتان. لكه: "عُمَرُ. اَحْمَرُ. طَلْحَةُ. زَيْنَبُ. اِبْرَاهِيْمُ. مَسَاجِدُ. مَعْدِيْكَرِبَ. اَحْمَدُ. عِمْرَانُ". دا سببونه تنها (يوائحي) د غير منصرف اسباب نه سي جوړېداى تر څو چي هر يو د خپلو شرائطو سره موجود نه وي.

د غير منصرف (۱) د نه (۹) اسبابو مختصره تشريح:

په وجود د فرعتين كي مشابه وو نو بيا به په عللو كي يو فرعيت من جهة اللفظ وي او بل فرعيت به من جهة المعنى وي يا به يو قائم مقام د دوه علتو وي نو داسي اسم به غير منصرف وي. (شرح التصريح جلد ۲ صفحه ۳۱۵)

(۱) پر غير منصرف باندي جر نه سي راتلاى د مختلفو وجوه پر بنياد باندي: (۱) د فعل سره د مشابهت په وجه لكه: څنګه چي پر فعل باندي تنوين ممتنع دئ داغه رنګه جر هم ممتنع دئ. (۲) جر څکه ممتنع دئ چي بيا د غير منصرف د هغه اسم منصرف سره التباس رانه سي چي كم وخت دى مضاف سوى وي و ياء د متكلم ته او بيا ياء د متكلم حذف سوې وي او پر كسره باندي اكتفاء سوى وي لكه: د "غُلَامِيْ" څخه "غُلَامِ" ويل. (۳) چي د بنا وهم ختم سي څكه كسره بغير د تنوين او الف لام او اضافته اعراب نه جوړېږي نو چي كله كسره نه سي راتلاى نو د دې پر ځاى يې جر د نصب تابع كړئ څكه چي دواړه په فضله والي كي سره مشترک دي. (همع الهوامع جلد ۱ صفحه ۸٦)

(۲) د بصريين او كوفيينو په دې خبره كي اتفاق دئ چي غير منصرف د ضرورت شعري په وجه منصرف ويل جائز دي، لېكن منصرف د ضرورت شعري په وجه غير منصرف ويل جائز دي او كه نه، عندالكوفيين او بعض اِمامانِ د بصرينو لكه: ابوالحسن. اخفش. ابو على فارسي. ابوالقاسم ابن البرهان، په نزد باندي جائز دي، او عندالبصريين نا جائز دي. داغه رنګه كم اسم تفضيل چي مستعمل په "مِنْ" سره وي د ضرورت شعري په وخت كي د ده منصرف ويل عند الكوفين نا جائز دي او عندالبصريين جائز دي. (الانصاف جلد ۲ صفحه ۲۰)

عدل:

د عدل تعریف:

"تَحْوِيْلُ الاِسْمِ مِنْ حَالَةٍ إِلَى حَالَةٍ أُخْرٰى مَعَ بَقَاءِ الْمَادَّةِ الْاَصْلِيَّةِ وَ الْمَعْنٰى الْاَصْلِيِّ بِلَا قَانُوْنٍ صَرْفِيٍّ".

عدل هغه اسم دئ چي د خپل اصلي صورت او شکل څخه وتلی وي، او په بل شکل او صورت کي بدل سوی وي، لېکن ماده اصلي او معنٰی اصلي يې باقي پاته وي، او دغه تبديلي بغير د يو قانون صرفي څخه راغلې وي، لکه: د "عَامِرٌ" څخه "عُمَرُ" د "زَافِرٌ" څخه "زُفَرُ". د "ثَلَاثَةٌ ثَلَاثَةٌ" څخه "ثُلَاثَ وَ مَثْلَثَ" ويل.

دريمه خبره:

د عدل اقسام:

عدل پر دوه قسمه دئ:

۱. عدل تحقيقي.

۲. عدل تقديري.

د عدل تحقيقي تعريف:

"مَايُوْجَدُ فِيْهِ دَلِيْلٌ عَلَى وُجُوْدِ الْاَصْلِ سِوَا مَنْعِ صَرْفٍ". چي د ده پر اصل يعني د اول شکل و صورت پر وجود باندي د غير انصراف څخه علاوه يو بل دليل هم موجود وي لکه: "ثُلَاثَ" (۱) و "مَثْلَثَ"، او په دوی کي عدل تحقيقي دئ، ځکه د دوی پر اصل باندي د غير انصراف څخه علاوه يعني چي دی غير منصرف استعماليږي يو بل دليل په خارج کي هم موجود دئ، هغه دا چي د "ثُلَاثَ" او "مَثْلَثَ" د دواړو اصل "ثَلَاثَةٌ ثَلَاثَةٌ" وو، دليل يې دا دئ: چي د "ثُلَاثَ" معنٰی ده درې درې په تکرار سره او د "مَثْلَثَ" معنٰی هم درې درې ده. کله چي د دوی په معنٰی کي تکرار سته نو لفظ به يې هم لازمي

---

(۱) لکه: په قرآن کي په بابت د نکاح کي راځي: "فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ". "مَثْنٰى" د "اِثْنَتَيْنِ اِثْنَتَيْنِ" څخه او "ثُلَاثَ" د "ثَلَاثَةٌ ثَلَاثَةٌ" او "رُبَاعَ" د "اَرْبَعَةٌ اَرْبَعَةٌ" څخه را معدول دي، داغه رنګه "مَثْلَثَ، مَرْبَعَ" و غيره. (ضوابط نحوية)

مکرر وي، ځکه دا قاعده ده: چي تکرار د معنٰی پر تکرار د لفظ دلالت کوي نو "ثُلَاثَ" او "مَثْلَثَ" د "ثَلَاثَةٌ ثَلَاثَةٌ" څخه راوتلی دئ په دوی کي عدل تحقيقي دئ.

د عدل تقديري تعريف:

"مَا لَمْ يُوْجَدْ فِيْهِ دَلِيْلٌ عَلَى وُجُوْدِ الْأَصْلِ سِوَا مَنْعِ صَرْفٍ" چي د ده پر اصل او معدول عنه باندي د غير انصراف څخه علاوه يو بل دليل نه وي بلکه د ده اصل فرض سوی وي، لکه: "عُمَرُ" اوس دا عرب غير منصرف استعمالوي لېکن په ده کي د غير انصراف يو سبب چي معرفه ده موجود دئ بل سبب نسته نو ځکه موږ د استعمال لحاظ وکړئ. د ده اصل مي "عَامِرٌ" (۱) فرض کړئ.

فائده:

عدل د وزن فعل سره نسي جمع کېدای، ځکه د عدل خپل مخصوص اوزان دي چي هغه په فعل کي وجود نه لري لېکن د علميت او وصف سره جمع کېدای سي لکه: "عُمَرُ، جُمَعُ".

د عدل اوزان:

د عدل اوزان شپږ دي: (۱) "فَعَلُ" لکه: "سَحَرُ، صَفَرُ". (۲) "فُعَلُ" لکه: "عُمَرُ، اُخَرُ" (۳) "فُعَالِ" لکه: "ثُلَاثِ" (۴) "فَعَالِ" لکه: "قَطَامِ" (۵) "فَعْلِ" لکه: "اَمْسِ" (٦) "مَفْعَلُ" لکه: "مَثْلَثُ".

څلورمه خبره:

وصف:

دوهم سبب وصف دئ:

د وصف تعريف:

وصف: د اسم جامد يا مشتق يا مصدر پر داسي ذات باندي دلالت کول چي د وضع په اعتبار سره دی د يو صفت معنٰی لره متضمن وي. لکه: "اَحْمَدُ" د "حَمْدٌ" معنٰی لره متضمن دئ.

---

(۱) د عربي اسماء معدوله چي پر وزن د "فُعَلُ" وي هغه لکه: "بُلَعَ. ثُعَلَ. جُشَمُ. جُحَیٰ. جُمَعُ. دُلَفَ. زُحَلُ. زُفَرُ. عُصَمُ. عُمَرُ. قُثَمُ. قُزَحُ. مُضَرُ. هُزَلُ. هُبَلُ" داغه رنګه مؤکدات د جمع مؤنث لکه: "کُتَعُ. بُتَعُ. بُصَعُ" وغيره. (الموجز في قواعد اللغة العربية)

د وصف اطلاق پر دوو معناوو باندي کیږي:
وصف د دوو معناوو (۱) دپاره راځي:
۱. وصف هغه تابع دئ چي د متبوع پر معنٰی باندي دلالت کوي لکه: "جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ".
۲. وصف هغه اسم دئ چي پر ذات مبهم باندي دلالت کوي او په ده کي د یو صفت لحاظ سوی وي، لکه: "اَحْمَرُ" دلته مراد د غه دوهمه معنٰی دد.
د وصف اقسام:
وصف پر دوه قسمه:
۱. وصف اصلي.
۲. وصف عارضي.
د وصف اصلي تعریف:
وصف اصلي هغه دئ چي واضع خاص د وصف دپاره وضع کړی وي، لکه: "اَسْوَدُ" (تور خطرناکه مار) "اَرْقَمُ" (نقش و نګار والا نر مار) (۲) که څه هم اوس د مارانو دپاره علم جوړ سوی دئ.
د وصف عارضي تعریف:
وصف عارضي هغه دئ چي په اصل وضع کي د صفت دپاره نه وي وضع سوی بلکه د یو عارض په وجه لفظا په ترکیب کي صفت جوړ سوی وي لکه: "مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ وَرَجُلٍ اَرْنَبٍ" (۳).
د غیر منصرف د جوړېدلو دپاره د وصف شرط:
صفت (۱) چي کله د غیر منصرف دپاره سبب جوړېږي د ده دپاره شرط دا دئ: چي دی به وصف اصلي وي لکه: "اَسْوَدُ". ځکه وصف عارضي د غیر منصرف سبب نه سي جوړېدای لکه: "اَرْبَعٌ".

---

(۱) اول قسم معرفه و نکره دواړه راتلای سي او دوهم قسم صرف نکره جوړېدای سي او په دې باب کي مراد دوهم قسم دئ. (حاشیة خضري جلد ۲ صفحه ۱۰۲)
(۲) په "اَسْوَدُ" او په "اَرْقَمُ" کي یو وزن فعل دئ او بل وصف دئ یعني "تور والی" او "کمر والي" که څه هم اوس علم ګرځېدلی دئ.
(۳) په "مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ" کي "اَرْبَعٍ" په اصل کي علم دئ ځکه دی د یو متعین عدد نوم دئ چي "مَا فَوْقَ الثَّلَاثَةِ اَوْ مَا تَحْتَ الْخَمْسَةِ" دئ" لیکن دلته اوس په ترکیب د "نِسْوَةٌ" دپاره لفظا صفت واقع سوی دئ. داغه رنګه "اَرْنَبٌ" په اصل کي د یو معلوم حیوان نوم دئ لیکن اوس لفظا د بزدلی د صفت په خاطر د انسان صفت جوړ سوی دئ.

پنځمه خبره:

تانیث:

دریم سبب تانیث دئ:

د تانیث اقسام:

تانیث پر څلور قسمه دئ:

۱. تانیث لفظي. تانیث لفظي چي کله د غیر منصرف دپاره سبب جوړیږي نو د ده دپاره (۲) شرط دا دئ، چي دی به علم وي، لکه: "طَلْحَةُ" احترازي مثال لکه: "اِمْرَءَةٌ" (۳).

۲. تانیث معنوي. تانیث معنوي چي کله د غیر منصرف دپاره سبب جوړیږي د ده د جواز دپاره خو هغه علمیت شرط دئ لکه: هِنْدٌ"۴" او د وجوب دپاره د علمیت سره سره وجود د "اَحَدُ الْاُمُوْرِ الثَّلَاثَةِ". یعني د دا دریو شیانو څخه به یو خامخا موجود وي.

۱. یا به زائد "عَلَى الثَّلَاثَةِ" وي لکه: "زَيْنَبُ".

۲. یا به ثلاثي "مُتَحَرِّكُ الْاَوْسَطِ" وي لکه: "سَقَرَ" (د جهنم نوم دئ).

۳. یا به عجمه وي لکه: "مَاهُ، وَجُوْرَ" (د ښارو نومونه دي).

۳. تانیث "بِالْاَلِفِ الْمَقْصُوْرَةِ" لکه: "حُبْلٰى". تانیث "بِالْاَلِفِ الْمَقْصُوْرَةِ" چي کله سبب د غیر منصرف جوړیږي د ده دپاره دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط یې دا دئ: چي دی به اصلي نه وي احترازي مثال لکه: "عَصًا".

۲. دوهم شرط یې دا دئ: چي تاء به نه قبلوي احترازي مثال لکه: د "فَتٰى" څخه "فَتَاةٌ" ویل.

---

(۱) وصف او علم نسي سره جمع کېدای ځکه وصف پر ذات مبهم دلالت کوي او علم پر ذات معین دلالت کوي او مبهم او معین دواړه سره ضدین دي او اجتماع د ضدین محاله ده.

(۲) د تانیث دپاره علمیت ځکه شرط دئ چي په علمیت سره تانیث د کلمه سره لازمیږي ځکه "اَلْاَعْلَامُ لَا تَتَغَيَّرُ بِقَدْرِ الْاِمْكَانِ" یعني علم "حَتَّى الْاِمْكَان" د تغیره څخه محفوظ وي. (نصر الخبیر)

(۳) "طَلْحَةُ" په "طَلْحَةُ" کي یو علم دئ او بل تانیث لفظي دئ.

(۴) د "هِنْدٌ" انصراف او عدم انصراف دواړه جائز دي، په دې کي یو تانیث معنوي دئ او بل علمیت دئ.

۴. تانیث "بِالْاَلِفِ الْمَمْدُوْدَةِ" لکه: "حَمْرَاءُ". (د الف مقصوره او ممدوده د تانیث والي شرطونه په بحث د مذکر او مؤنث کې تېر سوه)

فائده:

تانیث "بالف مقصوره" او تانیث "بالف ممدوده" دا دواړه قائم مقام د دوو (۱) سببو دي. (چي یو تانیث دئ او بل لزوم د تانیث دئ) یعني د غیرِ انصراف د سبب جوړېدلو دپاره و بل سبب ته ضرورت نه لري.

ځلورم سبب معرفه دئ (۲):

د معرفې دپاره شرط:

معرفه چي کله د غیر منصرف دپاره سبب جوړېږي د دې دپاره شرط دا دئ: چي دا به علم وي، لکه: "اِبْرَاهِيْمُ".

شپږمه خبره:

عجمه:

پنځم سبب عجمه (۳) ده:

---

(۱) الف مقصوره او الف ممدوده قائم مقام د دوو سببینو دي په دوی کي یو تانیث دئ او بل لزوم د تانیث دئ ځکه په دوی کي دا خاصیت دئ چي دوی پر کمه کلمه راسي نو د هغه کلمه سره دوی لازم سي خواه که په حالت د وقف کي وي او که په غیر د وقف کي وي په خلاف د "تا" د تانیث ځکه هغه په حالت د وقف کي په "ها" سره بدلیږي.

(۲) معرفه: معرفه پر اوه قسمه ده: دلته مراد صرف هغه معرفه ده: چي په علم سره معرفه ري لکه: "اِبْرَاهِيْمُ" او باقي نور قسمونه د غیر منصرف سبب نه سي جوړېدای ځکه "مضمرات، اشارات، موصولات" مبني دي او مبني د غیر منصرف سبب نه سي جوړېدای او "معرف باللام او بالاضافت" غیر منصرف د منصرف په حکم کي کرزوي او منادی نحاتو په معرف باللام کي داخله کړي ده. (تنویر)

(۳) عجمه: چونکه د عربو دا عادت دئ چي کم وخت د یو لفظ تلفظ سخت او مشکل وي نو دوی په دې لفظ کي تغیر او تصرف کوي نو لهذا کله چي عجمي لفظ عربي ته منتقل سي نو په ده کي ثقل پکښي وي چونکه عرب د خپل عادت مطابق په دې لفظ کي تغیر و تصرف کوي نو د عربو د تغیر او تصرف څخه د حفاظت دپاره او د دا لفظ د ثقل برقراره ساتلو دپاره د ده سره علمیت

د عجمي تعريف:

عجمه: د يو لفظ راتلل د هغه الفاظو څخه چي غير عربو وضع کړي وي لکه: "اِبْلِيْس. يُوْسُفْ. اِبْرَاهِيْمُ".

د عجمي شرائط:

عجمه چي کله د غير منصرف سبب جوړيږي د دې دپاره دوه شرطونه دي:

١. "علميت".

٢. "اَحَدُ الْاَمْرَيْنِ".

يعني هغه عجمي به يا زائد "عَلَى الثَّلَاثَة" وي لکه: "اِبْرَاهِيْمُ".

او يا به ثلاثي "مُتَحَرِّكُ الْاَوْسَطْ" وي لکه: "شَتَرَ".

جمع:

شپږم سبب جمع ده:

د جمع په اقسامو کي دلته د غير منصرف په باب کي مراد صرف جمع منتهى الجموع ده چي په خپل جميعت کي انتهاء ته رسېدلې وي، دوباره په جمع تکسيره سره نسي جمع کېداى و دې ته جمع اقصى هم ويل کيږي لکه: "دَوَابٌّ، مَسَاجِدُ، مَصَابِيْحُ".

فائده:

د جمع منتهى الجموع د جوړولو (١) طريقه، اوزان (١) او مثالونه يې په حاشيه کي موجود دي. "اِنْ شِئْتَ فَانْظُرْ هُنَاكَ".

شرط سو ځکه اعلام د تغير او تصرفه څخه بقدر امکان محفوظه دئ نو چي کله د ده ثقل باقي پاته سو نو د دغه ثقل په وجه دى اوس غير منصرف ويل کيږي. (حاشية خضري)

(١) د جمع منتهى الجموع د جوړلو طريقه دا ده: چي اول دوه حرفه به مفتوح وي دريم ځاى به الف علامه د جمع منتهى الجموع وي که چيري د الف څخه وروسته يو حرف وو هغه به مشدد وي لکه: "دَوَابٌّ" او که دوه حرفه وه اول به مکسور دوهم به په طبق د عامل سره وي لکه: "مَسَاجِدُ" او که درې حرفه وه اول به مکسور دوهم به ساکن وي دريم به په طبق د عامل وي لکه: "مَصَابِيْحُ". (معارف الصرف)

د جمع منتهى الجموع شرائط:

جمع منتهى الجموع چي كله د غير منصرف سبب جوړيږي د دې دپاره دوه شرطونه دي:

١. اول شرط يې دا دئ: چي صيغه به د جمع منتهى الجموع وي احترازي مثال لكه: "رِجَالٌ، مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمَاتٌ، قَوْمٌ و رَهْطٌ".

٢. دوهم شرط يې دا دئ: چي په آخر كي به يې داسي "تا" نه وي چي په حالت د وقف كي په "هَا" سره بدليږي احترازي مثال لكه: "فَرَازِنَةٌ، اَشَاعِرَةٌ" اتفاقي مثال لكه: "مَسَاجِدُ، ضَوَارِبُ، مَصَابِيْحُ".

فائده:

جمع منتهى الجموع د الف ممدوده او الف مقصوره په شان د غير منصرف دپاره قائم مقامه د دوه سببين ده يو جمعيت دئ بل لزوم د جمعيت دئ.

تركيب:

اووم سبب تركيب دئ:

د تركيب يعني د مركب په اقسامو كي دلته د غير منصرف په باب كي مراد صرف مركب منع صرف دئ، لكه: "بَعْلَبَكّ، حَضَرَمَوْتُ".

د تركيب شرائط:

تركيب چي كله د غير منصرف سبب جوړيږي د ده دپاره دوه شرطونه دي يو وجودي دئ بل عدمي دئ.

١. وجودي شرط يې دا دئ: چي دی به علم وي احترازي مثال لكه: "رَجُلٌ عَالِمٌ".

(١) د جمع منتهى الجموع دوولس اوزان دي: (١) "فَعَاعِلُ"، لكه: "ضَرَائِرُ". (٢) "فَوَاعِلُ" لكه: "اَوَامِرُ". (٣) "اَفَاعِلُ" لكه: "اَرَاهِطُ". (۴) "اَفَاعِيْلُ" لكه: "اَبَاطِيْلُ". (۵) "مَفَاعِلُ" لكه: "مَحَاسِنُ". (٦) "مَفَاعِيْلُ" لكه: "مَيَاسِيْرُ". (٧) "فَعَالِيُّ" لكه: "اَنَاسِيُّ و اَرَاضِيُّ". (٨) "فَوَاعِيْلُ" لكه: "دَوَانِيْقُ". (٩) "فَعَالِلُ" لكه: "عَنَاصِرُ، زَلَازِلُ". (١٠) "فَعَالِيْلُ" لكه: "صَنَادِيْقُ، قَنَاجِيْنُ". (١١) "اَفْعِلَاءُ" لكه: "اَصْدِقَاءُ، اَنْبِيَاءُ". (١٢) "فُعَلَاءُ" لكه: "وُزَرَاءُ، شُعَرَاءُ". (معارف الصرف، معلم العربي).

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي مركب اضافي يا اسنادي به نه وي احترازي مثال لكه: "غُلَامُ زَيْدٍ". "زَيْدٌ قَائِمٌ" اتفاقي مثال: لكه: "بَعْلَبَكَ. حَضَرَمَوْتُ. مَعْدِيكَرِبَ".

اوومه خبره:

وزن فعل:

اتم سبب وزن فعل دئ:

د وزن فعل تعريف:

د يو اسم پر وزن د فعل كېدل.

د وزن فعل شرائط:

وزن فعل چي كله سبب د غير منصرف جوړېږي په ده كي به يو د دا دوو امرو څخه موجود وي.

۱. اول امر چي دا وزن به په كلام عربي كي په فعل پوري (۱) خاص وي او په اسم كي به نه موجود ديږي "اِلَّا مَنْقُوْلاً عَنِ الْفِعْلِ" چي د فعل څخه به و اسم ته را نقل سوى وي، لكه: "شَمَّرَ" دا د تفعيل د باب ماضي صيغه ده كله چي دى علم وي نو په ده كي يو سبب وزن فعل دئ او بل علميت او داغه رنګه "ضَرَبَ. اِسْتَخْرَجَ. تَقَابَلَ".

۲. دوهم امر كه چيري دا وزن په فعل پوري خاص نه وي بلكه په فعل او اسم كي مشترک وه نو بيا د ده دپاره يو شرط دا دئ: چي د اسم په شروع كي به يو حرف د حروف اتين څخه را غلى وي، او د ده په آخر كي به داسي "تَا" (۲) نه وي چي په حالت د وقف كي په "هَا" سره بدليږي لكه: "اَحْمَدُ. يَشْكُرُ. تَغْلِبُ. نَرْجِسُ".

---

(۱) يا هغه وزن په فعل كي كثير الاستعماله وي لكه: "اَصْبَعٌ" او "اِثْمَدٌ" كله چي دوى علم وي. (شرح ابن عقيل جلد ۳ صفحه ۳۲۳)

(۲) د تا د نه قبلولو شرط يې ځكه لګولى دئ چي تاء متحركه خاصه د اسم ده نو په دې سره د اسميت جهت قوي كيږي او د فعل سره مشابهت كمزوري كيږي.

الف و نون زائدتان:

نهم سبب الف و نون زائدتان دي:
الف و نون زائدتان به يا د اسم په آخر کي وي يا د صفت که چيري د اسم په آخر کي وي نو بيا د دوی دپاره علميت (١) شرط دئ، لکه: "عُثْمَانُ، عِمْرَانُ، سَلْمَانُ" او که چيري د صفت په آخر کي وو بيا يي شرط دا دئ: چي د دوی مؤنث به د "فَعْلَانَةٌ" پروزن نه وي لکه: "سَكْرَانٌ". په "سَكْرَانٌ" کي دوهم سبب وصف دئ د ده مؤنث "سَكْرٰی" راځي.

فائده:

"نَدْمَانُ" که چيري د "نَدِيْمٌ" ځخه سي په معنٰی د "مصاحب" (ملګری) سره نو بيا دی منصرف دئ ځکه د ده مؤنث "نَدْمَانَةٌ" راځي او که چيري د "نَادِمٌ" ځخه سي په معنٰی د (پښېمانه) سره نو بيا دی غير منصرف دئ ځکه بيا د ده مؤنث "نَدْمٰی" راځي.

اتمه خبره:

د انبياء کرام عليهم السلام نومونه:
د انبياء کرام عليهم السلام په نومو کي صرف اووه نومونه منصرف (٢) دي باقي ټول عجمي غير منصرف دئ دغه اووه نومونه دا دي: (١) "محمد ﷺ". (٢) "صالح". (٣) "هود". (۴) "شعيب". دا ځلور عربي منصرف دي او (۵) "نوح". (٦) "لوط" (٧) "شيث" عجمي منصرف دئ.
د ملائکو نومونه:

---

(١) د کمو اسبابو سره چي علميت صرف د سبب په طور يا د سببيت او شرطيت په طور باندي جمع کيږي که چيري د دا اسم ځخه علميت زائل سي نو بيا دی منصرف کيږي. (جامي)

(٢) منصرف پر دوه قسمه دئ: (١) حقيقي (٢) جعلي. د منصرف حقيقي تعريف تېر سو او د منصرف جعلي دباره پنځه سببونه دي: (١) د ضرورت شعري په وجه لکه: "مَاذَا عَلَیَّ مِنْ شَمِّ تُرْبَةِ اَحْمَدَ. اَنْ لَا يُشَمَّ مَدَی الزَّمَانِ غَوَالِيًا". (٢) تناسب بين الکلمتين لکه: "سَلَاسِلًا وَ اَغْلَالًا". (٣) تنکير بعد العلميت لکه: "لِکُلِّ فِرْعَوْنٍ مُوْسٰي اَیْ لِکُلِّ مُبْطِلٍ مُحِقٌّ". (۴) د الف لام دخول ځخه وروسته لکه: "وَاَنْتُمْ عَاکِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ". (۵) د اضافت په وجه لکه: "اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ". (النحو الوافي)

د ملائکو په نومو کي صرف څلور نومونه عربي دي په هغه کي (۱) "رِضْوَان" عربي غیر منصرف دئ او (۲) "منکر" (۳) "نکیر" (۴) "مالک" عربي منصرف دئ باقي ټول عجمي غیر منصرف دئ.

د اسلامي میاشتو نومونه:

د میاشتو په اسلامي نومو کي شپږ منصرف دي هغه لکه: (۱) "شَوَّالَ" (۲) "ذِيْ الْقَعْدَه". (۳) "ذِيْ الْحَجَّه"، (۴) "مُحَرَّمْ". (۵) "رَبِيْعُ الْاَوَّل" (٦) "رَبِيْعُ الثَّانِيْ". او شپږ غیر منصرف دئ هغه لکه: (۱) "جَمَادِي الْاُوْلٰی" (۲) "جَمَادِي الْاُخْرٰی". (۳) "رَجَبْ". (۴) "شَعْبَان" (۵) "رَمَضَان" (٦) "صَفَرْ".

د قبیلو او ځایو نومونه:

که چیري د قبیلو او ځایو په نومو کي د تانیث معنوي څخه علاوه دوه سببونه موجود وي نو دی به همېشه غیر منصرف وي، لکه: "بنو تغلب" دا یو قبیله ده ځکه په ده کي یو وزن فعل او بل علمیت دئ.

که چیري د تانیث معنوي څخه علاوه په دې کي دوه سببونه نور موجود نه وه بیا به ورته ګورو چي د عربو څخه د دوی سماع د منصرف راغلی ده او که د غیر منصرف که چیري د دوی سماع د غیر منصرف راغلی وو نو دی به همېشه غیر منصرف وي لکه: "هود، مجوس، دمشق". او که چیري سماع د منصرف راغلی وه نو دوی به منصرف وي لکه: "بنو کلب، بنو ثقیف، بنو نظیر، بنو قریظه، او حنین". او د دې درو صورتو څخه علاوه د دوی انصراف او عدم انصراف دواړه جائز دي که چیري د مذکر په تاویل سره سي نو بیا منصرف دئ او که د مؤنث په تاویل سره سي نو بیا غیر منصرف دئ.

لفظ د "عُزَيْرُ":

"عُزَيْرُ" که چیري د "تَعْزِيْر" څخه سي او عربي سي نو دی منصرف دئ او که چیري عجمي سي نو بیا غیر منصرف دئ، ځکه په ده کي عجمه و علمیت موجود دي.

لفظ د "اِبْلِيْس":

"إِبْلِيْس" كه چيري عجمي لفظ سي نو بيا دی د علميت او عجمه په وجه غير منصرف دئ او كه عربي لفظ سي د "إِبْلَاس" څخه مشتق سي نو بيا دی د شبيه عجمه په وجه غير منصرف دئ (۱).

جملي:

عنوان	خبريه، انشائيه	مسند	مسنداليه	معرب، مبني	اسم غير متمكن	معرفه، نكره	مذكر، مؤنث	واحد، تثنيه، جمع	منصرف	غير منصرف
نَبِيُّنَا مُحَمَّدٌ	خبريه اسميه	مُحَمَّدٌ	نَبِيُّنَا	۲. معرب ۱. مبني	نَا	۳. معرفه	۳. مذكر	۲. واحد ۱. جمع	۲. منصرف (نَبِيُّ، مُحَمَّدٌ)	+
وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِيْنَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ	خبريه فعليه	نَسُوقُ	نَحْنُ	۳. معرب ۳. مبني	نَحْنُ	۳. معرفه	۲. مذكر ۱. مؤنث	۱. واحد ۲. جمع	۱. منصرف الْمُجْرِمِيْنَ	جَهَنَّمَ علميت، تانيث
وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ	خبريه اسميه	أَكْبَرُ	وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ	۳. معرب ۳. مبني	هُوَ	۳. معرفه ۱. نكره	۳. مذكر ۱. مؤنث	۴. واحد	۲. منصرف (عَذَابُ، الْآخِرَةِ)	أَكْبَرُ وزن فعل وصفت
جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا	خبريه فعليه	جَعَلَ	نَا	۳. معرب ۵. مبني	نَا. هُمْ. هَا	۳. معرفه ۳. نكره	۵. مذكر ۲. مؤنث	۳. واحد ۳. جمع	۳. منصرف كُلِّ، قَرْيَةٍ، مُجْرِمِيْنَ	أَكَابِرَ جمع منتهى الجموع
يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ	خبريه فعليه	نَبْطِشُ	نَحْنُ	۳. معرب ۲. مبني	۱. ظرف زمان، نَحْنُ، هِيَ	۳. معرفه ۱. نكره	۲. مذكر ۳. مؤنث	۳. واحد ۱. جمع	۲. منصرف: يَوْمَ الْبَطْشَةَ	الْكُبْرَىٰ تانيث بالالف المقصوره
وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَاءُ فِي الْأَرْضِ	خبريه فعليه	(لَكُمَا) باعتبار متعلق	الْكِبْرِيَاءُ	۳. معرب ۳. مبني	كُمَا. هُوَ	۳. معرفه	۱. مذكر ۲. مؤنث	۲. واحد ۱. تثنيه	۱. منصرف الْأَرْضِ	الْكِبْرِيَاءُ تانيث بالالف الممدوده

(۱) **دغير منصرف د ټوله باب خلاصه:** په دنيا كي غير منصرف صرف دوه قسمه راځي: (۱) علم، (۲) نكره، باقي ټوله منصرف دي. اول قسم علم كه چيري علم وو او د دغه شپږو اسمو څخه يو اسم ور سره موجود وو نو بيا دغه علم غير منصرف ورنه بيا علم منصرف دئ هغه شپږ اسمونه دا دي:

۱. مؤنث لفظي يا معنوي لكه: "طَلْحَةُ. زَيْنَبُ". ۲. الف و نون زائد تان لكه: "عُثْمَانُ. عِمْرَانُ. سَلْمَانُ".

۳. وزن فعل لكه: "أَحْمَدُ. يَشْكُرُ". ۴. مركب منع صرف لكه: "بَعْلَبَكَّ".

۵. عجمه لكه: "إِبْرَاهِيْمُ". ٦. عدل لكه: "عُمَرُ. زُفَرُ".

او دوهم قسم نكره: كه چيري نكره وه او د دغه شپږو اسمو څخه يو اسم ور سره موجود وو بيا دغه نكره غير منصرف ده ورنه منصرف ده هغه شپږ اسمونه دا دي:

۱. "أَفْعَلُ" صفتي لكه: "أَحْمَرُ". ۲. "فَعْلَانُ" صفتي لكه: "سَكْرَانُ".

۳. اسم عدد چي د "فُعَالٍ" يا د "مَفْعَلُ" پر وزن وي لكه: "ثُلَاثَ و مَثْلَثَ". ۴. الف مقصوره چي تانيثي وي لكه: "حُبْلَىٰ".

۵. الف ممدوده چي زائده وي لكه: "حَمْرَاءُ". ٦. جمع چي اقصى وي لكه: "مَسَاجِدُ. مَصَابِيْحُ".

(ضوابط نحويه)

عنوان	خبریہ، انشاء	مسند	مسند الیہ	معرب، مبنی	اسم غیر متمکن	معرفہ، نکرہ	مذکر، مؤنث	واحد، تثنیہ، جمع	منصرف	غیر منصرف
فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ	خبریہ فعلیہ	آتٰی	نَا	۳.معرب ۳.مبنی	نَا	۳.معرفہ	۳.مذکر	۳.واحد ۱.جمع	۲.منصرف: آلَ، الْكِتَابَ	إِبْرَاهِيمَ علمیت، عجمہ
فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ	انشائیہ فعلیہ	فَانْكِحُوا	أَنْتُمْ	۳.معرب ۱۱.مبنی	أَنْتُمْ، مَا موصول، هُوَ، كُمْ	۳.معرفہ ۳.نکرہ	۷.مذکر ۱.مؤنث	۲.واحد ۶.جمع	۱.منصرف النِّسَاءِ	مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ عدل، وصفیت
يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ	خبریہ فعلیہ	يَأْتِي	هُوَ	۳.معرب ۳.مبنی	هُوَ، ي، هٗ	۶.معرفہ	۶.مذکر	۶.واحد	۲.منصرف بَعْدِي، إِسْمُهُ	أَحْمَدُ وزن فعل علمیت
مَكَّةُ بَلْدَةٌ مُبَارَكَةٌ	خبریہ اسمیہ	بَلْدَةٌ مُبَارَكَةٌ	مَكَّةُ	۳.معرب ۱.مبنی	هِيَ	۲.معرفہ ۲.نکرہ	۳.مؤنث	۳.واحد	۲.منصرف بَلْدَةٌ، مُبَارَكَةٌ	مَكَّةُ تانیث لفظی علمیت
تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ	خبریہ اسمیہ	أَمَانِيُّهُمْ	تِلْكَ	۱.معرب ۳.مبنی	تِلْكَ اسم اشارہ هُمْ	۳.معرفہ	۱.مذکر ۲.مؤنث	۱.واحد ۲.جمع	+	أَمَانِيُّ جمع منتہی الجموع
عُثْمَانُ ؓ ثَالِثُ الْخُلَفَاءِ	خبریہ اسمیہ	ثَالِثُ الْخُلَفَاءِ	عُثْمَانُ	۳.معرب ۳.مبنی	هٗ	۵.معرفہ	۵.مذکر	۳.واحد ۱.جمع	۲.منصرف: ثَالِثُ، الْخُلَفَاءِ	عُثْمَانُ علمیت الف نون زائدتان

التمرين:

"فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا،، إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا،، إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ،، شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ،، وَقَتَلَ دَاوُدُ جَالُوتَ،، وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ،، أَعِدْ ذِكْرَ نَعْمَانٍ لَنَا،، صُبَّتْ عَلَى مَصَائِبُ،، يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ،، وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى لَكُمْ".

فصل بدانکہ اعراب اسم سہ است الخ: .... الی قولہ فصل بدانکہ اعراب مضارع سہ است.

ترجمہ:

پوہ سہ! چي اعراب د اسم درې دي رفع، نصب، جر او اسم متمکن په اعتبار د وجوه د اعراب (یعني د اعراب د اقسامو په لحاظ سره) پر شپاړس (۱۶) قسمه دئ: اول مفرد منصرف صحیح، لکه: "زَيْدٌ". دوهم مفرد منصرف جاري مجرای صحیح لکه: "دَلْوٌ". دریم جمع مکسر لکه: "رِجَالٌ". د دې درو سره اعراب رفع یې په ضمه سره ده نصب یې په فتحه سره دئ او جر یې په کسره سره دئ. لکه: "جَائَنِي زَيْدٌ وَ دَلْوٌ وَ رِجَالٌ. وَ رَأَيْتُ زَيْدًا وَ دَلْوًا وَ رِجَالًا. وَ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَ دَلْوٍ وَ رِجَالٍ". څلورم جمع مؤنث سالمه ده: لکه: "مُسْلِمَاتٌ" د دې اعراب رفع په ضمه سره ده او نصب و جر یې دواړه په کسره سره دي، لکه: "هُنَّ مُسْلِمَاتٌ. وَ رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ وَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ". پنځم غیر منصرف دئ، غیر

منصرف هغه اسم دئ چي په ده کي دوه سببه يا يو سبب قائم مقام د دوو سببو موجود وي، او نه اسباب دا دي: (۱) عدل (۲) وصف (۳) تانيث (۴) معرفه (۵) عجمه (٦) جمع (۷) ترکيب (۸) وزن فعل (۹) الف و نون زائدتان. لکه: "عُمَرُ. اَحْمَرُ. طَلْحَةُ. زَيْنَبُ. اِبْرَاهِيْمُ. مَسَاجِدُ. مَعْدِيْكَرِبُ. اَحْمَدُ. عِمْرَانُ". د دې ټولو رفع په ضمه سره ده او نصب او جر يې دواړه په فتحه سره دي. لکه: "جَاءَ عُمَرُ وَ رَاَيْتُ عُمَرَ وَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ". شپږم اسماء ستة مکبره دي: په هغه وخت کي چي دوی د يا متکلم څخه علاوه و بل اسم ته مضاف وي، لکه: "اَبٌ. اَخٌ. حَمٌ. هَنٌ. فَمٌ. ذُوْمَالٍ". د دې ټولو رفع په واو سره ده نصب يې په الف سره دئ او جر يې په ياء سره دئ. لکه: "جَاءَ اَبُوْكَ. وَ رَاَيْتُ اَبَاكَ. وَ مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ". اووم قسم: تثنيه ده لکه: "رَجُلَانِ. اتم قسم: "كِلَا وَ كِلْتَا" چي کله دوی مضاف وي، و ضمير ته. نهم قسم: "اِثْنَانِ وَ اِثْنَتَانِ" د دې درو سره قسمو اعراب په حالت رفعي کي الف او په حالت نصبي او جري کي ياء ماقبل مفتوح وي. لکه: "جَاءَ رَجُلَانِ وَ كِلَاهُمَا وَ اِثْنَانِ. وَ رَاَيْتُ رَجُلَيْنِ وَ كِلَيْهِمَا وَ اِثْنَيْنِ. وَ مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ وَ كِلَيْهِمَا وَ اِثْنَيْنِ". لسم قسم: جمع مذکر سالم ده: لکه: "مُسْلِمُوْنَ". او يوولسم قسم "اُولُوْ" جمع د "ذُوْ" ده، لکه: "اُولُوْ". او دوولسم قسم "عِشْرُوْنَ" بيا تر "تِسْعُوْنَ" پوري. د دې ټولو رفع په واو ماقبل مضموم سره ده او نصب و جر يې دواړه په ياء ماقبل مکسور سره دي. لکه: "جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَ اُوْلُوْ مَالٍ وَ عِشْرُوْنَ رَجُلًا. وَ رَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ وَ اُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِيْنَ رَجُلًا. وَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ وَ اُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِيْنَ رَجُلًا". او ديارلسم قسم اسم مقصور دئ، اسم مقصور هغه اسم دئ چي په آخر کي يې الف مقصوره راغلی وي، لکه: "مُوْسٰى". او څوارلسم قسم: غير جمع مذکر سالمه چي مضاف وي و ياء د متکلم ته لکه: "غُلَامِيْ". د دې دواړو قسمو اعراب رفع يې په تقدير د ضمې سره ده او نصب يې په تقدير د فتحې سره دئ او جر يې په تقدير د کسرې سره دئ. او صورةً په لفظ کي په هر حالت کي په يو شکل کي وي، لکه: "جَاءَ مُوْسٰى وَ غُلَامِيْ وَ رَاَيْتُ مُوْسٰى وَ غُلَامِيْ. وَ مَرَرْتُ بِمُوْسٰى وَ غُلَامِيْ". او پنځلسم قسم اسم منقوص دئ: اسم منقوص هغه اسم دئ چي په آخر کي يې ياء ماقبل مکسور وي، او د ده اعراب رفع يې په تقدير د ضمې سره ده او نصب يې په فتحه لفظي سره دئ او جر يې په تقدير د کسرې سره دئ. لکه: "جَاءَ الْقَاضِيْ وَ رَاَيْتُ الْقَاضِيَ وَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ". او شپاړسم قسم جمع مذکر سالمه ده: چي مضاف وي و ياء د متکلم ته لکه: "مُسْلِمِيَّ" د دې اعراب

رفع په تقدیر د واو سره او نصب جر یې په یاء ماقبل مکسور سره دئ. لکه: "هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِیَّ"، په اصل کي "مُسْلِمُوْنَ" وو، نون په اضافت کي و غورځېدئ واو او یاء سره جمع سوه اول په دوی کي ساکن وو، یعني (واو) واو یې په یاء سره بدل کړئ او یاء یې په یاء کي مدغمه کړه. "مُسْلِمُیَّ" سو، بیا یې کسره د میم په فتحه سره بدله کړه (د یاء د مناسبت په وجه) نو "مُسْلِمِیَّ" سو "وَرَأَیْتُ مُسْلِمِیَّ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِیَّ".

الدرس الثامن عشر:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د نن په سبقه کي مصنف رحمه الله د اسماؤ اعراب ذکر کوي چونکه پر اسماؤ باندي مختلفي معناګاني واردېږي فاعلیت، مفعولیت، او اضافت د دغه معناګانو تعین سِوا د اعرابه څخه په بل شي نه سي کېدای نو ځکه مصنف رحمه الله اوس هغه اعراب بیانوي چي هغه د اسم په آخر کي راځي.

سوال: اعراب ولي د کلمې پر آخر جاري کیږي؟

جواب: اعراب راځي دپاره د تعین د معنٰی او تعین د معنٰی راځي وروسته تر اتمام د معنٰی او اتمام د معنٰی راځي وروسته تر اتمام د لفظ نو ځکه اعراب به پر آخر د کلمې جاري کیږي لیکن دا توجیه کمزوري ده ځکه بعضي حروف معاني د اسماؤ په شروع کي راځي لکه: "اَلرَّجُلُ". او کله په وسط د کلمې کي راځي لکه: یاء د تصغیر په "فُلَیْسٌ" او "رُجَیْلٌ" کي.

صحیح توجیه: دا اعراب پر اول د کلمې یعني پر (فَاء) کلمه نه سي جاري کېدای ځکه پر اول حرف باندي حرکت بنائي وي، اوس کچیري حرکت اعرابیه پر داخل سي نو بیا اجتماع د حرکتینو لازمیږي او اجتماع د حرکتینو پر یو حرف باندي باطله ده. او اعراب پر وسط د کلمې هم نه سي جاري کېدای ځکه وسط د کلمې مختلف وي. بعضي اسماء ثلاثي وي، او بعضي رباعي وي، او بعضي خماسي وي، یعني د اسم اوزان مختلف وي، که چیري اعراب پر وسط د کلمې جاري سي بیا دا نه معلومیږي چي دا حرکت بنائي دئ او که اعرابي. نو ځکه آخر د کلمې د اعراب دپاره متعین سو.

دوهمه خبره:

د اعراب تعریف:

"اَلْاِعْرَابُ مَاجِيئَ بِهٖ لِبَيَانِ مُقْتَضَى الْعَامِلِ مِنْ حَرَكَةٍ اَوْ حَرْفٍ اَوْ سُكُوْنٍ اَوْ حَذْفٍ". یعني د ده په ذریعه سره په محل اعراب کې تبدیلي ښکاره کیږي.

د اعراب تعداد:

د اسم د اعراب تعداد درې دئ:

١. رفع.
٢. نصب.
٣. جر.

رفع په درو طریقو سره راځي: (١) رفع کله په ضمه سره راځي لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ". (٢) کله په الف سره راځي لکه: "جَائَنِيْ مُسْلِمَانِ". (٣) کله په واو سره راځي لکه: "جَائَنِيْ اَبُوْكَ".

نصب په څلورو طریقو سره راځي: (١) نصب کله په فتحه سره راځي لکه: "رَاَيْتُ زَيْدًا". (٢) کله په کسره سره راځي لکه: "رَاَيْتُ مُسْلِمَاتٍ" (٣) کله په الف سره راځي لکه: "رَاَيْتُ اَبَاكَ". (۴) کله په یاء سره راځي لکه: "رَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ".

جر په درو طریقو سره راځي: (١) جر کله په کسره سره راځي لکه: "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ" (٢) کله په فتحه سره راځي لکه: "مَرَرْتُ بِعُمَرَ" (٣) کله په یاء سره راځي لکه: "مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ".

دریمه خبره:

چونکه په اسم کې درې معناګانې راځي: فاعلیت، مفعولیت، او اضافت. نو ځکه اعراب هم درې دئ، رفع، نصب، جر.

"فَالرَّفْعُ عَلَمُ الْفَاعِلِيَّةِ" رفع د فاعلیت علامه ده.

د حالت رفعي علامات:

د حالت رفعي اته (٨) علامې دي: (١) فاعل، لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا" (٢) نائب فاعل لکه: "ضُرِبَ زَيْدٌ" (٣) مبتداء لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ". (۴) خبر لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ". (۵) د "كَانَ" او اخواتو اسم لکه:

"وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا" (٦) د "اِنَّ" او اخواتو خبر لكه: "اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ" (٧) د "مَا وَلَا" مشبهتين بليس اسم لكه: "مَا زَيْدٌ قَائِمًا" (٨) د "لَا" نفي جنس خبر لكه: "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ".

"وَالنَّصْبُ عَلَمُ الْمَفْعُوْلِيَّةِ" او نصب علامه د مفعوليت ده.

د حالت نصبي علامات:

د حالت نصبي دوولس (١٢) علامات دي: (١) مفعول مطلق لكه: "ضَرَبْتُ ضَرْبًا" (٢) مفعول به لكه: "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا" (٣) مفعول فيه لكه: "صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ" (۴) مفعول معه لكه: "جَاءَ الْبَرْدُ وَ الْجُبَّاتِ" (٥) مفعول له لكه: "ضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا" (٦) حال لكه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا" (٧) تميز لكه: "طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا" (٨) مستثنى لكه: "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا" (٩) د "اِنَّ" او اخواتو اسم لكه: "اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ" (١٠) خبر د "كَانَ" او اخواتو لكه: "وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا" (١١) خبر د "مَا وَلَا" مشبهتين بليس لكه: "لَا زَيْدٌ قَائِمًا" (١٢) د "لَا" نفي جنس اسم لكه: "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ".

"وَالْجَرُّ عَلَمُ الْاِضَافَةِ" او جر علامه د اضافت ده.

د حالت جري علامات:

د حالت جري دوې علامې دي: (١) مضاف اليه كېدل لكه: "غُلَامُ زَيْدٍ" (٢) مجرور كېدل په حرف جر سره لكه: "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ".

ځلورمه خبره:

د اعراب اقسام:

اعراب پر دوه قسمه دئ:

١. اعراب بالحركت.
٢. اعراب بالحرف.

د اعراب بالحركت تعريف (١):

(١) اعراب بالحركت اصل دئ ترا عراب بالحرف ځكه اعراب بالحركت خفيف دئ او اعراب بالحرف ثقيل دئ، اعراب بالحركت بسيط دئ او اعراب بالحرف مركب دئ او بل قسم اعراب محلي دئ چي هغه په مبني كي راځي. (نصر الخبير)

اعراب بالحرکت هغه اعراب دئ چي په حرکت سره وي، یعني په زور، زېر، پېښ سره وي، لکه: "زَیْدٌ".

د اعراب بالحرف تعریف:

اعراب بالحرف هغه اعراب دئ: چي په حروفو سره وي، یعني په "واو" "الف" و "یا" سره. بیا هر یو پر درې قسمه دئ:

۱. اعراب لفظي (۱).
۲. اعراب تقدیري.
۳. اعراب مشترک.

اعراب لفظي هغه دئ: چي په لفظو کي ښکاره وي، لکه: "زَیْدٌ".

اعراب تقدیري هغه دئ: چي په لفظو کي ښکاره نه وي، لکه: "مُوْسٰی".

اعراب مشترک هغه دئ: چي دی مشترک وي په مابین د لفظي او تقدیري کي. لکه: اسم منقوص او جمع مذکر سالمه چي مضاف وي و یاء د متکلم ته.

بیا اعراب لفظي پر دوه قسمه دئ:

۱. اعراب تبعي.
۲. اعراب غیر تبعي.

اعراب تبعي هغه دئ: چي یو حالت یې د بل حالت تابع وي.

اعراب غیر تبعي هغه دئ: چي یو حالت یې د بل حالت تابع نه وي.

اسم متمکن په اعتبار د وجوه د اعراب پر شپاړس قسمه دئ:

اول مفرد منصرف صحیح، لکه: "زَیْدٌ".

دوهم: مفرد منصرف جاري مجرای صحیح لکه: دَلْوٌ، ظَبْيٌ".

دریم جمع مکسر منصرف لکه: "رِجَالٌ".

---

(۱) اعراب لفظي اصل وي تر اعراب تقدیري ځکه تعین د معاني وو ثلاثه وو په لفظي سره په ښه طریقه کیږي تر اعراب تقدیري.

د دې دروو قسمو اعراب رفع يې په ضمه سره ده نصب يې په فتحه سره دئ او جر يې په کسره سره دئ. يعني اعراب بالحرکت لفظي (۱) غير تبعي دئ. لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ وَ دَلْوٌ وَ ظَبْيٌ وَ رِجَالٌ. وَ رَأَيْتُ زَيْدًا وَ دَلْوًا وَ ظَبْيًا وَ رِجَالًا. وَ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَ دَلْوٍ وَ ظَبْيٍ وَ رِجَالٍ".

فائده:

"صحيح" عند النحاة هغه اسم ته ويل کيږي چي په آخر کي يې حرف علت نه وي، لکه: "زَيْدٌ" او جاري مجرای صحيح هغه اسم دئ چي په آخر کي يې واو يا ياء ماقبل ساکن وي، لکه: "دَلْوٌ وَ ظَبْيٌ".

پنځمه خبره:

څلورم قسم جمع مؤنث سالمه ده:

د جمع مؤنثي سالمي اعراب (۲) رفع يې په ضمه سره ده، نصب او جر يې دواړه په کسره سره دي. يعني اعراب (۱) بالحرکت لفظي تبعي دئ، لکه: "جَائَنِيْ مُسْلِمَاتٌ. وَ رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ".

---

(۱) د دې درو سره قسمو اعراب بالحرکت دئ، ځکه په زور، زېر، پېښ سره دئ، لفظي دئ ځکه په لفظو کي ښکاره دئ. غير تبعي دئ ځکه يو حالت يې د بل حالت لره تابع نه دئ. (از مرتب عفي عنه).

فائده:

خلاصه: په اولو پنځو قسمو کي اعراب بالحرکت دئ، بيا په اوو قسمو کي اعراب بالحرف دئ او په اولو دوولس قسمو کي اعراب لفظي دئ او په آخرو څلورو کي اعراب تقديري دئ.

(۲) لفظ د "أَوْلَاتٌ" او "أَذْرُعَاتٌ" (بَلَدٌ فِي شَام)، او د "عَرَفَاتٌ" اعراب هم په شان د جمع مؤنثي سالمي وي، لېکن په "أَذْرُعَاتٌ" او "عَرَفَاتٌ" کي دوه مذهبه نور دي، بعضي حضرات وايي: دا دواړه غير منصرف دي چي پر دوی باندي کسره او تنوين هم راتلای سي، لېکن دا تنوين، تنوين تمکن نه وي، بلکه تنوين تقابل وي، چي منع نه دئ. او پر دوی باندي کسره راتلل پر خپل اصلي حالت باندي وي، هغه د دې قاعدې څخه مستثنی وي، عند البعض غير منصرف خو وي پر دوی باندي کسره راتلای سي، لېکن تنوين نه سي پر راتلای د غير انصراف وجه چي علميت و تانيث دي. لېکن صحيح مذهب دا دئ: چي دوی منصرف دي، او تاء محض علامه د تانيث نه ده، بلکه الف و تاء دواړه د جمع دپاره دي د غير انصراف دپاره چي کمه تاء علامه د تانيث جوړيږي هغه تاء محضه ده. (همع الهوامع صفحه ۱۲٦)

فائده:

په جمع مؤنث سالمه کي يو شرط دا دئ: چي الف و تاء به په دې کي زائد وي، احترازي مثال لکه: "اَبيَاتٌ"، بروزن "اَفعَالٌ".

او دا جمع عامه ده خواه که يې مفرد مذکر وي، لکه: "مَرْفُوْعَاتٌ" جمع د "مَرْفُوْعٌ" ده او که مؤنث وي، لکه: "مُسْلِمَاتٌ"، جمع د "مُسْلِمَةٌ" ده. خواه که دا جمع د مفرد نوم وي، لکه: "عَرَفَاتٌ". خواه که د مفرد حروف پکښې سالم وي او که نه وي.

پنځم قسم غير منصرف دئ:

د غير منصرف رفع په ضمه سره او نصب و جر دواړه يې په کسره سره دي. يعني اعراب بالحرکت[2] لفظي تبعي دئ، لکه: "جَائَنِيْ عُمَرُ، وَرَاَيْتُ عُمَرَ، وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ".

شپږم قسم اسماء سته مکبره دي:

لکه: "اَبٌ، اَخٌ، حَمٌ، هَنٌ، فَمٌ، ذُوْمَالٍ" (۳) د اسماء سته مکبره دپاره څلور شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي دوی به "مُوَحَّدُ" يعني مفرد به وي، تثنيه او جمع به نه وي که چيري تثنيه او جمع وه بيا يې اعراب د تثنيې او جمع مکسري دي. لکه: "جَائَنِيْ اَبَوَانِ وَرَاَيْتُ اَبَوَيْنِ وَمَرَرْتُ بِاَبَوَيْنِ". او د جمع مثال لکه: "جَائَنِيْ اَبَاءٌ، وَرَاَيْتُ آبَائًا وَمَرَرْتُ بِآبَاءٍ".

---

(۱) د جمع مؤنث سالمي اعراب بالحرکت دئ، ځکه په زور، زېر، پېښ، سره دئ، لفظي دئ، ځکه په لفظو کي ښکاره دئ، تبعي دئ، ځکه حالت نصبي يې تابع حالت جري لره دئ. (از مرتب عفي عنه)

(۲) د غير منصرف اعراب بالحرکت دئ، ځکه په زور، زېر، پېښ سره دئ، لفظي دئ، ځکه په لفظو کي ښکاره دئ، تبعي دئ، ځکه حالت جري يې تابع حالت نصبي لره دئ. (از مرتب عفي عنه)

(۳) اَبٌ، اَخٌ، حَمٌ، هَنٌ، دا ټول په اصل کي "اَبَوٌ، اَخَوٌ، حَمَوٌ، هَنَوٌ" پر وزن د "فَعَلٌ" وه، بيا خلاف قانون واو په الف سره بدل سو، او الف و غورځېدئ. "ذُوْ" لفيف مقرون دئ، په اصل کي "ذَوِيٌ" وو، په دليل د "ذَوِيَانِ اَوْ ذَوِيَاتٌ" سره. "فَمٌ" په اصل کي "فَوْهٌ" وو، په دليل د "اَفْوَاهٌ" سره "لِاَنَّ التَّصَاغِيْرَ وَالتَّكَاسِيْرَ تَرُدَّانِ الشَّيْئَ اِلٰى اَصْلِهٖ" بيا "هَا" خلاف القياس حذف سوه نو "فَوْ" سو او واو په غير حالت اضافت کي په ميم سره بدلېږي لکه: "فَمٌ" او په حالت د اضافت کي واپس راګرځي لکه: "فُوْکَ". بيا چي کم وخت ويا، د متکلم ته مضاف سي نو جمهور نحاة يې "فِيْ" وايي: او بعضي حضرات يې "فَمِيْ" وايي. د جمهورو بصريينو مذهب دا دئ: چي اسماء سته مکبره معرب بالحرکت دي، د دوی اعراب لفظي دئ، لېکن امام سبويه او ابو علي فارسي وايي: چي د دوی اعراب بالحرکت تقديري دئ. (همع الهوامع)

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي دوی به مکبره وي، مصغره به نه وي، که چيري مصغره وه بيا د دوی اعراب د مفرد منصرف صحيح والا اعراب دئ، لکه: "جَائَنِيْ اُخَيٌّ وَ رَاَيْتُ اُخَيًّا وَ مَرَرْتُ بِاُخَيٍّ".

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي دوی به مضاف وي، که چيري مضاف نه وه بيا د دوی اعراب د مفرد منصرف صحيح والا اعراب دئ، لکه "جَائَنِيْ اَبٌ، وَرَاَيْتُ اَبًا، وَ مَرَرْتُ بِاَبٍ".

۴. څلورم شرط يې دا دئ: چي دوی به و ياء د متکلم او معرف باللام ته مضاف نه وي، که چيري و ياء د متکلم ته مضاف وه نو بيا د دوی اعراب بالحرکت تقديري د "غُلَامِيْ" والا اعراب دئ. لکه: "جَائَنِيْ اَبِيْ، وَرَاَيْتُ اَبِيْ، وَ مَرَرْتُ بِاَبِيْ". او که چيري معرف باللام ته مضاف وه بيا هم د دوی اعراب تقديري بالحرف دئ لکه: "جَائَنِيْ اَبُو الْقَوْمِ، وَرَاَيْتُ اَبَا الْقَوْمِ، وَ مَرَرْتُ بِاَبِي الْقَوْمِ".

د اسماء ستہ مکبره اعراب:

رفع يې په واو سره ده: او نصب يې په الف سره دئ، او جر يې په ياء سره دئ. لکه: "جَائَنِيْ اَبُوْکَ وَ رَاَيْتُ اَبَاکَ وَ مَرَرْتُ بِاَبِيْکَ". يعني اعراب بالحرف لفظي غير تبعي دئ ([1]).

فائده:

لفظ د "ذُوْ" په معنٰی د "صاحب" سره دئ، او دَی همېشه مضاف وي و اسم جنس ته لکه: "ذُوْ مَالٍ" او کله مضاف و معرفه ته وي لکه: "ذُو الْحَالِ".

شپږمه خبره:

اووم قسم تثنيه حقيقي ده:

تثنيه حقيقي هغه ده: چي د واحد څخه جوړه سوې وي، لکه: "رَجُلَانِ" د "رَجُلٌ" څخه.

اتم قسم تثنيه معنوي ده:

([1]) د اسماء ستہ مکبره اعراب بالحرف دئ، ځکه په واو، الف، ياء سره دئ، لفظي دئ، ځکه په لفظو کي ښکاره دئ، او غير تبعي دئ، ځکه يو حالت يې بل حالت لره تابع نه دئ. (از مرتب عفي عنه)

تثنيه معنوي هغه ده چي د تثنيې سره په معنٰى كي مشابهت لري لكه: "كِلَا وَكِلْتَا" (۱).

فائده:

په "كِلَا وَكِلْتَا" كي دا شرط دئ چي دوى به مضاف و ضمير ته وي (۲) كه چيري دوى مضاف و اسم ظاهر ته وو، بيا د دوى اعراب تقديري اسم مقصور والا دئ، لكه: "جَائَنِيْ كِلَا الرَّجُلَيْنِ، ورَاَيْتُ كِلَا الرَّجُلَيْنِ مَرَرْتُ بِكِلَا الرَّجُلَيْنِ".

نهم قسم تثنيه صوري ده:

تثنيه صوري چي صورةً د تثنيې سره مشابهت لري لكه: "اِثْنَانِ وَاِثْنَتَانِ".

د دې درو قسمو اعراب: رفع يې په الف سره ده، او نصب او جر يې دواړه په يا ماقبل مفتوح سره دئ. يعني اعراب بالحرف لفظي تبعي (۳) دئ. لكه: "جَائَنِيْ رَجُلَانِ وَكِلَاهُمَا وَاِثْنَانِ وَرَاَيْتُ رَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَاِثْنَيْنِ، وَمَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَاِثْنَيْنِ".

اوومه خبره:

لسم قسم جمع مذكر سالمه حقيقي ده:

جمع مذكر سالمه حقيقي چي د مفرد څخه جوړه سوې وي، لكه: "مُسْلِمُوْنَ" او "مُفْلِحُوْنَ" د "مُسْلِمٌ" او "مُفْلِحٌ" څخه.

---

(۱) "كِلَا" په اصل كي "كِلَوٌ" وو، واو په الف سره بدل سو، او تنوين حذف سو، د لازم الاضافت په وجه او "كِلْتَا" هم په اصل كي "كِلَوٌ" وو، واو يې په الف سره بدل كړئ او الف يې د تثنيې په آخر كي راوړئ. نو "كِلْتَا" سو تاء د تانيث راوړل سوه. (تنوير)

(۲) "كِلَا وكِلْتَا" به مضاف وي و ضمير ته كه چيري دوى مضاف وي و اسم ظاهر ته بيا د دوى اعراب تقديري دئ، ځكه د دوى دوه حيثيته دي، د لفظ په اعتبار سره دوى مفرد دي، او د معنى په اعتبار سره دوى تثنيه دي، نو چي كله و اسم ظاهر ته مضاف سي نو دوى ته د مفرد منصرف والا اعراب ور كول كيږي. ځكه اسم ظاهر اصل دئ، او اعراب بالحركت هم اصل دئ، او چي كله دوى مضاف وي، و ضمير ته نو و دوى ته د تثنيې والا اعراب ور كول كيږي ځكه تثنيه فرع ده او اعراب بالحرف هم فرع دئ، نو اصل يې و اصل ته ور كړئ او فرع يې و فرع ته ور كړه. (تنوير)

(۳) د دې درو قسمو اعراب بالحروف دئ، ځكه په الف و ياء سره دئ، لفظي دئ، ځكه په لفظو كي ښكاره دئ، او تبعي دئ، ځكه حالت نصبي يې تابع حالت جري لره دئ. (از مرتب عفي عنه).

يوولسم قسم جمع مذكر سالمه معنوي ده:

جمع مذكر سالمه معنوي هغه ده چي د جمع سره په معنٰی کي مشابهت لري لکه: "أُولُوْ".

دوولسم قسم جمع مذكر سالمه صوري ده:

جمع مذكر سالمه صوري هغه ده چي د جمع سره صورة مشابهت لري لکه: "عِشْرُوْنَ" بيا تر "تِسْعُوْنَ" پوري. د دې درو قسمو اعراب رفع يې په واو ماقبل مضموم سره او نصب او جر يې دواړه په يا ماقبل مكسور سره دي. يعني اعراب بالحرف لفظي تبعي دئ ([1]). لکه: "جَائَنِيْ مُسْلِمُوْنَ وَأُوْلُوْ مَالٍ وَ عِشْرُوْنَ، وَرَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ وَأُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِيْنَ. وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ وَأُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِيْنَ".

ديارلسم قسم اسم مقصور دئ:

اسم مقصور هغه اسم دئ چي په آخر کي يې الف مقصوره وي، لکه: "مُوْسٰی، عِيْسٰی".

څوارلسم قسم غير د جمع مذكر سالم چي مضاف وي و ياء د متكلم ته:

يعني هغه اسم چي مضاف وي غير د جمع مذكر سالمي څخه لکه: "غُلَامِيْ، بَيْتِيْ. دَارِيْ". د دې دوو قسمو اعراب رفع په تقدير د ضمې سره نصب يې په تقدير د فتحې سره او جر يې په تقدير د كسرې سره يعني اعراب بالحركت تقديري غير تبعي ([2]) دئ. لکه: "جَائَنِيْ مُوْسٰی وَ غُلَامِيْ، وَرَاَيْتُ مُوْسٰی وَ غُلَامِيْ وَمَرَرْتُ بِمُوْسٰی وَ غُلَامِيْ".

پنځلسم قسم اسم منقوص دئ:

اسم منقوص هغه اسم دئ چي په آخر کي يې ياء ماقبل مكسور وي، لکه: "قَاضِيْ، دَاعِيْ، مُتَّقِيْ".

([1]) د دې درو قسمو اعراب بالحروف دئ، ځکه په واو و ياء سره دئ، او لفظي دئ، ځکه په لفظو کي ښکاره دئ، او تبعي دئ، ځکه حالت نصبي يې تابع حالت جري لره دئ. (از مرتب عفي عنه)

([2]) د دې دواړو قسمو اعراب بالحركت دئ، ځکه په زور، زېر، پېښ سره دئ، او تقديري دئ، ځکه په لفظو کي پټ دئ او غير تبعي دئ، ځکه يو حالت يې بل حالت لره تابع نه دئ. (از مرتب عفي عنه)

د اسم منقوص اعراب: رفع یې په تقدیر د ضمې سره نصب یې په فتحه لفظي سره او جریې په تقدیر د کسرې سره دئ، یعني اعراب بالحرکت مشترک غیر تبعي دئ (1). لکه: "جَائَنِيْ قَاضٍ، وَ رَاَيْتُ قَاضِيًا، وَ مَرَرْتُ بِقَاضٍ". او معرف باللام لکه: "جَائَنِي الْقَاضِيْ، وَ رَاَيْتُ الْقَاضِيَ وَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ".

شپاړسم قسم جمع مذکر سالمه چي مضاف وي و یا د متکلم ته:

جمع مذکر سالمه چي کله مضاف وي و یاء د متکلم ته رفع یې په تقدیر د واو سره او نصب او جریې په یاء لفظي ماقبل مکسور سره یعني اعراب بالحرف مشترک تبعي دئ[2] لکه: "جَائَنِيْ مُسْلِمِيَّ وَ رَاَيْتُ مُسْلِمِيَّ وَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ".

فائده:

"مُسْلِمِيَّ" په اصل کي "مُسْلِمُوْنَ" وو، په اضافت کي نون حذف سو، "مُسْلِمُوْيَ" سو، بیا واو په یاء سره بدل سو، یاء په یاء کي مدغمه سوه "مُسْلِمِيَّ" سو، بیا ضمه د ماقبل په کسره سره بدله سوه د یا د مناسبت په وجه "مُسْلِمِيَّ" سو.

جملي:

عنوان	خبریه، انشائیه مع اقسام	مسند	مسندالیه	اسم غیر متمکن	معرب، مبني	معرفه، نکره	مذکر، مؤنث	اعراب بالحرکت، اعراب بالحرف	لفظي، تقدیري مع الاقسام	تبعي، غیر تبعي
إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ	خبریه فعلیه	يَتَذَكَّرُ	أُولُو الْأَلْبَابِ	•	۳... معرب، ۲ مبني	(أُولُو الْأَلْبَابِ) معرفه	(أُولُو الْأَلْبَابِ) مذکر	(أُولُو) بالحرف (۱۱) قسم، (الْأَلْبَابِ) بالحرکت (۱) قسم	لفظي	(أُولُو) تبعي، (الْأَلْبَابِ) غیر تبعي
اَللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ	خبریه اسمیه	وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ	اَللّٰهُ	هُوَ	۳ معرب، ۱ مبني	۳ معرفه	۳ مذکر	(اَللّٰهُ وَلِيُّ) بالحرکت (۱) قسم، (الْمُؤْمِنِيْنَ) بالحرف (۱۰) قسم	لفظي	(اَللّٰهُ وَلِيُّ) غیر تبعي (الْمُؤْمِنِيْنَ) ۱
قَالَ مُوْسٰى لِأَخِيْهِ	خبریه فعلیه	قَالَ	مُوْسٰى	و	۲ معرب، ۲ مبني	۳ معرفه	۳ مذکر	(مُوْسٰى) بالحرکت (۱۳) قسم، (أَخِيْ) بالحرف (۱۳) قسم	(مُوْسٰى) تقدیري أَخِيْ لفظي	أَخِيْ تبعي

(1) د اسم منقوص اعراب بالحرکت دئ، ځکه په زور، زبر، پیښ سره دئ، او مشترک دئ ځکه ذی د لفظي او تقدیري په مینځ کي اشتراک لري غیر تبعي دئ، ځکه یو حالت یې بل حالت لره تابع نه دئ. (از مرتب عفي عنه)

(2) جمع مذکر سالمه چي مضاف سي و یاء د متکلم ته نو د دې اعراب بالحروف دئ، ځکه په واو او یاء سره دئ، او مشترکه دئ، ځکه د لفظي او تقدیري په مینځ کي اشتراک لري او تبعي دئ، ځکه حالت نصبي یې تابع حالت جري لره دئ. (از مرتب عفي عنه)

نمونہ	خبریہ، انشائیہ جملہ	مسند	مسند الیہ	اسم ظاہر، ضمیر	معرب، مبنی	معرفہ، نکرہ	مذکر، مؤنث	اعراب بالحرکت، اعراب بالحرف	لفظی، تقدیری مع الاقسام	سماعی، غیر سماعی
اِسْمُهٗ يَحْيٰى	خبریہ، اسمیہ	يَحْيٰى	اِسْمُهٗ	ہٗ	۲۔ معرب، ۱۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۳۔ مذکر	(اِسْمُهٗ) (۱) قسم و (يَحْيٰى) بالحرکت (۱۳) قسم	(يَحْيٰى) تقدیری (اِسْمُهٗ) لفظی	غیر سماعی
هٰذَا كِتَابِيْ	خبریہ، اسمیہ	كِتَابِيْ	هٰذَا	هٰذَا، يْ	۱۔ معرب، ۲۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۳۔ مذکر	(كِتَابِيْ) بالحرکت (۱۳) قسم	تقدیری	غیر سماعی
اُذْكُرُوْا نِعْمَتِيْ	انشائیہ، طلبیہ	اُذْكُرُوْا	اَنْتُمْ	اَنْتُمْ، يْ	۱۔ معرب ۳۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۲۔ مذکر ۱۔ مؤنث	(نِعْمَتِيْ) بالحرکت (۱۳) قسم	تقدیری	غیر سماعی
اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ	خبریہ، اسمیہ	هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ	اُولٰٓئِكَ	اُولٰٓئِكَ، هُمْ تاکید	۱۔ معرب ۲۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۳۔ مذکر	(اَلْمُفْلِحُوْنَ) بالحرف (۱۰) قسم	لفظی	سماعی
وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ	انشائیہ، طلبیہ	لَا تُطِعْ	اَنْتَ	اَنْتَ	۲۔ معرب، ۲۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۲۔ مذکر	(اَلْكٰفِرِيْنَ) بالحرف (۱۰) قسم	لفظی	سماعی
هُمْ اُولُوْ عَقْلٍ	خبریہ، اسمیہ	اُولُوْ عَقْلٍ	هُمْ	هُمْ	۲۔ معرب ۱۔ مبنی	۲۔ معرفہ، ۱۔ نکرہ	۳۔ مذکر	(اُولُوْ) بالحرف (۱۱)، (عَقْلٍ) بالحرکت (۱) قسم	لفظی	(اُولُوْ) سماعی، (عَقْلٍ) غیر سماعی
اَللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ	خبریہ، اسمیہ	يُحِبُّ	اَللّٰهُ	هُوَ	۳۔ معرب ۱۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۳۔ مذکر	(اَللّٰهُ) بالحرکت (۱) قسم، (اَلْمُحْسِنِيْنَ) بالحرف (۱۰) قسم	لفظی	(اَللّٰهُ) غیر سماعی (اَلْمُحْسِنِيْنَ) سماعی
بَلَغَ الْعُلٰى بِكَمَالِهٖ	خبریہ، فعلیہ	بَلَغَ	هُوَ	هُوَ، ہٖ	۲۔ معرب، ۳۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۳۔ مذکر ۱۔ مؤنث	بالحرکت	(اَلْعُلٰى) تقدیری (۱۳)، (كَمَالِ) لفظی (۱) قسم	غیر سماعی
كَشَفَ الدُّجٰى بِجَمَالِهٖ	خبریہ، فعلیہ	كَشَفَ	هُوَ	هُوَ، ہٖ	۲۔ معرب، ۳۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۳۔ مذکر ۱۔ مؤنث	بالحرکت	(اَلدُّجٰى) تقدیری (۱۳) قسم (جَمَالِ) لفظی (۱)	غیر سماعی
وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ	انشائیہ، طلبیہ	لَا تَتَّبِعْ	اَنْتَ	اَنْتَ	۲۔ معرب، ۳۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۳۔ مذکر	(سَبِيْلَ) بالحرکت (۱) قسم، (مُفْسِدِيْنَ) بالحرف (۱۰) قسم	لفظی	(سَبِيْلَ) غیر سماعی (مُفْسِدِيْنَ) سماعی
فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ	انشائیہ، طلبیہ	اُدْخُلِيْ	اَنْتِ	اَنْتِ، يَا	۱۔ معرب ۵۔ مبنی	۳۔ معرفہ	۲۔ مذکر ۱۔ مؤنث	(عِبَادِيْ) بالحرکت (۱۳) قسم	تقدیری	غیر سماعی
اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا	خبریہ، اسمیہ	زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا	اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ	۔	۵۔ معرب، ۱۔ مبنی	۵۔ معرفہ	۲۔ مذکر ۳۔ مؤنث	(اَلْبَنُوْنَ) بالحرف (۱۰) قسم باقی بالحرکت (۱) اور (۱۳)	لفظی و تقدیری (اَلدُّنْيَا) تقدیری	(اَلْبَنُوْنَ) سماعی، باقی غیر سماعی
بَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ	انشائیہ، طلبیہ	بَشِّرْ	اَنْتَ	اَنْتَ	۱۔ معرب، ۲۔ مبنی	۲۔ معرفہ	۲۔ مذکر	(اَلصّٰبِرِيْنَ) بالحرف (۱۰) قسم	لفظی	سماعی

عنوان	خبر، انشاء مع اقسام	مسند	مسند الیہ	اسم غیر متمکن	معرب، مبنی	معرفہ، نکرہ	مذکر، مؤنث	اعراب بالحرکت، اعراب بالحرف	لفظی، تقدیری مع الاقسام	نحو، غیر نحو
وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيْمَ	انشاء، تہ، طلبیہ	اُذْكُرْ	اَنْتَ	اَنْتَ	۲. معرب ۳. مبنی	۳. معرفہ	۳ مذکر	(اَلْكِتَابُ) (۱) قسم (إِبْرَاهِيْمَ) بالحرکت (۵) قسم	لفظی	نحو، غیر نحو
وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ	خبریہ فعلیہ	عَلَّمَ	هُوَ	هُوَ	۲. معرب ۳. مبنی	۳. معرفہ	۳ مذکر	بالحرکت (۵) (۳)	لفظی	نحو، غیر نحو

التمرين:

"إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ،، يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ،، أَنَا يُوسُفُ وَهَذَا أَخِي،، فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ،، فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ،، أَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ،، وَ وَاعَدْنَا مُوسَى أَرْبَعِينَ لَيْلَةً،، فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ،، فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا،، كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا،، وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ".

فصل بدانکہ اعراب مضارع سہ است رفع، و نصب، و جزم فعل مضارع باعتبار وجوہ اعراب الخ:... الی قولہ باب اول در حروف عاملہ.

ترجمه:

پوه سه! چي اعراب د مضارع درې دي: رفع، نصب، جزم، فعل مضارع په اعتبار د اعراب سره پر څلور قسمه ده:

اول صحيح، چي د ضمائرو بارزو مرفوعه (چي د تثنيې او جمع مذكر او واحد مؤنثي دپاره وي) د هغه څخه خالي وي، نو په دې وخت كي د ذوى رفع، په ضمه سره ده، نصب يې په فتحه سره دئ او جزم يې په سكون سره دئ. لكه: "هُوَ يَضْرِبُ. لَنْ يَّضْرِبَ. لَمْ يَضْرِبْ".

دوهم: فعل مضارع مفرده كه معتل واوي لكه: "يَغْزُوْ" او كه يايي وي، لكه: "يَرْمِيْ". رفع يې په تقدير د ضمې سره نصب يې په فتحه لفظي سره، او جزم يې په حذف د لام سره دئ. لكه: "هُوَ يَغْزُوْ وَ يَرْمِيْ. لَنْ يَّغْزُوَ لَنْ يَّرْمِيَ. لَمْ يَغْزُ وَلَمْ يَرْمِ".

دريم مفرد متعل الفي: لكه "يَرْضٰى" رفع يې په تقدير د ضمې سره ده، نصب يې په تقدير د فتحې سره او جزم يې په حذف د لام سره دئ. لكه: "هُوَ يَرْضٰى، وَلَنْ يَّرْضٰى، وَلَمْ يَرْضَ".

څلورم صحيح وي او که معتل د ضمائرو مذکورو سره یعني چي نون د تثنيې او د جمع مذکر او د واحد مؤنث ور سره وي، نو بیا د دوی رفع په اثبات د نون سره ده، لکه: په تثنيه کي، "هُمَا يَضْرِبَانِ، يَغْزُوَانِ، يَرْمِيَانِ، يَرْضَيَانِ". او په جمع مذکر کي "هُمْ يَضْرِبُوْنَ، وَيَغْزُوْنَ، وَيَرْمُوْنَ، وَيَرْضَوْنَ". او په واحد مؤنث حاضر کي، لکه: "أَنْتِ تَضْرِبِيْنَ، وَتَغْزِيْنَ، وَتَرْمِيْنَ، وَتَرْضَيْنَ".

او نصب و جزم يې په حذف د نون سره دي، لکه: په تثنيه کي "لَنْ يَضْرِبَا. لَنْ يَغْزُوَا. لَنْ يَرْمِيَا. لَنْ يَرْضَيَا". او په حالت جزمي کي "لَمْ يَضْرِبَا. لَمْ يَغْزُوَا. لَمْ يَرْمِيَا. لَمْ يَرْضَيَا" او په جمع مذکر کي "لَنْ يَضْرِبُوْا. لَنْ يَغْزُوْا. لَنْ يَرْمُوْا. لَنْ يَرْضَوْا". او "لَمْ يَضْرِبُوْا. لَمْ يَغْزُوْا لَمْ يَرْمُوْا. لَمْ يَرْضَوْا" او په واحد مؤنث حاضر کي لکه: "لَنْ تَضْرِبِيْ. لَنْ تَغْزِيْ. لَنْ تَرْمِيْ. لَنْ تَرْضَيْ. لَمْ تَضْرِبِيْ. لَمْ تَغْزِيْ. لَمْ تَرْمِيْ. لَمْ تَرْضَيْ".

الدرس التاسع عشر:

د نن سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د فعل مضارع اعراب ([1]):

اعراب د مضارع دري (۳) دي. رفع، نصب، جزم.

په فعل مضارع کي رفع په دوو طريقو سره راځي:

۱. رفع کله په ضمه سره راځي لکه: "هُوَ يَضْرِبُ".

([1]) د فعل مضارع ټولي څوارلس صيغې دي؛ چي په هغه کي دوې مبني دي، جمع مؤنث غائبات لکه: "يَفْعِلْنَ"، جمع مؤنث مخاطبات لکه: "تَفْعِلْنَ". د دولس صيغې پاته سوې په دغه دوولس صيغو کي اووه صيغې د ضمير بارز سره دي، څلور د تثنيې صيغې دي، لکه: "يَفْعِلَانِ. تَفْعِلَانِ. تَفْعِلَانِ. تَفْعِلَانِ". او دوې د جمع مذکر صيغې دي، لکه: "يَفْعِلُوْنَ. تَفْعِلُوْنَ"، او يوه د واحد مؤنثي مخاطبي صيغه ده؛ لکه: "تَفْعِلِيْنَ". د دغه مذکوره صيغو اعراب په څلور قسمه کي بيانيږي. او صرف پنځه صيغې پاته کيږي چي "يَفْعِلُ. تَفْعِلُ. تَفْعِلُ. أَفْعِلُ. نَفْعِلُ" دي. او د دغه صيغو اعراب بيا په اولو درو قسمو کي بيانيږي.(العلامات النحوية)

۲. او کله په اثبات د نون سره راځي لکه: "هُمَا يَضْرِبَانِ".

او نصب هم په دوو (۲) طريقو سره راځي:

۱. کله په فتحه سره راځي لکه: "لَنْ يَضْرِبَ".

۲. او کله په حذف د نون سره راځي لکه: "لَنْ يَضْرِبَا".

او جزم په درو (۳) طريقو سره راځي:

۱. کله په حذف د حرکت سره راځي لکه: "لَمْ يَضْرِبْ".

۲. کله په حذف د نون سره راځي لکه: "لَمْ يَضْرِبَا".

۳. او کله په حذف د حرف علت سره راځي لکه: "لَمْ يَغْزُ، لَمْ يَرْمِ".

دوهمه څېره:

افعال په نزد د صرفيينو خو ډېر دي. لېکن په نزد د نحويينو درې (۳) دي:

۱. فعل ماضي.

۲. امر (۱).

۳. فعل مضارع.

فعل ماضي او امر حاضر خو مبني دي او فعل مضارع د نون د جمع مؤنث سره هم مبني ده چې هغه دوې (۲) صيغې دي:

۱. "يَضْرِبْنَ".

۲. "تَضْرِبْنَ" او هغه نورې دولس (۱۲) صيغې د مضارع معربې دي.

د فعل مضارع د اعراب اقسام:

اعراب د فعل مضارع پر دوه (۲) قسمه دئ:

---

(۱) په فعل امر کې اختلاف دئ عند البعض دی معرب دي، ځکه پر مضارع باندې چې کله لام داخل سي نو بيا امر ځيني جوړېږي لکه: "لِتَضْرِبْ" او لکه: څنګه چې "لَمْ يَضْرِبْ" معرب دئ، داغه رنګه "لِتَضْرِبْ" هم معرب دئ، بيا تخفيفا "لام و تاء" حذف سول د ابتداء بالسکون څخه د بچاوېدو د پاره يې همزه وصلي راوړئ "اِضْرِبْ" جوړ سو. نو د "اِضْرِبْ" سکون د لام جازم عامل د عمل نتيجه ده، نو ځکه د دې قول پر بنياد باندې د فعل مضارع صرف دوه قسمونه جوړېږي چې په هغو کې يو دغه امر دئ او عند البعض امر مبني دئ، پر علامه د جزم باندې او دی خپل ځان لره جلا مستقل قسم دئ.

۱. بالحرکت.

۲. بالحرف.

د اعراب بالحرکت اقسام:

بالحرکت بیا پر دوه (۲) قسمه دئ:

۱. لفظي.

۲. تقدیري.

د اعراب تقدیري اقسام:

تقدیري بیا پر دوه (۲) قسمه دئ.

۱. "فِيْ حَالَةٍ وَاحِدَةٍ" یعني کله په یو حالت کي تقدیري وي.

۲. "فِيْ حَالَتَيْنِ" او کله په دوه حالته کي تقدیري وي.

دریمه خبره:

د فعل مضارع اقسام په اعتبار د اعراب سره ([1]):

فعل مضارع په اعتبار د اعراب سره پر څلور قسمه ده:

فائده:

دلته په اولو درو قسمو کي صرف د مضارع د پنځو صیغو اعراب بیانیږي: (۱) واحد مذکر غائب لکه: "یَفْعِلُ". (۲) واحده مؤنثه غائبه لکه: "تَفْعِلُ" (۳) واحد مذکر مخاطب لکه: "تَفْعِلُ" (۴) واحد متکلم لکه: "اَفْعِلُ" (۵) جمع متکلم لکه: "نَفْعِلُ".

که چیري صحیح وي، اول قسم اعراب یې دئ، که معتل واوي یا یایي وي، دوهم قسم اعراب یې دئ او که معتل الفي وي، دریم قسم اعراب یې دئ، او که چیري د دغه پنځو صیغو څخه علاوه د

([1]) د فعل مضارع د معرب والي وجه دا ده: چي دا د اسم فاعل سره چي معرب دئ، لفظا او معنا دواړه قسمه مشابهت لري لفظي مشابهت یې په تعداد د حروفو کي او په حرکاتو و سکناتو کي سره موافقت دئ، لکه: "یَضْرِبُ" بروزن "ضَارِبٌ". او معنوي مشابهت یې دا دئ: چي فعل مضارع د اسم فاعل په شان په حال او استقبال کي مشترکه ده لکه: "یَضْرِبُ" یعني (هغه یو سړی به اوس یا پس د دې وهل و کړي) او د "ضَارِبٌ" معنی (هغه یو سړی وهونکی دئ نن یا سبا). (نصر الخبیر)

تثنيې، و د جمع او د واحد مؤنث مخاطبِ صيغې وي او نون ور سره وو، خواه که صحيح وي، او که معتل، څلورم قسم اعراب يې دئ.

۱. اول قسم مفرد صحيح چې خالي وي د ضمائرو بارزه وو څخه کم چې د تثنيې او جمع مذکر او د واحده مؤنثه مخاطبه دپاره وي، رفع يې په ضمه لفظي سره ده نصب يې په فتحه لفظي سره دئ، او جزم يې په سکون د لام کلمې سره دئ. يعني اعراب بالحرکت لفظي غير تبعي دئ. لکه: "هُوَ يَضْرِبُ. لَنْ يَّضْرِبَ. لَمْ يَضْرِبْ".

۲. دوهم قسم مفرد ناقص واوي يا يايي وي لکه "يَغْزُوْ وَ يَرْمِيْ" رفع يې په تقدير د ضمې سره ده او نصب يې په فتحه لفظي سره دئ، او جزم يې په حذف د لام کلمې سره دئ. يعني اعراب بالحرکت مشترک غير تبعي دئ، لکه: "هُوَ يَغْزُوْ وَ يَرْمِيْ، لَنْ يَّغْزُوَ، وَلَنْ يَّرْمِيَ. لَمْ يَغْزُ. وَلَمْ يَرْمِ".

څلورمه خبره:

دريم قسم:

معتل الفي دئ، رفع يې په تقدير د ضمې سره نصب يې په تقدير د فتحې سره او جزم يې په حذف د لام کلمې سره دئ. يعني اعراب بالحرکت تقديري غير تبعي دئ لکه: "هُوَ يَرْضٰى، لَنْ يَّرْضٰى، لَمْ يَرْضَ".

څلورم قسم:

فعل مضارع صحيح وي او که معتل: ليکن نونات د تثنيې او د جمع او واحده مؤنثه مخاطبه ور سره وي، د دغه قسم اعراب رفع يې په اثبات د نون سره ده او نصب او جزم يې په حذف د نون سره دئ. د حالت رفعي مثال چې کله تثنيه وي، "هُمَا يَرْضَيَانِ، يَغْزُوَانِ، يَرْمِيَانِ". چې کله جمع مذکر وي، لکه: "هُمْ يَضْرِبُوْنَ، وَ يَغْزُوْنَ ، وَ يَرْمُوْنَ، وَ يَرْضَوْنَ" چې کله واحد مؤنث وي، ليکه: "اَنْتِ تَضْرِبِيْنَ، وَ تَغْزِيْنَ، وَ تَرْمِيْنَ، وَ تَرْضَيْنَ". د حالت نصبي او جزمي مثال چې کله تثنيه وي، لکه: "لَنْ يَّضْرِبَا، لَنْ يَّغْزُوَا، لَنْ يَّرْمِيَا، لَنْ يَّرْضَيَا، لَمْ يَضْرِبَا، لَمْ يَغْزُوَا، لَمْ يَرْمِيَا، لَمْ يَرْضَيَا". "وَقِسْ عَلَيْهِ الْجَمْعَ وَ الْمُؤَنَّثَةَ الْمُخَاطَبَةَ".

پنځمه خبره:

د عامل لغوي او اصطلاحي تعریف:

عامل په لغت کي مؤثر ته وايي: او په اصطلاح کي "مَا اَوْجَبَ كَوْنَ آخِرِ الْكَلِمَةِ عَلَى وَجْهٍ مَّخْصُوْصٍ مِّنْ رَفْعٍ اَوْ نَصْبٍ اَوْ جَرٍّ اَوْ جَزْمٍ". عامل هغه دئ چي د یو مخصوص وجي پر بنیاد باندي د کلمې آخر مرفوع، منصوب، مجرور، او یا مجزوم گرځوي.

د عوامل تعداد:

عوامل د نحو ټول سل (۱۰۰) دانې دي:

د عامل اقسام:

عامل پر دوه قسمه دئ:

۱. لفظي.

۲. معنوي.

د عامل لفظي تعریف:

"مَا يُعْرَفُ بِالْقَلْبِ وَيَتَلَفَّظُ بِهِ" چي په ده سره تلفظ کیږي.

د عوامل لفظیه وو تعداد:

عوامل لفظیه اته نیوي (۹۸) دانې دي.

د عامل معنوي تعریف:

"مَا يُعْرَفُ بِالْقَلْبِ وَلَا يَتَلَفَّظُ بِهِ". چي په ده سره تلفظ نه کیږي.

د عوامل معنویه وو تعداد:

عوامل معنویه دوه (۲) دانې دي.

د عامل لفظي تقسیمات:

د عامل لفظي اول تقسیم:

عامل لفظي د سماع او قیاس په اعتبار سره پر دوه قسمه دي:

۱. عامل لفظي قیاسي.

۲. عامل لفظي سماعي.

د عامل لفظي قياسي تعريف:

"مَا لَا يُمْكِنُ تَعْيِيْنُهُ إِلَّا بِمَفْهُوْمٍ كُلِّيٍّ لِتَعَذُّرِ ضَبْطِ جُزْئِيَّاتِهٖ" چي د ده دپاره يو مفهوم كلي (قانون) وضع سوى وي، ځكه د ده د جزئياتو حصر او ضبط بغير د قانونه ممكن نه وي.

د عوامل لفظيه قياسي تعداد:

عوامل لفظيه قياسي اووه (۷) دانې دي. (۱) فعل مطلقًا. (۲) مصدر. (۳) اسم فاعل. (۴) اسم مفعول. (۵) صفت مشبه. (٦) اسم مضاف. (۷) اسم تام.

د عامل لفظي سماعي تعريف:

"مَا يُمْكِنُ ضَبْطُهُ بِالْجُزْئِيَّاتِ" چې دی د جزئیاتو په ذريعه تر ضبط لاندې را وستل ممكن وي.

د عوامل لفظيه سماعي تعداد:

عوامل لفظيه سماعي يو نيوي (۹۱) دانې دي چي پر ديارلس نوعي باندې مشتمل دي: (۱) حروف جاره اوولس (۱۷) دي. (۲) حروف مشبه بالفعل شپږ (٦) دانې دي. (۳) ما و لا مشبهتان بليس. (۴) حروف نداء اووه (۷) دانې دي. (۵) حروف نواصب څلور (۴) دانې دي. (٦) حروف جوازم پنځه (۵) دانې دي. (۷) اسماء جوازم نه (۹) دانې دي. (۸) اسماء كنايات و اسماء عدد هغه څلور (۴) دي. (۹) اسماء افعال هغه نه (۹) دانې دي. (۱۰) افعال ناقصه ديارلس (۱۳) دانې دي. (۱۱) افعال مقاربه څلور (۴) دانې دي. (۱۲) افعال قلوب اووه (۷) دانې دي. (۱۳) افعال مد و ذم څلور دانې دي.

شپږمه خبره:

د عامل معنوي اقسام:

عامل معنوي پر دوه قسمه دئ:

۱. ابتداء: چي په مبتداء او خبر كي عامله ده عند الاكثر لكه: "زَيْدٌ قَائِمٌ".

۲. خلو: چي په فعل مضارع كي عامله ده كم وخت چي فعل مضارع د نواصبو او جوازمو څخه خالي وي، لكه: "يَضْرِبُ".

د عواملو تعداد:

عوامل ټول سل دي: دوه معنوي دي، اول ابتداء دوهم خلوَ، اته نيوي (۹۸) لفظي دي، بيا لفظي پر درې قسمه دي (۱): حروف عامله (۲) افعال عامله (۳) اسماء عامله (۴).

اوومه خبره:

د عوامل لفظي تقسيم:

عامل لفظي پر درې قسمه دئ:

۱. حروف عامله.

۲. افعال عامله.

---

(۱) يوه وجه د حصر يې دا ده چې عامل به مستقل الدلالة وي يا به نه وي، كه چيرې مستقل الدلالة وو، بيا به د دوو حالتو څخه خالي نه وي، يا به پر زمانه دلالت كوي او يا به يې نه كوي، كه يې چيرې دلالت پر زمانه كوئ هغه افعال عامله دي، كه يې چيرې پر زمانه دلالت نه كوي، هغه اسماء عامله دي، او كه چيرې غير مستقل الدلالة وو هغه حروف عامله دي.
دوهمه وجه د حصر: عامل به يا بالذات وي، يا به باالواسطه وي، كه چيرې باالواسطه وو، هغه اسماء عامله دي، كه چيرې بالذات وو، بيا به يا عامل ضعيف وي، او يا به عامل قوي وي، كه چيرې عامل قوي وو، هغه افعال عامله دي، او كه چيرې عامل ضعيف وو هغه حروف عامله دي.
(۲) حرف كه څه هم بالذات عمل كوي لېكن د معنى په اعتبار چونكه دى غير مستقل دئ نو ځكه عامل ضعيف دئ او كله كله د يو عارض په وجه دى ملغى عن العمل جوړيږي نو مصنف رحمة الله عليه په آخر كي مستقل يو فصل د حروف غير عامله وو منعقد كړى دئ.
(۳) فعل چونكه عامل بالذات دئ، او قوي هم دئ ځكه په دنيا كي يو فعل هم غير عامل نسته سوا د يو څو افعالو څخه بلكه خامخايو عمل ضرور كوي نو ځكه مصنف رحمة الله عليه د عواملو لفظيو بيان پر درو بابو تقسيم كړى دئ.
(۴) اسم پر درې قسمه دئ: (۱) اسم جامد. (۲) اسم مشتق (۳) اسم مصدر. اسم جامد هيڅ كله عمل نه كوي دى همېشه بې عمله وي: اسم مشتق او اسم مصدر دواړه عاملان دي لېكن بالذات عمل نه كوي ځكه كه چيرې اسم بالذات عمل كولاى سواى نو هر اسم به عامل واى حتى اسم جامد به تر ټولو مخكي عامل واى حالانكه اسم جامد عمل نه سي كولاى نو ځكه د اسم مشتق او مصدر عمل بالذات نه وي، بلكه د فعل سره د مشابهت په وجه دوى عمل كوي د اسم مشتق د فعل سره مشابهت په دوه جهته دئ يو خو د فعل سره په وزن كي مشابهت دئ او بل په معنى كي او د مصدر د فعل سره مشابهت په يو جهت سره دئ هغه په معنى كي مشابهت دئ نه په وزن كي چونكه د اسم مشتق د مشابهت جهت قوي دئ تر مصدر، نو ځكه مشتقات په عمل كي تر مصدر قوي دي، او په "غُلَامُ زَيْدٍ" كي "غُلَامُ" اسم جامد، په "زَيْدٍ" كي ځكه عامل نه دئ چې دلته حرف جر مقدر دئ، په اصل كي "غُلَامٌ لِزَيْدٍ" وو، لېكن دلته مضاف ته مجازا عامل ويل سوي دي ځكه دى د دغه حرف جر قائم مقام دئ لېكن دى اسم جامد دئ په هيڅ حال كي عمل نه سي كولاى. (تنوير)

۳. اسماء عامله.

حروف عامله پر دوه قسمه دي:

۱. عامله در اسم.

۲. عامله در فعل.

بيا عامله در اسم پر اوه قسمه دي: (۱) حروف جاره، هغه اوولس (۱۷) دي: (۲) حروف مشبه بالفعل هغه شپږ (٦) دي. (۳) ما و لا مشبهتان بليس (۴) لاءِ نفي جنس (۵) حروف نداء هغه پنځه (۵) دي: دوه غير مشهور دي: (٦) "اِلَّا" حرف استثنی (۷) واو په معنٰی د "مَعَ" سره.

او عامله در فعل پر دوه قسمه دي: (۱) حروف ناصبه هغه څلور (۴) دي: (۲) حروف جازمه هغه پنځه (۵) دي.

افعال عامله پر شپږ قسمه دي:

۱. فعل معروف: او دده اووه معمولات دي: (۱) فاعل، (۲) مفعول مطلق. (۳) مفعول فيه. (۴) مفعول معه. (۵) مفعول له. (٦) حال. (۷) تميز.

۲. فعل مجهول.

۳. افعال ناقصه.

۴. افعال مقاربه.

۵. افعال مدح و ذم.

٦. فعل تعجب.

اسماء عامله پر يوولس قسمه دي:

۱. اسماء شرطيه.

۲. اسماء افعال په معنٰی د فعل ماضي سره.

۳. اسماء افعال په معنٰی د امر حاضر سره.

۴. اسم فاعل.

۵. اسم مفعول.

٦. صفت مشبه.

۷. اسم تفضيل.

۸. مصدر.

۹. اسم مضاف.

۱۰. اسم تام.

۱۱. اسماء کنایات.

جملے:

عنوان	خبر، انشاء مع اقسام	مسند	مسند الیہ	اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی، تقدیری	تبعی، غیر تبعی	اعراب مضارع	حروف عاملہ
أَدَبُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِنْ نَسَبِهٖ	خبریہ اسمیہ	خَيْرٌ مِنْ نَسَبِهٖ	أَدَبُ الْمُؤْمِنِ	۲. هُوَ، هٖ	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (مِن) جارہ
تَاللّٰهِ لَأَكِيْدَنَّ أَصْنَامَكُمْ	انشائیہ فعلیہ	أُقْسِمُ	أَنَا	أَنَا، أَنَا، كُمْ	۳. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱، ۳) قسم	(أَكِيْدُ) حالت رفعی (۱)	۱. (تَا) جارہ
اَلْإِنْسَانُ يَعْلَمُ مِنَ اللِّسَانِ	خبریہ اسمیہ	يَعْلَمُ	اَلْإِنْسَانُ	هُوَ	۳. معرب	۲. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	(يَعْلَمُ) حالت رفعی (۱)	۱. (مِن) جارہ
لَهٗ مَا فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ	خبریہ اسمیہ	(لَهٗ) باعتبار متعلق	مَا فِي السَّمَاوَاتِ الخ	هُوَ، هٗ، مَا	۳. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	لفظی	(اَلسَّمٰوَاتِ) (۳) تبعی (۱) غیر تبعی	+	۲. (لام) جارہ، (فِي) جارہ
نُوْرُ الْمُؤْمِنِ يَعْلَمُ مِنْ قِيَامِ اللَّيْلِ	خبریہ اسمیہ	يَعْلَمُ	نُوْرُ الْمُؤْمِنِ	هُوَ	۵. معرب	۲. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	(يَعْلَمُ) حالت رفعی (۱)	۱. (مِن) جارہ
يَدْخُلُوْنَ فِي دِيْنِ اللّٰهِ أَفْوَاجًا	خبریہ فعلیہ	يَدْخُلُوْنَ	هُمْ	هُمْ	۳. معرب	۲. مبنی	(يَدْخُلُوْنَ) بالحرف، باقی بالحرکت	لفظی	تبعی غیر تبعی (۱) قسم	(يَدْخُلُوْنَ) حالت رفعی (۳)	۱. (فِي) جارہ
أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ	خبریہ فعلیہ	أَنْزَلَ	نَا	نَا، هٗ	۲. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (فِي) جارہ
مَا رَأَيْتُهٗ مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ	خبریہ فعلیہ	رَأَى	تُ	تُ، هٗ	۲. معرب	۵. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (مُذْ) جارہ
فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ	خبریہ فعلیہ	فَضَّلَ	نَا	نَا، هُمْ	۲. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (عَلٰى) جارہ
إِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ	خبریہ اسمیہ	سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ	اَللّٰهُ	هُوَ، هُوَ	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (إِنَّ) مشبہ بالفعل
إِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ	خبریہ اسمیہ	عَلِيٌّ حَكِيْمٌ	هٗ	هُوَ، هُوَ، هٗ	۲. معرب	۴. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (إِنَّ) مشبہ بالفعل
إِعْلَمُوْا أَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ	انشائیہ فعلیہ	إِعْلَمُوْا	أَنْتُمْ	أَنْتُمْ، هُوَ	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (أَنَّ) مشبہ بالفعل
مَا هٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ	خبریہ اسمیہ	قَوْلُ الْبَشَرِ	هٰذَا	هٰذَا	۲. معرب	۲. مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر تبعی (۱) قسم	+	۱. (مَا) المشبہ بلیس

عنوان	جملہ مع علامہ	مسند	مسند الیہ	اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکۃ، بالحرف	لفظی، تقدیری	تمیمی، غیر تمیمی	اعراب مضارع	حروف عاملہ
وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ	خبریہ اسمیہ	بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ	هُمْ	هُمْ، هُمْ	۲. معرب	۶. مبنی	۱. بالحرف ۱. بالحرکۃ	لفظی	(بِخَارِجِينَ) تمیمی (۱۰) (النار) غیر تمیمی	+	۲. (مَا) المشبہ بلیس، (مِنْ) جارہ
مَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا	خبریہ اسمیہ	بِمُؤْمِنٍ لَنَا	أَنْتَ	أَنْتَ، نَا	۱. معرب	۵. مبنی	(مُؤْمِنٍ) بالحرکۃ	لفظی	غیر تمیمی (۱) حم	+	۲. (مَا) المشبہ بلیس، (بَا) جارہ، (لام) جارہ
يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ	خبریہ فعلیہ	يَهْدِي	هُوَ	۲. هُوَ، هُوَ، مَنْ	۲. معرب	۳. مبنی	+	+	+	(يَهْدِي) رفعی (۲) (يَشَاءُ) رفعی (۱) حم	+
وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللّٰهِ	انشائیہ فعلیہ	لَا تَدْعُ	أَنْتَ	أَنْتَ، دُونَ	۳. معرب	۳. مبنی	(دُوْنِ) بالحرکۃ	لفظی	غیر تمیمی (۱) حم	(لَا تَدْعُ) جزمی (۲) حم	(مِنْ) جارہ
إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ	خبریہ فعلیہ	يَخْشَى	الْعُلَمَاءُ	هُ	۳. معرب	۳. مبنی	۳. بالحرکۃ	لفظی	غیر تمیمی (۱. ۳) حم	(يَخْشَى) رفعی (۳) حم	(مِنْ) جارہ
لَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا	خبریہ فعلیہ	أُكَلِّمَ	أَنَا	يَوْمَ، أَنَا	۳. معرب	۲. مبنی	۲. بالحرکۃ	لفظی	غیر تمیمی (۱) حم	(أُكَلِّمَ) نصبی (۱) حم	(لَنْ) ناصب
يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ	خبریہ فعلیہ	يَخْشَوْنَ	هُمْ	هُمْ، هُمْ	۲. معرب	۲. مبنی	(رَبَّ) بالحرکۃ	لفظی	غیر تمیمی (۱) حم	(يَخْشَوْنَ) رفعی باثبات نون (۳) حم	+

التمرين:

"لَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا،، يُخَادِعُونَ اللّٰهَ،، يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ،، كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى،، يُرِيْدَانِ أَنْ يُخْرِجَاكُمْ،، اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ،، وَلٰكِنْ أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ،، لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا،، لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوا،، أَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُونَ،، لَا يَقْضُونَ بِشَيْءٍ".

باب اول در حروف عاملہ ودر وے دو فصل است الخ:......................الی قولہ دوم حروف مشبہ بالفعل.

ترجمه:

په سه چي د اعراب والا عامل پر دوه قسمه دئ: (۱) لفظي (۲) معنوي. بیا لفظي پر دري قسمه دي: حروف افعال، اسماء چي انشاء الله موږ به يې په درو بابو کي بیانوو. اول باب په حروف عامله وو کي دئ او په هغه کي دوه فصلونه دي. اول فصل د حروف عامله وو په بیان کي دئ چي په اسم کي عمل کوي، هغه پر پنځه قسمه دي: اول حروف جاره دي. هغه اوولس دي (هغه دا دي): "بَا، و

تَاء، و كَافْ و لَامْ وَاوْ، مُنْذُ، و مُذْ، خَلَا، رُبَّ، حَاشَا، مِنْ، عَدَا، فِيْ، عَنْ، عَلٰى، حَتّٰى، إِلٰى". دا او ولس حروف پر اسم داخليږي او آخر ته جرور كوي. لكه: "اَلْمَالُ لِزَيْدٍ".

الدرس العشرون:

باب اول در حروف عامله.

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

اول قسم (۱) د حروف عامله (۲) در اسم څخه حروف جاره دي (۳):

د حروف جاره لغوي او اصطلاحي تعريف:

(۱) كم حروف چي په اسم كي عمل كوي، هغه پنځه قسمه دي: (۱) حروف جاره (۲) حروف مشبه بالفعل (۳) ما و لا مشبهتين بليس (۴) لاء نفي جنس (۵) حروف نداء.

حروف جاره او حروف نداء په يو اسم كي عمل كوي او حروف مشبه بالفعل، ما و لا مشبهتين بليس او لاء نفي جنس په دوو اسمو كي عمل كوي.

(۲) د حروف عامله وجه د حصر: د حروف عامله مدخول به يا مفرد وي او يا به جمله كه چيري مفرد وو، بيا د دوو حالو څخه خالي نه دئ: يا به يې اثر جر وي، او يا به نه وي، كه يې چيري اثر جر وو، هغه حروف جاره دي او كه نه وو حروف نداء دي، كه چيري مدخول يې جمله وه يا به بالاتفاق جمله وي او يا به نه وي، كه چيري عند البعض جمله وه او عند البعض مفرد وو، هغه "لَا" نفي جنس دئ ځكه د امام سبويه رحمة الله عليه په نزد باندي د لا نفي جنس د پاره صرف اسم راځي او خبر يې كالمعدوم وي، او كه چيري بالاتفاق جمله وه بيا به يا په خپل مدخول كي د نفي معنى پيدا كوي، هغه "مَا وَ لَا" مشبهتين "بِلَيْسَ" دي، ورنه حروف مشبه بالفعل دي.

او حروف كه څه هم د عمل په اعتبار سره ضعيف دي: لېكن حروف د اقسامو په اعتبار سره اعلى دي ځكه حروف شپږويشت قسمه دي، او افعال اووه قسمه دي: او اسماء لس قسمه دي، لېكن د عمل په باب كي اسم د فعل فرع دئ نو ځكه فعل مقدم سوى دئ. (همع الهوامع)

(۳) د حروف جاره عمل د اصالت په وجه دئ او د حروف مشبه بالفعل عمل د فعل سره د مشابهت او فرعيت په وجه دئ نو ځكه حروف جاره را مقدم سول.

جر (۱) په لغت کي راکشولو ته وايي: او په اصطلاح کي "مَا وُضِعَ لِاِفْضَاءِ الْفِعْلِ (۲) اَوْ مَعْنَى الْفِعْلِ (۳) اَوْ شِبْهِهٖ (۴) اِلٰى مَدْخُوْلِهٖ (۵)" چي دی به د خودي فعل او یا به د فعل او شبه فعل معنٰی خپل مدخول (اسم) ته راکشوي لکه: "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ".

د حروف جاره وو تعداد:

حروف جاره مشهوره اوولس (۱۷) دي، او غیر مشهوره پنځه دانې دي. مشهوره په دې شعر کي دي:

بَا، وتَا، کَافْ، ولَامْ، وَاوْ، مُنْذُ، ومُذْ، خَلَا .... رُبَّ، حَاشَا، مِنْ، عَدَا، فِیْ، عَنْ، عَلٰى، حَتّٰى، اِلٰى.

د حروف جاره وو مشهوره وو مختصره معنٰی او تشریح:

"بَاء" د سببیت او قسم دپاره رائحي. "تَاء" د قسم دپاره رائحي. "کَافْ" د تشبیه دپاره رائحي. "لَامْ" د واسطې، ظرف، وقت دپاره رائحي. "وَاوْ" د قسم دپاره رائحي، کله په معنٰی د "رُبَّ" سره هم استعمالیږي. او "رُبَّ" په معنٰی د ډېر ځله او بعض سره رائحي. "مُنْذُ، مُذْ" د وخت معلومولو دپاره رائحي. "مِنْ" د بعضیت او سبب په معنٰی استعمالیږي لېکن کله زائده وي. "فِيْ" د سببیت و غیره دپاره رائحي. "عَنْ" د طرف و غیره په معنٰی سره رائحي. "حَتّٰى" د انتهاء په معنٰی سره رائحي. "عَلٰى" د

---

(۱) د جر تعریف: "اَلْجَرُّ حَرَكَةٌ اَوْ حَرْفٌ تَدُلُّ عَلٰى كَوْنِ الْاِسْمِ مُضَافًا اِلَيْهِ".

(۲) یعني فعل او د حرف جر مدخول سره جلا وو، بیا د دوی په مینځ کي د ربط پیدا کولو دپاره حرف جر راوړل سو، لکه: په "زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ" کي لفظ د "فِيْ" د "اِسْتَقَرَّ" معنی را کش کړه و "دار" ته یعني "اِسْتِقْرَار" په "دار" کي راغلئ.

(۳) معنی د فعل چي د هغه څخه د فعل معنی مستنبطه کیږي. لیکن د فعل د مادې څخه نه وي، لکه: اسماء اشارات، اسماء افعال، حروف تنبیه، ظرف، جار و مجرور، حروف تمنی، حروف ترجی، حروف تشبیه، یعني اسم اشاره پر معنی د فعل چي "اُشِيْرُ" دئ دلالت کوي. او حروف تنبیه پر "اُنَبِّهُ" دلالت کوي، لکه: "هٰذَا فِي الدَّارِ اَبُوْكَ اَيْ اُشِيْرُ اِلٰى اَبِيْكَ فِي الدَّارِ".

(۴) شبه فعل هغه اسم دئ چي د فعل رنګه عمل کوي او د فعل د مادې څخه وي، لکه: اسم فاعل، اسم مفعول، مصدر، صفت مشبه، و غیره لکه: "اِنَّهٗ مَارٌّ بِزَيْدٍ".

(۵) د حروف جاره مدخول خواه که اسم حقیقي وي لکه: اسماء جوامد، مصادر، مشتقات. او که اسم تاویلي وي، لکه: فعل مضارع چي په تاویل د مصدر سره وي، او که اسم حکمي وي، لکه: د جملې څخه چي تعبیر په "هٰذَا" سره وسي. (الموجز في قواعد اللغة العربية)

استعلاء په معنٰی سره راځي. "حَاشَا، خَلَا، عَدَا" د "سِوَاء" په معنٰی کي استعمالیږي. "اِلٰی" د طرف او انتهاء په معنٰی سره راځي. "اِنْ شِئْتَ فَارْجِعْ اِلٰی شَرْحِ مِأةِ عَامِلْ".

د حروف جاره غير مشهوره معنٰی او تشريح:

۱. "كَیْ" دئ چي كله ناصبه وي، او كله جاره وي، د جاره دپاره شرط دا دئ: چي پر ما استفهاميه يا پر ما مصدريه يا پر "اَنْ" مصدريه به داخل سوی وي، لكه: "كَيْمَهْ اَیْ: كَيْمَ فَعَلْتَ هٰذَا" او د مصدريه مثال لكه: "كَيْمَا يَضُرُّ وَيَنْفَعُ".

۲. "لَوْلَا" دئ، په "لَوْلَا" جاره كي شرط دا دئ: چي مدخول به يې ضمير وي، لكه: "لَوْلَاكَ. لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْنَا الْاَفْلَاكَ".

۳. "لَاتَ" دئ د "لَاتَ" دپاره شرط دا دئ: چي مدخول به يې ظرف وي، لكه: "وَلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ".

۴. "لَعَلَّ" دئ "لَعَلَّ" په لغت د بني عقيل كي جاره دئ لكه: "لَعَلَّ اَبِي الْمِغْوَارِ مِنْكَ قَرِيْبٌ".

۵. "مَتٰی" دئ "مَتٰی" په لغت د بني هذيل كي په معنٰی د "مِنْ" جاره سره دئ لكه: "مَتٰی لُجَجٍ خُضْرٍ لَهُنَّ نَئِيْجُ".

دوهمه خبره:

د جار او مجرور مختصره تشريح (۱):

(۱) حرف جار په شپږو مقاماتو كي قياسًا حذف كيږي: (۱) كم وخت چي حرف جر د "اَنْ" څخه مخكي راسي لكه: "وَعَجِبُوْا اَنْ جَائَهُمْ اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَائَكُمْ. اَیْ لِاَنْ جَائَهُمْ". (۲) كله چي دی د "اَنَّ" مشدده څخه مخكي راسي لكه: "شَهِدَ اللهُ اَنَّهُ اَیْ شَهِدَ بِاَنَّهُ"، لېكن په دې دواړو صورتو كي چي د ده په حذف كولو سره به التباس نه راځي. ورنه بيا يې حذف كول جائز نه دي لكه: "رَغِبْتُ اَنْ اَفْعَلَ" ويل غلط دي بلكه دلته "فِيْ" يا د "عَنْ" ذكر كول لازمي دي چي د متكلم مراد يې په ميلان او اعراض كي معلوم سي. (۳) كله چي دی د "كَیْ" څخه مخكي راسي لكه: "كَیْ تَقَرَّ عَيْنُهَا اَیْ لِكَیْ تَقَرَّ عَيْنُهَا". (۴) پر مميز باندي كله چي پر "كَمْ" استفهاميه باندي حرف جر داخل سوی وي لكه: "بِكَمْ دِرْهَمٍ اِشْتَرَيْتَ اَیْ مِنْ دِرْهَمٍ". لېكن كه چيري پر "كَمْ" استفهاميه باندي حرف جر نه وي داخل سوی بيا نصب واجب دئ لكه: "كَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ". (۵) كله چي دی د لفظ "اَللهُ" څخه مخكي راسي او لفظ د "اَللهُ" د قسم دپاره استعمال سوی وي، لكه: "اَللهِ لَاَخْدِمَنَّ الْاُمَّةَ خِدْمَةً صَادِقَةً اَیْ وَاللهِ". (٦) كله چي دی د داسي كلام

جار او مجرور چي کله په کلام کي راسي نو و دوی ته مجازًا ظرف ويل کيږي ځکه ظرف حقيقي زمان وي يا مکان وي.

د ظرف اقسام:

ظرف پر دوه قسمه دئ:

۱. ظرف لغو، "مَا يَكُوْنُ عَامِلُهُ مَذْكُوْرًا" چي د ده عامل ذکر سوی وي.

۲. ظرف مستقر "مَا يَكُوْنُ عَامِلُهُ مَحْذُوْفًا سَوَاءٌ كَانَ مِنَ الْاَفْعَالِ الْعَامَّةِ اَوِالْخَاصَّةِ" چي د ده عامل حذف سوی وي خواه که د افعال خاصه وو څخه وي او که د افعال عامه وو څخه وي.

افعال عامه و خاصه:

افعال خاصه چي پر يو خاص معنیٰ دلالت کوي لکه: "اَكَلَ وَشَرِبَ".

افعال عامه څلور دي "كَوْنٌ، ثُبُوْتٌ، وُجُوْدٌ، حُصُوْلٌ".

د ظرف متعلق:

هر ظرف خپل متعلق غواړي او دی تر څلورو شيانو پوري تعلق نيولای سي:

۱. کله تر فعل پوري تعلق نسي لکه: "اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ".

۲. کله تر شبه فعل پوري تعلق نيسي لکه: "غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ".

۳. کله د ده متعلق مؤل په شبه فعل سره وي، لکه: "وَهُوَ اللهُ فِي السَّمٰوَاتِ وَفِي الْاَرْضِ اَیْ مَعْبُوْدٌ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ".

څخه وروسته راسي چي دغه هم د ده په شان پر حرف جر باندي مشتمل وي لکه: "مَرَرْتُ بِخَالِدٍ فَيَقَالُ اَبِخَالِدٍ وَابْنِ سَعِيْدٍ اَیْ اَبِخَالِدِ بْنِ سَعِيْدٍ".

او کله کله دی سماعًا حذف کيږي: نو په دې صورت کي دغه اسم مجرور منصوب به ويل کيږي. د منصوب سره مشابهت په وجه او په دې وخت کي و ده ته منصوب بنزع الخافظ ويل کيږي. لکه: قول د الله تعالی: "اَلَا اِنَّ ثَمُوْدَ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ اَیْ بِرَبِّهِمْ. وَاخْتَارَ مُوْسٰی قَوْمَهُ اَیْ مِنْ قَوْمِهٖ". (جامع الدروس العربية)

۴. کله کله د ده متعلق "مُشِيْرٌ إِلَى مَعْنَى الْفِعْلِ" وي، يعني د فعل معناوي بيا کله دا معنی د خاص (۱) الکلام څخه معلو ميږي لکه: "مَا أَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ. أَيْ إِنْتَفَى". او کله د سياق الکلام (۲) څخه معلو ميږي لکه: "لِأَنَّهَا إِمَّا أَنْ تَدُلَّ أَيْ مُنْحَصِرَةٌ لِأَنَّهَا".

فائده:

د جار او مجرور مفصل بحث په دريم نمبر سبق کي د جملې ظرفيې په ضمن کي تېر سوی دئ. "إِنْ شِئْتَ فَانْظُرْ هُنَاكَ".

دريمه خبره:

بعضي حروف جاره چي متعلق نه غواړي:

په هغه کي حروف جاره زائده دي لکه: "مِنْ. بَا. كَافْ. لَامْ" (۳) او داغه رنګه شبيه بالزائده دي هغه لکه: "رُبَّ. لَوْلَا. لَعَلَّ. حَاشَا. خَلَا. عَدَا. لَاتَ".

---

(۱) دلته د "إِنْتَفَى" معنی د لفظ د "مَا" څخه معلو ميږي چي پر نفي دلالت کوي.

(۲) دلته د "مُنْحَصِرَةٌ" معنی د سياق الکلام څخه معلو ميږي ځکه دلته وجه د حصر بيانيږي.

(۳) په حروف جاره زائده او په شبه زائده سره چي کم اسم لفظا مجروره کيږي هغه به "حَسْبُ الْعَامِلِ" محلا مرفوع وي او يا به منصوبه وي.

۱. مرفوع محلا چي فاعل وي لکه: "مَا جَاءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ. وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا" په اصل کي "مَا جَاءَنَا بَشِيْرٌ وَّلَا نَذِيْرٌ، وَ كَفَى اللّٰهُ" وو.

۲. مرفوع محلا چي نائب فاعل وي لکه: "قِيْلَ بِشَيْءٍ" په اصل کي "قِيْلَ شَيْءٌ" وو.

۳. مرفوع محلا چي مبتداء وي لکه: "بِحَسْبِكَ اللّٰهُ" په اصل کي "حَسْبُكَ اللّٰهُ" وو.

۴. منصوب محلا چي مفعول به وي، لکه: "مَا رَأَيْتُ مِنْ أَحَدٍ" په اصل کي "مَا رَأَيْتُ أَحَدًا" وو.

۵. منصوب محلا چي مفعول مطلق وي لکه: "مَا سَعٰى فُلَانٌ مِنْ سَعْيٍ يُحْمَدُ عَلَيْهِ" په اصل کي "مَا سَعٰى سَعْيًا يُحْمَدُ عَلَيْهِ" وو.

۶. منصوب محلا چي خبر وي لکه: "أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ" په اصل کي "أَلَيْسَ اللّٰهُ أَحْكَمَ الْحَاكِمِيْنَ" وو.

مجرور په حرف جر شبيه بالزائد او مجرور بحرف جر اصلي دپاره هم مختلف ځايونه دي او داغه رنګه حروف جاره زائده چي په کمو ځايو کي زياتيږي او د څه غرض دپاره زياتيږي د دې ټولو مکمل تفصيل په (جامع الدروس العربية) کي موجود دئ. "إِنْ شِئْتَ فَارْجِعْ إِلَيْهِ". (جامع الدروس العربية)

د جار او مجرور ترکيبي حيثيت:

۱. جار او مجرور کله خبر واقع کيږي لکه: "زَيْدٌ فِي الْمَسْجِدِ".

۲. کله صفت واقع کيږي لکه: "غَضَبٌ مِنْ رَبِّكُمْ".

۳. کله صله واقع کيږي لکه: "اَلَّذِيْ فِي الدَّارِ".

۴. کله حال واقع کيږي لکه: "فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ".

فائده:

په دغه څلورو ځايو کي چونکه د جار او مجرور متعلق د افعال عامه وو څخه دئ نو ځکه د ده حذف کول واجب دي، يعني "ثَبَتَ" يا "ثَابِتٌ" وغيره ښکاره کول جائز نه دي.

دوم حروف مشبہ بالفعل وآن شش است الخ: .... الی قولہ سوم ماولا مشبہتان بلیس.

ترجمه:

دوهم قسم د حروف عامله وو څخه حروف مشبه بالفعل دي هغه شپږ داني دي، "اِنَّ، اَنَّ، كَاَنَّ، لٰكِنَّ، لَيْتَ، لَعَلَّ". دغه حروف اسم ته نصب او خبر ته رفع ور کوي، لکه: "اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ" "زَيْدًا" ته اسم د "اِنَّ" او "قَائِمٌ" ته خبر د "اِنَّ" ويل کيږي.

پوه سه چي "اِنَّ" و "اَنَّ" حروف تحقيق دي. "كَاَنَّ" حرف تشبيه دئ. "لٰكِنَّ" حرف استدراک دئ. او "لَيْتَ" حرف تمنیٰ او "لَعَلَّ" حرف ترجی دئ.

څلورمه خبره:

دوهم قسم د حروف عامله وو څخه حروف مشبه بالفعل دي:

د حروف مشبه بالفعل عمل:

حروف مشبه بالفعل پر دوه اسمو داخلیږي: اسم ته نصب او خبر (۱) ته رفع ور کوي، لکه: "اِنَّ زَيْدًا قَائِم".

د حروف مشبه بالفعل تعداد:

حروف مشبه بالفعل شپږ داني دي: "اِنَّ، اَنَّ، كَاَنَّ (۲) لَيْتَ، لٰكِنَّ (۳) لَعَلَّ"

د حروف مشبه بالفعل مشابهت د فعل سره:

۱. اول: د دې حروفو مشابهت د فعل سره په ثلاثيت و رباعيت كي دئ "اِنَّ" لكه "ضَرَبَ" "لٰكِنَّ" لكه "دَحْرَجَ".

۲. دوهم: په لحوق د كاف خطاب كي لكه: "اِنَّكَ" او "ضَرَبْتُكَ".

۳. دريم: په لحوق د نون وقايه كي لكه: "اِنَّنِيْ" او "ضَرَبَنِيْ".

۴. څلورم: په وزن كي لكه: "اَنَّ" او "فَرَّ".

۵. پنځم: په معنٰى كي يې سره مشابهت دئ: لكه: "اِنَّ" "اَنَّ" په معنٰى د "حَقَّقْتُ" سره راځي. "كَاَنَّ" په معنٰى د "شَبَّهْتُ" سره راځي. "لَيْتَ" په معنٰى د "تَمَنَّيْتُ" سره راځي، "لٰكِنَّ" په معنٰى د "اِسْتَدْرَكْتُ" سره راځي. "لَعَلَّ" په معنٰى د "تَرَجَّيْتُ" سره راځي.

---

(۱) د حروف مشبه بالفعل په ناصب اسم كي اتفاق دئ يعني چي دوى اسم ته نصب ور كوي ليكن په رفع د خبر كي اختلاف دئ "عند البصريين" خبر ته هم رفع ور كوي ځكه د دوى مشابهت د فعل سره قوي دئ، چي پنځه قسمه دئ. "عند الكوفيين" دوى خبر ته رفع نه ور كوي بلكه د دوى خبر پر هغه خپله پخوانى رفع باندي پاته وي. چي كم د دوى د دخول څخه مخكي وه. "وَالدَّلَائِلُ فِي الْمُطَوَّلَاتِ". (الانصاف صفحه ۱۶۷)

گويا كي د دوى اسم د مفعول سره مشابه سو او خبر يې د فاعل سره مشابه سو ليكن د دوى منصوب پر مرفوع باندي د دوو وجوه څخه مقدم سوى دئ يو خو د فرق كولو دپاره په مينځ كي د افعالو او حروفو او بل دا چي فعل اصل دئ او دا حروف فرع دي، او د منصوب مخكي كېدل پر مرفوع باندي دا هم فرع دئ نو فرع يې فرعي ته ور كړئ نو ځكه د دوى خبر پر اسم باندي مقدم كول جائز نه دي. مگر كه چيري ظرف وو، بيا يې تقديم جائز دئ لكه: "اِنَّ مِنَ الشِّعْرِ لَحِكْمَةً". (حاشية الصبيان جلد ۱ صفحه ۲۵۰)

(۲) په "كَاَنَّ" كي اختلاف دئ چي دى بسيط دئ او كه مركب صحيح دا دئ چي دى مركب دئ د تشبيه دپاره راځي ليكن كله د تعجب دپاره هم مستعمليږي لكه: "وَيْكَاَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُوْنَ".

(۳) په "لٰكِنَّ" كي هم اختلاف دئ چي دى بسيط دئ او كه مركب صحيح دا دئ چي دى بسيط دئ. (همع الهوامع جلد ۱ صفحه ۲۳۸)

۶. شپږم: په عمل کي مشابهت لکه: فعل چي په دوو اسمو کي عمل کوي دوی هم په دوو اسمو کي عمل کوي چونکه فعل اصل دئ نو ځکه اول اسم ته رفع او دوهم اسم ته نصب ور کوي.

پنځمه خبره:

د "إِنَّ، أَنَّ، كَأَنَّ، لٰكِنَّ" عملي حیثیت په حالت د تخفیف کي:

۱. "إِنْ" مخفف من المثقل چي پر فعل داخل سي بالاتفاق عمل نه کوي لکه: دا قول د الله تعالی "وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِيْنَ. وَإِنْ نَظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِيْنَ". او که چیري پر اسم داخل سي بیا اکثریت دی مهمل یعني عمل نه کوي لکه: دا قول د الله تعالی: "وَإِنْ كُلٌّ لَمَّا جَمِيْعٌ لَدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ". لیکن قلیلا عمل کوي، لکه: "إِنْ زَيْدًا مُنْطَلِقٌ" او دا قول د الله تعالی: "وَإِنَّ كُلًّا لَمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ" په یو قرائت کي په تخفیف سره راغلی دئ.

۲. "أَنْ" مخفف من المثقل په نزد د کوفیینو او سبویه دی مهمل دئ یعني مطلقا عمل نه کوي نه په ظاهر کي او نه په ضمیر کي او دی حرف مصدریه دئ د نورو حروف مصدریه وو په شان باندي لکه: "وَحَسِبُوْا أَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ" عند الجمهور دی عمل کوي او د ده دپاره اسم ضمیر شان مستتر وي یعني "هٗ" ضمیر لکه: قول د الله تعالی "عَلِمَ أَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ: أَيْ أَنَّهٗ".

۳. "لٰكِنَّ" که چیري مخفف سي نو بیا بالاتفاق عمل نه کوي إِلَّا عِنْدَ يُوْنُسَ وَأَخْفَشْ بیا دی کلمه عاطفه وي که چیري معطوف مفرد وو لکه: "مَا جَاءَ الْقَوْمُ لٰكِنْ سَعِيْدٌ" او که چیري د واو سره راغلی وي، بیا دی حرف ابتداء دئ د اعراض دپاره وي لکه: "مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ" او د دې څخه علاوه هم راځي لکه: "جَاءَ خَالِدٌ لٰكِنْ سَعِيْدٌ مُسَافِرٌ".

۴. "کَاَنْ" مخففه په نزد د کوفیینو دی مهمل دئ یعني عمل نه کوي او په نزد د جمهورو باندي دی عامل دئ کله په ظاهر کي عمل کوي لکه: "کَاَنْ زَیْدًا اَسَدٌ" کله په ضمیر مستتر کي عمل کوي "کَاَنْ عَلِیٌّ خُلْقُهُ الْمِسْکُ: اَیْ کَاَنَّهٗ".

سوم ما و لا المشبہتان بلیس الخ .... الی قولہ چہارم لاء نفی جنس.

ترجمه:

ځلورم قسم د حروف عامله وو څخه "مَا" و "لَا" دي: چي مشابه دي د "لَیْسَ" سره لکه: "مَا زَیْدٌ قَائِمًا" "زَیْدٌ" اسم د "مَا" دئ او "قَائِمًا" خبر د "مَا" دئ.

شپږمه خبره:

دریم قسم د حروف عامله وو څخه "مَا" و "لَا" "المشبهتین بلیس دي":

د "مَا" و "لَا" "المشبهتین بلیس" عمل:

"مَا" و "لَا" "المشبهتین بلیس" پر دوو اسمو داخلیږي اول ته رفع دوهم ته نصب ور کوي لکه: "مَا زَیْدٌ قَائِمًا".

د دغه حروفو تعداد:

د دغه حروفو تعداد ځلور دي (۱) دوه مشهور دي، هغه "مَا" (۱) و "لَا" (۲) دي او دوه غیر مشهور دي هغه "لَاتَ، وإِنْ" دي.

---

(۱) د دوی مثالونه د "لَا" مثال لکه: "لَا رَجُلٌ حَاضِرًا". او د "لَاتَ" مثال لکه: "وَلَاتَ حِیْنَ مَنَاصٍ"، او د "اِنْ" مثال لکه: "اِنِ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُکُمْ: فِيْ قِرَاءَةٍ" په یوه قرائت کي "اِنْ" راغلی دئ، او د "مَا" دپاره په قرآن کي صراحةً دري مقامات دي: (۱) "مَاهُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ" (۲) "مَا هٰذَا بَشَرًا" (۳) "فَمَا مِنْکُمْ مِنْ اَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِیْنَ". دلته "مِنْ" زائده دئ د دغه مثال دوه ترکیبونه کېدای سي:

۱. اول ترکیب: "مَا" مشابه "بِلَیْسَ" "اَحَدٌ" مرفوع محلا اسم د "مَا". "عَنْهُ" جار او مجرور متعلق تر "حَاجِزِیْنَ" مؤخره پوري، او "حَاجِزِیْنَ" سره د خپله متعلقه خبر د "مَا" دپاره او "مِنْکُمْ" تر فعل محذوف پوري متعلق دئ چي "اَعْنِيْ" دئ.

د "مَا وَلَا" مشابهت د "لَيْسَ" سره:

د "مَا وَلَا" مشابهت د "لَيْسَ" سره په دوو شيانو کي دئ: (۱) په نفي کي (۲) په عمل کي.

د "مَا" د عمل کولو دپاره شرائط:

د "مَا" د عمل دپاره څلور شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي د "مَا" نفي به په "اِلَّا" سره نه وي ماتي سوی بلکه باقي به پاته وي احترازي مثال لکه: "وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي معمولات به يې مرتب وي يعني خبر به يې پر اسم نه وي مقدم سوی احترازي مثال لکه: "مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا".

۳. دريم شرط يې دادئ چي معمول د خبر به يې پر اسم باندي نه وي مقدم سوی احترازي مثال "مَا اَمْرَ اللهِ اَنَا عَاصٍ" او دلته "امر" معمول د "عَاصٍ" دئ "مَا طَعَامَکَ زَيْدٌ اٰکِلٌ" لېکن کچيري معمول ظرف وو بيا مقدم کېدای سي لکه: "مَا عِنْدِيْ اَنْتَ مُقِيْمًا" "مَابِکَ اَنَا مُنْتَصِرًا".

---

۲. دوهم ترکيب؛ چي "مِنْکُمْ" جار و مجرور ظرف اعتماد يې پر نفي کړی دئ، "مِنْ" زائده "اَحَدٌ" موصوف "عَنْهُ" متعلق تر "حَاجِزِيْنَ" پوري دئ "حَاجِزِيْنَ" سره د خپله مُتَعَلِّقَه صفت دپاره د موصوف، موصوف سره د خپله صفته مرفوع محلا فاعل دپاره د ظرف. دلته که څه هم "اَحَدٌ" موصوف مفرد دئ "حَاجِزِيْنَ" صفت جمع ده مطابقت نه سو پاته، لېکن "اَحَدٌ" اسم عام دئ او د اسم عام دپاره صفت جمع راتلای سي لکه؛ په قرآن کريم کي: "لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِنْ رُسُلِهٖ". (مغنی اللبيب).

(۱) "لَا" همېشه حرف نفي وي لېکن "مَا" په اکثره اوقاتو کي اسم هم جوړيږي او په دې وخت کي به دی يا "مَا" استفهاميه وي يا به "مَا" موصوله وي، يا به "مَا" ظرفيه وي، يا به "مَا" مصدريه وي. د "مَا" او د "لَيْسَ" پر خبر باندي کله "بَا" زائده داخليږي لکه: "اَلَيْسَ اللهُ بِاَحْکَمِ الْحَاکِمِيْنَ. وَمَا اَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيْدِ". (نصر الخبير)

(۲) د "مَا" او "لَا" فرق په درو شيانو کي دئ؛ (۱) "مَا" عام دئ او "لَا" په نکره پوري خاص دئ. (۲) "لَا" د مطلق نفي دپاره راځي، او "مَا" د نفي حالي دپاره استعماليږي. (۳) او د "لَا" څخه وروسته "اِنْ" نافيه نه سي راتلای او د "مَا" څخه وروسته "اِنْ" نافيه راتلای سي لېکن بيا دی ملغی عن العمل دئ. (نصر الخبير)

۴. ځلورم شرط يې دا دئ: چې د "مَا" څخه وروسته به "اِنْ" نافيه نه وي راغلی احترازي مثال لکه: "مَا اِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ".

په دې ټولو صورتو کې "مَا" ملغٰی عن العمل بلل کیږي او دواړه اسمونه مرفوع دي بناء بر ابتدائیت و خبریت.

اوومه خبره:

د "لَا" د عمل کولو دپاره شرائط:

د "لَا" د عمل کولو دپاره هم ځلور شرطونه دي:

درې شرطونه يې هغه دي: چې کم په "مَا" په اول، دوهم، دريم (۱) نمبر کې تېر سوه.

ځلورم شرط يې دا دئ: چې د "لَا" دواړه معمولين به نکره وي احترازي مثال لکه: "لَا زَيْدٌ قَائِمٌ".

د "اِنْ" عمل دپاره شرائط:

د "اِنْ" د عمل دپاره دوه شرطونه دي: کم چې په "مَا" کې په اول، دوهم نمبر کې تېر سوه.

د "لَاتَ" (۲) د عمل دپاره شرائط:

د "لَاتَ" د عمل دپاره دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې د "لَاتَ" اسم و خبر به د اسماء زمان څخه وي لکه: "اَلْحِيْنُ، اَلسَّاعَةُ، اَلْاَوَانُ" و غيره.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې د ده د اسم او خبر څخه به يو محذوفه (۳) وي، لکه: و "لَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ، اَیْ لَيْسَ الْحِيْنُ حِيْنَ فَرَارٍ".

---

(۱) ځلورم شرط ځکه نسته چې په کلام عربي کې د "لَا" څخه وروسته "اِنْ" زائده نه راځي.

(۲) په "لَاتَ" کې د عمل کولو والا صرف "لَا" دئ او "تَا" د تاکيد د نفي دپاره ده.

(۳) او عام طور د ده اسم حذف کيږي لیکن که چيرې "لَاتَ" پر غير اسم زمان باندې داخل سي بيا دی ملغي عن العمل دئ لکه: "يَنْبَغِي جِوَارُکَ حِيْنَ لَاتَ مُجِيْرٌ" او بعض حضرات چې دی جاره استعمالوي هغه د شاذ په طور يې استعمالوي لکه: "طَلَبُوْا صُلْحَنَا وَلَاتَ اَوَانٍ". (جامع الدروس العربية)

جملے:

عنوان	خبر، انشاء مع الاقسام	مسند	مسند الیہ	اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی، تقدیری	تبعی، غیر تبعی	اعراب مضارع	حروف عاملہ
لَا يَدْخُلُ الْإِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ	خبریہ فعلیہ	يَدْخُلُ	اَلْإِيْمَانُ	۱. كُمْ	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی ۱، ۳ قسم	غیر تبعی	(لَا يَدْخُلُ) حالت رفعی (۱) قسم	۱. (فِيْ) حرف جارہ
لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ فَتَدْخُلَ الْجَنَّةَ	انشائیہ فعلیہ	لَا تُشْرِكْ	اَنْتَ	۲. اَنْتَ، اَنْتَ	۴. معرب	۵. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	(لَا تُشْرِكْ، فَتَدْخُلَ) حالت جزمی قسم (۱)	۲. (لَامِ) جازمہ، (بَا) جارہ
لَا عَقْلَ لَهٗ	خبریہ اسمیہ	(لَهٗ) باعتبار متعلق	عَقْلَ	۱. هٗ	۱. معرب	۵. مبنی	(عَقْلَ) مبنی بر فتح	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	+	۲. (لَا) نفی جنس، (لَامِ) جارہ
اَلدُّنْيَا دِيْنٌ لِمَنْ لَا دِيْنَ لَهٗ	خبریہ اسمیہ	دِيْنٌ	اَلدُّنْيَا	۲. مَنْ، هٗ	۳. معرب	۷. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم وتقدیری (۱۳) قسم	غیر تبعی، (لَا دِيْنَ) مبنی بر فتح	+	۲. (لَامِ) جارہ، (لَا) نفی جنس
لَا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ	خبریہ اسمیہ	(فِيْهِ) باعتبار متعلق	بَيْعٌ	۱. هٖ	۳. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	+	۲. (لَا) المشبہ بلیس، (فِيْ) جارہ
لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ	خبریہ اسمیہ	(فِي الدِّيْنِ) باعتبار متعلق	إِكْرَاهَ	هُوَ	۲. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	(اِكْرَاهَ) مبنی بر فتح غیر تبعی	+	(لَا) نفی جنس، (فِيْ) جارہ
لَا دِيْنَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهٗ	خبریہ اسمیہ	لِمَنْ لَا، لَهٗ باعتبار متعلق	دِيْنَ، اَمَانَةَ	۴. مَنْ، هٗ، هُوَ، هُوَ	۲. معرب	۱۰. مبنی	(دِيْنَ، اَمَانَةَ) مبنی بر فتح،	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	+	۲. (لَا) نفی جنس (لَامِ) جارہ
يَا ذَا الْمَالِ اَنْفِقْ مِنْ مَالِكَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	انشائیہ فعلیہ	اَدْعُوْ	اَنَا	۳. اَنْتَ، كَ، اَنَا	۶. معرب	۷. مبنی	بالحرکت بالحرف	لفظی (۲) قسم وتقدیری	غیر تبعی	(اَدْعُوْ) حالت رفعی (۲) قسم	۳. (يَا) حرف ندا، (مِنْ) جارہ، (فِيْ) جارہ
يَا يَحْيٰى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ	انشائیہ فعلیہ	اَدْعُوْ	اَنَا	۲. اَنَا، اَنْتَ	۳. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	(يَحْيٰى) تقدیری (۱۳) قسم باقی لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	(اَدْعُوْ) حالت رفعی (۲) قسم	۲. (يَا) حرف ندا، (بَا) جارہ
يَا رَحْمٰنُ اِرْحَمْنَا	انشائیہ فعلیہ	اَدْعُوْ	اَنَا	۳. اَنَا، اَنْتَ، نَا	۱. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	مشترک	غیر تبعی	(اَدْعُوْ) حالت رفعی (۳) قسم	۱. (يَا) حرف ندا
يَا اَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ	انشائیہ فعلیہ	اَدْعُوْ	اَنَا	۶. اَنَا، اَنْتُمْ، كُمْ، اَلَّذِيْ، كُمْ، هُوَ	۲. معرب	۱۲. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	(اَدْعُوْ) حالت رفعی (۲) قسم	۱. (يَا) حرف ندا
لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ	انشائیہ فعلیہ	يَرْجِعُوْنَ	هُمْ	۲. هُمْ، هُمْ	۱. معرب	۳. مبنی	بالحرف	لفظی	تبعی	(يَرْجِعُوْنَ) حالت رفعی قسم (۳)	۱. (لَعَلَّ) مشبہ بالفعل

عنوان	خبر، انشاء مع الاقسام	مسند	مسند اليه	اسم غیر متمکن	معرب	مبني	بالحرکت، بالحرف	لفظي، تقديري	منصرف، غیر منصرف	اعراب مضارع	حروف عامله
يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ	انشائيه فعليه	أَدْعُوْ	أَنَا	۳. أَنَا، هُ، هُوَ، كَ	۳. معرب	۱۰. مبني	بالحرکت	لفظي (۱) حم	غیر منصرف	(أَدْعُوْ) حالت رفعي (۲) حم	۳. (يَا) حرف نداء، (إِنَّ) مشبه بالفعل، (مِنْ) جاره

التمرين:

"أَأَنْتُمْ أَنْشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنْشِئُونَ،، يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ،، وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ،، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي فَضَّلَنَا عَلَى كَثِيرٍ مِنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِينَ،، وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً،، هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ،، فَأَنْبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ،، وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ".

الدرس الحادي و العشرون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د "إِنَّ" مکسوره او مفتوحه بحث:

د "إِنَّ" مکسوره ځايونه:

"إِنَّ" په يوولسو (۱۱) ځايو کي مکسوره ويل کيږي، يعني چي کله د ده ما بعد په تاويل د مصدر سره اړول صحيح نه وي.

۱. په ابتداء[1] د کلام کي لکه: "إِنَّا أَعْطَيْنَا. يَا إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا".

۲. په ابتداء د صله کي لکه: "وَآتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ".

---

(1) "إِنَّ" به په ابتداء د کلام کي وي يعني د يو عامل معمول به نه وي خواه که حقيقتًا په ابتداء د کلام کي وي لکه: "إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا". او يا حکمًا په ابتداء د کلام کي وي. چي تر تنبيه، او "حرف افتتاح" او "حَتّٰى" ابتدائيه، او تر "كَلَّا" زجريه، او تر حرف "تَحْضِيْض"، او تر حرف جواب "نَعَمْ". او "لَا" وروسته چي راسي نو بيا دی حکمًا په ابتداء د کلام کي وي، لکه: "أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ.. قُلْ إِيْ وَرَبِّيْ إِنَّهُ لَحَقٌّ.. كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ". (تنوير)

۳. په ابتداء د حال کي لکه: "وَاِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكَارِهُوْنَ".

۴. په ابتداء د مقصود بالنداء کي لکه: "يَانُوْحُ اِنَّهُ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ".

۵. په ابتداء د قسم کي لکه: "وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ".

٦. په ابتداء د صفت کي لکه: "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ اِنَّهُ فَاضِلٌ".

۷. د "حَيْثُ" یا "اِذْ" وروسته لکه: "جَلَسْتُ حَيْثُ اِنَّكَ قَائِمٌ. جِئْتُكَ اِذْ اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ".

۸. تر قول او تر حکایت وروسته کله چي په معنٰی د نقل وي نه د تکلم لکه: "قَالَ اِنِّيْ عَبْدُ اللهِ".

۹. چي کله د ده پر خبر باندي لام معلقه یعني لام ابتداء داخل سوی وي لکه: "وَاللهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهُ".

۱۰. د اسم عین (۱) پر خبر باندي چي راسي لکه: "خَلِيْلٌ اِنَّهُ كَرِيْمٌ"

۱۱. تر نهي وروسته لکه: "وَلَاتُسْرِفُوْا اِنَّ اللهَ لَايُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ. یا لکه: لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَا".

دوهمه خبره:

د "اَنَّ" مفتوحه (۲) ځایونه:

---

(۱) "اِسْمُ الْعَيْنِ" هغه دئ چي دلالت کوي پر ذات یعني پر هغه شي باندي چي هغه قائم بنفسه وي او د ده په مقابله کي "اِسْمُ الْمَعْنٰى" راځي چي دلالت کوي پر هغه شي باندي چي هغه قائم بالغیر وي.

(۲) "تُفْتَحُ اَنَّ وُجُوْبًا حَيْثُ يَجِبُ اَنْ يُؤَوَّلَ بِمَصْدَرٍ مَرْفُوْعٍ او مَنْصُوْبٍ اَوْ مَجْرُوْرٍ وَذَالِكَ فِيْ اَحَدَ عَشَرَ مَوْضِعًا" (۱) چي کله فاعل وي لکه: "بَلَغَنِيْ اَنَّكَ مُجْتَهِدٌ: اَیْ بَلَغَنِيْ اِجْتِهَادُكَ". (۲) نائب فاعل لکه: "عُلِمَ اَنَّكَ مُنْصَرِفٌ اَیْ عُلِمَ اِنْصِرَافُكَ". (۳) مبتداء لکه: "حَسَنٌ اَنَّكَ مُجْتَهِدٌ اَیْ حَسَنٌ اِجْتِهَادُكَ". (۴) د "اِسْمُ الْمَعْنٰى" خبر وي لکه: "حَسْبُكَ اَنَّكَ كَرِيْمٌ اَیْ اِكْرَامُكَ". (۵) یا د مرفوع تابع وي خواه که معطوف وي لکه: "بَلَغَنِيْ اِجْتِهَادُكَ وَاَنَّكَ حُسْنُ الْخُلُقِ" او که بدل وي لکه: "يُعْجِبُنِيْ سَعِيْدٌ اَنَّهُ مُجْتَهِدٌ" په دغه پنځو صورتو کي به په تاویل د مصدر مرفوع سره ویل کیږي. (جامع الدروس العربية)

او که چیري مفعول وو، یا د افعال ناقصه وو اسم معنٰی وو یا د منصوب تابع وو نو بیا په دې درو صورتو کي به په تاویل د مصدر منصوب سره ویل کیږي. "وَالْاَمْثِلَةُ مَوْجُوْدَةٌ فِي الْمَتْنِ"

او که مجرور بالحرف وو، یا مجرور بالاضافة وو یا د یو مجرور تابع وو، نو بیا په دغه درو ځایو کي په تاویل د مصدر مجرور سره ویل کیږي. "وَالْاَمْثِلَةُ مَوْجُوْدَةٌ فِي الْمَتْنِ".

"اَنَّ" په يوولس ځايو کې مفتوحه ويل کيږي:

۱. چې کله فاعل (۱) واقع سي لکه: "أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا".

۲. کله چې نائب فاعل واقع سي لکه: "وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ. يا لکه: عُلِمَ اَنَّکَ مُنْصَرِفٌ".

۳. کله چې مفعول واقع سي سواء د مقولې څخه لکه: "وَلَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ".

۴. کله چې مبتداء (۲) واقع سي لکه: "وَمِنْ آيَاتِهِ أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ خَاشِعَةً. يالکه "حَسَنٌ اَنَّکَ مُجْتَهِدٌ".

۵. کله چې د هغه اسم چې د قول څخه علاوه وي خبر واقع سي لکه: "اِعتِقَادِيْ اَنَّکَ فَاضِلٌ".

۶. چې د اسم المعنٰی خبر واقع سي لکه: "حَسْبُکَ اَنَّکَ فَاضِلٌ".

۷. کله چې د يو مرفوع تابع واقع سي يعني بدل يا معطوف وي، لکه: "يُعْجِبُنِيْ سَعِيْدٌ اَنَّهُ مُجْتَهِدٌ. يا لکه: بَلَغَنِيْ اَنَّکَ مُجْتَهِدٌ وَاَنَّکَ حُسْنُ الخُلُقِ".

۸. کله چې د افعال ناقصه وو اسم معنًی واقع سي لکه: "کَانَ عِلْمِيْ وَيَقِيْنِيْ اَنَّکَ تَتَّبِعُ الْحَقَّ".

۹. کله چې د يو منصوب تابع وي لکه: "وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ".

۱۰. کله چې دی مجرور په حرف جار سره وي لکه: "ذَالِکَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ".

۱۱. کله چې مجرور په اضافت (۳) سره وي لکه: "مِثْلَ مَا اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ".

د "اِنَّ، اَنَّ" د جواز مشترک ځايونه:

په يو څو ځايو کې "اِنَّ، اَنَّ" دواړه ويل جائز دي:

۱. د "اِذَا" مفاجاتيه وروسته لکه: "خَرَجْتُ فَاِذَا اَنَّ سَعِيْدًا وَاقِفٌ".

---

(۱) د فاعل په صورت کې "لَوْ" چې په معنی د "ثَبَتَ" سره راځي د فاعل او تر "مَا" مصدريه ظرفيه وروسته راسي هغه هم په دې صورت کې يعني د مصدر مرفوع په تاويل کې داخل دئ لکه: "وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ". لَا اُکَلِّمُکَ مَا اَنَّکَ کَسُوْلٌ بِتَاوِيْلِ مَا ثَبَتَ کَسَلُکَ".

(۲) د مبتداء په صورت کې "لَوْلَا" هم د مصدر مرفوع په تاويل کې داخل دئ لکه: "فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ".

(۳) کله چې مجرور بالاضافة وي لېکن په دې شرط چې مضاف به لفظ د "اِذْ" او د "حَيْثُ" نه وي. (جامع الدروس العربية)

۲. تر فاء جزائيه وروسته لكه: "مَنْ يُحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ".

۳. تر تعليل وروسته لكه: "وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ".

تر "لَاجَرَمَ" ([1]) وروسته لكه: "لَا جَرَمَ أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ، يا لكه: لَا جَرَمَ أَنَّكَ عَلَى الْحَقِّ".

چہارم لاء نفی جنس الخ: .... الی قولہ پنجم حروف نداء.

ترجمه:

څلورم قسم د حروف عامله وو څخه "لَا" نفي جنس دئ د ده اسم اكثره مضاف او منصوب وي، او د ده خبر مرفوع وي لكه: "لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ" او كه چيري د ده اسم نكره مفرده وي نو بيا به دى مبني بر فتحه وي لكه: "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ" او كه چيري د "لَا" څخه وروسته اسم معرفه وي نو بيا تكرار د "لَا" د بلي معرفې سره لازم دئ او "لَا" ملغى عن العمل دئ او هغه معرفه مرفوع بنا بر ابتدائيت ده لكه: "لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو". او كه چيري د "لَا" څخه وروسته نكره مفرده وي او مكرره وي نو بيا په دې كي د اعراب پنځه صورتونه جائز دي: اول لكه: "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ". دوهم "لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللّٰهِ". دريم "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً إِلَّا بِاللّٰهِ". څلورم: "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللّٰهِ". پنځم: "لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ".

([1]) كه چيري "لَاجَرَمَ" په معنى د قسم سره وي نو بيا "إِنَّ" مكسوره او كه چيري په معنى د "ثَبَتَ" سره وي نو بيا مفتوحه ويل كيږي لېكن د امام فراء په نزد باندي "لَاجَرَمَ" د "لَابُدَّ" په شان دئ يعني "لَا" نفي جنس دئ او "جَرَمَ" مبني بر فتحه اسم د "لَا" دئ لېكن اوس په معنى د قسم سره دئ او د ده وروسته جواب د قسم دئ چي دى يې د خبره څخه مستغني كړئ دئ.

"عِنْدَ الْبَعْضِ" "لَا" نافيه دئ "جَرَمَ" فعل ماضي ده په معنى د "ثَبَتَ" او "حَقَّ" سره او مابعد يې فاعل دئ.

او داغه رنګه د "واو" عطف څخه وروسته "أَنَّ" مفتوحه ويل كيږي او معطوف عليه جمله او مفرد دواړه جوړېداى سي لكه: "إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَى، وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ فِيهَا وَلَا تَضْحَى".

خلاصه دا: چي كم ځاى كي د جملې ضرورت وي هلته به "إِنَّ" مكسوره وي او په كم ځاى كي چي د مفرد ضرورت وي هلته به "أَنَّ" مفتوحه وي. او په كم ځاى كي چي د دواړو ضرورت وي هلته دواړه جائز دي. (قدوة العامل)

دریمه خبره:

څلورم قسم د حروف عامله څخه "لَا" نفي جنس (۱) دئ یعني (هغه "لَا" چي د جنس څخه د خبر (۲) د حکم نفي کوي):

د "لَا" نفي جنس عمل:

"لَا" نفي جنس پر دوو اسمو داخلیږي اول ته نصب دوهم ته رفع ور کوي لکه: "لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ" او د ده عمل د اِنَّ" سره د مشابهت په وجه دئ په تاکید کي.

د "لَا" نفي جنس د عمل شرائط:

د "لَا" نفي جنس د عمل دپاره اووه (۷) شرطونه دي: څلور د "لَا" دپاره دي دوه د "لَا" د اسم دپاره دي: او یو د "لَا" د خبر دپاره دئ:

۱. اول شرط یې دا دئ: چي "لَا" به نافیه وي زائده به نه وي احترازي مثال لکه: "لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ".

---

(۱) "لَا" پر څلور قسمه راځي: (۱) "لَا" ناهیه چي د مضارع سره خاص وي او مضارع ته جزم ور کوي لکه "لَایَضْرِبْ". (۲) "لَا" زائده لکه: "مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ.. لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ". (۳) "لَا" نافیه چي پر دوه قسمه دئ: اول که چیري پر معرفه داخل سي نو "مُلْغٰى عَنِ الْعَمَلِ" دئ یعني مهمل غیر عامل دئ او تکرار د "لَا" لازم دئ سره د بلي معرفه لکه: "لَازَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو". (۴) "لَا" عاطفه دئ چي د هغه دپاره دري شرطونه دي اول د ده څخه مخکي به اثبات وي دوهم د ده سره به حرف عطف نه وي دریم د ده مابعد به د ده د ماقبل مخالف وي لکه: "جَاءَنِيْ زَيْدٌ لَا عَمْرٌو. اِقْرَأِ الْكِتَابَ لَا الْمَجَلَّةَ". (ضوابط نحویه) دوهم که چیري پر نکره داخل سي نو بیا دي پر دوه قسمه دئ: اول "لَا" مشابه بلیس اسم ته رفع خبر ته نصب ور کوي او دی قلیل العمل دئ. دوهم "لَا" نفي جنس چي د "اِنَّ" عمل کوي اسم ته نصب او خبر ته رفع ور کوي.

(۲) "لَا" نفي جنس د جنس نفي نه کوي بلکه د جنس څخه د خبر حکم نفي کوي مثلا په "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ" کي "لَا" د جنس "رَجُلَ" نفي نه کوي بلکه "رَجُلَ" چي جنس دئ د ده څخه د "اِسْتِقْرَار فِي الدَّارِ" د حکم نفي کوي نه د نفس "رَجُلَ" یعني "رَجُلَ" خو سته په دنیا کي لیکن "مُسْتَقِرٌ فِي الدَّارِ" نه دئ. ځکه د نفي تعلق د احکاماتو سره وي نه د ذواتو سره نو لهذا د "لَا" نسبت و نفي جنس ته په طریقه د مجاز عقلي دئ یعني "لَا الَّتِيْ لِنَفْيِ حُكْمِ الْخَبَرِ عَنِ الْجِنْسِ" او و ده ته "لَا" نفي جنس "لَاتَبْرِئَةَ" "لَا تَنْزِيْهِيَّةَ" هم ویل کیږي. (حاشیة خضري جلد ۱ صفحه ۱۴۰)

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي نفي د جنس به وي، يعني نفي د وحدت به نه وي (۱) احترازي مثال لکه: "لَا رَجُلٌ قَائِمًا بَلْ رَجُلَانِ" دلته نفي د وحدت دي.

۳. دريم شرط يې دا دئ: په نفي د جنس کي به دَی نص وي يعني نفي به عامي وي على السبيل الاحتمال به نه وي احترازي مثال لکه: "لَا رَجُلٌ مُسَافِرٌ" دلته نفي احتمالي دي چي يو "رَجُلٌ" نه دئ مسافر او که جنس "رَجُلٌ" نه دئ مسافر.

۴. څلورم شرط يې دا دئ: چي پر ده باندي به جار (۲) نه وي داخل سوى، احترازي مثال لکه: "غَضِبْتُ مِنْ لَاشَيْئٍ" "سَافَرْتُ بِلَازَادٍ".

د "لَا" نفي جنس د اسم شرطونه:

د "لَا" نفي جنس د اسم دپاره دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي دی به نکره وي احترازي مثال لکه: "لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي په "لَا" پوري به متصل وي احترازي مثال لکه: "لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ".

د "لَا" نفي جنس د خبر شرط:

د "لَا" نفي جنس د خبر دپاره شرط دا دئ: چي دی به نکره وي، احترازي مثال لکه: "لَارَجُلٌ عَمْرٌو".

---

(۱) کم وخت چي نفي عامي مراد سي نو بيا هلته "مِنْ" استغراقيه مقدر ګرځي. او "لَا" متضمن وي معنى د "مِنْ" استغراقيه لره ځکه "مِنْ" د جنس دپاره وضع سوى دئ که چيري "مِنْ" مقدر نه سي نو بيا په "لَارَجُلَ فِي الدَّارِ" کي نفي د "رَجُلٍ وَاحِدٍ" راځي، چي خلاف مقصود دئ او نحاة فرمايي: چي "لَا رَجُلَ" په جواب د سوال مقدر کي راځي يعني د "هَلْ مِنْ رَجُلٍ فِي الدَّارِ" او په سوال کي "مِنْ" موجود دئ. نو په جواب کي به هم مقدر وي چي جواب مطابق د سوال سي. (معجم النحو و الصرف، معجم قواعد اللغة العربية بمع ابن جني جلد ۱ صفحه ۱۶۴ کتاب سبويه)

(۲) که چيري پر "لَا" باندي حرف جار داخل سي نو بيا "لَا" ملغى عن العمل دئ او دده څخه وروسته اسم به مجرور وي په حرف جار سره او عند الکوفيين "لَا" په دې مقام کي حرف نه دئ بلکه په معنى د "غَيْرٌ" سره دئ نو "لِهٰذَا" اوس "لَا" مضاف مجرور دئ لکه: "جِئْتُ بِلَازَادٍ". (شرح التصريح)

څلورمه خبره:

د "لَا" نفي جنس د اسم اقسام:

د "لَا" نفي جنس اسم پر شپږ قسمه راځي:

۱. کله د "لَا" نفي جنس اسم مضاف وي، لکه "لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ".

۲. کله مشابه باالمضاف وي او مشابه باالمضاف کله په شکل د عامل او معمول کي وي، لکه: "لَا طَالِعًا جَبَلًا"، او کله په شکل د معطوف او معطوف عليه کي وي، لکه: "لَاثَلٰثَةً وَ ثَلَاثِيْنَ".

په دې دوه صورتو کي د "لَا" نفي جنس د اسم د اعراب حکم:

په دې دوو صورتو کي د "لَا" نفي جنس اسم معرب او منصوب وي.

۳. کله د "لَا" نفي جنس اسم مفرد معرفه وي لکه: "لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو".

۴. او کله مفرد نکره مفصوله وي لکه: "لَا فِيْهَا رَجُلٌ وَلَا اِمْرَاَةٌ".

د دغه دوو صورتو اعراب:

په دې دوو صورتو کي "لَا" ملغی عن العمل دئ او تکرار د "لَا" سره د معرفې او نکرې لازم دئ او اسم د "لَا" مرفوع بنا بر ابتدائيت دئ.

۵. کله اسم د "لَا" نفي جنس مفرد نکره موصوله غير مکرره وي لکه: "لَارَجُلَ فِي الدَّارِ".

د دې پنځم قسم د اعراب حکم:

په دې صورت کي به اسم د "لَا" مبني بر فتحه وي.

۶. کله اسم د "لَا" مفرد نکره موصوله مکرره وي لکه: "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ".

پنځمه خبره:

د شپږم قسم د اعراب حکم:

په دغه شپږم صورت کي پنځه (۱) وجهي ویل جائز دي:

۱. دواړه مبني بر فتحه او "لَا" د نفي د جنس دپاره دئ. لکه: "لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ".

۲. دواړه اسمونه مرفوع بنا بر ابتدائیت دي او "لَا" زائده ملغٰی عن العمل دئ لکه: "لَا حَوْلٌ وَ لَا قُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ".

۳. اول اسم مبني بر فتحه او "لَا" د نفي د جنس دپاره وي او دوهم اسم منصوب په تنوین سره وي، او دی عطف وي پر لفظ د اول اسم، او "لَا" زائده وي. لکه: "لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةً اِلَّا بِاللّٰهِ".

۴. اول اسم مبني بر فتحه او "لَا" د نفي د جنس دپاره او دوهم اسم مرفوع په تنوین سره دئ او دی عطف دئ پر محل د اول اسم او "لَا" زائده دئ. د تاکید د نفي دپاره لکه: "لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ".

۵. اول اسم مرفوع په تنوین سره او "لَا" مشابه بلیس وي او دوهم اسم مبني بر فتحه وي او "لَا" د نفي د جنس دپاره وي لکه: "لَا حَوْلٌ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ".

شپږمه خبره:

د "لَا" نفي جنس د اسم او خبر حذف (۲):

---

(۱) د "لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ" تقدیر عبارت: که چیري یوه جمله سي نو بیا یې تقدیر داسي را وځي "لَا حَوْلَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ وَلَا قُوَّةَ عَلَى الطَّاعَةِ ثَابِتَانِ بِأَحَدٍ اِلَّا بِاللّٰهِ" په دې صورت کي عطف د مفرد پر مفرد دئ یعني د دواړو دپاره یو خبر را وځي. او که چیري د دواړو دپاره جلا جلا خبرونه را ویستل سي نو بیا عطف د جمله پر جمله دئ لکه: "لَا حَوْلَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ ثَابِتٌ بِأَحَدٍ اِلَّا بِاللّٰهِ. وَلَا قُوَّةَ عَلَى الطَّاعَةِ ثَابِتٌ بِأَحَدٍ اِلَّا بِاللّٰهِ". په اولو څلورو صورتو کي دواړه تقدیرونه صحیح کیږي لیکن په آخري صورت کي عطف د مفرد پر مفرد نه صحیح کیږي او د دواړو یو خبر نسي جوړېدای ځکه د "لَا" مشابه بلیس خبر منصوب وي، او د "لَا" نفي جنس خبر مرفوع وي. (نصر الخبیر)

(۲) د بنو تمیم په نزد باندي وجوبًا حذف کیږي د حذف وجه دا ده چي دی د استفهام عام په جواب کي راځي او په جواب کي حذف و اختصار وي داغه وجه ده چي د استفهام په جواب کي په "لَا" او "نَعَمْ" سره اکتفاء کیږي د ده څخه وروسته مکمله جمله حذف کیږي لکه: څوک وایي: "هَلْ قَامَ زَيْدٌ". نو ده په جواب کي ووایي "نَعَمْ" یا "لَا". لیکن د اهل حجازو په نزد د "لَا" نفي جنس خبر کثیر الحذف د "اِلَّا" سره اکثره راځي لکه: "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ" او کله چي یو اسم د "اِلَّا" څخه وروسته واقع

د خبر حذف:

که چيري د "لَا" نفي جنس خبر د مخاطب په علم کي موجود وو بيا دی غالبًا حذف کيږي لکه: "لَا ضَيْرَ اِنَّا اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ اَیْ: لَا ضَرَرٌ وَ لَا ضِرَارٌ عَلَيْنَا". او دا غه رنګه "لَا بَأْسَ، وَ لَا شَکَّ" کي هم حذف کيږي "اَیْ لَا بَأْسَ عَلَيْکَ وَلَا شَکَّ فِيْهِ".

د اسم حذف:

او کله کله د ده اسم هم حذف کيږي نادرًا لکه: "لَا عَلَيْکَ اَیْ: لَا بَأْسَ عَلَيْکَ" په قرينه سره.

د "لَا" نفي جنس او "لَا" مشابه بليس په مينځ کي لفظي او معنوي فرق:

لفظي فرق:

د دوی په مينځ کي لفظي فرق دا دئ: چي "لَا" مشابه بليس اول اسم ته رفع او دوهم اسم ته نصب ور کوي. او "لَا" نفي جنس دوهم اسم ته چي خبر دئ رفع ور کوي او اول اسم يې په مختلفو طريقو سره راځي.

معنوي فرق:

ذ "لَا" مشابه بليس په معنٰی کي دوه احتماله وي:

١. نفي د جنس (١).
٢. نفي د فرد (٢).

لکه: "لَا رَجُلٌ قَائِمًا بَلْ رَجُلَانِ" ويل کېدلای سي په "لَا" مشابه بليس کي، او په "لَا" نفي جنس کي صرف يو احتمال وي چي هغه نفي د جنس دي نه د فرد لکه: "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ".

وروسته واقع سي نو بيا په هغه کي رفع او نصب دواړه ويل جائز دي. لکه: "لَا سَيْفَ اِلَّا ذُوالْفِقَار، وَ ذِيْ الْفِقَارِ. لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، اَوْ اِلَّا اللهَ". او که چيري خبر د مخاطب په علم کي نه وو نو بيا يې حذف بالکل جائز نه دئ لکه: "لَا اَحَدَ اَغْيَرُ مِنَ اللهِ وَ لِذَالِکَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ". (مسلم شريف) (همع الهوامع صفحه ۴۷۰).

(١) يعني د "لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ" دا ترجمه وسي چي هيڅ يو جنس د نارينه نه دئ موجود په "دَار" کي.

(٢) يعني د "لَا رَجُلٌ فِي الدَّارِ" دا ترجمه وسي چي هيڅ يو سړی ولاړ نه دئ په کور کي دا کېدای سي چي دوه سړيان دي ولاړ وي. (نصر الخبير)

اوومه خبره:

د "لَا" نفي جنس مشابهت د "اِنَّ" سره:

د "لَا" نفي جنس عمل د "اِنَّ" د مشابهت په وجه دئ او دا مشابهت څلور قسمه دئ:

د مشابهت اقسام:

۱. په دخول کي د جملې اسميې يعني دواړه پر جمله اسميه داخلیږي.
۲. په تقاضی د صدارت د کلام کي يعني دواړه د صدارت د کلام تقاضا کوي.
۳. په تاکيد کي ځکه "لَا" د تاکيد د نفي دپاره راځي او "اِنَّ" د تاکيد اثبات دپاره راځي.
۴. په نقيض کي يعني "لَا" د "اِنَّ" نقيض دئ لکه: څنګه چي شی پر نظير باندي حمل کيږي داغه رنګه پر نقيض هم حمل کيږي.

د "لَا" نفي جنس او "اِنَّ" په مينځ کي فرق:

د "لَا" نفي جنس او "اِنَّ" په مينځ کي فرق په شپږو شيانو کي دئ:

۱. په عمل کي. يعني "لَا" نفي جنس صرف په اسم ظاهر کي عمل کوي او "اِنَّ" په اسم ظاهر او ضمير دواړو کي عمل کوي.
۲. "لَا" صرف په نکره کي عمل کوي او "اِنَّ" په معرفه او نکره دواړو کي عمل کوي.
۳. "لَا" په خپلو شرائطو سره عمل کوي او "اِنَّ" بلا شرط عمل کوي.
۴. د "لَا" خبر د ظرفيت باوجود نسي مقدم کېدای او د "اِنَّ" خبر په صورت د ظرف کي مقدم کېدای سي.
۵. د "لَا" اسم غير مُنَوَّنْ وي او د "اِنَّ" اسم مُنَوَّنْ وي.
۶. د "لَا" د اسم په معرب والي او مبني والي کي اختلاف دئ او د "اِنَّ" د اسم په معرب والي کي هيڅ اختلاف نسته.

فائده:

دلته د "لَا" نفي جنس په بحث کي مفرد مقابل د مضاف دئ نه د تثنيې او جمع نو ځکه تثنيه او جمع د مفرد په حکم کي داخل دي.

جملے:

عنوان	خبریہ انشائیہ مع الاقسام	مسند	مسند الیہ	تعیین اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی، تقدیری، محلی	منصرف، غیر منصرف	تعیین اعراب الفعل المضارع مع الاقسام	تعیین حروف عاملہ
يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا	انشائیہ فعلیہ	أَدْعُوْ	أَنَا	۳. أَنَا، أَنْتَ، هٰ، ذَا	۱. معرب	۷. مبنی	بالحرکت	لفظی (۳) قسم	منصرف	(أَدْعُوْ) حالت رفعی (۳) قسم	۲. (يَا) حرف ندا، (عَنْ) جارہ
مَا قَائِمٌ بَكْرٌ	خبریہ اسمیہ	قَائِمٌ	بَكْرٌ	۱. هُوَ	۲. معرب	۲. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	+	۱. (مَا) لفی من العمل
لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ	خبریہ اسمیہ	قَرِيبٌ	السَّاعَةَ	+	۲. معرب	۱. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	+	۱. (لَعَلَّ) مشبہ بالفعل
وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ	خبریہ اسمیہ	عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ	ذٰلِكَ	۱. ذٰلِكَ	۲. معرب	۵. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	+	۲. (مَا) المشابہ بلیس، (بَا) جارہ
وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ	خبریہ اسمیہ	وَاحِدَةٌ	أَمْرُنَا	۱. نَا	۲. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	+	(مَا) مشابہ بلیس
مَا الْمَعْرُوْفُ ضَائِعاً عِنْدَ الْكِرَامِ	خبریہ اسمیہ	ضَائِعاً	اَلْمَعْرُوْفُ	۲. هُوَ، عِنْدَ	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱، ۳) قسم	غیر منصرف	+	(مَا) مشابہ بلیس
إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ	خبریہ اسمیہ	حَقٌّ	وَعْدَ اللّٰهِ	۲. هُمْ، هُمْ	۵. معرب	۶. مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	(لَا يَعْلَمُوْنَ) حالت رفعی (۳) قسم	۲. (إِنَّ، لٰكِنَّ)
إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُبِيْنٍ	خبریہ اسمیہ	لَفِي ضَلَالٍ مُبِيْنٍ	أَبَانَا	۲. نَا، هُوَ	۳. معرب	۵. مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی (۱، ۲) قسم	غیر منصرف	+	(إِنَّ، فِي)
أَلَا إِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ	خبریہ اسمیہ	لِلّٰهِ	مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ	۵. مَنْ، مَنْ، هُوَ، هُوَ، هُوَ	۳. معرب	۱۱. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱، ۳) قسم	منصرف غیر منصرف	+	إِنَّ، فِي، لَام جارہ
كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ	خبریہ اسمیہ	اَلْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ	هُنَّ	۱. هُنَّ	۲. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	+	كَأَنَّ
وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُوْنٍ	خبریہ اسمیہ	بِمَجْنُوْنٍ	صَاحِبُكُمْ	۲. كُمْ، هُوَ	۲. معرب	۵. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	+	۲. (مَا) مشابہ بلیس، (بَا) جارہ
إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ	خبریہ اسمیہ	لَشَدِيْدٌ	بَطْشَ رَبِّكَ	۲. كَ، هُوَ	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر منصرف	+	(إِنَّ) مشبہ بالفعل

التمرین:

"رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ.. يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً.. لَا رَيْبَ فِيهِ.. وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ.. لَا عِلْمَ لَنَا.. يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ.. وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكّٰى.. فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ.. يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ".

قسم پنجم حروف نداء الخ:........................ الی قولہ فصل دوم در حروف عاملہ.

ترجمه:

پنځم قسم حروف نداء دي او هغه پنځه دي: "يَا. آيَا. هَيَا. اَیْ. هَمْزَه مَفْتُوْحَه". دغه حروف منادیٰ مضاف ته نصب ور کوي لکه: "يَا عَبْدَاللهِ" او منادی مشابه بالمضاف ته هم نصب ور کوي لکه: "يَا طَالِعًا جَبَلًا" او منادی نکره غیر معین ته هم نصب ور کوي، لکه: ړوند چي وايي: "يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ". او منادی مفرده معرفه مبني وي پر علامه د رفع يعني چي نه مضاف وي او نه شبه مضاف وي، لکه: "يَا زَيْدُ وَيَا زَيْدَانِ. وَيَا مُسْلِمُوْنَ. وَيَا مُوْسٰى. وَيَا قَاضِيْ".

پوه سه چي "اَیْ و هَمْزَهْ" د قريب دپاره استعماليږي او "آيَا. هَيَا" د لري دپاره او "يَا" عامه ده.

الدرس الثاني والعشرون:

د نن د سبق خلاصه شپږ (٦) خبري دي:

اوله خبره:

پنځم قِسم د حروف عامله وو څخه حروف نداء دي.

د نداء لغوي او اصطلاحي معنیٰ:

نداء په لغت کي آواز ور کولو ته ويل کيږي او په اصطلاح کي حروف نداء هغه حروف دي چي د دوی په ذريعه سره بل څوک ځان ته متوجه کيږي، لکه "يَا زَيْدُ".

د حروف نداء تعداد:

حروف نداء پنځه دي: "يَا. آيَا. هَيَا. اَیْ. هَمْزَه مَفْتُوْحَه" لکه: "يَا عَبْدَاللهِ. آيَا عَبْدَاللهِ. هَيَا عَبْدَاللهِ. اَیْ عَبْدَاللهِ. اَعَبْدَاللهِ".

فائده:

"اَیْ" و "همزه مفتوحه" د قريب يعني د نزدې سړي را بللو دپاره استعماليږي او "اَيَا، هَيَا" د بعيد يعني د لرې دپاره استعماليږي او "يَا" حرف نداء عامه (۱) ده د دواړو دپاره استعماليږي.

په منادی (۲) کې وجود د څلورو شيانو وي:

۱. "نِدَاء". (اواز).
۲. "مُنَادِيْ" (اواز کونکی).
۳. "مُنَادٰی" (هغه لفظ چې تر حروف نداء وروسته استعماليږي او دی را بلل سوی وي).
۴. مقصود بالنداء هغه څه دي چې "مُنَادِيْ" يې د "مُنَادٰي" څخه طلبوي.

دوهمه خبره:

د "مُنَادٰی" اقسام:

"مُنَادٰي" پر دولس (۱۲) قسمه راځي:

۱. "مُنَادٰي" کله مضافه وي لکه: "يَاعَبْدَاللّٰهِ".
۲. او کله شبه مضافه (۱) وي لکه: "يَاطَالِعًا جَبَلًا".

---

(۱) په حروف نداء کې صرف "يَا" حذف کېدای سي، او پر لفظ د "اللّٰهُ" او "اَيُّهَا" او "اَيَّتُهَا" باندې د حروف نداؤ څخه صرف "يَا" داخلېدای سي.

په حروف نداء کې "يَا" پر اسم باندې کله د تنبيه دپاره داخليږي نو په دې وخت کې دا پر فعل او حرف باندې هم داخلېدای سي لکه: "اَلَا يَا اُسْجُدُوْا، يَالَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ".

(۲) مثال يې لکه: "يَازَيْدُ اِيْتِ بِالْمَاءِ". په دې مثال کې "يَا" حرف نداء ده "زَيْدٌ" مُنَادٰی دئ "متکلم" مُنَادِي دئ او "اِيْتِ بِالْمَاءِ" مقصود بالنداء، "يَا" جواب نداء دئ. (از مرتب عفي عنه)

د جملهٔ ندائيه ترکيب:

"يَا" حرف نداء قائم مقام د "اَدْعُوْکَ" "اَدْعُوْ" فعل د "اَنَا" ضمير يې فاعل "زَيْدٌ" منادی قائم مقام د کاف اسمي خطابي دئ چې په "اَدْعُوْکَ" کې دئ دا به مفعول به سي د "اَدْعُوْ" فعل دپاره. فعل سره د خپله فاعله او مفعوله دا به نداء سي او "اِيْتِ بِالْمَاءِ" دا به جمله جواب د نداء سي او جمله انشائيه ندائيه به سي. (از مرتب عفي عنه)

۳. او كله مفرد نكره غير معين وي (۲) لكه: كله چي "اَعْمٰى" (ړوند) ووايي: "يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ".

د دې صورتو اعراب:

په دې درو صورتو كې به منادى معربه منصوبه (۳) وي: لكه: "يَا عَبْدَاللهِ، يَا طَالِعًا جَبَلًا، يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ".

۴. منادى كله مفرده معرفه (۴) وي لكه: "يَا زَيْدُ، يَا مُوْسٰى".

---

(۱) شبه مضاف و هغه ته وايي: چي د يو اسم معنى بغير د بل اسم څخه نه تاميږي لكه: څنګه چي د مضاف معنى بغير د مضاف اليه څخه نه تاميږي. او دى پر پنځه قسمه راځي: (۱) منادى شبه مضاف كله په صورت د عامل كي وي، خواه كه عامل رافع او كه ناصب وي، لكه: "يَا حَسَنًا وَجْهُهُ، يَا طَالِعًا جَبَلًا، يَا رَفِيْقًا بِالْعِبَادِ". (۲) كله په صورت د معطوف او معطوف عليه كي وي، او معطوف قبل النداء د يو چا دپاره علم وي، لكه: "يَا ثَلٰثَةً وَّ ثَلَاثِيْنَ". (۳) او كله په صورت د موصوف كي وي، او صفت يې مفرد وي، لكه: "يَا رَجُلًا كَرِيْمًا اَقْبِلْ". (۴) كله په صورت د موصوف كي وي لېكن صفت يې جمله وي لكه: "يَا عَظِيْمًا يُرْجٰى لِكُلِّ عَظِيْمٍ". (۵) كله په صورت د موصوف كي وي لېكن صفت يې ظرف وي، لكه: "اَلَا يَا نَخْلَةً مِنْ ذَاتِ عِرْقٍ" "عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ السَّلَامُ". په دې شعر كي "نَخْلَةٌ" موصوف او "مِنْ ذَاتِ" والا جمله په اعتبار د "كَانَ" سره صفت دئ د "نَخْلَةٌ" دپاره. (ضوابط نحويه)

(۲) نكره غير معينه كه څه هم په حقيقت كي نكره نوم دئ د غير معين شي بيا يې هم وروسته صفت په غير معينه سره راغلى دئ د هغه وجه دا ده: چي دا خو يا تفسير د نكره دئ او يا د ده ذكر د نكره د تاكيد دپاره وي هغه په دې شكل چي د حرف نداء د دخول څخه وروسته بيا هم د ده نكره پاته كېدل يو نا قابل قبوله خبره وه، ځكه حرف نداء د معرفه د اسبابو څخه يو مشهور سبب دئ نو چي كله يې تاكيد په غير معينه سره راغلئ نو دغه شبه يې لري سوه. دريم د غير معينه صفت په راوړلو سره د نكره اقسامو ته اشاره وه چي منادى نكره دوه قسمه ده: (۱) اول قسم چي د حرف نداء د خول څخه مخكي نكره وي او د دخول بعد معرفه وي لكه: يو عام سړى ووايي: "يَا رَجُلُ". (۲) او دوهم قسم هغه نكره ده چي قبل النداء هم نكره وي او بعد النداء هم نكره وي، لكه: "اَعْمٰى" چي ووايي: "يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ". ځكه عام سړي ته هغه "رَجُل" معين وي او په سترګو يېويني لېكن "اَعْمٰى" ته غير معين وي ځكه هغه يې په سترګو نه ويني. نو عام "رَجُل" مراد وي، نو د دې وجې د نكره صفت غير معين راوړل سو. چي اشتباه ختمه سي.

(۳) دوى ځكه معرب منصوبه دي: چي علت د نصب چي مفعوليت دئ هغه په دوى كي متحقق دئ د يو بدلونكي په وجه نه بدليږي. (همع الهوامع)

(۴) منادى مفرد معرفه:

دلته مفرد مقابل د مضاف او شبه مضاف دئ نو ځكه تثنيه او جمع په مفرد كي داخل دي او معرفه عامه ده: خواه كه قبل النداء معرفه وي لكه: "يَا زَيْدُ" او يا بعد النداء معرفه وي لكه: عام سړى چي ووايي: "يَا رَجُلُ". نو د دې حكم دا دئ: چي دا به مبني

۵. منادى مفرده نكره معينه مقصوده وي لكه: كله چي عام سړى ووايي: "يَا رَجُلُ".

د دې دوو صورتو اعراب:

په دغه دوو صورتو كي به منادى مبني وَي، پر علامه د رفع او علامه د رفع په مفرد كي ضمه ده لكه: "يَا زَيْدُ يَا رَجُلُ"، او په تثنيه كي الف دئ لكه: "يَا زَيْدَانِ وَ يَا رَجُلَانِ" او په جمع كي واو دئ: لكه: "يَا زَيْدُوْنَ وَيَا مُسْلِمُوْنَ".

٦. منادى كله مستغاثه باللام وي لكه: "يَا لَزَيْدٍ" په دې وخت كي دا مجروره وي (۱).

۷. منادى كله مستغاثه بالالف وي لكه: "يَا زَيْدَاهُ". په دې وخت كي دا مبني بر فتحه وي.

۸. منادى مستغاثه كله پر خپل حال باندي پاته وي لكه: "آلَا يَا قَوْمُ لِلْعَجَبِ".

وي پر علامه د رفع لكه: "يَا رَجُلُ، يَا مُوْسٰى، يَا زَيْدُ، يَا قَاضِيْ". دلته منادى مفرده معرفه د كاف اسمي خطابي (يعني هغه كاف چي د ده پر ځاى اسم واقع كېداى سي). پر ځاى واقع سوې ده. او كاف اسمي خطابي د كاف حرفي خطابي (يعني هغه كاف چي د ده پر ځاى د اسم واقع كېدل صحيح نه وي لكه څنګه چي په "ذَالِكَ" كي دي) لفظا و معنا مشابهت لري لفظا مشابهت يې په شكل او صورت كي دئ او معنا مشابهت يې دا دئ: لكه: څنګه چي كاف حرف خطابي د مفرد معرفه د خطاب دپاره راځي دغه رنګه كاف اسمي خطابي هم د مفرد معرفه د خطاب دپاره راځي او داغه رنګه په افراد او خطاب او تعريف كي يې هم سره مشابهت دئ، نو كاف اسمي خطابي د ده سره د دې مشابهت په وجه مبني سو چونكه منادى د كاف اسمي خطابي پر ځاى واقع كيږي او د كاف اسمي خطابي سره مشابهت لري په افراد، تعريف، او خطاب كي نو ځكه منادى مفرد معرفه به هم مبني وي. كه څه هم منادى بالذات مبني نه ده. بلكه په واسطه د كاف اسمي خطابي سره مبني ده ځكه د يو اسم مبني پر ځاى د يو اسم واقع كېدل د بناء دپاره نه دئ كافي. بلكه د مبنى الاصل سره مشابهت ضروري دئ نو ځكه دا بالواسطه مبني سوه كه څه هم اصل په نداء كي سكون دئ لېكن منادى مبني على الحركت سوه د هغه وجه دا ده چي د دې نداء عارضي ده اصلي نه ده او مبني على الضم سوه او في معناه لكه: "الف واو" په تثنيه او جمع كي دا ځكه چي د فتحې په صورت كي التباس د منادى منصوب سره راځي او د كسرې په صورت كي يې التباس د هغه منادى سره راځي چي هغه مضاف سي و يا د متكلم ته او يا حذف سي صرف په كسره اكتفاء وسي لكه: په "يَا غُلَامِ" كي نو ځكه دا مبني بر ضمه سوه دوهمه وجه يې د بنا داده چي دا د ظروف غاياتو سره مشابهت لري ځكه دا هم غايات واقع كيږي او پر دې باندي كلام تاميږي. (اسرار العربية و همع الهوامع)

(۱) فائده: په "يَا لَزَيْدٍ" كي كه چيري لام مفتوح سي نو بيا دا مستغاث ده او كه مجرور سي نو بيا دا مستغاث له دہ. (ضوابط نحويه)

۹. منادیٰ مندوب کله چي پر مړي باندي اظهار د غم کيږي لکه: "وَاسَيِّدَاهُ" او يا د درد په وخت کي استعماليږي لکه: "وَا كَبِدَاهُ" د دې دپاره درې صورتونه دي. "أُنْظُرْ فِي الْحَاشِيَةِ" (۱).

۱۰. منادیٰ متعجب منه چي کله پر يو شي باندي د کثرت په وجه اظهار د تعجب وسي لکه: "يَا لَلْمَاءِ، يَا مَاءَاهُ، يَا مَاءُ يَا لَلطَّرَبُ، يَا طَرَبَا، يَا طَرَبِ يَا لَلدَّوَاهِيْ" دا د منادیٰ مستغاثي په حکم کي ده درې وجهي پکښي ويل جائز دي.

۱۱. منادیٰ مُهَدَّدَه چي په هغه سره اظهار د تهديد او زجر کيږي لکه: "يَا لَزَيْدٍ لَأَقْتُلَنَّكَ" دا هم د مستغاثي باللام په حکم کي ده.

۱۲. منادیٰ کله مرخم وي يعني د تخفيف په وجه يې په آخر کي يو حرف حذف سوی وي. لکه: د "يَا حَارِثُ" څخه "يَا حَارُ، يَا حَارِ" ويل. د "يَا مَالِكُ" څخه "يَامَالُ، يَا مَالِ" ويل. د "يَا مَنْصُوْرُ" څخه "يَامَنْصُ" ويل. په دې صورت کي پر منادیٰ دوه اعرابه ويل جائز وي: (۱) ضمه د منادیٰ مفرد معرفې په وجه (۲) کسره د قبل الترخيم يعني پخواني اعراب په وجه.

دريمه خبره:

منادیٰ (۲) چي کله معرف باللام سي:

(۱)

۱. چي د دې اختتام پر هغه الف زائده باندي وسي چي د تاکيد د تفجع يا د توجع دپاره وي لکه: "وَا كَبِدَا".

۲. چي د دې اختتام پر الف زائده او پر هاء سکته باندي وسي لکه: "وَاحُسَيْنَاهُ".

۳. او يا دا پر خپل حال باندي پاته سي لکه: "وَا حُسَيْنُ".

(۲) د "اَللّٰهُمَّ" په ميم کي اختلاف دئ عند البصريين ميم د حرف نداء محذوف په عوض کي دئ ځکه دی په اصل کي "يَا اَللّٰهُ" وو چي کله ميم مشدد د ده په آخر کي ملحق سو نو بيا "يَا" حذف سوه ځکه "يَا" و ميم دواړه دوه حرفيزه کلمې دي، او کم مقصد چي د "يَا اَللّٰهُ" څخه حاصليږي هغه مقصد د "اَللّٰهُمَّ" څخه هم حاصليږي نو دا د دې دليل دئ چي "ميم" د "يَا" عوض دئ نو ځکه دواړه نسي سره جمع کېدای چي بيا جمع په مينځ د عوض او معوض کي لازميږي.

منادی چي کله معرفه باللام سي نو د حرف نداء او معرف باللام په مینځ کي د فصل دپاره د مذکر دپاره "اَيُّهَا" او د مؤنث دپاره "اَيَّتُهَا" راوړل کيږي لکه: "يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ. او يَا اَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ". په دې صورت کي "اَيُّ. اَيَّةٌ" منادی جوړيږي او په ترکيب کي موصوف يا مبين واقع کيږي "اَلرَّجُلُ" صفت يا عطف بيان واقع کيږي، او "هَا" زائده ده دپاره د تنبيه.

د حروف (۱) نداء حذف:

کله کله حرف نداء حذف کيږي: لکه: "يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا. أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللهِ". په اصل کي "يَا يُوسُفُ. يَا عِبَادَ الله" وو.

لېکن په شپږو (٦) ځايو کي د دې حذف نا جائز دئ:

او عند الکوفيين "ميم" د "يَا" څخه عوض نه دئ او د ده اصل "يَا اللهُ آمِنَّا بِخَيْرٍ" وو د کثرت الاستعمال په وجه تخفيفا يو څه حصه حذف سوه لکه چي په "اَيُّ شَيْئٍ" کي "اَيْش" ويل کيږي لېکن عند البصريين د ضرورت شعري په وجه دواړه سره جمع کېدای سي. (الانصاف جلد ۱ صفحه ۳۱۷ و حاشية الصبيان جلد ۳ صفحه ۱۲۶)

"اَللّٰهُمَّ" درې قسمه استعماليږي:

۱. صرف د نداء دپاره.

۲. د تمکين جواب دپاره چي جواب د مخاطب په ذهن کي راسخ سي لکه: "اَللّٰهُمَّ نَعَمْ".

۳. کله د ندرت او قلت پر وقوع باندي د دلالت کولو دپاره استعماليږي لکه: محققين، مصنفين يې په جواب کي ذکر کوي لکه: "اَللّٰهُمَّ اِلَّا اَنْ يُّقَالَ". (حاشية خضري جلد ۴ صفحه ۷۶)

فائده:

په منادی معرف باللام کي د "اَيُّهَا. اَيَّتُهَا" فاصله راوړل ځکه ضروري دي: چي "يَا" هم آله د تعريف ده او الف لام هم آله د تعريف ده چي اجتماع د آلتي يعني د دوو آلو د تعريف رانسي پر يوه اسم باندي. (نصر الخبير)

(۱) د جمهورو علماء په نزد باندي حرف نداء پر ضمير نه داخليږي که څه هم خضري يو روايت نقل کړی دئ چي "يَاهُ" او "مَنْ لَاهُ" لېکن هغه شاذ دي او صوفياء کرامو دا جواب ور کړی دئ چي د باري تعالی دوه عَلم ذاتي دي: (۱) "الله". (۲) "هُوَ" لېکن ضمير غائب او متکلم خو د نداء مناقض دي ځکه نداء د خطاب تقاضا کوي او ضمير مخاطب ځکه منادی نسي جوړېدای چي د ده جمع کول غير مستحسن دي او دی پخپله يو د بله څخه مستغني کوي. (حاشية خضري و شرح المفصل جلد ۲ صفحه ۱۶)

فائده:

او په کم صورت ني چي پر منادی باندي رفع و نصب دواړه ويل جائز دي په هغه صورت کي د ده پر توابع يعني پر صفت و غيره باندي هم دوه اعرابه ويل جائز دي لکه: "يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ فِي قِرَاءَةِ وَالطَّيْرُ". (جامع الدروس العربية)

۱. منادی چي کله اسم جنس نکره غیر معین وي.
۲. اسم اشاره.
۳. مستغاثه.
۴. مندوب.
۵. متعجب منه.
٦. منادیٰ بعیده ځکه دلته مراد "مَدُّ الصَّوْت" دئ "وَالْحَذْفُ يُنَافِيْهِ".

د منادی حذف:

کله کله منادی هم حذف کیږي لکه: "اَلَا يَا اُسْجُدُوْا: اَیْ اَلَا يَا قَوْمُ اُسْجُدُوْا".

د منادی اضافت و "يَا" متکلم ته:

منادی چي کله مضاف سي و "يَا" د متکلم ته نو په دې کي درې صورتونه جوړيږي:

۱. د "يَا" حذف او د "دال" کسره، لکه: "يَا عِبَادِ"، په اصل کي "يَا عِبَادِيْ" وو.
۲. د "يَا" ابدال په "الف" سره لکه: "يَا صَدِيْقَا"، په اصل کي "يَا صَدِيْقِيْ" وو.
۳. د "يَا" ابدال په "تاء" سره لکه: "يَا أَبَتِ" په اصل کي "يَا اَبِيْ" وو.

فصل دوم در حروف عاملہ در فعل مضارع الخ:............................ الی قولہ قسم دوم حروف کہ فعل مضارع را جزم کند.

ترجمه:

دوهم فصل د حروف عامله په بیان کي دئ چي په فعل مضارع کي عمل کوي هغه پر دوه قسمه دئ اول قسم هغه حروف دي چي فعل مضارع ته نصب ور کوي ه څلور دي اول: "اَنْ" دئ لکه: "اُرِيْدُ اَنْ تَقُوْمَ". او "اَنْ" سره د فعل د مصدر په معنیٰ سره راځي یعني "اُرِيْدُ قِيَامَكَ" د دې وجهي وده ته "اَنْ" مصدریه ویل کیږي. دوهم "لَنْ" دئ لکه: "لَنْ يَّخْرُجَ" او "لَنْ" د نفي د تاکید دپاره وي. دریم: "كَيْ" دئ لکه: "اَسْلَمْتُ كَيْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ". څلورم: "اِذَنْ" دئ لکه: "اِذَنْ اُكْرِمَكَ" د هغه چا په جواب کي چي وایي: "اَنَا آتِيْكَ غَدًا".

پوه سه! چي "اَنْ" تر شپږو حروفو وروسته مقدر کیږي او فعل مضارع ته نصب ور کوي اول د "حَتّٰى" څخه وروسته لکه: "مَرَرْتُ حَتّٰى اَدْخُلَ الْبَلَدَ". دوهم د "لَامِ جَحْدْ" څخه وروسته لکه: "مَا كَانَ

اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ". دريم در "اَوْ" وروسته چي په معنٰی د "اِلٰی اَنْ" يا "اِلَّا اَنْ" سره وي، لکه: "لَاَلْزَمَنَّکَ اَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ" او داغه رنګه در "وَاوِ صَرْف" او "لَامِ کَیْ" او تر هغه "فَا" وروسته چي په جواب د شپږو شيانو کې راځي هغه شپږ شيان: (۱) امر. (۲) نهي. (۳) نفي. (۴) استفهام. (۵) تمني. (٦) عرض او د دې مثالونه مشهوره دي.

څلورمه خبره:

کم وخت چي مصنف رحمه الله د هغه حروف عامله وو څخه چي په اسم کي يې عمل کوي د هغه د بحث څخه فارغ سو. او س يې شروع و کړه په بحث کي د هغه حروف عامله وو چي هغه په فعل مضارع کي عمل کوي هغه دوه قسمه حروف دي:

۱. حروف نواصب.

۲. حروف جوازم.

د حروف نواصب عمل:

حروف نواصب پر فعل مضارع باندي داخليږي د فعل مضارع و آخر ته نصب ور کوي لکه: "لَنْ يَّضْرِبَ، يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْکُمْ".

د حروف نواصب مختصره تشريح:

اول "اَنْ" [1] دئ په حروف نواصبو کي "اَنْ" د "اُمُّ الْبَابْ" حيثيت لري نو ځکه دی هم لفظا عمل کوي او هم تقديرًا او دَی حرف استقبال مصدريه دئ ماضي، مضارع او امر درې سره په تاويل د مصدر سره اړوي او دَی نصب صرف و مضارع ته ور کوي.

---

[1] په حروف نواصبو کي "اَنْ" د "اُمُّ الْبَابْ" حيثيت لري ځکه دی متفق عليه دئ صرف فعل مضارع ته نصب ور کوئ لېکن دده صله ماضي، مضارع، امر درې سره راتلای سي. ابوبکر ابن طاهر ويلي دي چي "اَنْ" حرف مشترک دئ کله چي دی د مضارع څخه علاوه پر بل شي باندي داخل سي نو بيا دی ناصبه نه دئ ځکه دَی د استقبال دپاره متعين دئ لکه: "سِيْن و سَوْفَ" چي د مضارع څخه علاوه پر بل شي باندي نسي داخلېدای داغه رنګه "اَنْ" چي ناصبه استقباليه وي د مضارع څخه علاوه بل ځای نسي داخلېدای.

د "اَنْ" د عمل دپاره اته شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي "اَنْ" به مصدريه وي، احترازي مثال يې لکه: "اَمَرْتُکَ اَنْ اِذْهَبْ" دلته "اَنْ" تفسيريه دئ.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي د ده څخه مخکي به "لَمْ" نه وي.

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي د ده څخه مخکي به "لَنْ" نه وي.

۴. څلورم شرط يې دا دئ: "اَنْ" به مخففه من المثقله نه وي احترازي مثال لکه: "عَلِمَ أَنْ سَيَكُونُ مِنْكُمْ".

۵. پنځم شرط يې دا دئ: "اَنْ" به شرطيه نه وي احترازي مثال لکه: "وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ".

۶. شپږم شرط يې دا دئ: "اَنْ" به نافيه نه وي احترازي مثال لکه: "أَنْ يُؤْتَىٰ أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُوتِيتُمْ".

او د جمهور علماء په نزد باندي "اَنْ" زائده عمل نسي کولای ځکه دی په دې وخت کي په مضارع پوري نه دئ خاص او دی بعد الاختصاص عمل کوي لېکن د اخفش په نزد باندي دی عمل کوي "حَمْلًا عَلَى الْمَصْدَرِيَّه. و قياسًا عَلَى الْبَاءِ الزَّائِدَهْ" لېکن دا حمل کمزوری دئ ځکه د ده او د باء په مينځ کي فرق دئ ځکه باء زائده مختصه وي په اسم پوري.

د "اَنْ" د معمول معمول پر "اَنْ" نسي مقدم کېدای ځکه دی د صلې معمول دئ لکه: څنګه چي خو دي صله نسي مقدم کېدای داغه رنګه د صلې معمول هم نسي مقدم کېدای لېکن عند الفراء تقديم جائز دئ. او "اَنْ" چي عمل کوي د "اَنْ مُخَفَّفَهْ مِنَ الْمُثَقَّلَهْ" سره د مشابهت په وجه يې کوي لفظي مشابهت يې په صورت و شکل کي دئ او معنوي مشابهت هغه دا دئ چي دوی دواړه مصدريه دي څپل مدخول په تاويل د مصدر سره اړوي. (تنوير)

ضابطه: کم "اَنْ" چي د "فعل يقين" څخه وروسته راسي هغه همېشه "اَنْ مُخَفَّفَهْ مِنَ الْمُثَقَّلَهْ" وي او په دې وخت کي دی مصدريه نه دئ لکه "عَلِمَ أَنْ سَيَكُونُ" او داغه رنګه هر هغه فعل چي د يقين معنی په کښي وي لکه: "وُجْدَانَ. يَقِيْن. تَحْقِيْق. شَهَادَتْ. ظُهُوْر" و غيره. او کم "اَنْ" چي د ظن څخه وروسته واقع سي په هغه کي دوې وجې جائز دي. (۱) "اَنْ" ناصبه جوړېږي. (۲) يا "اَنْ مُخَفَّفَهْ مِنَ الْمُثَقَّلَهْ" دئ چي د ده په وجه پر فعل مضارع باندي رفع، نصب دواړه ويل جائز دي لکه: "ظَنَنْتُ اَنْ سَيَقُوْمُ". او کم "اَنْ" چي د علم و ظن څخه علاوه د "طَمَعْ. رِجَاء. خَشِيَتْ. خَوْف. شَکْ. وَهَمْ. اِعْجَابْ" و غيره څخه وروسته واقع سي نو بيا دی "اَنْ" مصدريه دئ مخففه نه دئ. (جامع الدروس العربية)

۷. اووم شرط یې دا دئ: "أَنْ" به تفسیریه نه وي احترازي مثال لکه: "وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ".

۸. اتم شرط یې دا دئ: "أَنْ" به زائده نه وي احترازي مثال لکه: "فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ".

پنځمه خبره:

د "أَنْ" مقدره ځایونه (۱):

---

(۱) "أَنْ" په حروف نواصبو کي چونکه د "أُمُّ الْبَابِ" حیثیت لري نو ځکه دی که چیري په لفظو کي وي هم عمل کوي او که مقدر وي هم عمل کوي. او د ده د مقدر کېدو دپاره دوه حالتونه دي.

۱. حال وجوب.

۲. حال جواز.

د حال وجوب دپاره دوه مقامونه دي. (۱) د حروف جاره څخه وروسته. (۲) د حروف عطف څخه وروسته. حروف جاره دوه دانې دي اول د "لَامِ جَحَد" څخه وروسته "أَنْ" مقدر وي. "جَحَد" معنی انکار او دی د تاکید د نفي دپاره راځي او "لَامِ جَحَد" هغه دئ چي د "كَوْن" ماضي منفي څخه وروسته راسي لکه: "فَمَا كَانَ اللهُ لِيَظْلِمَهُمْ.. لَمْ يَكُنِ اللهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ.. مَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ".

(۲) دوهم حرف جر چي د ده څخه وروسته "أَنْ" مقدر وي هغه "حَتّٰى" جاره دئ په دې شرط چي فعل مستقبل به وي خواه که په وقت د تکلم کي وي لکه: "فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتّٰى تَفِيءَ إِلٰى أَمْرِ اللهِ" یا په اعتبار د ماقبل سره وي لکه: "وَزُلْزِلُوا حَتّٰى يَقُولَ الرَّسُولُ" نو په دې صورت کي په "حَتّٰى" کي درې معناګاني جوړېدای سي. دوهم د حرف عطف څخه وروسته چي "أَنْ" وجوبًا مقدر کېږي هغه درې دانې دي: (۱) واو المعیت. (۲) فا سببیه چي کله مراد د دوی څخه سببیت وي او په جواب د نفي یا طلب کي وي لکه: "لَمْ يَرْحَمْ فَتُرْحَمَ. هَلْ تَرْحَمُونَ فَتُرْحَمُوا. لَا تَأْمُرُوا بِالْخَيْرِ وَ تُعْرِضَ عَنْهُ لَا تَأْمُرُوا بِالْخَيْرِ وَ تُعْرِضَ عَنْهُ". (۳) د "أَوْ" څخه وروسته چي کله د ده په ځای کي (إِلٰى یا إِلَّا) استثنائیه صحیح وي لکه: "أَوْ أُدْرِكَ الْمُنٰى أَىْ إِلٰى أَنْ أُدْرِكَ الْمُنٰى یا أَوْ تَسْتَقِيمَا أَىْ إِلٰى أَنْ تَسْتَقِيمَا".

حال جواز: د حال جواز دپاره درې مقامونه (۱) د لام جر غیر حجدیه یعني د لام کی څخه وروسته لکه: "وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ أَىْ لِأَجْلِ أَنْ تُبَيِّنَ" (۲) د لام عقیبت او لام نتیجه څخه وروسته لکه: "فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا". (۳) د واو، فا، ثم، او څخه وروسته چي کله مراد د دوی څخه عطف وي او د دوی عطف پر اسم صریحي وي د واو مثال لکه: "وَلُبْسُ عَبَاءَةٍ وَتَقَرَّ عَيْنِي أَىْ وَقُرَّةُ عَيْنِي". د فا مثال لکه: "لَوْلَا تَوَقُّعُ مُعْتَرٍّ فَأُرْضِيَهُ أَىْ فَأَرْضَاؤُهُ". د ثم مثال لکه: "إِنِّي وَقَتْلِي سُلَيْكًا ثُمَّ أَعْقِلَهُ أَىْ ثُمَّ عَقْلِي إِيَّاهُ". د "او" مثال لکه: "وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا أَىْ إِلَّا وَحْيًا أَوْ إِرْسَالَ رَسُولٍ". (۱) د لام تعلیل معنی (دپاره د دې) لکه: "أَسْلَمْتُ حَتّٰى أَدْخُلَ الْجَنَّةَ". (ما اسلام راوړئ دپاره د دې چي جنت ته داخل سم). (۲) "حَتّٰى" په معنی د "إِلٰى" سره (تر څو پوري) لکه: "سِرْتُ حَتّٰى أَدْخُلَ الْبَلَدَ". (ما تګ وکړئ تر څو پوري چي زه و ښار ته

"أَنْ" په اووه (۷) ځايو کي مقدر راځي: فعل مضارع ته نصب ور کوي:

۱. د "لَام" جحد وروسته لکه: "مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ".

۲. د "لَام" کی (۱) څخه وروسته لکه: "وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ".

۳. د "حَتّٰى" جاره وروسته لکه: "فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتّٰى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللّٰهِ".

۴. د "أَوْ" څخه وروسته لکه: "لَأَلْزِمَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِي حَقِّي".

۵. د "واو" صرف څخه وروسته لکه: "لَا تَأْكُلِ السَّمَكَ وَتَشْرَبَ اللَّبَنَ".

۶. د "فَا" سببيه وروسته لکه "يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا".

۷. تر "ثُمَّ" وروسته لکه: "وَقَتْلِيْ سُلَيْكًا ثُمَّ اَعْقِلَهُ".

شپږمه خبره:

د واو صرف څخه وروسته چي "أَنْ" مقدر کيږي نو د ده دپاره دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: د "واو" صرف د ماقبل و مابعد مضمون به په يوه زمانه کي وي.

داخل سوم). (۳) "حَتّٰى" په معنی د "إِلَّا" سره (مګر) لکه: "لَيْسَ الْعَطَاءُ مِنَ الْفُضُوْلِ سَمَاحَةً،، حَتّٰى تَجُوْدَ وَ مَالَدَيْكَ قَلِيْلٌ". (شرح شذور الذهب جلد ۱ صفحه ۳۸۰)

(۱) "لام کَیْ" تقريبا پر څو قسمه راځي: (۱) "لام تاکيدي". (۲) "لام قسميه". (۳) "لام ابتدائيه". (۴) "لام امر". (۵) او "لام جاره" چي هغه بيا په خپل کور کي پر څلور قسمه راځي. (۱) "لام تعليليه". (۲) "لام جحد". (۳) "لام عاقبة". (۴) "لام زائده". لام تعليليه چي د ده ماقبل د مابعد دپاره علت وي لکه: "اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ". لام جحد چي د "كَانَ" ماضي منفي وروسته استعماليږي او د ده په حذف کولو سره پر معنی باندي هيڅ فرق نه پرېوزي، لکه: "مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ" عند البصريين "لِيُطْلِعَكُمْ" خبر دئ د "كَانَ" لېکن عند الکوفيين جار و مجرور متعلق تر "مُرِيْدًا" پوري، بيا دا خبر دئ د "كَانَ". "لَام زائده" چي د فعل متعدي څخه وروسته د فعل د تقويت دپاره راځي لکه: "إِنَّمَا يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ". "لَام عاقبة": چي کم وخت پر نتيجه باندي فاء داخله سي او د دې د مابعد مقتضي د ماقبل د مقتضي دپاره "نقيض" وي لکه: "فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا" عند البصرين د "لَام" څخه وروسته "أَنْ" مقدر دئ هغه د فعل مضارع ناصب دئ لېکن عند الکوفيين "لَامِ جحد" په خپله ناصب دئ.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: "واو" به تر دغه شپږو شيانو وروسته راغلی وي. (۱) تر "امر" وروسته لکه: "زُرْنِيْ وَ أُكْرِمَكَ". (۲) تر "نهي" وروسته لکه: "لَا تَأْكُلِ السَّمَكَ وَ تَشْرَبَ اللَّبَنَ". (۳) تر "نفي" وروسته "مَا تَأْتِيْنَا وَ تُحَدِّثَنَا". (۴) تر "تمني" وروسته لکه: "لَيْتَ لِيْ مَالًا وَ أُنْفِقَهُ". (۵) تر "استفهام" وروسته لکه: "هَلْ عِنْدَكُمْ مَاءٌ وَ أَشْرِبَهُ". (۶) تر "عرض" وروسته لکه: "أَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا".

او تر "فا" وروسته چې "أَنْ" مقدر کيږي د هغه د پاره هم دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې د "فا" ماقبل به سبب وي د مابعد د پاره.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې د دغه شپږو شيانو په جواب کې به راغلی وي. (۱) امر. (۲) نهي. (۳) نفي. (۴) تمني. (۵) استفهام. (۶) عرض مثالونه يې په واو صرف کې تېر سوه صرف د واو پر ځای "فا" لګول کيږي.

جملې:

عنوان	خبر، انشاء	مسند	مسند الیہ	تعین اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی تقدیری	تمنی غیر تمنی	تعین اعراب مضارع	تعین حروف عاملہ
يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا	انشائیہ اسمیہ	أَدْعُوْ	أَنَا	۳. أَنَا، تُمْ، أَنْتُمْ	۵. معرب	۸. مبنی	بالحرکت وبالحرف	لفظی (۱) قسم	تمنی غیر تمنی	(أَدْعُوْ) حالت رفعی ضمہ تقدیری (۲) قسم (تَنْفُذُوْا) حالت نصبی (۴) قسم	۳. (يَا) حرف ندا (إِنْ) جازمہ (أَنْ) ناصبہ
يُرِيْدُ أَنْ يُخْرِجَكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ	خبریہ فعلیہ	يُرِيْدُ	هُوَ	۴. هُوَ، هُوَ، كُمْ، كُمْ	۳. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمنی	(يُرِيْدُ) حالت رفعی (۱) قسم (يُخْرِجَ) حالت نصبی (۱) قسم	۲. (أَنْ) ناصبہ (مِنْ) جارہ
لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَا مُوسَى	خبریہ فعلیہ	تُخْرِجَ	أَنْتَ	۵. أَنْتَ، نَا، نَا، كَ، أَنَا	۴. معرب	۱۱. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) وتقدیری (۱۳)	غیر تمنی	(تُخْرِجَ) حالت نصبی (۱) قسم (أَدْعُوْ) (۲) قسم	۴. (أَنْ) مقدرہ (بَا، مِنْ) جارہ (يَا) حرف ندا (لَامْ) جارہ
يَا دَاوُدُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيْفَةً فِي الْأَرْضِ	انشائیہ اسمیہ	أَدْعُوْ	أَنَا	۴. أَنَا، نَا، نَا، كَ	۴. معرب	۱۰. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱، ۵) قسم	غیر تمنی	(أَدْعُوْ) حالت رفعی ضمہ تقدیری (۲) قسم	۳. (يَا) حرف ندا (إِنَّ) مشبہ بالفعل (فِيْ) جارہ
وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ	خبریہ فعلیہ	لِيُطْلِعَ كُمْ	اَللّٰهُ	۲. هُوَ، كُمْ	۳. معرب	۸. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمنی	(يُطْلِعَ) حالت نصبی (۱) قسم	۲. (أَنْ) مقدرہ (عَلَى) جارہ
يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ	انشائیہ اسمیہ	أَدْعُوْ	أَنَا	۱. أَنَا	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱، ۳) قسم	غیر تمنی	(أَدْعُوْ) حالت رفعی ضمہ تقدیری (۲) قسم	۲. (يَا) حرف ندا (عَلَى) جارہ

عنوان	خبریہ انشائیہ	مسند	مسند الیہ	تعیین اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت بالحروف	لفظی تقدیری	تمیمی غیر تمیمی	تعیین اعراب مضارع	تعیین عوامل عاملہ
لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ	خبریہ اسمیہ	لَنَا، مِنَ الْمُؤْمِنِينَ	كَرَّةً، نَحْنُ	۲. نَا، نَحْنُ	۵. معرب	۹. مبنی	بالحرکت	لفظی	تمیمی غیر تمیمی	(نَكُونَ) حالت نصبی (۱) قسم	۵. (أَنَّ) مشبہ بالفعل (أَنْ) مقدرہ (مِنَ) جارہ (لَوْ) (فَا)
وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ	خبریہ اسمیہ	لَيُوحُونَ	الشَّيَاطِينَ	۴. هُمْ، هُمْ، هِمْ، كُمْ	۴. معرب	۱۰. مبنی	بالحرکت	لفظی (۴)	تمیمی غیر تمیمی	(يُوحُونَ) حالت رفعی (۴) قسم (يُجَادِلُوكُمْ) حالت نصبی (۴) قسم	۶. (إِنَّ) مشبہ بالفعل (إِلَى) جارہ (أَنْ) مقدرہ (واو) (لَامْ) (نَ)
يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ	انشائیہ اسمیہ	أَدْعُو	أَنَا	۳. أَنَا، أَنْتَ، هُ	۳. معرب	۷. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمیمی	(أَدْعُو) حالت رفعی ضمہ تقدیری (۲) قسم	۲. (يَا) حرف نداء (وَ)
وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَى	خبریہ فعلیہ	عَجِلَ	تُ	۳. تُ، كَ، أَنْتَ، أَنَا، (يَ) محذوف	۳. معرب	۱۱. مبنی	بالحرکت	لفظی و تقدیری (۱) (۱۳) قسم	غیر تمیمی	(تَرْضَى) حالت نصبی (۳) قسم فتحہ تقدیری	۵. (إِلَى) جارہ (أَنْ) ناصبہ مقدرہ (يَا) حرف نداء محذوف (لِ) جارہ (وَ)
لَعَلِّي أَبْلُغُ الْأَسْبَابَ أَسْبَابَ السَّمَاوَاتِ فَأَطَّلِعَ	انشائیہ اسمیہ	أَبْلُغُ، الْأَسْبَابَ	(يَ) یا متکلم	۳. يَ، أَنَا، أَنَا	۵. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	لفظی (۳-۴) قسم	تمیمی غیر تمیمی	(أَبْلُغُ) حالت رفعی (۱) قسم (أَطَّلِعَ) حالت نصبی (۱) قسم	۳. (لَعَلَّ) حرف مشبہ بالفعل، (فَ) (أَنْ) مقدرہ
إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ	خبریہ اسمیہ	فَتَحَ	نَا	۶. نَا، نَا، كَ، ۲. هُوَ، كَ	۴. معرب	۱۱. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمیمی	(يَغْفِرَ) حالت نصبی (۱) قسم	۵. (إِنَّ) مشبہ بالفعل ۲. (لَامْ) جارہ (أَنْ) مقدرہ

التمرين:

"وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً، وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ، وَكَذَلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا، مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ، لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا، أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تُتْرَكُوا، لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا، فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُوا، يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ، أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ".

الدرس الثالث والعشرون:

د نن د سبقه خلاصه اوه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

"لَن" (۱):

دوهم حرف په حروف ناصبه وو کي هغه حرف "لَنْ" دئ.

د "لَنْ" معنٰی:

"لَنْ" د استقبال او د تاکید د نفي دپاره راځي لکه: "لَنْ يَّضْرِبَ" (هرګز به هغه یو سړی وهل و نه کړي په را روانه زمانه کي) یعني دی مضارع مثبت په معنٰی د مستقبل منفي سره ګرځوي.

د "لَنْ" خصوصیت:

په ټولو نواصبو کي د "لَنْ" امتیازي خصوصیت دا دئ چي د "لَنْ" د معمول معمول پر "لَنْ" باندي مقدم کېدای سي لکه: "زَيْدًا لَنْ يَضْرِبَ". "زَيْدٌ" معمول د "يَضْرِبُ" دئ "يَضْرِبُ" معمول د "لَنْ" دئ بخلاف د نورو نواصبو د هغو د معمول معمول پر دوی باندي نسي مقدم کېدای.

"کَيْ" (۲):

دریم حرف په حروف ناصبه کي هغه حرف "کَيْ" دئ چي فعل مضارع ته نصب ور کوي.

---

(۱) په "لَنْ" کي درې مذهبونه دي: عند الجمهور "لَنْ" حرف بسیط دئ نه په ده کي ترکیب ستدا او نه ابدال.
عند الخلیل و کسائي دی مرکب دئ د "لَا" او د "أَنْ" څخه بیا د کثرت الاستعمال په وجه همزه حذف سوه او د التقاء ساکنین په وجه الف هم حذف سو نو "لَنْ" جوړ سو ځکه په ده کي نفي او تخلیص للاستقبال موجود دي.
عند الفراء دی بسیط دئ لیکن مبدل دئ ځکه په اصل کي دغه "لَا" نافیه دئ بیا الف په نون سره بدل سو "لَنْ" جوړ سو. (مغني اللبیب)

(۲) "کَيْ" د سبویه او جمهور نحاتو په نزد باندي دا حرف مشترک دئ کله دی حرف جر په معنی د "لِمَ" سره راځي او کله حرف ناصب وي ځکه پر "کَيْ" باندي چي کله "لَام" جاره داخل سي لکه: "جِئْتُکَ لِکَیْ اَ تَعَلَّمَ" نو په دې صورت کي جاره نه دئ ځکه حرف جر پر حرف جر باندي نسي داخلېدای، او داغه رنګه "کَيْ" کله پر "مَا" استفهامیه باندي داخلیږي لکه: "کَيْمَ" نو په دې صورت کي "کَيْ" حرف جار دئ په معنی د "لِمَ" سره دئ او دا مسلمه قاعده ده چي کله پر "مَا" استفهامیه باندي حرف جر داخل سي نو بیا الف حذف کیږي نو د الف حذف د دې دلیل دئ چي "کَيْ" جاره دئ نو بیا پر دې باندي دا مسئله متفرع کیږي چي "کَيْ" پر "لَا" باندي داخلول جائز دي، او که نه که چیري "کَيْ" جاره سي نو بیا یې دخول جائز نه دئ او که چیري "کَيْ" ناصبه سي نو بیا یې دخول جائز دئ، او د سبویه، خلیل او اخفش په نزد باندي "کَيْ" بنفسه په خپله ناصب نه دئ بلکه د ده څخه وروسته "أَنْ" مقدره ناصب دئ. (کتاب سبویه جلد ۳ صفحه ۵، ۷)

د "كَيْ" د عمل دپاره شرائط:

د "كَيْ" د عمل دپاره درې شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي "كَيْ" به اسميه نه وي ځکه "كَيْ" اسميه مخفف وي د "كَيْفَ" څخه لکه: "كَيْ تَنْجَحُوْا اَيْ كَيْفَ تَنْجَحُوْنَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي "كَيْ" به جاره نه وي ځکه "كَيْ" جاره پر "مَا" استفهاميه يا "مَا" مصدريه او يا پر "اَنْ" مصدريه داخليږي لکه: "كَيْمَهْ" "تَقُوْلُ" "كَيْمَ فَعَلْتَ هٰذَا" بِمَعْنٰى "لِمَ".

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي د ده ماقبل به سبب وي د مابعد دپاره لکه: "اَسْلَمْتُ كَيْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ" دلته اسلام سبب دئ د دخول جنت.

فائده:

که چيري د "كَيْ" څخه مخکي "لام" جاره راسي نو بيا دی ناصبه دئ لکه: "لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا" او که چيري "لام" تر "كَيْ" وروسته راغلئ نو بيا "كَيْ" جاره دئ لکه: "جِئْتُ كَيْ لِاَقْرَءَ" او د "لَام" څخه وروسته "اَنْ" مقدر وي "اَيْ لِاَنْ اَقْرَءَ". او داغه رنګه په کلام کي د "كَيْ" معلول تر "كَيْ" مؤخره کول هم جائز دي لکه: "كَيْ تُكْرِمَنِيْ جِئْتُكَ".

دوهمه خبره:

"اِذَنْ" [1]:

(۱) "اِذَنْ" د جمهورو علماء په نزد باندي دَی حرف بسيط دئ او دی پر خپل اصل باندي دئ لېکن عند البعض دی اسم ظرف دئ او د ده اصل "اِذْ" دئ او بيا يې په آخر کي تنوين عوض عن الجملة لا حق سو او بيا دی نقل سو د جزائيت و طرف ته او په ده کي د سبب او ربط والا معنی باقي پاته ده او عند الخليل دی مرکب دئ د "اِذْ" او د "اَنْ" څخه بيا يې د همزه حرکت نقل کړئ و ذال ته او همزه يې حذف کړي نو "اِذَنْ" جوړ سو، د اکثره نحاتو په نزد باندي دغه "اِذَنْ" په خپله ناصب دئ ځکه دی مضارع خاصه وي په استقبال پوري که څه هم بعض نحاتو "اِذَنْ" د عمل د شرائطو باوجوده مهمل شمار کړی دئ چنانچه لکه امام سبويه د بعض

څلورم حرف په حروف نواصبو کي هغه حرف "إِذَنْ" دئ. چي د جواب په وخت کي پر فعل مضارع داخليږي او د فعل مضارع و آخر ته نصب ور کوي لکه: څوک وايي: "اَنَا آتِيْکَ غَدًا" او ته په جواب کي ورته وايي: "إِذَنْ أُكْرِمَكَ".

د "إِذَنْ" د عمل شرائط:

د "إِذَنْ" د عمل دپاره پنځه (۵) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي په شروع د كلام كي به وي، ورنه بيا رفع واجب ده بناء بر خبريت لكه: "اَنَا إِذَنْ أُكَافِئُكَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي د ده مدخول به خالص فعل مضارع مستقبل وي ورنه بيا رفع واجب ده بناء بر خلو لكه: "إِذَنْ أَظُنُّكَ صَادِقًا" په جواب د هغه چا كي چي هغه وايي: "اَنَا أُحِبُّكَ" دلته فعل مضارع د حال معنى ور كوي نه د استقبال.

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي د ده او د معمول په مينځ كي به فاصله و فصل نه وي او كه چيري فاصله وي يا به په قسم سره وي او يا به په "لَا" نافيه سره وي قسم لكه: "إِذَنْ وَاللهِ أُكْرِمَكَ" او د نفي مثال لكه: "إِذَنْ لَا أَجِيْئَكَ".

۴. څلورم شرط يې دا دئ: چي دى به هميشه مصدريه وي.

۵. پنځم شرط يې دا دئ: چي د ده د مدخول معمول به پر ده نه وي مخكي سوى.

عربو څخه دا حكايت كړى دئ او قرين قياس هم داغه دئ څكه حروف وروسته تر اختصاص عمل كوي حالانكه "إِذَنْ" غير مختص دئ لكه: څنګه چي پر افعالو باندي داخليږي داغه رنګه پر اسماء باندي هم داخليږي لكه: "آأَنْتَ تُكْرِمُ الْيَتِيْمَ؟ إِذَنْ أَنْتَ رَجُلٌ كَرِيْمٌ". (كتاب سبويه)

(۲) بعض حضراتو د منادى فاصله هم جائز بللې ده لكه: "إِذَنْ يَا زُهَيْرُ تَنْجَحَ جَوَابًا لِقَوْلِهِ سَأَجْتَهِدُ" او داغه رنګه ابن عصفور د ظرف او جار و مجرور فاصله هم جائز بللې ده لكه: "إِذَنْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَجِيئَكَ" جار و مجرور لكه: "إِذَنْ بِالْجِدِّ تَبْلُغَ الْمَجْدَ". (جامع الدروس العربية)

فائده:

"اِذَنْ" عام طور د "لَوْ" يا د "اِنْ" په جواب كي راځي خواه كه دى مَذْكُور (ذكر سوى) وي او كه مُقَدَّرْ (پټ) وي لكه: د "اٰتِيْكَ غَدًا". په جواب كي "اِذَنْ اُكْرِمَكَ" ويل لېكن كله چې دى د "فَا" عاطفه او د "واو" عاطفه په جواب كي راسي نو بيا دى غير عامل دئ لېكن بيا هم په ده كي رفع او نصب دواړه جائز دي او رفع يې غالبه ده نصب لكه: په قرائت د غير سبعه كي "وَإِنْ كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ الْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا وَإِذًا لَا يَلْبَثُونَ الخ" او "أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا". او رفع په قرائت د سبعه كي او "اِذَنْ" كله په نون تنوين سره هم ويل كيږي لكه: "اِذًا".

قسم دوم حروف كه فعل مضارع را بجزم كنند الخ: .... الى قوله باب دوم در عمل افعال.

ترجمه:

په حروف عامله وو كي دوهم قسم هغه حروف دي چي فعل مضارع ته جزم وركوي هغه پنځه حروف دي: "لَمْ، لَمَّا، لَامِ امر، لَاءِ نهي، اِنْ" شرطيه لكه: "لَمْ يَنْصُرْ، لَمَّا يَنْصُرْ، لِيَنْصُرْ، لَا تَنْصُرْ، اِنْ تَنْصُرْ اَنْصُرْ".

پوه سه! چي "اِنْ" پر دوو جملو داخليږي لكه: "اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ" اولي جملې ته شرط او دوهمي جمله ته جزاء ويل كيږي او "اِنْ" د مستقبل دپاره راځي كه څه هم پر ماضي باندي داخل سي لكه: "اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ" او په دې ځاى كي به جزم تقديري وي ځكه ماضي معرب نه ده.

پوه سه! چي كله د شرط جزاء جمله اسميه واقع سي يا امر وي يا نهي وي يا د شرط جزاء جمله دعائيه وي نو بيا پر دې جملو باندي فاء جزائيه راوړل ضروري دي لكه: ته وايي: "اِنْ تَأْتِنِيْ فَاَنْتَ مُكْرَمٌ، وَاِنْ رَاَيْتَ زَيْدًا فَاَكْرِمْهُ، اِنْ اَتَاكَ عَمْرًا فَلَا تُهِنْهُ، وَاِنْ اَكْرَمْتَنِي فَجَزَاكَ اللهُ خَيْرًا".

دريمه خبره:

حروف جوازم:

دوهم قسم د حروف عامله وو څخه چي په فعل كي عمل كوي حروف جوازم دي.

د حروف جوازمو تعداد:

جوازم پنځه داني دي: "اِنْ، وَلَمْ، لَمَّا، وَلَام اَمر، وَلَا نَهِيْ".

د حروف جوازم عمل:

حروف جوازم د عمل په اعتبار سره پر دوه قسمه دي يو هغه دي چي پر يوه فعل باندي داخليږي د هغه فعل يعني د مضارع و آخر ته جزم ور کوي هغه څلور حروف دي: "لَمْ، لَمَّا، لَامْ اَمر، لَا نَهِيْ". او بل هغه چي پر دوو فعلو باندي داخليږي د دواړو و آخر ته جزم ور کوي هغه صرف يو حرف دئ چي "اِنْ" (۱) دئ لکه: "اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ". دغه "اِنْ" چي پر کمه جمله باندي داخل سي هغه ته جمله (۲) شرطيه ويل کيږي، او د جمله شرطيه و اول جزء ته شرط او دوهم جزء ته يې جزاء ويل کيږي. لکه: "اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ".

د "اِنْ" شرطيه شرائط:

د "اِنْ" شرطيه دپاره اووه (۷) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي د "اِنْ" مدخول به جمله اسميه (۳) نه وي.
۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي د ده مدخول به جمله انشائيه (۴) نه وي.
۳. دريم شرط يې دا دئ: چي زمانه (۵) د ماضي به مراد نه وي.
۴. څلورم شرط يې دا دئ: چي پر ماضي به "قَدْ" (۶) نه وي داخل سوی.

---

(۱) "اِنْ" او "لَوْ" عام ط شرط دپاره استعماليږي او دی حروف شرط دي او "مَنْ، مَا، مَتٰى، اَيْنَ، اَیٌّ، اَنّٰى، اِذْمَا، حَيْثُمَا، مَهْمَا، اَيْنَمَا، اِذَا" و غيره اسماء دي.

(۲) جمله شرطيه هغه جمله ده چي په هغه کي دوې جملې وي او دوهمه جمله پر اوله جمله باندي موقوفه وي او د دې اوله جمله همېشه جمله فعليه وي عام طور جزاء معلقه وي په شرط پوري لکه: "اِنْ دَخَلْتِ الدَّارِ فَأَنْتِ طَالِقٌ" او کله د شرط والا فعل معلق وي په جزاء والا فعل پوري لکه: "قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ".

(۳) ځکه په جمله اسميه کي زمانه نسته.

(۴) ځکه په جمله انشائيه کي اخبار نسته او شرط د اخبار د قبيلې څخه دئ.

(۵) ځکه "اِنْ" په مستقبل کي عمل کوي او په "اِنْ كُنْتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ" او "وَاِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ" دا جملې مؤلي دي په "يَتَبَيَّنُ" مضارع سره ديا باب د "كَانَ" د دې څخه مستثنى دئ.

(۶) ځکه "قَدْ" ماضي نوره پر ماضي والي باندي ټينګه وي.

۵. پنځم شرط يې دا دئ: چې مضارع به مصدره په حرف تنفيس (۱) سره نه وي.

٦. شپږم شرط يې دا دئ: پر مضارع به "لَنْ" نه وي داخل سوی.

۷. اووم شرط يې دا دئ: چې د ده مدخول به فعل جامد (۲) نه وي.

څلورمه خبره:

د شرط و جزاء صورتونه (۳):

د شرط او د جزاء څلور صورتونه دي:

۱. اول صورت: کله شرط و جزاء دواړه فعل مضارع وي لکه: "اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ".

۲. دوهم صورت: کله صرف شرط فعل مضارع وي لکه: "اِنْ تَضْرِبْ ضَرَبْتُ". نو په دې دواړو صورتو کي پر فعل مضارع باندي جزم ويل واجب دي.

۳. دريم صورت: کله صرف جزاء فعل مضارع وي لکه: "اِنْ ضَرَبْتَ اَضْرِبُ" او په دې صورت کي پر جزاء يعني پر فعل مضارع باندي جزم و رفع دواړه ويل جائز دي.

۴. څلورم صورت: کله شرط و جزاء دواړه ماضي وي لکه: "اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ". نو په دې وخت کي شرط و جزاء دواړه محلا مجزومه دي.

پنځمه خبره:

فعل مضارع چي کله د اتو (۸) شيانو په جواب کي راسي نو دا به مجزومه وي په "اِنْ" محذوفه سره د "فَا" څخه (۱) به خالي وي، لېکن شرط دا دئ: چي اوله جمله به سبب وي د دوهمي جملې دپاره هغه اته ځايونه دا دي:

---

(۱) ځکه دا تحصيل د حاصل دئ.

(۲) ځکه په فعل جامد کي زمانه نه وي. (تنوير)

(۳) که چيري د شرط څخه وروسته د مضارع مختلفي صيغې راغلې پر يوه باندي "فَا" داخله وي او پر دوهمه باندي "اَوْ" داخل سوی وي او پر دريمه باندي "سَوْفَ" داخل سوی وي نو د جزاء ابتداء به د هغه مضارع څخه کيږي چي پر کمه باندي "سَوْفَ" داخل سوی دئ لکه: "وَمَنْ يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا". (العلامات النحوية)

۱. امر لكه: "تَعَلَّمْ تَنْجَحْ".

۲. نهي لكه: "لَاتَكْذِبْ يَكُنْ خَيْرًا لَكَ".

۳. استفهام لكه: "هَلْ تَزُوْرُنَا نُكْرِمْكَ".

۴. تمني لكه: "لَيْتَ لِيْ مَالًا اُنْفِقْهُ".

۵. عرض لكه: "اَلَا تَزُوْرُنَا يَكُنْ مَسْرُوْرًا".

---

(۱) په جزاء و شرط باندي "فاء" داخلول كله واجب وي او كله جائز وي او كله ممتنع وي. په لسو (۱۰) ځايو كي پر جزاء باندي فاء داخلول واجب دي:

۱. كله چي جزاء جمله اسميه وي لكه: "فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهُ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ".

۲. جزاء چي كله امر وي لكه: "فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ".

۳. جزاء چي كله نهي وي لكه: "فَإِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ".

۴. جزاء چي كله دعاء وي لكه: "إِنْ أَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا".

۵. كله چي د ماضي په شروع كي "قَدْ" مذكور يا محذوف راغلى وي لكه: "وَإِنْ يُكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ". "قَدْ" محذوف لكه: "وَإِنْ كَانَ قَمِيْصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ: أَيْ فَقَدْ كَذَبَتْ".

۶. جزاء چي كله د ماضي صيغه وي او په شروع كي حرف نفي وي لكه: "وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ".

۷. چي كله د مضارع په شروع كي "سِيْن" وي لكه: "وَإِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرٰى".

۸. كله چي د مضارع په شروع كي "سَوْفَ" وي لكه: "فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِيْ".

۹. كله چي جزاء د مؤكد با لَنْ ناصبه صيغه وي لكه: "وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ".

۱۰. جزاء چي كله فعل غير متصرف وي يعني "نِعْمَ، بِئْسَ، لَيْسَ"، و غيره وي لكه: "إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ".

جائز: په دوو ځايو كي پر جزاء "فَا" داخول جائز دي: (۱) مضارع مثبت. (۲) مضارع منفي. عقلا څلور (۴) صورته جوړيږي:

۱. جزاء مضارع مثبته وي او "فَا" پر داخله سوې وي لكه: "وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ".

۲. چي جزاء مضارع مثبته وي او "فَا" نه وي پر داخله سوې لكه: "إِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ".

۳. چي جزاء مضارع منفي وي او "فَا" پر داخله سوې وي لكه: "وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰى إِلَّا مِثْلَهَا".

۴. چي جزاء مضارع منفي وي او "فَا" نه وي پر داخله سوې لكه: "وَإِنْ تَدْعُوْهُمْ إِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ".

ممتنع: په دوو ځايو كي پر جزاء باندي "فَا" داخلول منع دي: (۱) جزاء چي كله ماضي مثبت بغير د "قَدْ" څخه وي لكه: "إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ". (۲) جزاء چي كله د نفي جحد بَلَمْ صيغه وي لكه: "مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللّٰهَ". (العلامات النحوية)

٦. دعاء لکه: "اَبۡقَاکَ اللهُ اَزُرۡکَ".

٧. د تحضیض په جواب کي لکه: "لَوۡلَا تَأۡتِیۡنِيۡ اُکۡرِمۡکَ".

٨. د نفي په جواب کي لکه: "لَا تَفۡعَلۡ شَرًّا یَکُنۡ خَیۡرًا لَکَ".

شپږمه خبره:

"لَمۡ، لَمَّا" (١):

دوهم او دریم قسم په حروف جوازمو کي "لَمۡ" و "لَمَّا" دي. "لَمۡ" و "لَمَّا" دواړه په فعل مضارع کي معنوي عمل کوي او مضارع مثبت په معنٰی د ماضي منفي سره اړوي لکه: "لَمۡ یَضۡرِبۡ، لَمَّا یَضۡرِبۡ".

د "لَمۡ" و "لَمَّا" اتحاد:

"لَمۡ" و "لَمَّا" په دري شیانو کي سره اتحاد دي؛

١. دواړه د نفي دپاره راځي.

٢. دواړه پر فعل مضارع داخلیږي.

٣. مضارع مثبت په معنٰی د ماضي منفي سره اړوي. او د همزه استفهام څخه وروسته هم د دوی عمل باقي پاته کیږي لکه: "اَلَمۡ یَعۡلَمۡ بِاَنَّ اللهَ یَرٰی".

د "لَمۡ" و "لَمَّا" افتراق:

د "لَمۡ" و "لَمَّا" په پنځو شیانو کي افتراق دئ:

١. "لَمَّا" په معنٰی کی استغراق وي بخلاف د "لَمۡ".

٢. پر "لَمَّا" د حرف شرط دخول منع دئ بخلاف د "لَمۡ" پر "لَمۡ" حرف شرط داخلیدای سي لکه: "اِنۡ لَمۡ تَجۡتَهِدۡ تَنۡدَمۡ".

٣. د "لَمَّا" په مدخول کي توقع وي لکه: "لَمَّا اُسَافِرۡ، فَسَفَرُکَ مُنۡتَظَرٌ" بخلاف د "لَمۡ".

(١) "لَمَّا" پر دري قسمه دئ: (١) "لَمَّا" نافیه (٢) "لَمَّا" شرطیه (٣) "لَمَّا" استفهامیه. (نصر الخبیر)

۴. د "لَمَّا" مدخول حذف کول جائز دي لکه: "قَارَبْتِ الْمَدِيْنَةَ وَلَمَّا أَيْ وَ لَمَّا أَدْخُلْهَا" بخلاف د "لَمْ" إِلَّا فِي الضَّرُوْرَةِ.

۵. "لَمَّا" ماضي و حال ته نږدې کوي بخلاف د "لَمْ".

اوومه خبره:

"لَمَّا" (۱) چي کله پر ماضي داخل سي نو بيا دی ظرفيه وي لکه: "فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيْرُ". يا شرطيه وي لکه: "فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَى عَقِبَيْهِ" او که چيري پر مضارع داخل سي نو بيا دی حرف جازم دئ لکه: "لَمَّا يَضْرِبْ" او د دې څخه علاوه بيا دی حرف استثناء دئ لکه: "إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ".

لام امر (۲):

څلورم قسم د حروف جوازمو څخه لام د امر دئ. لام امر هغه لام دئ چي په ده سره وجود د فعل طلبيږي او دی همېشه مکسوره وي او د "امر" حاضر معروف د صيغو څخه علاوه د مضارع پر ټولو صيغو باندي داخليږي لکه: "لِيَضْرِبْ" د فعل و آخر ته جزم ور کوي.

"لَا" نهي:

پنځم قسم د حروف جوازمو څخه "لَا" ناهيه دئ چي په ده سره طلب د ترک فعل کيږي او دی هم د فعل و آخر ته جزم ور کوي لکه: "لَا تَضْرِبْ".

---

(۱) "لَمَّا" چي کله پر ماضي باندي داخل سي نو بيا دی جازمه نافيه نه دئ بلکه په دې وخت کي دی په معنی د "حِيْنَ" سره راځي لکه: "لَمَّا اِجْتَهَدَ أَكْرَمْتُهُ أَيْ حِيْنَ اِجْتَهَدَ أَكْرَمْتُهُ" لېکن کله چي دی په معنی د "حِيْنَ" سره وي بيا د ده دخول پر مضارع باندي غلط دئ نو ځکه بيا د "لَمَّا يَجْتَهِدُ" پر ځای "حِيْنَ يَجْتَهِدُ" ويل کيږي. (جامع الدروس العربية)

(۲) "لام" د امر همېشه مکسوره وي او مبني بر کسره وي لېکن کله چي د ده څخه مخکي "وَاو، فَا، و ثُمَّ" راسي نو بيا د "فِعل" حکمي صورت جوړيږي، نو د حلقي العين په قانون سره لام ساکن کيږي لکه: "ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ" "وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ. فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ" او داغه رنګه "تَدْخُلُ لَامُ الْأَمْرِ عَلَى فِعْلِ الْغَائِبِ مَعْلُوْمًا وَ مَجْهُوْلًا وَ عَلَى الْمُخَاطَبِ وَ الْمُتَكَلِّمِ الْمَجْهُوْلَيْنِ وَ يَقِلُّ دُخُوْلُهَا عَلَى الْمُتَكَلِّمِ" "نَحْوُ" "وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ". او د "قُلْ" په جواب کي لام امر حذف کيږي لکه "قُلْ لِعِبَادِيَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ أَيْ لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ". (جامع الدروس العربية)

جملے:

عنوان	خبر و انشاء مع الاقسام	مسند	مسند الیہ	تعین اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی، تقدیری	تمی، غیر تمی	تعین اعراب المضارع مع التفصیل	تعین حروف عاملہ
اَلْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوبَ	خبریہ اسمیہ	مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوبَ	اَلْمُهَاجِرُ	۲۔(مَنْ، هُوَ)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	۳۔۱ بالحرکت ۱۳ خم	لفظی وتقدیری	غیر تمی	+	+
اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي طَاعَةِ اللهِ	خبریہ اسمیہ	مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي طَاعَةِ اللهِ	اَلْمُجَاهِدُ	۳۔(مَنْ، هُوَ، ہ)	۳۔ معرب	۵۔ مبنی	بالحرکت (۱) حم	لفظی	غیر تمی	+	۱۔(فِي) جارہ
لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ	خبریہ فعلیہ	يَدْخُلُ	قَتَّاتٌ	+	۳۔ معرب	۱۔ مبنی	بالحرکت (۱) حم	لفظی	غیر تمی	(لَا يَدْخُلُ) حالت رفعی (۱) حم	+
لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا	خبریہ فعلیہ	لَا يَحِلُّ	أَنْ يُرَوِّعَ	۱۔(هُوَ)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت (۱) حم	لفظی	غیر تمی	(لَا يَحِلُّ) حالت رفعی (۱) حم (أَنْ يُرَوِّعَ) حالت نصبی (۱) حم	۱۔(أَنْ) ناصبہ لام جارہ
أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ	انشائیہ فعلیہ	أَنْزِلُوا	أَنْتُمْ	۲۔(أَنْتُمْ، هُمْ)	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت (۱۔۳) حم	لفظی	غیر تمی	+	+
لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ	خبریہ فعلیہ	لَا يَدْخُلُ	مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ	۳۔(مَنْ، ہُ، ہٗ)	۵۔ معرب	۵۔ مبنی	بالحرکت (۱۔۳) حم	لفظی	غیر تمی	(لَا يَدْخُلُ) حالت رفعی (۱) حم (لَا يَأْمَنُ) (۱) قسم	+
لَا تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَأْ بِالسَّلَامِ	انشائیہ فعلیہ	لَا تَأْذَنُوا	أَنْتُمْ	۳۔(أَنْتُمْ، مَنْ، هُوَ)	۳۔ معرب	۷۔ مبنی	بالحرکت (۱) حم	لفظی	غیر تمی	(لَا تَأْذَنُوا) حالت جزمی (۳) حم (لَمْ يَبْدَأْ) حالت جزمی (۱) حم	۳۔(لَا) نہی، (لَمْ) جازمہ، (لام) جارہ، (بَا) جارہ
كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ	انشائیہ فعلیہ	كُنْ	أَنْتَ	۲۔(أَنْتَ، كَ)	۴۔ معرب	۶۔ مبنی	بالحرکت (۱) حم	الدنیا تقدیری، در باقی لفظی	غیر تمی	+	۲۔ فِي جارہ، كَأَنَّ مشبہ بالفعل
لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا	انشائیہ فعلیہ	لَا تَجْلِسُوا	أَنْتُمْ	۳۔(أَنْتُمْ، أَنْتُمْ، هَا)	۳۔ معرب	۸۔ مبنی	بالحرکت (۳) حم	لفظی	غیر تمی	(لَا تَجْلِسُوا) حالت جزمی (۳) حم، (لَا تُصَلُّوا) حالت جزمی (۳) حم	۲۔(لَا لَا) ناہیہ (عَلَى) (إِلَى) جارہ
جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ	انشائیہ فعلیہ	جَاهِدُوا	أَنْتُمْ	۳۔(أَنْتُمْ، كُمْ، كُمْ، كُمْ)	۴۔ معرب	۸۔ مبنی	بالحرف، بالحرکت (۳۔۱۰) حم	لفظی	تمی وغیر تمی	+	۱۔(بَا) جارہ
إِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ	خبریہ اسمیہ	مِنَ الْمَعْرُوفِ باعتبار متعلق	أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ	۲۔(أَنْتَ، كَ)	۵۔ معرب	۲۔ مبنی	بالحرکت، بالحرف (۱۔۶) حم	لفظی	غیر تمی	(أَنْ تَلْقَى) حالت نصبی (۳) حم	۳۔(إِنَّ) مشبہ بالفعل (مِنْ) جارہ، (أَنْ) ناصبہ مصدریہ، (بَا) جارہ

عنوان	خبر و انشاء مع الاقسام	مسند	مسند اليه	تعيين اسم غير متمكن	معرب	مبني	بالحركت، بالحرف	لفظي، تقديري	تمي، غير تمي	تعيين اعراب المضارع مع التفصيل	تعيين حروف عامله
إِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ. وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ	خبريه اسميه	بِرٌّ	الصِّدْقَ	۱.(هُوَ)	۵. معرب	۵. مبني	بالحركت (۱) قسم	لفظي	غير تمي	(يَهْدِي) حالت رفعي . (۲) قسم	۳.(إِنَّ، إِنَّ) مشبه بالفعل (إِلَى) جاره

التمرين:

"إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ،، وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ،، فَإِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ،، لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ،، فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتَّى يَأْذَنَ لِي أَبِي،، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي،، وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ،، أُولَئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا،، وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ،، يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ".

باب دوم در عمل افعال الخ: .... الی قوله فصل بدانکه فاعل اسمیست.

ترجمه:

دوهم باب د افعالو په عمل کي دئ پوه سه! چي يو فعل داسي نسته چي عمل نه کوي (سوا د يو څو افعالو څخه) او افعال د عمل کولو په اعتبار سره پر دوه قسمه دي اول قسم فعل معروف خواه که لازم وي او که متعدي فاعل ته رفع ور کوي لکه: "قَامَ زَيْدٌ" و "ضَرَبَ عَمْرٌو" او شپږو اسمو ته نصب ور کوي اول مفعول مطلق ته لکه: "قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا او ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا" دوهم قسم مفعول فيه ته لکه: "صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ او جَلَسْتُ فَوْقَكَ". دريم قسم مفعول معه ته لکه: "جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ" يعني "مَعَ الْجُبَّاتِ". څلورم قسم مفعول له ته لکه: "قُمْتُ إِكْرَامًا لِزَيْدٍ او ضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا". پنځم قسم حال ته لکه: "جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا". شپږم قسم تميز ته کم وخت چي د فعل نسبت و فاعل ته وسي او په هغه کي ابهام وي لکه: "طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا" لېکن فعل متعدي مفعول به ته نصب ور کوي او دا عمل په فعل لازم کي نسته.

الدرس الرابع والعشرون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

باب دوهم در عمل (۱) افعال: دوهم باب د افعال عامله وو په بیان کي دئ.

د فعل تقسیمات:

په فعل کي څلور تقسیمونه دي.

د فعل اول تقسیم:

افعال په اعتبار د معنٰی سره پر دوه قسمه دي:

۱. افعال تامه.

۲. افعال قاصره.

د افعال تامه تعریف:

فعل تام هغه فعل دئ چي دی د خپل مصدر صفت (۲) خپل فاعل لره ثابته وي لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ".

د افعال قاصره تعریف:

فعل قاصر هغه فعل دئ چي دی د خپل مصدر څخه علاوه خپل فاعل لره (۳) د یو بل صفت ثابتولو دپاره یې وضع راغلې وي، لکه: "كَانَ زَيْدٌ عَالِمًا".

د افعال قاصره اقسام:

افعال قاصره پر دوه قسمه دي:

۱. افعال ناقصه.

۲. افعال مقاربه.

د فعل دوهم تقسیم:

فعل په اعتبار د تصرف او عدم تصرف سره پر دوه قسمه دئ:

۱. فعل متصرف.

---

(۱) افعال ټول عامل دي ماسوا د "قَلَّ، كَثُرَ، طَالَ" څخه چي کم وخت دوی پر "مَا" كافه باندي داخل سي نو دوی بیا ملغی عن العمل وي لکه: "طَالَمَا أَيْقَظْتَ فَتَنَاعَسْتَ" "قَلَّمَا، كَثُرَمَا" داغه رنګه "كَانَ" زائده هم غیر عامل دئ او هغه افعال چي هغه تاکید واقع سوی وي لکه: "قَامَ قَامَ زَيْدٌ" نو په دوی کي اول فعل عامل دئ دوهم غیر عامل دئ. (تثویر)

(۲) دلته "ضَرَبَ" د خپل مصدر وصف چي "ضَرْب" دئ خپل فاعل "زَيْدٌ" لره ثابته وي. (از مرتب عفي عنه)

(۳) دلته "كَانَ" د خپل مصدر چي "كَوْن" دئ د هغه څخه علاوه یو بل صفت چي "علم" دئ هغه خپل فاعل لره ثابته وي. (تثویر)

۲. فعل غير متصرف.

د فعل متصرف تعريف:

فعل متصرف هغه فعل دئ چي د ده څخه صيغې جوړيږي لکه: "ضَرَبَ".

د فعل غير متصرف تعريف:

فعل غير متصرف هغه فعل دئ چي د ده څخه صيغې نه جوړيږي لکه: فعل تعجب "مَاأَضْرَبَهُ".

د فعل دريم تقسيم:

فعل په اعتبار د فاعل سره پر دوه قسمه دئ:

۱. فعل معلوم.

۲. فعل مجهول.

د فعل معلوم تعريف:

فعل (۱) معلوم هغه فعل دئ چي پر نسبت قيامي باندي دلالت کوي او د ده فاعل مذکوره وي لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ".

د فعل مجهول تعريف:

فعل مجهول هغه فعل دئ چي پر نسبت وقوعي باندي دلات کوي او د ده فاعل نه وي ذکر لکه: "ضُرِبَ زَيْدٌ".

دوهمه خبره:

د فعل څلورم تقسيم:

---

(۱) فعل معلوم ته فعل معروف او مبني للفاعل هم وايي: او فعل مجهول ته مبني للمفعول، فعل "مَالَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ" هم ورته وايي. د فعل معلوم او فعل مجهول د معلومولو دپاره مصدر معلوم او مصدر مجهول معلومول ضروري دي مثلا "زَيْد" "عَمْرو" وواهی اوس په دې مثال يو هيئت وصفت چي "ضَارِبِيَتْ" دي "زَيْد" لره ثابت دي او يو هيئت وصفت چي "مَضْرُوْبِيَتْ" دي "عَمرو" لره ثابت دئ د "زَيْد" د صفت بيانولو دپاره "ضَرَبَ" فعل معلوم ذکر کيږي او د "عَمْرو" د صفت بيانولو دپاره "ضُرِبَ" فعل مجهول ذکر کيږي د دواړو دپاره مصدر ثابت دئ لېکن د فاعل دپاره مصدر معلوم او د مفعول دپاره مصدر مجهول ثابت دئ او فعل معلوم د مصدر معلو م څخه جوړيږي چي "قِيَامه" دئ او فعل مجهول د مصدر مجهول څخه جوړيږي چي "وقوع" دہ او د فعل معلوم دپاره فاعل او د فعل مجهول دپاره نائب فاعل راځي.(غرض جامي)

فعل په اعتبار د معنٰی سره بیا پر درې قسمه دئ:

۱. **فعل لازمي (۱).**
۲. **فعل متعدي.**
۳. **واسطه یعني چې نه لازم او نه متعدي وي.**

د فعل لازمي تعریف:

فعل لازمي (۲) هغه فعل دئ چې صرف په فاعل سره تامیږي مفعول ته ضرورت نه لري لکه: "قَامَ زَیْدٌ".

د فعل متعدي تعریف:

فعل (۳) متعدي هغه فعل دئ چې صرف په فاعل سره نه تامیږي بلکه مفعول ته هم ضرورت لري لکه: "ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا".

---

(۱) د فعل لازمي او متعدي په دوو خبرو کې سره اشتراک دئ اوله خبره دا چې دواړه فاعل ته رفع ورکوي دوهمه خبره دا چې دواړه اوو (۷) اسمو ته نصب ورکوي چې هغه مفعول مطلق، مفعول فیه، مفعول له، مفعول معه، حال، تمیز، مستثنٰی دي، او د دوی په مینځ کې اختلاف صرف په یوه خبره کې دئ هغه دا چې فعل متعدي مفعول به ته هم نصب ورکوي او د فعل لازمي دپاره مفعول به نه راځي. (تنویر)

(۲) فعل لازمي په اووه (۷) شیانو سره متعدي کیږي:

۱. "إِمَّا بِنَقْلِهِ إِلَى بَابِ الْإِفْعَالِ مِثْلُ أَكْرَمْتُ الْعَالِمَ".
۲. "وَإِمَّا بِنَقْلِهِ إِلَى بَابِ التَّفْعِيْلِ مِثْلُ عَظَّمْتُ الْأَسَاتِذَة".
۳. "إِمَّا بِنَقْلِهِ إِلَى بَابِ الْمُفَاعَلَه نَحْوَ مَشٰى زَیْدٌ مَاشَیْتُ زَیْدًا".
۴. "إِمَّا بِنَقْلِهِ إِلَى بَابِ الْإِسْتِفْعَالِ نَحْوَ خَرَجَ زَیْدٌ إِسْتَخْرَجْتُ زَیْدًا".
۵. "إِمَّا بِنَقْلِهِ إِلَى بَابِ نَصَرَ لِقَصْدِ الْمُبَالِغَه نَحْوَ كَرُمْتُ الْفَارِسَ وَأَكْرُمُهُ.
۶. وَإِمَّا بِوَاسِطَةِ حَرْفِ الْجَرِّ مِثْلُ أَعْرِضْ عَنِ الرَّذِيْلَةِ وَتَمَسَّكْ بِالْفَضِيْلَةِ".
۷. "بِالتَّضْمِيْنِ وَهُوَ إِشْرَابُ لَفْظٍ مَعْنًى آخَرَ وَإِعْطَائُهُ حُكْمَهُ لِتُؤَدِّيَ مَعْنٰى كَلِمَتَيْنِ وَهُوَ أَنْ يُؤَدِّيَ فِعْلٌ أَوْ مَا فِي مَعْنَاهُ مُؤَدّٰى فِعْلٍ آخَرَ أَوْ مَا فِي مَعْنَاهُ فَيُعْطِي حُكْمَهُ فِي التَّعْدِيَةِ وَاللُّزُوْمِ نَحْوَ لَا تَعْزِمُوْا السَّفَرَ أَيْ لَا تَنْوِيْ السَّفَرَ" (همع الهوامع شرح جمع الجوامع للسیوطي بحواله تنویر).

(۳) فعل متعدي په نون د "انفعال" او په تاء د "تفعل" سره لازمي جوړیږي لکه: د "قَطَعَ" معنی کاټول متعدي معنی یې ده کله چې باب "إِنْفِعَال" "إِنْقَطَعَ" یا باب "تَفَعُّل" "تَقَطَّعَ" ته نقل سي نو بیا د "إِنْقِطَاع" او د "تَقَطُّعْ" معنی کاټېدل لازمي معنی جوړیږي. (حاشیة الصبیان)

واسطه فعل غير لازمي او فعل غير متعدي:
فعل غير لازمي غير متعدي لکه: افعال ناقصه و مقاربه.
د فعل لازمي علامات:
د فعل لازمي د پېژندلو اووه (۷) علامې دي:
۱. هغه فعل چي پر حدوث د ذات دلالت کوي لکه: "حَدَثَ عَمْرٌو. عَرَضَ صَفْرٌ".
۲. چي د صفت حسيه پر حدوث باندي يعني پر هيئت باندي دلالت کوي لکه: "طَالَ اللَّيْلُ. قَصُرَ النَّهَارُ".
۳. چي پر عرض باندي دلالت کوي لکه: "مَرِضَ زَيْدٌ. فَرِحَ بَكْرٌ".
۴. چي د "فَعُلَ" پر وزن وي لکه: "شَرُفَ كَرُمَ".
۵. چي هغه فعل د "اِنْفَعَلَ. تَفَعْلَلَ. اِفْعَلَّ. اِفْعَالَّ. اِفْعَنْلَلَ. اِفْعَلَلَّ"، پر وزن راغلی وي لکه: "اِنْصَرَفَ. تَدَحْرَجَ. اِحْمَرَّ. اِحْمَارَّ. اِحْرَنْجَمَ. اِقْشَعَرَّ".
٦. هغه فعل چي د هغه وصف د "فَعِيْلٌ" پر وزن راغلی وي لکه: د "ذَلَّ" څخه "ذَلِيْلٌ" د "سَمُنَ" څخه "سَمِيْنٌ".
۷. چي د ده څخه فعل مجهول او اسم مفعول نه راځي.
د فعل متعدي علامات:
د فعل متعدي دوې علامې دي:
۱. چي د ده سره د غير مصدر او غير خبر ضمير متصل کېدل صحيح وي لهذا په "اَلْخُرُوْجَ خَرَجَهُ زَيْدٌ" کي "خَرَجَهُ زَيْدٌ" "اَوْ زَيْدٌ كُنْتُهُ" د دې څخه خارج سول ځکه دلته ضمير د مصدر يا د خبر په فعل پوري متصل سوی دئ.
۲. چي د اسم مفعول تام بنا د ده څخه صحيح وي بغير د واسطې د حرف جر.

---

(۱) فعل متعدي په نون د "انفعال" او په تاء د "تفعل" سره لازمي جوړېږي لکه: د "قَطَعَ" معنی کاټول متعدي معنی يې ده لېکن کله چي باب "اِنْفِعَال" "اِنْقَطَعَ" يا باب "تَفَعُّل" "تَقَطَّعَ" ته نقل سي نو بيا د "اِنْقِطَاعٌ" او د "تَقَطُّعٌ" معنی کاټېدل لازمي معنی جوړېږي. (حاشية الصبيان)

فصل بدانکه فاعل اسمیت الخ: .... الی قوله مفعول معه.

ترجمه:

پوه سه! چي فاعل هغه اسم دئ چي دده څخه مخکي فعل وي او د فعل نسبت وده ته سوی وي په طریقه د قیام سره لکه: "زَیْدٌ" په "ضَرَبَ زَیْدٌ" کي او مفعول مطلق، هغه مصدر دئ چي تر فعل وروسته واقع سوی وي او دی په معنیٰ سره د هغه فعل وي لکه: "ضَرْبًا" په "ضَرَبْتُ ضَرْبًا" کي او "قِیَامًا" په "قُمْتُ قِیَامًا" کي او مفعول فیه هغه اسم دئ چي فعل مذکور په ده کي واقع سوی وي او وده ته ظرف هم ویل کیږي او ظرف پر دوه قسمه دئ ظرف زمان لکه: "یَوْمَ" په "صُمْتُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ" کي او ظرف مکان لکه: "عِنْدَ" په "جَلَسْتُ عِنْدَکَ" کي.

دریمه خبره:

د فاعل تعریف:

فاعل هغه اسم دئ چي د ده څخه مخکي فعل یا شبه (¹) فعل وي او د دا فعل یا شبه فعل نسبت و دې اسم (فاعل) ته سوی وي په طریقه د قیامي سره نه د وقوع لکه: "ضَرَبَ زَیْدٌ".

د فاعل شرائط:

د فاعل (²) دپاره څلور شرطونه دي:

۱. اول شرط یې دا دئ: چي فاعل به اسم وي خواه که حقیقةً اسم وي او که تأویلًا اسم وي احترازي مثال لکه: "ضَرَبَ، مِنْ".

(¹) شبهٔ فعل لس (۱۰) شیان واقع کیږي: (۱) مصدر. (۲) اسم فاعل. (۳) اسم مفعول. (۴) صفت مشبه. (۵) اسم تفضیل. (٦) اسم مبالغه. (۷) اسم منسوب. (۸) اسم آله. (۹) اسم ظرف (۱۰) اسم فعل. لېکن مراد اسم فاعل، اسم تفضیل، صفت مشبه، مبالغه، اسم آله، ظرف مستقر یعني جار و مجرور، ظرف زمان و مکان چي کم وخت دوی اعتماد کړی وي، لېکن صیغه د ظرف بالاتفاق غیر عامله ده. (حاشیة الصبیان جلد ۲ صفحه ٦١).

(²) فاعل چونکه عمده دئ بغیر د قائمقام د ده حذف جائز نه دئ خلاف الکسائي لېکن پنځه بابونه د دې قاعدې څخه مستثنی دي: (۱) فعل مجهول. (۲) مصدر لکه: "أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ". علی مذهب الجمهور ځکه د جمهورو علماء په نزد باندي مصدر حامل للضمیر نه وي "لِحُبُوْدِهٖ" لېکن عند السیوطي په داسي مثالو کي مصدر حامل للضمیر وي ځکه چي کله جامد د مشتق په تاویل سره وي بیا دی حامل للضمیر کېدای سي. (۳) فعل چي کله مؤکد بالنون وي لکه: "وَلَا يَصُدَّنَّكَ". (۴) په فعل تعجب کي لکه: "أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ" (۵) مستثنی مفرغ لکه: "مَاقَامَ إِلَّا زَيْدٌ أَیْ مَا قَامَ أَحَدٌ". (حاشیة الصبیان صفحه ٦٢)

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي د ده څخه مخکي به فعل يا شبه فعل وي احترازي مثال لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ".

۳. دریم شرط يې دا دئ: چي د فعل یا د شبه فعل نسبت به و اسم ته سوی وي احترازي مثال لکه: "زَيْدٌ ضَرَبَ عَمْرًوا".

۴. څلورم شرط يې دا دئ: چي د فعل يا شبه فعل نسبت به وده ته پر طريقه د قيام سوی وي احترازي مثال لکه: "ضُرِبَ زَيْدٌ" د اسم حقيقي اتفاقي مثال لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ" د اسم تاويلي مثال لکه: "يَحْسُنُ اَنْ تَجْتَهِدَ اَیْ يَحْسُنُ اِجْتِهَادُکَ".

ضابطه:

فاعل (۱) همېشه مرفوع وي لېکن په څلورو ځايو کي دی لفظا مجروره کيږي:

۱. په اضافت سره کله چي د مصدر اضافت و فاعل ته سوی وي لکه: "وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ".

۲. په "لام" زائده سره لکه: "هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ".

۳. په "مِنْ" زائده سره لکه: "مَا جَاءَنَا مِنْ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ".

۴. په "با" زائده سره لکه: "وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيدًا".

فائده:

په دغه صورتو کي د فاعل دوه اعراب وي لفظا مجروره (۱) او معنا مرفوع وي، ځکه دی فاعل دئ او د ده پر توابع (۲) باندي دوه اعرابه ويل جائز دي.

---

(۱) د فعل فاعل که چيري اسم ظاهر وو نو فعل به د تثنيه او جمع د علامه څخه خالي وي لېکن على الاقل کله کله د تثنيې او جمع علامه ور سره ذکر کيږي لکه: څنګه چي علامه زمخشري رحمة الله عليه په دې آيت کي چي "لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا" "مَنْ" فاعل جوړ کړی دئ د "يَمْلِكُونَ" د پاره او په "يَمْلِكُونَ" کي واو علامه د جمع موجوده او معنٰی په "ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِنْهُمْ" کي د دغه دوه فعلو تنازع ده په اسم ظاهر کي چي "كَثِيرٌ" دئ او په دوی کي علامه د جمع چي واو دئ موجوده ده. لېکن بعض نحاة وروسته اسم ظاهر مبتداء، مؤخره بللې ده او فعل يې خبر مقدم جوړ کړی دئ او بعضي نحاة اسم ظاهر د ضمير څخه بدل جوړوي او دا يې د "اَكَلُونِي الْبَرَاغِيثُ" د لغت څخه بللی دئ. (اشموني)

فائده:

د باء زائده دخول پر فاعل باندي درې قسمه راځي:

۱. اول "وجوبًا" چي د فعل تعجب پر فاعل باندي راځي لکه: "أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ".

۲. "جوازًا کثیرًا" چي د "کَفٰی" پر فاعل باندي راځي لکه: "وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيدًا".

۳. "جوازًا قلیلًا" لکه: په بعضي اشعارو کي چي راځي.

لَمْ يَأْتِيكَ وَالْأَنْبَاءُ تَنْمِيْ .... بِمَا لَاقَتْ لَبُوْنُ بَنِيْ زِيَادِ

څلورمه خبره:

د مفعول مطلق تعریف:

مفعول مطلق هغه مصدر (۳) دئ چي د خپل فعل مذکور په معنٰی سره وي لکه: "ضَرَبْتُ ضَرْبًا، قُمْتُ قِيَامًا".

---

(۱) د اکثره نحاتو په نزد باندي د فاعل اعراب په دې صورت کي محلي دئ او محلي اعراب په جمله او مبني پوري نه وي خاص د محلي او تقدیري اعراب فرق دا دئ چي په محلي کي مانع د وره کلمه سره قائم وي او په تقدیري کي مانع صرف د کلمه په آخري حرف پوري قائم وي. (حاشیة الصبیان)

(۲) د فاعل مجرور په تابع کي دوې وجي ویل جائز دي: (۱) "جر" "حَمْلًا عَلَى اللَّفْظِ". (۲) "رفع" "حَمْلًا عَلَى الْمَحَلِّ" لکه: "مَاجَاءَنِيْ مِنْ رَجُلٍ كَرِيْمٌ وَكَرِيْمٍ" لیکن که چیري معطوف معرفه وه نو بیا رفع متعینه ده لکه: "مَاجَاءَنِيْ مِنْ عَبْدٍ وَلَازَيْدٌ" ځکه فاعل چي کله په "مِنْ" سره مجروره کیږي د هغه دپاره شرط دا دئ: چي نکره به تر نفي یا شبه نفي وروسته وي. (حاشیة الصبیان)

(۳) د مصدر څخه مراد عام دئ خواه که اصالةً مصدر وي او که نیابةً مصدر وي لکه: په "خَيْرَ مَقْدَمٍ" کي په اصل کي "قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ" وو بیا "قُدُوْمًا" موصوف حذف سو "خَيْرَ" اسم تفضیل یې نیابةً پر ځای ودرېدئ او که حقیقتًا یا حکمًا مصدر وي لکه: په "أَهْلَكَ اللّٰهُ وَيْحَهٗ" کي "وَيْحَهٗ" حکمًا مصدر دئ او د فعل مذکور څخه مراد عام دئ خواه که په لفظو کي وي او که مقدر وي لکه په "ضَرْبَ الرِّقَابِ" کي "اِضْرِبُوْا" فعل مقدر دئ.(همع الهوامع و ضوابط نحویه)

د مصدر تعریف: مصدر هغه دئ چي پر حدث باندي دلالت کوي او د فعل حروف لره لفظًا یا تقدیرًا متضمن وي لکه: "عَلِمَ عِلْمًا قَاتَلَ قِتَالًا" یا د حرف محذوف په عوض کي بل حرف راوړل سوی وي لکه د "وَعْدٌ" څخه "عِدَةٌ".

د اسم مصدر تعریف:

د مفعول مطلق شرائط:

د مفعول مطلق د پاره څلور شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې مصدر به وي احترازي مثال لکه: "زَيْدٌ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې فضله غير حال به وي احترازي مثال لکه: "اَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ".

۳. دريم شرط يې دا دئ: چې د ده څخه مخکې به فعل يا شبه فعل مذکور يا محذوف وي احترازي مثال لکه: "رَفْعًا وَجَرًّا".

۴. څلورم شرط يې دا دئ: چې دى به په معنٰى د فعل مذکور سره وي احترازي مثال لکه: "ضَرَبْتُ تَأْدِيْبًا" اتفاقي مثال لکه: "ضَرَبْتُ ضَرْبًا".

د مفعول (۱) مطلق اقسام:

مفعول مطلق په اعتبار د معنٰى سره پر درې قسمه دئ:

۱. تاکيدي.

۲. نوعي.

۳. عددي.

د مفعول مطلق تاکيدي (۱) تعريف:

اسم مصدر هغه دئ چې پر حدث باندې دلالت کوي لېکن د فعل تمام حروف لره لفظا، تقديرا متضمن نه وي او په ده کې حذف بغير عوض وي لکه: "تَوَضَّأَ وُضُوْءً تَكَلَّمَ كَلَامًا".

د مصدر صناعي تعريف: "هُوَ اِسْمٌ تَلْحَقُهُ يَاءُ النِّسْبَةِ مُرْدِفَةً لِلدَّلَالَةِ عَلٰى صِفَةٍ فِيْهِ وَ ذٰلِكَ فِي الْاَسْمَاءِ الْجَامِدَةِ كَالْحَجَرِيَّةِ وَ الْاِنْسَانِيَّةِ. وَ فِي الْاَسْمَاءِ الْمُشْتَقَّةِ كَالعَالِمِيَّةِ. وَ الْفَاعِلِيَّةِ" مصدر ميمي او اسم مفعول او اسم ظرف د غير ثلاثي مجرد څخه په يوه وزن باندې راځي فرق يې په قرينه سره کېږي. (جامع الدروس العربية)

(۱) د مفعول مطلق د اقسامو وجه د حصر: مفعول مطلق د دوو حالو څخه خالي نه دئ يا به د خپله معنى څخه پر زائد معنى دلالت کوي يا به يې نه کوي که يې چيرې پر زائد معنى دلالت نه کاوي نو هغه مفعول مطلق تاکيدي دئ لکه: "ضَرَبْتُ ضَرْبًا" او که يې چيرې پر زائد معنى دلالت کوئ بيا به يا په ده کې د يو شکل و صورت بيان وي هغه مفعول مطلق نوعي دئ لکه: "جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِيْ" يا به د تعداد بيان وي هغه مفعول مطلق عدد دئ لکه: "جَلَسْتُ جَلْسَةً أَوْ جَلْسَتَيْنِ. أَوْ جَلَسَاتٍ". که څه هم په مفعول مطلق کې يوه معنى مصدري يعني حدثي پکښې ده او په فعل کې درې معناګاني دي "حدث، نسبت، زمان" نو مفعول مطلق به څنګه د فعل په معنى سي لېکن دلته د فعل اشتمال پر مفعول مطلق باندې اشتمال د کل پر جزء باندې دئ. (تنوير)

مفعول مطلق تاکیدي هغه مصدر دئ چي د فعل د معنیٰ څخه مستفاد (راخستل سوی) وي او د فعل د مدلولاتو (معناګانو) څخه د یو مدلول (معنی) د تاکید دپاره راغلی وي لکه: "ضَرَبْتُ ضَرْبًا".

د مفعول مطلق نوعي (۲) تعریف:

مفعول مطلق نوعي هغه مصدر دئ چي د فعل مذکور پر معنیٰ باندي د دلالت کولو سره سره د فعل د یو نوع تعین هم کوي لکه: "جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِيْ" (ما یو نوع ناسته وکړه د قاري د ناستي په شان) ضَرَبْتُ ضَرْبَ الْاَمِيْرِ" (ما یو نوع وهل وکړه د امیر د وهلو په شان).

د مفعول مطلق عددي تعریف:

مفعول مطلق عددي هغه مصدر دئ چي د فعل مذکور پر معنیٰ د دلالت کولو سره سره پر وحدت او پر کثرت یعني د فعل پر عدد باندي هم دلالت کوي لکه: "ضَرَبْتُ ضَرْبَتَيْنِ" (ما دوه واره وهل وکړه) "جَلَسْتُ جَلْسَةً اَوْ جَلْسَتَيْنِ اَوْ جَلْسَاتٌ" (ما یوه یا دوې یا درې ناستي وکړې).

---

(۱) د تاکید څخه دلته تاکید اصطلاحي یعني تاکید لفظي و معنوي نه دي مراد بلکه دلته د تاکید څخه مراد تاکید لغوي یعني د فعل د مدلولاتو څخه د یو مدلول تاکید کول دغه رنګه د مصدر تاکیدي څخه بالاتفاق تثنیه او جمع نسي راتلای او د عددي څخه بالاتفاق راتلای سي لکه: "ضَرَبْتُ ضَرْبَتَيْنِ، ضَرْبَاتٌ" او په نوعي کي اختلاف دئ مشهوره یې جواز دئ لېکن عند سبویه ناجائز دئ. (شرح ابن عقیل جلد ۲ صفحه ۱۷۵)

ضابطه: که چیري قرینه موجوده وه او مفعول مطلق تاکیدي هم نه وو نو بیا د ده فعل کله جوازًا حذف کیږي لکه: په "خَيْرَ مَقْدَمٍ" کي په اصل کي "قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ" وو بیا د قرینه حالیه په وجه چي حالت د مسافر دئ "قَدِمْتَ" فعل حذف سو او کله فعل وجوبًا سماعًا حذف کیږي لکه: "سَقْيًا: اَيْ سَقَاكَ اللهُ سَقْيًا" او داغه رنګه "شُكْرًا، حَمْدًا، رَعْيًا". (جامع الدروس العربیة)

(۲) د نوع دپاره د "فِعْلَةٌ" وزن راځي لکه: "صِبْغَةٌ" (یو خاص رنګ) "سِيْرَةٌ" (یو خاص طریقه) او د "فَعْلَةٌ" وزن د عدد دپاره راځي یعني (یو وار) لکه: "جَلْسَةٌ".

شعر: "اَلْمَفْعَلُ لِلْمَوْضِعِ وَالْمِفْعَلُ لِلْآلَةِ.................. وَالْفَعْلَةُ لِلْمَرَّةِ وَالْفِعْلَةُ لِلْحَالَةِ". (الهامیه)

فائده:

د مفعول مطلق او د فعل مذکور په مینځ کي په معنیٰ کي اتحاد (یو رنګه کېدل) ضروري دئ لېکن په الفاظو کي اتحاد نه دئ ضروري بلکه تغایر (فرق یو رنګه نه کېدل) هم کېدای سي او تغایر په درې شکلو سره راځي:

۱. کله کله تغایر صرف په باب کي وي لکه: "اَنْبَتَ اللّٰهُ نَبَاتًا وَ تَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا" (اَنْبَتَ. نَبَتَ. تَبَتَّلَ. تَبْتِيْلًا. مِنْ بَتَّلَ).

۲. کله تغایر صرف په ماده کي وي لکه: "جَلَسْتُ قُعُوْدًا" (جَلَسَ، قَعَدَ).

۳. کله تغایر چي باب او ماده دواړو کي وي لکه: "وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً" (اَوْجَسَ. اِفْعَالٌ. مِنْ وَجَسَ. وَ خِيْفَةٌ مُجَرَّدٌ مِنْ خَانَ).

پنځمه خبره:

مفعول فیه:

د مفعول فیه تعریف:

مفعول فیه هغه اسم زمان یا مکان دئ چي دی منصوبه وي په تقدیر د "فِيْ" سره او په ده کي فعل مذکور واقع سوی وي لکه: "صُمْتُ دَهْرًا" (ما په زمانه کي روژه و نیول) "سَافَرْتُ شَهْرًا" (ما په میاشته کي سفر و کړئ) د ده دوهم نوم ظرف [1] دئ.

---

[1] نائب الظرف شپږ(٦) شیان دي چي مفعول فیه جوړیږي او منصوبه کیږي:

۱. هغه اسم چي پر کلیت یا پر بعضیت باندي دلالت کوي او و ظرف ته مضاف وي لکه: "مَشَيْتُ كُلَّ النَّهَارِ بَعْضَهَا. جَمِيْعَهَا. نِصْفَهَا. رُبْعَهَا".

۲. کله صفت د ظرف نائب وي لکه: "وَقَفْتُ طَوِيْلًا مِنَ الْوَقْتِ اَیْ زَمَانًا طَوِيْلًا مِنْهُ".

۳. کله اسم اشاره وي لکه: "مَشَيْتُ هٰذَا الْيَوْمَ مَشْيًا مُتْعِبًا".

۴. کله عدد وي چي ممیز وي په ظرف، یا په مضاف الیه سره لکه: "سَافَرْتُ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا وَلَزِمْتُ الدَّارَ سِتَّةَ اَيَّامٍ".

۵. هغه مصدر چي متضمن وي معنی د ظرف لره هغه په دې شکل چي ظرف مضاف وي و مصدر ته بیا ظرف مضاف حذف سوی وي، او مصدر یې په شکل د (مضاف الیه) کي د ده پر ځای درېدلی وي لکه: "سَافَرْتُ وَقْتَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ".

د ظرف اقسام:

ظرف پر دوه قسمه دئ:

۱. ظرف زمان.
۲. ظرف مکان.

بيا هر يو پر دوه قسمه دئ:

۱. محدود.
۲. مبهم.

د ظرف زمان محدود تعريف:

ظرف زمان محدود هغه ظرف دئ چي د ده دپاره يو حد (اندازه) متعين وي لکه: "يَوْمٌ" (ورځ) "وَلَيْلٌ" (شپه).

د ظرف زمان مبهم تعريف:

ظرف زمان مبهم هغه ظرف دئ چي د ده دپاره يو حد (اندازه) نه وي متعين لکه: "حِيْنٌ، دَهْرٌ" (زمانه).

د ظرف زمان حکم:

ظرف زمان خواه که مبهم وي او که محدود وي همېشه منصوب به وي په تقدير د "فِيْ" سره په دې شرط چي دی به متضمن وي معنٰی د "فِيْ" لره لکه: "سَافَرْتُ شَهْرًا، صُمْتُ دَهْرًا".

د ظرف مکان محدود تعزيف:

ظرف مکان محدود هغه ظرف دئ چي د ده دپاره يو حد (اندازه) متعين وي لکه: "دَارٌ، سُوْقٌ، مَسْجِدٌ، بَيْتٌ".

د ظرف (۱) مکان محدود حکم:

---

۶. هغه الفاظ مسموعه چي په هغو کي توسع وي او دوی متضمن وي معنی د "فِيْ" لره لکه: "أَحَقًّا أَنَّکَ ذَاهِبٌ" په اصل کي "أَفِيْ حَقٍّ" دئ. (جامع الدروس العربية جلد ۳ صفحه ۴۱)

(۱) د ظرف مکان سره کله تاء د تانيث ملحق کيږي لکه: "مَذَلَّةٌ. مِغْدَةٌ" او کله د کثرت شی في المکان باندي د دلالت کولو دپاره د "مَفْعَلَةٌ" پر وزن راځي لکه: "مَسْبَعَةٌ. مَاسَدَةٌ. مَقْبَرَةٌ". (تنوير)

ظرف مکان محدود به مجروره وي په ظهور د حرف جر سره لکه: "جَلَسْتُ فِي الْمَسْجِدِ".

شپږمه خبره:

د ظرف مکان مبهم تعریف:

ظرف مکان مبهم هغه ظرف دئ چي د ده دپاره يو حد او اندازه معلومه نه وي لکه: "فَوْقُ، قُدَّامُ".

د ظرف مکان (۱) مبهم حکم:

ظرف مکان مبهم په دوو صورتو کي منصوب وي:

۱. ظرف مکان مبهم يا د ده مشابه چي کله متضمن وي معنٰی د "فِيْ" لره نو دی منصوبه وي په تقدير د "فِيْ" سره لکه: "وَقَفْتُ اَمَامَ الْمِنْبَرِ".
۲. ظرف مکان مشتق خواه که مبهم وي او که محدود په دې شرط چي دی به د فعل مذکور څخه وي لکه: "جَلَسْتُ مَجْلَسَ الْقَائِمِ" ورنه بيا دی مجروره وي لکه: "سِرْتُ فِي مَذْهَبِکَ".

او ظرف مکان محدود غير مشتق همېشه مجروره په ظهور د "فِيْ" سره وي. سوا د "نَزَلَ، دَخَلَ، سَکَنَ" څخه لکه: "دَخَلْتُ الْمَدِيْنَةَ".

د ظرف دوهم تقسيم:

ظرف د دوهم تقسيم په اعتبار سره پر دوه قسمه دئ:

۱. ظرف متصرف.
۲. ظرف غير متصرف.

---

(۱) ظرف زمان مبهم د فعل جزء دئ او قاعده دا ده چي کله د فعل جزء جلا عليحده ذکر سي نو دی بلا واسطه حرف جر منصوبه وي لکه: مفعول مطلق. نو ځکه ظرف زمان [illegible] منصوب وي په تقدير د "فِيْ" سره او ظرف زمان محدود پر زمان مبهم باندي حمل دئ ځکه دواړه په زمانيت کي سره شريکان دي او ظرف مکان مبهم هم پر زمان مبهم باندي حمل دئ ځکه د دوی اشتراک په ابهام کي دئ لېکن ظرف مکان مجرور د زمان مبهم سره نه په ابهام کي او نه په محدوديت کي مشابهت لري نو ځکه دی تقدير د "فِيْ" نه قبلوي بلکه دی به مجروره وي په ظهور د "فِيْ" سره. (شرح جامي)

ظرف متصرف "مَااُسْتُعْمِلَ ظَرْفًا وَ غَيْرَ ظَرْفٍ" چي دَى ظرف و غير ظرف دواړه واقع کيږي لکه: "يَوْمٌ وَ مَكَانٌ" کله: مبتداء و خبر وي لکه: "اَلْيَوْمُ يَوْمٌ مُبَارَكٌ" کله فاعل وي لکه: "أَعْجَبَنِي الْيَوْمُ" کله مفعول وي لکه: "سِرْتُ نِصْفَ النَّهَارِ".

ظرف غير متصرف پر دوه قسمه دئ:

۱. "مَالَا يَسْتَعْمِلُ غَيْرَ ظَرْفٍ" يعني لازم ظرفيت وي لکه: "قَطُّ، عَوْضُ، فَوْقُ" لکه: "جَلَسْتُ فَوْقَ الدَّارِ".

۲. "مَايَسْتَعْمِلُ غَيْرَ ظَرْفٍ بِدُخُوْلِ الْجَارِّ عَلَيْهِ" يعني د حروف جاره په داخليدلو سره د ده ظرفيت ختم کيږي لکه: "قَبْلُ، بَعْدُ، لَدُنْ، عِنْدَ" وغيره لکه: "خَرَجْتُ مِنْ عِنْدِ زَيْدٍ".

قوله مفعول معه الخ.......................... الى قوله مفعول له.

ترجمه:

مفعول معه هغه اسم دئ چي دى تر "واو" بمعنى "مَعَ" وروسته ذکر کيږي لکه: "جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ اَیْ مَعَ الْجُبَّاتِ".

اوومه خبره:

د مفعول معه تعريف (۱):

مفعول معه هغه اسم فضله دئ چي تر "واو" بمعنى "مَعَ" څخه وروسته راځي او د فعل د معمول سره مُصَاحِبْ (ملگرى) وي لکه: "جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ".

د مفعول معه شرائط:

د مفعول معه درې شرطونه دي:

(۱) د مفعول معه عامل عند الجمهور فعل يا شبه فعل دئ او د شيخ عبد القاهر جرجاني په نزد باندي "وَاوْ" دئ او مفعول معه پر خپل عامل او مُصَاحِبْ باندي نسبي مقدم کيداى. (اللباب في علل البناء و الاعراب العکبري جلد ۱ صفحه ۱۰۳)

۱. اول شرط یې دا دئ: چې دی به اسم وي احترازي مثال لکه: "لَاتَأْكُلِ السَّمَكَ وَ تَشْرَبَ اللَّبَنَ".

۲. دوهم شرط یې دا دئ: چې فضله به وي احترازي مثال لکه: "اِشْتَرَكَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو".

۳. دریم شرط یې دا دئ: چې تر واو (۱) وروسته به وي احترازي مثال لکه: "جِئْتُكَ مَعَ عَمْرٍ".

۴. څلورم شرط یې دا دئ: چې "واو" به په معنٰی د "مَعَ" سره وي احترازي مثال لکه: "جَائَنِي زَيْدٌ وَ عَمْرٌ قَبْلَهُ".

۵. پنځم شرط یې دا دئ: چې تر جمله وروسته به وي احترازي مثال لکه: "كُلُّ رَجُلٍ وَضَيْعَتُهُ اي: مُقْتَرِنَانِ".

٦. شپږم شرط یې دا دئ: چې جمله به فعل یا شبه فعل وي احترازي مثال لکه: "هٰذَا لَكَ وَ اَبَاكَ". اتفاقي مثال لکه: "جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ".

---

(۱) تر "واو" وروسته اسم په څو شکلو باندي راځي:

۱. اول شکل: که چیري د دا اسم د ماقبل سره په حکم کي شریک کول صحیح نه وه یعني عطف صحیح نه وو، نو بیا نصب على المعية واجب دي. لکه: "فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ".

۲. دوهم شکل: چې شریک کول یې صحیح وي لېکن مانع عن العطف موجود وي بیا هم نصب على المعية واجب دئ لکه: "جِئْتُ وَ سَعِيْدًا".

۳. دریم شکل: چې شریک کول هم صحیح وي او د عطف څخه مانع هم نه وي موجود لېکن د متکلم مقصود معیت وي بیا هم نصب على المعيت واجب دئ لکه: "لَاتُسَافِرْ اَنْتَ وَعَدُوَّكَ".

۴. څلورم شکل: چې شریک کول واجب وي نو په دې صورت کي عطف واجب دئ لکه: "تُصَالِحُ سَعِيْدٌ وَ خَالِدٌ".

۵. پنځم شکل: او که چیري شرکت جائز وو بلا مانع نو بیا نصب على المعية او عطف دواړه جائز دي لکه: "سَافَرْتُ اَنَا وَ خَلِيْلٌ". (شرح ابن عقیل)

جملے:

عنوان	خبر و انشاء مع الاقسام	مسند	مسند الیہ	تعیین اسم ضمیر مستکن	معرب	مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی، تقدیری	تسمی، غیر تسمی	تعیین اعراب المحل مع التفصیل	تعیین منصوبات
اُذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا	انشائیہ فعلیہ	اُذْكُرُوْا	اَنْتُمْ	۱۔(اَنْتُمْ)	۳۔ معرب	۲۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۲۔ مفعول بہ، مفعول مطلق
اُذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ	انشائیہ فعلیہ	اُذْكُرُوْا	اَنْتُمْ	۲۔(اَنْتُمْ، كُمْ)	۲۔ معرب	۴۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۱۔ مفعول بہ
سَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا	انشائیہ فعلیہ	سَبِّحُوْا	اَنْتُمْ	۲۔(اَنْتُمْ، هُ)	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۲۔ مفعول فیہ، مفعول بہ
صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا	انشائیہ فعلیہ	صَلُّوْا	اَنْتُمْ	۳۔(اَنْتُمْ، اَنْتُمْ، ہ)	۱۔ معرب	۷۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۱۔ مفعول مطلق
اِتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ	انشائیہ فعلیہ	اِتَّقُوْا	اَنْتُمْ	۲۔(اَنْتُمْ، ہ)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۲۔ مفعول مطلق
وَاعْلَمُوْا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ	انشائیہ فعلیہ	اِعْلَمُوْا	اَنْتُمْ	۲۔(اَنْتُمْ، كُمْ)	۳۔ معرب	۷۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱)(۲) حم	غیر تسمی	+	۱۔ مفعول بہ
فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا	انشائیہ فعلیہ	فَاتَّبِعُوْا	اَنْتُمْ	۱۔(اَنْتُمْ)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۵۔۱) حم	تسمی و غیر تسمی	+	۱۔ مفعول بہ ۱۔ حال
وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى	انشائیہ فعلیہ	لَا تَبَرَّجْنَ	اَنْتُنَّ	۱۔(اَنْتُنَّ)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم و تقدیری (۱۳) حم	غیر تسمی	+	۱۔ مفعول مطلق
يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا	خبریہ فعلیہ	يَدْخُلُوْنَ	هُمْ	۱۔(هُمْ)	۴۔ معرب	۲۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۳۔۱) حم	غیر تسمی	(يَدْخُلُوْنَ) حالت رفعی حم (۳)	۱۔ حال
اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا	خبریہ اسمیہ	رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا	ی	۲۔(تُ، ی)	۱۔ معرب	۶۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۱۔ مفعول بہ
اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا	انشائیہ فعلیہ	اَرْسِلْ	اَنْتَ	۳۔(اَنْتَ، هُ، نَا)	۲۔ معرب	۵۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۲۔ مفعول فیہ ۱۔ مفعول بہ
وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا	خبریہ فعلیہ	سِيْقَ	الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا	۳۔(الَّذِيْنَ، هُمْ، هُمْ)	۳۔ معرب	۷۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) حم	غیر تسمی	+	۱۔ حال، مفعول بہ

التمرين:

”لَا تَقْتُلُوْا يُوْسُفَ،، فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا،، وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيْفًا،، فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ،، وَجَاءُوْا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُوْنَ،، يَجْعَلُوْنَ أَصَابِعَهُمْ فِيْ آذَانِهِمْ مِنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ،، وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيْلًا،، وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً إِلٰى عُنُقِكَ،، وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ،، وَجَاهِدُوْا فِي اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ“.

قوله مفعول له الخ.......................... الیٰ قوله مفعول به.

ترجمه:

مفعول له هغه اسم دئ چي دی دلالت کوي پر داسي شي باندي چي د فعل مذکور د صادرېدلو سبب جوړ سوی وي لکه: "إِكْرَامًا" په "قُمْتُ إِكْرَامًا لِزَيْدٍ" کي.

الدرس الخامس و العشرون:

د نن د سبقه خلاصه شپږ (٦) خبري دي:

اوله خبره:

د مفعول له تعریف:

مفعول له هغه مصدر دئ چي د فعل مذکور دپاره علت واقع سوی وي په دې شرط چي د دوی دواړو زمانه او فاعل به یو وي، لکه: "ضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا".

د مفعول له (١) شرائط:

د مفعول له دپاره پنځه شرطونه دي:

١. اول شرط يې دا دئ: چي مصدر به وي احترازي مثال لکه: "جِئْتُكَ لِلسِّمْنِ وَالْعَسَلِ، وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ".

٢. دوهم شرط يې دا دئ: چي دی به علت وي د حصول د فعل دپاره احترازي مثال لکه: "أَحْسَنْتُ إِحْسَانًا إِلَيْكَ، عَظَّمْتُ الْعُلَمَاءَ تَعْظِيمًا".

٣. دریم شرط يې دا دئ: چي د ده او د فعل زمانه به یوه وي احترازي مثال لکه: "سَافَرْتُ لِلْعِلْمِ".

---

(١) د مفعول له په بحث کي ابن هشام لیکلي دي چي حروف اووه (٧) دي: "بَا، لَامْ، عَنْ، فِيْ، حَتّٰى، كَيْ، كَافْ" لیکن "حَتّٰى وَكَيْ وَكَافْ" پر مفعول له باندي نسي داخلېدای او مفعول له پر خپل عامل باندي مقدم کېدای سي. (شرح الهمع).

۴. څلورم شرط يې دا دئ: د دواړو فاعل به يو وي احترازي مثال لکه: "جِئْتُکَ لِتَعْظِيْمِکَ الْعِلْمَ".

۵. پنځم شرط يې دا دئ: مصدر به قلبي به وي احترازي مثال لکه: "جِئْتُ لِلْقِرَاءَةِ".

اتفاقي مثال "ضَرَبْتُهُ تَأْدِيْبًا, وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ".

مفعول به الخ: .... الى قوله حال.

ترجمه:

او مفعول به هغه اسم دئ چي فعل د فاعل پر ده واقع سوى وي لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا".
پوه سه! چي دا منصوبات د جمله در تمامېدلو وروسته راځي ځکه جمله په فعل و فاعل سره پوره کيږي نو د دې وجي ويل کيږي چي "اَلْمَنْصُوْبُ فُضْلَةٌ".

دوهمه خبره:

د مفعول به تعريف:
مفعول به هغه اسم دئ چي پر ده باندي فعل د فاعل (۱) واقع سوى وي لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا".

فائده:

کله کله د مفعول به فعل حذف کيږي جوازًا او کله وجوبًا حذف کيږي.
حذف جوازي:
جذف جوازي هلته وي چي چيري قرينه موجوده وي قرينه پر دوه قسمه ده:

۱. حاليه.
۲. مقاليه.

قرينه حاليه:

---

(۱) د همېشه دپاره دا خبره ياد ساتل ضروري دي: چي د فعل د وقوع څخه مراد د فعل د فاعل سره د تعلق وروسته د فعل د يو اسم سره يو داسي خاص تعلق وي چي د فعل وجود د معنى په اعتبار سره د هغه اسم محتاجه وي لکه: څنګه چي و فاعل ته محتاجه وي. (تنوير)

قرينه حاليه هغه قرينه ده چي د يو چا د حالت څخه معلوميږي لکه: "مَكَّةَ يَا شَيْخُ اَیْ اَتُرِيْدُ مَكَّةَ".

قرينه مقاليه:

قرينه مقاليه هغه قرينه ده چي قول يعني سوال د سائل پر هغه دلالت کوي لکه: د "مَنْ ضَرَبْتَ" په جواب کي "زَيْدًا" ويل "اَیْ ضَرَبْتُ زَيْدًا".

دريمه خبره:

حذف وجوبي:

په شپږو (٦) ځايو کي فعل وجوبًا حذف کيږي:

١. اول ځای: په تحذير کي لکه: "اِيَّاکَ وَالْاَسَدَ اَیْ اِتَّقِ نَفْسَکَ مِنَ الْاَسَدِ وَالْاَسَدَ مِنْ نَفْسِکَ".

٢. دوهم ځای: په منادی (١) کي لکه "يَازَيْدُ اَیْ اَدْعُوْزَيْدًا".

٣. دريم ځای: په اِغراء کي يعني مخاطب ته د يو ښه کار تنبيه کول چي مخاطب هغه کار لازم ونيسي لکه: "اَخَاکَ اَخَاکَ اَیْ اَلْزِمْ اَخَاکَ".

۴. څلورم ځای: په منصوب (٢) على سبيل التخصيص کي يعني د "اَخُصُّ" فعل محذوف دپاره مفعول به وي.

او دا بيا پر څلور قسمه راځي:

١. اول قسم: کله چي د ضمير متکلم څخه وروسته يو اسم معرف باللام راسي لکه: "نَحْنُ الْعَرَبَ اَکْرَمُنَا النَّاسَ اَیْ نَحْنُ اَخُصُّ الْعَرَبَ".

٢. دوهم قسم: کله چي د ضمير متکلم څخه وروسته يو اسم مضاف و معرف باللام ته وي لکه: "نَحْنُ مَعَاشَرَ الْاَنْبِيَاءِ اَیْ نَحْنُ اَخُصُّ مَعَاشَرَ الْاَنْبِيَاءِ".

٣. دريم قسم: کله چي د ضمير متکلم څخه وروسته "اَیُّ" راسي لکه: "نَحْنُ اَفْعَلُ کَذَا اَيُّهَا الرَّجُلُ اَیْ نَحْنُ اَفْعَلُ کَذَا اَخُصُّ الرَّجُلَ".

---

(١) منادی هم مفعول به ده خواه که لفظًا منصوب به وي لکه: "يَا عَبْدَاللهِ" او که محلاً منصوب به وي لکه: "يَازَيْدُ".

(٢) منصوب على سبيل التخصيص: "نَصْبُ الْاِسْمِ بِفِعْلٍ مَحْذُوْفٍ تَقْدِيْرُهُ اَخُصُّ اَوْ اَعْنِيْ". (شرح جامي)

۴. څلورم قسم: کله د ضمیر مخاطب څخه وروسته یو اسم معرف باللام راسي لکه: "لَکَ اللهَ نَرْجُو الْفَضْلَ اَیْ اَخُصُّ اللهَ نَرْجُو الْفَضْلَ".

۵. پنځم ځای: په "مَا اُضْمِرَ (۱) عَامِلُهُ عَلٰی شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ" کي د مفعول به فعل وجوبًا حذف کیږي لکه: "زَيْدًا ضَرَبْتُهُ اَیْ ضَرَبْتُ زَيْدًا ضَرَبْتُهُ".

٦. شپږم ځای: په منصوب (۲) "عَلٰی سَبِيْلِ الْمَدْحِ وَالذَّمِّ وَالتَّرَحُّمِ" کي حذف کیږي لکه: "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، اَیْ اَمْدَحُ الرَّحْمٰنَ الرَّحِيْمَ. اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ: اَیْ اَذُمُّ الشَّيْطٰنَ الرَّجِيْمَ. مَرَرْتُ بِزَيْدِنِ الْمِسْكِيْنُ اَیْ اَرْحَمُ زَيْدَنِ الْمِسْكِيْنَ".

څلورمه خبره:

د مفعول به تقديم پر فعل او فاعل باندي وجوبًا:

مفعول به په اتو (۸) ځايو کي پر فعل او فاعل دواړو باندي وجوبًا مقدم کیږي:

۱. مفعول به چي کله متضمن وي معنٰی د شرط لره لکه: "مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ".

۲. مفعول به چي کله مضاف وي و شرط ته لکه: "غُلَامَ مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ".

۳. چي کله متضمن وي معنٰی د استفهام لره لکه: "مَنْ رَاَيْتَ".

۴. چي کله د استفهام و طرف ته مضاف وي لکه: "غُلَامَ مَنْ رَاَيْتَ".

۵. کله چي د مفعول به ناصب جواب د "اَمَّا" وي لکه: "فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ".

---

(۱) "مَا اُضْمِرَ عَامِلُهُ عَلٰی شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ" "وَهُوَ اِسْمٌ بَعْدَهُ فِعْلٌ اَوْ شِبْهُهُ مُشْتَغِلٌ عنه بِضَمِيْرِهٖ اَوْ مُتَعَلِّقِهٖ لَوْ سُلِّطَ عَلَيْهِ هُوَ اَوْ مُنَاسِبُهُ لَنَصَبَهُ" هغه اسم چي د ده څخه وروسته فعل يا شبه فعل راغلی وي او دا فعل يا شبه فعل د دغه اسم په ضمير يا متعلق سره مشغوله وي که چيري دغه فعل يا د ده مناسب پر دغه اسم باندي مسلط سي نو ودا اسم ته نصب ور کوي لکه: "اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ اَیْ خَلَقْنَا كُلَّ شَيْئٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ، وَاِنْ اَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ، اَیْ وَاِنِ اسْتَجَارَكَ اَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ" دغه وروسته فعل يې تفسير کوي. (کافية)

(۲) منصوب علی سبيل المدح و الذم و الترحم هغه ته ويل کيږي چي يو اسم مجرور د جر څخه نقل کول مرفوع يا منصوب ويل که چيري مرفوع وويل سي نو بيا به مبتداء محذوفه وروسته راوزي او که چيري منصوب وويل سي نو بيا د مدح په صورت کي "اَمْدَحُ" او د ذم په صورت کي "اَذُمُّ" او د ترحم په صورت کي "اَرْحَمُ" ورسره را وزي.

۶. کله چي د مفعول به ناصب فعل امر مقرون بالفاء وي لکه: "زَيۡدًا فَاضۡرِبۡ".
۷. کله چي مفعول به د "کَمۡ" یا "کَأَيِّنۡ" خبریه معمول وي لکه: "کَمۡ غُلَامٍ مَلَکۡتُ، کَأَيِّنۡ مِنۡ عِلۡمٍ حَوَيۡتُ".
۸. یا و "کَمۡ" خبریه ته مضاف وي لکه: "ذَنۡبَ کَمۡ مُذۡنِبٍ غَفَرۡتُ".

پنځمه خبره:

د مفعول به مؤخره کول وجوبًا:

تقریبًا په نهٔ (۹) ځایو کي مفعول به تر فعل مؤخره کیږي وجوبًا:

۱. کله چي مفعول به مُصَدَّرَهٗ په "اَنَّ" مشدده یا مخففه سره واقع سي لکه: "وَاعۡلَمۡ اَنَّ اللهَ عَزِيۡزٌ حَکِيۡمٌ".
۲. کله چي مفعول به د فعل تعجب سره راسي لکه: "مَا اَحۡسَنَ زَيۡدًا".
۳. کله چي د مفعول به فعل صله وي د حرف لکه: "مِنَ الۡبِرِّ اَنۡ تَکُفَّ لِسَانَکَ".
۴. کله چي د مفعول به فعل موصول وي په حرف جازم سره لکه: "لَمۡ اَضۡرِبۡ زَيۡدًا" لیکن په دې صورت کي د مفعول به مقدم کول هم صحیح دئ لکه: "زَيۡدًا لَمۡ اَضۡرِبۡ".
۵. کله چي د مفعول به پر فعل باندي لام ابتداء داخل سوی وي لکه: "لَيَضۡرِبُ زَيۡدٌ عَمۡرًا".
۶. کله چي لام قسم پر داخل سوی وي لکه: "وَاللهِ لَاَضۡرِبَنَّ زَيۡدًا".
۷. کله چي "قَدۡ" پر داخل سوی وي لکه: "قَدۡ ضَرَبۡتُ زَيۡدًا".
۸. کله چي "سَوۡفَ" پر داخل سوی وي لکه: "سَوۡفَ اَضۡرِبُ زَيۡدًا".
۹. کله چي فعل مؤکد بانون وي لکه: "لَيَضۡرِبَنَّ زَيۡدًا".

شپږمه خبره:

په شپږو (۶) ځایو کي د مفعول به حذف کول ناجائز دي:

۱. د نائب فاعل په صورت کي د ده حذف کول جائز نه دي لکه: "ضُرِبَ زَيۡدٌ".

۲. کله چي مفعول به مُتَعَجَّبٌ مِنْهُ وي لکه: "مَا أَحْسَنَ زَيْدًا".

۳. کله چي مفعول به په جواب کي واقع سي لکه: د "مَنْ رَأَيْتَ" په جواب کي "زَيْدًا" ویل.

۴. کله چي مفعول به په حصر کي واقع سي لکه: "مَا ضَرَبْتُ إِلَّا زَيْدًا".

۵. کله چي د ده عامل محذوف وي لکه: "خَيْرًا لَنَا وَشَرًّا لِعَدُوِّنَا".

۶. کله چي دی ضمیر عائد د مفعول وي لکه: "زَيْدًا ضَرَبْتُهُ".

جملې:

عنوان	خبریه انشاء مع الاقسام	مسند	مسند الیه	تعیین اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت بالحرف	لفظی تقدیری	تمی غیر تمی	تعیین اعراب مضارع	تعیین مفعولات
فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ	انشائیه فعلیه	فَلْيَعْبُدُوا	هُمْ	۲.(هَذَا، هُمْ)	۳.معرب	۳.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمی	(يَعْبُدُوا) حالت جزمی (۳) قسم	مفعول به
فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ	انشائیه فعلیه	تَذْهَبُونَ	أَنْتُمْ	۱.(أَنْتُمْ)	۱.معرب	۳.مبنی	+	+	+	(تَذْهَبُونَ) حالت رفعی (۳) قسم	مفعول فیه
اِخْتَلَفَ التَّاجِرُ وَوَكِيلَهُ	خبریه فعلیه	اِخْتَلَفَ	التَّاجِرُ	۱.(هُ)	۲.معرب	۳.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمی	+	مفعول معه
فَرَرْتُ مِنَ الْأَسَدِ خَوْفًا	خبریه فعلیه	فَرَرَ	تُ	۱.(تُ)	۲.معرب	۳.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمی	+	مفعول له
وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِلْكَافِرِينَ عَرْضًا	خبریه فعلیه	عَرَضَ	نَا	۱.(نَا)	۳.معرب	۶.مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی (۱-۵-۱۰) قسم	تمی، غیر تمی	+	۲.مفعول فیه مفعول مطلق
فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ	انشائیه فعلیه	خُذْ	أَنْتَ	۳.(أَنْتَ، نَا، هُ)	۲.معرب	۵.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تمی	+	۲.مفعول به مفعول فیه
وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ	انشائیه فعلیه	وَلَا تَقْتُلُوا	أَنْتُمْ	۲.(أَنْتُمْ، كُمْ)	۳.معرب	۳.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱-۳) قسم	غیر تمی	(وَلَا تَقْتُلُوا) حالت جزمی (۳)	مفعول به، مفعول له
يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ	خبریه فعلیه	يَنْظُرُ	الْمَرْءُ	۴.(مَا، هِيَ، هُ، يَوْمَ)	۳.معرب	۴.مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی (۱-۷)	تمی، غیر تمی	(يَنْظُرُ) حالت رفعی (۱) قسم	مفعول فیه، مفعول به
يَجْعَلُونَ أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ مِنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ	خبریه فعلیه	يَجْعَلُونَ	هُمْ	۳.(هُمْ، هُمْ، هُمْ)	۶.معرب	۵.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱-۳) قسم	غیر تمی	(يَجْعَلُونَ) حالت رفعی، (۳) قسم	مفعول به، مفعول له
بَاعَ أَحْمَدُ عَقَارَهُ وَمَنْزِلَهُ	خبریه فعلیه	بَاعَ	أَحْمَدُ	۲.(هُ، هُ)	۳.معرب	۴.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱-۵) قسم	تمی، غیر تمی	+	مفعول به، مفعول معه

عنوان	خبر، انشاء مع الاقسام	مسند	مسند اليه	تعيين اسم غير حس	معرب	مبني	بالحركت بالحرف	لفظي تقديري	تبعي غير تبعي	تعيين اعراب مضارع	تعيين مفعولات
يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللهِ	خبريه فعليه	يُنْفِقُونَ	هُمْ	۳۔(هُمْ، هُمْ)	۵۔معرب	۲۔مبني	بالحركت	لفظي(۱۔۳۔۳)	تبعي، غير تبعي	(يُنْفِقُوْنَ) حالت رفعي (۳) قسم	مفعول به مفعول له
وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ	خبريه اسميه	أُوتِيَ	مَنْ	۳۔(هُ، هُ، هُوَ)	۳۔معرب	۷۔مبني	بالحركت	لفظي (۱) قسم	غير تبعي	(أَمَّا) حرف شرط للتفصيل	مفعول به مفعول فيه

التمرين:

"وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ،، وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِنْ رَبِّكَ،، وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ،، إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا،، يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا،، وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ،، إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا،، زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ،، يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ،، يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ".

قوله حال الخ.......................................الی قوله تميز.

ترجمه:

حال هغه اسم دئ چي نكره وي د فاعل پر هيئت باندي دلالت كوي لكه: "رَاكِبًا" په "جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا" كي يا د مفعول پر هيئت دلالت كوي لكه: "مَشْدُوْدًا" په "ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا" كي يا د دواړو پر هيئت دلالت كوي لكه: "رَاكِبَيْن" په "لَقِيْتُ زَيْدًا رَاكِبَيْنِ" كي او فاعل و مفعول ته ذوالحال وايي: او ذوالحال اكثره معرفه وي ليكن كه اتفاقا كله نكره راسي نو بيا حال مقدم كيږي لكه: "جَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ" او حال اكثره جمله وي لكه: "رَاَيْتُ الْاَمِيْرَ وَهُوَ رَاكِبٌ".

الدرس السادس والعشرون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د حال تعريف:

حال هغه وصف فضله دي چي یا خو حالت وهیئت د فاعل بیانوي لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا" یا د مفعول لکه: "ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا" یا د دواړو لکه: "لَقِيْتُ زَيْدًا رَاكِبَيْنِ" او فاعل او مفعول ته ذوالحال ویل کیږي.

حال یا د فاعل څخه راځي او یا د مفعول څخه خواه که حقیقتًا فاعل و مفعول وي او که حکمًا فاعل و مفعول وي په پنځو شکلو سره راځي:

۱. اول شکل: کله فاعل حکمي په شکل د مبتداء کي راځي لکه: "زَيْدٌ رَاكِبًا حَسَنٌ".

۲. دوهم شکل: کله فاعل و مفعول دواړه په شکل د مفعول (۱) معه کي راځي لکه: "جِئْتُکَ وَزَيْدًا رَاكِبًا. كَفَاكَ وَزَيْدًا رَاكِبًا".

۳. دریم شکل: کله مفعول به په شکل د مجرور بالحرف کي راسي لکه: "مَرَرْتُ بِهِنْدٍ جَالِسَةً (۲)".

۴. څلورم شکل: کله په شکل د مجرور بالاضافت (۳) کي راسي لکه: "أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ".

۵. پنځم شکل: کله مفعول به په شکل د مفعول مطلق (۴) وي لکه: "تَعِبْتُ التَّعْبَ شَدِيْدًا".

---

(۱) که چیري د مفعول معه ما قبل فاعل وو نو بیا دی د فاعل سره په صدور کي شریک دئ او دی فاعل حکمي دئ لکه: "جِئْتُکَ وَزَيْدًا رَاكِبًا" او که چیري د ده ماقبل مفعول وو نو بیا دی د مفعول سره په وقوع کي شریک دئ نو بیا دی مفعول حکمي دئ لکه: "كَفَاكَ وَزَيْدًا رَاكِبًا".

(۲) دلته "جَالِسَةً" حال دئ لیکن دی د مفعول به حکمي څخه حال دئ.

(۳) په دې شرط چي مضاف به جزء وي د مضاف الیه څخه او په دې صورت کي د حال د واقع کېدلو دپاره دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط یې دا دئ: چي مضاف به فاعل وي یا به مفعول وي.

۲. دوهم شرط یې دا دئ: چي د مضاف الیه درول پر ځای د مضاف باندي به صحیح وي لکه: "فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا".

(۴) مفعول مطلق هم مفعول به حکمي دئ ځکه د ده معنی راځي "أَحْدَثْتَ ضَرْبًا شَدِيْدًا" نو ځکه دی حکما مفعول به دئ. (شرح جامي)

دوهمه خبره:

اصل په ذوالحال کي دا دئ چي دی به معرفه وي لېکن که چيري ذوالحال نکره واقع سو بيا د ده دپاره شرط دا دئ چي نکره مخصصه به وي او د هغه دپاره اووه (٧) ځايونه دي:

١. اول ځای: کله په ذوالحال نکره کي تخصيص په تقديم د حال سره راغلی وي لکه: "فِي الدَّارِ جَالِسًا رَجُلٌ".

٢. دوهم ځای: او کله يې تخصيص په صفت سره راغلی وي لکه: "وَلَمَّا جَاءَهُمْ رَسُولٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ نَبَذَ الخ".

٣. دريم ځای: کله تخصيص په اضافت سره راغلی وي لکه: "فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ".

۴. څلورم ځای: کله تخصيص په حرف نفي سره راغلی وي لکه: "وَمَا أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَعْلُومٌ".

۵. پنځم ځای: کله په حرف استفهام سره راغلی وي لکه: "هَلْ أَتَاكَ رَجُلٌ رَاكِبًا".

شپږم ځای: کله چي ذوالحال نکره مستغرقه راسي يعني پر ټولو افرادو باندي محيط وي يعني احاطه يې کړې وي لکه: "فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ (١) أَمْرٍ حَكِيمٍ ، أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا".

٦. اووم ځای: کله حال داسي جمله وي چي مقرون بالواو وي نو هلته هم ذوالحال نکره واقع کېدای سي لکه: "أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ (٢) وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا".

دريمه خبره:

حال خو مشتق راځي لېکن که چيري جامد وو بيا دی په تاويل د مشتق سره اوړي چي د هغه درې (٣) صورتونه جوړېږي:

---

(١) دلته لفظ د "كُلُّ" ذوالحال واقع سوی دئ. (تشوير)

(٢) دلته "قَرْيَةٍ" نکره دئ ذوالحال دئ او "وَهِيَ خَاوِيَةٌ" جمله حال دئ.

۱. اول صورت: کله حال جامد وي او پر تشبیه باندي دلالت کوي لکه: "مَرَرْتُ بِالْجَارِيَةِ قَمَرًا اَیْ مُضِیْئَةً".

۲. دوهم صورت: کله پر مفاعله باندي دلالت کوي لکه: "بِعْتُهُ یَدًا بِیَدٍ اَیْ مُتَقَابَضَیْنِ".

۳. دریم صورت: کله پر ترتیب باندي دلالت کوي لکه: "اُدْخُلُوْا رَجُلًا رَجُلًا اَیْ مُتَرَتِّبَیْنِ".

حال کله جمله واقع کیږي: لیکن د ده دپاره درې شرطونه دي:

۱. اول شرط یې دا دئ: حال به جمله خبریه وي ځکه حال جمله انشائیه نسي واقع کېدای احترازي مثال لکه: "وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا" دلته واو عاطفه دئ حالیه نه دئ.

۲. دوهم شرط یې دا دئ: د فعل په شروع کي به "سِیْنْ" او "سَوْفَ" نه وي احترازي مثال لکه: "إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَى رَبِّي سَيَهْدِينِ".

۳. دریم شرط یې دا دئ: د حال (۱) د ذوالحال سره ربط ضروري دئ خواه که په ضمیر سره وي او که په واو سره وي او که په دواړو سره وي اتفاقي مثال لکه: "خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ".

فائده:

د حال اقسام:

حال پر څوارلس (۱۴) قسمه راځي:

۱. حال حقیقیه: چي حال د خپل ذوالحال حالت بیان کړي لکه: "جَائَنِيْ زَیْدٌ رَاکِبًا".

۲. حال سببیه: چي حال د ذوالحال د متعلق حالت بیان کړي لکه: "مَرَرْتُ بِالدَّارِ قَائِمًا سُكَّانُهَا" (۲).

(۱) ځکه په دې صورت کي جمله مستقله وي لیکن حال د ذوالحال سره ربط غواړي ربط کله په "واو" سره وي لکه: "لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ". او کله صرف په ضمیر سره وي لکه: "وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ". او کله په ضمیر او "واو" دواړو سره وي لکه: "خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ".

(۲) "قَائِمًا" حال دئ د "دَارْ" څخه او "دَارْ" مفعول به غیر صریحي دئ.

۳. حال مقارنه: چي د ده او د ذوالحال د عامل زمانه سره مقارنه وي لکه: "أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ (۱) مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاءِ".

۴. حال مقدره: چي د حال او د عامل د ذوالحال زمانه سره مقارنه نه وي لکه: "أُدْخُلُوْهَا(۲) خَالِدِيْنَ".

۵. حال مشتقه: چي مشتق وي لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا. إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا".

٦. حال جامده: چي جامد وي لکه: "فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا".

۷. حال لزوميه: چي د ذوالحال څخه هيڅ کله نسي جلا کېداى لکه: "رَضِيْتُ بِاللهِ رَبًّا" (۳).

۸. حال منتقله: چي د ذوالحال څخه جلا کېداى سي لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا".

څلورمه خبره:

۹. حال مبينه: چي د ماقبل د مضمون وضاحت کوي لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا".

۱۰. حال مؤکده: چي د ماقبل تاکيد کوي.

او دى په څلورو شکلو باندي راځي:

۱. اول شکل: کله خو دَى د ذوالحال تاکيد کوي لکه: "لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا".

۲. دوهم شکل: کله د عامل تاکيد کوي لکه: "وَلّٰى مُدْبِرًا".

۳. دريم شکل: کله د مضمون د جمله تاکيد کوي لکه: "زَيْدٌ أَبُوْكَ (۴) عَطُوْفًا".

۴. څلورم شکل: کله د ذوالحال د معنٰى تاکيد کوي لکه: "أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاءِ".

---

(۱) "مُسَخَّرَاتٍ" حال دئ د "اَلطَّيْر" څخه د "اَلطَّيْر" او د ده د تابع کېدلو زمانه يوه ده.

(۲) "خَالِدِيْنَ" حال دئ د "أُدْخُلُوْا" د واو ضميري څخه او د دوى د دواړو زمانه مختلفه ده ځکه دُخُول مقدم دئ په اعتبار د زمان سره پر خُلُود باندي.

(۳) "رَبًّا" حال دئ د لفظ "اَلله" څخه او د لفظ "اَلله" څخه هيڅ کله نسي جدا کېداى. (تنوير)

(۴) ددې علامه دا ده که چيري حال حذف سي بيا هم د ذوالحال معنى صحيح کيږي.

۱۱. حال مقصوده: چي مقصود بالذات حال وي لكه: "أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ (۱) فِي جَوِّ السَّمَاءِ".

۱۲. حال موطئه: هغه حال جامده چي په اعتبار د خپل صفت سره حال وي لكه: "فَتَمَثَّلَ لَهَا (۲) بَشَرًا سَوِيًّا".

۱۳. حال مترادفه: چي د يوه ذوالحال څخه متعدد حالونه واقع كېداى سي لكه: "سِرْ رَاشِدًا مَهْدِيًّا".

۱۴. حال متداخله: چي اول حال د ذوالحال څخه واقع سوى وي او دوهم حال د ذوالحال څخه نه وي واقع سوى بلكه د اول حال د ضمير څخه حال واقع سوى وي لكه: "جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا فَاضِلًا".

عامل د حال:

عامل د حال كله فعل وي كله شبه فعل وي او كله معنٰى د فعل وي او د معنٰى د فعل څخه مراد لس (۱۰) شيان دي:

۱. اسم الفعل لكه: "صَهْ سَاكِتًا، وَنَزَالِ مُسْرِعًا".
۲. اسم الاشاره لكه: "هٰذَا بَعْلِي شَيْخًا".
۳. ادوات تشبيه لكه: "كَأَنَّ سَعِيْدًا، مُقْبِلًا، اَسَدٌ".
۴. ادوات تمني لكه: "لَيْتَ السُّرُوْرَ، دَائِمًا، عِنْدَنَا".
۵. ادوات ترجي لكه: "لَعَلَّكَ، مُدَّعِيًا، عَلَى حَقٍّ".
٦. ادوات استفهام لكه: "مَاشَانُكَ وَاقِفًا. فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ".
۷. حرف التنبيه لكه: "هَا هُوَ ذَا الْبَدْرُ طَالِعًا".
۸. جار و مجرور لكه: "اَلْفَرَسُ لَكَ وَحْدَكَ".

---

(۱) "مُسَخَّرَاتٍ" په خپله مشتق دئ او حال دئ بغير د يو تابع او دَى مقصود بالذات دئ.

(۲) كه څه هم "بَشَرًا" جامد دئ او حال مشتق وي لېكن دلته په اعتبار د صفت مشتقه سره چي "سَوِيًّا" دئ دى حال واقع سوى دئ. (تشوير)

۹. ظرف لکه: "لَدَيْنَا الْحَقُّ خَفَّاقًا لِوَاءُهُ".

۱۰. حرف نداء لکه: "يَا اَيُّهَا الرَّبْعُ مُبْكِيًّا بِسَاحَتِهِ".

قوله تمیز الخ.................................الی قوله بدانکه فاعل بر دو قسم است.

ترجمه:

تمیز هغه اسم دئ چي د عدد څخه رفع د ابهام کوي لکه: "عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا" يا د وزن څخه لکه: "عِنْدِيْ رِطْلٌ زَيْتًا" يا د پېمانه څخه لکه: "عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا" يا د پېمايش (يعني اندازه کول) څخه لکه: "مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا".

پنځمه خبره:

د تمیز تعریف ([1]):

تمیز هغه اسم نکره دئ چي د مبهم ذات يا نسبة څخه ابهام ليري کوي لکه: "اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا، طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا".

د تمیز اقسام:

تمیز پر دوه قسمه دئ:

۱. تمیز د ذات څخه وي.

۲. تمیز د نسبت څخه وي.

د تمیز الذات تعریف:

تمیز د ذات هغه دئ چي دی مُفَسِّرْ او مُبَيِّنْ د يو اسم مبهم ملفوظ دپاره وي او په ده کي ذات همېشه مذکور وي لکه: "عِنْدِيْ شِبْرٌ اَرْضًا".

([1]) د تمیز تعریف "اَلتَّمِيْزُ اِسْمٌ نَكِرَةٌ بِمَعْنٰى مِنْ يُذْكَرُ تَفْسِيْرًا لِلْمُبْهَمِ مِنْ ذَاتٍ اَوْ نِسْبَةٍ وَ هُوَ عَلٰى قِسْمَيْنِ: تَمِيْزُ الذَّاتِ يُسَمّٰى تَمِيْزُ مُفْرَدٍ وَ هُوَ مَاكَانَ مُفَسِّرًا وَ مُبَيِّنًا لِاِسْمٍ مُبْهَمٍ مَلْفُوْظٍ": او په تمیز د ذات کي همېشه ذات مذکور وي نو ځکه دا تعبير اختيار سوی دئ چي تمیز پر دوه قسمه دئ يو هغه دئ چي د ذات مذکوره څخه ابهام ليري کوي او بل هغه چي د ذات مقدره څخه رفع د ابهام کوي يعني د نسبت څخه رفع د ابهام کوي. (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۸۴)

د اسم مبهم اقسام: د کم شي څخه چي رفع د ابهام کیږي هغه پر پنځه قسمه راځي: (۱) عدد. (۲) مقدار. (۳) شبه مقدار. (۴) قائمقام مقادیر. (۵) فرع التمیز.

اول عدد دئ: چي اسم مبهم په شکل د عدد کي وي خواه که عدد صریحي (۱) وي لکه: "أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا" او که عدد غیر (۲) صریحي وي لکه: "كَمْ كِتَابًا عِنْدَكَ، عِنْدِيْ كَذَا كِتَابًا" او تمیز د ده څخه رفع د ابهام کوي.

دوهم مقدار (۳) دئ: چي اسم مبهم په شکل د مقدار کي وي او تمیز د ده څخه رفع د ابهام کوي او په مقدار کي څلور صورتونه دي:

۱. اول صورت: مقدار کله په صورت د "مساحت" یعني پیمایش کي وي لکه: "عِنْدِيْ شِبْرٌ أَرْضًا".
۲. دوهم صورت: کله په صورت د "وزن" کي وي لکه: "عِنْدِيْ مَنَوَانِ سَمْنًا".
۳. کله په صورت د "کیل" یعني (۴) پیمانه کي وي لکه: "عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا".
۴. کله په صورت د "مقیاس" (۵) کي وي لکه: "عِنْدِيْ ذِرَاعٌ ثَوْبًا".

دریم قسم شبه مقدار دئ چي اسم مبهم په شکل د شبه مقدار کي وي او په شبه مقدار کي هم څلور صورتونه دي:

۱. اول صورت: شبه مساحت لکه: "مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا".
۲. دوهم صورت: شبه وزن لکه: "فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ".
۳. دریم صورت: شبه کیل لکه: "عِنْدِيْ رَاقُوْدٌ خَلًّا".

---

(۱) "اَلْعَدَدُ عَلَى قِسْمَيْنِ صَرِيْحٌ وَ مُبْهَمٌ وَالْعَدَدُ الصَّرِيْحُ مَاكَانَ مَعْرُوْفَ الْكَمِيَّةِ كَالْوَاحِدِ وَ أَحَدَ عَشَرَ وَ غَيْرِ ذٰلِكَ".

(۲) "اَلْعَدَدُ الْمُبْهَمُ الْغَيْرُ الصَّرِيْحُ وَهُوَ يَكُوْنُ كِنَايَةً عَنْ عَدَدٍ مَجْهُوْلِ الْكَمِيَّةِ وَهُوَ كَمْ. وَ كَذَا وَ كَأَيِّنْ". (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۸۴)

(۳) "مقدار" د اسم آله صیغه ده بمعنی "مَا يُقَدَّرُ بِهِ الشَّيْئُ" چي په ده سره یو شی اندازه کیږي.

(۴) کیل یعني پیمانه په عربو کي د یو قسم لرګي څخه دغه پیمانه (پیاله) جوړېده چي په دې سره یې غنم، ورجي، وربشي و غیره پیمانه کولې او خرڅولې به یې.

(۵) مقیاس هغه آله چي په هغه سره د یوشي قیاس و انداز، معلومیږي لکه: ګز، میټر، و غیره.

۴. څلورم صورت: شبه مقياس لکه: "عِنْدِيْ مَدٌّ يَدِكَ حَبْلًا وَ عَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا".

څلورم قسم: قائمقام مقادير دئ: هغه اسم مبهم چي د تميز او تفسير محتاجه وي لکه: "وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا".

پنځم قسم: فرع د تميز دئ هغه اسم چي رفع د ابهام د فرع څخه کوي لکه: "عِنْدِيْ خَاتَمُ فِضَّةٍ (۱) وَ سِوَارُ ذَهَبًا".

د تميز د اول قسم حکم په اعراب کي:

د تميز د اول قسم چي تميز د ذات دئ حکم يې دا دئ: چي دَی به منصوبه وي او کله په "مِنْ" جاره او اضافت سره مجروره کيږي لکه: "عِنْدِيْ رِطْلٌ مِنْ زَيْتٍ، عِنْدِيْ شِبْرُ اَرْضٍ، مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ مِنْ سَحَابٍ" لېکن د عدد د تميز حکم وروسته راځي.

شپږمه خبره:

د تميز دوهم قسم تميز النسبة:

د تميز دوهم قسم تميز النسبة (۲) دئ.

د تميز النسبة تعريف:

تميز د نسبت هغه دئ چي دی مبين و مفسر د يو مبهمي جملې دپاره وي يعني په جمله کي چي کم نسبت د فعل و فاعل ته سوی وي هغه نسبت مبهم وي نو دی رفع د ابهام د هغه نسبت څخه کوي او

(۱) په "خَاتِمُ فِضَّةٍ" کي "خَاتِمُ" فرع ده او "حَدِيْد" يا "فِضَّه" چي ذات دئ په دې سره رفع د ابهام سوی ده چي ګوتمی د سپينو زرو ده نه د وسپني او نه د سرو زرو.

(۲) تميز عن النسبة کي ذات همېشه مقدر وي مذکور نه وي لکه: "طَابَ زَيْدٌ عِلْمًا" په دې جمله کي ابهام نه په "طَابَ" کي سته او نه په "زَيْدٌ" کي بلکه د "طَابَ" نسبت چي و "زَيْدٌ" ته سوی دئ په دې نسبت کي ابهام دئ چي "طَابَ زَيْدٌ"، زيد ښه دئ لېکن په دې نسبت کي چي ښه والی دئ و زيد ته يې نسبت سوی دئ ابهام دئ يعني زيد په کم اعتبار سره ښه دئ په اعتبار د نفس سره، يا په اعتبار د مال سره يا په اعتبار د اولاد سره لېکن "عِلْمًا" تميز دغه ابهام ليري کړي چي زيد په اعتبار د علم سره ښه دئ لېکن دلته هم ذات سته او اصل ابهام د هغه ذات څخه دئ چي لفظ د "شَيْئٌ" دئ يعني "طَابَ زَيْدٌ عِلْمًا" په اصل کي "طَابَ شَيْئٌ مَنْسُوْبٌ اِلَى زَيْدٍ" وو.

په ده کي ذات مقدر وي چي "شَيْئٌ" دئ. لکه: "طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا: أَيْ طَابَ شَيْئٌ مَنْسُوبٌ إِلَى زَيْدٍ" دلته مميز "شَيْئٌ" دئ.

د تميز النسبة اقسام:

تميز النسبة پر دوه قسمه دئ:

١. محول.

٢. غير محول.

اول قسم محول دئ: او محول په درې شکلو سره راځي:

١. اول شکل: کله محول عن الفاعل (١) وي لکه: "وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا" په اصل کي "اِشْتَعَلَ شَيْبُ الرَّأْسِ" وو.

٢. دوهم شکل: کله محول عن المفعول (٢) وي لکه: "وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا" په اصل کي "فَجَّرْنَا عُيُوْنَ الْأَرْضِ" وو.

٣. دريم شکل: کله محول عن المبتداء (٣) وي لکه: "أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَوَلَدًا" په اصل کي "مَالِي أَكْثَرُ مِنْ مَالِكَ" وو.

غير محول: غير محول هغه دچي په دې درو قسمو کي د چا څخه محول نه وي لکه: "مَلَأْتُ خَزَائِنِيْ كُتُبًا، مَا أَكْرَمَكَ رَجُلًا، وَلِلّٰهِ دَرُّهُ فَارِسًا".

د تميز محول حکم: تميز محول به همېشه منصوبه وي او په "مِنْ" او اضافت سره دی مجروره ويل جائز نه دي.

---

(١) چي په اصل کي فاعل وو لېکن اوس تميز جوړي سوی وي لکه: "شَيْبًا" په "وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا" کي ځکه دا په اصل کي "اِشْتَعَلَ شَيْبُ الرَّأْسِ" وو.

(٢) چي په اصل کي مفعول وو لېکن اوس تميز ځني جوړ سوی دئ لکه: "عُيُوْنًا" په "وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا". کي ځکه دا په اصل کي "فَجَّرْنَا عُيُوْنَ الْأَرْضِ" وو. (جامع الدروس العربية جلد ٣ صفحه ٨٦)

(٣) چي په اصل کي مبتدا وه لېکن اوس تميز ځني جوړ سوی وي لکه: "مَالًا وَوَلَدًا" په "أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَوَلَدًا" کي ځکه دا په اصل کي "مَالِي أَكْثَرُ مِنْ مَالِكَ" وو. (جامع الدروس العربية)

د تميز غير محول حکم: پر تميز غير محول باندي نصب ويل هم جائز دئ او په "مِنْ" سره مجروره ويل هم جائز دي لکه: "وَلِلّٰهِ دَرُّهٗ مِنْ فَارِسٍ" (۱).

اوومه خبره:

د حال او تميز (۲) په پنځو (۵) شيانو کي اتفاق دئ: (۱) په اسميت کي. (۲) په نکارت کي. (۳) په منصوب والي کي. (۴) په فضليت يعني په فضله والي کي. (۵) په رفع د ابهام کي.

د حال او تميز په اوو (۷) شيانو کي فرق دئ:

۱. تميز رفع د ابهام د ذات ښکاره کوي او حال رفع د ابهام د وصف ښکاره کوي.
۲. حال جار و مجرور او ظرف واقع کېداى سي بخلاف التميز.
۳. حال اکثره مشتق وي او تميز جامد وي.
۴. حال د خپل ذوالحال تاکيد کوي بخلاف التميز.
۵. حال متعدد راتلاى سي لېکن تميز همېشه مفرد يعني يو وي.
۶. حال جمله راتلاى سي لېکن تميز مفرد وي.
۷. حال تر خپل ذوالحال مقدم کېداى سي لېکن تميز نسي مقدم کېداى.

---

(۱) ضروري فائده: تمَيز غير محول په "مِنْ" سره مجروره ويل هم جائز دي که يې چيري ته ويل و غواړي لېکن استعمال يې په "مِنْ" سره نسته نو ځکه بيا اعتراض په دې سره نه واقع کيږي چي د حال او د تميز په مينځ کي خو يو فرق دا دئ چي حال جار و مجرور او ظرف واقع کېداى سي لېکن تميز نسي واقع کېداى نو دلته دا دئ تميز غير محول هم په "مِنْ" سره مجروره ويل کيږي نو ځکه دلته د تميز مجرور والى در جواز در حده پوري دئ چي يو احتمال دئ نه د وقوع در حده پوري. (از مرتب عفي عنه)

(۲) فائده: فرق په مينځ د صفت او تميز کي دا دئ چي تميز رفع د ابهام د ذات ښکاره کوي او صفت رفع د ابهام د وصف ښکاره کوي مثلاً زيد دوکاندار ته ورغلى او ورته يې وويل چي لس کېلو راکړه دلته اوس په ذات کي ابهام دئ چي غوړي غواړي، بوره غواړي او که وره غواړي نو تر څو پوري چي ذات نه وي ذکر سوى تر هغه وخته پوري شى د مخاطب په ذهن کي مبهم وي نو په دې وخت کي د ذات ښخه د رفع د ابهام دپاره د تميز ضرورت دئ نو ځکه په دې صورت کي تميز ذکر کيږي.

او د صفت په صورت کي خو ذات متعين وي لېکن په وصف کي ابهام وي مثلاً زيد و دوکاندار ته وويل چي يو رطل راکړه نو دلته په ذات کي ابهام نسته چي و سپينه ده لېکن په وصف کي ابهام دئ چي د هغه په وجه دوکاندار پوښتنه کوي چي کم رطل دئ په کار دئ پاکستاني، افغاني، او که عراقي نو د دې ابهام د ليري کولو دپاره د صفت ضرورت دئ نو ځکه په دې صورت کي صفت ذکر کيږي.(تشويز)

فائده: کم تميز چي رفع د ابهام د نسبت ښکاره کوي د هغه عامل فعل يا شبه فعل وي.(جامع الدروس العربية)

جملے:

عنوان	خبریہ و انشاء	مسند	مسند الیہ	اسم ظاہر مضمر	معرب	مبنی	بالحرکت و بالحرف	لفظی و تقدیری	تمیمی و غیر تمیمی	اعراب المضارع	تعین منصوبات
فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ	خبریہ فعلیہ	فَخَرَجَ	هُوَ	۴۔(هُوَ، هَا، هُوَ، هُوَ)	۲۔ معرب	۷۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) ختم	غیر تمیمی	(يَتَرَقَّبُ) حالت رفعی (۱) ختم	۲۔ حال، (خَائِفًا يَتَرَقَّبُ)
وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ	خبریہ فعلیہ	جَاءُوا	هُمْ	۳۔(هُمْ، هُمْ، هُمْ)	۳۔ معرب	۵۔ مبنی	بالحرکت و بالحرف	لفظی (۱۔۶) ختم	غیر تمیمی	(يَبْكُونَ) حالت رفعی (۴) ختم	۳۔ مفعول بہ مفعول فیہ، حال
وَوَاعَدْنَا مُوسَى ثَلَاثِينَ لَيْلَةً	خبریہ فعلیہ	وَاعَدَ	نَا	۱۔(نَا)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت بالحرف	لفظی (۱۔۱۲) ختم و تقدیری (۱۳) ختم	تمیمی، غیر تمیمی	+	۲۔ مفعول بہ تمیز
وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ	خبریہ فعلیہ	سَخَّرَ	هُوَ	۳۔(هُوَ، كُمْ، هُمَا)	۳۔ معرب	۷۔ مبنی	بالحرکت بالحرف	لفظی (۱۔۷) ختم	تمیمی، غیر تمیمی	+	مفعول بہ، حال
هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا	خبریہ اسمیہ	أَحْسَنُ	هُمْ	۲۔(هُمْ، هُوَ)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱۔۵) ختم	تمیمی، و غیر تمیمی	+	تمیز
كَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً	خبریہ اسمیہ	أَشَدَّ	هُمْ	۳۔(هُمْ، هُمْ، هُوَ)	۲۔ معرب	۵۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱۔۵) ختم	تمیمی غیر تمیمی	+	تمیز
قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ	خبریہ فعلیہ	قَالُوا	هُمْ	۳۔(هُمْ، هُ، نَحْنُ)	۲۔ معرب	۸۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱۔۳) ختم	غیر تمیمی	+	۲۔ مفعول بہ، حال
وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا	خبریہ فعلیہ	فَجَّرَ	نَا	۱۔(نَا)	۲۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱۔۳) ختم	غیر تمیمی	+	۲۔ مفعول بہ، تمیز
فَاللّٰهُ خَيْرٌ حَافِظًا	خبریہ اسمیہ	خَيْرٌ	اَللّٰهُ	۲۔(هُوَ، هُوَ)	۳۔ معرب	۳۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) ختم	غیر تمیمی	+	تمیز
اِرْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً	انشائیہ فعلیہ	اِرْجِعِي	أَنْتِ	۳۔(أَنْتِ، كِ، هِيَ، هِيَ)	۳۔ معرب	۶۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) ختم	غیر تمیمی	+	۲۔ حال (رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً)
فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا	خبریہ فعلیہ	لَبِثَ	هُوَ	۲۔(هُوَ، هِمْ)	۳۔ معرب	۶۔ مبنی	بالحرکت، بالحرف	لفظی (۱۔۱۳) ختم	تمیمی، غیر تمیمی	+	۲۔ مفعول بہ تمیز
وَيَنْقَلِبُ إِلَى أَهْلِهِ مَسْرُورًا	خبریہ فعلیہ	يَنْقَلِبُ	هُوَ	۳۔(هُوَ، هِ، هُوَ)	۳۔ معرب	۵۔ مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) ختم	غیر تمیمی	(يَنْقَلِبُ) حالت رفعی (۱) ختم	حال

التمرين:

”وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا،، فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً،، أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا،، أَأَنْتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا،، يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا،، يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا،،

وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ،، وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِيْنَةِ يَسْتَبْشِرُونَ،، وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا،، وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا".

بدانكه فاعل بر دو قسم است مظهر و مضمر الخ: .... الى قوله بدانكه افعال ناقصه هفتده اند.

ترجمه:

پوه سه! چي فاعل پر دوه قسمه دئ اسم مظهر لكه: "ضَرَبَ زَيْدٌ" او مضمر بارز (ښكاره) لكه: "ضَرَبْتُ" او مضمر مستتر (پټ) لكه: "زَيْدٌ ضَرَبَ" چي د "ضَرَبَ" فاعل "هُوَ" دئ او په "ضَرَبَ" كي مستتر دئ.

پوه سه! چي فاعل كله مؤنث حقيقي وي يا ضمير د مؤنث حقيقي وي نو علامه د تانيث په فعل كي لازمي وي لكه: "قَامَتْ هِنْدٌ، هِنْدٌ قَامَتْ" يعني د "هِيَ" ضمير دئ او په اسم مظهر غير حقيقي او په مظهر جمع تكسيره كي دواړه صورتونه جائز دي لكه: "طَلَعَ الشَّمْسُ أَوْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ" "قَالَ الرِّجَالُ أَوْ قَالَتِ الرِّجَالُ". دوهم قسم فعل مجهول دئ پوه سه چي فعل مجهول د فاعل پر ځاى و مفعول به ته رفع ور كوي او نورو مفاعيل ته نصب ور كوي لكه: "ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهِ تَادِيْبًا وَالْخَشَبَةَ" او فعل مجهول ته فعل ما لم يسم فاعله هم ورته ويل كيږي او د ده و مرفوع ته مفعول مالم يسم فاعله ويل كيږي.

پوه سه! چي فعل متعدي پر څلور قسمه دئ اول متعدي بيك مفعول لكه: "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا" دوهم متعدي بدو مفعول او اقتصار و اكتفاء پر يوه مفعول جائز وي لكه: باب د اعطيت او هغه كلمات چي د اعطيت په معنٰى كوي لكه: "أَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا" او د ده پر ځاى "أَعْطَيْتُ زَيْدًا" ويل هم جائز دي، دريم متعدي بدو مفعول لېكن اقتصار پر يوه جائز نه وي او دا افعال قلوب دي لكه: "عَلِمْتُ، وَظَنَنْتُ، وَحَسِبْتُ، خِلْتُ، وَزَعَمْتُ، وَرَأَيْتُ، وَوَجَدْتُ" لكه: "عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا" او "ظَنَنْتُ زَيْدًا عَالِمًا". څلورم متعدي بسه مفعول لكه: "أَعْلَمَ، وَأَرَى، وَأَنْبَأَ، وَأَخْبَرَ، وَخَبَّرَ، وَنَبَّأَ، وَحَدَّثَ" لكه: "أَعْلَمَ اللهُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلًا".

پوه سه! چې دا ټول مفعولات مفعول به دي لیکن دوهم مفعول په باب د "عَلِمْتُ" کې او دریم مفعول په باب د "اَعْلَمْتُ" کې او مفعول له و مفعول معه د فاعل قائم مقام نسي جوړېدای او د دې څخه علاوه نور قائم مقامه د فاعل جوړېدای سي او په باب د "اَعْطَيْتُ" کې اول مفعول په مفعول مالم يسم فاعله جوړولو کې زیاده لائق دئ تر دوهم.

الدرس السابع والعشرون

د نن سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د فاعل (۱) اقسام:

فاعل پر دوه قسمه دئ:

(۱) د فعل ماضي په دولسو (۱۲) صیغو کې فاعل ضمیر بارز وي او صرف دوې صیغې "ضَرَبَ، ضَرَبَتْ"، که چیرې دغه دوې صیغې په ابتداء د کلام کې راغلې نو بیا همېشه د دوی فاعل اسم ظاهر وي لکه: "ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ" او که چیرې په وسط د کلام کې راغلې نو بیا د دوی فاعل همېشه اسم ضمیر وي او د هغه دپاره څلور مقامونه دي:

۱. اول مقام: چې فعل خبر د مبتداء وي لکه: "اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ".

۲. دوهم مقام: یا صله د موصول وي لکه: "اَلَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ".

۳. دریم مقام: یا صفت دپاره د موصوف وي لکه: "اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ".

۴. څلورم مقام: یا حال دپاره د ذوالحال وي لکه: "جَآءَنِيْ زَيْدٌ قَدْ رَكِبَ".

لیکن که چیرې د دغه څلورو ځایو وروسته ضمیر راغلئ او راجع وو یو د دا څلورو ځایو ته نو بیا د دوی فاعل اسم ظاهر راځي لکه: "اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا" او د مضارع په نه (۹) صیغو کې فاعل ضمیر بارز دئ او په پنځو صیغو کې مستتر دئ بیا په درې صیغو کې چې "تَضْرِبُ" مخاطبه او "اَضْرِبُ، نَضْرِبُ" متکلم کې فاعل واجب الاستتار دئ او په دوو صیغو کې چې "يَضْرِبُ" واحد مذکر "تَضْرِبُ" واحده مؤنثه کې فاعل ضمیر جائز الاستتار دئ او د دوی دواړو حکم د ماضي د "ضَرَبَ" او "ضَرَبَتْ" دئ لیکن په دانورو صیغو کې صرف په "تَضْرِبِيْنَ" کې اختلاف دئ څوک وایي: چې په دې کې فاعل ضمیر بارز دئ چې "يَا" ده او څوک وایي "اَنْتِ" یې فاعل دئ چې ضمیر مستتر دئ، او فعل ماضي مجهول او مضارع مجهول په شان د ماضي معلوم او مضارع معلوم دي. او داغه رنګه جحد، نفي، امر غائب، نهي حاضر و غائب د فعل مضارع په حکم کې دي. (العلامات النحوية).

۱. اسم ظاهر لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ".
۲. اسم ضمير.
بيا اسم ضمير پر دوه قسمه دئ:
۱. بارز لکه: "ضَرَبْتُ".
۲. مستتر لکه: په "زَيْدٌ ضَرَبَ" کي د "هُوَ" ضمير.

ضابطه:

کم وخت چي فاعل اسم ظاهر وي فعل همېشه (۱) واحد راوړل کيږي خواه که فاعل واحد وي تثنيه وي او که جمع وي لکه: "قَامَ زَيْدٌ، قَامَ الزَّيْدَانِ، قَامَ الزَّيْدُوْنَ". او که چيري فاعل اسم ضمير وو بيا د ده او د فعل مطابقت واجب دئ لکه: "زَيْدٌ قَامَ، اَلزَّيْدَانِ قَامَا، اَلزَّيْدُوْنَ قَامُوْا".
د فاعل د استعمال صورتونه او احکام په اعتبار د تذکير او تانيث سره:
فاعل به يا اسم ظاهر وي او يا به اسم ضمير وي که چيري د فعل فاعل اسم ظاهر وو يا به مفرد وي او يا به جمع وي که چيري مفرد وو د هغه د پاره شپږ (٦) صورتونه دي.
د مفرد صورتونه:
۱. اول صورت: چي فاعل اسم ظاهر واحد مذکر راغلی وي نو فعل به هم همېشه واحد مذکر ور سره راځي لکه: "ضَرَبَ زَيْدٌ" او تثنيه هم د مفرد په حکم کي ده لکه: "ضَرَبَ الزَّيْدَانِ، قَامَتِ الْمَرْئَتَانِ".
۲. دوهم صورت: چي فاعل اسم ظاهر مؤنث سماعي وي لکه: "اَلشَّمْسُ".
۳. دريم صورت: يا فاعل اسم ظاهر مؤنث حقيقي مع الفصل وي مثال لکه: "حَضَرَ الْمَجْلِسَ اِمْرَأَةٌ".

---

(۱) ضابطه: فعل که چيري په جواب د نفي کي راسي نو بيا د ده حذف کول جائز دي لکه: "مَا قَامَ اَحَدٌ" په جواب کي صرف "بَلٰى زَيْدٌ" ويل يعني "قَامَ زَيْدٌ" دلته "قَامَ" حذف کول جائز دي او داغه رنګه د استفهام محقق په جواب کي يې حذف کول هم جائز دي لکه: "وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ". په جواب کي "لَيَقُوْلُنَّ اللهُ اَیْ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ اللهُ" او د استفهام مقدر په جواب کي لکه: "يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ: اَیْ يُسَبِّحُهٗ رِجَالٌ". (تنوير)

نو په دې دواړو صورتو کي فعل مذکر او مؤنث دواړه راوړل جائز دي د مؤنث سماعي مثال لکه: "طَلَعَ الشَّمْسُ، طَلَعَتِ الشَّمْسُ". او د مؤنث حقيقي مع الفصل مثال لکه: "قَامَ الْيَوْمَ اِمْرَءَةٌ، قَامَتِ الْيَوْمَ اِمْرَاَةٌ" لېکن په دغه دواړو صورتو کي تانيث افصح دئ.

۴. څلورم صورت: چي فاعل اسم ظاهر مؤنث حقيقي بلا فصل وي لکه: "جَائَتْ فَاطِمَةُ".

۵. پنځم صورت: چي فاعل اسم ظاهر مؤنث حقيقي وي لېکن د مذکر سره مشابه وي لکه: "هِنْدٌ".

نو په دې دواړو صورتو کي فعل واحد مؤنث راوړل واجب دي، د مؤنث حقيقي بلا فصل مثال لکه: "جَائَتْ فَاطِمَةُ" او د مؤنث حقيقي مشابه بالمذکر مثال لکه: "جَائَتْ هِنْدٌ".

٦. شپږم صورت: چي فاعل اسم ظاهر مؤنث حقيقي وي او فعل د "نِعْمَ" يا "بِئْسَ" وي نو په دې صورت کي فعل مذکر او مؤنث دواړه راوړل جائز دي لکه: "نِعْمَ الْمَرْءَةُ، نِعْمَتِ الْمَرْءَةُ" لېکن دلته تانيث اَجْوَدْ دئ.

دوهمه خبره:

د فاعل اسم ظاهر د جمع صورتونه:

فاعل اسم ظاهر چي کله جمع وي نو د ده دپاره اته (۸) صورتونه دي:

١. اول صورت: چي فاعل اسم ظاهر جمع مذکر سالمه وي نو بيا فعل وجوبًا واحد مذکر راوړل کيږي لکه: "قَالَ الْمُسْلِمُوْنَ".

٢. دوهم صورت: چي فاعل اسم ظاهر جمع مؤنث سالم ذوالعقول وي لکه: "اَلْمُسْلِمَاتُ".

٣. دريم صورت: يا غير ذوالعقول وي لکه: "اَلْكَرَامَاتُ".

۴. څلورم صورت: چي فاعل جمع مکسره مذکره ذوالعقول وي لکه: "اَلرِّجَالُ".

۵. پنځم صورت: يا غير ذوالعقول وي لکه: "اَلْجِمَالُ".

٦. شپږم صورت: چي فاعل جمع مکسر مؤنث وي لکه: "اَلْفَوَاطِمُ".

٧. چي فاعل اسم ظاهر اسم جمع وي لکه: "قَوْمٌ وَرَهْطٌ".

۸. چي فاعل اسم ظاهر اسم جنس وي لکه: "عَرَبٌ وَرُوْمٌ".

نو په دې ټولو صورتو کي فعل واحد مؤنث او واحد مذکر دواړه راوړل جائز دي د جمع مؤنث سالم ذوالعقول مثال لکه: "جَاءَ الْمُسْلِمَاتُ جَاءَتِ الْمُسْلِمَاتُ" د جمع مؤنث سالم غير ذوالعقول مثال لکه: "جَاءَ الْكِرَامَاتُ جَاءَتِ الْكِرَامَاتُ" او په دې صورتو کي تانيث اَصَحْ دئ. د جمع مکسره مذکري ذوالعقول مثال لکه: "جَاءَ الرِّجَالُ جَاءَتِ الرِّجَالُ". د جمع مکسره مذکري غير ذوالعقول مثال لکه: "جَاءَ الْجِمَالُ جَائَتِ الْجِمَالُ" د جمع مکسري مؤنث مثال لکه: "جَاءَ الْفَوَاطِمُ جَاءَتِ الْفَوَاطِمُ" لېکن په دغه صورتو کي تذکير د مذکر سره او تانيث د مؤنث سره اَفْضَلُ دئ. د اسم جمع مثال لکه: "جَاءَ الْقَوْمُ جَاءَتِ الْقَوْمُ". د اسم جنس مثال لکه: "قَالَ الْعَرَبُ اَوِ الرُّوْمُ قَالَتِ الْعَرَبُ اَوِ الرُّوْمُ".

دريمه خبره:

د فاعل د استعمال صورتونه په شکل د اسم ضمير کي:

که چيري فاعل ضمير وو يا به د مفرد ضمير وي او يا به د جمع ضمير وي که چيري د مفرد ضمير وو بيا د هغه دپاره درې (۳) صورتونه دي:

د فاعل اسم ضمير د مفرد صورتونه:

۱. اول صورت: فاعل چي کله د واحد مذکر ضمير وي نو فعل به وجوبًا واحد مذکر ور سره راوړل کيږي لکه: "زَيْدٌ يَضْرِبُ" په "يَضْرِبُ" کي د "هُوَ" ضمير فاعل دئ.

۲. دوهم صورت: فاعل چي کله د مؤنث حقيقي ضمير وي.

۳. دريم صورت: يا د مؤنث سماعي ضمير وي.

نو په دې دواړو صورتو کي فعل (۱) وجوبًا واحد مؤنث راوړل کيږي د مؤنث حقيقي مثال لکه: "فَاطِمَةُ ذَهَبَتْ" او د مؤنث سماعي مثال لکه: "اَلشَّمْسُ طَلَعَتْ" (۱).

---

(۱) د فعل حذف وجوبًا:

ضابطه متصله په ماقبل پوري که چيري تر "اِذْ" او د "لَوْ" او "اِنْ" وروسته يو اسم مرفوع راسي نو هلته فعل حذف کول واجب دي د "اِذْ" مثال لکه: "إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ" دلته اول "اِنْشَقَّتْ" حذف سوی دئ چي مابعد يې تفسير دئ د "لَوْ" مثال لکه: "لَوْ أَنْتُمْ تَمْلِكُونَ" دلته اول "تَمْلِكُونَ" حذف سوی دئ د "اِنْ" مثال لکه: "وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ" دلته اول "اسْتَجَارَكَ"

د فاعل اسم ضمير د جمع صورتونه: كه چيري فاعل د جمع ضمير وو نو د هغه دپاره شپږ (٦) صورتونه دي:

١. اول صورت: فاعل چي كله د جمع مذكر سالم ضمير وي نو بيا فعل وجوبًا جمع مذكر راوړل كيږي لكه: "اَلْمُجْتَهِدُوْنَ يَنْجَحُوْنَ".

٢. دوهم صورت: فاعل چي كله د جمع مؤنث سالم ضمير وي نو فعل صرف مؤنث راوړل كيږي خواه كه جمع مؤنث وي او كه واحد مؤنث وي دواړه راوړل كيږي لكه: "اَلْمُسْلِمَاتُ جَاءَتْ يَا جِئْنَ".

٣. دريم صورت: فاعل چي كله د اسم جمع ضمير وي نو بيا فعل واحد مذكر واحد مؤنث او جمع مؤنث راوړل جائز دي، لكه: "اَلْقَوْمُ قَدْ جَاءَ، جَاؤُا، جَاءَتْ".

۴. څلورم صورت: فاعل چي كله د جمع مكسر مذكر ذوالعقول ضمير وي نو فعل واحد مؤنث او جمع مذكر دواړه راوړل جائز دي لكه: "اَلرِّجَالُ جَاؤُا يَا جَاءَتْ" ليكن تذكير په ضمير د جمع عاقل سره افصح دئ.

۵. پنځم صورت: فاعل چي كله د جمع مكسر مذكر غير ذوالعقول ضمير وي نو بيا فعل صرف مؤنث ور سره راوړل كيږي خواه كه واحد مؤنث وي او كه جمع مؤنث وي دواړه راوړل جائز دي لكه: "اَلْجِمَالُ تَسِيْرُ، يَسِرْنَ".

٦. شپږم صورت: فاعل چي كله د جمع مؤنث مكسر ضمير وي نو بيا فعل صرف مؤنث راوړل كيږي خواه كه واحد مؤنث وي او كه جمع مؤنث وي دواړه راوړل جائز دي لكه: "اَلْفَوَاطِمُ اَقْبَلَتْ يَا اَقْبَلْنَ".

د فاعل تقديم پر مفعول باندي وجوبا:

حذف سوى دئ "اَىْ وَاِنِ اسْتَجَارَكَ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ" او داغه رنګه كه چيري تر "لَوْ" وروسته "اَنَّ" راسي نو په دې وخت كي په مينځ كي د "ثَبَتَ" فعل محذوف وي او "اَنَّ" د هغه دپاره فاعل جوړيږي لكه: "وَلَوْ اَنَّنَا اَىْ لَوْ ثَبَتَ اَنَّنَا".

(١) دلته يو وهم كيږي هغه دا چي تا د فاعل د اسم ظاهر د مفرد په صورتو كي وويل چي كم وخت فاعل مؤنث سماعي راسي نو فعل مذكر او مؤنث دواړه راوړل جائز دي او دلته وايې چي د مؤنث سماعي دپاره صرف ضمير د مؤنث راوړل واجب دي نو د هغه جواب دا دئ: چي هلته د فاعل اسناد و ظاهر ته دئ او دلته و ضمير ته دئ نو هلته د مؤنث سماعي حكم په اعتبار د اسم ظاهر سره دئ او دلته په اعتبار د اسم ضمير سره دئ. (از مرتب عفي عنه)

عموما فاعل پر مفعول باندي مقدم راځي لېكن په څلورو (۴) ځايو كي د فاعل تقديم پر مفعول باندي واجب دئ:

۱. فاعل چي كله ضمير متصل په فعل پوري وي لكه: "ضَرَبْتُ زَيْدًا".
۲. كله چي فاعل و مفعول دواړه اسم مقصور وي او د اشتباه خطره وي لكه: "ضَرَبَ مُوْسٰى عِيْسٰى".
۳. مفعول چي كله تر "اِلَّا" وروسته واقع سي لكه: "مَاضَرَبَ زَيْدٌ اِلَّا عَمْرًا".
۴. يا د معنى د "اِلَّا" وروسته واقع سي لكه: "اِنَّمَاضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا".

څلورمه خبره:

فعل مجهول:

دوهم قسم د فعل فعل مجهول دئ.

د فعل مجهول تعريف:

فعل مجهول هغه فعل دئ چي دلالت پر نسبت وقوعي كوي او د ده فاعل حذف سوى وي او مفعول د هغه قائمقام درېدلى وي لكه: "ضُرِبَ زَيْدٌ".

د فعل مجهول عمل:

فعل مجهول د فاعل پر ځاى مفعول به ته رفع ور كوي او نورو مفاعيل ته نصب ور كوي لكه: "ضُرِبَ" (فعل مجهول) "زَيْدٌ" (نائب فاعل) "يَوْمَ الْجُمُعَةِ" (مفعول فيه ظرف زمان) "اَمَامَ الْاَمِيْرِ" (مفعول فيه ظرف مكان) "ضَرْبًا شَدِيْدًا" (مفعول مطلق) "فِي دَارِهٖ" (جار و مجرور مفعول فيه) "تَادِيْبًا" (مفعول له) "وَالْخَشَبَةَ" (مفعول معه).

د فعل مجهول دپاره كم شيان نائب فاعل واقع كېداى سي:

۱. اول: د فاعل قائم مقامه تر ټولو زيات په اوله درجه كي لائق هغه مفعول به دئ ځكه هغه فعل ته قريب دئ لكه: "ضُرِبَ زَيْدٌ".

۲. دوهم: مفعول مطلق دئ او د مفعول مطلق دپاره شرط دا دئ: چي دی به فعل متصرف وي احترازي مثال لكه: "سُبْحَانَ، مَعَاذَ" اتفاقي مثال لكه: "وُقِفَ وُقُوْفٌ طَوِيْلٌ، نُظِرَ فِيْ الْاَمْرِ نَظْرَتَانِ اَوْ نَظَرَاتٌ، سِيْرَ سَيْرَ الصَّالِحِيْنَ".

۳. دريم: كه چيري مفعول مطلق نه وو بيا ظرف نائب فاعل واقع كيږي ليكن په ظرف كي دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي دی به متصرف وي احترازي مثال لكه: "عِنْدَ، لَدٰی، قَبْلُ، بَعْدُ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي پر محدوده زمانه به دلالت كوي احترازي مثال لكه: "حِيْن، دَهْر" اتفاقي مثال لكه: مُشِيَ يَوْمٌ كَامِلٌ، وَصِيْمَ رَمَضَانُ.

۴. څلورم: كه چيري ظرف نه وو بيا جار او مجرور نائب فاعل واقع كيږي ليكن د جار او مجرور دپاره دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي دوی به هغه جاره نه وي چي د استثناء دپاره راځي احترازي مثال لكه: "حَاشَا، خَلَا، عَدَا".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي د علت والا معنٰی به نه وي پكښې احترازي مثال لكه: "وُقِفَ لَكَ، وُقِفَ مِنْ اَجْلِكَ" چي كله "لَامْ" جاره او "مِنْ" د علت دپاره وي. اتفاقي مثال يې لكه: "يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ".

پنځمه خبره:

د فعل متعدي اقسام:

فعل متعدي پر څلور قسمه دئ:

۱. اول قسم: هغه دئ چي متعدي وي په يوه مفعول سره هغه عام افعال وي لكه: "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا".

۲. دوهم قسم: هغه دئ چي متعدي وي و دوو مفعولو ته دا بيا پر دوه قسمه دي:

اول: چي اصل يې مبتداء و خبر نه وي هغه باب د "اَعْطَيْتُ" او د ده په معنٰى سره نور افعال (۱) هغه لكه: "اَعْطٰى، سَأَلَ، مَنَحَ، مَنَعَ، كَسَا، اَلْبَسَ، وَ عَلَّمَ" وغيره او په باب د "اَعْطَيْتُ" كي اكتفاء پر يوه مفعول جائز ده لكه: مثال "اَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا" او صرف "اَعْطَيْتُ زَيْدًا" ويل هم جائز دي.

دوهم: چي اصل يې مبتداء او خبر وي دا هم پر دوه قسمه دي: اول افعال قلوب. دوهم افعال تصيير، يا تحويل.

د افعال قلوب تعريف:

افعال قلوب هغه افعال دي چي د هغه تعلق د انسان د ظاهري اندامو سره نه وي بلكه د زړه سره وي.

د افعال قلوب تعداد:

افعال قلوب ټوله څوارلس (۱۴) داني دي: "رَئٰى (۲)، عَلِمَ، وَرَىٰ، وَجَدَ، اَلْفٰى، تَعَلَّمْ، ظَنَّ، خَالَ، حَسِبَ، جَعَلَ، حَجَا، عَدَّ، زَعَمَ، هَبْ".

---

(۱) د دغه افعال مثالونه "اَعْطٰى" لكه: "اَعْطَيْتُكَ كِتَابًا". "مَنَحَ" لكه: "مَنَحْتُ الْمُجْتَهِدَ جَائِزَةً". "مَنَعَ" لكه: "مَنَعْتُ الْكَسْلَانَ التَّنَزُّهَ". "كَسَا" لكه: "كَسَوْتُ الْفَقِيْرَ ثَوْبًا". "اَلْبَسَ" لكه: "اَلْبَسْتُ الْمُجْتَهِدَةَ وِسَامًا". "عَلَّمَ" لكه: "عَلَّمْتُ سَعِيْدًا الْاَدَبَ". (جامع الدروس العربية جلد ۱ صفحه ۲۰)

(۲) افعال قلوب بعض افعال يقين دي هغه لكه: "رَئٰى" په معنى د "عَلِمَ" او "اِعْتَقَدَ" سره دئ مثال يې لكه: "اِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيْدًا. وَنَرَاهُ قَرِيْبًا" "اِنِّيْ اَرَانِيْ اَعْصِرُ خَمْرًا". او كه د رُؤيت څخه مراد رُؤيت قلبي نه وي بلكه: رؤيت بصري وي يعني په معنى د "اَبْصَرَ. وَ رَئٰى بِعَيْنِهٖ" سره وي نو بيا دى متعدي ويوه مفعول ته وي لكه: "رَاَيْتُ زَيْدًا يَا ضَرَبَهٗ فَرَاٰهُ".

"عَلِمَ" په معنى د "اِعْتَقَدَ" سره لكه: "فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ" كه چيري دى په معنى د "عَرَفَ" سره دئ لكه: "عَلِمْتُ الْاَمْرَ اَىْ عَرَفْتُهٗ" "وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُوْنِ اُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا". نو دى به متعدي په يوه مفعول سره وي دا غه رنګه كه چيري په معنى د "شَعَرَ. اَحَاطَ. اَدْرَكَ" سره وي لكه: "عَلِمْتُ الشَّيْئَ وَ بِالشَّيْئِ".

"دَرٰى" په معنى د "عَلِمَ" او "اِعْتَقَدَ" سره دئ لكه: "دَرَيْتُ الْوَفِيَّ الْعَهْدَ" ليكن دى اكثره متعدي ييک مفعول وي په واسطه د "با" سره لكه: "دَرَيْتَ بِهٖ" او كه چيري دى په معنى د "خَتَلَ، خَدَعَ، هَكَّ" سره وي لكه: "دَرَيْتُ الصَّيْدَ اَىْ خَتَلْتُهٗ وَ خَدَعْتُهٗ، دَرٰى رَأْسَهٗ بِالْمَدْرٰى اَىْ حَكَّهٗ بِهٖ" بەنو بيا به دى متعدي ييک مفعول وي.

"وَجَدَ" په معنى د "عَلِمَ" و "اِعْتَقَدَ" سره دئ او د ده مصدر "اَلْوُجُوْدُ وَالْوِجْدَانُ" راځي لكه: "وَجَدْتُ الصِّدْقَ زِيْنَةَ الْعُقَلَاءِ" وَمِنْهُ قَوْلُهٗ تَعَالٰى "وَاِنْ وَجَدْنَا اَكْثَرَهُمْ لَفَاسِقِيْنَ" او كه چيري دى په معنى د "عَلِمَ" و "اِعْتَقَدَ" سره نه وو نو بيا د دي باب څخه نه وي لكه: "وَجَدْتُ الْكِتَابَ".

د افعال قلوب اقسام:

افعال قلوب پر څلور قسمه دي:

۱. چي د يقين معنیٰ فائده کوي هغه څلور دي "وَجَدَ، وَرَىَ، اَلْفٰى، تَعَلَّمْ" کله چي په معنیٰ د "اَعْلَمْ" سره وي.

۲. چي د ظن غالب معنیٰ فائده کوي هغه پنځه دي: "جَعَلَ، حَجَا، عَدَّ، هَبْ، زَعَمَ".

۳. چي دواړي معناګاني فائده کوي لېکن د يقين معنیٰ يې کثير الاستعماله وي هغه دوه دي: "رَئٰ، عَلِمَ".

۴. چي دواړي معناګاني فائده کوي لېکن د ظن غالب معنیٰ يې کثير الاستعماله وي هغه درې دي "ظَنَّ، حَسِبَ، خَالَ".

د افعال قلوب عمل؛

افعال قلوب پر جمله اسميه داخليږي مبتداء او خبر ته نصب ورکوي مبتداء ته مفعول اول او خبر ته مفعول ثاني ويل کيږي. او افعال قلوب ته نواسخ ابتداء هم ويل کيږي او په افعال قلوب کي اکتفاء پر يوه مفعول جائز نه وي لکه: "عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا".

"اَلْفٰى" په معنی د "عَلِمَ وَاِعْتَقَدَ" سره دئ لکه: "اَلْفَيْتُ قَوْلَکَ صَوَابًا" لېکن که چيري دَى په معنى د "اَصَابَ الشَّيْئُ وَ ظَفَرَ بِهٖ" سره وو نو بيا به دى متعدي ويوه مفعول ته وي لکه: "اَلْفَيْتُ الْكِتَابَ" وَمِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالٰى "وَاَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَى الْبَابِ".

"تَعَلَّمْ" په معنى د "اِعْلَمْ" او "اِعْتَقِدْ" سره راځي لکه: "تَعَلَّمُوْا اَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِاَعْوَرَ". او که چيري دى امر وي د "تَفَعُّلْ" څخه بيا دى متعدي بيک مفعول وي لکه: "تَعَلَّمُوْا الْعَرَبِيَّةَ وَعَلِّمُوْهَا النَّاسَ".

او بعض افعال ظن دي هغه لکه: "ظَنَّ" په معنى د "وَهُوَ لِرُجْحَانِ وَقُوْعِ الشَّئِ" سره راځي لکه: قول د شاعر: "ظَنَنْتُکَ اِنْ شَبَّتْ لَظَى الْحَرْبِ صَالِيًا" او کله "ظَنَّ" د يقين فائده هم ورکوي لکه: "اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُلَاقُوْ رَبِّهِمْ... وَظَنُّوْا اَنْ لَا مَلْجَاَ مِنَ اللهِ اِلَّا اِلَيْهِ" او که چيري دى په معنى د "اِتَّهَمَ" سره راسي نو بيا به دَى متعدي بيک مفعول وي لکه: "ظَنَّ الْقَاضِيْ فُلَانًا اَىْ اِتَّهَمَهٗ".

"خَالَ" په معنى د "ظَنَّ" سره راځي لکه شعر: "اِخَالُکَ اِنْ لَمْ تُغْضِ الطَّرْفَ ذَا هَوًى". او کله د يقين دپاره راځي لکه: "وَخِلْتُنِيْ لِيَ اسْمٌ".

"حَسِبَ" هم په معنى د "ظَنَّ" سره راځي لکه: "وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُوْدٌ" "يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ" او کله د يقين دپاره هم راځي لکه: شعر "حَسِبْتُ التُّقٰى وَالْجُوْدَ خَيْرَ تِجَارَةٍ". (جامع الدروس العربية جلد ۱ صفحه ۲۸)

شپږمه خبره:

افعال تصيير يا تحويل:

هغه افعال چي په معنٰى د "صَيَّرَ" سره راځي.

د افعال تصيير تعداد:

افعال تصيير اووه (۷) دانې دي: (۱) "صَيَّرَ، رَدَّ، تَرَکَ، تَخِذَ، اِتَّخَذَ، جَعَلَ، وَهَبَ" لکه: "وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا".

د افعال قلوب او افعال تصيير مشترک احکام:

د افعال تصيير د پاره درې حکمونه دي:

۱. اول حکم: يې اِعمال دئ يعني دوی عمل کوي په دوو مفعولو کي او اصل يې مبتداء و خبر وو او د دوی اصل حکم هم داغه دئ.

۲. دوهم حکم: يې الغاء عن العمل چي دوی لفظا و معنا عمل نه کوي بيا دوی په دوو شکلو سره راځي:

اول شکل: کله دِ مسند او مسند اليه په مينځ کي راځي لکه: "زَيْدٌ ظَنَنْتُ قَائِمٌ".

دوهم شکل: او کله په آخر کي راځي لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ ظَنَنْتُ".

۳. دريم حکم: يې تعليق يعني چي لفظًا يې عمل باطليږي لېکن معنًا پاته کيږي او دا تعليق هغه وخت راځي کله چي د دوی پر معمولاتو باندي لام ابتداء لام قسم، يا حرف نفي "اِنْ"

---

(۱) د "افعال التصيير" مثالونه اول "صَيَّرَ" دئ لکه: "صَيَّرْتُ الْعَدُوَّ صَدِيقًا". دوهم "رَدَّ" دئ لکه: قول د الله تعالى "وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا". دريم "تَرَکَ" دئ لکه: قول د الله تعالى "وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ". څلورم "تَخِذَ" دئ لکه: "تَخِذْتُکَ صَدِيقًا". پنځم "اِتَّخَذَ" دئ لکه: قول د الله تعالى "وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا"، شپږم "جَعَلَ" دئ لکه: "وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا". اووم "وَهَبَ" دئ لکه: "وَهَبَنِيَ اللهُ فِدَاءَ الْمُخْلِصِينَ" او دغه افعال په هغه وخت کي متعدي بدو مفعولين وي کله چي دوی په معنى د "صَيَّرَ" سره وي لېکن که چيري "رَدَّ" په معنى د "رَجَعَ" سره وي لکه: "رَدَدْتُهُ أَيْ رَجَعْتُهُ" يا "تَرَکَ" په معنى د "خَلَّى" سره وي لکه: "تَرَكْتُ الْجَهْلَ أَيْ خَلَّيْتُهُ" او يا "جَعَلَ" په معنى د "خَلَقَ" سره وي نو بيا به دوی متعدي و يوه مفعول ته وي او داغه رنګه "وَهَبَ" که چيري په معنى د "أَعْطَى" سره سي نو بيا د دې باب څخه نه وي که څه هم و دوه مفعولين ته نصب ورکوي لکه: "وَهَبْتُکَ فَرَسًا" لېکن فصيح "وَهَبْتُ لَکَ فَرَسًا" دئ.(جامع الدروس العربية ج ۱ ص ۳۵)

چي د قسم په جواب کي راځي داخل سوی وي لکه مثال: "عَلِمْتُ أزَيْدٌ عِنْدَکَ اَمْ عَمْرٌو، لِنَعْلَمَ أَيُّ الْحِزْبَيْنِ أَحْصَى لِمَا لَبِثُوا أَمَدًا، عَلِمْتُ مَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ، لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَؤُلَاءِ يَنْطِقُونَ، عَلِمْتُ لَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ، وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ".

اوومه خبره:

۳. دريم قسم متعدي و دوه مفعولو ته چي اقتصار يې پر يوه مفعول جائز نه وي هغه لکه: "اَفْعَالِ قُلُوْب او اَفْعَالِ تَصْيِيْر" چي بحث يې تېر سو.

۴. څلورم قسم متعدي و درې مفعولو ته: کم افعال چي متعدي په درې مفعول سره راځي: هغه اووه (۷) افعال دي (۱) "اَرٰی، اَعْلَمَ، اَنْبَأَ، نَبَّأَ، اَخْبَرَ، خَبَّرَ، حَدَّثَ". مثال يې لکه: "اَرٰی زَيْدٌ عَمْرًا خَالِدًا عَالِمًا".

فائده:

۱. د افعال قلوب څخه وروسته که چيري جمله وي نو هغه قائمقامه د دوو مفعولين وي.

۲. او د فعل متعدي و دغه ټولو مفعولاتو ته مفعول به ويل کيږي.

۳. د فعل متعدي دوهم مفعول نائب فاعل نسي جوړېدای د "حُسِبَ زَيْدٌ فَاضِلًا" پر ځای "حُسِبَ فَاضِلٌ زَيْدًا" ويل جائز نه دي.

۴. د "اَعْلَمَ" او د ده د هم معنٰی په متعدي افعال کي دريم مفعول نائب فاعل نسي جوړېدای او داغه رنګه مفعول له او مفعول معه هم نائب فاعل نسي جوړېدای باقي ټول مفاعيل جوړېدای سي لېکن په باب د "اَعْطَيْتُ" کي هر يو مفعول د نائب فاعل جوړېدو صلاحيت لري لکه: د "اُعْطِيَ زَيْدٌ دِرْهَمًا" پر ځای "اُعْطِيَ دِرْهَمٌ زَيْدًا" ويل هم جائز دي لېکن اول مفعول نائب فاعل جوړول بهتره دئ.

---

(۱) هغه افعال چي متعدي بدو مفعول وي د هغه مثالونه: "اَرٰی" لکه: "رَاَيْتُ سَعِيْدًا الْاَمْرَ وَاضِحًا". "عَلِمْتُ" لکه: "اَعْلَمْتُهُ اِيَّاهُ صَحِيْحًا". "اَنْبَأَ" لکه: "اَنْبَأْتُ خَلِيْلًا الْخَبَرَ وَاقِعًا". "نَبَّأَ" لکه: "نَبَّأْتُهُ اِيَّاهُ حَقًّا". "اَخْبَرَ" لکه: "اَخْبَرْتُهُ اِيَّاهُ حَقًّا". "خَبَّرَ" لکه: "خَبَّرْتُهُ اِيَّاهُ حَقًّا". "حَدَّثَ" لکه: "حَدَّثْتُهُ اِيَّاهُ حَقًّا". (جامع الدروس العربية)

جملے:

عنوان	خبر و انشاء مع الاقسام	مسند	مسندالیہ	اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت و بالحرف	لفظی و تقدیری	تبعی و غیر تبعی	اعراب المضارع	العامل قاصرہ
لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ	خبریہ فعلیہ	(عَلَى الْأَعْمَى) باعتبار متعلق	حَرَجٌ	۱. هُوَ	۳. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	(اَلْأَعْمَى) تقدیری (۱۳)، (حَرَجٌ) لفظی (۱)	غیر تبعی	+	(لَيْسَ) فعل ناقص
عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يَرْحَمَكُمْ	خبریہ فعلیہ	أَنْ يَرْحَمَكُمْ	رَبُّكُمْ	۳. كُمْ. هُوَ. كُمْ	۲. معرب	۵. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	(أَنْ يَرْحَمَكُمْ) حالت نصبی (۱) قسم	(عَسَى) فعل مقارب
طَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ	خبریہ فعلیہ	طَفِقَا	هُمَا	۳. هُمَا. هُمَا. هِمَا	۳. معرب	۶. مبنی	بالحرف و بالحرکت	لفظی (۱) قسم	تبعی و غیر تبعی	(يَخْصِفَانِ) حالت نصبی (۳) قسم	(طَفِقَا) فعل مقارب
كُونُوا أَنْصَارَ اللّٰهِ	انشائیہ فعلیہ	كُونُوا	أَنْتُمْ	۱. أَنْتُمْ	۲. معرب	۲. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	+	(كُونُوا) فعل ناقص
إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا	خبریہ اسمیہ	كَانَ الخ	اَلْبَاطِلَ	۲. هُوَ. هُوَ	۲. معرب	۴. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	+	(كَانَ) فعل ناقص
عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا	خبریہ فعلیہ	أَنْ يَبْعَثَكَ الخ	رَبُّكَ	۴. هُوَ. كَ. كَ. هُوَ	۳. معرب	۶. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	(يَبْعَثَكَ) حالت نصبی (۱) قسم	(عَسَى) فعل مقارب
مَا كَادُوا يَفْعَلُونَ	خبریہ فعلیہ	يَفْعَلُونَ	هُمْ	۲. هُمْ. هُمْ	۱. معرب	۴. مبنی	بالحرف	لفظی (۳) قسم	تبعی و غیر تبعی	(يَفْعَلُونَ) حالت نصبی (۳) قسم	(كَادُوا) فعل مقارب
وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَكِيمًا	خبریہ فعلیہ	عَلِيمًا حَكِيمًا	اَللّٰهُ	۲. هُوَ. هُوَ	۳. معرب	۴. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	+	(كَانَ) فعل ناقص
وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ	خبریہ شرطیہ	تَغْفِرْ	أَنْتَ	۲. أَنْتَ. نَا. أَنْتَ. نَا. نَحْنُ	۳. معرب	۱۳. مبنی	بالحرکت و بالحرف	لفظی (۱۰) قسم	تبعی غیر تبعی	(لَمْ تَغْفِرْ و تَرْحَمْ) حالت جزمی (۱) قسم	(لَنَكُونَنَّ) فعل ناقص
لَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ	خبریہ فعلیہ	أَبْرَحَ	أَنَا	۱. أَنَا	۲. معرب	۲. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	(لَنْ أَبْرَحَ) حالت نصبی (۱) قسم	(لَنْ أَبْرَحَ) فعل ناقص
أَصْبَحُوا نَادِمِينَ	خبریہ فعلیہ	نَادِمِينَ	هُمْ	هُمْ	۱. معرب	۳. مبنی	بالحرف	لفظی (۷) قسم	تبعی	+	(أَصْبَحُوا) فعل ناقص
مَا انْفَكَّ الْقَاضِي عَادِلًا	خبریہ فعلیہ	عَادِلًا	اَلْقَاضِي	۱. هُوَ	۲. معرب	۳. مبنی	بالحرکت	لفظی و تقدیری (۱.۱) قسم	تبعی غیر تبعی	+	(مَا انْفَكَّ) فعل ناقص
مَا زَالَ الْحَرُّ شَدِيدًا مُنْذُ شَهْرٍ	خبریہ فعلیہ	شَدِيدًا	اَلْحَرُّ	۱. هُوَ	۳. معرب	۴. مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر تبعی	+	(مَا زَالَ) فعل ناقص

عنوان	خبر و انشاء مع الاقسام	مسند	مسند الیه	اسم غیر متمکن	معرب	مبنی	بالحرکت و بالحرف	لفظی وتقدیری	متعدی و غیر متعدی	اعراب المضارع	افعال ناقصه
لَوْ كَانَ اللِّسَانُ مَحْفُوْظًا لَمْ يَكُنِ الْقَلْبُ مَجْرُوْحًا	خبریه شرطیه	مَحْفُوْظًا مَجْرُوْحًا	اَللِّسَانُ اَلْقَلْبُ	۲.هُوَ، هُوَ	۵.معرب	۵.مبنی	بالحرکت	لفظی (۱) قسم	غیر متعدی	لم یکن حالت جزمی قسم (۱)	(کَانَ) فعل ناقص
لَيْسَ شَيْئٌ اَكْرَمَ عَلَى اللهِ مِنَ الدُّعَاءِ	خبریه فعلیه	اَكْرَمَ عَلَى الْمُؤمِنِ الدُّعَاءِ	شَيْئٌ	۱.هُوَ	۴.معرب	۵.مبنی	بالحرکت	لفظی (۵.۱) قسم	غیر متعدی	+	(لَيْسَ) فعل ناقص
لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَ الْجَاهِلِيَّةِ	خبریه فعلیه	مِنَّا	مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَ الْجَاهِلِيَّةِ	۵.نَا، هُوَ، هُوَ، هُوَ، هُوَ	۵.معرب	۱۳.مبنی	بالحرکت	لفظی	غیر متعدی	+	(لَيْسَ) فعل ناقص

التمرين:

"لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ،، فَسُبْحَانَ اللهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ،، خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ،، فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ،، أَلَا إِلَى اللهِ تَصِيرُ الْأُمُورُ،، يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا،، أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ،، لَا أَبْرَحُ حَتَّى أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ،، فَمَا زَالَتْ تِلْكَ دَعْوَاهُمْ حَتَّى جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا خَامِدِينَ،، وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَى فَارِغًا".

بدانکه افعال ناقصه ہفده اند الخ:............................ الی قوله باب سوم در عمل اسماء عامله.

ترجمه:

پوه سه چي افعال ناقصه اولس (۱۷) دي "كَانَ، صَارَ، ظَلَّ، بَاتَ، اَصْبَحَ، اَضْحٰى، اَمْسٰى، عَادَ، آضَ، غَدَا، رَاحَ، مَازَالَ، مَاانْفَكَّ، مَابَرِحَ، مَافَتِئَ مَادَامَ، لَيْسَ" او دغه افعال ناقصه يکره په فاعل سره نه تاميږي بلکه و خبر ته محتاجه دي په دې سبب و دوی ته افعال ناقصه ويل کيږي او دوی پر جمله اسميه داخليږي او مسند اليه ته رفع ور کوي او مسند ته نصب ور کوي لکه: "كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا" او ومرفوع ته د "كَانَ" اسم ويل کيږي او منصوب ته د "كَانَ" خبر او باقي پر دوی باندي قياس کړه.

پوه سه! چي په دوی کي بعض افعال په بعض حالاتو کي صرف په فاعل سره پوره کيږي لکه: "كَانَ" بمعنى "حَصَلَ" او ده ته "كَانَ" تامه ويل کيږي او "كَانَ" زائده هم راځي.

فصل بدانکه افعال مقاربه چار است.

پوه سه! چي افعال مقاربه څلور دي: "عَسٰی، كَادَ، كَرُبَ، اَوْشَکَ". او دوی پر جمله اسمیه باندي داسي داخلیږي لکه: "كَانَ" فعل ناقص اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب ورکوي مګر فرق دا دئ چي د دې افعالو مضارع سره د "اَنْ" وي لکه: "عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ" یا بغیر "اَنْ" وي لکه: "عَسٰی زَیْدٌ یَخْرُجُ" او کېدای سي فعل مضارع سره د "اَنْ" د "عَسٰی" دپاره فاعل واقع سي او بیا و خبر ته ضرورت نسي پاته لکه: "عَسٰی اَنْ یَخْرُجَ زَیْدٌ" دئ په محل د رفع کي وي او د مصدر په معنٰی سره وي.

فصل بدانکه افعال مدح وذم چار است.

پوه سه! چي افعال مدح و ذم څلور دي: "نِعْمَ، حَبَّذَا" د مدح دپاره راځي او "بِئْسَ، سَاءَ" د ذم دپاره راځي او چي د فاعل څخه وروسته اسم راځي هغه ته مخصوص بالمدح یا مخصوص بالذم ویل کیږي او د ده دپاره شرط دا دئ چي فاعل به معرف باللام وي لکه: "نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ" یا د معرف باللام و طرفته مضاف وي لکه: "نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ" یا ضمیر مستتر ممیز په نکره منصوبه سره وي لکه: "نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ" د "نِعْمَ" فاعل "هُوَ" دئ چي په "نِعْمَ" کي پټ دئ او "رَجُلًا" منصوب دئ بنا بر تمیز ځکه "هُوَ" مبهم دئ او "نِعْمَ، حَبَّذَا" "حَبَّ" فعل مدح او "ذَا" یې فاعل دئ او "زَیْدٌ" مخصوص بالمدح وي او داغه رنګه "بِئْسَ الرَّجُلُ زَیْدٌ" او "سَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو".

فصل بدانکه افعال تعجب دو صیغه از ہر مصدر ثلاثی مجرد باشد.

پوه سه! چي افعال تعجب د هر مصدر ثلاثي مجرد څخه دوې صیغې راځي اول "مَا اَفْعَلَهٗ" لکه: "مَا اَحْسَنَ زَیْدًا" زید څومره زیات ښائسته دئ د دې اصل عبارت دا دئ: "اَیُّ شَیْئٍ اَحْسَنَ زَیْدًا" "مَا" د "اَیُّ شَیْئٍ" په معنٰی سره دئ په محل د رفع کي دئ بنا بر ابتدائیت او "اَحْسَنَ" هم په محل د رفع کي دئ بنا بر خبریت او د "اَحْسَنَ" فاعل "هُوَ" دئ چي په ده کي پټ دئ او "زَیْدًا" مفعول به دئ دوهم "اَفْعِلْ بِهٖ" لکه: "اَحْسِنْ بِزَیْدٍ" "اَحْسِنْ" صیغه د امر ده په معنٰی د "اَحْسَنَ" سره د دې اصلي عبارت دا دئ: "اَحْسَنَ زَیْدٌ" یعني "صَارَ ذَا حُسْنٍ" او باء زائده ده.

الدرس الثامن والعشرون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د فعل قاصر اقسام:
مخکي د فعل په تقسيم کي فعل تام و فعل قاصر تېر سوه اوس په دې سبق کي د فعل قاصر اقسام بيانيږي فعل قاصر پر دوه قسمه دئ:
۱. افعال ناقصه.
۲. افعال مقاربه.
که يې چيري د خبر دپاره مضارع وانی شرط وو افعال مقاربه دي او که نه وو شرط افعال ناقصه دي.
د افعال ناقصه (۱) تعريف:
افعال ناقصه هغه افعال دي چي خپل فاعل لره د خپل مصدر څخه علاوه د يو بل صفت ثابتولو دپاره وضع سوي وي لکه: "كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا" د قيام صفتيت زيد لره ثابته وي نه د "كَانَ" مصدر چي "كَوْنٌ" دئ.
د افعال ناقصه تعداد:
افعال ناقصه څلورويشت (۲۴) دانې دي لېکن په دې کي ديارلس (۱۳) افعال ناقصه دي هغه دا دي: "كَانَ، صَارَ، ظَلَّ، بَاتَ، اَصْبَحَ، اَضْحَى، اَمْسَى، لَيْسَ، مَازَالَ، مَاانْفَكَّ، مَابَرِحَ، مَافَتِئَ، مَادَامَ".
او يوولس (۱۱) دانې يې ملحقات دي هغه دا دي: "آضَ، رَجَعَ، اِسْتَحَالَ، عَادَ، حَارَ، اِرْتَدَّ، تَحَوَّلَ، غَدَا، رَاحَ، اِنْقَلَبَ، تَبَدَّلَ" دا ملحقات ټول په معنٰی د "صَارَ" سره دي.
د افعال ناقصه عمل:

---

(۱) د افعال ناقصه وجه د تسميه: "سُمِّيَتْ هٰذِهِ الْاَفْعَالُ نَاقِصَةً لِاَنَّهَا لَا يَتِمُّ بِهَا مَعَ مَرْفُوْعَاتِهَا كَلَامٌ تَامٌّ بَلْ لَابُدَّ مِنْ ذِكْرِ الْمَنْصُوْبِ لِيَتِمَّ الْكَلَامُ فَمَنْصُوْبُهَا لَيْسَ فُضْلَةً لِاَنَّهُ خَبَرٌ دَائِمًا نُصِبَ تَشْبِيْهًا بِالْفُضْلَةِ".
ضابطه: هر هغه فعل تام چي متضمن وي معنٰی د فعل ناقص لره هغه به عمل د فعل ناقص کوي.

افعال ناقصه پر جمله اسمیه باندي داخلیږي مبتداء ته رفع او خبر ته نصب ور کوي لکه: "كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا".

افعال ناقصه په اعتبار د شرائطو د عمل:

افعال ناقصه په اعتبار د شرائطو د عمل سره پر درې قسمه دي:

۱. اول هغه دي چي بلا څه شرطه عمل کوي هغه اته (۸) دانې دي: "كَانَ، صَارَ، ظَلَّ، بَاتَ، اَصْبَحَ، اَضْحٰى، اَمْسٰى، لَيْسَ".

۲. دوهم هغه دي چي د هغو د عمل دپاره شرط دا دئ چي د دوی څخه مخکي به نهي، نفي (۱) او یا دعاء راغلې وي هغه څلور دانې دي "مَازَالَ، مَاانْفَكَ، مَابَرِحَ، مَافَتِئَ"، لکه: "لَازِلْتَ بِخَيْرٍ، وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ، لَنْ نَبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ".

۳. دریم هغه دي چي د هغه د عمل دپاره شرط دا دئ چي د ده څخه مخکي به ما مصدریه (۲) ظرفیه وي لکه: "مَادَامَ (۳) زَيْدٌ جَالِسًا".

افعال ناقصه (۴) په اعتبار د تصرف او عدم تصرف سره:

---

(۱) په نفي کي تعمیم دئ خواه که مذکوره وي او که مقدره وي لکه: "تَاللّٰهِ تَفْتَأُ تَذْكُرُ يُوسُفَ اَیْ لَاتَفْتَأُ" خواه که حرف نفي وي او که فعل نفي وي لکه: "لَسْتَ تَبْرَحُ مُجْتَهِدًا" او که اسم نفي وي لکه: "زُهَيْرٌ غَيْرُ مُنْفَكٍّ قَائِمًا بِالْوَاجِبِ". (جامع الدروس العربیة جلد ۲ صفحه ۱۹۴)

(۲) ځکه "مَا" مصدریه ظرفیه خپل مابعد په تاویل د مصدر سره اړوي د ماقبل جمله دپاره ظرف واقع کیږي.

(۳) د "مَادَامَ" په شروع کي چي کم "مَا" وي و دې ته "مَا" مصدریه حینیه ویل کیږي حینیه ځکه ورته ویل کیږي چي د "حِيْنَ" معنی وخت او دی هم د وخت په معنی سره راځي. او مصدریه ځکه ورته ویل کیږي چي دی خپل مابعد په تاویل د مصدر سره اړوي او "مَادَامَ" همېشه د دوو کلامو په مینځ کي راځي او دا خبره ښکاره کوي چي تر کمه وخته پوري د ده د اسم دپاره خبر ثابت دئ تر هغه وخته پوري به د ده د مسند الیه دپاره د ده د ماقبل حکم هم ثابت وي لکه: "زَيْدٌ جَالِسٌ مَادَامَ الْاَمِيْرُ جَالِسًا" تر څو پوري چي د امیر دپاره جلوس ثابت وي تر هغه وخته پوري به د زید دپاره هم جلوس ثابت وي. (تنویر)

(۴) افعال ناقصه پر درې قسمه دي:

۱. اول قسم: بعض هغه دي چي د هغه په شروع کي حرف نفي نه وي نو د هغو خبر پر اسم باندي مقدم کېدای سي بلکه د دوی خبر پر دوی هم مقدم کېدای سي لکه: "وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ، مُضِيئَةً كَانَتِ السَّمَاءُ".

۲. دوهم قسم: بعض هغه اسماء دي چي د هغه په شروع کي ما نافیه وي لکه: "مَازَالَ مَابَرِحَ" و غیره نو د دوی خبر پر اسم نسي مقدم کېدای ځکه نفي د صدارت تقاضا کوي د تقدیم په صورت کي یې صدارت باطلیږي.

افعال ناقصه په اعتبار د تصرف او عدم تصرف سره پر درې قسمه دي:

۱. اول قسم هغه دي چي دوی هيڅکله متصرف نه واقع کيږي او د دوی څخه مضارع و امر نه راځي هغه دوه دانې دي: "لَيْسَ، دَامَ".

۲. دوهم قسم هغه دي چي دوی متصرف تام واقع کيږي او د دوی څخه افعال ثلاثه: ماضي، مضارع، امر درې سره راځي هغه اووه دانې دي: "كَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰى، اَضْحٰى، ظَلَّ، بَاتَ".

۳. دريم قسم هغه دي چي دوی متصرف ناقصه واقع کيږي يعني د دوی څخه صرف ماضي، او مَضارع راځي نه بل څوک، هغه څلور دانې دي، "مَازَالَ، مَاانْفَکَ، مَافَتِیَ، مَابَرِحَ".

دوهمه خبره:

د افعال ناقصه معناګاني:

"كَانَ" (۱):

د "كَانَ" معنٰی (وو) بيا "كَانَ" پر درې قسمه راځي: ناقصه، تامه، زائده.

۱. "كَانَ" ناقصه: چي دی دلالت کوي پر ثبوت د خبر دپاره د اسم په زمانه ماضي کي او ثبوت د خبر کله دائمي (۲) وي لکه: "وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَكِيمًا" او کله وختي (يعني غير دائمي) وي لکه: "كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا".

---

۳. دريم قسم: "لَيْسَ" دئ په "لَيْسَ" کي اختلاف دئ عند الاكثر خبر يې پر اسم نسي مقدم کېدای او داغه رنګه "لَيْسَ" حرف نفي هم راځي او جامد هم راځي صرف ماضي يې مستعمله ده.

(۱) کله کله اسم د "كَانَ" پټ وي او خبر يې هم حذف سوی وي لکه: "هَلْ اَصْبَحَ الرَّاكِبُ مُسَافِرًا" په جواب کي يې صرف "اَصْبَحَ" راځي "اَیْ اَصْبَحَ هُوَ مُسَافِرًا". (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۱۹۵)

او د "كَانَ" خبر په دوو صورتو کي فعل ماضي راځي:

۱. اول صورت: کله چي د "كَانَ" د خبر په شروع کي "قَدْ" راغلی وي لکه: "كَانَ زَيْدٌ قَدْ جَلَسَ".

۲. دوهم صورت: کله چي د "كَانَ" څخه مخکي حرف شرط راغلی وي لکه: "وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ" کله کله "كَانَ" په لفظو کي حذف کيږي او د ده عمل باقي پاته کيږي لکه: "اِنْ خَيْرًا فَخَيْرٌ" په اصل کي "اِنْ كَانَ عَمَلُهُ خَيْرًا فَجَزَائُهُ خَيْرٌ".

(۲) يعني خبر يې د اسم څخه نسي جلا کېدای او کله غير دائمي وي يعني خبر يې د اسم څخه جلا کېدای سي.

۲. "كَانَ" تامه (۱) چي صرف په اسم سره پوره كيږي خبر ته ضرورت نه لري او بيا دى په دې وخت كې په معنٰى د "وَجَدَ، حَصَلَ، ثَبَتَ" سره راځي لكه: "قَدْ كَانَ مَطَرٌ اَىْ وَجَدَ، حَصَلَ، مَطَرٌ" "وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ".

۳. "كَانَ" زائده (۲) هغه دئ چي دى غير عامل وي او معنٰى زائده هم نه ور كوي صرف د تحسين كلام دپاره راځي لكه: "قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا". "اِنَّ مِنْ اَفْضَلِهِمْ كَانَ زَيْدٌ".

"صَارَ":

"صَارَ" معنٰى (سو) لكه: "صَارَ زَيْدٌ غَنِيًّا" زيد غني سو.

"ظَلَّ":

---

(۱) كله كله دغه افعالِ ناقصه تامه راځي خبر ته ضرورت نه لري كه چيري "كَانَ" په معنى د "حَصَلَ" سره سي "اَمْسٰى" په معنى د "دَخَلَ فِي الْمَسَاءِ" سي او "اَصْبَحَ" په معنى د "دَخَلَ فِي الصَّبَاحِ" سي "اَضْحٰى" په معنى د "دَخَلَ فِي الضُّحٰى" سي "ظَلَّ" په معنى د "دَامَ" او "اِسْتَمَرَّ" سي او "بَاتَ" په معنى د "نَزَلَ لَيْلًا" يا "اَدْرَكَهُ اللَّيْلُ" يا "دَخَلَ مَبِيْتَهُ" سره سي "صَارَ" په معنى د "اِنْتَقَلَ" سره سي، يا د "ضَمَّ اَمَالَ"، يا د "قَطَعَ" و "فَصَلَ" سره سي، "دَامَ" په معنى د "اَبْقٰى اِسْتَمَرَّ" سره سي "اَنْفَكَ" په معنى د "اِنْفَصَلَ، اِنْحَلَّ" سره سي "بَرِحَ" په معنى د "ذَهَبَ" سره سي يا د "فَارَقَ" نو په دې ټولو صورتو كي دغه افعال تامه جوړيږي صرف په فاعل سره پوره كيږي خبر ته ضرورت نه لري لكه: "إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ،. وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ،. خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ،. أَرْبَعَةً مِنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ،. فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ". (جامع الدروس العربية)

(۲) "كَانَ" زائده تقريبًا په اوو (۷) ځايو كي راځي:

۱. اول ځاى: د مبتداء او خبر په مينځ كي لكه: "زَيْدٌ كَانَ قَائِمٌ".

۲. دوهم ځاى: په مينځ د موصوف او صفت كي لكه: "رَجُلٌ كَانَ عَالِمٌ".

۳. دريم ځاى: په مينځ د فعل او فاعل كي لكه: "ضَرَبَ كَانَ زَيْدٌ".

۴. څلورم ځاى: په مينځ د معطوف او معطوف عليه كي لكه: "جَاءَ زَيْدٌ كَانَ وَعَمْرٌو".

۵. پنځم ځاى: په مينځ د "مَا" او فعل تعجب كي لكه: "مَاكَانَ اَحْسَنَهُ".

۶. شپږم ځاى: په مينځ د "بِئْسَ" او د ده د فاعل كي لكه: "بِئْسَ كَانَ زَيْدٌ".

۷. اووم ځاى: په مينځ كي د "نِعْمَ" او د ده د فعل كي لكه: "نِعْمَ كَانَ زَيْدٌ". (شرح اشموني)

"ظَلَّ" معنٰی (ټوله ورځ وه) لکه: "ظَلَّ زَيْدٌ سَائِرًا" (زيد ټوله ورځ ګرځېدئ) او دی کله کله په معنٰی د "صَارَ" سره هم راځي.

"بَاتَ":

د "بَاتَ" معنٰی (ټوله شپه بيده وه) يا د (شپې په وخت کي سو) لکه: "بَاتَ زَيْدٌ فَقِيْرًا" (زيد د فقيری په حالت کي شپه تېره کړه، يا د شپې فقير سو مال يې هلاک سو).

"اَصْبَحَ":

"اَصْبَحَ" معنٰی (د سهار په وخت کي سو) لکه: "اَصْبَحَ زَيْدٌ قَائِمًا" (زيد د سهار په وخت کي ولاړ سو او دی هم کله په معنٰی د "صَارَ" سره راځي).

"اَمْسٰی":

د "اَمْسٰی" معنٰی (د ماښام په وخت کي سو) لکه: "اَمْسٰی زَيْدٌ عَالِمًا" (زيد د ماښام په وخت کي عالم سو) او کله په معنٰی د "صَارَ" سره هم راځي.

"اَضْحٰی":

د "اَضْحٰی" معنٰی (د څاښت په وخت کي سو) لکه: "اَضْحٰی زَيْدٌ طَالِبًا" (زيد د څاښت په وخت کي طالب سو).

"لَيْسَ":

"لَيْسَ" د نفي حالي دپاره راځي لکه: "لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا" (زيد اوس نه دئ ولاړ) لېکن که چيري د "اَمْسِ" يا د "غَدًا" قيد ور سره وو بيا دی د ماضي او استقبال معنٰی هم ور کوي لکه: "لَيْسَ زَيْدٌ مَأْمُوْرًا بِالْاَمْسِ، يَا غَدًا".

"مَازَالَ، مَاانْفَکَّ، مَابَرِحَ، مَافَتِئَ" دا ټوله په معنٰی د جلاکېدو او زائلېدو سره راځي يعني په دوی کي د نفي معنٰی موجوده ده بيا د دوی په شروع کي مانافيه سته نو د دوی معنٰی هم د نفي ده او د ما نافيه معنٰی هم د نفي ده نو نفي چي پر نفي داخلي سي اثبات فائده کوي نو اوس د دوی معنٰی ده (همېشه وو) لکه: "مَازَالَ زَيْدٌ غَنِيًّا" (زيد د همېشه څخه غني وو) چي د کم وخت څخه اسم خبر قبول کړی وي د هغه وخته څخه خبر د اسم دپاره د همېشه څخه ثابت وي.

"مَادَامَ":

د "مَادَامَ" معنٰی (چي تر څو پوري وي) لکه: "اِجْلِسْ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا" (ته کښېنه چي تر څو پوري زيد ناست وي) او "وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا" (تر څو چي زه ژوندی يم).

"عَادَ، آضَ، غَدَا، رَاحَ" دا ټول په معنٰی د "صَارَ" سره دي لکه: "عَادَ زَيْدٌ غَنِيًّا" (زيد مالداره سو).

دريمه خبره:

افعال مقاربه:

دوهم قسم د افعال قاصره څخه افعال مقاربه دي:

د افعال مقاربه تعريف:

افعال مقاربه هغه افعال دي چي دوی د دې خبري ښکاره کولو دپاره وضع سوي وي چي د خبر حصول فاعل لره قريب وي يعني د يو فعل قريب والی ښکاره کوي لکه: "كَادَ زَيْدٌ اَنْ يَأْكُلَ الدَّجَاجَةَ" (قريبه ده چي زيد به چرګه وخوري).

د افعال مقاربه اقسام په اعتبار د معنٰی سره:

افعال مقاربه په اعتبار د معنٰی سره پر درې قسمه دي:

۱. اول قسم: هغه دي چي دلالت کوي پر قرب [۱] د خبر هغه درې دانې دي: "كَادَ، كَرُبَ، أَوْشَكَ".

([۱]) د فعل قريب والی په درې شکلو سره راځي:

۱. اول شکل: قربت په اعتبار د اميد سره وي لکه: "عَسٰى زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ" اميد دئ چي زيد وتلو ته نژدې دئ.

۲. دوهم شکل: قربت په اعتبار د حصول سره وي لکه: "كَادَ زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ" زيد يقينا وتلو ته قريب دئ.

۳. دريم شکل: قربت په اعتبار د شروع سره وي لکه: "كَرُبَ زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ" زيد يقينا وتل شروع کړل، دغه افعال درې سره په معنی د "قَرُبَ" سره راځي "أَوْشَكَ" په معنی د "أَسْرَعَ" سره راځي "طَفِقَ، جَعَلَ، اَخَذَ" دا درې سره د شروع په معنی سره راځي: د "كَادَ" مثال لکه: "كَادَ الْمَطَرُ يَهْطِلُ. اَوْشَكَ الْوَقْتُ اَنْ يَنْتَهِيَ. كَرُبَ الصُّبْحُ اَنْ يَنْبَلِجَ". (نصر الخبير و شرح التصريح)

۲. دوهم قسم: "افعال الرجاء" چي دلالت کوي پر اميد د وقوع د خبر يعني متکلم ته د خبر د حصول توقع او اميد وي نه يقين هغه هم درې دانې دي: "عَسٰى، حَرٰى، اِخْلَوْلَقَ" او دوی د انشاء د قبيل څخه دي باقي د اخبار د قبيل څخه دي.

۳. دريم قسم: "افعال الشروع" چي دلالت کوي پر شروع في العمل باندي.

او په دوی کي د حصول د خبر يقين وي لېکن متکلم دا ښکاره کول غواړي چي فاعل د تحصيل خبر دپاره کوشش شروع کړي دي د دې دپاره څلور افعال دي: "اَخَذَ، طَفِقَ، جَعَلَ، عَلَقَ" او هغه افعال چي د دوی په معنٰی سره راځي هغه لکه: "اَنْشَاَ، هَبَّ، بَدَاَ، اِبْتَدَا، قَامَ، اِنْبَرٰی".

څلورمه خبره:

د افعال مقاربه (۱) د خبر (۲) اقسام په اعتبار د اقتران د "اَنْ" او عدم اقتران د "اَنْ" سره پر څلور قسمه دي:

۱. اول قسم: چي پر خبر باندي يې "اَنْ" راوړل واجب وي هغه دوه دانې دي: "حَرٰى، اِخْلَوْلَقَ".

۲. دوهم قسم: چي پر خبر باندي يې "اَنْ" راوړل غالبه وي هغه هم دوه دي: "عَسٰى، اَوْشَکَ".

---

(۱) دا ټول افعال جامد او غير متصرف دي صرف ماضي يې استعماليږي لېکن د "اَوْشَکَ" او د "کَادَ" مضارع هم مستعمله ده لکه: "يَکَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ.. يُوْشَکُ اَنْ يَّاْتِيَنِي رَسُوْلُ رَبِّي".

(۲) په خبر د "کَادَ" او اخواتو کي درې شرطونه دي:

اول شرط: چي د ده خبر به فعل مضارع وي خواه که مقترنه په "اَنْ" سره وي لکه: "اَوْشَکَ النَّهَارُ اَنْ يَنْقَضِيَ" يا بغير "اَنْ" وي لکه: "کَادَ اللَّيْلُ يَنْقَضِيْ" "لَا يَکَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا.. وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ" او د دوی خبر ماضي او جمله اسميه نسي واقع کېدای.

دوهم شرط: چي د دوی خبر به تر دوی وروسته وي.

دريم شرط: چي په خبر د "حَرٰى" او "اِخْلَوْلَقَ" کي دا دئ چي مقترن به په "اَنْ" سره وي. (المقاصد النحوية و جامع الدروس العربية)

۳. دريم قسم: چې پر خبر باندې يې "اَنْ" نه راوړل واجب وي هغه څلور ذي: "اَخَذَ، طَفِقَ، جَعَلَ، عَلَقَ".

۴. څلورم قسم: چې پر خبر باندې يې "اَنْ" نه راوړل غالبه وي هغه دوه دانې دي: "كَادَ، كَرُبَ".

د افعال مقاربه عمل:

افعال مقاربه د افعال ناقصه په شان پر جمله اسميه باندې داخليږي اسم ته رفع او خبر ته نصب ور كوي.

د افعال مقاربه تراكيب:

په افعال مقاربه كې درې تركيبونه كيږي:

۱. اول تركيب: "عَسٰى اَنْ يَخْرُجَ زَيْدٌ" "عَسٰى" فعل مقارب "اَنْ يَخْرُجَ زَيْدٌ" جمله بتاويل مصدر سره فاعل دپاره د "عَسٰى" دئ "عَسٰى" سره د خپل فاعله جمله فعليه خبريه ده.

۲. دوهم تركيب: "عَسٰى" فعل مقارب "اَنْ يَخْرُجَ" فعل "هُوَ" ضمير مستتر يې فاعل دئ فعل سره د خپل فاعله په تاويل د مصدر سره خبر مقدم "زَيْدٌ" اسم مؤخر "عَسٰى" سره د اسم وخبره جمله انشائيه فعليه ده.

۳. دريم تركيب: "عَسٰى" فعل مقارب "هُوَ" ضمير مستتر په فعل مقارب كې هغه يې اسم دئ "اَنْ" مصدريه "يَخْرُجَ" فعل "زَيْدٌ" يې فاعل فعل سره د خپل فاعله په تاويل د مصدر سره منصوب محلا خبر دپاره د "عَسٰى" دئ "عَسٰى" سره د اسم وخبره جمله فعليه انشائيه ده. او مشهوره دريم تركيب دئ.

فائده:

كله كله په "عَسٰى" پورې ضمير متصل سي لكه: "عَسَاكَ" نو بيا د ده په تركيب كې اختلاف دئ د امام سبويه په نزد باندې "عَسٰى" فعل نه دئ بلكه حرف دئ د "لَعَلَّ" په شان دئ ناصب اسم رافع خبر دئ د امام مبرد په نزد باندې "عَسٰى" فعل دئ لېكن و اسم ته يې د خبر او خبر ته يې د اسم اعراب ور كړى دئ.

پنځمه خبره:

افعال مدح و ذم (۱):

مصنف رحمه الله شروع و کړه په هغه افعال باندي چي هغه د انشاء خاص د پاره وضع سوي دي بعض خاص د انشاء د مدح دپاره وي بعض خاص د انشاء د ذم دپاره وي.

د افعال مدح و ذم تعريف:

افعال مدح و ذم هغه افعال دي چي دوی د انشاء د مدح يا د ذم دپاره وضع سوی وي يعني په دوی سره تعريف يا بدوالی بيانيږي لکه: "نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ، بِئْسَ الْمِهَادُ جَهَنَّمَ".

د مخصوص بالمدح تعريف:

مخصوص بالمدح هغه اسم دئ چي د ده مدح بيانول مقصود وي او دی تر فعل مدح وروسته واقع سوی وي لکه: "زَيْدٌ" په "نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ" کي.

د مخصوص بالذم تعريف:

مخصوص بالذم هغه اسم دئ چي د ده ذم بيانول مقصود وي او دی تر فعل ذم وروسته واقع سوی وي لکه: "زَيْدٌ" په "بِئْسَ الرَّجُلُ زَيْدٌ" کي.

د افعال مدح و ذم تعداد:

افعال مدح و ذم څلور داني دي دوه د مدح دپاره دي: "نِعْمَ، حَبَّذَا" دوه د ذم دپاره دي: "بِئْسَ، سَاءَ".

د افعال مدح و ذم عمل:

دغه افعال و خپل مابعد ته بناء بر فاعليت رفع ور کوي او در فاعل وروسته چي کم اسم راځي او د هغه مدح يا ذم بيانول مقصود وي نو هغه ته مخصوص بالمدح يا مخصوص (۲) بالذم ويل کيږي.

---

(۱) دا څلور سره افعال غير متصرف دي د دوی صرف ماضي معلوم مستعمله ده او دوی د مصدريت د معنی څخه او داغه رنګه د زمانه څخه خالي وي د انشاء په معنی کي استعماليږي چونکه دوی غير متصرف جامد دئ نو ځکه پر دوی باندي حرف جر داخليدای سي لکه: "نِعْمَ السَّيْرُ عَلَى بِئْسَ الْعَيْرِ" په تاويل سره د "نِعْمَ السَّيْرُ عَلَى عَيْرٍ مَقُوْلٍ فِي حَقِّهِ بِئْسَ الْعَيْرُ".

(۲) مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم کله کله د قرينه په وجه حذف کيږي لکه: "نِعْمَ النَّصِيْرُ اَیْ اَللّٰهُ" يا "هُوَ" دلته محذوف دئ چه مخصوص بالمدح دئ. داغه رنګه "نِعْمَ الثَّوَابُ اَیْ اَلْجَنَّةُ" مخصوص بالمدح محذوف دئ. "نِعْمَ الْعَبْدُ اَیْ اَيُّوْبُ" مخصوص بالمدح محذوف دئ او کله کله مخصوص بالمدح يا مخصوص بالذم مقدم کيږي هم لکه: "اَبُوْبَكْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ".

د افعال مدح و ذم د استعمال شرائط:

د افعال مدح و ذم د استعمال دپاره څلور شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: د دوی فاعل به معرف باللام وي لکه: "نِعْمَ الْعَبْدُ، نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې يا به و معرف باللام ته مضاف وي لکه: "نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ ... فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ".

۳. درېم شرط يې دا دئ: يا به د ده فاعل ضمير مستتر وي چې تميز يې نکره راغلی وي لکه: "نِعْمَ رَجُلًا زَيْدٌ، بِئْسَ لِلظَّالِمِينَ بَدَلًا".

۴. څلورم شرط يې دا دئ: يا به د ده فاعل لفظ د "مَا" په معنٰی د "اَلشَّيْئُ" سره وي او فاعل د "نِعْمَ" وئ لکه: "فَنِعِمَّا هِيَ".

شپږمه خبره:

"حَبَّذَا" د دې شرائطو څخه مستثنی دئ ځکه د هغه فاعل همېشه "ذَا" وي.

د "حَبَّذَا" ترکيب:

"حَبَّ" فعل مدح "ذَا" يې فاعل دئ "زَيْدٌ" مخصوص بالمدح دئ جمله انشائيه ده.

د افعال مدح و ذم ترکيب په اعتبار د الف لام د "اَلرَّجُلُ" سره:

که چيري په "نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ" کې د "اَلرَّجُلُ" الف لام د عهد خارجي دپاره سي او د "اَلرَّجُلُ" څخه مراد معين "زَيْدٌ" سي نو بيا يې دا ترکيب متعين دئ "نِعْمَ" فعل مدح "اَلرَّجُلُ" فاعل فعل سره د خپل فاعله خبر مقدم "زَيْدٌ" مخصوص بالمدح مبتداء مؤخره جمله انشائيه ټوله به يوه جمله سي

ليکن که چيري د "اَلرَّجُلُ":

۱. الف لام د استغراق دپاره سي او ټولو لره شامل سي.

ضابطه: هر فعل ثلاثي چې د تعجب صلاحيت لري او د ده استعمال پر وزن د "فَعُلَ" يا اصالةً جائز وي لکه: "كَرُمَ، لَؤُمَ" يا تحويلا جائز وي لکه: "ضَرُبَ فَهُمَ" څخه "ضَرَبَ فَهِمَ" ويل نو دوی د مدح و ذم د معنی حاصلولو دپاره دوی د فعل مدح و ذم قائمقامه جوړېدای سي لکه: "كَرُمَ الْفَتٰى زُهَيْرٌ، لَؤُمَ الْخَائِنُ فُلَانٌ، خَبُثَ الرَّجُلُ زَيْدٌ". (جامع الدروس العربية جلد ۱ صفحه ۶۷)

۲. یا لام د جنس سي لېکن په خارج کې مصداق فرد واحد سي.
۳. یا الف لام د عهد ذهني دپاره سي او د ابهام تعین یې په مخصوص بالمدح یا مخصوص بالذم سره وسي نو بیا یې یو ترکیب هغه دئ چي مخکي تېر سو.

دوهم ترکیب: "نِعْمَ" فعل مدح "اَلرَّجُلُ" فعل و فاعل جلا جمله انشائیه "زَیْدٌ" خبر دئ د مبتداء محذوفي دپاره چي "هُوَ" دئ دا جلا جمله ده.

دریم ترکیب: "نِعْمَ" فعل مدح "اَلرَّجُلُ" مبین "زَیْدٌ" عطف بیان مبین سره د خپل عطف بیان دا به فاعل د "نِعْمَ" سي جمله فعلیه انشائیه.

څلورم ترکیب: "نِعْمَ الرَّجُلُ" فعل و فاعل جمله انشائیه "زَیْدٌ" ممدوح مبتداء ده خبر یې محذوف دئ دا جلا جمله ده.

په دې ټولو کې اول ترکیب مشهور دئ.

اوومه خبره:

افعال تعجب:

د فعل تعجب تعریف:

فعل تعجب هغه فعل دئ چي د انشاء تعجب دپاره وضع سوی وي لکه: "مَا اَحْسَنَهُ وَ اَحْسِنْ بِهٖ".

فائده:

که څه هم د تعجب د معنٰی دپاره ډیري کلمې استعمالیږي لکه: "کَیْفَ تَکْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا، سُبْحَانَ اللّٰهِ اِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا یَنْجُسُ حَیًّا وَ مَیِّتًا، وَلِلّٰهِ دَرُّهٗ فَارِسًا". لېکن د ثلاثي مجرد څخه د تعجب دپاره دوې صیغې وضع سوي دي هغه "مَا اَفْعَلَهٗ وَ اَفْعِلْ بِهٖ" دي. په دې شرط چي د لون او د عیب د معنٰی څخه به خالي وي ځکه فعل تعجب د غیر ثلاثي مجرد او د ثلاثي مجرد د لون او د عیب څخه په دې طریقه راځي چي د صیغه په شروع کې به د "اَشَدُّ" یا د "اَکْثَرُ" یا د "اَقْوٰی" لفظ یا د دې په شان بله د اسم تفضیل صیغه په شروع کې راوړل سي او وروسته به د داغه باب مصدر بطور تمیز راوړل سي لکه: "مَا اَشَدَّ سِوَادَ عَیْنِهٖ مَا اَشَدَّ اِیْمَانَهٗ".

د فعل تعجب د دا دوو صیغو شرائط:

د فعل تعجب د دا دوو صیغو دپاره نه (۹) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې دوی به فعل وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې ثلاثي مجرد به وي.

۳. دريم شرط يې دا دئ: چې متصرف به وي.

۴. څلورم شرط يې دا دئ: چې معنٰی به يې قابله د تفاضل وي.

۵. پنځم شرط يې دا دئ: مبني للمفعول به نه وي.

۶. شپږم شرط يې دا دئ: تام به وي.

۷. اووم شرط يې دا دئ: مثبت به وي.

۸. اتم شرط يې دا دئ: چې صفت به يې پر وزن د "اَفْعَلُ" او د "فَعْلَاءُ" نه وي.

۹. نهم شرط يې دا دئ: چې د لون او د عيب د معنٰی څخه به خالي وي.

د "مَا اَفْعَلَهُ" (۱) ترکيب:

په "مَا" کې اتفاق دئ چې اسم دئ مبتداء لېکن د امام سبويه په نزد باندې "مَا" موصوفه په معنٰی د "شَيْئٌ" سره نکره تامه مبتداء ده "اَیُّ شَيْئٍ عَظِيْمٍ اَفْعَلَ زَيْدًا". يعني د تنوين عظيم په وجه په دې کې تخصيص راغلی دئ "اَحْسَنَ زَيْدًا" فعل او فاعل او مفعول خبر د "مَا" دپاره دئ.

او د امام فراء په نزد باندې "مَا" استفهاميه په معنٰی د "اَیُّ شَيْئٍ" سره دئ.

"اَیُّ شَيْئٍ اَفْعَلَ زَيْدًا":

او د امام اخفش په نزد باندې "مَا" موصوله دئ په معنٰی د "اَلَّذِيْ" سره "اَیُ اَلَّذِيْ اَفْعَلَ زَيْدًا" "شَيْئٌ عَظِيْمٌ" يې خبر محذوف دئ.

د "اَفْعِلْ بِهٖ" (۱) ترکيب:

---

(۱) د "مَا اَفْعَلَهُ" متصل متعجب منه به منصوب بنا بر مفعوليت وي لکه: "مَا اَحْسَنَ زَيْدًا" او په "اَفْعَلُ" کې اختلاف دئ د امام کسائي او بصريين په نزد باندې دی فعل دئ ځکه کله چې د ده په آخر کې ياء د متکلم راسي نو بيا نون وقايه راوړل کيږي لکه: "مَا اَفْقَرَنِيْ اِلَى رَحْمَةِ اللهِ" او د کوفيين په نزد باندې "اَفْعَلُ" اسم دئ ځکه د ده څخه تصغير هم راځي لکه: "مَا اُحَيْسِنَهُ". (تنوير)

د "اَفْعِلْ بِهٖ" تقدير "اَحْسِنْ بِزَيْدٍ اَىْ صَارَ ذَا حُسْنٍ" "اَحْسِنْ" صيغه د امر په معنٰى د "اَحْسَنَ" فعل ماضي سره "بَا" زائده "زَيْدٌ" فاعل د "اَحْسَنَ" دئ فعل سره د خپل فاعله جمله انشائيه مُفَسَّرْ "اَىْ" حرف تفسير "صَارَ" فعل ناقص "هُوَ" ضمير مستتر اسم د "صَارَ" "ذَا حُسْنٍ" مضاف و مضاف اليه خبر د "صَارَ" "صَارَ" سره د اسمِ و خبره مُفَسِّرْ، مُفَسَّرْ سره د مُفَسِّره جمله تفسيريه.

جملې:

عنوان	خبريه او انشائيه مع الاقسام	مسند	مسند اليه	معرب	مبني	بالحركت او بالحرف	لفظي او تقديري	تميي او غير تميي	تعيين منصوبات	اعراب المضارع	افعال ناقصه
كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ	خبريه فعليه	خَيْرَ أُمَّةٍ	تُمْ	۳. معرب	۵. مبني	بالحركت (۱) قسم	لفظي	تميي او غير تميي	خَيْرَ أُمَّةٍ	+	(كُنْ) فعل ناقص
يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ	خبريه فعليه	يُضِيءُ	زَيْتُهَا	۳. معرب	۲. مبني	بالحركت (۱) قسم	لفظي	غير تميي	(يُضِيءُ) محلا خبر	۲. حالت رفعي (۱) قسم	(يَكَادُ) فعل مقارب
نِعْمَ الثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا	خبريه فعليه	نِعْمَ حَسُنَتْ	الثَّوَابُ هِيَ	۲. معرب	۵. مبني	بالحركت (۱) قسم	لفظي	غير تميي	(مُرْتَفَقًا) تميز	+	(نِعْمَ) فعل مدح
فَمَا أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ	انشائيه فعليه	أَصْبَرَهُمْ	مَا	۱. معرب	۶. مبني	بالحركت (۱) قسم	لفظي	غير تميي	(هُمْ) مفعول به	+	(مَا أَصْبَرَ) فعل تعجب
بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا	خبريه فعليه	بِئْسَ سَاءَتْ	الشَّرَابُ هِيَ	۲. معرب	۵. مبني	بالحركت (۱) قسم	لفظي	غير تميي	(مُرْتَفَقًا) تميز	+	(بِئْسَ، سَاءَ) افعال ذم
لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ	انشائيه فعليه	لَا يَسْخَرْ	قَوْمٌ	۵. معرب	۸. مبني	بالحركت (۱) قسم	لفظي	غير تميي	(خَيْرًا) خبر (كَانَ)	(يَسْخَرْ) حالت جزمي (۱) قسم (يَكُونُوا) حالت نصبي (۳) قسم	(عَسَى) تامه، (يَكُونُوا) فعل ناقص
وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ	خبريه فعليه	مُخْتَلِفِينَ	هُمْ	۲. معرب	۳. مبني	بالحرف (۱۰) قسم	لفظي	تميي غير تميي	(مُخْتَلِفِينَ) خبر فعل ناقص	(يَزَالُونَ) حالت رفعي (۳) قسم	(يَزَالُونَ) فعل ناقص

---

(۱) د "اَفْعِلْ بِهٖ" متصل متعجب منه لفظا مجروره وي په باء زائده سره لېكن محلا مرفوع دئ او "اَفْعِلْ بِهٖ" بالاتفاق فعل دئ او دى به همېشه واحد راځي. د بصرين په نزد باندي "اَفْعِلْ بِهٖ" فعل امر دئ لېكن معنٰى خبر دئ ځكه د دٖه اصل فعل ماضي ده چي د "اَفْعَلَ" پر وزن راځي بيا د تغير په وجه فعل امر ځني جوړ سوى دئ بيا چونكه د امر نسبت وه اسم ظاهر ته قبيح وو نو ځكه يې د ده پر فاعل باندي باء زائده وجوبا راوړه چي د مفعول به شكل پيداسي لكه: په "وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ" كي لېكن اسم ظاهر فاعل دئ مفعول به نه دئ او كله كله د ده متعجب منه حذف كيږي لكه: "أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ"، او چونكه فعل تعجب غير متصرف دئ نو ځكه د ده معمول پر ده باندي نسي مقدم كېداى او داغه رنګه د دوى په مينځ كي فصل هم نا جائز دئ بغير د ظرف وجار و مجرور ځخه په ظرف و جار و مجرور سره فصل راتلاى سي. (شرح عمدة الحافظ و جامع الدروس العربية)

عنوان	خبریہ انشائیہ مع الاقسام	مسند	مسند الیہ	معرب	مبنی	بالحرکت و بالحرف	لفظی، تقدیری	تمیمی وغیر تمیمی	تعیین منصوبات	اعراب المضارع	افعال قاصرہ
وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ	خبریہ فعلیہ	نَادٰی	نُوحٌ	۰۲ معرب	۰۹ مبنی	بالحرکت (۱) قسم بالحرف (۱۰) قسم	لفظی	تمیمی وغیر تمیمی	"نَا" مفعول بہ مقدم	+	(نِعْمَ) فعل مدح
فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖ إِخْوَانًا	خبریہ فعلیہ	إِخْوَانًا	تُمْ	۰۲ معرب	۰۵ مبنی	بالحرکت (۱۔۳) قسم	لفظی	غیر تمیمی	(إِخْوَانًا) خبر فعل ناقص	+	(أَصْبَحَ) فعل ناقص
وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا	خبریہ فعلیہ	سُجَّدًا وَّقِيَامًا	هُمْ	۰۴ معرب	۰۶ مبنی	بالحرکت (۱) قسم	لفظی	غیر تمیمی	(سُجَّدًا وَّقِيَامًا) خبر فعل ناقص	(يَبِيْتُوْنَ) حالت رفعی (۳) قسم	(يَبِيْتُوْنَ) فعل ناقص
وَغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قَادِرِيْنَ	خبریہ فعلیہ	قَادِرِيْنَ	هُمْ	۰۲ معرب	۰۵ مبنی	بالحرکت (۱) قسم وبالحرف (۱۰) قسم	لفظی	تمیمی وغیر تمیمی	(قَادِرِيْنَ) خبر فعل ناقص	+	(غَدَوْا) فعل ناقص
وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيْرًا	خبریہ فعلیہ	ظَهِيْرًا	اَلْكَافِرُ	۰۳ معرب	۰۶ مبنی	بالحرکت (۱) قسم	لفظی	غیر تمیمی	(ظَهِيْرًا) خبر (كَانَ)	+	(كَانَ) فعل ناقص

التمرین:

"إِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ آلِهَتِنَا،، عَسَى أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ،، أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ،، وَكَانَ أَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَقْدُورًا،، تَاللّٰهِ إِنْ كِدْتَ لَتُرْدِينِ،، وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَائِنَةٍ،، وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا،، مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ،، فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ".

باب سوم در عمل اسماء عاملہ وآن یازدہ قسم است الخ:..................... الی قولہ قسم ششم صفت مشبہ.

ترجمه:

دريم باب د اسماء عامله په عمل كي دئ او هغه اسماء يوولس (۱۱) قسمه دي: اول اسماء شرطيه چي د "إِنْ" په معنٰى سره دئ هغه نه (۹) دانې دي: "مَنْ، مَا، اَيْنَ، مَتٰى، اَيٌّ، اَنّٰى، اِذْمَا، حَيْثُمَا، مَهْمَا" فعل مضارع ته جزم ور كوي لكه: "مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ. مَا تَفْعَلْ اَفْعَلْ. اَيْنَ تَجْلِسْ اَجْلِسْ، مَتٰى تَقُمْ اَقُمْ. اَيَّ شَيْئٍ تَاْكُلْ آكُلْ. اَنّٰى تَكْتُبْ اَكْتُبْ. اِذْمَا تُسَافِرْ اُسَافِرْ حَيْثُمَا تَقْصُدْ اَقْصُدْ مَهْمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ" دوهم اسماء افعال چي د فعل ماضي په معنٰى سره راځي لكه: "هَيْهَاتَ، شَتَّانَ، اَوْ سَرْعَانَ" و اسم ته بناء بر فاعليت رفع ور كوي لكه "هَيْهَاتَ يَوْمُ الْعِيْدِ اَيْ بَعُدَ". دريم اسماء افعال په معنٰى د امر حاضر سره لكه: "رُوَيْدَ، بَلْهَ، حَيَّهَلْ، عَلَيْكَ، دُوْنَكَ" او "هَا" دا ټوله اسم ظاهر ته نصب ور كوي بنا بر مفعوليت لكه:

"رُوَيْدَ زَيْدًا اَیْ اَمْهِلْهُ". ځلورم اسم فاعل چي د حال يا استقبال په معنٰی سره وي د فعل معروف په شان عمل کوي په دې شرط چي اعتماد به يې پر داسي لفظ کړی وي چي د ده څخه مخکي به وي هغه لفظ به يا مبتداء وي په فعل لازم کي لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ" او په فعل متعدي لکه: "زَيْدٌ ضَارِبٌ عَمْرًا" يا به موصوف وي لکه: "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ اَبُوْهُ بَكْرًا" يا موصول وي لكه: "جَائَنِي الْقَائِمُ اَبُوْهُ او جَائَنِي الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًوا" يا به ذو الحال وي لكه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا" يا به همزه استفهام وي لکه: "اَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرًوا" يا به حرف نفي وي لكه: "مَاقَائِمٌ زَيْدًا" چي کم عمل "قَامَ" او "ضَرَبَ" کوي "قَائِمٌ وَ ضَارِبٌ" هم هغه عمل کوي. پنځم قسم اسم مفعول چي د حال او د استقبال په معنٰی سره وي د فعل مجهول په شان عمل کوي په دې شرط چي اعتماد مذكور به وده ته حاصل وي لکه: "زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ اَبُوْهُ" او "عَمْرٌ مُعْطًى غُلَامُهُ دِرْهَمًا" او "بَكْرٌ مَعْلُوْمٌ اِبْنُهُ فَاضِلًا" او "خَالِدٌ مُخْبَرٌ اِبْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا" کم عمل چي "ضُرِبَ وَ أُعْطِيَ وَ عُلِمَ وَ أُخْبِرَ" کوي او هغه عمل "مَضْرُوْبٌ، مُعْطًى، اَوْ مَعْلُوْمٌ اَوْ مُخْبَرٌ" هم کوي.

الدرس التاسع والعشرون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

اسماء شرطيه:

د ادوات د شرط جازم للفعلين تعداد:

کم ادوات شرط چي و دوو فعلو ته جزم ورکوي هغه ديارلس (۱۳) د ي دي: "اِنْ، اِذْمَا، مَنْ (١)، مَا، مَهْمَا، مَتٰى، اَيَّانَ، اَيْنَ، اَنّٰى، حَيْثُمَا، كَيْفَمَا، اَیٌّ، اِذَا".

---

(١) د "مَنْ" اقسام: (١)"مَنْ" شرطيه لکه: "مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ". (٢)"مَنْ" موصوله چي په معنی د "اَلَّذِيْ" سره راځي لکه: "فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهِ". (٣)"مَنْ" استفهاميه لکه: "مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا". (۴)"مَنْ" موصوفه چي اکثره د "مَنْ" موصوله سره ملاويږي. (۵)"مَنْ" نافيه لکه: "وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ". (٦)"مَنْ" زائده چي اکثره په اشعارو کي راځي. (ضوابط نحوية)

د اسماء شرطیه عمل:

اسماء شرطیه د "اِنْ" په شان پر دوو جملو داخلیږي اولي جملې ته شرط [۱] دوهمي جملې ته جزاء ویل کیږي. او دوی چونکه د "اِنْ" معنٰی لره متضمن دي نو ځکه فعل مضارع ته جزم ور کوي لکه: "مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ، مَا تَفْعَلْ اَفْعَلْ، مَهْمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ".

د اسماء شرطیه اقسام:

اسماء شرطیه پر شپږ (٦) قسمه راځي:

١. اول قسم: هغه دي چي صرف د شرطیت پر معنٰی دلالت کوي هغه دوه داني دي "اِنْ" لکه: "وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ" "اِذْمَا" [۲] لکه: "اِذْمَا تَأْتِ مَا أَنْتَ آمِرٌ بِهِ تُلْفِ مَنْ اِيَّاهُ".

٢. دوهم قسم: هغه اسم مبهم دئ چي د ذوالعقول دپاره راځي او معنٰی د شرط لره متضمن وي هغه یو دئ چي "مَنْ" دئ لکه: "مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ".

٣. دریم قسم: هغه اسم مبهم دئ دئ چي د غیر ذوی العقول دپاره راځي او معنٰی د شرط لره متضمن وي هغه دوه داني دي: "مَا، مَهْمَا" [۳] لکه: "وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ".

---

[۱] وجه د تسمیه د شرط و جزاء: شرط ته ځکه شرط ویل کیږي چي شرط په معنی د علامه سره راځي او دی هم علامه وي د فعل ثاني پر وجود باندي او جزاء ته ځکه جزاء ویل کیږي چي دا مشابه ده د جزاء د اعمالو سره لکه: څنګه چي پر عمل باندي جزاء مرتبه وي داغه رنګه جزاء هم پر فعل اول باندي مرتبه وي او و دې ته جواب شرط هم ویل کیږي ځکه دا مشابه ده د سوال د جواب سره.(شرح شذور الذهب و همع الهوامع)

[۲] د "اِذْمَا" په اسمیت او حرفیت کي اختلاف دئ د امام سبویه او جمهورو په نزد باندي دئ حرف دئ او د بعض په نزد باندي اسم دئ.

[۳] د "مَا" حرفیه اقسام: (١) "مَا" نافیه لکه: "مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ". (٢) "مَا" مشابه بلیس لکه: "مَا هَذَا بَشَرًا" (٣) "مَا" مصدریه غیر زمانیه لکه: "فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ". (٤) "مَا" مصدریه زمانیه لکه: "فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ". (٥) "مَا" زائده غیر کافه لکه: "مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ. لَا سِيَّمَا". (٦) "مَا" زائده کافه لکه: "رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا".

د "مَا" اسمیه اقسام: (١) "مَا" موصوله چي په معنی د "اَلَّذِيْ" سره راځي لکه: "مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ". (٢) "مَا" موصوفه چي په معنی "شَيْئٌ" یا "شَيْئًا" سره راځي لکه: "ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ". د دوی په مینځ کي

۴. څلورم قسم: هغه اسماء دي چي پر زمانه دلالت کوي او معنٰی د شرط لره متضمن وي هغه درې دانې دي: "مَتٰی، اَیَّانَ، اِذَا" لکه: "مَتٰی تَقُمْ اَقُمْ، اَیَّانَ یَوْمُ الدِّیْنِ، وَ اِذَا تُصِبْکَ خَصَاصَةٌ فَتَجَمَّلِ".

۵. پنځم قسم: هغه اسماء دي چي پر مکان دلالت کوي او معنٰی د شرط لره متضمن وي هغه درې دانې دي: "اَیْنَ، اَنّٰی، حَیْثُمَا" (۱) لکه: "اَیْنَ تَنْزِلْ اَنْزِلْ، اَنّٰی تَدْرُسْ اَدْرُسْ، حَیْثُمَا تَقْصُدْ اَقْصُدْ".

٦. شپږم قسم: هغه اسماء دي او مبهم وي چي متضمن معنٰی د شرط لره وي هغه یو "کَیْفَمَا" دئ لکه: "کَیْفَمَا تَکُنْ یَکُنْ قَرِیْنُکَ" او بل "اَیٌّ" دئ چي په ټولو اسماء شرطیه وو کي دئ معرب دئ او معرب استعمالیږي باقي ټوله مبني دي او دی متردد وی په مینځ کي د مخکني اقسام اربعه وو لکه: "اَیَّ شَیْئٍ تَأْکُلْ اٰکُلْ" یعني د ده دار و مدار پر مضاف الیه باندي دئ که چیري دی و ذوالعقول ته مضاف وو نو بیا دی د باب څخه د "مَنْ" دئ لکه: "اَیُّهُمْ یَقُمْ اَقُمْ" او که چیري دی و غیر ذوی العقول ته مضاف وو بیا دی د باب څخه د "مَا" دئ لکه: "اَیَّ الدَّوَابِّ تَرْکَبْ اَرْکَبْ" او که چیري ظرف زمانه ته مضاف وو بیا دی د باب څخه د "مَتٰی" دئ لکه: "اَیَّ یَوْمٍ تَصُمْ اَصُمْ" او که چیري و ظرف مکان ته مضاف وو بیا دی د باب څخه د "اَیْنَ" دئ لکه: "اَیَّ مَکَانٍ تَجْلِسْ اَجْلِسْ".

فرق "مَا" موصوله معرفه وي او "مَا" موصوفه نکره وي. (۳) "مَا" نکره تامه چي د صفت محتاجه نه وي لکه: "مَا اَحْسَنَ الرَّجُلُ" ما نکره ناقصه چي د صفت محتاجه وي. (۴) ما شرطیه لکه: "مَا اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ". (۵) "مَا" استفهامیه چي اکثره د کلام په شروع کي راځي: "وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يَا مُوْسٰى". (٦) "مَا" صفتیه لکه: "اَضْرِبْهُ ضَرْبًا مَّا". (۷) "مَا" تامه لکه: "نِعِمَّا هِيَ اَیْ: نِعْمَ مَا هِيَ".

(۱) "حَیْثُ" او "اِذْ" چي کله د "مَا" څخه مجرد وي نو بیا دوی جازم نه واقع کیږي. (شرح شذور الذهب)

فائده:

د شرط و جزاء تفصيلي بحث په حروف جوازمو کي د "اِنْ" شرطيه جازمه په بحث کي تېر سوی دئ "اِنْ شِئْتَ التَّفْصِيْلَ فَارْجِعْ اِلَيْهِ".

دوهمه خبره:

د اسماء شرطيه وو تقسيم ثاني:

اسماء(۱) شرطيه د دوهم تقسيم په اعتبار سره پر درې قسمه دئ:

۱. اول قسم: بعض هغه دي چي هغه حروف وي هغه يو "اِنْ" شرطيه جازمه دئ او بل "اِذْمَا" دئ على اختلاف القولين.

۲. دوهم قسم: اسماء مبهمه دي چي متضمن وي معنٰى د شرط لره هغه "مَنْ. مَا. مَهْمَا. اَیٌّ. کَيْفَمَا" دئ.

۳. دريم قسم: هغه دي چي هغه پر زمان يا مكان دلالت كوي او متضمن وي معنٰى د شرط لره هغه "اَيْنَ. اَيَّانَ. مَتٰى. اِذْ. حَيْثُمَا" و غيره دي.

د اسماء شرطيه تركيبي حيثيت:

---

(۱) كله كله قسم و شرط يو ځای سره جمع سي او د دوی څخه وروسته صرف يوه جمله ذكر سوې وي اوس په دې صورت كي قسم جواب غواړي او شرط جزاء غواړي نو ضابطه دا ده چي په شرط او قسم كي هر يو مقدم وي نو دا مابعد جمله به د هغه دپاره معمول وي كه چيري قسم مخكي وو ترشرط نو مابعد جمله به جواب د قسم وي او د شرط دپاره به جزاء محذوفه رايستل كيږي او كه چيري شرط مقدم وو نو بيا به مابعد جمله د شرط دپاره معمول او جزاء وي او د قسم دپاره به جواب محذوفه رايستل كيږي. چي په كم ځای كي قسم مقدم وي د هغه مثال لكه: "لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ". اوس په دې مثال كي چي پر "لَئِنْ" باندي كم "لَا" دئ هغه "لام مؤطئه" دئ يعني دا كلام دا تقاضا كوي چي دلته قسم مقدم دئ جواب غواړي نو ځكه مابعد جمله به جواب د قسم وي، او د شرط دپاره به جزاء محذوفه راووزي، ځكه "اِنْ" شرطيه دئ جزاء غواړي نو په دې صورت كي قسم مقدم دئ جواب غواړي نو ځكه مابعد جمله به جواب د قسم او د شرط دپاره به جزاء محذوفه راوزي نو بيا به تقدير د عبارت په دې شكل وي "والله لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ" "لِيَحْبِطَ عَمَلَكَ" اوس دلته "لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ" به جواب د قسم سي او "لِيَحْبِطَ عَمَلَكَ" به جزاء محذوفه سي او چي په كم صورت كي شرط مقدم وي او قسم مؤخر وي د هغه مثال لكه: "اِنْ ضَرَبْتَ وَاللهِ اَضْرِبُ" نو دغه "اَضْرِبُ" به جزاء د شرط سي او د قسم دپاره به جواب محذوف راووزي چي "لَاَضْرِبَنَّ" دئ نو تقدير د عبارت به داسي وي "اِنْ ضَرَبْتَ وَاللهِ اَضْرِبُ لَاَضْرِبَنَّ".

اول "مَنْ وَ مَا وَ مَهْمَا" دي د دغه درې ترکیب به په دې شکل وي که چیرې د دوی څخه وروسته فعل متعدي وو او د عمل استعداد یې درلوی او مفعول به یې نه وو ذکر سوی نو بیا دوی د هغه فعل متعدي دپاره مفعول به جوړیږي او دوی به محلا منصوب وي لکه: "مَا تُحْصِنْ فِي الصِّغَرِ يَنْفَعْكَ فِي الْكِبَرِ. مَنْ تُجَاوِزْ فَاحْسِنْ اِلَيْهِ. مَهْمَا تَفْعَلْ تُسْاَلْ عَنْهُ" او که چیرې فعل متعدي تابله د عمل نه وو یعني مفعول به یې ذکر سوی وو یا فعل لازمي وي یعني مفعول به ته یې ضرورت نه درلودئ نو بیا په دې دواړو صورتو کي دوی مبتداء واقع کیږي په خبر کي یې درې قولونه دي:

اول قول: ځوک وایي: د دوی خبر صرف شرط دئ.

دوهم قول: ځوک وایي: چي خبر صرف جزاء ده.

دریم قول: او بعض وایي: چي شرط و جزاء دواړه خبر دي او په دې صورت کي دوی به محلا مرفوع وي لکه: "مَا يَجِيئُ بِهِ الْقَدْرُ فَلَا مَفَرَّ مِنْهُ. مَنْ يَجِدْ يَجِدْ. مَهْمَا يَنْزِلْ بِكَ مِنْ خُطَبٍ فَاحْتَمِلْهُ. مَا تَفْعَلْهُ تَلْقَهُ. مَنْ تَنْقُدْهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ مَهْمَا تَفْعَلُوْهُ تَجِدُوْهُ".

دریمه خبره:

دوهم "كَيْفَمَا" دئ: "كَيْفَمَا" په ترکیب کي حال واقع کیږي د شرط د فاعل څخه او دی په محل د نصب کي وي لکه: "كَيْفَمَا تَكُنْ يَكُنْ اَبْنَاءُكَ".

دریم قسم: "اَيُّ" دئ: "اَيُّ" لازم الاضافت دئ الی المفرد او دی معرب دئ په ترکیب کي دی د مضاف الیه تابع دئ که چیرې د ده مضاف الیه زمان یا مکان وو نو بیا به دی مفعول فیه واقع کیږي د ما بعد فعل دپاره خواه که فعل تام وي او که قاصر وي لکه: "اَيَّ يَوْمٍ تَذْهَبْ اَذْهَبْ. اَيَّ بَلَدٍ تَسْكُنْ اَسْكُنْ" او که چیرې د ده مضاف الیه مصدر وو نو بیا دی مفعول مطلق واقع کیږي د مابعد فعل دپاره لکه: "اَيَّ اِكْرَامٍ تُكْرِمْ اُكْرِمْ". او که چیرې د ده مضاف الیه د ظرف او د مصدر څخه علاوه بل شی وو نو بیا د ده حکم په ترکیب کي د "مَنْ و مَا و مَهْمَا" دئ، یا به مفعول وي لکه: "اَيَّ كِتَابٍ تَقْرَءْ تَسْتَفِدْ" او یا به مبتداء وي لکه: "اَيُّ رَجُلٍ يَخْدُمْهُ اُمَّتَهُ تَخْدُمْ".

څلورم قسم: هغه اسماء دي چي د ظرفیت دپاره راځي که چیرې د دوی څخه وروسته فعل تام وو نو دوی د هغه دپاره مفعول فیه واقع کیږي او که چیرې د دوی څخه وروسته فعل قاصر وو نو بیا یې

خبر ته کتل کیږي چي جامد دئ او که مشتق دئ که چیري خبر مشتق وو نو بیا دوی د هغه خبر دپاره مفعول فیه واقع کیږي او که چیري خبر جامد وو نو بیا دوی د فعل قاصر دپاره مجبورا مفعول فیه واقع کیږي.

پنځم قسم: "اِذْمَا" دئ "اِذْمَا" حرف دئ د "اِنْ" مرادف دَی په ترکیب کي یو شی نه واقع کیږي.

شپږم قسم: "اِذَا" دئ "اِذَا" غیر جازمه دئ لیکن کله کله په شعرو کي جازم واقع کیږي او دَی همېشه مضاف وي و شرط ته او شرط یې مضاف الیه وي او دی په خپل شرط کي عمل کوي ځکه مضاف په مضاف الیه کي عمل کوي بیا مضاف و مضاف الیه دواړه د جزاء دپاره مفعول فیه جوړیږي.

فائده:

په جزاء کي یو ضمیر ضروري دئ چي راجع وي و اسماء شرطیه ته چي احتیاج پیداسي و شرط ته که چیري ضمیر نه وو بیا به مقدر رائستل کیږي. او ټوله ادوات شرط مبني دي مګر "اَیُّ" معرب دئ په حرکات ثلاثه سره او لازم الاضافة الی المفرد دئ.

څلورمه خبره:

اسماء افعال:

دوهم قسم د اسماء عامله وو څخه اسماء افعال (۱) دي.

د نحاتو اصول:

د نحاتو حضراتو دا اصول دئ چي کله یو شی د بل شي معنیٰ لره متضمن وي لیکن دغه دوه شیان په احکامو لفظیه وو کي سره مختلف وي متحد نه وي نو دوی و داغه شي ته هم د دا بل شي نوم ور کوي صرف د داغه شي د نامه په شروع کي لفظ د اسم زیاته وي لکه: "فعل، اسم فعل، مصدر، اسم مصدر، جمع، اسم جمع، فاعل، اسم فاعل".

---

(۱) په اسماء افعالو کي د ضمیر دپاره څه علامه نه ظاهریږي لکه: "صَه" د واحد، تثنیه، جمع مذکر و مؤنث د ټولو دپاره دغه شکل دئ یعني "صَه" که چیري واحد وي هم "صَه" ویل کیږي او که چیري تثنیه وي هم "صَه" ویل کیږي نو په ده کي ظاهرا د تثنیت و جمعیت تذکیر و تانیث هیڅ یو علامه نه وي (تسهیل اشموني صفحه ۳۰۳)

د اسماء افعال د وضع مقصد:

اسماء افعال د یو څو غرضو حاصلولو دپاره وضع سوي دي:

۱. اول غرض: د اختصار حاصلولو دپاره لکه: "رُوَيْدَ" (۱) د مذکر، مؤنث، واحد، تثنیه، جمع د ټولو دپاره وضع سوی دئ.

۲. دوهم غرض: د دوام او استمرار معنٰی حاصلولو دپاره لکه: "نَزَالِ" معدول سوی دئ د "اَنْزِلْ" څخه.

۳. دریم غرض: د استعجاب دپاره لکه: "هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُوْنَ" یعني لیري سوه لیري سوه هغه خبره او دا معنٰی د "بَعُدَ" څخه نه حاصلیږي او په "شَتَّانَ" کي چي کم افتراق دئ هغه په "اِفْتَرَقَ" کي نسته او په "سَرْعَانَ" کي چي کم تعجب دئ هغه په "سَرُعَ" کي نسته.

د اسماء افعال عمل:

اسماء افعال د عمل په اعتبار سره پر دوه قسمه دي:

۱. اول قسم: بعض هغه دي چي په معنٰی د فعل ماضي سره راځي هغه و خپل مابعد ته بناء بر فاعلیت رفع ور کوي هغه "هَيْهَاتَ، شَتَّانَ، سَرْعَانَ" دي.

۲. دوهم قسم: بعض په معنٰی د امر حاضر سره راځي هغه خپل مابعد ته نصب ور کوي بناء بر مفعولیت بله خبره دا ده چي اسماء افعال د کم فعل په معنٰی سره راځي د هغه فعل عمل

---

(۱) "رُوَيْدَكَ، بَلْهَكَ" په "رُوَيْدَكَ" او "بَلْهَكَ" کي دوه احتماله دي:

۱. یو احتمال دا چي دوی دواړه اسم فعل وي مبني بر فتحه وي او کاف حرف خطاب وي "لَا مَحَلَّ لَهَا مِنَ الْاِعْرَابِ".

۲. دوهم احتمال دا چي دوی دواړه مصدر وي او پر دوی دواړو باندي فتحه اعرابي وي او د "رُوَيْدَكَ" په کاف کي دوې وجهي دي: چي فاعل دئ، یا مفعول دئ، دغه دوه احتماله په "رُوَيْدَ" او "بَلْهَ" کي په هغه صورت کي دئ چي کله په دوی کي معنی د طلب وي یعني دوی به معنی د امر سره وي، لېکن که چیري دوی د طلب د معنی څخه خالي وي نو بیا دوی دواړه اسمونه وي په معنی د "كَيْفَ" سره او د دوی مابعد مرفوع وي لکه: په حدیث شریف کي راځي "أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ ذُخْرًا مِنْ بَلْهِ مَا اَطْلَعْتُمْ عَلَيْهِ" په دې حدیث کي "بَلْهَ" مجرور دئ په "مِنْ" جاره سره او دی د معاني مذکوره څخه خالي دي او "رُوَيْدَ" کله کله حال هم واقع کیږي لکه: "سَارُوْا رُوَيْدًا" د فاعل څخه حال دئ عند البعض د مصدر محذوف د ضمیر څخه حال دئ عند البعض دی صفت دئ دپاره د مصدر. (همع الهوامع و جامع الدروس العربية)

کوي او د دوی متعدي والی او لازمي والی د هغه فعل پر متعديت ولازميت باندي موقوف دئ.

فرق په مينځ کي د فعل و اسم فعل:

د اسماء افعالو او افعالو په مينځ کي دوه فرقونه دي:

۱. اول فرق: يو دا چي د اسماء افعالو معمول پر دوی باندي نسي مقدم کېدای بخلاف د افعالو.

۲. دوهم فرق: دا چي اسماء افعال د تانيث و تذکير، تثنيه و جمع علامه نه قبلوي بخلاف د افعالو. او اسماء افعال "لَا مَحَلَّ لَهَا مِنَ الْإِعْرَاب" دئ.

د اسماء افعالو احکام:

۱. اول حکم يې دا دئ: چي دوی مضاف (۱) نسي واقع کېدای لکه: د دوی افعال.

۲. دوهم حکم يې دا دئ: چي د دوی معمول پر دوی باندي نسي مقدم (۲) کېدای ځکه دوی عام طور ضعيف دي او د دوی عمل د فعل د نيابت په وجه دئ.

۳. دريم حکم يې دا دئ: چي کم اسماء افعال چي په معنٰی د امر سره راځي که چيري د دوی په جواب کي مضارع راسي نو هغه به مجزومه وي نصب يې جائز نه دئ نو لهذا "صَهْ فَأُحَدِّثَكَ" ويل غلط دي.

د اسم فعل مشترک حکم:

کم اسم فعل چي مشترک وي په معنٰی کي د متعدد افعالو نو بيا به د ده استعمال په اعتبار د هغه فعل سره وي لکه: "حَيْهَلْ" چي کله په معنٰی د "اِيْتِ" سره وي نو بيا دی بغير واسطه د حرف جر

---

(۱) پر دې حکم باندي اعتراض دا کيږي چي تاويل اسم فعل مضاف نسي واقع کېدای په "بَلْهَ زَيْدٍ" او "رُوَيْدَ زَيْدٍ" کي "بَلْهَ، رُوَيْدَ" مضاف واقع سوی دئ چي د هغه په وجه "زَيْدٍ" مجروره سوی دئ جواب دلته "بَلْهَ" و "رُوَيْدَ" اسماء افعال نه دي بلکه مصدرونه دي پر دوی باندي فتحه اعرابي ده او دوی مصدر مضاف دئ که چيري اسماء افعال وای نو بيا به "رُوَيْدَ زَيْدًا" يا "بَلْهَ زَيْدًا" ويل سوی وای. (جامع الدروس العربية)

(۲) د امام کسائي په نزد باندي تقديم د معمول پر اسماء افعالو باندي جائز دئ او پر دې باندي دليل د الله تعالی دا قول دئ "كِتَابَ اللهِ عَلَيْكُمْ" لېکن په دې کي موږ تاويل کوو دلته اسم فعل "عَلَيْكُمْ" مقدر دئ چي وروسته "عَلَيْكُمْ" يې تفسير دئ "أَيْ عَلَيْكُمْ كِتَابَ اللهِ عَلَيْكُمْ".

سره استعمالیږي لکه: "حَیْهَلِ الثَّرِیْدَ" بمعنی "اِیْتِ الثَّرِیْدَ" او که چیرې "حَیْهَلْ" په معنی د "اَقْبِلْ" سره وي نو بیا به دی په "عَلٰی" سره استعمالیږي لکه: "حَیْهَلْ عَلَی الْخَیْرِ" بمعنی "اَقْبِلْ عَلَی الْخَیْرِ" او که چیرې په معنی د "اَسْرِعْ" سره وي نو بیا به دی په "بَا" سره استعمالیږي لکه: "اِذَا ذُکِرَ الصَّالِحُوْنَ فَحَیْهَلْ بِعُمَرَ اَیْ اِسْرِعْ بِعُمَرَ".

پنځمه خبره:

اسم فاعل:

دریم قسم د اسماء عامله وو څخه اسم فاعل دی.

د اسم فاعل تعریف:

اسم فاعل هغه اسم مشتق دئ چي دی د فعل څخه پر داسي ذات باندي د دلالت کولو دپاره وضع سوی وي چي په ده پوري معنٰی مصدري په طریقه د حدوث سره قائمه وي نه په طریقه د ثبوت سره لکه: "قَائِمٌ" په "زَیْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ" کي.

د اسم فاعل عمل او د ده اقسام په اعتبار د عمل سره:

اسم فاعل په اعتبار د عمل سره پر دوه قسمه دئ:

۱. اول قسم: مقرون باللام.
۲. دوهم قسم: مجرد عن اللام.

د مقرون باللام حکم:

د اسم فاعل سره چي کله الف و لام وي نو بیا د ده د عمل کولو دپاره هیڅ شرط نسته بلکه دی د فعل په شان په زمانه ماضي، حال، استقبال: او په ټولو معمولاتو یعني فاعل چي ضمیر وي یا مفعول مطلق، مفعول له، مفعول فیه، حال، تمیز وغیره په ټولو کي عمل کوي لکه: "جَاءَ الْمُعْطِي الْمَسَاکِیْنَ اَمْسِ اَوِ الْاٰنَ اَوْ غَدًا".

د مجرد عن اللام حکم:

پر اسم فاعل باندي چي کله الف لام نه وي نو بیا چي کله دی په فاعل اسم ظاهر کي عمل کوي نو بیا د ده دپاره دري شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې پر يو د دا شپږو شيانو به يې اعتماد (۱) (تكيه) كړې وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې اسم فاعل به موصوف نه وي احترازي مثال لكه: "قَائِمٌ ضَاحِكٌ يَذْهَبُ".

۳. دريم شرط يې دا دئ: چې دى به مصغر نه وي احترازي مثال لكه: "ضُوَيْرِبٌ". اتفاقي مثال لكه: "زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ".

او كله چې په مفعول به كې عمل كوي بيا د ده دپاره دوه شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې دى به په معنٰى د حال يا (۲) استقبال سره وي حَقِيْقَةً يا حِكَايَةً.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې پر يو د دا شپږو شيانو به يې اعتماد كړى وي او په باقي تمام معمولاتو كې بلا شرط عمل كوي.

(۱) د اعتماد اقسام و مثالونه:

۱. پر مبتداء به يې اعتماد كړى وي د لازمي مثال لكه: "زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ" د متعدي مثال لكه: "زَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًوا".

۲. پر موصوف به يې اعتماد كړى وي لكه: "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٌ اَبُوْهُ بَكْرًا".

۳. پر موصول باندي د لازمي مثال لكه: "جَائَنِي الْقَائِمُ اَبُوْهُ" د متعدي مثال لكه: "جَائَنِي الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًوا".

۴. پر ذوالحال باندي لكه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا".

۵. پر همزه استفهام لكه: "اَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرًوا".

٦. پر حرف نفي لكه: "مَاضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرًوا. مَا قَائِمٌ زَيْدٌ".

د همزه استفهام او حرف نفي څخه مراد عام دي او دغه اخرى دوه قسمونه د مبتداء قسم ثاني جوړيږي او فاعل يې قائمقامه د خبر جوړيږي ليكن شرط يې دا دئ چې ضمير متصل به نه وي بلكه دوى به و اسم ظاهر ته رفع وركوي. (نصر الخبير و شرح التصريح)

(۲) د حال يا داستقبال شرط يې ځكه لګولى دئ چې اسم فاعل د مضارع د مشابهت په وجه عمل كوي چې د ده د مضارع سره په كامله طريقه باندي مشابهت راسي مځكې خو يې صرف مشابهت لفظي وو يعني په تعداد د حروف، حركاتو و سكناتو كې وو اوس يې په معنى كې هم مشابهت پيدا كړې ليكن د ماضي په صورت كې مشابهت بر قراره نه پاته كيږي ها كه چيري يو ځاى اسم فاعل په معنى د ماضي سره په دې شكل راغلى وو چې د هغه پر ځاى باندي مضارع واقع كول صحيح وو نو بيا اسم فاعل عمل كولاى سي لكه: "وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ" په معنى د "يَبْسُطُ ذِرَاعَيْهِ" سره دى. دوهم شرط د اعتماد يې ځكه ولګوئ چې دى خپل مځكني لفظ ته د فعل يو څه نسبت وساتي. (حاشيه خضري، شرح التصريح. همع الهوامع) لكه فعل چې پر فاعل اعتماد كړى وي نو د ده دپاره هم پر شي باندي اعتماد كول ضروري.

شپږمه خبره:

فائده:

په اسم فاعل کي ضمير د متکلم او مخاطب او غائب د مقام په مناسبت سره په ده کي مستتريږي يعني که چيري د ده څخه مخکي متکلم وو نو د متکلم ضمير او که مخاطب وو نو د مخاطب ضمير او که غائب وو نو د غائب ضمير په ده کي مستتريږي. او په ده کي ضمير مستتر دائمي وي بارز نه سي راتلای او په "ضَارِبَانِ" او "ضَارِبُوْنَ" کي "الف" او "واو" صرف علامې د تثنيه او جمع دي د فاعل ضميرونه نه دي بخلاف د "ضَرَبَا" او "ضَرَبُوْا" هلته دواړه شيان دي.

فائده:

که چيري د اسم فاعل څخه د ثبوت معنٰی مراد وي نو بيا به دی د صفت مشبه په شان عمل کوي فاعل سببي ته رفع ور کوي او وروسته اسم که چيري معرفه وو نو د مفعول د مشابهت پر بنياد باندي و اسم معرفه ته نصب ور کوي او که چيري د ده وروسته اسم نکره وو نو بيا بنا بر تميز نصب ور کوي يا بالاضافت جر ور کوي.

فائده:

د اسم فاعل اضافت و خپل فاعل ته جائز نه دئ نو لهذا "هَلْ مُكْرِمُ سَعِيْدٍ ضُيُوْفَهُ" ويل جائز نه دي.
عام طور د نحو په کتاب کي مطلقا د اسم فاعل د عمل دپاره دوه شرطونه ذکر کيږي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي دی به په معنٰی د حال يا استقبال سره وي.
۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي اعتماد به يې پر يو د دا شپږو شيانو کړی وي خواه که په فاعل کي عمل کوي او که په مفعول به کي عمل کوي.

---

(۱) اعتماد پر دوه قسمه دئ خواه که مذکور وي لکه: په تېرو سوو مثالو کي او که يې پر مقدر باندي اعتماد کړی وي لکه: په "يَا طَالِعًا جَبَلًا" کي دلته موصوف معتمد دئ پر ياء حرف نداء مقدر باندي "اَیْ يَا رَجُلًا طَالِعًا" داغه رنګه په "مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ" کي "صِنْفٌ" مقدر دئ "اَیْ صِنْفٌ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ". (شرح التصريح جلد ۲ صفحه ۲۰)

فائده:

تقديم د معمول پر اسم فاعل باندي جائز دئ لکه: "اَنْتَ الخيْرَ فَاعِلٌ" مګر که چيري اسم فاعل مقرون باللام وو لکه: "هَذَا الْمُکْرِمُ سَعِيْدًا" يا مجرور بالاضافت وو لکه: "هَذَا وَلَدُ مُکْرِمٍ خَالِدًا" يا مجرور په حرف جر اصلي سره وو لکه: "اَحْسَنْتُ اِلٰى مُکْرِمٍ عَلِيًا" بيا يې تقديم جائز نه دئ او که چيري مجرور په حرف جر زائده سره وو بيا يې تقديم جائز دئ لکه: "لَيْسَ سَعِيْدٌ بِسَابِقٍ خَالِدًا" دا هم ويلای سي "لَيْسَ سَعِيْدٌ خَالِدًا بِسَابِقٍ" ځکه حرف جر زائد په حکم د ساقط کي دئ.

اوومه خبره:

اسم مفعول:

څلورم قسم د اسماء عامله وو څخه اسم مفعول دئ:

د اسم مفعول تعريف:

اسم مفعول هغه اسم مشتق دئ چي دی د فعل متعدي څخه مشتق سوی وي د پاره د دلالت کولو پر داسي ذات چي فعل د فاعل پر ده باندي په طريقه د حدوث سره واقع وي لکه: "مَضْرُوْبٌ".

د اسم مفعول عمل:

اسم مفعول د فعل مجهول په شان عمل کوي که چيري متعدي بيک مفعول وو نو نائب فاعل ته رفع ور کوي او که چيري متعدي بدو مفعول وو نو بيا مفعول اول ته رفع او مفعول ثاني ته نصب ور کوي او که چيري متعدي بسه مفعول وو نو بيا اول مفعول به ته بنا بر نائب فاعل رفع ور کوي او مفعول ثاني و ثالث ته نصب ور کوي.

د اسم مفعول د عمل شرائط:

د اسم مفعول د عمل د پاره هغه شرطونه دي: کم چي د اسم فاعل د عمل د پاره وه هغه يو دا چي په معنٰى د حال او استقبال سره به وي. او دوهم دا چي اعتماد به يې کړی وي پر يو د دا شپږو شيانو باندي:

۱. مبتداء لکه: "زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ اَبُوْهُ، عَمْرٌو مُعْطًى غُلَامُهُ دِرْهَمًا".

۲. موصوف لکه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مَضْرُوْبٌ اَبُوْهُ، مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مُعْطًى غُلَامُهُ دِرْهَمًا".

٣. موصول لكه: "جَاءَ الْمَضْرُوْبُ أَبُوْهُ، جَائَنِي الْمُعْطَى غُلَامُهُ دِرْهَمًا".

۴. ذوالحال لكه: "جَائَنِي زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ أَبُوْهُ، جَائَنِي الْمُعْطَى غُلَامُهُ دِرْهَمًا".

۵. همزه استفهام لكه: "أَمَضْرُوْبٌ زَيْدٌ، أَمُعْطًى زَيْدٌ دِرْهَمًا".

٦. حرف نفي لكه: "مَا مَضْرُوْبٌ زَيْدٌ، مَا مَعْلُوْمٌ زَيْدٌ فَاضِلًا".

نوټ: كله چي مفعول متعدي پر څلور قسمه دئ او اعتماد پر يو د دا شپږو شيانو باندي كوي نو چي څلور په شپږ كي ضرب كړې نو بيا شپږويشت مثالونه جوړيږي چي په لاندي نقشه كي يې تفصيل ښكارد دئ.

اعتماد	متعدي يو مفعول	متعدي دوه مفعول اعتماد په دوهم باندي	متعدي دري مفعول اعتماد په دريم باندي	متعدي دري مفعول
مبتدا	زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ أَبُوْهُ	عَمْرٌو مُعْطَى غُلَامُهُ دِرْهَمًا	زَيْدٌ مَعْلُوْمٌ إِبْنُهُ فَاضِلًا	خَالِدٌ مُعْلَمٌ إِبْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا
موصوف	مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مَضْرُوْبٍ أَبُوْهُ	مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مُعْطًى غُلَامُهُ دِرْهَمًا	مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مَعْلُوْمٍ إِبْنُهُ فَاضِلًا	مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مُعْلَمٍ إِبْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا
موصول	جَاءَ الْمَضْرُوْبُ أَبُوْهُ	جَائَنِي الْمُعْطَى غُلَامُهُ دِرْهَمًا	جَائَنِي الْمَعْلُوْمُ إِبْنُهُ فَاضِلًا	جَائَنِي الْمُعْلَمُ إِبْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا
ذوالحال	جَائَنِي زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ أَبُوْهُ	جَائَنِي زَيْدٌ مُعْطًى غُلَامُهُ دِرْهَمًا	جَائَنِي زَيْدٌ مَعْلُوْمٌ إِبْنُهُ فَاضِلًا	جَائَنِي زَيْدٌ مُعْلَمٌ إِبْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا
همزه استفهام	أَمَضْرُوْبٌ زَيْدٌ	أَمُعْطًى زَيْدٌ دِرْهَمًا	أَمَعْلُوْمٌ زَيْدٌ فَاضِلًا	أَمُعْلَمٌ زَيْدٌ عَمْرًا فَاضِلًا
حرف نفي	مَا مَضْرُوْبٌ زَيْدٌ	مَا مُعْطًى زَيْدٌ دِرْهَمًا	مَا مَعْلُوْمٌ زَيْدٌ فَاضِلًا	مَا مُعْلَمٌ زَيْدٌ عَمْرًا فَاضِلًا

فائده:

د اسم مفعول څخه كه چيري معنٰى ثبوتي مراد وي نو بيا بناء بر نائب فاعل رفع ور كوي او بناء بر تشبيه بالمفعول نصب ور كوي كه چيري اسم معرفه وو او كه نكره وو بيا بنا بر تميز نصب ور كوي يا بناء بر اضافت جر ور كوي.

فائده:

اسم فاعل اسم مفعول، صفت مشبه، مصدر، اسم تفضيل، وغيره ته شبه جمله هم ويل كيږي او د شبه جمله څخه مراد هغه جمله ده چي مكمل جمله نه وي مگر د جملې معنٰى ور كوي.

د اسم فاعل او اسم مفعول په عمل كي فرق:

د اسم فاعل او اسم مفعول په عمل كي فرق صرف دا دئ چي اسم فاعل و فاعل ته رفع ور كوي او اسم مفعول د فاعل پر ځاي و نائب فاعل ته رفع ور كوي.

جملے :

عنوان	خبریہ، انشاء	مسند	مسندالیہ	حروف عاملہ، غیر عاملہ	تعیین افعال عاملہ	تعیین اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اسماء شرطیہ وتعیین عمل اسم الفاعل واسم المفعول
وَإِنْ يَعُوْدُوْا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِيْنَ	خبریہ اسمیہ	(يَعُوْدُوْا، مَضَتْ) فعل	(هُمْ، سُنَّتُ) فاعل	(وَ) (اِنْ) حرف شرط جازم (وَ) عاطفہ غیر عامل (فَ) جزائیہ غیر عامل (قَدْ) حرف تقریب غیر عامل	(يَعُوْدُوْا، مَضَتْ) افعال معلوم	(سُنَّتُ) اسم مضاف	(هُمْ) مرفوع محلاً (سُنَّتُ) لفظاً فاعل	+	(الْأَوَّلِيْنَ) مضاف الیہ	(اِنْ) شرطیہ جازمہ
وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهُ	خبریہ اسمیہ	(كُنْ، وَلُّوْا) فعل	(تُمْ، اَنْتُمْ) فاعل	(وَ) عاطفہ غیر عاملہ (فَ) جزائیہ حرف رابطہ غیر عامل	(كُنْ) فعل تام (وَلُّوْا) فعل معلوم	(حَيْثُمَا) اسم شرط جازم فی محل نصب متعلق (وَلُّوْا) (وُجُوْهَ، شَطْرَ) اسم مضاف	(تُمْ، اَنْتُمْ) محلاً مرفوع فاعل	(وُجُوْهَ) لفظاً منصوب مفعول بہ (شَطْرَ) ظرف مکان منصوب مفعول فیہ	(كُمْ) مضاف الیہ (ہ) محلاً مجرور مضاف الیہ	(حَيْثُمَا) اسم شرط جازم
ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوْا	خبریہ فعلیہ	ضُرِبَتْ	الذِّلَّةُ	(عَلٰى) حرف جار	(ضُرِبَتْ، ثُقِفُوْا) فعل مجہول	(اَيْنَ مَا) اسم شرط جازم مبنی فی محل نصب متعلق (ثُقِفُوْا)	(الذِّلَّةُ) لفظاً (هُمْ) محلاً نائب فاعل	(اَيْنَ مَا) فی محل نصب ظرف مکان	(هِمْ) محلاً مجرور	(اَيْنَمَا) اسم شرط جازم
وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا	خبریہ فعلیہ	يَفْعَلْ، يَلْقَ	مَنْ، هُوَ	(وَ) استئنافیہ غیر عاملہ	(يَفْعَلْ، يَلْقَ) فعل معلوم	(مَنْ) اسم شرط جازم	(هُوَ) محلاً (هُوَ) محلاً فاعل	ذٰلِكَ محلاً (اَثَامًا) لفظاً مفعول بہ	+	(من) اسم شرط جازم
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ	خبریہ اسمیہ	(لِلّٰهِ) خبر	(اَلْحَمْدُ) مبتداء	(وَ) حرف عاطف غیر عامل (لِ) (لِلّٰهِ) جارہ	+	(فَاطِرِ) اسم فاعل	(اَلْحَمْدُ) لفظاً مبتداء (لِلّٰهِ) محلاً خبر (هُوَ) محلاً فاعل	+	(فَاطِرِ) لفظاً (صفة اللّٰہ) (السَّمٰوٰتِ) مضاف الیہ (الْاَرْضِ) معطوف علیہ	(فَاطِرِ) صیغہ اسم فاعل (هُوَ) فاعلہ اَلسَّمٰوٰتِ الْاَرْضِ مفعول معتمد علی الموصوف
اَمْ تَسْأَلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِنْ مَغْرَمٍ مُثْقَلُوْنَ	انشائیہ فعلیہ	تَسْأَلُ، مُثْقَلُوْنَ	(اَنْتَ)، (هُمْ)	(اَمْ) منقطعہ بمعنی (بَلْ) (فَ) تعلیلیہ (مِنْ) جارہ	(تَسْأَلُ) فعل معلوم	(مُثْقَلُوْنَ) اسم مفعول	(اَنْتَ) محلاً فاعل، (هُمْ) مبتداء محلاً، (هُمْ) محلاً فاعل	(هُمْ) محلاً مفعول بہ (اَجْرًا) لفظاً مفعول ثانی	(مَغْرَمٍ) لفظاً مجرور متعلق (مُثْقَلُوْنَ)	(مُثْقَلُوْنَ) صیغہ اسم مفعول، (هُمْ) فاعلہ
وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَاِنَّهُ اٰثِمٌ قَلْبُهُ	خبریہ اسمیہ	يَكْتُمْ، اٰثِمٌ	مَنْ، هُوَ	(وَ) استئنافیہ (فَ) جزائیہ (اِنَّ) مشبہ بالفعل	(يَكْتُمْ) فعل معلوم	(مَنْ) اسم شرط جازم، (اٰثِمٌ) اسم فاعل (قَلْبُ) اسم مضاف	(مَنْ) محلاً مبتداء (هُوَ) محلاً فاعل (اٰثِمٌ) خبر (اِنَّ)، (قَلْبُ) فاعل	(هَا) محلاً مفعول (ہٗ) محلاً اسم (اِنَّ)	(ہٗ) محلاً مضاف الیہ	(مَنْ) اسم شرط جازم، (اٰثِمٌ) اسم فاعل (قَلْبُهُ) فاعلہ
وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيْدِ	خبریہ اسمیہ	(بَاسِطٌ) خبر	(كَلْبُهُمْ) مبتداء	(وَ) حرف عاطف (بِ) جارہ	+	(كَلْبُ، ذِرَاعَيْ) اسم مضاف (بَاسِطٌ) اسم فاعل	(كَلْبُ) لفظاً مبتداء (بَاسِطٌ) خبر (هُوَ) محلاً فاعل	(ذِرَاعَيْ) مفعول بہ	(هُمْ، ہٖ) محلاً مضاف الیہ (الْوَصِيْدِ) لفظاً مجرور متعلق (بَاسِطٌ)	(بَاسِطٌ) اسم فاعل (هُوَ) فاعلہ معتمد علی المبتداء (ذِرَاعَيْهِ) مفعول

عنوان	خبریہ، انشائیہ	مسند	مسند الیہ	حروف عاملہ، غیر عاملہ	تعیین افعال عاملہ	تعیین اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اسماء شرطیہ، تعیین عمل اسم الفاعل و اسم المفعول
عَلَىٰ سُرُرٍ مَوْضُونَةٍ مُتَّكِئِينَ عَلَيْهَا مُتَقَابِلِينَ	خبریہ ظرفیہ	عَلَىٰ سُرُرٍ باعتبار متعلق خبر	(هُمْ) مقدر مبتدا	۲۔ (عَلَىٰ) جارہ	+	(مَوْضُونَةٍ) اسم مفعول (مُتَّكِئِينَ مُتَقَابِلِينَ) اسم فاعل	(هُمْ) محلا مبتدا مقدر، (سُرُرٍ مَوْضُونَةٍ) محلا باعتبار متعلق خبر (هِيَ، هُمْ، هُمْ) محلا فاعل	(مُتَّكِئِينَ مُتَقَابِلِينَ) حالین	(سُرُرٍ) مجرور حقیقی بحرف (مَوْضُونَةٍ) لفظا صفت (هَا) محلا مجرور حقیقی (مُتَّكِئِينَ)	(مَوْضُونَةٍ) اسم مفعول (هِيَ) فاعلہ (مُتَّكِئِينَ، مُتَقَابِلِينَ) اسم فاعل (هُمْ) فاعلہما
مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا	خبریہ فعلیہ	(نَنْسَخْ، نَأْتِ)	نَحْنُ، نَحْنُ	(مِنْ، بَا، مِنْ) جارہ (أَوْ) حرف عاطف	(نَنْسَخْ، نُنْسِيْ، نَأْتِ) فعل معلوم	(مَا) شرطیہ جازمہ (خَيْرٍ) اسم تفضیل	(نَحْنُ، نَحْنُ، نَحْنُ، هُوَ) محلا فاعل	(مَا) محلا مفعول بہ مقدم (هَا) محلا مفعول بہ	(آيَةٍ) حقیقی (نَنْسَخْ) (مَا) محلا حقیقی (نَأْتِ) (بِخَيْرٍ) حقیقی "نَأْتِ"	(مَا) اسم شرط جازم
وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ	خبریہ فعلیہ	(يَسْلُبْ، لَا يَسْتَنْقِذُوْ)	الذُّبَابُ، هُمْ	(وَ) حرف عطف (لَا) نافیہ غیر عاملہ (مِنْ) جارہ (إِنْ) جازمہ شرطیہ	(يَسْلُبْ، لَا يَسْتَنْقِذُوْ) فعل معلوم	+	(الذُّبَابُ) فاعل (هُمْ) محلا فاعل	(هُمْ)، محلا (شَيْئًا، هُ) محلا مفعول بہ	(هُ) محلا مجرور حقیقی (يَسْتَنْقِذُوْ)	(إِنْ) حرف شرط جازم
ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ	خبریہ فعلیہ	ضَعُفَ	الطَّالِبُ الْمَطْلُوبُ	(وَ) عاطفہ غیر عاملہ	(ضَعُفَ) فعل معلوم	(الطَّالِبُ) اسم فاعل (الْمَطْلُوبُ) اسم مفعول	(الطَّالِبُ) فاعل (وَالْمَطْلُوبُ) معطوف علیہ	+	+	(الطَّالِبُ) اسم فاعل (هُوَ) فاعلہ (الْمَطْلُوبُ) اسم مفعول (هُوَ) فاعلہ

التمرين:

"وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ،، أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ،، وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ،، وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّي،، لَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَخْذُولًا،، يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ،، الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِنْ رَبِّكَ،، فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ،، وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ،، فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا مِنَ الْمُهْلَكِينَ".

ثم ششم صفت مشبہ الخ:........................ الی قولہ ہفتم اسم تفضیل.

ترجمه:

شپږم قسم صفت مشبه دئ چي د خپل فعل عمل کوي په دې شرط چي اعتماد مذکور به ورته حاصل وي لکه: "زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ" کم عمل چي "حَسُنَ" فعل ماضي کوي هغه عمل "حَسَنٌ" هم کوي.

الدرس الثلاثون:

د نن د سبقه خلاصه پنځه (۵) خبري دي:

اوله خبره:

شپږم قسم د اسماء عامله وو څخه صفت مشبه ده.

د صفت[۱] مشبه تعریف:

صفت مشبه هغه اسم مشتق دئ چي دی مشتق سوی وي د فعل لازمي څخه دپاره د دلالت کولو پر داسي ذات چي په ده پوري فعل په طریقه د ثبوت سره قائم وي لکه: "حَسَنٌ" هغه سړی ته ویل کیږي چي په ده پوري حسن بطور ثبوت و دوام قائم وي داغه فرق دئ په مینځ د اسم فاعل و صفت مشبه کي په اسم فاعل کي صفت عارضي وي او په صفت مشبه کي صفت دائمي و لازمي وي. او په ده کي زمانه نه وي ځکه دی پر صفات ثبوتیه باندي دلالت کوي او په کم چا کي چي زمانه وي هغه ته صفات عارضه ویل کیږي او دا په ثلاثي مجردو کي اکثریت د "عَلِمَ يَعْلَمُ" د باب څخه لکه: "اَكْحَلُ" د "كَحِلَ" څخه او د "شَرُفَ يَشْرُفُ" د باب څخه لکه: "شَرِيْفٌ" د "شَرُفَ يَشْرُفُ" څخه راځي. او د دې دوو بابو څخه علاوه ډېر کم راځي لکه: "سَيِّدٌ" د "سَادَ يَسُوْدُ" "ضَيِّقٌ" د "ضَاقَ يَضِيْقُ" "حَرِيْصٌ" د "حَرَصَ يَحْرِصُ" څخه.

د صفت مشبه عمل:

صفت مشبه چونکه صرف د فعل لازمي څخه راځي نو ځکه دی صرف د فعل لازمي عمل کوي یعني فاعل (۲) ته رفع ور کوي لېکن دا یوه خبره یاد ساتل ضروري دي چي صفت مشبه تر خپل فعل په

---

(۱) د صفت مشبه وجه د تسمیه: صفت مشبه ته ځکه صفت مشبه وایي: چي مشبه د اسم مفعول صیغه ده په معنی د تشبیه ورکول سوي سره راځي چونکه د ده هم د اسم فاعل سره تشبیه ور کول سوې ده د تثنیه او جمع او تذکیر و تانیث د صیغو په راتللو کي. او معرفه ته نصب ور کول بناء بر تشبه مفعول کما في اسم الفاعل.

(۲) په صفت مشبه کي د ضمیر د پېژندولو دپاره ضابطه دا ده که چیري صفت مشبه و خپل معمول ته رفع ور کوله نو بیا دغه معمول اسم ظاهر دده دپاره فاعل وي لکه: "عَلِيٌّ حَسَنٌ خُلُقُهُ" په ده کي ضمیر نسته او که چیري صفت مشبه و خپل معمول ته نصب ور کوئ بناء بر تشبیه مفعول که چیري معرفه وو لکه: "عَلِيٌّ حَسَنٌ خُلُقَهُ" یا بر تمیز که چیري نکره وو لکه: "عَلِيٌّ حَسَنٌ خُلُقًا" یا یې جر ور کاوئ بنا بر اضافت لکه: "عَلِيٌّ حَسَنُ الْخُلُقِ" نو بیا په دې وخت کي په صفت مشبه کي یو ضمیر راوزي چي و

عمل کي زيات دئ هغه دا چي صفت مشبه و مفعول به ته نصب هم ور کوي لېکن فعل لازمي و مفعول به ته نصب نسي ور کولای لکه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ حَسَنٌ وَجْهَهٗ".

د صفت مشبه د عمل کولو دپاره شرطونه:

د صفت مشبه د عمل دپاره پنځه (۵) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي اعتماد به يې پر يو د دا پنځو (¹) شيانو باندي کړی وي سواد موصول څخه.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي صفت مشبه به د مصغر صيغه نه وي.

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي صفت مشبه به موصوف نه وي.

۴. څلورم شرط يې دا دئ: چي پر موصول(²) به يې اعتماد نه وي کړی.

۵. پنځم شرط يې دا دئ: چي په معنٰی د حال و استقبال (³) سره به نه وي. دغه شرطونه هغه وخت دي چي کم وخت په فاعل او شبيه بالمفعول کي عمل کوي. لېکن په نورو معمولاتو کي د عمل کولو دپاره يې څه شرط نسته.

د ثلاثي مجردو او غير مجردو څخه د صفت مشبه جوړېدل:

د ثلاثي مجردو څخه قياسًا څلور (۴) وزنونه راځي:

موصوف ته راجع کيږي او دغه ضمير به د صفت مشبه دپاره فاعل وي او د دغه ضمير تذکير و تانيث او تثنيت و جمعيت په اعتبار د موصوف سره وي ځکه د ضمير د خپل مرجع سره مطابقت ضروري دئ لکه: "زَيْدٌ حَسَنٌ وَجْهَهٗ".(تنوير)

(¹) د اعتماد مثالونه:

۱. مبتداء لکه: "زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهٗ".

۲. موصوف لکه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ حَسَنٌ وَجْهُهٗ".

۳. ذوالحال لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ حَسَنًا وَجْهُهٗ".

۴. همزه استفهام لکه: "اَحَسَنٌ وَجْهُ زَيْدٍ".

۵. حرف نفي لکه: "مَاحَسَنٌ وَجْهُ زَيْدٍ".(نصر الخبير)

(²) ځکه الف لام چي په معنٰی د "اَلَّذِيْ" سره راځي هغه صرف پر اسم فاعل او اسم مفعول باندي داخليږي.

(³) چونکه په صفت مشبه کي د دوام و استمرار معنی ده او حال و استقبال حدوث لره مستلزم دي.(نصر الخبير)

۱. اول وزن د "فَعِيلٌ". لكه: "كَرِيمٌ، عَظِيمٌ، حَقِيرٌ". او دا عام طور د "شَرُفَ يَشرُفُ" څخه راځي ليکن کله کله د دغه باب څخه د "فَعَلٍ" لکه: "حَسَنٍ" او کله د "فَعِلٍ" لکه: "ضَخِمٍ" او کله "فَعَلٍ" لکه: "بَطَلٍ، حَسَنٍ". او کله د "فَعَالٍ" لکه: "جَبَانٍ" او کله د "فُعَالٍ" لکه: "شُجَاعٍ" او کله د "فُعْلٍ" لکه: "صُلبٍ" او کله د "فُعُلٍ" لکه: "جُنُبٍ" او کله د "فَعُوْلٍ" لکه: "طَهُوْرٍ" او کله د "فَاعِلٍ" پر وزن هم راځي لکه: "طَاهِرٍ، فَاضِلٍ". او دوی اکثره مخفف د "فَعِيلٌ" څخه وي.

۲. دوهم وزن د "فَعْلَانٌ" د "فَعِلَ" لازمي څخه چي دلالت کوي پر خُلُوٌ (خالي والی) او پر امتلاء (ډک والي) او پر حرارت باطينيه (اندرني گرمايش) چي مرض نه وي او مؤنث يې "فَعْلَى" راځي. لکه: "عَرْثَانٌ" (وږی) "صَدْيَانٌ، عَطْشَانٌ" (تږی).

۳. دريم وزن د "أَفْعَلُ" د "فَعِلَ" لازمي څخه چي دلالت کوي پر لون (رنگ) او پر ظاهري عيبو او پر ظاهري حليه (شکل و صورت) باندي او مؤنث يې "فَعْلَاءُ" راځي. لون لکه: "أَحْمَرُ" (سور). ظاهري عيب لکه: "أَعْمَى" (ړوند). ظاهري حليه لکه: "أَكْحَلُ" (تور سترگی).

۴. څلورم وزن د "فَعِلٌ" د "فَعِلَ" لازمي څخه چي دلالت کوي پر باطني امراضو يا چي د دوی سره مشابه او يا د دوی پر متضادو شيانو باندي او مؤنث يې "فَعِلَةٌ" راځي، امراض به يا باطيني يا به جسماني وي لکه: "وَجِعٌ" (دردناکه). "مَغِصٌ" (چي د درد څخه يې کُلمې پرې سي) يا به خلقي وي لکه: "لَحِزٌ" (بخيل، بد اخلاقه). "بَطِرٌ" (د نعمت ناشکري کول) مشابه شيان "حَزِنٌ" (غمجن کېدل) "حَرِبٌ" (غصه ناکه کېدل) او متضاد شيان لکه: "فَرِحٌ" (خوش حاله کېدل). او د ثلاثي مجرد څخه د اسم فاعل پر وزن راځي لکه: "مُعْتَدِلُ الْقَامَةِ".

دوهمه خبره:

د صفت مشبه اوزان:

د صفت مشبه اوزان ډېر زيات دي ځکه د دوی تعلق تر سماع پورې دئ او کثير الاستعمال اوزان يې دا دي: "فَعِيْلٌ" لکه: "قَلِيْلٌ". "فَعُوْلٌ" لکه: "ظَلُوْمٌ" او دا دوه وزنونه کله کله د مبالغې دپاره هم استعماليږي لکه: "شَكُوْرٌ، غَفُوْرٌ، عَلِيْمٌ".

د "فَعْلَانٌ" وزن لکه: "تَعْبَانٌ". او کله کله د اسم فاعل وزن هم د صفت مشبه دپاره راځي لکه: "عَادِلٌ". او علامه رضي رحمه الله د سماع پر خبره رد کړی دئ او فرمايلي يې دي چې کله په صفت مشبه کې د عيب او د لون والا معنی وي هغه همېشه د "اَفْعَلُ" پر وزن راځي لکه: "اَبْيَضُ، اَسْوَدُ، اَعْوَرُ، اَعْمٰى" او دا قياسي اوزان دي.

د اسم فاعل او صفت مشبه په مينځ کې فرق:

د صفت مشبه او اسم فاعل په مينځ کې څلور (۴) فرقونه دي:

۱. اول فرق: صفت مشبه صرف د فعل لازم څخه راځي او اسم فاعل د لازم و متعدي دواړو څخه راځي.

۲. دوهم فرق: په صفت مشبه کې ثبوت و دوام وي او په اسم فاعل کې حدوث وي.

۳. دريم فرق: د صفت مشبه فاعل صرف سببي راځي او د اسم فاعل، فاعل سببي و اجنبي دواړه راځي.

۴. څلورم فرق: د صفت مشبه معمول نسي مقدم کېدای او د اسم فاعل معمول مقدم کېدای سي.

فائده:

عامه قاعده ده چې نکره کله مضاف سي و معرفه ته نو هغه نکره هم معرفه کيږي او داغه رنګه پر مضاف باندې الف لام نسي داخلېدای لېکن صفت مشبه د دې دواړو قاعدو څخه مستثنی ده يعني صفت مشبه په اضافت سره نسي معرفه کېدای او کله چې دا مضاف وي بيا هم پر دوی باندې الف لام داخلېدای سي نو داغه وجه ده چې کله صفت مشبه سره د مضاف اليه صفت واقع سي د معرفه نو بيا پر دې باندې الف لام داخلول ضروري دي چې مطابقت راسي د موصوف سره لکه: "خَالِدُنِ الْكَثِيْرُ الْمَالِ".

دریمه خبره:

د صفت مشبه د استعمال صورتونه:

په صفت مشبه کي د استعمال په اعتبار سره اتلس (۱۸) صورتونه جوړیږي: بعض عمده دي بعض احسن دي او بعض حسَن دي او بعض مختلف فیه دي او بعض قبیح دي د هغه تفصیل په دې شکل دئ چي صفت مشبه به یا معرف باللام وي یا به مجرد عن اللام وي بیا د هر یوه په معمول کي درې صورتونه جوړیږي:

۱. اول صورت: یا به معرف باللام وي.
۲. دوهم صورت: یا به مضاف وي.
۳. دریم صورت: یا به نه معرف باللام وي او نه به مضاف وي یعني د دواړو څخه به خالي وي دوه ته چي په درې کي ضرب ور کړې نو شپږ قسمه جوړیږي. بیا پر دې شپږ قسمه معمولو باندي درې قسمه اعراب راځي:
۱. اول قسم اعراب: مرفوع بنا بر فاعلیت یا بنا بر بدلیت د ضمیر مستتر څخه.
۲. دوهم قسم اعراب: منصوب که چیري معرفه وو بنا بر شبه مفعول او که نکره وو نصب بنا بر تمیز.
۳. دریم قسم اعراب: مجرور په اضافت سره.

نو چي کله شپږو ته په درې کي ضرب ور کړې اتلس صورتونه جوړیږي په دې کي نه احسن [۱] دوه حسن [۲] یو مختلف [۳] فیه، څلور قبیح [۱] دوه ناجائز [۲] دي چي په کم صفت کي یو ضمیر وي

---

(۱) نه (۹) داني احسن دي چي په هغه کي یو ضمیر موجود وي خواه که په صفت کي وي او که په معمول کي وي دا ځکه احسن دي چي د موصوف سره د ربط دپاره یو ضمیر دئ او د ربط دپاره یو ضمیر کفایت کوي.

(۲) دوه (۹) داني حسن دي چي په هغه کي دوه ضمیرونه موجود وي دغه دوه صورتونه ځکه حسن دي چي په دوی کي د ربط دپاره ضمیر موجود دئ لیکن احسن نه دئ ځکه د ربط دپاره یو ضمیر کافي دئ او دلته دوه ضمیرونه دي.

(۳) یو (۹) صورت مختلف فیه دئ په دې کي اختلاف دئ د بصریین او د امام سبویه رحمة الله علیه په نزد باندي دغه صورت د ضرورت شعري په وجه سره د قباحته جائز دئ او د قباحت وجه دا ده چي دلته په دې صورت کي اضافت لفظي دئ او اضافت لفظي تحفیف فائده کوي په کار دا وه چي دلته د اعلیٰ درجه تخفیف حاصل سوی وای چي د مضاف څخه حذف د تنوین او د مضاف الیه څخه حذف د ضمیر دئ لیکن دلته د ادنیٰ درجه تخفیف حاصل دئ چي صرف د مضاف څخه حذف د تنوین دئ او د مضاف الیه څخه ضمیر نه دئ حذف سوی نو د اعلیٰ درجه تخفیف د امکان په صورت کي د ادنیٰ درجه په تخفیف سره اکتفاء کول قبیح دي. او د

هغه احسن دي او چي دوه ضميرونه پکښې وي هغه حسن دي او چي خالي وي هغه قبيح دي او کم صفت چي مجرد عن اللام وي او مضاف وي و هغه معمول ته چي مضاف وي و ضمير ته د موصوف هغه مختلف فيه وي او که چيري صيغه د صفت معرف باللام وو او مضاف وو و هغه معمول ته چي مجرد عن اللام وي يا صيغه د صفت معرف باللام وه مضاف وه و هغه معمول ته چي هغه مضاف وو و ضمير ته نو دا دواړه ممتنع دي.

څلورمه خبره:

د صورتو تفصيل سره د مثالو:

اول صورت چي صفت مشبه معرف باللام وي او ددې معمول مضاف وي نو په دې کي درې (۳) صورتونه جوړېږي:

۱. اول صورت: معمول مرفوع وي لکه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ وَجْهُهُ".

۲. دوهم صورت: معمول منصوب وي لکه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ وَجْهَهُ".

۳. دريم صورت: معمول مجرور وي لکه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ وَجْهِهِ".

دوهم صورت: چي صفت مشبه معرف باللام وي او معمول يې هم معرف باللام وي نو په دې کي هم درې (۳) صورتونه جوړېږي:

۱. اول صورت: معمول مرفوع لکه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ الْوَجْهُ".

کوفيين په نزد بانذي دغه صورت بغيره قباحته جائز دي ځکه د جواز دپاره في الجملة څه نه څه تخفيف په کار دئ او هغه دلته په حذف د تنوين سره حاصل سوی دي.

(۱) څلور (۴) صورتونه قبيح دي چي په هغه کي ضمير نه وي موجود وجه د قباحت يې دا ده چي دلته موصوف د صفت سره ربط غواړي او د ربط دپاره د ضمير ضرورت دئ او دلته ضمير نسته.

(۲) د امتناع په صورت کي دا وه چي صيغه د صفت معرف باللام وي لکه: "اَلْحَسَنُ وَجْهِ" او مضاف وي و هغه معمول ته چي هغه مجرد عن اللام وي د دې صورت د امتناع وجه دا ده چي دلته اضافت د معرفه و نکره ته دئ چي په اضافت معنويه کي ممتنع دئ نو د دې مشابهت په وجه نحويانو دا صورت هم ممتنع بللی دئ او دوهم صورت دا وو چي صيغه د صفت معرف باللام وي او مضاف وي و هغه معمول ته چي هغه مضاف وي و ضمير ته لکه: "اَلْحَسَنُ وَجْهِهِ" او د دې صورت وجه امتناع دا ده چي دلته په اضافت لفظي سره يو قسم تخفيف لانه دئ حاصل سوی ځکه تخفيف يا په حذف د تنوين سره راځي يا په حذف د نون د تثنيه او نون د جمع سره راځي يا د موصوف د ضمير فاعل په حذف سره د صفت څخه لېکن دلته د دا مذکوره وجوه څخه يې د يوې وجه فائده لانه ده حاصله سوې نو ځکه دا صورت ممتنع دئ. (ضوابط نحوية)

۲. دوهم صورت: معمول منصوب لكه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ الْوَجْهَ".

۳. دريم صورت: معمول مجرور لكه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ الْوَجْهِ".

دريم صورت چي صيغه د صفت معرف باللام وي او معمول د اضافت او الف لام دواړو څخه خالي وي نو بيا په دې كي هم درې صورتونه جوړيږي:

۱. اول صورت: معمول مرفوع وي لكه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ وَجْهٌ".

۲. دوهم صورت: معمول منصوب وي لكه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ وَجْهًا".

۳. دريم صورت: معمول مجرور وي لكه: "زَيْدٌ اَلْحَسَنُ وَجْهٍ".

پنځمه خبره:

نو د معرف باللام په صورت كي نه (۹) صورتونه جوړ سوه داغه رنګه كه چيري مجرد عن اللام وو هم نه (۹) صورتونه جوړيږي هغه په دې شكل:

۱. اول صورت: چي صيغه د صفت مجرد عن اللام وي او پر معمول مضاف باندي درې اعراب ويل جائز دي.

۲. دوهم صورت: چي صيغه د صفت مجرد عن اللام وي او معمول هم مجرد عن اللام وي بيا درې سره اعراب ويل كيږي.

۳. دريم صورت: چي صيغه د صفت مجرد عن اللام وي او معمول معرف باللام وي نو بيا درې صورتونه جوړيږي خو ټوله اتلس (۱۸) صورتونه جوړيږي.

جملې:

عنوان	خبر، انشاء	مسند	مسند اليه	تعين حروف عامله و غير عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعين مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعين صفت مشبه و عمل الاسماء العامله
إِنَّ رَبِّيْ لَسَمِيْعُ الدُّعَاءِ	خبريه اسميه	(لَسَمِيْعُ الدُّعَاءِ) خبر (إِنَّ)	(رَبِّيْ) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) حرف مشبه بالفعل	+	(رَبِّ) اسم مضاف، (سَمِيْعُ) صفت مشبه	(رَبِّ) محلا اسم (إِنَّ)، (لَسَمِيْعُ) خبر (إِنَّ)، (هُوَ) محلا فاعل	(رَبِّ) تقديرا، اعراب تقديري اسم ان	(يْ) محلا، (اَلدُّعَاءِ) مضاف اليه	(رَبِّ) (لَسَمِيْعُ)، صفت مشبه (هُوَ) فاعله (اَلدُّعَاءِ) مفعول
أَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ	خبريه اسميه	(غَنِيٌّ) (حَمِيْدٌ) خبر (إِنَّ)	(اللّٰهَ) اسم (إِنَّ)	(أَنَّ) مشبه بالفعل	+	(غَنِيٌّ) (حَمِيْدٌ) صفت مشبه	(اللّٰهَ) محلاً، محل ابتداء اسم (إِنَّ)، (هُوَ، هُوَ) محلا فاعل	(اللّٰهَ) لفظا اسم (إِنَّ)	+	(غَنِيٌّ حَمِيْدٌ) لفظا صفت مشبه (هُوَ) فاعلها

عنوان	خبریہ انشائیہ	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین صفت مشبہ و عمل الاسماء العاملہ
إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ	خبریہ اسمیہ	(لَقَوْلُ) خبر (إِنَّ)	(هٗ) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) مشبہ بالفعل، (لام) للتاکید غیر عامل	٭	(قَوْلُ) مصدر مضاف (كَرِيمٍ) صفت مشبہ	(قَوْلُ) لفظاً خبر (إِنَّ)	(هٗ) محلاً اسم (إِنَّ)	(رَسُولٍ) مضاف الیہ (كَرِيمٍ) نعت	(كَرِيمٍ) صفت مشبہ (هُوَ) فاعل، (قَوْلُ) مصدر، (رَسُولٍ) بمعنی (مُرْسَل)
إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا	خبریہ اسمیہ	(أَنْذَرْنَا كُمْ) خبر (إِنَّ)	(نَا) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) مشبہ بالفعل	(أَنْذَرْنَا) فعل معلوم	(قَرِيبًا) صفت مشبہ	(نَا) فی محل مبتداء محلاً اسم (إِنَّ)، (أَنْذَرْنَاكُمْ) فی محل الرفع خبر (إِنَّ)	(نَا) فاعل، (هُوَ) فاعل (كُمْ) مفعول (عَذَابًا) مفعول بہ (قَرِيبًا) صفت	٭	(قَرِيبًا) صفت مشبہ، (هُوَ) فاعل
إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ	خبریہ اسمیہ	(لَكَنُودٌ) خبر (إِنَّ)	(الْإِنْسَانَ) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) مشبہ بالفعل، لام جارہ، (لِ) للقسم او للتاکید	٭	(رَبِّ، كَنُودٌ) صفت مشبہ	(الْإِنْسَانَ) فی محل مبتدء محلاً اسم (إِنَّ)، (كَنُودٌ) خبر (إِنَّ) (هُوَ) محلاً فاعل	(الْإِنْسَانَ) لفظاً اسم (إِنَّ)	(رَبِّ، هٖ) محلاً مجرور متعلق بمحذوف مضاف الیہ	(رَبِّ، كَنُودٌ) (هُوَ) فاعل
عَسَىٰ أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا	خبریہ فعلیہ	(عَسَىٰ) فعل تام ٭	(أَنْ يَبْعَثَكَ) فاعل	(أَنْ) ناصبہ مصدریہ	(عَسَىٰ) فعل تام (يَبْعَثُ) فعل معلوم	(رَبُّ) اسم مضاف، (مَحْمُودًا) مضاف الیہ	(أَنْ يَبْعَثَكَ) محلاً مرفوع (رَبُّكَ) (هُوَ) محلاً مرفوع کلہم فاعل	(كَ) محلاً مفعول بہ، (مَقَامًا) حال او مفعول مطلق او متعلق فعل (مَحْمُودًا) صفت	(كَ) مضاف الیہ محلاً	(رَبُّ) صفت مشبہ اسم مضاف (مَحْمُودًا) اسم مفعول، (مَقَامًا) مصدر میمی زمان یا مکان
إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا	خبریہ اسمیہ	(كَانَ زَهُوقًا) خبر (إِنَّ)	(هو الْبَاطِلَ) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) حرف مشبہ بالفعل	(كَانَ) فعل ناقص	(زَهُوقًا) صفت مشبہ	(الْبَاطِلَ) محلاً فی محل مبتداء، (هُوَ، هُوَ) محلاً فاعل	(الْبَاطِلَ) لفظاً اسم (إِنَّ) (زَهُوقًا) خبر (كَانَ)	٭	(زَهُوقًا) صفت مشبہ (هُوَ) فاعل
وَكَانَ الْإِنْسَانُ قَتُورًا	خبریہ فعلیہ	(قَتُورًا) خبر كَانَ	(الْإِنْسَانُ) اسم (كَانَ)	(وَ) استنافیہ	(كَانَ) فعل ناقص	(قَتُورًا) صفت مشبہ	(الْإِنْسَانُ) اسم (كَانَ)، (هُوَ) محلاً فاعل	(قَتُورًا) لفظاً خبر (كَانَ)	٭	(قَتُورًا) صفت مشبہ (هُوَ) فاعل
فَأَبَىٰ أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا	خبریہ فعلیہ	(أَبَىٰ) فعل	(أَكْثَرُ النَّاسِ) فاعل	(فَ) عاطفہ، (إِلَّا) حرف استثناء	(أَبَىٰ) فعل معلوم	(أَكْثَرُ) اسم تفضیل مضاف (كُفُورًا) مصدر	(أَكْثَرُ) فاعل	(كُفُورًا) لفظاً مفعول بہ	(النَّاسِ) مضاف الیہ	(أَكْثَرُ) اسم تفضیل (كُفُورًا) مصدر سماعی
لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَسْتُورًا	خبریہ فعلیہ	(لَا يُؤْمِنُونَ) فعل	(هُمْ) فاعل	(لَا) نافیہ غیر عاملہ فی اللفظ، (بِ) جارہ	(يُؤْمِنُونَ) فعل معلوم	(مَسْتُورًا) اسم مفعول	(لَا يُؤْمِنُونَ) فعل مضارع مرفوع (۳) هم (هُمْ) محلاً فاعل (هُوَ) محلاً فاعل	(حِجَابًا) مفعول بہ (مَسْتُورًا) صفت	(الْآخِرَةِ) مجرور متعلق (يُؤْمِنُونَ)	(مَسْتُورًا) اسم مفعول (هُوَ) فاعل
قُلْ لَوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ	خبریہ فعلیہ	(قُلْ، فِي الْأَرْضِ، لَنَزَّلْنَا) فعل	(أَنْتَ، مَلَائِكَةٌ، نَا) فاعل	(لَوْ) حرف شرط غیر جازم، (فِي) (عَلَىٰ) جارہ (لَ) برای تاکید غیر عامل	(كَانَ) فعل ناقص (يَمْشُونَ، نَزَّلَ، قُلْ) افعال معلومہ	(مُطْمَئِنِّينَ) اسم فاعل	(أَنْتَ) فاعل (مَلَائِكَةٌ) اسم (كَانَ) (هُوَ، هُمْ) محلاً، (هُمْ) محلاً، (نَا) محلاً کلہم فاعل	(فِي الْأَرْضِ) محلاً باظہر متعلق (ثَابِتٌ) خبر كَانَ (مُطْمَئِنِّينَ) حال	(الْأَرْضِ) لفظاً مجرور متعلق محذوف	(مُطْمَئِنِّينَ) اسم فاعل (هُمْ) فاعل

عنوان	خبریہ، انشاء	مسند	مسندالیہ	تعیین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین صفت مشبہ و عمل الاسماء العاملہ
وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُوْنِهٖ	خبریہ اسمیہ	(يُضْلِلْ، تَجِدَ) فعل	(هُوَ، أَنْتَ) فاعل	(وَ) عاطفہ، (فَ) جزائیہ، (لَنْ) ناصب عامل، (لَامْ) جارہ، (مِنْ) جارہ	(يُضْلِلْ، تَجِدَ) افعال معلوم	(مَنْ) اسم شرط جازم (دُوْنَ) اسم مضاف	(هُوَ، أَنْتَ) محلاً فاعل	(مَنْ) محلاً مفعول بہ مقدم (أَوْلِيَاءَ) مفعول بہ	(هُمْ) مجرور متعلق بمفعول ثانی مقدر (دُوْنَ) مجرور متعلق بنعت محذوف (الْأَوْلِيَاءَ) (ہ) مضاف الیہ محلاً	(مَنْ) اسم شرط جازم، (دُوْنَ) اسم مضاف

التمرين:

"إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا،، إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا،، وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَا فِرْعَوْنُ مَثْبُورًا،، مَاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا،، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ وَلِيًّا مُرْشِدًا،، وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ،، فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ،، وَكَانَ اللّٰهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُقْتَدِرًا،، وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً،، وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ عَضُدًا".

هفتم اسم تفضیل الخ الی قوله .... ہشتم مصدر،

ترجمه:

اووم قسم اسم تفضيل دئ او دده استعمال پر درې قسمه دئ: اول صرف په "مِنْ" سره لکه: "زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍ". دوهم په الف لام سره لکه: "جَائَنِي زَيْدٌ نِ الْأَفْضَلُ". دريم په اضافت سره لکه: "زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ" او د ده عمل په فاعل کي وي چي "هُوَ" دئ او د "أَفْضَلُ" فاعل ضمير د "هُوَ" دئ چي په ده کي مستتر دئ.

الدرس الحادي والثلاثون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

اسم تفضيل:

اووم قسم په اسماء عامله کي اسم تفضيل دئ.

د اسم تفضيل تعريف:

اسم تفضیل هغه اسم دئ چي دی مشتق سوی وي د مصدر څخه او دی دلالت کوي پر اشتراک د دوو شیانو په یوه صفت کي او یو پر هغه بل باندي زیات وي په دا صفت کي لکه: "خَلِيْلٌ اَعْلَمُ مِنْ سَعِيْدٍ وَ اَفْضَلُ مِنْهُ" او دی پر وزن د "اَفْعَلُ" وي کم یو چي په صفتیت کي زیات وي هغه ته "مُفَضَّلْ" او هغه بل ته "مُفَضَّلُ عَلَيْهِ يَا مَفْضُوْل" ویل کیږي او دی په مثال د صفت مشبه سره دئ په دوام و استمرار کي تر څو چي د ده خلاف یو قرینه نسي موجوده.

د اسم تفضیل عمل:

اسم تفضیل دوه قسمه عمل کوي:

۱. یو عمل د نصب کوي.
۲. او بل عمل د رفع کوي.

عمل د نصب یې په دوو شکلو سره راځي:

۱. اول شکل: کله بنا بر مفعولیت نصب ور کوي.
۲. دوهم شکل: او کله نصب بناء بر حالیت، یا ظرفیت، یا بناء بر تمیز ور کوي.

اول عمل د نصب دئ:

چونکه اسم تفضیل عامل ضعیف دئ ځکه په ده کي د مصدر معنٰی بعینه نه پاته کیږي، بلکه په هغه کي زیاتوب راځي نو ځکه دی په ټولو معمولاتو کي عمل نسي کولای صرف په دا څلورو معمولاتو کي عمل کوي.

۱. اول: په تمیز کي.
۲. دوهم: په حال کي.
۳. دریم: په ظرف کي.
۴. څلورم: په فاعل مستتر کي مطلقا عمل کوي لکه: "زَيْدٌ اَحْسَنُ مِنْكَ الْيَوْمَ رَاكِبًا" "اَلْيَوْمَ" ظرف مفعول فیه دئ "رَاكِبًا" حال دئ "أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا" دلته "مَالًا" و "نَفَرًا" تمیزونه دي.

دوهمه خبره:

چونکه حال او ظرف دواړه ضعيف معمولات دي نو ځکه په دوی کي د عمل کولو دپاره د دوی د عامل د فعل سره ادنی مشابهت هم کافي دئ او دلته د اسم تفضيل د فعل سره په دې اعتبار مشابهت لري چي دی هم پر معنٰی حدثي باندي دلالت کوي چي د فعل يو جزء ده نو ځکه دی په حال او ظرف دواړو کي عمل کولای سي. او تميز هم دېر زيات کمزوری معمول دئ ځکه اسم تام چي د فعل د معنٰی څخه بالکل خالي وي هغه هم په ده کي عمل کولای سي لکه: "عِنْدِيْ رِطْلٌ زَيْتًا" نو اسم تفضيل چي څه نه څه مشابهت د فعل سره لري نو هغه خو په ده کي په طريقه اولی سره عمل کولای سي.

لېکن اسم تفضيل په مفعول به کي بالکل عمل نسي کولای خواه که مفعول به مظهر وي او که مضمر وي ځکه د اسم تفضيل مفعول د "مُفَضَّلٌ عَلَيْهِ" څخه سوا بل يو شی نسي راتلای او "مُفَضَّلٌ عَلَيْهِ" هم چي ذکر سي هغه مجروره وي او داغه رنګه اسم تفضيل په مفعول مطلق، مفعول له، او مفعول معه، کي عمل نسي کولای.

دوهم عمل دَ رفع دئ:

رفع بنا بر فاعليت راځي او په دې کي درې صورتونه دي:

۱. اول صورت: په ضمير مستتر کي عمل کول.
۲. دوهم صورت: په ضمير بارز کي عمل کول.
۳. دريم صورت: په اسم ظاهر کي عمل کول.

اسم تفضيل په ضمير مستتر کي بغير د څه شرطه عمل کوي ځکه ضمير مستتر معمول ضعيف دئ لېکن په ضمير بارز او په اسم ظاهر کي بغير د شرط څخه عمل نسي کولای ځکه دا دواړه قوي معمولات دي، مګر په يوه ځای کي په اسم ظاهر کي عمل کولای سي او د هغه دپاره درې شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي اسم تفضيل به په اعتبار د لفظ سره د يوه شي صفت وي او په اعتبار د معنٰی سره به د داغه شي د متعلق صفت وي او دا متعلق به په داغه شي او په بل شي کي مشترک وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي دا متعلق د شي به په داسي ([1]) شکل وي چي د دغه شي په اعتبار سره به "مُفَضَّلْ" وي او د هغه بل شي په اعتبار سره به "مُفَضَّلْ عَلَيْهِ" وي، يعني دی به "مُفَضَّلْ" او "مُفَضَّلْ عَلَيْهِ" دواړه وي لېکن په دوه اعتباره سره.

۳. دريَم شرط يې دا دئ: چي د اسم تفضيل څخه به مخکي نفي، يا نهي، يا استفهام انکاري وي مثال يې لکه: "مَارَاَيْتُ رَجُلًا اَحْسَنَ فِي عَيْنِهِ الْكُحْلُ مِنْهُ فِي عَيْنِ زَيْدٍ". تفصيل يې په حاشيه کي موجود دئ.

خلاصه د شرائطو دا ده: (۱) چي اسم تفضيل به د لفظ په اعتبار سره د ماقبل صفت وي او د معنی په اعتبار سره به د مابعد صفت وي. (۲) اسم ظاهر به د ماقبل په اعتبار سره "مُفَضَّلْ عَلَيْهِ" وي او د

([1]) دا خبره ياد ساتل ضروري دي چي د متعلق د شي د داغه شي په اعتبار سره مفضل کېدل او د دوهم شي په اعتبار سره مفضل عليه کېدل دا د نفي د دخول څخه مخکي دئ ځکه د نفي د دخول څخه وروسته معنی بر عکس کيږي لکه: "مَارَاَيْتُ رَجُلًا اَحْسَنَ فِي عَيْنِهِ الْكُحْلُ مِنْهُ فِي عَيْنِ زَيْدٍ". اوس په دې مثال کي اول په اعتبار د اثبات سره معنی راښتل په کار دي چي د کلام معنی واضح او ښکاره سي بيا د نفي والا معنی کول په کار دي هغه په دې شکل چي دلته په دغه مخکني مثال کي "اَحْسَنَ" صيغه د اسم تفضيل ده په اعتبار د لفظ سره د يوه شي صفت دئ چي "رَجُلًا" دئ او په اعتبار د معنی سره د "رَجُلْ" د متعلق صفت دئ چي "اَلْكُحْلُ" دئ او "اَلْكُحْلُ" د "رَجُلْ" او د "زَيْدْ" په سترګو کي مشترک دئ او دغه "اَلْكُحْلُ" په اعتبار د "عين" (سترګو) د "رجل" سره "مُفَضَّلْ" دئ او په اعتبار د "عين" د "زَيْد" سره "مُفَضَّلْ عَلَيْهِ" دئ نو په دې صورت کي معنی دا جوړيږي چي ما يو سړی وليدئ چي د هغه په سترګو کي رانجه د زيد تر سترګو ډېر ښائسته وه اوس په دې صورت کي د نفي څخه ماسوا ټوله شرطونه ښکاره سو لېکن کله چي پر ده باندي نفي داخلي سوي نو بيا اسم تفضيل منفي سو دري سره شرطونه موجود سوه او د نفي څخه وروسته "كُحْلْ" په اعتبار د "عَيْنْ" د "رَجُلْ" سره "مُفَضَّلْ عَلَيْهِ" سو او په اعتبار د "عَيْنْ" د "زَيْدْ" سره "مُفَضَّلْ" سو او د نفي څخه وروسته مقصود د زيد د سترګو درانجو تعريف دئ. په دې مثال کي "مَا" نافيه دئ "رَجُلًا" مفعول به دئ د "رَاَيْتُ" دپاره او "اَحْسَنَ" اسم تفضيل دئ په "اَلْكُحْلُ" کي عمل کوي او "اَلْكُحْلُ" اسم ظاهر دئ چي د "اَحْسَنَ" فاعل دئ، د دې بل مثال لکه: "مَارَاَيْتُ رَجُلًا اَوْقَعَ فِي نَفْسِهِ النَّصِيْحَةُ مِنْهَا فِي نَفْسِ زُهَيْرٍ".

او په دې صورت کي اسم تفضيل په اسم ظاهر کي ځکه عمل کوي چي دلته اسم تفضيل په معنی د فعل ماضي د "حَسُنَ" سره جوړ سوی دئ ځکه دا قاعده ده چي کله هم اسم تفضيل تحت النفي واقع سي نو هغه په معنی د فعل سره وي.

او بله قاعده دا ده چي کله پر مقيد بالقيد باندي نفي داخلي سي نو هلته نفي د قيد راځي نو لهذا کله چي پر اسم تفضيل باندي نفي داخلي سي نو نفي د صفت تفضيلي راځي او اصل فعل باقي پاته کيږي نو "اَحْسَنَ" په معنی د "حَسُنَ" فعل سره خپل فاعل اسم ظاهر ته رفع ور کوي، لکه: "مَامِنْ اَيَّامٍ اَحَبُّ اِلَى اللهِ فِيْهَا الصَّوْمُ مِنْهُ فِيْ عَشْرَةِ ذِی الْحَجَّةِ". (شرح جامي)

ما بعد په اعتبار سره به "مُفَضَّلْ" وي. (۳) د اسم تفضیل څخه مخکې به نفي یا نهي یا استفهام انکاري وي.

دریمه خبره:

د اسم تفضیل د استعمال صورتونه:

اسم تفضیل په دري طریقو سره استعمالیږي:

په دې شرط چې دی به خبر نه وي او مفضل علیه به معلوم نه وي ورنه بیا د ده استعمال په دغه درو طریقو سره ضروري نه دئ.

اوله طریقه: اسم تفضیل کله په "مِنْ" سره استعمالیږي لکه: "زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍ".

د دې اول قسم د استعمال حکم (۱) اسم تفضیل که چیري مستعمل په "مِنْ" سره وو نو بیا دی همېشه مفرد مذکر راوړل واجب دئ خواه که د ده موصوف تثنیه وي او که جمع وي، مذکر وي او که

---

(۱) اسم تفضیل همېشه د "اَفْعَلُ" پر وزن راځي او لفظ د "خَيْرٌ وَ شَرٌّ او حَبٌّ" هم اسم تفضیل دئ ځکه دا په اصل کي "اَخْيَرُ، اَشْرَرُ، اَحْبَبُ" وو بیا همزه د کثرت استعمال په وجه حذف سو، امام اخفش رحمۃ اللہ علیہ فرمایي: چي په دوی کي دوه شذوذ دي:

۱. یو حذف د همزه دئ.

۲. او بل عدم وجود د فعل دئ ځکه د دوی فعل نسته. (شرح التصریح جلد ۱ صفحه ۹۲)

او د "فُعْلَى" وزن یې د مؤنث دپاره شرط دئ ورنه د "اَفْعَلُ" صیغه اسم تفضیل نه جوړیږي لکه: "اَبْيَضُ، بُيْضَى، اَحْمَرُ، حُمْرَى" د دوی معنی صرف سپین والی او سروالی دئ د زیاتوب معنی په دوی کي نسته.

د اسم تفضیل دپاره دغه شرطونه دي "كُلُّ فِعْلٍ ثُلَاثِيٍّ مُتَصَرِّفٌ مَعْلُوْمٌ تَامٌّ مُثْبَتٌ قَابِلٌ لِلتَّفَاضُلِ مُبْنِيٌّ لِلْفَاعِلِ لَيْسَ الْوَصْفُ مِنْهُ عَلَى اَفْعَلَ، وَلَا يَكُوْنُ دَالًّا عَلَى لَوْنٍ اَوْ عَيْبٍ اَوْ حُلْيَةٍ".

د اسم تفضیل او اسم فاعل په مینځ کي فرق په درو شکلو سره راځي:

۱. او د اسم تفضیل د عامل جوړېدلو دپاره هیڅ شرط نسته.

۲. د اسم تفضیل فاعل همېشه ضمیر مستتر وي او د اسم فاعل فاعل کله ضمیر راځي او کله اسم ظاهر راځي.

۳. او اسم تفضیل صرف فاعل غواړي او اسم فاعل که چیري د فعل متعدي څخه وو نو بیا دی مفعول به هم غواړي.

د اسم تفضیل او اسم مبالغه په مینځ کي فرق دا دئ چي په اسم مبالغه کي د زیاتوب معنی في نفسه موجوده وي لکه: "غَفَّارٌ" ډېر مهربانه او په اسم تفضیل کي د زیاتوب معنی بنسبت د غیر ته وي لکه: "اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَيْ اَكْبَرُ مِنْ كُلِّ شَيْئٍ".

مؤنث وي او دغه "مِنْ" جاره وي و "مُفَضَّلْ عَلَيْهِ" ته جرور كوي لكه: "خَالِدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو، فَاطِمَةُ اَفْضَلُ مِنْ سُعَادٍ، زَيْدَانِ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو، اِمْرَئَتَانِ اَفْضَلُ مِنْ رَجُلٍ، اَلْمُجَاهِدُوْنَ اَفْضَلُ مِنَ الْقَاعِدِيْنَ، اَلْمُتَعَلِّمَاتُ اَفْضَلُ مِنَ الْجَاهِلَاتِ، هٰذَانِ اَفْضَلُ مِنْ هٰذَا، هَاتَانِ اَنْفَعُ مِنْ هَاتَيْنِ" او كله كله "مِنْ" جاره مقدر وي لكه: "وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَّأَبْقٰى: اَىْ خَيْرٌ مِنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَ اَبْقٰى مِنْهَا" او كله كله د "مِنْ" اثبات و حذف دواړه سره جمع سوي وي لكه: "أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا: اى اَعَزُّ مِنْكَ" او داغه رنګه د "مِنْ" تقديم جائز نه دئ مګر چيري مجرور اسم استفهام وو يا مضاف وه اسم استفهام ته بيا يې تقديم مع المجرور واجب دئ لكه: "مِمَّنْ اَنْتَ خَيْرٌ، وَمِنْ فَرَسِ مَنْ فَرَسُكَ اَسْبَقُ".

دوهمه طريقه: اسم تفضيل كله په الف لام عهد خارجي سره استعماليږي لكه: "زَيْدٌ نِ الْاَفْضَلُ".

د دې دوهم قسم د استعمال حكم:

كه چيري اسم تفضيل معرف باللام وو بيا د ده دپاره دوه حكمونه دي:

١. اول حكم يې دا دئ: چي په دې صورت كي د ده استعمال په "مِنْ" سره هيڅ كله جائز نه دئ.

٢. دوهم حكم يې دا دئ: چي د ده مطابقت د موصوف سره په افراد، تثنيت، جمعيت، تذكير، تانيث كي واجب دئ لكه: "زَيْدُ نِ الْاَفْضَلُ، اَلزَّيْدَانِ الْاَفْضَلَانِ، اَلزَّيْدُوْنَ الْاَفْضَلُوْنَ، هِنْدُ نِ الْفُضْلٰى، اَلْهِنْدَاتُ الْفُضْلَيَاتُ".

څلورمه خبره:

دريمه طريقه: اسم تفضيل كله په اضافت سره استعماليږي اضافت په دوو طريقو سره راځي:

١. كله اضافت و نكره ته وي.

٢. كله اضافت و معرفه ته وي.

د اضافت الى النكره د استعمال حكم:

او پر اسم تفضيل باندي هيڅكله تنوين نسي راتلاى او دى كله د فاعل په معنى كي زياتوب پيدا كوي لكه: "اَضْرَبُ" او كله د اسم مفعول په معنى كي زياتوب پيدا كوي لكه: "اَضْرَبُ اَشْهَرُ" بمعنى مشهورتر. او كله كله مفضل عليه حذف كيږي د يو قرينه په وجه لكه: "اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَىْ اَكْبَرُ مِنْ كُلِّ شَيْئٍ". (اوضح المسالک شرح الفيه ابن مالک جلد ۲ صفحه ۴۹۴)

اسم تفضیل که چیري و نکره ته مضاف وو بیا به دی همیشه مفرد مذکر راځي. لېکن د مفضل او مضاف الیه په مینځ کې مطابقت ضروري دي. لکه: "خَالِدٌ اَفْضَلُ قَائِدٍ. فَاطِمَةُ اَفْضَلُ اِمْرَءَةٍ. اَلزَّيْدَانِ اَفْضَلُ رَجُلَيْنِ. اَلْهِنْدَانِ اَفْضَلُ اِمْرَئَتَيْنِ. اَلْمُجَاهِدُوْنَ اَفْضَلُ رِجَالٍ. اَلْمُتَعَلِّمَاتُ اَفْضَلُ نِسَاءٍ".

د اضافت الی المعرفه د استعمال حکم:

د اضافت الی المعرفه دوه صورتونه دي:

۱. اول صورت: یا به د تفضیل والا معنٰی باقي وي.

۲. دوهم صورت: یا به د تفضیل والا معنٰی ختمه سوې وي.

که چیري د تفضیل والا معنٰی ختم سوې وه یعني تاویل په کې سوی وو بیا د ده مطابقت د موصوف سره واجب دئ لکه: "اَلنَّاقِصُ وَالْاَشَجُّ اَعْدَلَا بَنِيْ مَرْوَانَ اَیْ هُمَا عَادِلَا هُمْ" دلته اسم تفضیل د "عَادِلٌ" په معنٰی سره دئ.

او که چیري د اسم تفضیل معنٰی باقي پاته وه بیا مطابقت او عدم مطابقت دواړه جائز دي د مطابقت مثال لکه: "وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا" او د عدم مطابقت مثال لکه: "وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ". او په حدیث مبارکه کې دواړه مثالونه موجود دي: "اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِاَحَبِّكُمْ اِلَيَّ وَ اَقْرَبِكُمْ مِنِّيْ مَجَالِسَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَحَاسِنُكُمْ اَخْلَاقًا. اَلْمُوَطَّئُوْنَ اَكْنَافًا. اَلَّذِيْنَ يَأْلَفُوْنَ وَيُؤْلَفُوْنَ".

فائده:

اسم تفضیل کله کله د معنٰی تفضیلي څخه خالي وي بیا کله د اسم فاعل معنٰی لره متضمن وي لکه: "رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ: اَیْ عَالِمٌ بِكُمْ"، او کله د صفت مشبه معنٰی لره متضمن وي لکه: "وَهُوَ الَّذِي يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ: اَیْ وَ هُوَ هَيِّنٌ عَلَيْهِ. اَكْرَمْتُ الْقَوْمَ اَكْبَرَهُمْ وَ اَصْغَرَهُمْ اَیْ صَغِيْرَهُمْ وَ كَبِيْرَهُمْ". لېکن که چیري معرف باللام وو یا یې اضافت و نکره ته سوی وو یا په "مِنْ" سره مستعمل سوی وو بیا یې خالي والی د معنٰی تفضیلي څخه جائز نه دئ.

هشتم اسم مصدر بشرط آنکه مفعول مطلق نباشد عمل فعلش کند چون "أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًوا".

ترجمه:

اتم قسم مصدر دئ په دې شرط چې مفعول مطلق به نه وي او دی د خپل فعل عمل کوي، لکه: "أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًوا".

پنځمه خبره:

مصدر:

اتم قسم د اسماء عامله څخه مصدر دئ.

د مصدر تعریف:

مصدر هغه اسم دئ چې دلالت کوي پر حدث باندې يعنې پر داسې معنی چې هغه قائم باالغير وي او د ده څخه افعال او مشتقات جوړيږي لکه: "ضَرْبٌ".

د مصدر عمل:

مصدر د خپل فعل عمل کوي يعنې که چيرې مصدر لازمي وو صرف فاعل ته رفع ور کوي لکه: "أَعْجَبَنِيْ قِيَامُ زَيْدٍ" دلته "قِيَامٌ" مصدر فقط و فاعل يعنې و "زَيْد" ته رفع ور کړې ده. "زَيْد" که څه هم لفظا مجروره دئ ليکن محلا مرفوع دئ او که چيرې مصدر متعدي وو بيا فاعل ته رفع او مفعول به ته نصب ور کوي، لکه: "أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًوا".

د مصدر د عمل (1) دپاره شرائط:

مصدر چې کله عمل کوي د هغه دپاره نه (۹) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې مصدر به مفرد وي احترازي مثال لکه: "جَلَسْتَ جَلْسَتَيْنِ".

---

(1) د مصدر د عمل دپاره دوه مقامونه دي مصدر په دوه ځايو کې عمل کوي:

۱. اول ځای: يو په هغه ځای کې چې دی د لفظ د فعل څخه بدل واقع سوی وي لکه: "ضَرْبًا زَيْدًا".

۲. دوهم ځای: په هغه ځای چې د مصدر په ځای کې د فعل راتلل سره د "أَنْ" يا د "مَا" صحيح وي لکه: "وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ" پر ځای "لَوْلَا أَنْ يَدْفَعَ" و "يُعْجِبُنِيْ قَوْلُكَ الْحَقَّ الْآنَ" پر ځای "يُعْجِبُنِيْ مَا تَقُوْلُ الْحَقَّ الْآنَ" صحيح کيږي. (تسهيل)

۲. دوهم شرط يې دا دئ؛ چې مصدر به مفعول مطلق نه وي احترازي مثال لكه؛ "ضَرَبْتُ ضَرْبًا عَمْرًوا".

۳. دريم شرط يې دا دئ: مصدر به موصوف نه وي يعني دی به د عمل كولو څخه مخكې موصوف نه جوړيږي احترازي مثال لكه: "أَعْجَبَنِي ضَرْبُكَ الشَّدِيْدُ زَيْدًا".

۴. څلورم شرط يې دا دئ: مصدر به اسم "مُصَغَّرْ" نه وي احترازي مثال لكه: "يُعْجِبُنِي ضُرَيْبُكَ اللِّصَّ".

۵. پنځم شرط يې دا دئ: په مصدر كي به تاء د وحدت نه وي احترازي مثال لكه: "ضَرَبْتُ ضَرْبَةً وَاحِدَةً".

٦. شپږم شرط يې دا دئ: د مصدر و د معمول په مينځ كي به فاصله (۱) نه وي.

۷. اووم شرط يې دا دئ: د مصدر معمول به پر مصدر (۲) مقدم نه وي.

۸. اتم شرط يې دا دئ: مصدر به معرف باللام نه وي لېكن د معرف باللام په صورت كي كله كله عمل كوي.

۹. نهم شرط يې دا دئ: چې د دغه به مراد معنى حدثي وي لكه: "اَلْعِلْمُ نُوْرٌ".

د مصدر استعمال:

مصدر په درې طريقو سره استعماليږي:

---

(۱) دلته پر فاصله باندې دا سوال وارديږي چې تا وويل د مصدر او د معمول په مينځ كي به فاصله نه وي په "إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ لَقَادِرٌ ۝ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ" كي "رَجْعَةٌ" مصدر دئ په "يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ" كي عمل كوي حالانكه دلته "لَقَادِرٌ" فاصل موجود دئ د هغه جواب دا دئ چې دلته "رَجْعَةٌ" مصدر عمل نه كوي بلكه دلته "يَرْجِعُ" فعل مقدر عمل كوي او "يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ" د "رَجْعَةٌ" دپاره معمول نه دئ بلكه د "يَرْجِعُ" دپاره معمول دئ. (حاشيه خضري صفحه ۲۲)

(۲) د مصدر د معمول تقديم خو جائز نه دئ لېكن كه چيري مصدر د فعل څخه بدل وو او د هغه نائب وو بيا يې تقديم جائز دئ لكه: "عَمَلَكَ إِتْقَانًا" او داغه رنګ نه چيري د ده معمول ظرف وو يا جار و مجرور وه بيا يې هم تقديم جائز دئ لكه؛ "فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ. وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ". (جامع الدروس العربية جلد ۳ صفحه ۲۰۸)

۱. اوله طریقه: مصدر کله منون یعني په تنوین سره استعمالیږي لکه: "فَكُّ رَقَبَةٍ، أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ، يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ" دلته "إِطْعَامٌ" مصدر و "يَتِيمًا" ته نصب ور کړی دئ.

۱. دوهمه طریقه: مصدر کله په اضافت سره استعمالیږي لکه: "وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ" دلته لفظ د "دَفْعُ" مصدر دئ مضاف دئ و "الله" ته هغه یې فاعل دئ "اَلنَّاسَ" یې مفعول دئ.

۲. دریمه طریقه: مصدر کله په الف لام سره استعمالیږي لکه: "فَلَمْ أَنْكُلُ عَنِ الضَّرْبِ مُسْمِعًا".

شپږمه خبره:

د تنوین په صورت کي د مصدر عمل د قیاس سره زیات موافق دئ ځکه د ده عمل د فعل د مشابهت (۱) په وجه دئ او فعل نکره دئ نو په دې صورت کي دی هم نکره دئ او د اضافت په صورت کي د ده عامل واقع کېدل بنا بر کثرت او د الف لام په صورت د ده عامل واقع کېدل بنا بر اقلیت دئ.

د مصدر مضاف حالتونه:

د مصدر مضاف دپاره پنځه حالتونه دي:

۱. اول حالت: مصدر کله و فاعل ته مضاف وي او د ده څخه وروسته مفعول به راغلی وي لکه: "وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ".

۲. دوهم حالت: کله د دې بر عکس وي یعني و مفعول ته مضاف وي او د هغه وروسته فاعل راغلي وي لکه: "اَعْجَبَنِيْ شُرْبُ الْعَسَلِ زَيْدٌ، وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا".

۳. دریم حالت: مصدر کله و فاعل ته مضاف وي لیکن مفعول به نه وي ذکر لکه: "وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ".

(۱) دلته پر مشابهت باندي دا سوال واردیږي چي تاویل د مصدر عمل د فعل د مشابهت په وجه دی حالانکه مصدر اصل دئ او فعل فرع دئ بعض حضراتو منعی جواب ور کړی دئ چي د مصدر عمل د فعل د مشابهت په وجه نه دئ او بعض حضراتو تسلمي جواب ور کړی دئ چي دلته مراد د فرع الحاق دئ د اصل سره په عمل کي، نه مشابهت. (حاشیه خضري جلد ۲ صفحه ۲۲)

۴. څلورم حالت: کله د دې بر عکس وي يعني و مفعول به ته مضاف وي او فاعل نه وي ذکر لکه: "لَا يَسْأَمُ الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ الْخَيْرِ".

۵. پنځم حالت: کله مصدر مضاف وي و ظرف ته او د هغه څخه وروسته فاعل ته رفع او مفعول به ته نصب ور کوي لکه: "أَعْجَبَنِي اِنْتِظَارُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ زَيْدٌ عَمْرًوا".

اوومه خبره:

مصدر ميمي هم د خپل فعل عمل کوي لکه: "مُحْتَمَلُکَ الْمَصَائِبَ خَيْرٌ مِنْ مَرْکَبِکَ الْجَزَعَ" دلته "مُحْتَمَلُ" او "مَرْکَبُ" دواړه مصدر ميمي دي مضاف دي و خپل فاعل ته چي ضمير د مخاطب دئ او "اَلْمَصَائِبَ" و "اَلْجَزَعَ" يې مفعولونه دي او اسم مصدر هم عمل کوي لېکن عمل يې ډېر کم دئ لکه: "وَبَعْدَ عَطَائِکَ الْمِئَةَ الرِّتَاعَا" "إِذَا صَحَّ عَوْنُ الْخَالِقِ الْمَرْءَ" دلته "اَلْإِعْطَاءُ" اسم مصدر دئ په معنٰی د "اعْطَاءٌ" سره دئ او "عَوْنٌ" مصدر په معنی د "اَلْإِعَانَةُ" سره دئ او علم مصدر بالکل عمل نسي کولای لکه: "يَسَارُ" عَلم د "يُسْرَ" دئ او "فَخَارِ" علم د "فُخُوْرَ" دئ.

د مصدر او فعل په مينځ کي فرق:

د مصدر او فعل په مينځ کي فرق په درو طريقو سره کيږي:

۱. اول فرق: د فعل فاعل نسي حذف کېدای او د مصدر فاعل حذف کيږي.

۲. دوهم فرق: په فعل کي د فاعل ضمير مستتر کيږي او په مصدر کي ضمير نسي مستتر کېدای.

۳. دريم فرق: فعل مجهول و نائب فاعل ته رفع ور کوي او مصدر و نائب فاعل ته رفع نسي ور کولای.

د مصدر د فاعل حذف جائز دئ بغير د تحمل د ضمير د فاعل لکه: "سَرَّنِي تَکْرِيْمُ الْعَامِلِيْنَ اَیْ تَکْرِيْمُکُمْ" يا "تَکْرِيْمُ النَّاسِ". او داغه رنګه د مفعول حذف يې هم جائز دئ لکه: "وَمَا کَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ: ای اِسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمُ رَبَّهُ لِأَبِيهِ".

جملے:

عنوان	خبریہ انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	اسم تفضیل و عملہ
وَلَذِكْرُ اللهِ أَكْبَرُ	خبریہ اسمیہ	أَكْبَرُ	ذِكْرُ اللهِ	(وَ) عاطفہ (اللام) ابتدائیہ للتاکید	+	(ذِكْرُ) اسم مضاف (أَكْبَرُ) اسم تفضیل	(ذِكْرُ) مبتدا (أَكْبَرُ) خبر، (هُوَ) فاعل	+	(اللهِ) مضاف الیہ	(أَكْبَرُ) اسم تفضیل عامل فی ضمیرہ (هُوَ) فاعل اسم تفضیل
قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا	انشائیہ طلبیہ	قُلْ	أَنْتَ	(هَلْ) حرف استفہام غیر عامل (بِ) جارہ عاملہ	(قُلْ، نُنَبِّئُ) فعل معلوم	(الْأَخْسَرِينَ) اسم تام	(أَنْتَ، نَحْنُ) فاعل (هُمْ) محلا فاعل	(كُمْ) محلا مفعول بہ (أَعْمَالًا) تمیز من ضمیر (الْأَخْسَرِينَ)	(الْأَخْسَرِينَ) مجرور متعلق (نُنَبِّئُكُمْ)	(الْأَخْسَرِينَ) اسم تام عامل فی ضمیرہ (هُمْ) وتمیزہ (أَعْمَالًا)
وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ	خبریہ اسمیہ	أَرْحَمُ	أَنْتَ	(وَ) حالیہ یا عاطفہ	+	(الرَّاحِمِينَ) اسم فاعل (أَرْحَمُ) اسم تفضیل	(أَنْتَ) محلا مبتدا (هُمْ) فاعل (الرَّاحِمِينَ)	+	(الرَّاحِمِينَ) مضاف الیہ	(أَرْحَمُ) اسم تفضیل عامل فی ضمیرہ (أَنْتَ)
أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا	انشائیہ اسمیہ	خَيْرٌ	أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ	(وَ) عاطفہ	+	(أَيُّ) اسم استفہام مضاف، (خَيْرٌ، أَحْسَنُ نَدِيًّا) بمعنی (نَادِي) اسم فاعل	(أَيُّ) ضمیر مبتدا (خَيْرٌ) خبر (هُوَ هُوَ) محلا (هُوَ) فاعل	(مَقَامًا نَدِيًّا) تمیز	(الْفَرِيقَيْنِ) مضاف الیہ	(خَيْرٌ، أَحْسَنُ) اسم تفضیل تام عاملان فی فاعلہما (هُوَ) و تمیزہما (مَقَامًا نَدِيًّا)
هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا	خبریہ اسمیہ	(أَفْصَحُ) خبر	(هُوَ) مبتدا	(مِنْ) جارہ	+	(أَفْصَحُ) اسم تفضیل	(هُوَ) مبتدا (أَفْصَحُ) خبر (هُوَ) فاعل	(لِسَانًا) تمیز	(ى) محلا مجرور متعلق (أَفْصَحُ)	(أَفْصَحُ) اسم تفضیل تام عامل فی فاعلہ (هُوَ) وتمیزہ (لِسَانًا)
وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ	خبریہ اسمیہ	(أَقْرَبُ) خبر	(نَحْنُ) مبتدا	(وَ) عاطفہ (إِلَى) (مِنْ) جارہ	+	(أَقْرَبُ) اسم تفضیل تام (حَبْلِ) مضاف (الْوَرِيدِ) (فَعِيل) بمعنی فاعل	(نَحْنُ) محلا مبتدا (أَقْرَبُ) خبر (نَحْنُ) فاعل	+	(ہ) مجرور متعلق (أَقْرَبُ) (حَبْلِ) مجرور متعلق (أَقْرَبُ) (الْوَرِيدِ) مضاف الیہ	(أَقْرَبُ) اسم تفضیل عامل فی فاعلہ (نَحْنُ)
وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى	خبریہ اسمیہ	(خَيْرٌ وَأَبْقَى) خبر	(الْآخِرَةُ) مبتدا	(وَ) (وَ) عاطفہ	+	(خَيْرٌ وَأَبْقَى) اسم تفضیل	(الْآخِرَةُ) مبتدا (خَيْرٌ) خبر (أَبْقَى) معطوف علی (خَيْرٌ) (هُوَ، هُوَ) محلا فاعل	+	+	(خَيْرٌ وَأَبْقَى) اسم تفضیل عامل فی ضمیر (هُوَ)
وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا	انشائیہ اسمیہ	(أَظْلَمُ) خبر	(مَنْ) مبتدا	(وَ) استینافیہ (مِنْ) جارہ (عَلَى) جارہ	(افْتَرَى) فعل معلوم	(مَنْ) اسم استفہام (أَظْلَمُ) اسم تفضیل	(مَنْ) محلا مبتدا (أَظْلَمُ) اسم تفضیل خبر (هُوَ، هُوَ) محلا فاعل	(كَذِبًا) مفعول بہ	(مِمَّنْ) موصول مجرور متعلق (افْتَرَى) (افْتَرَى) صلہ (اللهِ) مجرور متعلق (افْتَرَى)	(أَظْلَمُ) اسم تفضیل عامل فی فاعلہ (هُوَ)

عنوان	خبریہ، انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	اسم تفضیل وعملہ
وَاللّٰهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنْكِيلًا	خبریہ اسمیہ	(أَشَدُّ، أَشَدُّ)	أَللّٰهُ، هُوَ	(وَ) استنافیہ (وَ) عاطفہ	+	٢. (أَشَدُّ) اسم تفضیل (تَنْكِيلًا) مصدر	(أَللّٰهُ) مبتداء (أَشَدُّ) خبر (أَشَدُّ) معطوف علی (أَشَدُّ) (هُوَ هُوَ) محلاً فاعل	(بَأْسًا تَنْكِيلًا) تمیز	+	(٢. أَشَدُّ) اسم تفضیل تام عامل فی ضمیرہ (هُوَ) وتمیزہ (بَأْسًا وَتَنْكِيلًا)
وَاللّٰهُ خَيْرُ الرَّازِقِيْنَ	خبریہ اسمیہ	(خَيْرُ) خبر	(أَللّٰهُ) مبتداء	(وَ) عاطفہ یا استنافیہ	+	(خَيْرُ) اسم تفضیل (الرَّازِقِيْنَ) اسم فاعل	(أَللّٰهُ) مبتداء (خَيْرُ) خبر، (هُوَ، هُمْ) محلاً فاعل	+	(أَلرَّازِقِيْنَ) مضاف الیہ	(خَيْرُ) اسم تفضیل عامل فی ضمیرہ (هُوَ)
هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى	خبریہ اسمیہ	(أَعْلَمُ) خبر	(هُوَ) مبتداء	(بِ) جارہ	(إِتَّقٰى) فعل معلوم	(أَعْلَمُ) اسم تفضیل مَنْ اسم موصول غیر عامل	(هُوَ) محلاً مبتداء (أَعْلَمُ) خبر (هُوَ) محلاً فاعل	+	(مَنِ اتَّقٰى) محلاً مجرور، متعلق (أَعْلَمُ)	(أَعْلَمُ) اسم تفضیل عامل فی ضمیرہ (هُوَ)
وَالسَّاعَةُ أَدْهٰى وَأَمَرُّ	خبریہ اسمیہ	(أَدْهٰى وَأَمَرُّ) خبر	(أَلسَّاعَةُ) مبتداء	(وَ) استنافیہ (وَ) عاطفہ	+	(أَدْهٰى وَ أَمَرُّ) اسم تفضیل	(أَلسَّاعَةُ) مبتداء (أَدْهٰى) خبر (أَمَرُّ) معطوف (هُوَ، هُوَ) محلاً فاعل	+	+	(أَدْهٰى، أَمَرُّ) اسم تفضیل عامل فی ضمیرہ (هُوَ)
لَا يَسْأَمُ الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ الْخَيْرِ	خبریہ فعلیہ	(لَا يَسْأَمُ) فعل	(الْإِنْسَانُ) فاعل	(لَا) نافیہ (مِنْ) جارہ	(لَا يَسْأَمُ) فعل معلوم	(دُعَا) مصدر مضاف الی المفعول، فاعلہ محذوف ای من دعاءہ الخیر	(أَلْإِنْسَانُ) فاعل (هٗ) فاعل محذوف	(أَلْخَيْرِ) محلاً منصوب لِأَنَّهٗ مفعول للمصدر	(أَلْخَيْرِ) لفظاً مجرور مضاف الیہ (مِنْ دُعَاءِ) متعلق (يَسْأَمُ)	(دُعَاءِ) مصدر مضاف الی المفعول و فاعلہ محذوف ای من دعاءہ الخیر
وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَائِمٍ	خبریہ فعلیہ	(لَا يَخَافُوْنَ) فعل	(هُمْ) فاعل	(وَ) عاطفہ (لَا) نافیہ	(يَخَافُوْنَ) فعل معلوم	(لَوْمَةَ) مصدر مضاف (لَائِمٍ) اسم فاعل	(هُمْ) فاعل (لَائِمٍ) کلامرفوع فاعل (لَوْمَةَ) مصدر	(لَوْمَةَ) مفعول بہ	(لَائِمٍ) مضاف الیہ	(لَوْمَةَ) مصدر (لَائِمٍ) فاعلہ وہو عامل فی الفاعل
إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيْلًا	خبریہ اسمیہ	هِيَ أَشَدُّ الخ أَشَدُّ وَأَقْوَمُ قِيْلًا	نَاشِئَةَ هِيَ، هُوَ، هُوَ، هُوَ	(إِنَّ) مشبہ بالفعل (وَ) عاطفہ	+	(نَاشِئَةَ) مصدر (أَشَدُّ، أَقْوَمُ) اسم تفضیل تام (وَطْئًا) مصدر (قِيْلًا) صفت مشبہ	(هِيَ، أَشَدُّ) فی محل الرفع خبر (إِنَّ) (هُوَ، هُوَ، هُوَ) فاعل (هِيَ) مبتداء (أَشَدُّ) خبر (أَقْوَمُ) معطوف	(نَاشِئَةَ) اسم (إِنَّ) (وَطْئًا، قِيْلًا) تمیز من ضمیر (أَشَدُّ وَ أَقْوَمُ)	(أَللَّيْلِ) مضاف الیہ	(نَاشِئَةَ اللَّيْلِ) بمعنی (قِيَامُ اللَّيْلِ) مصدر مضاف الی المفعول و فاعلہ (أَلنَّفْسُ) مقدر
أَوْ إِطْعَامٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ يَتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ	خبریہ اسمیہ	(إِطْعَامٌ) خبر	(هِيَ) مبتداء	(أَوْ) عاطفہ (فِيْ) جارہ	+	(إِطْعَامٌ) مصدر (ذِيْ) اسم مضاف (ذَا) اسم صفت (مَسْغَبَةٍ مَقْرَبَةٍ) مصدر میں غیر عامل	(هِيَ) مبتداء محذوف (إِطْعَامٌ) خبر	(يَتِيْمًا) مفعول بہ للمصدر (ذَا) صفت	(فِيْ يَوْمٍ) متعلق (إِطْعَامٌ) (ذِيْ) صفت (الْيَوْمِ) (مَسْغَبَةٍ مَقْرَبَةٍ) مضاف الیہ	(إِطْعَامٌ) مصدر عامل فی المفعول وہو (يَتِيْمًا) و فاعلہ محذوف

التمرين:

"إِنَّ أَكْرَمَكُم عِندَ اللهِ أَتقَاكُمْ.. هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا.. أَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا.. لَمَقْتُ اللهِ أَكْبَرُ مِن مَقْتِكُمْ.. وَكَذٰلِكَ جَعلنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا.. أَلَيْسَ اللهُ بِأَحْكَمِ الحَاكِمِينَ.. وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللهِ حَدِيثًا.. وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَفْعِهِمَا.. وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ.. وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ.. تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ.. وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ.. وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ".

نہم اسم مضاف الخ: .... الی قولہ بدانکہ عوامل معنویہ.

ترجمه:

نهم قسم د اسماء عامله څخه اسم مضاف دئ چي مضاف اليه ته جر ور کوي لکه: "جَائَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ".

پوه سه! چي په دې ځای کي په حقيقت کي لام مقدر دئ ځکه د دې اصل عبارت "غُلَامٌ لِزَيْدٍ" وو.

لسم قسم اسم تام دئ چي و تميز ته نصب ور کوي او د اسم تام والی يا په تنوين سره وي لکه: "مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا". يا په تقدير د تنوين سره وي لکه: "عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا" او "زَيْدٌ اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا". يا په نون د تثنيه سره وي لکه: "عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا". يا په نون د جمع سره لکه: "هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا". يا په مشابه د نون د جمع سره وي لکه: "عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا" ييا تر "تِسْعُوْنَ" پوري. يا په اضافت سره وي لکه: "عِنْدِی مِلْؤُهٗ عَسَلًا".

يوولسم قسم اسماء کنايات دي د عدد څخه هغه دوه لفظونه دي "كَمْ وَكَذَا". "كَمْ" پر دوه قسمه دئ استفهاميه و خبريه، کم استفهاميه تميز ته نصب ور کوي. او "كَذَا" هم لکه: "كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ، عِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا" او کم خبريه تميز مجرور کوي لکه: "كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُ" او "كَمْ دَارٍ بَنَيْتُ" او کله کله "مِنْ" حرف جار د کم خبريه پر تميز باندي راځي لکه: د الله تعالی دا قول: "وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا".

الدرس الثاني والثلاثون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

اسم مضاف:

نهم قسم د اسماء عامله څخه اسم مضاف دئ:

د اسم مضاف لغوي او اصطلاحي تعریف:

مضاف د اضافت څخه دئ اضافت په لغت کي نسبت ته وايي او په اصطلاح کي مضاف "كُلُّ اِسْمٍ نُسِبَ اِلَى اِسْمٍ آخَرَ بِوَاسِطَةِ حَرْفِ الْجَرِّ تَقْدِيْرًا" مضاف هر هغه اسم دئ چي د ده نسبت سوی وي و بل اسم ته په واسطه د حرف جر تقدیري سره لکه: "غُلَامُ زَيْدٍ" په اصل کي "غُلَامُ لِزَيْدٍ" (۱) دئ.

د اضافت اقسام:

اضافت پر دوه قسمه دئ:

۱. اضافت لفظي.
۲. اضافت معنوي.

د اضافت لفظي تعریف:

اضافت لفظي هغه اضافت دئ چي صیغه د صفت مضاف وي و خپل معمول ته یعني په ده کي اجتماع د امرین وي یو امر په جانب د مضاف کي وي چي مضاف به صیغه د صفت وي او د صفت

---

(۱) د حرف جر په مقدر کولو کي اختلاف دئ عند الجمهور حرف جر مقدر کیږي لېکن د حرف جر د تقدیر دپاره دانه ده ضروري چي د حرف جر ښکاره کول به هم صحیح وي بلکه د لام حرف جر د تقدیر دپاره دومره خبره کافي ده چي فائده د اختصاص چي د لام مدلول دئ هغه به حاصلیږي لکه: په "كُلُّ رَجُلٍ" او "غُلَامُ زَيْدٍ" کي دا فائده حاصلیږي لېکن. ابو حیان اندلسي او ابن درستویه په نزد باندي په اضافت کي حرف جر بالکل نه مقدر کیږي ځکه بیا په دې صورت کي د "غُلَامُ زَيْدٍ" منادی والی لازمیږي د "غُلَامُ لِزَيْدٍ" دپاره حالانکه دا غلط دئ ځکه اول معرفه دئ دوهم نکره دئ. "فَأَجَابَ عَنْهُ فِي الْمُطَوَّلَاتِ" "اِنْ شِئْتَ فَارْجِعْ اِلَيْهَا". (همع الهوامع)

او داغه رنګه د مضاف الیه په عامل کي اختلاف دئ د امام سبویه رحمة الله علیه او د جمهورو په نزد باندي د مضاف الیه عامل مضاف دئ ځکه د مضاف سره ضمیر متصل کیږي لکه: "غُلَامُهُ" او قاعده دا ده چي ضمیر صرف د خپل عامل سره متصل کیږي او د زجاج په نزد باندي د مضاف الیه عامل حرف جر مقدر دئ. (حاشیه خضري جلد ۲ صفحه ۳. همع الهوامع جلد ۲ صفحه ۴۱۲)

څخه مراد اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه دي په دې شرط چې په ده کي به زمانه د ماضي نه وي ورنه بيا اضافت معنوي دئ ځکه اسم فاعل، اسم مفعول په معنٰی د ماضي سره عمل نه کوي. او دوهم امر په جانب د مضاف اليه کي وي چې مضاف اليه به د ده خپل معمول وي د معمول څخه مراد فاعل، مفعول دي لکه: "ضَارِبُ زَيْدٍ".

د اضافت لفظي فائده:

اضافت لفظي صرف په لفظ کي تخفيف راولي چې د مضاف څخه تنوين يا نون د تثنيه يا نون د جمع غورځوي لکه: "ضَارِبُ زَيْدٍ، ضَارِبَا زَيْدٍ، مُسْلِمُوْا مِصْرٍ، ضَارِبُوْ زَيْدٍ".

دوهمه خبره:

د اضافت معنوي تعريف:

اضافت معنوي هغه اضافت دئ چې غير د صيغه صفت څخه چې مضاف وي و خپل معمول ته دا بيا په څلورو شکلو سره راځي:

١. اول شکل: چې مضاف صيغه د صفت نه وي لکه: "مِفْتَاحُ الدَّارِ".
٢. دوهم شکل: چې مضاف صيغه د صفت وي لېکن و خپل معمول ته نه وي مضاف لکه: "كَرِيْمُ الْبَلَدِ، مُصَارِعُ مِصْرٍ، كَاتِبُ الْقَاضِيْ".
٣. دريم شکل: چې مضاف نه صيغه د صفت وي او نه مضاف وي خپل معمول ته لکه: "غُلَامُ زَيْدٍ".
٤. څلورم شکل: چې مضاف صيغه د صفت وي او مضاف وي و خپل معمول ته لېکن زمانه ماضي مراد وي لکه: "رَبُّ الْعَالَمِيْنَ، ضَارِبُ زَيْدٍ اَمْسِ".

د اضافت معنوي فائده:

اضافت معنوي يا تعريف فائده کوي په مضاف کي که چيري اضافت و معرفه ته راغلی وو لکه: "غُلَامُ زَيْدٍ". يا تخصيص فائده کوي که چيري اضافت و نکره ته راغلی وو لکه: "هٰذَا كِتَابُ رَجُلٍ".

دريمه خبره:

د اضافت معنوي اقسام:

اضافت معنوي پر څلور قسمه راځي:

۱. اضافت لامي.
۲. اضافت مني.
۳. اضافت فوي.
۴. اضافت تشبيهي.

اضافت لامي: چي په تقدير د "لَامْ" سره وي او د ملکيت او اختصاص فائده ورکوي يعني مضاف اليه نه د مضاف د جنس څخه وي او نه د مضاف دپاره ظرف وي لکه: "غُلَامُ زَيْدٍ اَیْ غُلَامٌ لِزَيْدٍ".

اضافت مني: چي په تقدير د "مِنْ" سره وي يعني مضاف اليه جنس وي د مضاف يعني مضاف بعض وي د مضاف اليه څخه او مضاف پر ده هم صادقيږي او د ده پر غير باندي هم صادقيږي لکه: "خَاتَمُ فِضَّةٍ اَیْ خَاتَمٌ مِنْ فِضَّةٍ".

اضافت فوي چي په تقدير د "فِيْ" سره وي يعني مضاف اليه ظرف وي د مضاف دپاره لکه: "صَلٰوةُ اللَّيْلِ اَیْ فِي اللَّيْلِ".

اضافت تشبيهي: چي په تقدير د "کاف تشبيه" سره وي يعني مشبه به مضاف وي و مشبه ته لکه: "اِنْتَثَرَ لُؤْلُؤُ الدَّمْعِ عَلٰی وَرْدِ الْخُدُوْدِ اَیْ اَلدَّمْعُ الَّذِيْ کَالْلُؤْلُؤِ عَلَی الْخُدُوْدِ الَّتِيْ کَالْوَرْدِ".

څلورمه خبره:

د مضاف احکام:

د مضاف دپاره دري (۳) حکمونه دي:

۱. اول حکم يې دا دئ: چي مضاف به خالي وي د تنوين او د نون د تثنيه او نون د جمع مذکر سالمه څخه.
۲. دوهم حکم يې دا دئ: چي مضاف د الف لام څخه خالي وي په دې شرط که چيري اضافت معنوي وو او که چيري اضافت لفظي وو بيا که چيري مضاف تثنيه وو لکه: "اَلْمُکْرِمَا سَلِيْمٍ" يا جمع مذکر سالمه وه لکه: "اَلْمُکْرِمُوْ عَلِيٍّ" يا مضاف وو و معرف باللام ته لکه: "اَلْکَاتِبُ الدَّرْسِ" يا و هغه اسم ته مضاف وي چي هغه مضاف وي و معرف باللام ته لکه:

"اَلْكَاتِبُ دَرْسِ النَّحْوِ" يا دى مضاف وي و هغه اسم ته چي هغه مضاف وي و ضمير ته او ضمير راجع ويَ و معرف باللام ته لكه: "اَلْوُدُّ اَنْتِ الْمُسْتَحِقَّةُ صَفْوِهِ" نو بيا په دې ټولو صورتو كي پر مضاف باندي الف لام راتلاى سي:

۳. دريم حكم د مضاف او مضاف اليه مشترک دا دئ چي دوى په مينځ كي فصل نا جائز دئ مګر په ظرف او جار و مجرور او قسم سره جائز دئ.

پنځمه خبره:

د اضافت معنوي (۱) اقسام په اعتبار د نسبت سره:

اضافت معنوي (۲) په اعتبار د نسبت سره چي د مضاف او مضاف اليه په مينځ كي مقدر كيږي پر دري قسمه دئ لېكن عقلا پنځه قسمه جوړيږي:

---

(۱) د بعض نحاتو په نزد باندي د اضافت معنوي صرف دوه قسمونه دي: (۱) لامي. (۲) مني. او اضافت فوي په معنى د لام سره يې و اضافت لامي ته رد كړى دئ ځكه د اضافت لامي مفاد چي اختصاص دئ هغه په اضافت فوي كي هم پيدا كيږي ځكه د "ضَرْبُ الْيَوْمِ" معنى ده "ضَرْبٌ لَهُ اِخْتِصَاصٌ بِالْيَوْمِ" ځكه "ضَرْبٌ" په ورځ كي دننه واقع سوى دئ. (جمع الجوامع)

د جمهورو په نزد باندي هم د اضافت معنوي دوه اقسام دي: لامي. مني. هغه وايي: كه چيري مضاف اليه د مضاف دپاره اصل وو او د مضاف و مضاف اليه په مينځ كي نسبت د عموم و خصوص من وجه وو نو دا اضافت مني دئ لكه: "خَاتَمُ فِضَّةٍ" لېكن د دې څخه علاوه ټوله اضافتونه اضافت لامي دي لېكن د اكثرو نحاتو په نزد باندي د اضافت معنوي دري اقسام دي: لامي، مني، فوي او داغه قول راجع دئ كله كله اضافت د عدد و معدودٌ ته راسي لكه: "ثَلَاثَةُ رِجَالٍ" او كله كله اضافت د عدد و عدد ته راسي لكه: "ثَلَاثُ مِأَةٍ" او كله او كله اضافت د مقادير و مقدورات ته راسي لكه: "رِطْلُ زَيْتٍ" دا اضافت مني دئ. (حاشيه خضري)

(۲) موږ په اضافت معنوي كي دا ويلي وه چي اضافت الى المعرفه د تعريف فائده ور كوي لېكن د دې څخه بعض اسماء لكه: "غَيْرُ، مِثْلُ، شِبْهُ، نَظِيْرُ" و غيره مستثنى دي، ځكه د غه الفاظ د توغل ابهام په وجه د اضافت الى المعرفه با وجوده نه معرفه كيږي كه چيري د دوى څخه مراد مطلق مماثلت و مغايرت وو بيا هم په دوى كي اضافت معنوي دئ ځكه د دوى اضافت و معرفه ته د تخصيص فائده ور كوي او دوى صفت د نكره جوړيږي لكه: "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مِثْلِكَ اَوْ غَيْرِكَ، شِبْهِكَ، او نَظِيْرِكَ" لېكن كه چيري د دوى مضاف اليه داسي اسم وو چي د هغه فقط يو ضد وو چي د مضاف اليه په غيريت سره معلوم سي نو په دې صورت كي دوى په اضافت سره معرفه كيږي لكه: "عَلَيْكَ بِالْحَرَكَةِ غَيْرَ السُّكُوْنِ" او داغه رنګه كه چيري د مضاف اليه يو داسي مثل وو چي په اشياوو كي په يو شي كي د مضاف اليه سره په مماثلت او مشابهت كي مشهوره وي لكه: علم و شجاعت لكه: حضرت علي ﷺ او د خالد بن وليد مماثلت په صفت د شجاعت كي مشهوره دئ او د امام ابو حنيفه او د امام ابو يوسف مماثلت په صفت د علم كي

۱. نسبت تباين.
۲. نسبت تساوي.
۳. نسبت اعم مطلق.
۴. نسبت اخص مطلق.
۵. نسبت عموم و خصوص من وجه.

نسبت تباين: كه چيري مضاف اليه د مضاف مباين وو نو بيا دوه صورتونه دي يا به مضاف اليه د مضاف دپاره ظرف وي يا به نه وي كه چيري مضاف اليه د مضاف دپاره ظرف وو نو بيا اضافت فوي دئ لكه: "صَلٰوةُ اللَّيْلِ" او كه چيري مضاف اليه د مضاف دپاره ظرف نه وو نو بيا دا اضافت لامي دئ "غُلَامُ زَيْدٍ".

نسبت تساوي: كه چيري مضاف اليه د مضاف مساوي وو لكه: "لَيْثُ اَسَدٍ".

نسبت اعم مطلق: كه چيري مضاف اليه د مضاف څخه اعم مطلق وو لكه: "اَحَدُ الْيَوْمِ" نو بيا په دې دواړو صورتو كي اضافت منع دئ.

نسبت اخص مطلق: كه چيري مضاف اليه د مضاف څخه اخص مطلق وو لكه: "يَوْمُ الْاَحَدِ. عِلْمُ الْفِقْهِ. شَجَرُ الْاِرَاكِ" نو بيا اضافت "لامي" دئ.

نسبت عموم و خصوص من وجه: كه چيري مضاف اليه د مضاف څخه اخص من وجه وو نو بيا دوه صورتونه دي: يا به مضاف اليه د مضاف دپاره اصل و ماده وي يا به نه وي كه چيري مضاف اليه د مضاف دپاره اصل و ماده وو نو بيا اضافت "مِنِّيْ" دئ لكه: "خَاتَمُ فِضَّةٍ" ځكه چي "فِضَّةٍ" د "خَاتَم" اصل و ماده ده او كه چيري مضاف اليه د مضاف اصل و ماده نه وو نو بيا اضافت لامي دئ لكه: "فِضَّةُ خَاتَمِكَ خَيْرٌ مِنْ فِضَّةِ خَاتَمِيْ".

مشهور دئ كه چيري امام ابو حنيفه رحمه الله ته وويل سي "جَاءَ مِثْلُكَ" او د لفظ د "مِثْلُ" څخه مراد هغه شخص سي چي د امام ابو حنيفه رحمه الله سره په صفت د علم كي مماثل او مشابه وي چي امام ابو يوسف دئ نو بيا دى معرفه دئ. (شرح جامي)

او كله كله مضاف حذف كيږي او مضاف اليه پر خپل حالت باندي پاته كيږي لكه: "تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ اَیْ عَرَضَ الْاٰخِرَةِ" په دې شرط چي عطف به د محذوف پر مماثل يا پر مقابل باندي وي. (جمع الجوامع مع شرحه صفحه ۴۳۱)

شپږمه خبره:

د اضافت احکام:

د اضافت د پاره اووه (۷) احکام دي:

۱. اول حکم يې دا دئ: چې مضاف کله کله د مضاف اليه څخه کسب د تذکير و تانيث کوي لکه: "قُطِعَتْ بَعْضُ اَصَابِعِهٖ. شَمْسُ الْعَقْلِ مَكْسُوْفٌ بِطَوْعِ الْهَوٰى".

۲. دوهم حکم يې دا دئ: چې اسم و خپل مرادف ته نه مضاف کيږي لکه: "لَيْثُ اَسَدٍ" ليکن که چيري علمين وو بيا جائز دئ لکه: "مُحَمَّدُ خَالِدٍ" او نه موصوف و صفت ته مضاف کيږي لکه: "رَجُلُ فَاضِلٍ" په کمو ځايو کي چي سوی وي هلته يې تاويل کيږي لکه: "مَسْجِدُ الْجَامِعِ اَیْ مَسْجِدُ الْمَكَانِ الْجَامِعِ. صَلٰوةُ الْاُوْلٰى اَیْ صَلٰوةُ السَّاعَةِ الْاُوْلٰى" ليکن د صفت اضافت و موصوف ته جائز دئ په دې شرط چي تقدير د "مِنْ" به صحيح کيږي لکه: "كِرَامُ النَّاسِ اَیْ اَلْكِرَامُ مِنَ النَّاسِ".

۳. دريم حکم يې دا دئ: چې اضافت د عام و خاص ته صحيح کيږي لکه: "يَوْمُ الْجُمُعَةِ" ليکن عکس يې نه دئ جائز.

۴. څلورم حکم يې دا دئ: چي کله کله يو شی و بل شي ته مضاف کيږي د ادنی ملابست په وجه لکه: "اِنْتَظِرْنِيْ مَكَانَكَ اَمْسِ" دلته "مَكَان" و "اَمْسِ" ته د ادنی ملابست په وجه مضاف سوی دئ چي هغه وجود د دې سړی دئ په دې مکان کي اتفاقا.

۵. پنځم حکم يې دا دئ: چي کله کله مضاف حذف کيږي او مضاف اليه يې پر ځای دريږي په هغه ځای کي چي التباس او ابهام نه وي لکه: "وَاسْئَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ اَیْ اَهْلَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ".

۶. شپږم حکم يې دا دئ: چي کله کله په کلام کي دوه مضاف اليه راسي نو بيا اول مضاف اليه حذف سي د دوهم مضاف اليه د استغناء په وجه لکه: "جَاءَ غُلَامُ وَ اَخُوْ عَلِيٍّ" په اصل کي "جَاءَ غُلَامُ عَلِيٍّ وَ اَخُوْهُ" وو.

۷. اووم حکم يې دا دئ: چي کله کله بيا په کلام کي دوه مضافه وي نو بيا مضاف ثاني حذف سي د اول مضاف د استغنا په وجه لکه: "مَاكُلُّ سَودَاءَ تَمْرَةً وَلَا بَيْضَاءَ شَحْمَةً اَىْ وَلَا كُلُّ بَيْضَاءَ شَحْمَةً".

اوومه خبره:

اسم تام:

لسم قسم د اسماء عامله وو څخه اسم تام دئ:

د اسم تام تعريف:

اسم تام هغه اسم دئ چي دی په داسي کيفيت و حالت کي وي چي د هغه کيفيت په موجود والي کي دی و بل چاته نسي مضاف کېدای او دا کيفيت په ده کي هغه وخت راځي چي کله دی په يو د دا شپږو شيانو سره تام سوی وي.

د اسم تام والی په شپږو (٦) شيانو سره:

۱. اول: په تنوين ظاهره سره لکه: "مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا".

۲. دوهم: په تنوين مقدره سره لکه: "عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا".

۳. دريم: په نون د تثنيه سره لکه: "عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا".

۴. څلورم: په نون د جمع سره لکه: "هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِينَ اَعْمَالًا".

۵. پنځم: په مشابه د نون د جمع سره لکه: "عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا تَا تِسْعُوْنَ".

٦. شپږم: په اضافت سره لکه: "عِنْدِيْ مِلْؤُهٗ عَسَلًا".

د اسم تام عمل:

اسم تام په خپله مميز وي او تميز ته نصب ور کوي ځکه د ده مشابهت د فعل سره دئ لکه: څنګه چي فعل په فاعل سره تاميږي مفعول به ته نصب ور کوي داغه رنګه دغه اسم په دغه شيانو سره تاميږي شبه مفعول يعني تميز ته نصب ور کوي.

جملے:

عنوان	خبریہ / انشائیہ	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام اضافت
وَلَا تَشْتَرُوْا بِآيَاتِ اللهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا	انشائیہ طلبیہ	(تَشْتَرُوْا) فعل	(أَنْتُمْ) فاعل	(وَ) عاطفہ، (لَا) جازمہ (بِ) جارہ	(وَلَا تَشْتَرُوْا) فعل معلوم	(آيَاتِ) اسم مضاف (قَلِيْلًا) صفت مشبہ	(أَنْتُمْ) محلا فاعل (هُوَ) محلا فاعل	(ثَمَنًا) مفعول بہ (قَلِيْلًا) صفت	(آيَاتِ) مجرور متعلق (تَشْتَرُوْا) (اللهِ) مضاف الیہ	(آيَاتِ اللهِ) اضافت معنوی
رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ	انشائیہ طلبیہ	(أَدْعُوْ) فعل	(أَنَا) فاعل	(يَا) حرف ندا محذوف (وَ) عاطفہ، (مِنْ) جارہ (لِ) جارہ	(أَدْعُوْ، هَبْ) افعال معلومہ	(رَبّ، أَزْوَاجِ، ذُرِّيَّاتِ، قُرَّةَ) کلہم اسم مضاف	(أَنَا، أَنْتَ) فاعل	(رَبَّنَا) منادی مضاف (قُرَّةَ) مفعول بہ	(نَا) مضاف الیہ (نَا) مجرور متعلق (هَبْ) (نَا) مضاف الیہ (أَزْوَاجِ) مجرور متعلق (هَبْ) (ذُرِّيَّاتِ) معطوف (نَا) مضاف الیہ (أَعْيُنٍ) مضاف الیہ	(رَبَّنَا، أَزْوَاجِنَا، ذُرِّيَّاتِنَا، قُرَّةَ أَعْيُنٍ) اضافت معنوی
وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ	انشائیہ طلبیہ	(قِ) فعل	(أَنْتَ) فاعل	(وَ) عاطفہ	(قِ) فعل معلوم	(عَذَابَ) اسم مضاف	(أَنْتَ) فاعل	(عَذَابَ) مفعول بہ	(النَّارِ) مضاف الیہ	(عَذَابَ النَّارِ) اضافت معنوی
وَمَنْ يَّكْفُرْ بِآيَاتِ اللهِ فَإِنَّ اللهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ	خبریہ اسمیہ	(يَكْفُرْ) خبر (سَرِيْعُ الْحِسَابِ) خبر (إِنَّ)	(مَنْ) مبتداء (اللهَ) اسم (إِنَّ)	(وَ) عاطفہ او استئنافیہ، (فَ) جزائیہ، (إِنَّ) مشبہ بالفعل (بِ) جارہ	(يَكْفُرْ) فعل معلوم	(مَنْ) اسم شرط جازم، (آيَاتِ) اسم مضاف (سَرِيْع) صفت مشبہ	(مَنْ) محلا مبتداء (هُوَ) محلا فاعل (سَرِيْعُ) خبر (إِنَّ)	(اللهَ) اسم (إِنَّ)	(آيَاتِ) مجرور متعلق (يَكْفُرْ) (اللهِ الْحِسَابِ) مضاف الیہ	(آيَاتِ اللهِ) اضافت معنوی (سَرِيْعُ الْحِسَابِ) اضافت لفظی
إِنَّ اللهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ	خبریہ اسمیہ	(يَرْزُقُ) خبر (إِنَّ)	(اللهَ) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) مشبہ بالفعل (بِ) جارہ	(يَرْزُقُ، يَشَاءُ) افعال معلومہ	(غَيْرِ) اسم مضاف	(اللهَ) محلا فی محل مبتداء، (هُوَ، هُوَ) فاعلان	(اللهَ) لفظا اسم (إِنَّ)، (مَنْ يَشَاءُ) محلا مفعول بہ	(غَيْرِ) مجرور متعلق (يَشَاءُ) (حِسَابٍ) مضاف الیہ	(غَيْرِ حِسَابٍ) اضافت معنوی
ذٰلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ إِلَيْكَ	خبریہ اسمیہ	(مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ) باعتبار متعلق خبر	(ذٰلِكَ) مبتداء	(لِ) للبعد، (كَ) حرف خطاب، (مِنْ) جارہ، (إِلَى) جارہ	(نُوْحِيْ) فعل معلوم	(أَنْبَاءِ) اسم مضاف	(ذٰلِكَ) مبتداء، (مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ) محلا خبر، (نَحْنُ) محلا فاعل (نُوْحِيْ) خبر ثانی	(هٖ) مفعول بہ	(أَنْبَاءِ) مجرور متعلق بمحذوف (الْغَيْبِ) مضاف الیہ (كَ) محلا مجرور متعلق (نُوْحِيْ)	(أَنْبَاءِ الْغَيْبِ) اضافت معنوی
تَنْزِيْلُ الْكِتَابِ مِنَ اللهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ	خبریہ اسمیہ	(مِنَ اللهِ) خبر	(تَنْزِيْلُ الْكِتَابِ) مبتداء	(مِنْ) جارہ	-	(تَنْزِيْلُ) مصدر (الْعَزِيْزِ، الْعَلِيْمِ) لفظا صفت مشبہ	(تَنْزِيْلُ) مبتداء، (هُوَ، هُوَ) محلا فاعلان	-	(الْكِتَابِ) مضاف الیہ (اللهِ) مجرور متعلق بمحذوف (الْعَزِيْزِ، الْعَلِيْمِ) صفات	(تَنْزِيْلُ الْكِتَابِ) اضافت معنوی
غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ	خبریہ اسمیہ	غَافِرِ، قَابِلِ، شَدِيْدِ	(هُوَ) قاطم	(وَ) عاطفہ	-	(غَافِرِ، قَابِلِ) اسم فاعل (شَدِيْدِ) صفت مشبہ	(هُوَ، هُوَ، هُوَ) محلا کلہم فاعل	-	(غَافِرِ، قَابِلِ) صفت لفظ (اللهِ) (الذَّنْبِ، التَّوْبِ الْعِقَابِ) مضاف الیہ (شَدِيْدِ) بدل من لفظ (اللهِ)	(غَافِرِ الذَّنْبِ، قَابِلِ التَّوْبِ، شَدِيْدِ) اور تینوں اضافت لفظی

عنوان	خبريه انشاء	مسند	مسند اليه	تعيين حروف عامله و غير عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعيين مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعيين اقسام اضافات
لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ	خبريه اسميه	(أَكْبَرُ) خبر	(خَلْقُ السَّمٰوٰتِ) مبتدا	(لَ) للابتداء، (وَ) عاطفه، (مِنْ) جاره	•	(خَلْقُ) اسم مضاف (أَكْبَرُ) اسم تفضيل	(خَلْقُ) مبتدا، (أَكْبَرُ) خبر (هُوَ) فاعل	•	(السَّمٰوٰتِ) مضاف اليه (الْأَرْضِ) معطوف (خَلْقِ) مجرور حقيقي (النَّاسِ) مضاف اليه	(خَلْقُ السَّمٰوٰتِ، خَلْقِ النَّاسِ) فيهما اضافت معنويه
وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ	خبريه اسميه	(لَا يَشْكُرُوْنَ) خبر (لٰكِنَّ)	(أَكْثَرَ النَّاسِ) اسم (لٰكِنَّ)	(وَ) عاطفه، (لَا) نافيه	(يَشْكُرُوْنَ) فعل معلوم	(أَكْثَرَ) اسم تفضيل	(أَكْثَرُ النَّاسِ) في محل [illegible] (يَشْكُرُوْنَ) خبر (لٰكِنَّ) (هُمْ) فاعل	(أَكْثَرَ) لفظا اسم (لٰكِنَّ)	(النَّاسِ) مضاف اليه	(أَكْثَرَ النَّاسِ) اضافت معنوي
نَحْنُ أَوْلِيٰؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ	خبريه اسميه	(أَوْلِيٰؤُكُمْ) خبر	(نَحْنُ) مبتدا	(فِيْ) جاره، (وَ) عاطفه	•	(أَوْلِيٰؤُ) اسم مضاف	(نَحْنُ) مبتدا (أَوْلِيٰؤُ) خبر	•	(كُمْ) مضاف اليه (الْحَيٰوةِ) مجرور حقيقي (أَوْلِيٰؤُ) (الدُّنْيَا) ... معطوف (الْاٰخِرَةِ) ...	(أَوْلِيٰؤُكُمْ) اضافت معنوي
إِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى	خبريه اسميه	(لَمُحْيِ الْمَوْتٰى) خبر (إِنَّ)	(ذٰلِكَ) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) مشبه بالفعل، (لَامْ) [illegible]	•	(مُحْيِ) اسم فاعل	(ذٰلِكَ) في محل الجر (مُحْيِ) خبر (إِنَّ) (هُوَ) فاعل (الْمَوْتٰى) لا مفعول به لاسم الفاعل	(ذٰلِكَ) منصوب اسم (إِنَّ)	(الْمَوْتٰى) تقديرا مضاف اليه	(مُحْيِ الْمَوْتٰى) اضافت لفظي

التمرين:

"وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ.، وَعَلَى اللهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ.، لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ.، وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ.، رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ.، إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ.، وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا. أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ.. يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا. تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا"

الدرس الثالث والثلاثون:

د نن د سبق خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د اسماء (۱) عدد تميز:

(۱) عدد په لغت کي شمارلو ته ويل کيږي او په اصطلاح کي د عدد دوه تعريفونه کيږي:

اسماء عدد په اعتبار د تميز سره پر درې قسمه دئ:

اول: عدد [۱] اقل چي د درو (۳) څخه بيا تر لسو (۱۰) پوري يعني د "ثَلَاثَةٌ" څخه بيا تر "عَشَرَةٌ" پوري.

د عدد اقل حکم په اعتبار د تميز سره:

د عدد اقل تميز همېشه جمع مجروره راځي او خلاف قياس يعني خلاف عقل راځي يعني که چيري تميز مذکر وو نو عدد به مؤنث راوړل کيږي او که چيري تميز مؤنث وو نو عدد به مذکر ور سره راوړل کيږي په دې شرط چي تميز به خودي د "مِأَةٌ" لفظ نه وي ورنه بيا مفرد مجروره راځي لکه: "ثَلٰثُ مِأَةٍ" د عدد اقل مثال لکه: "ثَلٰثَةُ رِجَالٍ، ثَلٰثُ نِسْوَةٍ".

فائده:

"وَاحِدٌ" او "اِثْنَانِ" د تميز محتاجه نه وي ځکه د يوه او د دوو معنٰى خودي د مميز څخه معلوميږي لکه: "رَجُلٌ" يو سړى "رَجُلَانِ" دوه سړيان د يوه او د دو معنٰى په خپله د "رَجُلٌ" او د "رَجُلَانِ" څخه معلوميږي.

---

۱. اول تعريف: "اَلْعَدَدُ مَا يُعَدُّ بِهٖ" چي په ده سره يو شى شمارل کيږي د دې حضراتو په نزد باندي عدد د يوه څخه شروع کيږي.

۲. دوهم تعريف: "اَلْعَدَدُ نِصْفُ مَجْمُوْعِ الْحَاشِيَتَيْنِ" د دوو حاشيو د مجموعه نيمي مثلاً د دوه (۲) عدد دئ د دوو حاشيو د مجموعه نيمي دئ ځکه در دوه (۲) لاندي حاشيه د يوه (۱) عدد وي او لوړ د دريو (۳) عدد دئ نو دغه د يوه (۱) عدد او د دريو (۳) عدد چي سره جمع کړې نو مجموعه يې څلور (۴) راځي او د څلور (۴) د مجموع نيمي دوه (۲) دي نو د دې حضراتو په نزد باندي عدد د دوه څخه شروع کيږي ځکه د يوه عدد لوړه حاشيه سته چي د دوو عدد دئ لاندي يې حاشيه نسته ځکه لاندي يې صفر دئ. (العلامات النحوية)

([۱]) د عدد اقل تميز هلته خلاف قياس راځي چي کله معدود د عدد څخه وروسته ذکر سي که چيري معدود را مقدم سي موصوف سي او اسم عدد د ده صفت جوړ سي نو بيا د عدد تذکير و تانيث دواړه جائز دي لکه: "رِجَالٌ ثَلٰثٌ يا رِجَالٌ ثَلٰثَةٌ".(حاشيه خضري صفحه ۱۳۷)

د عدد اقل قرآني مثالونه لکه: "ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ، أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ، بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِيْنَ، فِيْ سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ، سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ، تِسْعَةُ رَهْطٍ، إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِيْنَ". (العلامات النحوية)

دوهمه خبره:

د عدد اقل یعني د درو (۳) څخه بیا تر لسو (۱۰) پورې یعني د "ثَلَاثَةٌ" څخه بیا تر "عَشَرَةٌ" پورې د دې تمیز جمع مجروره راځي او د جمع په اقسام کې اکثره جمع قلت راځي او په قلت کې اکثره جمع مکسره راځي لیکن کله کله د ضرورت په خاطر جمع سالم هم راځي لکه: "سَبْعَ سَمٰوٰتٍ" او داغه رنګه که چیرې د یو اسم دپاره جمع قلته نه وه نو بیا جمع کثرت راځي لکه: "ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ".

دوهم: عدد اوسط: د یوولس (۱۱) څخه بیا تر نه نوي (۹۹) پورې یعني د "أَحَدَ عَشَرَ" (۱) څخه بیا در "تِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ" (۲) پورې یعني:

۱۱-۱۲	۲۱-۲۲	۳۱-۳۲	۴۱-۴۲	۵۱-۵۲	٦۱-٦۲	۷۱-۷۲	۸۱-۸۲	۹۱-۹۲

د عدد اوسط حکم په اعتبار د تمیز سره:

د عدد اوسط تمیز همېشه مفرد منصوب راځي او موافق قیاس یعني موافق العقل راځي یعني که چیرې تمیز مذکر وو نو د عدد دواړه جزئونه به مذکر راځي او که چیرې تمیز مؤنث وو نو د عدد دواړه جزئونه به مؤنث راځي لکه: "أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا". "إِحْدٰى عَشَرَةَ إِمْرَءَةً" إِثْنَا (۳) عَشَرَ رَجُلًا. إِثْنَتَا عَشَرَةَ إِمْرَءَةً. أَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا. إِحْدٰى وَعِشْرُوْنَ إِمْرَئَةً" لیکن د "۱۳" څخه بیا تر "۱۹" پورې. د "۲۳" څخه بیا تر "۲۹" پورې. د "۳۳" څخه بیا تر "۳۹" پورې. د "۴۳" څخه بیا تر "۴۹" پورې. د "۵۳" څخه بیا تر "۵۹" پورې. د "٦۳" څخه بیا تر "٦۹" پورې. د "۷۳" څخه بیا تر "۷۹" پورې. د "۸۳" څخه بیا تر "۸۹" پورې. د "۹۳" څخه بیا تر "۹۹" پورې. د دغه ټولو عددو تمیز

---

(۱) لفظ د "عَشَرَ" که چیرې مرکب وو نو د قیاس مطابق راوړل کیږي یعني د مذکر سره مذکر او د مؤنث سره مؤنث لکه: "أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا. فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا" او که چیرې غیر مرکب وو بیا یې حکم د "ثَلٰثَةٌ" په شان دئ یعني خلا ف القیاس راځي. (شرح شذور الذهب)

(۲) د عدد اوسط قرآني مثالونه: "أَحَدَ عَشَرَ رجلا.. رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا.. إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا.. وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖ أَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً.. إِنَّ هٰذَا أَخِيْ لَهٗ تِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ نَعْجَةً". (العلامات النحوية)

(۳) د "إِثْنَانِ" څخه بیا تر "عَشَرَةٌ" پورې د دې عدد څخه اسم فاعل جوړول هم صحیح کیږي لکه: څنګه چې د فعل څخه جوړیږي لکه: "ثَانِيْ. ثَالِثٌ. رَابِعٌ. إِلَى الْعَاشِرِ" او دی د قیاس مطابق راوړل کیږي یعني د مذکر دپاره مذکر او د مؤنث دپاره مؤنث او داغه رنګه د لفظ د "وَاحِدٌ" او "وَاحِدَةٌ" لکه: "إِلٰهٌ وَاحِدٌ. نَفْسٌ وَاحِدَةٌ". (همع الهوامع)

مخالف قياس يعني خلاف العقل راځي يعني که چيري تميز مؤنث وو نو بيا د عدد د دواړو جزئو څخه به اول جزء مذکر وي او که چيري تميز مذکر وو نو د عدد اول جزء به مؤنث وي لکه: "ثَلٰثَةَ عَشَرَ رَجُلًا. ثَلٰثَ عَشَرَةَ اِمْرَءَةً ثَلٰثَةٌ وَّ عِشْرُوْنَ رَجُلًا. ثَلٰثٌ وَّ عِشْرُوْنَ اِمْرَءَةً".

فائده:

اته (۸) عقود همېشه پر يوه حال استعماليږي خواه که يکړه وي او که د بل عدد سره مرکب وي، حو تميز يې مذکر وي او که مؤنث وي هغه اته (۸) عقود "عِشْرُوْنَ. ثَلَاثُوْنَ. اَرْبَعُوْنَ. خَمْسُوْنَ. سِتُّوْنَ. سَبْعُوْنَ. ثَمَانُوْنَ. تِسْعُوْنَ" دي لکه: "عِشْرُوْنَ رَجُلًا. عِشْرُوْنَ اِمْرَءَةً".

عدد اعلی صرف پنځه عدده دي په مقام د تميز کي: "مِأَةٌ. مِئَتَانِ. اَلْفٌ. اَلْفَانِ. آلَافٌ".

د عدد اعلی حکم په اعتبار د تميز سره: د عدد اعلی تميز همېشه مفرد مجروره راځي لکه: "مِأَةُ رَجُلٍ. مِأَةُ عَامٍ. اَلْفُ سَنَةٍ. مِئَتَيْ دِرْهَمٍ".

دريمه خبره:

اسماء کنايه:

يوولسم (۱۱) قسم د اسماء عامله وو څخه اسماء کنايه دي.

د اسماء کنايه تعريف:

اسماء کنايه هغه مبهم الفاظ دي چي په هغو سره کنايه د مبهم عدد څخه کيږي يا د حديث او يا د فعل څخه.

د اسماء کنايه تعداد:

اسماء کيانه پنځه (۵) الفاظ دا دي: "کَمْ. کَذَا. کَاَيِّنْ. کَيْتَ. ذَيْتَ".

د "کَمْ" اقسام:

"کَمْ" پر دوه قسمه دي:

۱. "کَمْ" استفهاميه.

۲. "کَمْ" خبريه.

د "كَمْ" استفهاميه تعريف:

"كَمْ" استفهاميه چي په ده سره كنايه د عدد مبهم څخه كيږي او د هغه څخه مراد تعين د هغه عدد وي لكه: "كَمْ كِتَابًا عِنْدَكَ".

په اسماء كناياتو كي هغه اسماء چي كنايه د عدد څخه كوي هغه عامل دي او هغه اسماء چي كنايه د قول څخه كوي هغه غير عامل دي په اسماء كنايه عامله وو كي اول "كَمْ" استفهاميه دئ.

د "كَمْ" استفهاميه عمل:

د "كَمْ" استفهاميه (۱) تميز مفرد منصوب راځي يعني دى و مفرد تميز ته (۲) نصب ور كوي لكه: "كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ" او بل عمل يې د حروف جاره وو دئ يعني و تميز ته جر ور كوي كله چي پر ده باندي حرف جر داخل سي لكه: "بِكَمْ دِرْهَمٍ اِشْتَرَيْتَ" لېكن نصب فصيح دئ.

د "كَمْ" خبريه تعريف:

"كَمْ" خبريه چي په ده سره كنايه د عدد كثير څخه كيږي په طريقه د اخبار سره لكه: "كَمْ كِتَابٍ عِنْدِيْ اَىْ عِنْدِيْ كُتُبٌ كَثِيْرَةٌ".

د "كَمْ" خبريه عمل:

---

(۱) د "كَمْ" استفهاميه تميز د كم خبريه پر تميز باندي حمل كول او بيا جر ور كول جائز دي او كه نه دي جائز؟ په دې كي درې مذهبونه دي:

۱ اول مذهب: مطلقا ناجائز دئ.

۲ دوهم مذهب: مطلقا جائز دئ.

۳ دريم مذهب: مشروط بالشرط جائز دي.

په دې تولو كي شرط دا دئ: چي پر "كَمْ" استفهاميه باندي به حرف جر داخل سوى وي او بيا چي د كم جا په نزد باندي جائز دي بيا د هغو په منځ كي اختلاف دئ د خليل او سبويه په نزد باندي دغه جر د "مِنْ" مقدره په وجه سره دئ او دى عوض دئ د هغه حرف جر چي پر "كَمْ" باندي داخل سوى دئ لكه: "بِكَمْ دِرْهَمٍ اِشْتَرَيْتَ" تقدير د عبارت په دې شكل دئ: "بِكَمْ مِنْ دِرْهَمٍ اشْتَرَيْتَ" او د زجاج په نزد باندي دلته جر د كم د اضافت په وجه سره دئ لېكن دا قول ضعيف دئ ورنه بيا به د حرف جر د تقديم څخه د جر راتلل جائز سي. (همع الهوامع جلد ۲ صفحه ۲۷۵)

(۲) د مبتدأ منفي كېدل نه په استفهاميه كي جائز دي او نه په خبريه كي نو لهذا "كَمْ لَا رَجُلًا عِنْدَكَ" ويل غلط دي. (كتاب سبويه جلد ۲ صفحه ۱۶۸)

د "كَمْ" خبريه تميز ([1]) د اضافت په وجه مفرد مجروره راځي لکه: "كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُهُ" او کله جمع مجروره راځي لکه: "كَمْ رِجَالٍ لَقِيْتُهُ" افصح او اکثر افراد دي عند البصريين د ده جر د اضافت په وجه دئ او عند الكوفيين د ده جر د "مِنْ" مقدره په وجه دئ. که چيري د "كَمْ" خبريه او تميز په مينځ کي فاصله راسي نو بيا دى پر "كَمْ" استفهاميه حمل کيږي تميز ته نصب ور کوي.

څلورمه خبره:

"كَمْ" استفهاميه ته د عدد اوسط درجه ور کول سوي ده لکه: څنګه چي د عدد اوسط تميز مفرد منصوبُ راځي داغه رنګه د "كَمْ" استفهاميه تميز هم مفرد منصوب راځي او پاته سو "كَمْ" خبريه او د عدد دوې درجې نو د دواړو لحاظ يې ساتلی دئ د "كَمْ" خبريه په تميز کي لکه: څنګه چي د عدد اقل تميز جمع مجرور راځي داغه رنګه د "كَمْ" خبريه تميز هم کله جمع مجرور راځي لکه: څنګه چي د عدد اعلی تميز مفرد مجروره راځي داغه رنګه د "كَمْ" خبريه تميز هم کله مفرد مجرور راځي، مثالونه يې تېر سول.

د "كَمْ" خبريه او د "كَمْ" استفهاميه په پنځو (۵) شيانو کي اشتراک:

"كَمْ" استفهاميه و "كَمْ" خبريه په پنځو شيانو کي سره مشترک دي:

۱. دواړه کنايه د عدد مبهم څخه کوي خواه که جنس وي او که مقدار وي.
۲. په اسميت کي سره شريکان دي.
۳. په بناء على السكون کي.
۴. په لزوم د تصدير کي يعني په صدارت د کلام کي.

([1]) که چيري قرينه موجوده وي نو بيا د "كَمْ" استفهاميه او "كَمْ" خبريه تميز حذف کول جائز دي د "كَمْ" استفهاميه مثال لکه: "كَمْ مَالُكَ" دلته "دِرْهَمًا" تميز حذف سوى دئ اصل عبارت دا دئ "كَمْ دِيْنَارًا مَالُكَ" دلته قرينه دا ده چي "كَمْ" پر معرفه باندي داخل سوى حالانکه "كَمْ" پر نکره باندي داخليږي نو دا د دې خبري دليل دئ چي دلته تميز حذف سوى دئ د "كَمْ" خبريه مثال لکه: "كَمْ ضَرَبْتُ" دلته "ضَرْبَةٍ" تميز حذف سوى دئ اصل عبارت دا دئ "كَمْ ضَرْبَةٍ ضَرَبْتُ" قرينه دا ده چي دلته "كَمْ" پر فعل داخل سوى دئ حالانکه "كَمْ" پر اسم باندي داخليږي نو د دې څخه دا معلومه سوه چي دلته تميز حذف سوى دئ. (همع الهوامع و جامع الدروس العربية)

۵. په احتیاج د تمیز کي.

د "كَمْ" استفهامیه و خبریه په پنځو (۵) شیانو کي افتراق:

"كَمْ" استفهامیه و "كَمْ" خبریه په پنځو شیانو کي سره جلا دي.

۱. د "كَمْ" استفهامیه تمیز مفرد منصوبه راځي او د "كَمْ" خبریه تمیز مفرد مجرور او جمع مجرور دواړه راځي.

۲. "كَمْ" خبریه په ماضي پوري خاص دي لکه: "كَمْ غِلْمَانٍ اِشْتَرَيْتُ" او "كَمْ" استفهامیه په ماضي پوري نه وي خاص لکه: "كَمْ غُلَامًا سَتَشْتَرِيْ".

۳. په "كَمْ" خبریه کي احتمال د صدق و کذب سته بخلاف د "كَمْ" استفهامیه.

۴. په "كَمْ" خبریه کي جواب د مخاطب ځخه نه وي مطلوب او په "كَمْ" استفهامیه کي جواب مطلوب وي.

۵. د "كَمْ" خبریه پر مبدل منه باندي همزه استفهام راوړل جائز نه دي لکه: "كَمْ رِجَالٍ فِي الدَّارِ أَعِشْرُوْنَ اَمْ ثَلَاثُوْنَ" او په "كَمْ" استفهامیه کي همزه استفهام راوړل جائز دي لکه: "كَمْ مَالُكَ ءَاَرْبَعُوْنَ اَمْ ثَلَاثُوْنَ".

د "كَمْ" استفهامیه او خبریه د معرفت او پېژندلو طریقه:

که چیري د "كَمْ" ځخه وروسته د مخاطب صیغه وه نو بیا "كَمْ" استفهامیه دئ او که چیري د ده ځخه وروسته د متکلم صیغه وه نو بیا "كَمْ" خبریه دئ.

پنځمه خبره:

د "كَمْ" د لفظ اعراب او په ترکیب کي د ده محلا مرفوع یا منصوب یا مجرور واقع کېدل:

منصوب محلا د "كَمْ" ځخه وروسته چي کم فعل راځي که چیري په هغه کي استعداد د عمل موجود وو نو بیا به "كَمْ" همېشه منصوب محلا راځي او په ده کي نصب په درو صورتو کي راځي:

۱. اول صورت: که چیري تمیز ظرف وو نو بیا به دی مفعول فیه راځي لکه: "كَمْ يَوْمًا سِرْتَ". وَ كَمْ يَوْمٍ صُمْتُ".

۲. دوهم صورت: که چیري تمیز مصدر وو نو بیا به دی مفعول مطلق راځي لکه: "کَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتَ، کَمْ ضَرْبَةٍ ضَرَبْتُ".

۳. دریم صورت: که چیري تمیز نه ظرف او نه مصدر وو نو بیا دی مفعول به راځي لکه: "کَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ، کَمْ غُلَامٍ مَلَکْتُ".

مجرور محلا:

"کَمْ" کله مجروره راځي کله چي د ده څخه مخکي مضاف وي یا حرف جر وي لکه: "بِکَمْ رَجُلًا مَرَرْتَ وَعَلٰی کَمْ رَجُلٍ حَکَمْتُ" د مضاف مثال لکه: "غُلَامُ کَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ" او "غُلَامُ کَمْ رَجُلٍ سَلَبْتُ".

مرفوع محلا:

"کَمْ" چي کله مرفوع محلا واقع کیږي د هغه دپاره قاعده دا ده چي د مخکني دوه امرو څخه به یو امر لا نه وي موجود یعني نه به د مابعد په فعل کي د عمل استعداد وي او نه به پر ده باندي حرف جر او مضاف داخل سوی وي نو په دې وخت کي به دی محلا مرفوع وي، او د ده مرفوع والی په دوو شکلو سره راځي:

۱. یو په شکل کي د مبتداء.

۲. او بل په شکل د خبر کي.

او د ده دار مدار پر تمیز باندي دئ که چیري تمیز ظرف نه وو نو بیا به دی مرفوع محلا مبتداء وي لکه: "کَمْ رَجُلًا اَخُوْکَ، کَمْ رِجَالٍ ضَربْتُهُمْ" او که چیري تمیز ظرف وو نو بیا به دی مرفوع محلا خبر مقدم وي لکه: "کَمْ یَوْمًا سَفَرُکَ وَکَمْ شَهْرٍ صَوْمِيْ".

شپږمه خبره:

د "کَمْ" استفهامیه او "کَمْ" خبریه پر تمیز باندي "مِنْ" داخلول هم جائز دي استفهامیه لکه: "کَمْ مِنْ رَجُلٍ لَقِیْتَهُ". (تا د څو خلکو سره ملاقات و کړئ). خبریه لکه: "کَمْ مِنْ مَالٍ اَنْفَقْتُهُ" (ما ډېر مال خرڅ کړئ) نو په دې صورت کي به د دواړو په مینځ کي فرق په قرینه سره کیږي. لېکن که چیري د "کَمْ" او د ده د تمیز په مینځ کي د فعل متعدي فاصله راغله نو بیا د "کَمْ" پر تمیز باندي "مِنْ" داخلول واجب دئ چي بیا د اسم تمیز التباس د فعلِ متعدي د مفعول سره رانسي.

بحث "کَذَا":

بل اسم د اسماء کنایاتو څخه "کَذَا" دئ.

"کَذَا" د "کَ" او د "ذَا" اسم اشاره څخه مرکب دئ.

د "کَذَا" عمل: "کَذَا" و تمیز ته نصب ور کوي او د ده تمیز مفرد منصوب راځي لکه: "قَبَضْتُ کَذَا وَ کَذَا دِرْهَمًا".

د "کَمْ" و "کَذَا" په څلورو (۴) شیانو کي موافقت:

۱. په ابهام کي.
۲. په بناء کي.
۳. په احتیاج کي.
۴. په افاده د تکثیر کي.

اوومه خبره:

بحث "کَأَیِّنْ":

بل اسم د اسماء کنایه څخه "کَأَیِّنْ" دئ.

"کَأَیِّنْ" د "کاف" او د "أَیٌّ" منون څخه مرکب دئ.

د "کَأَیِّنْ" عمل:

د "کَأَیِّنْ" تمیز اکثره د "مِنْ" ([1]) ظاهره او زائده په وجه مجرور راځي لکه: "وَکَأَیِّنْ مِّنْ دَابَّةٍ لَا تَحْمِلُ رِزْقَهَا".

او کله کله منصوب هم راځي لکه: "کَأَیِّنْ لَنَا فَضْلًا".

([1]) ابو حیان اندلسي ویلي دي چي د سبویه د کلام څخه دا معلومیږي چي "مِنْ" زائده دئ د تاکید د بیان دپاره راغلی دئ او عند البعض د "کَأَیِّنْ" پر تمیز باندي جر د "مِنْ" مقدر په وجه جائز دئ لېکن د ابن کیسان په نزد باندي دلته جر د اضافت په وجه راغلی دئ لېکن دا خبره غلطه ده ځکه د "کَأَیِّنْ" په آخر کي تنوین راغلی دئ چي مانع عن الاضافت دئ.(کتاب سبویه جلد ۲ صفحه ۱۷۲)

د "كَمْ وَكَأَيِّنْ" اشتراک په پنځو (۵) شیانو کې.

۱. په ابهام کې.

۲. په احتیاج الی التمیز کې.

۳. په مبني والي کې.

۴. په صدارت د کلام کې.

۵. په معنٰی د تکثیر کې.

د "كَمْ وَكَأَيِّنْ" افتراق په څلورو (۴) شیانو کې:

۱. "كَأَيِّنْ" مرکب دئ او "كَمْ" بسیط دئ.

۲. او داغه رنګه د "كَأَيِّنْ" تمیز مجروره راځي او پر ده باندي عام طور "مِنْ" داخلیږي بخلاف د "كَمْ".

۳. "كَأَيِّنْ" د استفهام په معنٰی کې نه استعمالیږي مګر عند البعض استعمالیږي بخلاف د "كَمْ".

۴. د "كَأَيِّنْ" خبر همېشه جمله وي مفرد نسي راتلای بخلاف د "كَمْ".

جملې:

عنوان	خبریه یا انشائیه	مسند	مسند الیه	تعیین حروف عامله و غیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اسماء عدد و اقسام کنایات
وَكَمْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا فَجَاءَهَا بَأْسُنَا بَيَاتًا	خبریه اسمیه	(أَهْلَكْنَاهَا) خبر	(كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ) مبتدا	(وَ) استانفیه (مِنْ) جاره (فَ) [illegible]	(أَهْلَكْنَا) (جَاءَ) فعل معلوم	(كَمْ) اسم کنایه (بَأْس) اسم مضاف	(كَمْ) فی محل الرفع علی مبتدا (أَهْلَكْنَاهَا) محلا خبر (بَأْس) فاعل	(قَرْيَةٍ) محلا تمیز منصوب (نَا) (هَا) محلا مفعول به (بَيَاتًا) فی تاویل مشتق حال من (بَأْس)	(قَرْيَةٍ) لفظا مجرور بحرف الجر زائد (نَا) مضاف الیه	(كَمْ) خبریه حاصل فی التمیز وهو (قَرْيَةٍ)
وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا	خبریه اسمیه	(يَمُرُّونَ) خبر	(كَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ الخ) مبتدا	(وَ) استانفیه (مِنْ) جاره زائده (فِي) جاره (وَ) عاطفه (عَلَى) جاره	(يَمُرُّونَ) فعل معلوم	(كَأَيِّنْ) اسم کنایه	(وَكَأَيِّنْ) فی محل الرفع مبتدا (يَمُرُّونَ) خبر (هُمْ) فاعل	(آيَةٍ) محلا منصوب تمیز	(آيَةٍ) لفظا مجرور بحرف الجر زائد (السَّمَاوَاتِ) مجرور حقیقی بحرف جر صفت (الآيَةِ) (الأَرْضِ) معطوف علی السماوات (هَا) محلا مجرور حقیقی يَمُرُّونَ	(كَأَيِّنْ) اسم کنایه عن العدد حاصل فی التمیز وهو (آيَةٍ)

عنوان	خبریا انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اسماء عدد و اسماء کنایات
عِنْدَكَ مِلْؤُهٗ عَسَلًا	خبریہ ظرفیہ	(عِنْدَكَ) خبر مقدم	(مِلْؤُهٗ عَسَلًا) مبتدا مؤخر	+	+	(عِنْدَ) ظرف مضاف (مِلْؤُ) اسم تام	(عِنْدَكَ) محلا مرفوع خبر (مِلْؤُ) مبتدا	(عَسَلًا) تمیز	(كَ) محلا (ہٗ) محلا مضاف الیہ	(مِلْؤُهٗ) اسم تام بالاضافۃ عامل فی التمیز (عَسَلًا)
وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً	خبریہ فعلیہ	(وٰعَدَ) فعل	(نَا) فاعل	(وَ) استئنافیہ	(وٰعَدْنَا) فعل معلوم	(ثَلٰثِيْنَ) اسم عدد	(نَا) فاعل	(مُوْسٰى) مفعول بہ اول (ثَلٰثِيْنَ) مفعول بہ ثانی (لَيْلَةً) تمیز	+	(ثَلٰثِيْنَ) عدد ہو واسطہ من العقود الثمانیہ عامل فی التمیز وھو (لَيْلَةً)
قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ	خبریہ فعلیہ	(قَالَ) فعل	(قَائِلٌ) فاعل	(مِنْ) جارہ	(قَالَ) (لَبِثْتُمْ) فعل معلوم	(كَمْ) اسم کنایہ، تمیزہ مقدر ہو (یومًا) (قَائِلٌ) اسم فاعل (یومًا)	(قَائِلٌ) (تُمْ) فاعل	(كَمْ لَبِثْتُمْ) فی محل النصب (مقولہ) (يَوْمًا) تمیز مقدر	(هُمْ) مجرور متعلق بمحذوف نعت (لِقَائِلٌ)	(كَمْ) استفہامیہ عامل فی (يَوْمًا) مقدر
لَيْسَ عِنْدِيْ قَدْرُ حَلْقَةٍ حِلْيَةً	خبریہ ظرفیہ	(عِنْدِيْ) خبر مقدم	(قَدْرُ حَلْقَةٍ) اسم مؤخر	+	(لَيْسَ) فعل ناقص	(عِنْدِ) (قَدْرُ) اسم مضاف	(قَدْرُ) اسم للفعل الناقص	(حِلْيَةً) تمیز (عِنْدِيْ) فی محل النصب خبر (لَيْسَ)	(یْ) محلا مضاف الیہ (حَلْقَةٍ) مضاف الیہ	(قَدْرُ حَلْقَةٍ) اسم تام عامل فی التمیز (حِلْيَةً)
عِنْدِيْ كَذَا وَكَذَا	خبریہ ظرفیہ	(عِنْدِيْ) خبر مقدم	(كَذَا وَكَذَا) مع تمیز المحذوف مبتدا مؤخر	(وَ) عاطفہ	+	(عِنْدِ) ظرف مضاف	(عِنْدِيْ) محلا خبر مقدم (كَذَا وَكَذَا) محلا مبتدا مؤخر	(دِرْهَمًا) تمیز محذوف	(یْ) محلا مضاف الیہ	(كَذَا وَكَذَا) اسم کنایہ عامل فی التمیز (دِرْهَمًا) محذوف
دَرَسْتُ كَيْتَ وَذَيْتَ عِلْمًا	خبریہ فعلیہ	(دَرَسَ) فعل	(تُ) فاعل	(وَ) عاطفہ	(دَرَسَ) فعل معلوم	(كَيْتَ وَذَيْتَ) اسم کنایہ	(تُ) محلا فاعل	(عِلْمًا) تمیز (كَيْتَ وَذَيْتَ) محلا مفعول بہ	+	(كَيْتَ وَذَيْتَ) اسم کنایہ عامل فی التمیز (عِلْمًا)
وَكَأَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ	خبریہ اسمیہ	(قٰتَلَ مَعَهٗ) الخ خبر	(كَأَيِّنْ) مبتدا	(وَ) استئنافیہ (مِنْ) جارہ زائدہ	(قٰتَلَ) فعل معلوم	(كَأَيِّنْ) اسم کنایہ (مَعَ) ظرف مضاف (كَثِيْرٌ) صفت مشبہ	(كَأَيِّنْ) مبتدا (رِبِّيُّوْنَ) فاعل (كَثِيْرٌ) صفت لہ (هُوَ) محلا فاعل	(نَبِيٍّ) محلا تمیز	(نَبِيٍّ) لفظا مجرور (ہٗ) محلا مضاف الیہ	(كَأَيِّنْ) اسم کنایہ عامل فی التمیز (نَبِيٍّ)
أَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ أَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ	انشائیہ فعلیہ	(يَكْفِيَ) فعل	(أَنْ يُّمِدَّكُمْ) بتاویل مصدر فاعل	(همزہ) استفہام انکاری (أَنْ) ناصب مصدریہ (لَنْ) ناصبہ (بِ) جارہ	(يَكْفِيَ، يُمِدُّ) فعل معلوم	(رَبُّ) اسم مضاف (ثَلٰثَةِ) اسم عدد	(أَنْ يُّمِدَّكُمْ) محلا فاعل (رَبُّ) فاعل	(يَكْفِيَ) منصوب بلن (كُمْ) مفعول بہ (يُمِدَّ) منصوب بأن ناصبہ مصدریہ (كُمْ) مفعول بہ محلا	(ثَلٰثَةِ) مجرور متعلق (يُمِدُّكُمْ) (اٰلٰفٍ) (كُمْ) مضاف الیہ	(ثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ) عدد واقع تمیزہ محذوف (مَلَكٍ)
قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا	انشائیہ فعلیہ	(قُلْ) فعل	(أَنْتَ) فاعل	+	(قُلْ) فعل معلوم	(نَارُ) اسم مضاف (أَشَدُّ) اسم تام	(أَنْتَ) فاعل، (نَارُ) مبتدا (أَشَدُّ) خبر (هُوَ) فاعل	(حَرًّا) تمیز	(نَارُ جَهَنَّمَ) خبر فی محل النصب مقول قل	(أَشَدُّ) اسم تام عامل فی تمیزہ (حَرًّا)

عنوان	خبر یا انشاء	مسند	مسند الیه	تعیین حروف عامله و غیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اسماء عدد و اقسام کنایات
إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ	خبریه فعلیه	(تَسْتَغْفِرْ، يَغْفِرَ) فعل معلوم	(أَنْتَ، اللّٰهُ) فاعل	(إِنْ) حرف شرط جازم (لَامْ) جاره (فَ) جزائیه (لَنْ) ناصب (لَامْ) جاره	(تَسْتَغْفِرْ، يَغْفِرَ) فعل معلوم	+	(أَنْتَ، اللّٰهُ) فاعلان	(سَبْعِينَ) مفعول به (مَرَّةً) تمیز	(هُمْ) مجرور متعلق (تَسْتَغْفِرْ) هُمْ، محلاً مجرور متعلق (يَغْفِرَ)	(سَبْعِينَ مَرَّةً) عدد اوسط (مَرَّةً) تمیز

التمرين:

"كَمْ مُصَلٍّ عَنْ صَلَاتِهِ غَافِلٌ،، كَمْ رَكْعَةً صَلَّيْتَ،، هُمْ أَكْثَرُوْنَ مِنْكَ مَالًا، كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللهِ،، كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنَ الْقُرُوْنِ،، فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا،، وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا،، كَمْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ نَصِيبٌ،، كَمْ يَوْمًا غِبْتَ عَنِّي،، كَانَ مِنَ الْأَمْرِ ذَيْتَ وَذَيْتَ".

فصل بدانکه عوامل معنویه الخ:.................................. الی قوله دوم تاکید.

ترجمه:

دوهم قسم عوامل معنویه دي. پوه سه! چي عامل معنوي پر دوه قسم دي اول ابتداء يعني د اسم خالي والی د عوامل لفظيه څخه او دا خلو ومبتداء ته رفع ور کوي لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ" نو دلته ويل کيږي "زَيْدٌ" مبتداء ده مرفوع ده د ابتداء په وجه سره او "قَائِمٌ" خبر د مبتداء دي او مرفوع دي د ابتداء په وجه دلته دوه مذهبونه نور هم دي يو دا دئ چي ابتداء عامله ده په مبتداء کي او مبتداء عامله ده په خبر کي دوهم مذهب دا دئ چي هر يو د مبتداء و خبر څخه يو په بل کي عامل دئ دوهم خُلُوُّ يعني فعل مضارع چي خالي وي د نواصب و جوازم څخه هغه فعل مضارع ته رفع ور کوي لکه: "يَضْرِبُ زَيْدٌ" دلته "يَضْرِبُ" مرفوع ده ځکه د نواصب و جوازمو څخه خالي ده اوس د نحو ټول عوامل ختم سو د الله تعالی په توفيق سره.

الدرس الرابع والثلاثون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

مصنف رحمه الله د عوامل لفظيه د بيان څخه فارغ سو نو اوس يې شروع و کړه په بيان کي د عوامل معنويه:

د عوامل معنويه اقسام:

عوامل معنوي (۱) پر دوه قسمه دي:

۱. ابتداء.

۲. خُلُوُّ.

د ابتداء تعريف:

د يو اسم د عوامل لفظيه څخه خالي کېدل لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ".

د ابتداء عمل:

ابتداء په مبتداء او خبر کي عمل د رفع کوي دواړو ته رفع ور کوي لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ".

د خُلُوُّ تعريف:

خُلُوُّ يعني د فعل مضارع د حروف نواصب و جوازم څخه خالي کېدل.

د خُلُوُّ عمل:

خُلُوُّ فعل مضارع ته رفع ور کوي لکه: "يَضْرِبُ".

د مبتداء تعريف:

"هُوَ اِسْمٌ اَوْ بِمَنْزِلَتِهِ مُجَرَّدٌ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ اَوْ وَصْفٌ رَافِعٌ لِاسْمٍ ظَاهِرٍ" لکه: "اَللّٰهُ رَبُّنَا، وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ".

---

(۱) د مبتداء او خبر د عامل په باره کي اختلاف دئ عند البعض د مبتداء عامل ابتداء ده يعني عامل معنوي دئ او د خبر عامل مبتداء او ابتداء دواړه دي يعني لفظي و معنوي دواړه دي. د امام سبويه رحمة الله عليه په نزد باندي د مبتداء عامل معنوي دئ يعني ابتداء ده او د خبر عامل لفظي دئ چي مبتداده. او د کوفيين په نزد باندي مبتداء عامله ده په خبر کي او خبر عامل دئ په مبتداء کي يعني د دواړو عامل لفظي دئ او د علامه جار الله زمخشري په نزد باندي د دواړو عامل معنوي دئ او د امام کسائي رحمة الله عليه په نزد باندي د فعل مضارع عامل لفظي دئ په حالت رفعي کي حروف اتين دي او په نزد د کوفيين باندي د فعل مضارع عامل معنوي دئ يعني خلو د نواصب د جوازم څخه او د بصريين په نزد باندي د فعل مضارع عامل د دې واقع کېدل پر ځای د اسم باندي يعني ددې قائمقام والی پر ځای د اسم باندي په دې کي عامل دئ. (نصر الخبير)

دوهمه خبره:

د مبتداء احکام:

د مبتداء دپاره پنځه (۵) حکمونه دي:

۱. اول حکم يې دا دئ: وجوب الرفع يعني پر ده باندي رفع ويل واجب دي لېکن کله کله د "مِنْ" او "بَا" زائده او د "رُبَّ" حرف جر په وجه مجروره سي لکه: "بِحَسْبِکَ اللهُ. هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ يَرْزُقُکُمْ. يَا رُبَّ کَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

۲. دوهم حکم يې دا دئ: "وُجُوْبُ کَوْنِهٖ مَعْرِفَةً" يعني د ده معرفتوب واجب دئ لکه: "مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ" يا نکره مفيده (۱) وي لکه: "مَجْلِسُ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهٖ خَيْرٌ مِنْ عِبَادَةِ سَبْعِيْنَ سَنَةً".

---

(۱) نکره چي مفيده يا مخصصه ګرځي په څوارلسو (۱۴) مقامو (ځايو) کي ګرځي:

۱. اول مقام: چي لفظا په اضافت سره لکه: "خَمْسُ صَلَوَاتٍ کَتَبَهُنَّ اللهُ" يا معنًا په اضافت سره لکه: "قُلْ کُلٌّ يَعْمَلُ عَلٰى شَاکِلَتِهٖ اَیْ کُلُّ اَحَدٍ".

۲. دوهم مقام: په وصف لفظي سره لکه: "وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِکٍ" يا په وصف تقديري سره لکه: "شَرٌّ اَهَرَّ ذَانَابٍ اَیْ شَرٌّ عَظِيْمٌ" يا په وصف معنوي سره لکه: "رُجَيْلٌ عِنْدَنَا اَیْ رَجُلٌ حَقِيْرٌ" ځکه په تصغير کي معنی د وصف وي.

۳. دريم مقام: يا کله چي د مبتداء خبر ظرف راسي يا جار و مجرور مقدم راسي لکه: "وَفَوْقَ کُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ. لِکُلِّ اَجَلٍ کِتَابٌ".

۴. څلورم مقام: چي مبتداء نکره وروسته تر نفي راسي لکه: "مَا اَحَدٌ عِنْدَنَا" يا تر استفهام وروسته لکه: "اَاِلٰهٌ مَعَ اللهِ" يا تر "لَوْلَا" وروسته راسي لکه: شعر: "لَوْلَا اصْطِبَارٌ لَاَوْدٰی کُلُّ ذِیْ مِقَةٍ" يا تر "اِذَا" مفاجاتيه وروسته راسي لکه: "خَرَجْتُ فَاِذَا اَسَدٌ رَابِضٌ".

۵. پنځم مقام: کله چي مبتداء نکره عامله وي په معمول کي لکه: "اِعْطَاءٌ قِرْشًا فِي سَبِيْلِ الْعِلْمِ يَنْهَضُ بِالْاُمَّةِ. اَمْرٌ بِمَعْرُوْفٍ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنْ مُنْکَرٍ صَدَقَةٌ" دلته "اِعْطَاءٌ" مصدر عمل د نصب کړئ دئ په "قِرْشًا" کي او په امر و نهي پوري جار و مجرور تعلق نسي چي د دوی دپاره مفعول غير صريحي دئ.

۶. شپږم مقام: کله چي مبتداء نکره مبهمه واقع سي لکه: اسماء شرط مثال لکه: "مَنْ يَّجْتَهِدْ يُفْلِحْ" يا استفهام وي لکه: "مَنْ مُجْتَهِدٌ، وَکَمْ عِلْمًا فِيْ صَدْرِکَ" يا "مَا" تعجبيه وي لکه: "مَا اَحْسَنَ الْعِلْمَ" يا "کَمْ" خبريه وي لکه: "کَمْ مَاْثِرَةٍ لَکَ".

۷. اووم مقام: کله چي نکره فائده د دعاء ور کوي خواه که د خير دعاء وي لکه: "سَلَامٌ عَلَيْکُمْ" يا د شر دعاء وي لکه: "وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ".

۳. دریم حکم یې دا دئ: "جَوَازُ حَذْفِهِ اِنْ دَلَّ عَلَيْهِ دَلِيْلٌ" يعني مبتداء حذف کول جائز دي که چیري یو دلیل موجود وو لکه: څوک سوال وکړي چي "كَيْفَ سَعِيْدٌ" د ده په جواب کي وویل سي "مُجْتَهِدٌ اَىْ هُوَ مُجْتَهِدٌ".

۴. څلورم حکم یې دا دئ: "وُجُوْبُ حَذْفِهِ" يعني د مبتداء حذف کول په څلورو ځايو کي وجوبًا:

۱. اول ځای: که چیري پر مبتداء باندي جواب د قسم دلالت کاوئ لکه: "فِيْ ذِمَّتِيْ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا اَىْ فِيْ ذِمَّتِيْ عَهْدٌ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا".

۲. دوهم ځای: که چیري خبر د مبتداء مصدر وو او نائب وو د خپل فعل څخه لکه: "صَبْرٌ جَمِيْلٌ اَىْ صَبْرِيْ صَبْرٌ جَمِيْلٌ: وَسَمْعٌ وَطَاعَةٌ: اَىْ وَاَمْرِيْ سَمْعٌ وَطَاعَةٌ".

---

۸. اتم مقام: کله چي نکره صفت د موصوف پر ځای ودریږي لکه: "عَالِمٌ خَيْرٌ مِنْ جَاهِلٍ اَىْ رَجُلٌ عَالِمٌ".

۹. نهم مقام: کله چي نکره صدر د جملې حاليه واقع سي خواه که هغه جمله مرتبه په واو سره وي او که بغير د واو وي د واو مثال لکه: "سَرَيْنَا وَنَجْمٌ قَدْ اَضَاءَ" او د بدون واو مثال لکه: "كُلَّ يَوْمٍ تَرَانِيْ مُدْيَةٌ بِيَدِيْ".

۱۰. لسم مقام: کله چي نکره عطف سي پر معرفه باندي يا معرفه عطف سي پر نکره باندي د اول مثال لکه: "خَالِدٌ وَرَجُلٌ يَتَعَلَّمَانِ النَّحْوَ". د دوهم مثال لکه: "رَجُلٌ وَخَالِدٌ يَتَعَلَّمَانِ الصَّرْفَ".

۱۱. يوولسم مقام: کله چي د نکره عطف پر نکره موصوفه وسي يا د نکره موصوفه عطف پر نکره وسي د اول مثال لکه: "قَوْلٌ مَعْرُوْفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا اَذًى" د دوهم مثال لکه: "طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَعْرُوْفٌ".

۱۲. دوولسم مقام: کله چي د نکره څخه مراد حقيقت جنس وي نه فرد واحد لکه: "تَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ" "رَجُلٌ اَقْوٰى مِنْ اِمْرَءَةٍ".

۱۳. ديارلسم مقام: کله چي نکره جواب واقع سي لکه: "رَجُلٌ" په جواب د هغه چا کي ويل چي هغه وايي: "مَنْ عِنْدَكَ". د امام سبويه او د متقدين په نزد باندي کله چي نکره مفيده وي بيا يې مطلقًا ابتدائيت جائز دئ ليکن که چيري نکره موصوفه غير مفيده وه بيا يې هم ابتدائيت جائز نه دئ لکه: "رَجُلٌ مِنَ النَّاسِ عِنْدَنَا" او دغه رنګه کله چي د نکره خبر ظرف يا جار و مجرور راغلی وي او پر دی باندي مقدم وي لکه: "عِنْدَ رَجُلٍ مَالٌ. لِاِنْسَانٍ ثَوْبٌ" و غيره ځکه په دې کي څه فائده نسته.

۱۴. څوارلسم مقام: چي کله نکره دلالت پر تنويع يعني پر تفصيل و تقسيم باندي کوي لکه: "فَاَقْبَلَتْ زَحْفًا عَلَى الرُّكْبَتَيْنِ فَثَوْبٌ لَبِسْتُ وَثَوْبٌ اُجُرُّ". (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۱۸۰)

۳. دریم ځای: که چیري خبر مخصوص بالمدح یا بالذم راغلی وو وروسته تر "نِعْمَ" او تر "بِئْسَ" لکه: "نِعْمَ الرَّجُلُ اَبُوْ طَالِبٍ اَیْ هُوَ. وَ بِئْسَ الرَّجُلُ اَبُوْ لَهَبٍ اَیْ هُوَ".

۴. څلورم ځای: که چیري خبر په اصل کي نعت وو بیا وروسته د نعتیت څخه قطع سوی وو او په معرض د مدح او ذم یا ترحم کي راغلی وو لکه: "خُذْ بِیَدِ زُهَیْرٍ اَلْکَرِیْمُ اَیْ هُوَ الْکَرِیْمُ. دَعْ مَجَالِسَةَ فُلَانِ اللَّئِیْمُ اَیْ هُوَ اللَّئِیْمُ. وَ اَحْسِنْ اِلَی فُلَانِ الْمِسْکِیْنُ اَیْ هُوَ الْمِسْکِیْنُ".

۵. پنځم حکم یې دا دی. چي دا به پر خبر باندي مقدمه وي او د خبر تقدیم کله پر دې باندي جائز وي او کله واجب وي، اُنْظُرْ فِي الْحَاشِیَةِ الْآتِیَةِ.

دریمه خبره:

اقسام د مبتداء:

مبتداء پر دري (۳) قسمه راځي:

۱. اول قسم: مبتداء کله اسم صریحي وي لکه: "اَلْکَرِیْمُ مَحْبُوْبٌ".

۲. او کله ضمیر منفصل وي لکه: "اَنْتَ مُجْتَهِدٌ".

۳. او کله مؤل په مصدر سره وي لکه: "وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ اَیْ صَوْمُکُمْ خَیْرٌ لَّکُمْ" دلته فعل په تاویل د مصدر مرفوع سره دئ "سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ: اَیْ اِنْذَارُکَ وَ عَدَمُ اِنْذَارِکَ سَوَاءٌ" دلته همزه تسویه په تاویل د مصدر مرفوع سره دئ، "تَسْمَعُ بِالْمُعَیْدِيِّ خَیْرٌ مِنْ اَنْ تَرَاهُ اَیْ سِمَاعُکَ بِالْمُعَیْدِيِّ خَیْرٌ مِنْ رُؤْیَتِکَ اِیَّاهُ" دلته "تَسْمَعُ" مؤل دئ په مصدر مرفوع سره "خَیْرٌ" یې خبر دئ.

څلورمه خبره:

د مبتداء قسم ثاني:

مبتداء (۱) به یا ذات وي او یا به صفت وي. د ذات بحث په اوله خبره کي تېر سو که چیري مبتداء صیغه صفت واقع سوه د هغه دپاره دوه (۲) شرطونه دي:

۱. اول شرط یې دا دئ: چي صفت به اعتماد پر نفي کړی وي خواه که نفي بالحرف وي لکه: "مَا نَاجِحُ الْكَسُوْلَانِ" یا نفي په فعل ناقص سره وي لکه: "لَيْسَ كَسُوْلٌ وَلَدَاكَ" یا په لفظ د "غَيْرُ" سره وي لکه: "غَيْرُ كَسُوْلُ أَبْنَاءُكَ" خواه که نفي لفظي وي او که معنوي وي لکه: "إِنَّمَا مُجْتَهِدٌ وَلَدَاكَ" د دې تاویل "مَا مُجْتَهِدٌ إِلَّا وَلَدَاكَ".

۲. دوهم شرط یې دا دئ: چي صفت به اعتماد پر استفهام کړی وي خواه که استفهام بالحرف وي لکه: "هَلْ مُحْبُوْبٌ اَلْمُجْتَهِدُوْنَ" یا بغیر الحرف وي لکه: "كَيْفَ سَائِرٌ أَخَوَاكَ".

(۱) په شپږو ځایو کي تقدیم د مبتداء پر خبر باندي واجب دئ:

۱. اول ځای: مبتداء چي کله داسي اسم واقع سي چي هغه صدارت د کلام غواړي هغه یا اسماء الشرط وي لکه: "وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يُكَفِّرْ" یا اسماء استفهام وي لکه: "مَنْ جَاءَ" یا "مَا" تعجبیه وي لکه: "مَا أَحْسَنَ الْفَضِيْلَةَ" یا "كَمْ" خبریه وي لکه: "كَمْ كِتَابٍ عِنْدِيْ".

۲. دوهم ځای: مبتداء چي کله مشابه وي د اسم شرط سره لکه: "اَلَّذِيْ يَجْتَهِدُ فَلَهُ جَائِزَةٌ. وَكُلُّ تِلْمِيْذٍ يَجْتَهِدُ فَهُوَ عَلَى هُدًى"، تقدیر د عبارت "مَنْ يَجْتَهِدْ فَلَهُ جَائِزَةٌ أَيُّ تِلْمِيْذٍ يَجْتَهِدْ فَهُوَ عَلَى هُدًى".

۳. دریم ځای: مبتداء چي کله مضافه وي و هغه اسم ته چي هغه صدارت د کلام غواړي لکه: "غُلَامُ مَنْ مُجْتَهِدٌ وَزِمَامُ كَمْ أَمْرٍ فِيْ يَدِكَ".

۴. څلورم ځای: مبتداء چي کله مقترنه وي په لام تاکید سره یعني په لام ابتداء سره لکه: "وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ".

۵. پنځم ځای: چي مبتداء و خبر دواړه معرفه وي یا نکره وي او هلته تعین د قرینه هم نه وي نو بیا په هغه صورت کي تقدیم د مبتداء پر خبر باندي واجب دئ د وجه د التباس د مبتداء د خبر سره لکه: "أَخُوْكَ عَلِيٌّ" کله چي ته اخبار د "أَخٌ" څخه کوي یا "عَلِيٌّ أَخُوْكَ" کله چي ته اخبار د "عَلِيٌّ" څخه کوي لېکن که چیري د مبتداء او د خبر په مینځ کي د فرق کولو قرینه موجوده وه بیا د مبتداء تقدیم و تاخیر دواړه جائز دي لکه: "رَجُلٌ صَالِحٌ حَاضِرٌ. وَحَاضِرٌ رَجُلٌ صَالِحٌ".

۶. شپږم ځای: مبتداء چي کله په خبر کي حصر وي یعني خبر مقرون په "إِلَّا" سره وي لکه: "وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُوْلٌ" یا په معنی د "إِلَّا" سره وي لکه: "إِنَّمَا أَنْتَ نَذِيْرٌ" ځکه "محمد" حصر دئ په "رسالت" کي. (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۱۸۸)

فائده:

صيغه د صفت چي كله اعتماد و كړي پر نفي يا پر استفهام باندي نو بيا دا په منزله د فعل سره سي نو ځكه دا نه تثنيه كيږي او نه جمع كيږي نه د چا دپاره صفت واقع كيږي او نه تصغير واقع كيږي، او نه "مُعَرَّفْ" واقع كيږي نو په دې صورت كي صيغه د صفت مبتداء ده مابعد يې فاعل يا نائب فاعل قائم مقام د خبر وي يعني كله چي د دې مابعد د دې څخه مخالف وي په تثنيت او جمعيت كي.

او صيغه د صفت عامه ده خواه كه مشتقه وي لكه: په تېر سوو مثالو كي يا اسم جامد وي لېكن معنى د صفت په كښي وي لكه: "هَلْ صَخْرٌ هٰذَانِ الْمُعَانِدَانِ، وَمَا وَحْشِيٌّ اَخْلَاقُكَ" ځكه دلته "صَخْرٌ" په معنى د "صُلْبٌ" (سخت) سره دئ او "وَحْشِيٌّ" اسم منسوب په معنى د اسم مفعول سره دئ. لېكن كه چيري صيغه د صفت وروسته تر نفي يا تر استفهام نه وه راغلي بيا مطابقت لازم دئ نو ځكه "مُجْتَهِدٌ غُلَامَاكَ" ويل جائز نه دي بلكه: "مُجْتَهِدَانِ غُلَامَاكَ" ويل كيږي او په دې صورت كي صيغه د صفت خبر مقدم جوړيږي او كه چيري صيغه د صفت د خپل خبر سره په افراد كي مطابق راغلى وو، نو بيا "جَاءَ الْاَمْرَانِ" لكه: "هَلْ مُسَافِرٌ اَخُوكَ" نو په دې صورت كي صيغه د صفت مبتداء هم جوړېداى سي او خبر مقدم هم جوړېداى سي.

د صفت د صيغه عمل:

مبتداء چي كله صيغه د صفت واقع سي نو بيا دا كله په اسم ظاهر كي عمل كوي او اسم ظاهر ته رفع ور كوي لكه: "اَقَاطِنٌ قَوْمُ سَلْمٰى". يا ضمير منفصل ته رفع ور كوي لكه: "مَاوَافٍ بِعَهْدِىَ اَنْتُمَا".

او كه چيري صيغه د صفت په ضمير مستتر كي عمل د رفع كاوئ لكه: "زُهَيْرٌ لَا كَسُوْلٌ وَلَا بَطِيٌّ" نو په دې صورت كي دا د ماقبل دپاره خبر جوړيږي.

پنځمه خبره:

د مبتداء د قسم ثاني مختصره او دلنشين خلاصه:

صيغه د صفت چي كم وخت تر نفي او استفهام وروسته واقع سي او د دې وروسته چي كم اسم ظاهر راځي د هغه دپاره درې (٣) صورتونه جوړيږي:

۱. اول صورت: چي صيغه د صفت د اسم ظاهر سره مطابق نه وي په افراد وتثنيت و جمعيت کي لکه: "مَا قَائِمُ الزَّيْدَانِ، مَا قَائِمُ الزَّيْدُوْنَ" نو د دې صورت حکم دا دئ چي صيغه د صفت به وجوبًا مبتداء وي "لِرَفْعِ الظَّاهِرِ".

۲. دوهم صورت: چي صيغه د صفت د اسم ظاهر سره صرف په افراد کي مطابق وي لکه: "اَقَائِمٌ زَيْدٌ، مَا قَائِمٌ زَيْدٌ"، نو د دې صورت حکم دا دئ: چي دواړه صورتونه جائز دي که چيري په اسم ظاهر کي د رفع ور کولو لحاظ وساتل سي نو صيغه د صفت به مبتداء جوړه سي او که چيرې په ضمير کي د رفع لحاظ و ساتل سي نو صيغه د صفت به خبر مقدم جوړه سي.

۳. دريم صورت: چي صيغه د صفت د اسم ظاهر سره په تثنيت و جمعيت کي مطابق وي نو د دې صورت حکم دا دئ چي صيغه د صفت به وجوبًا خبر وي او وروسته اسم به همېشه مبتداء وي لکه: "اَقَائِمَانِ الزَّيْدَانِ، مَا قَائِمُوْنَ الزَّيْدُوْنَ"، ځکه موږ دا شرط لګولی وو چي صيغه د صفت به و اسم ظاهر ته رفع ور کوي او دلته و اسم ظاهر ته رفع نه ور کوي ځکه که چيري و اسم ظاهر ته رفع ور کړې وای نو بيا به صيغه د صفت واحد راوړل سوې وای لکه: په فعل کي "اِذَا كَانَ الْفَاعِلُ اِسْمًا ظَاهِرًا وُحِّدَ الْفِعْلُ اَبَدًا".

شپږمه خبره:

د خبر احکام:

د خبر اووه (۷) حکمونه دي:

۱. اول حکم يې دا دئ: چي دی به وجوبًا مرفوع وي.

۲. دوهم حکم يې دا دئ: چي خبر به اصلاً نکره مشتقه وي او کله خبر جامد هم راځي لکه: "هٰذَا حَجَرٌ".

۳. دریم حکم یې دا دئ: چې دی به د مبتداء مطابق (۱) وي وجوبًا په افراد و تثنیت او جمعیت تذکیر و تانیث کې په لسو (۱۰) شرطو سره "وَقَدْ مَرَّ ذِكْرُهُ فِي أَوَّلِ الْكِتَابِ فِي بَحْثِ الْجُمْلَةِ الْإِسْمِيَّةِ".

۴. څلورم حکم یې دا دئ: چې دی کله کله جوازًا حذف کیږي د قرینه د وجود په وخت کې لکه: "خَرَجْتُ فَإِذَا الْأَسَدُ: أَيْ فَإِذَا الْأَسَدُ وَاقِفٌ".

اوومه خبره:

۵. پنځم حکم یې دا دئ: چې دی کله کله وجوبًا حذف کیږي په یو څو ځایو کې:

اول ځای: چې خبر کله په حیز د جواب د قسم کې راسي بیا دی حذف کیږي لکه: "لَعَمْرُكَ لَأَفْعَلَنَّ كَذَا أَيْ لَعَمْرُكَ قَسَمِي أَيْ: حَيَاتُكَ هِيَ قَسَمِي".

دوهم ځای: د "لَوْلَا، لَوْمَا" څخه وروسته خبر حذف کیږي لکه: "لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ أَيْ لَوْلَا عَلِيٌّ مَوْجُوْدٌ".

دریم ځای: د "لَا" نفي جنس څخه وروسته عام طور خبر حذف کیږي لکه: "لَاشَكَّ أَيْ لَاشَكَّ فِيْهِ".

څلورم ځای: د "واو" څخه وروسته خبر حذف کیږي هغه "واو" چې په معنی د "مَعَ" سره وي لکه: "أَنْتَ وَ شَانُكَ أَيْ أَنْتَ مَعَ شَانِكَ مَتْرُوْكًا".

پنځم ځای: خبر چې ظرف وي یا جار و مجرور وي نو بیا هم حذف کیږي لکه: "زَيْدٌ فِي الدَّارِ أَيْ ثَابِتٌ فِي الدَّارِ".

---

(۱) که وخت چې په خبر کې ضمیر وي راجع وي و مبتداء ته نو بیا یې مطابقت د مبتداء سره په تذکیر و تانیث افراد، تثنیه، و جمع کې لازم دی لکه: "عَلِيٌّ مُجْتَهِدٌ. فَاطِمَةُ مُجْتَهِدَةٌ. اَلتِّلْمِيْذَانِ مُجْتَهِدَانِ. اَلتِّلْمِيْذَتَانِ مُجْتَهِدَتَانِ. اَلتَّلَامِيْذُ مُجْتَهِدُوْنَ. اَلتِّلْمِيْذَاتُ مُجْتَهِدَاتٌ" او که چیرې خبر د مبتداء ضمیر لره متضمن نه وو نو بیا مطابقت او عدم مطابقت دواړه جائز دي، د مطابقت مثال لکه: "اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ" او د عدم مطابقت مثال لکه: "اَلنَّاسُ قِسْمَانِ: عَالِمٌ وَ مُتَعَلِّمٌ وَلَا خَيْرَ فِيْمَا بَيْنَهُمَا".

شپږم ځای: چي مبتداء مصدر وي يا اسم تفضيل وي مضاف وي و مصدر ته او وروسته تر دوی حال راغلی وي نو په دې صورت کي هم خبر حذف کيږي لکه: "تَأْدِيْبِي الْغُلَامَ مُسِيْئًا أَیْ تَأْدِيْبِي الْغُلَامَ حَاصِلٌ عِنْدَ إِسَائَتِهِ"، دوهم لکه: "أَفْضَلُ صَلَاتِکَ خَالِيًا مِمَّا يَشْغَلُکَ".

٦. شپږم حکم يې دا دئ: چي دی متعدد هم راتلای سي لېکن مبتداء واحده وي لکه: "خَلِيْلٌ كَاتِبٌ. شَاعِرٌ. عَالِمٌ".

٧. اووم حکم يې دا دئ: چي اصل په خبر کي تاخير دئ لېکن کله کله دی وجوبًا (١) يا جوازا مقدم کيږي، والتفصيل في الحاشية.

جملي:

عنوان	خبره انشاء	مسند	مسند اليه	تعيين حروف عامله وغير عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعيين مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعيين عوامل معنويه
وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ	خبريه اسميه	(يُرْضِعْنَ) خبر	(وَالْوَالِدَاتُ) مبتداء	(وَ) استنافيه	(يُرْضِعْنَ) فعل معلوم	(أَوْلَادَ) اسم مضاف (كَامِلَيْنِ) اسم فاعل	(وَالْوَالِدَاتُ) مبتداء (يُرْضِعْنَ) محلا فعل مضارع خبر (هُنَّ) فاعل	(أَوْلَادَ) مفعول به (حَوْلَيْنِ) حال (كَامِلَيْنِ) صفت	(هُنَّ) محلا مضاف اليه	(الْوَالِدَاتُ) (يُرْضِعْنَ) لپيا عامل معنوی علی المذهب الاصح

(١) خبر په څلورو ځايو کي وجوبًا مقدم کيږي:

١. اول ځای: کله چي مبتداء نکره غير مفيده وي او د دې خبر ظرف او يا جار و مجرور راغلی وي نو بيا تقديم د خبر واجب دئ لکه: "فِي الدَّارِ رَجُلٌ. عِنْدَکَ ضَيْفٌ. وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ. وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ".

٢. دوهم ځای: که چيري خبر اسم استفهام وو لکه: "كَيْفَ حَالُکَ" يا مضاف وو و اسم استفهام ته لکه: "إِبْنُ مَنْ أَنْتَ" نو بيا تقديم د خبر واجب دئ.

٣. دريم ځای: کله چي په مبتداء پوري يو ضمير متصل سي او راجع وي د خبر د شيانو څخه و يو شي ته لکه: "فِي الدَّارِ صَاحِبُهَا. أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا"، نو دلته هم خبر مقدم کيږي وجوبًا.

۴. څلورم ځای: چي کله خبر محصور وي په مبتداء کي او مبتداء مقترنه وي په "إِلَّا" سره لفظا لکه: "مَا خَالِقٌ إِلَّا اللهُ" يا معنًا په "إِلَّا" پوري متصله وي لکه: "إِنَّمَا مَحْمُوْدٌ مَنْ يَجْتَهِدُ" دلته هم خبر وجوبا مقدم کيږي. (تخليص الشواهد و جامع الدروس العربية)

عنوان	جملہ قسم	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین عوامل معنویہ
وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ	خبریہ فعلیہ	(يَذَرُونَ، يَتَرَبَّصْنَ) فعل	(هُمْ، هُنَّ) فاعل	(وَ) عاطفہ (بِ) جارہ	(يَذَرُونَ، يَتَرَبَّصْنَ) فعل معلوم	(أَنْفُس) اسم مضاف	(يَذَرُونَ، هُمْ) فاعل (يَتَرَبَّصْنَ) خبر للمبتداء محذوف وہو (أَزْوَاجُهُمْ) (هُنَّ) فاعل	(أَزْوَاجًا) مفعول بہ	(أَنْفُس) مجرور متعلق (يَتَرَبَّصْنَ) (هِنَّ) مضاف الیہ	(يَذَرُونَ) (يَتَرَبَّصْنَ) لیسا عامل معنوی وہو (الخلو)
وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ	خبریہ اسمیہ	(يَقْبِضُ، يَبْسُطُ) فعل	(اللّٰهُ، هُوَ) فاعل	(وَ) استنافیہ، (وَ) عاطفہ، (وَ) عاطفہ (إِلَى) جارہ	(يَقْبِضُ، يَبْسُطُ) فعل معلوم (تُرْجَعُونَ) فعل مجہول	+	(اللّٰهُ) مبتداء (يَقْبِضُ) خبر (هُوَ، هُوَ) فاعلہا (يَبْسُطُ، تُرْجَعُونَ) فعل مضارع مرفوع (أَنْتُمْ) [illegible]	+	(ہ) محلاً مجرور متعلق (تُرْجَعُونَ)	(اللّٰهُ) لیہ عامل معنوی وہو (الابتداء) (يَقْبِضُ، يَبْسُطُ، تُرْجَعُونَ) عاملہم (الخلو)
وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا	خبریہ اسمیہ	(خَاوِيَةٌ) خبر	(هِيَ) مبتداء	(وَ) حالیہ (عَلَىٰ) جارہ	+	(خَاوِيَةٌ) اسم فاعل (عُرُوشِ) اسم مضاف	(هِيَ) محلاً مبتداء (خَاوِيَةٌ) خبر (هِيَ) فاعل	(وَهِيَ خَاوِيَةٌ) فی محل النصب حال من (قَرْيَةٍ)	(عُرُوشِ) مجرور متعلق (خَاوِيَةٌ) (هَا) مضاف الیہ	(هِيَ، خَاوِيَةٌ) لیسا عامل معنوی وہو (الابتداء)
مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ	خبریہ اسمیہ	(كَمَثَلِ حَبَّةٍ) خبر باعتبار متعلق	(مَثَلُ الَّذِينَ الخ) مبتداء	(فِي) جارہ (كَ) جارہ	(يُنْفِقُونَ) فعل معلوم	(مَثَلُ، أَمْوَالَ، سَبِيلِ، مَثَلِ) اسم مضاف	(مَثَلُ الخ) مبتداء (يُنْفِقُونَ) فعل مضارع مرفوع (هُمْ) فاعل (كَمَثَلِ) محلاً باعتبار متعلق خبر	(أَمْوَالَ) اسم مضاف مفعول بہ	(الَّذِينَ، (هُمْ)) محلاً مضاف الیہ (سَبِيلِ) مجرور متعلق (يُنْفِقُونَ) صلہ موصول (اللّٰهِ) مضاف الیہ (مَثَلِ) مجرور متعلق محذوف (حَبَّةٍ) مضاف الیہ	(مَثَلُ الَّذِينَ الخ) (كَمَثَلِ الخ) لیسا عامل معنوی وہو (الابتداء) (يُنْفِقُونَ) عاملہ (الخلو)
أُولٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ	خبریہ اسمیہ	(أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ) خبر	(أُولٰئِكَ) مبتداء	+	+	(أَصْحَابُ) اسم مضاف	(أُولٰئِكَ) محلاً مبتداء (أَصْحَابُ) خبر	+	(الْمَيْمَنَةِ) مضاف الیہ	(أُولٰئِكَ، أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ) لیسا عامل معنوی وہو (الابتداء)
وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ	خبریہ اسمیہ	(تَصْلَىٰ) فی آلآیۃ الآتیۃ خبر	(وُجُوهٌ الخ) مبتداء	+	+	(يَوْمَ) اسم مضاف (خَاشِعَةٌ عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ) اسم فاعل	(وُجُوهٌ) مبتداء (خَاشِعَةٌ عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ) صفات (لِلْوُجُوهِ) (هِيَ، هِيَ، هِيَ) فاعل	(يَوْمَ) متعلق (خَاشِعَةٌ) مؤخر	(إِذٍ) مضاف الیہ	(وُجُوهٌ خَاشِعَةٌ عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ) عاملہ معنوی وہو (الابتداء)
تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً	خبریہ فعلیہ	(تَصْلَىٰ) فعل	(هِيَ) فاعل	+	(تَصْلَىٰ) فعل معلوم	(حَامِيَةً) اسم فاعل	(تَصْلَىٰ) مضارع (هِيَ، هِيَ) فاعل	(نَارًا) مفعول بہ (حَامِيَةً) صفۃ (نَارًا)	+	(تَصْلَىٰ) عاملہ معنوی وہو (الخلو)
وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ	خبریہ اسمیہ	(لِكُلِّ) باعتبار متعلق خبر	(وَيْلٌ) مبتداء	(اللام) جارہ	+	(كُلِّ) اسم مضاف	(وَيْلٌ) مبتداء (لِكُلِّ) باعتبار متعلق خبر	+	(كُلِّ) مجرور متعلق محذوف (هُمَزَةٍ) مضاف الیہ (لُمَزَةٍ) صفۃ	(وَيْلٌ، لِكُلِّ) باعتبار متعلق لیسا عامل معنوی وہو (الابتداء)

موازنه	خبر و انشاء	مسند	مسند الیه	تعیین حروف عامله و غیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین عوامل معنویه
سَرَابِيلُهُمْ مِنْ قَطِرَانٍ	خبریه اسمیه	(مِنْ قَطِرَانٍ) باعتبار متعلق خبر	(سَرَابِيلُهُمْ) مبتداء	(مِنْ) جاره	+	(سَرَابِيلُ) اسم مضاف	(سَرَابِيلُ) مبتداء (مِنْ قَطِرَانٍ) باعتبار متعلق خبر	+	(هُمْ) محلا مضاف الیه (قَطِرَانٍ) مجرور متعلق محذوف	(سَرَابِيلُهُمْ مِنْ قَطِرَانٍ) عامل معنوی دی او (الابتداء)
وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ	خبریه فعلیه	(تَغْشَى) فعل	(النَّارُ) فاعل	(وَ) عاطفه	(تَغْشَى) فعل معلوم	(وُجُوهَ) اسم مضاف	(النَّارُ) فاعل	(وُجُوهَ) مفعول به	(هُمْ) محلا مضاف الیه	(تَغْشَى) مرفوع تقدیرا بعامل معنوی دی او (الخلو)
اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ	خبریه اسمیه	(يَعْلَمُ) خبر	(اللَّهُ) مبتداء	(وَ) عاطفه (وَ) عاطفه	(يَعْلَمُ، تَحْمِلُ، تَغِيضُ، تَزْدَادُ) فعل معلوم	(۳) (مَا) اسم موصول (كُلُّ) اسم مضاف	(اللَّهُ) مبتداء (يَعْلَمُ) خبر (هُوَ) فاعل (كُلُّ) فاعل (تَحْمِلُ، تَغِيضُ، تَزْدَادُ) مقدر مرفوع (الْأَرْحَامُ) فاعل (هي) فاعل	(مَا تَحْمِلُ الخ) جمله فی محل نصب مفعول به (ه) ما کی محذوف مفعول به او الجمله جاری معطوف علیه	(أُنْثَى) مضاف الیه	(اللَّهُ، يَعْلَمُ) عامل معنوی دی او مبتداء (تَغِيضُ، تَحْمِلُ، تَزْدَادُ) عامل معنوی دی او (الخلو)

التمرين:

"هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا،، وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ،، أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ،، إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ،، وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ،، ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ،، وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ،، سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَى،، وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ،، أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ".

خاتمه در فوائد متفرقه که دانستن آن واجب است و آن بر سه فصل است.

ترجمه:

خاتمه د متفرقه فوائدو په بیان کي ده چي پېژندل د هغه ضروري دي د دې درې فصلونه دي اول فصل د توابع په بیان کي دئ.

پوه سه! چي تابع هغه لفظ ته ویل کیږي چي د مخکني لفظ څخه پر دوهم نمبر باندي وي او د اولي کلمه په اعراب سره موصوفه وي او وجه د اعراب هم یوه وي و اول لفظ ته متبوع ویل کیږي د تابع حکم دا دئ چي دی به همېشه په اعراب کي د متبوع موافق وي تابع پر پنځه قسمه دئ اول صفت دئ صفت د هغه تابع نوم دئ چي پر هغه وصف باندي دلالت کوي چي په متبوع کي وي لکه: "جَاءَنِيْ

رَجُلٌ عَالِمٌ" يا پر هغه صفت باندي دلالت كوي چي د متبوع په متعلق وي لكه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ" يا "اَبُوْهُ" مثلا قسم اول د متبوع سره په لسو شيانو كي موافقت غواړي په معرفت كي په نكارت كي په تذكير كي په تانيث كي په وحدت كي په تثنيت كي په جمعيت كي او په اعراب كي يعني په رفع نصب و جر كي لكه: "عِنْدِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ وَ رَجُلَانِ عَالِمَانِ وَ رِجَالٌ عَالِمُوْنَ. وَ اِمْرَاَةٌ عَالِمَةٌ، وَ اِمْرَاَتَانِ عَالِمَتَانِ، اَوْ نِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ" پاته سو دوهم قسم په پنځو شيانو كي د متبوع سره مطابقت غواړي په معرفت كي په نكارت كي په اعراب كي يعني په رفع، نصب، جر كي لكه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ". پوه سه چي د نكره صفت جمله خبريه راتلاى سي لكه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ" او په دې جمله كي يو ضمير وي چي و نكره موصوفه ته راجع وي.

الدرس الخامس والثلاثون:

د نن سبقه خلاصه اووه (٧) خبري دي:

اوله خبره:

فصل در توابع (١):

د تابع تعريف:

"وَ هُوَ كُلُّ ثَانٍ مُعْرَبٍ بِإِعْرَابِ سَابِقِهِ مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ".

توابع جمع د تابع ده تابع هغه لفظ دئ چي دى تر يو لفظ وروسته راسي د ده او د اول لفظ اعراب او جهت د اعراب يو وي اول ته متبوع او دوهم ته تابع وايي.

د تابع حكم:

تابع په اعراب كي همېشه د متبوع تابع وي كه چيري متبوع مرفوع وو دى به هم مرفوع وي او كه هغه منصوب وو دى به هم منصوب وي او كه چيري هغه مجروره وو نو دى به هم مجرور وي لكه:

---

(١) معمول پر دوه قسمه دئ: (١) معمول اصلي (٢) معمول فرعي. معمول اصلي هغه معمول دئ چي د دا دوويشت (٢٢) معمولاتو څخه وي هغه دوويشت (٢٢) معمولات اته (٨) داني مرفوعات، دوولس (١٢) منصوبات دوه (٢) مجرورات. معمول فرعي چي د دا دوويشت معمولاتو څخه نه وي بلكه په دې كي د يوه تابع وي هغه پنځه داني دي (١) صفت، (٢) بدل. (٣) تاكيد. (٤) عطف بالحرف. (٥) عطف بيان. (ضوابط نحوية)

"جَاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ، وَ رَأَيْتُ رَجُلًا عَالِمًا، وَ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمٍ" د تابع او متبوع عامل يو وي مګر په متبوع کي آوّلًا و بالذات عمل کوي او په تابع کي ثانيًا و بالتبع عمل کوي.

د توابع انواع:

توابع پر پنځه (١) قسمه دي:

١. اول: صفت دئ.

٢. دوهم: تاکيد.

٣. دريم: بدل.

۴. څلورم عطف بحرف.

۵. پنځم: عطف بيان.

دوهمه خبره:

د تابع او متبوع په مينځ کي فاصله د غير اجنبي جائز ده هغه فاصله پر دوولس (١٢) قسمه راځي:

١. اول: د خبر فاصله لکه: "زَيْدٌ قَائِمٌ الْعَالِمُ".

٢. دوهم: د جواب قسم فاصله لکه: "بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ".

٣. دريم: د جمله معترضه فاصله لکه: "وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ".

۴. څلورم: د استثناء فاصله لکه: "مَا جَاءَنِي أَحَدٌ إِلَّا زَيْدًا خَيْرٌ مِنْكَ".

---

(١) د توابع په پنځو انواع کي وجه د حصر تابع د دوو حالو څخه خالي نه دئ يا به "مُقَرِّيْ" د حکم وي يا به نه وي که چيري "مُقَرِّيْ" د حکم وو هغه تاکيد دئ او که چيري نه وو بيا به د دوو حالو څخه خالي نه وي يا به "مُبَيِّنْ" وي يا به نه وي که چيري "مُبَيِّنْ" وو بيا به د دوو حالو څخه خالي نه وي يا به مشتق وي يا به نه وي که چيري مشتق وو هغه صفت دئ که چيري مشتق نه وو هغه عطف بيان دئ او که چيري مبين نه وو بيا به د دوو حالو څخه خالي نه وي يا به د دوی په مينځ کي حرف عطف وي يا به نه وي که چيري حرف عطف وو هغه عطف بالحرف دئ او که چيري حرف عطف نه وو هغه بدل دئ. (ضوابط نحويه)

د توابع په انواع کي اختلاف دئ عند البعض توابع څلور (۴) دي ځکه هغه وايي: چي صفت و عطف بيان يو قسم دئ لېکن عند البعض شپږ (٦) دي ځکه هغو تاکيد معنوي و تاکيد لفظي علحيده قسمونه شمار کړي دي د تابع په عامل کي صحيح او معتمد مذهب د جمهورو دئ هغه وايي: چي د تابع عامل هغه د متبوع عامل دئ لېکن په متبوع کي بالذات اولًا عمل کوي او په تابع کي بالواسطه ثانيًا عمل کوي. و فيه مذاهب مختلفه. (تنوير)

۵. پنځم: د مفسر فاصله لکه: "إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ".

٦. شپږم: د صفت د معمول فاصله لکه: "ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ".

۷. اووم: د موصوف د معمول فاصله لکه: "سُبْحَانَ اللهِ عَمَّا يَصِفُونَ عَالِمِ الْغَيْبِ".

۸. اتم: يا د موصوف د عامل فاصله لکه: "أَزَيْدٌ ضَرَبْتَ الْقَائِمَ".

۹. نهم: د هغه مبتداء فاصله چي د هغه خبر د موصوف متعلق وي لکه: "أَفِي اللهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ".

۱۰. لسم: کله په مؤکد و تاکيد کي فاصله وي لکه: "وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَا آتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ".

۱۱. يوولسم: کله د معطوف او معطوف عليه په مينځ کي فاصله وي لکه: "وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ".

۱۲. دوولسم: کله د مبدل او مبدل منه په مينځ کي فاصله وي لکه: "قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا. نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا".

لېکن د تابع او متبوع په مينځ کي فاصله په اجنبي سره کُلِيَّةً ممتنع ده هيڅکله جائز نه ده.

دريمه خبره:

اول قسم صفت دئ:

د صفت تعريف:

صفت هغه تابع دئ چي دی دُلالت کوي پر داسي معنی چي هغه خودي په متبوع کي موجوده وي لکه: "رَجُلٌ عَالِمٌ" يا په متعلق د متبوع کي موجود وي لکه: "جَاءَنِي رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ".

د صفت اقسام:

صفت پر دوه قسمه دئ:

۱. اول: صفت بحال الموصوف.

۲. دوهم: صفت بحال متعلق الموصوف.

د صفت بحال الموصوف تعريف:

"مَا يُبَيِّنُ صِفَةً مِنْ صِفَاتِ مَتْبُوعِهِ" لکه: "جَاءَنِي زَيْدٌ عَالِمٌ" و ده ته صفت حقيقي هم وايي.

د صفت بحال الموصوف حکم:

صفت بحال الموصوف د خپله موصوف سره په لسو (۱۰) شيانو کي مطابقت غواړي په هر ترکيب کي په يوه وخت کي د څلورو شيانو موجودېدل ضروري دي هغه لس شيان دا دي: تعريف، تنکير، تذکير، تانيث، افراد، تثنيه، جمع، رفع، نصب، جر.

د صفت بحال متعلق الموصوف تعريف:

"ما يُبَيِّنُ صِفَةً مِنْ صِفَاتِ مَالَهُ تَعَلُّقٌ بِمَتْبُوْعِهِ" لکه: "جَاءَ الرَّجُلُ الْحَسَنُ خُلُقُهُ" و ده ته صفت سببي هم ويل کيږي.

د صفت بحال متعلق الموصوف حکم:

صفت بحال متعلق الموصوف د خپله موصوف سره په پنځو شيانو کي مطابقت غواړي او په هر ترکيب کي به يبک وخت دوه داني موجوده وي، هغه پنځه شيان دا دي: اعراب، يعني رفع، نصب، جر، تعريف، تنکير، او په دا نورو پنځو شيانو کي دَی په منزله (۱) د فعل سره دئ.

---

(۱) صفت بحال متعلق الموصوف په افراد، تثنيه، جمع، او په تذکير و تانيث کي په منزله د فعل سره دي يعني د فعل فاعل چي کله اسم ظاهر راسي "وَحِّدِ الْفِعْلَ اَبَدًا". او چي کله اسم ضمير راسي: "وَحِّدْ لِلْوَاحِدِ، ثَنِّ لِلْمُثَنّٰى، جُمِعَ لِلْجَمْعِ" او داغه رنګه د فاعل چي کم صورتونه د جواز د وجوب د تذکير او تانيث د فعل سره راځي هغه ټوله صورتونه دلته هم جاري کيږي "اِنْ شِئْتَ فَارْجِعْ اِلَى الْمُطَوَّلَاتِ" لېکن يوه خبره ياد ساتل ضروري دي هغه دا چي دلته د خودي صفت مطابقت د موصوف سره په اعراب او تعريف و تنکير کي ضروري دئ لېکن دلته د فعل او فاعل قاعده چي جاري کيږي هغه د صفت او د ده د مابعد اسم په مينځ کي جاري کيږي نه د موصوف او صفت په مينځ کي يعني د صفت مطابقت په رفع، نصب، و جر، تعريف، و تنکير کي په اعتبار د ماقبل سره دئ او په افراد، تثنيه، جمع، تذکير، او تانيث کي په اعتبار د ما بعد سره دئ "وَالْفَرْقُ بَيْنَهُمَا وَاضِحٌ". (از مرتب عفي عنه)

لېکن د مطابقت د قاعده څخه يو څو صفات مستثنى دي:

۱. اول: هغه صفات چي پر وزن د "فَعُوْلٌ" راځي او "فَعُوْلٌ" بمعنى "فَاعِلٌ" وي لکه: "صَبُوْرٌ، غَيُوْرٌ، فَخُوْرٌ، شَكُوْرٌ" يا پر وزن د "فَعِيْلٌ" راځي په معنى د "مَفْعُوْلٌ" وي لکه: "جَرِيْحٌ، قَتِيْلٌ" يا پر وزن د "مِفْعَالٌ" راځي لکه: "مِكْسَالٌ، مِبْسَامٌ" يا پر وزن د "مِفْعِيْلٌ" راځي لکه: "مِسْكِيْنٌ"، مِعْطِيْرٌ" يا پر وزن د "مَفْعَلٌ" وي لکه: "مَغْشَمٌ"، مَدْعَسٌ"، په دې ټولو وزنو کي تذکير و تانيث على السويه وي لکه: "رَجُلٌ جَرِيْحٌ. اِمْرَءَةٌ جَرِيْحٌ".

۲. دوهم: مصدر چي په ده کي تذکير، تانيث، افراد، تثنيه، جمع ټوله برابر دي لکه: "رَجُلٌ عَدْلٌ. اِمْرَاَةٌ عَدْلٌ. رَجُلَانِ عَدْلٌ. رِجَالٌ عَدْلٌ. نِسَاءٌ عَدْلٌ".

۳. دريم: چي صفت د جمع غير ذوى العقول راسي نو د هغه صفت جمع مؤنث او مفرد مؤنث دواړه راوړل جائز دي لکه: "خُيُوْلٌ سَابِقَاتٌ. خُيُوْلٌ سَابِقَةٌ".

څلورمه خبره:

د صفت اقسام:

کم شیان چې صفت جوړېږي هغه پر څلور قسمه راځي:

اول قسم: اسماء مشتقه هغه اسماء چې هغه پر ذات مع الوصف باندې دلالت کوي لکه: "ضَارِبٌ، مَضْرُوْبٌ، حَسَنٌ، اَفْضَلُ".

دوهم قسم: اسماء جوامد چې په معنی کې د اسماء مشتقه سره مشابه وي هغه یو څو دانې دي.

۱. اول: اسم اشاره لکه: "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ هٰذَا اَیْ اَلْمُشَارُ اِلَيْهِ".

۲. دوهم: "مَا" هغه "مَا" چې نکره وي او د ده څخه مراد ابهام وي، لکه: "اَکْرِمْ رَجُلًا مَّا اَیْ رَجُلًا مُطْلَقًا غَيْرَ مُقَيَّدٍ بِصِفَةٍ مَّا".

۳. دریم: او بل "ذُوْ" چې په معنی د صاحب سره راسي لکه: "جَاءَ رَجُلٌ ذُوْ عِلْمٍ اَیْ صَاحِبُ عِلْمٍ".

۴. څلورم: اسم موصول لکه: "جَاءَ الرَّجُلُ الَّذِيْ اِجْتَهَدَ اَیْ مُجْتَهِدٌ".

۵. پنځم: اسم منسوب لکه: "رَاَيْتُ رَجُلًا دِمَشْقِيًا اَیْ مَنْسُوْبٌ اِلَى دِمَشْقَ".

۶. شپږم: اسم عدد لکه: "جَاءَ رِجَالٌ اَرْبَعَةٌ اَیْ مَعْدُوْدُوْنَ بِهٰذَا الْعَدَدِ".

۷. اووم: هغه اسم چې پر تشبیه باندې دلالت کوي لکه: "رَاَيْتُ رَجُلًا اَسَدًا اَیْ شُجَاعًا".

۸. اتم: لفظ د "كُلّ" او د "اَيّ" دئ لکه: "اَنْتَ الرَّجُلُ كُلُّ الرَّجُلِ اَیْ اَلْكَامِلُ فِي الرُّجُوْلِيَّةِ، جَاءَ رَجُلٌ اَيُّ رَجُلٍ اَیْ كَامِلٌ فِي الرُّجُوْلِيَّةِ". او کله کله د "اَيّ" سره "مَا" هم اضافه کيږي لکه: "اَيُّمَا رَجُلٍ" او لفظ د "كُلّ" چې کله صفت جوړيږي، د هغه دپاره شرط دا دئ چې موصوف به

---

۴. څلورم: کله چې صفت اسم جمع راسي نو په هغه کې هم افراد و جمعیت دواړه جائز دي لکه: "قَوْمٌ صَالِحٌ، قَوْمٌ صَالِحُوْنَ".

۵. پنځم: اسم تفضیل چې مستعمل په "مِنْ" سره وي نو په دې صورت کې اسم تفضیل مفرد مذکر راوړل واجب دي د موصوف مطابقت نه دئ جائز لکه: "مَرَرْتُ بِرِجَالٍ اَفْضَلُ مِنْ زَيْدٍ، مَرَرْتُ بِرِجَالٍ اَفْضَلُ اَشْخَاصٍ". (جامع الدروس العربیة جلد ۳ صفحه ۱۷۲)

معرفه وي او د لفظ د "اَیٌّ" دپاره شرط دا دئ چي موصوف به نکره وي او دوی دواړه چي کله صفت واقع سي نو دوی په معنی د "اَلْکَامِلُ یَا کَامِلٌ" سره راځي.

پنځمه خبره:

دريم قسم: جمله هم صفت جوړيږي لېکن د هغه دپاره درې (۳) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي موصوف به نکره محضه [1] وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي په جمله خبريه کي به يو ضمير وي چي راجع به وي و موصوف ته.

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي دغه ضمير به د موصوف سره به په افراد، تثنيه، جمع، تذکير، تانيث کي موافق وي لکه: "جَائَنِیْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ".

ځلورم قسم: مصدر کله کله صفت واقع کيږي لېکن د مصدر دپاره دوه (۲) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چي مصدر به نکره صريحي وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چي دلالت به کوي پر طلب باندي لکه: ابن مالک چي په دې شعر کي فرمايلي دي: "وَ نَعَتُوْ بِمَصْدَرٍ کَثِیْرًا: فَاَلْتَزَمُوْا الْاِفْرَادَ وَ التَّذْکِیْرَا": لکه: "هُوَ رَجُلٌ ثِقَةٌ اَیْ مَوْثُوْقٌ بِهِ. اَنْتَ رَجُلٌ عَدْلٌ اَیْ عَادِلٌ".

ضابطه:

موصوف که چيري جمع مکسر د غير ذوالعقول وو نو بيا صفت واحد مؤنث او جمع مؤنث دواړه راوړل جائز دي لکه: "اَیَّامٌ مَعْدُوْدَاتٌ. اَیَّامٌ مَعْدُوْدَةٌ".

شپږمه خبره:

د اسماء اقسام په اعتبار د صفت او موصوف سره:

---

[1] نکره محضه هغه نکره ده چي يو اسم د الف لام جنسي او د هر هغه شي څخه خالي وي چي هغه تخصيص يا تقليل شيوع فائده کوي لکه: اضافت و نعت و قيودات لېکن که چيري نکره غير محضه وه بيا هلته د صفت او حال دواړو احتمال سته لکه: "لَقَدْ اَمُرُّ عَلَی اللَّئِیْمِ یَسُبُّنِیْ. فَمَضَیْتُ ثَمَّةَ قُلْتُ لَا یَعْنِیْنِیْ". (ضوابط نحوية)

اسم پر څلور (۴) قسمه راځي:

۱. اول: بعض هغه اسماء دي چي صفت و موصوف دواړه واقع کېدای سي لکه: اسم اشاره مثال يې لکه: "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَ بِهٰذَا الْعَالِمِ. مَرَرْتُ بِزَيْدٍ هٰذَا". لېکن که چيري د اسم اشاره صفت جامد معرف باللام وو نو بيا د هغه عطف بيان جوړول راجح دي لکه: "مَرَرْتُ بِهٰذَا الرَّجُلِ".

۲. دوهم: بعض هغه اسماء دي چي صرف موصوف جوړېږي صفت نه جوړېږي هغه لکه: اَعلام، "زَيْدٌ، عَمْرٌو، وَبَكْرٌ".

۳. دريم: بعض هغه اسماء دي چي هغه صرف صفت جوړېږي موصوف نه جوړېږي هغه لکه: لفظ د "اَىٌّ" کماليه لکه: "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ اَىِّ رَجُلٍ اَى كَامِلٌ فِي الرُّجُوْلِيَّةِ".

۴. څلورم: بعض هغه اسماء دي چي نه صفت جوړېږي او نه موصوف هغه لکه: ضمائر [1] او اسماء منقوله في البناء لکه: اسماء شرط، استفهام، "كَمْ" خبريه، "قَبْلُ، بَعْدُ".

د وصف استعمال مجازًا د نورو معناګانو دپاره:

په اصل کي وصف د وضاحت او تخصيص دپاره استعمالېږي لېکن مجازًا کله کله د نورو معناګانو دپاره هم استعمالېږي.

۱. اول د مدح دپاره لکه: "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ".

۲. دوهم د ذم دپاره لکه: "اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ".

۳. دريم د ترحم دپاره لکه: "اَنَا عَبْدُكَ الْمِسْكِيْنُ".

۴. څلورم د تاکيد دپاره لکه: "لَا تَتَّخِذُوْا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ".

---

[1] ضمير نه موصوف واقع کېږي او نه صفت موصوف خو ځکه نه واقع کېږي چي صفت راځي دپاره د وضاحت يا د تخصيص حالانکه ضمير اعرف د معارفو دئ وضاحت و تخصيص ته ضرورت نه لري او ضمير صفت ځکه نه واقع کېږي چي دی اعرف المعارف دئ حالانکه د جمهورو په نزد باندي د صفت دپاره دا خبره ضروري ده چي دی به اعرف نه وي لېکن د امام کسائي رحمة الله عليه په نزد باندي د غائب د ضمير موصوف واقع کېدل جائز دي د مدح يا د ذم يا د ترحم دپاره لکه: د الله تعالیٰ دا قول: "قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ". او د عربو دا مقوله "اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ الرَّؤُفُ الرَّحِيْمُ" لېکن د نورو نحاتو په نزد باندي دا بدل دئ. (تنوير)

۵. پنځم د ابهام دپاره لکه: "تَصَدَّقْ بِصَدَقَةٍ كَثِيرَةٍ أَوْ قَلِيلَةٍ".

٦. شپږم د تفصيل دپاره لکه: "اَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ الْاَوَّلِيْنَ وَ الْآخِرِيْنَ".

۷. اووم د تعميم دپاره لکه: "اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ عِبَادَهُ الطَّائِعِيْنَ وَ الْعَاصِيْنَ".

اوومه خبره:

د جمهورو نحاتو په نزد باندي موصوف (۱) به د صفت څخه اخص وي يا به مساوي وي يعني موصوف به تر صفت ادون يعني کم نه وي لکه: "مَرَرْتُ بِزَيْدِ نِ الْفَاضِلِ، مَرَرْتُ بِرَجُلٍ فَاضِلٍ". او داغه رنګه که چيري موصوف بغير د صفت څخه معلوم وو نو بيا په صفت کي درې (۳) وجي ويل جائز دي:

۱. اوله وجه: اتباع د موصوف يعني د موصوف تابع کول لکه: "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ".

۲. دوهمه وجه: قطع د صفت د موصوف څخه په رفع سره يعني مبتداء مقدره رائستل لکه: "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْعَظِيْمُ اَىْ هُوَ الْعَظِيْمُ".

۳. دريمه وجه: قطع د صفت د موصوف څخه په نصب سره يعني د "اَعْنِي" يا "اَخُصُّ" فعل مقدر ور سره رائستل لېكن كه چيري په هغه ځاى كي مدح يا ذم يا ترحم مراد وو بيا د "اَذُمُّ، اَمْدَحُ" يا "اَرْحَمُ" فعل ور سره راوزي لكه: "وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ اَىْ اَذُمُّ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ".

---

(۱) د تثنيه او جمع صفتونه كه چيري په معنى كي سره مختلف وو نو بيا به دوى په "واو" سره راوړل كيږي لكه: "مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ كَرِيْمٍ وَبَخِيْلٍ" او كه چيري دغه صفتونه په معنى كي سره متفق وو نو بيا بغيره د "واو" څخه راوړل كيږي او دوى سره جمع كيږي نو په دې صورت كي غلبه د تذكير او د ذوى العقول واجب ده لكه: "مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَ هِنْدِ نِ الصَّالِحَيْنِ" "اِشْتَرَيْتُ عَبْدَيْنِ وَ فَرَسَيْنِ مُخْتَارَيْنِ" (شرح التصريح).

فائده: كه چيري د موصوف صفت مفرد و ظرف و مجرور وجمله ټوله راغلي وه نو بيا په دوى كي جمله تر ټولو آخر ايښول او ظرف په مينځ كي او مفرد د مخه ايښول اولى دي لكه: "وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ. كِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ اِلَيْكَ مُبَارَكٌ. فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ" (شرح التصريح).

فائده: كه چيري موصوف معلوم وو بيا د هغه حذف جائز دئ لكه: "اَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ اَىْ دُرُوْعًا سَابِغَاتٍ" او كه چيري صفت معلوم وو نو د صفت حذف هم جائز دئ لكه: "يَأْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ غَصْبًا اَىْ كُلَّ سَفِيْنَةٍ صَالِحَةٍ". (جامع الدروس العربية)

اَحْسَنْتُ اِلٰی فُلَانِ الْمِسْكِيْنَ اَیْ اَرْحَمُ الْمِسْكِيْنَ. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْعَظِیْمَ اَیْ اَمْدَحُ الْعَظِیْمَ. مَرَرْتُ بِخَالِدٍ النَّجَارَ اَعْنِی النَّجَارَ".

ضابطه:

که چیري د اسم مفرد معرفه څخه وروسته جمله راغله نو هغه عام طور حال جوړیږي صفت نسي جوړیدای ځکه بیا موصوف معرفه وي او جمله من حیث الجمله د نکرۀ په حکم کي ده لیکن که چیري د اسم مفرد نکره څخه وروسته جمله راغله بیا هغه صفت جوړیدای سي ځکه بیا مطابقت موجود دئ.

جملي:

عنوان	خبریه انشاء	مسند	مسند الیه	حروف عامله وغیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	مرفوعات	منصوبات	مجرورات	اقسام صفت
وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ	خبریه فعلیه	(یُنْشِئُ) فعل معلوم	(هُوَ) فاعل	(وَ) عاطفه	(یُنْشِئُ) فعل معلوم	+	(یُنْشِئُ) مضارع (هُوَ) فاعل	السَّحَابَ الثِّقَالَ مفعول به	+	(السَّحَابَ) موصوف (الثِّقَالَ) صفت حقیقی
هٰذَا كِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ اِلَيْكَ مُبَارَكٌ	خبریه اسمیه	(كِتَابٌ) خبر اول (مُبَارَكٌ) خبر ثانی	(هٰذَا) مبتدا	(اِلَی) جاره	اَنْزَلْنَا فعل معلوم	مُبَارَكٌ اسم مفعول	(هٰذَا) محلا مبتدا (كِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ) محلا خبر اول (نَا) فاعل (مُبَارَكٌ) خبر ثانی	(هُ) محلا مفعول به	(كَ) محلا مجرور متعلق (اَنْزَلْنَا)	(كِتَابٌ) موصوف (اَنْزَلْنَاهُ) صفت حقیقی
رَبَّنَا اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا	انشائیه فعلیه	(اَدْعُوْ) فعل	(اَنَا) فاعل	(مِنْ) جاره	(اَخْرِجْ اَدْعُوْ) فعل معلوم	(رَبَّ، اَهْل) اسم مضاف (الظَّالِم) اسم فاعل	(اَنَا اَنْتَ، اَهْلُ) فاعل	(رَبَّ) منادی مضاف. (نَا) مفعول به	(هٰذِهِ) مجرور متعلق (اَخْرِجْنَا) (نَا) مضاف الیه (الْقَرْيَةِ) بدل من (هٰذِهِ) (الظَّالِمِ) صفته (هَا) مضاف الیه	(الْقَرْيَةِ) موصوف (الظَّالِمِ اَهْلُهَا) صفت سببی
اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ	خبریه فعلیه	(يَصْعَدُ) فعل	(الْكَلِمُ الطَّيِّبُ) فاعل	(اِلَی) جاره	(يَصْعَدُ) فعل معلوم	الطَّيِّبُ صفت مشبه	(يَصْعَدُ) مضارع (الْكَلِمُ الطَّيِّبُ) فاعل (هُوَ) فاعل	+	(هِ) محلا مجرور متعلق (يَصْعَدُ)	(الْكَلِمُ) موصوف (الطَّيِّبُ) صفت حقیقی
وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ	خبریه اسمیه	(يَرْفَعُ) فعل	(الْعَمَلُ الصَّالِحُ) فاعل	(وَ) عاطفه	(يَرْفَعُ) فعل معلوم	(الصَّالِحُ) اسم فاعل	(الْعَمَلُ الصَّالِحُ) فاعل (يَرْفَعُ) مضارع (هُوَ، هُوَ) فاعل	(هُ) مفعول به	+	(الْعَمَلُ) موصوف (الصَّالِحُ) صفت حقیقی

عنوان	خبریہ انشائیہ	مسند	مسند الیہ	حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	مرفوعات	منصوبات	مجرورات	اقسام صفت
هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ	خبریہ اسمیہ	(عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ)	(هَذَا) مبتدا	+	+	(سَائِغٌ) اسم فاعل (شَرَابُ) اسم مضاف	(هَذَا) مبتدا (عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ) اخبار (شَرَابُ) فاعل	+	(هُ) محلا مضاف الیہ	(فُرَاتٌ) موصوف (سَائِغٌ شَرَابُهُ) صفت سببی
فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا	خبریہ فعلیہ	(أَخْرَجَ) فعل	(نَا) فاعل	(فَ) عاطفہ (بِ) جارہ	(أَخْرَجَ) فعل معلوم	(مُخْتَلِفًا) اسم فاعل (أَلْوَانُ) اسم مضاف	(نَا، أَلْوَانُ) فاعلان	(ثَمَرَاتٍ) مفعول بہ (مُخْتَلِفًا) صفت	(هِ) مجرور متعلق (أَخْرَجَ) (هَا) محلا مضاف الیہ	(ثَمَرَاتٍ) موصوف (مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا) صفت سببی
فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ	خبریہ ظرفیہ	فِيهِمَا باعتبار متعلق	عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ	(فِي) جارہ	(تَجْرِيَانِ) فعل معلوم	+	(فِيهِمَا) خبر (عَيْنَانِ) مبتدا (تَجْرِيَانِ) صفت (هِيَ) فاعل	+	(هِمَا) مجرور متعلق محذوف	(عَيْنَانِ) موصوف (تَجْرِيَانِ) صفت حقیقی
إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ	خبریہ اسمیہ	بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ الخ خبر (ان)	(هَا) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) مشبہ بالفعل	(تَسُرُّ) فعل معلوم	(فَاقِعٌ) اسم فاعل (لَوْنُ) اسم مضاف (النَّاظِرِينَ) اسم فاعل (صَفْرَاءُ) صفت مشبہ	(بَقَرَةٌ) خبر اِنّ (صَفْرَاءُ فَاقِعٌ تَسُرُّ) صفت بقرة (لَوْنُ) فاعل (فَاقِعٌ) (هِيَ) فاعل (تَسُرُّ)	(هَا) محلا (اِنَّ) (النَّاظِرِينَ) مفعول بہ	(هَا) محلا مضاف الیہ	(بَقَرَةٌ) موصوف (صَفْرَاءُ) صفت حقیقی (فَاقِعٌ) صفت سببی (تَسُرُّ النَّاظِرِينَ) صفت حقیقی
يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ	خبریہ فعلیہ	(يَطُوفُ) فعل	(وِلْدَانٌ) فاعل	(عَلَى) جارہ	(يَطُوفُ) فعل معلوم	(مُخَلَّدُونَ) اسم مفعول	(يَطُوفُ) مضارع (وِلْدَانٌ) فاعل يطوف (مُخَلَّدُونَ) صفت (هُمْ) فاعل	+	(هِمْ) محلا مجرور متعلق يطوف	(وِلْدَانٌ) موصوف (مُخَلَّدُونَ) صفت حقیقی
هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى	خبریہ اسمیہ	(اللّٰهُ الْخَالِقُ الخ) خبر	(هُوَ) مبتدا	(لَامْ) جارہ	+	(الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ) اسم فاعل (اَلْحُسْنَى) اسم تفضیل	(هُوَ) مبتدا (اللّٰهُ) خبر (الْخَالِقُ، الْبَارِئُ، الْمُصَوِّرُ، الْأَسْمَاءُ، الْحُسْنَى) صفت اللہ (هُوَ، هِيَ) فاعل صیغہ الصفت (لَهُ) باعتبار متعلق خبر مقدم	+	(هُ) محلا مجرور متعلق (ثَابِتٌ)	(اَللّٰهُ) موصوف (الْخَالِقُ، الْبَارِئُ، الْمُصَوِّرُ) صفات حقیقیہ (الْأَسْمَاءُ) موصوف (الْحُسْنَى) صفت
وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا	خبریہ اسمیہ	(مِنَ الْجِبَالِ) باعتبار متعلق خبر مقدم	(جُدَدٌ) مبتدا	(وَ) عاطفہ، (وَ) عاطفہ (مِنْ) جارہ	+	(بِيضٌ، أَلْوَانٌ، حُمْرٌ) صیغ صفت (مُخْتَلِفٌ) اسم فاعل	(مِنَ الْجِبَالِ) محلا باعتبار متعلق خبر مقدم (جُدَدٌ) مبتدا (بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ) صفات (أَلْوَانُ) فاعل (مُخْتَلِفٌ)	+	(هَا) محلا مضاف الیہ (اَلْجِبَالِ) مجرور متعلق محذوف	(جُدَدٌ) موصوف (بِيضٌ حُمْرٌ) صفت حقیقی (مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا) صفت سببی

التمرين:

"اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.. اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ.. فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى.. أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلٰى.. إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا.. أُولٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ.. إِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرٰى.. إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ.. ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ.. فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ".

دوم تاكيد الخ:.......................الى قوله فصل دوم غير منصرف.

ترجمه:

دوهم تابع تاكيد دئ تاكيد هغه تابع دئ چي د متبوع حالت ثابته وي د نسبت په اعتبار سره يا د شمول په اعتبار سره دپاره د دې چي اوريدونكي ته شک نسي پاته تاكيد پر دوه قسمه دئ لفظي و معنوي تاكيد لفظي په تكرار د لفظ سره حاصليږي لكه: "زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ. ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ. إِنَّ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ". د تاكيد معنوي دپاره اته (۸) لفظونه مقرر دي: "نَفْسٌ. عَيْنٌ. كِلَا. كِلْتَا. كُلٌّ. أَجْمَعُ. أَكْتَعُ. أَبْتَعُ. أَبْصَعُ" لكه: "جَائَنِي زَيْدٌ نَفْسُهُ. جَائَنِي الزَّيْدَانِ أَنْفُسُهُمَا. جَائَنِي الزَّيْدُونَ أَنْفُسُهُمْ" لفظ د "عَيْنٌ" پر لفظ د "نَفْسٌ" باندي قياس كړه "جَائَنِي الزَّيْدَانِ كِلَاهُمَا وَالْهِنْدَانِ كِلْتَاهُمَا". او "كِلَا" و "كِلْتَا" په تثنيه پوري خاص دي. "جَائَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ أَكْتَعُونَ أَبْتَعُونَ أَبْصَعُونَ".

پوه سه! چي "أَكْتَعُ. أَبْتَعُ. أَبْصَعُ" د "أَجْمَعُ" تابع دي نه بغير د "أَجْمَعُ" څخه استعمالېداى سي او نه پر "أَجْمَعُ" باندي مقدم كېداى سي.

دريم قسم بدل دئ: بدل هغه تابع دئ چي مقصود بالنسبت دى وي بدل پر څلور (۴) قسمه دئ بدل كل، بدل اشتمال، بدل غلط، بدل بعض، بدل كل هغه دئ چي د ده مدلول د مبدل منه كل وي لكه: "جَائَنِي زَيْدٌ أَخُوكَ" او بدل بعض هغه دئ چي د ده مدلول د مبدل منه جزء وي لكه: "ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُهُ". بدل اشتمال هغه دئ چي د ده مدلول د مبدل منه متعلق وي لكه: "سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ" او بدل غلط هغه بدل دئ چي د غلطى څخه وروسته په بل لفظ سره بيان سي لكه: "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ".

څلورم قسم عطف بحرف دئ دا هغه تابع دئ چي دى د خپل متبوع سره مقصود بالنسبت وي د حروف عطف څخه وروسته وي لكه: "جَائَنِي زَيْدٌ وَعَمْرٌو" او حروف عاطفه لس (۱۰) داني دي په

دريم فصل كي به انشاء الله تعالى بيان سي او وده ته عطف نسق هم ويل كيږي. پنځم قسم عطف بيان دئ دا هغه تابع دئ غير صفت چي متبوع روښانه كوي لكه: "أَقْسَمَ بِاللهِ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ" دا هغه وخت چي په علم سره زيات مشهوره وي او "جَائَنِيْ زَيْدٌ أَبُوْ عَمْرٍ" دا هغه وخت وايي چي كله "زَيْد" په كنيت سره زيات مشهوره وي.

الدرس السادس والثلاثون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

دوهم قسم د توابع څخه تاكيد دئ.

د تاكيد تعريف:

تاكيد: "تَابِعٌ يَدُلُّ عَلٰى اَنَّ مَتْبُوْعَهُ حَقِيْقِيٌّ لَا دَخْلَ فِيْهِ لِلْمُبَالَغَةِ وَلَا لِلْمَجَازِ وَلَا لِلسَّهْوِ وَلَا لِلنِّسْيَانِ".

تاكيد هغه تابع دئ چي د متبوع حالت نور زيات ټينګه وي چي د معنى غير مراد مرادېدل يا د مجاز يا د سهو يا د نسيان احتمال باقي پاته نسي لكه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ زَيْدٌ".

د تاكيد صورتونه:

د تاكيد دپاره دوه (۲) صورتونه دي:

۱. اول تاكيد په نسبت كي وي يعني دا ښكاره كول چي په واقع كي منسوب اليه صرف متبوع دئ نه بل څوک لكه: په "جَائَنِيْ زَيْدٌ زَيْدٌ" كي "زَيْدٌ".

۲. دوهم تاكيد په اعتبار د شمول سره وي يعني يو داسي لفظ راوړل چي د هغه څخه دا معلوم سي چي متبوع خپلو ټولو افرادو لره شامل دئ يو فرد هم نه دئ خارج لكه: "حَضَرَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ".

دوهمه خبره:

د تاكيد اقسام:

تاكيد پر دوه (۲) قسمه دئ:

۱. تاکید لفظي.
۲. تاکید معنوي.

د تاکید لفظي تعریف:

تاکید لفظي "مَا يَكُوْنُ بِإِعَادَةِ الْمُؤَكَّدِ بِلَفْظِهِ اَوْ بِمُرَادِفِهِ سَوَاءٌ كَانَ اِسْمًا ظَاهِرًا (۱) اَمْ ضَمِيْرًا اَمْ فِعْلًا اَمْ حَرْفًا اَمْ جُمْلَةً".

یعني اول لفظ یا د ده مرادف دوباره ذکر کول او تاکید لفظي په اسم و فعل و حرف او په مفرد و مرکب او په مضاف و جمله او په معرفه (۲) و نکره او په ظاهر او ضمیر ټولو کي راتلای سي لېکن تاکید معنوي صرف په اسم کي راځي او تاکید چي کله په جمله سره راسي نو بیا اکثره حرف عطف راوړل کیږي لکه: "كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ،، أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ثُمَّ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى".

او کله کله بغیر حرفِ عطف هم راوړل کیږي لکه: د نبي کریم ﷺ فرمان مبارک دئ "لَاَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا،، لَاَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا،، لَاَغْزُوَنَّ قُرَيْشًا". لېکن که چیري د حرف عطف څخه د تعدد وهم او بېره وه نو بیا د حرف عطف ترک واجب دئ لکه: "ضَرَبْتُ زَيْدًا، ضَرَبْتُ زَيْدًا". دلته که چیري حرف عطف ذکر سوی وای نو بیا دا وهم کېدئ چي شاید دلته مراد د دوهم وار وهل دي.

د تاکید لفظي فائده:

د تاکید لفظي فائده دا ده چي دلته مؤکد په نفس د سامع کي ټېنګ سي او د ده په زړه کي قرار ونسي چي د کمي شبه خوف و بېره یې هغه شبه ختم سي.

---

(۱) د اسم ظاهر مثال لکه: "جَاءَ عَلِيٌّ عَلِيٌّ" د ضمیر مثال لکه: "جِئْتَ اَنْتَ وَ قُمْنَا نَحْنُ" او د الله تعالی دا قول: "يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ". د فعل مثال لکه: "جَاءَ جَاءَ عَلِيٌّ". د حرف مثال لکه: "لَا. لَا اَبُوْحُ بِالسِّرِّ" د جمله مثال لکه: "جَاءَ عَلِيٌّ" "جَاءَ عَلِيٌّ" "عَلِيٌّ مُجْتَهِدٌ" "عَلِيٌّ مُجْتَهِدٌ" د مرادف مثال لکه: "اَتٰى جَاءَ عَلِيٌّ". (جامع الدروس العربية)

(۲) د بصرین په نزد باندي د نکره تاکید جائز نه دئ. (ضوابط نحوية)

ضابطه:

که چیرې (¹) د ضمیر متصل تاکید لفظي راوړل مقصود وي نو بیا د دې دپاره اعاده د عامل یا د ده تاکید په منفصل سره راوړل ضروري دي د اعاده د عامل مثال لکه: "عَجِبْتُ مِنْکَ مِنْکَ" یا "قُمْتُ قُمْتُ" او د منفصل مثال لکه: "ضَرَبْتُ اَنَا، ضَرَبْتَ اَنْتَ نَفْسَکَ، مَرَرْتُ بِکَ اَنْتَ".

دریمه خبره:

تاکید معنوي:

دوهم قسم د تاکید څخه تاکید معنوي دئ.

د تاکید معنوي تعریف:

---

¹ که چیرې د حروف غیر جوابیه تاکید راوړل سوی وو نو بیا په هغه کي دوه شیان لازمي دي:

1. اول: یو دا چه د مؤکد و تاکید په مینځ کي به فصل وي.
2. دوهم: دا چي د دې حروف سره د هغه اسم اعاده او راګرځول ضروري دي کم چي د مؤکد متصل دي یا د هغه اسم د ضمیر اعاده ضروري ده د اسم د اعاده مثال لکه: "اِنَّ زَيْدًا اِنَّ زَيْدًا فَاضِلٌ" د ضمیر د اعاده مثال لکه: "اِنَّ زَيْدًا اِنَّهُ قَائِمٌ" او د ضمیر راجع کول اولی دئ لکه: په قرآن کریم کي راغلي دي: "فَفِي رَحْمَةِ اللهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ". لېکن که چیرې د فعل یا د "حرف جواب" تاکید راوړل مقصود وو نو بیا بلا شرط صرف د فعل یا "حرف جواب" اعاده کیږي لکه: "قَامَ قَامَ زَيْدٌ. بَلٰى بَلٰى جَاءَ زَيْدٌ".

که چیرې د اسم ظاهر یا د ضمیر منصوب متصل تاکید راوړل مقصود وو نو د دوی تاکید هم بلا څه شرط صرف په اعاده د مؤکد سره راوړل کیږي د اسم ظاهر مثال لکه: په حدیث شریف کي راځي: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ. بَاطِلٌ. بَاطِلٌ". د منصوب متصل مثال لکه: "اَكْرَمْتُكَ اَنْتَ" او ضمیر مرفوع منفصل دا د هر ضمیر متصل خواه که مرفوع وي او که منصوب وي او که مجرور وي تاکید واقع کېدای سي د مرفوع متصل مثال لکه: "قُمْتَ اَنْتَ" د منصوب متصل مثال لکه: "اَكْرَمْتُكَ اَنْتَ" د مجرور متصل مثال لکه: "مَرَرْتُ بِكَ اَنْتَ" لېکن په تکلم او افراد او تذکیر او اضداد و غیره کي مطابقت ساتل ضروري دي. (تشویر)

که چیرې د تاکید الفاظ متعدد وي نو بیا دا تول د یوې متبوع دپاره تاکید و نه جوړیږي لېکن د تاکید دپاره تاکید هیڅکله نسي جوړېدای. (ضوابط نحویه)

د تاکید په لفظ کي درې وجهې ویل جائز دي:

1. اوله وجه: تاکید په الف سره لکه: تاکید.
2. دوهمه وجه: تاکید په همزه سره لکه: تأکید.
3. دریمه وجه: تاکید په واو سره لکه توکید لېکن مشهوره په الف سره دئ. (ضوابط نحویة)

تاکید معنوي هغه تاکید دئ چي دی په یو څو مخصوصه الفاظو باندي راځي دپاره د دې چي د متبوع معنی مضبوطه کي لکه: "فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ".

د تاکید معنوي (۱) الفاظ:

په کلام عربي کي تاکید معنوي په اتو (۸) الفاظو باندي راځي هغه اته (۸) الفاظ دا دي: "نَفْسٌ، عَيْنٌ، كِلَا، كِلْتَا، كُلٌّ، اَجْمَعُ، جَمِيْعٌ، عَامَّةٌ، اَكْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ".

د تاکید معنوي د الفاظو مختصره تشریح:

اول "نَفْسٌ (۲) وَ عَيْنٌ" دي په "نَفْسٌ وَ عَيْنٌ" سره د شپږو (۶) قسمو تاکید راوړل کیږي: واحد، تثنیه، جمع، مذکر او مؤنث لېکن کله چي په دوی سره تاکید بیانیږي نو دوی د مؤکد موافق د مؤکد و ضمیر ته مضاف کیږي، او د دوی او د مؤکد د ضمیر په مینځ کي مطابقت واجب دئ په افراد، و جمعیت کي لکه: "جَاءَنِيْ زَيْدٌ نَفْسُهُ وَ عَيْنُهُ، جَاءَنِي الزَّيْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ وَ اَعْيُنُهُمْ". لېکن په تثنیه کي درې (۳) صورتونه جائز دي:

۱. اول صورت: دوی مفرد راوړل لکه: "جَاءَنِي الزَّيْدَانِ نَفْسُهُمَا وَ عَيْنُهُمَا".

۲. دوهم صورت: دوی تثنیه راوړل لکه: "جَاءَنِي الزَّيْدَانِ نَفْسَاهُمَا وَ عَيْنَاهُمَا".

۳. دریم صورت: دوی جمع راوړل لکه: "جَاءَنِي الزَّيْدَانِ اَنْفُسُهُمَا وَ اَعْيُنُهُمَا".

لېکن مفرد راوړل حسن دي او جمع راوړل احسن دي او تثنیه راوړل ضعیف دي ځکه اضافت د تثنیه و خپل ضمیر ته راځي.



(۱) د تاکید معنوي ټوله الفاظ معرفه دي ځکه الفاظ اصلیه د اضافت الی الضمیر په وجه لکه: "نَفْسٌ، عَيْنٌ، كِلَا وَ كِلْتَا، كُلٌّ، عَامٌّ" او کم چي ملحقه دي لکه: "اَجْمَعُ، اَكْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ" دا هم معرفه دي عند الجمهور دوی د علم په حکم دي ځکه دوی علم جنس دي د تاکید دپاره اعلام دئ نو ځکه دوی غیر منصرف دي او دوی حال هم نسي واقع کېدای لېکن د امام سبویه او د ابن مالک په نزد باندي په دوی کي نسبت د اضافت موجود دئ ځکه "اَجْمَعُوْنَ" په معنی د "اَجْمَعُهُمْ" سره دئ او "جُمَعُ" په معنی "جَمِيْعُهُنَّ" سره دئ دا غه وجه ده چي دوی د نکره دپاره تاکید نه واقع کیږي خلافا للکوفیین ځکه دوی دلیل د حضرت عائشه رضي الله عنها دا حدیث پېشوي هغه وایي: "مَارَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَامَ شَهْرًا كُلَّهُ إِلَّا رَمَضَانَ". لېکن د هغه جواب دا دئ چي دا قسم مثالونه پر نعتیت یا بر بدلیت یا پر ضرورت باندي محمول دي. (تشویر)

(۲) لفظ د "نَفْسٌ" او د "عَيْنٌ" په باء زائده سره مجروره کول هم جائز دي لکه: "جَاءَنِيْ زَيْدٌ بِنَفْسِهِ، بِعَيْنِهِ".

څلورمه خبره:

دوهم "كِلَا (¹) وَكِلْتَا":

"كِلَا وَكِلْتَا" هم د تثنيه د تاكيد دپاره راځي او دوی د مؤكد موافق د مؤكد و ضمير ته مضاف كيږي او د دوی د ذكر كولو څخه مقصد د انسان د سهو امكان ختم كول دي يعني چي د لفظ د "بعض" د مقدر كولو امكان ختم سي لكه: "جَائَنِي الزَّيْدَانِ كِلَاهُمَا" لېكن كه چيري د لفظ د "بعض" د مقدر كولو امكان نه وو نو بيا هلته په "كِلَا وَكِلْتَا" سره تاكيد راوړل غلط دي لكه: ته وايې: "اِخْتَصَمَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا" يا "تَعَاهَدَ مُسْلِمٌ وَ خَالِدٌ كِلَاهُمَا" ځكه دلته د مخاصمه او د معاهده فعل صرف د دوو څخه حاصليږي نو ځكه دلته د تاكيد ضرورت نسته.

دريم لفظ د "كُلٌّ" دئ (²) د ذو اجزاء د تاكيد دپاره راځي او د ده د تاكيد جوړېدلو دپاره هغه شرط دئ كم چي په "كِلَا وَكِلْتَا" كي وو يعني تقدير به د لفظ د "بعض" هلته صحيح كيږي لكه: "جَائَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ، اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ" لېكن "جَائَنِي زَيْدٌ كُلُّهُ" ويل غلط دي ځكه دلته تقدير د "بعض" نه صحيح كيږي او داغه رنګه دلته د اجزاء په مينځ كي افتراق نسي كېداى او لفظ د "كُلٌّ" د مفرد او د جمع د دواړو د تاكيد دپاره استعماليږي لېكن د تثنيه د تاكيد دپاره نسي استعمالېداى او دی هم د مؤكد موافق د مؤكد و ضمير ته مضاف كيږي د مفرد مثال لكه: "قَرَأْتُ الْكِتَابَ كُلَّهُ"، او د جمع مثال لكه: "فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ".

(¹) سوال "زَيْدٌ وَ عَمْرٌو كِلَاهُمَا قَائِمٌ" ويل كيږي او كه "زَيْدٌ وَ عَمْرٌو كِلَاهُمَا قَائِمَانِ" ويل كيږي. علامه ابن هشام ددې سوال څخه دا جواب ور كړی دئ كه چيري "كِلَاهُمَا" د تاكيد دپاره سي نو بيا "قَائِمَانِ" ويل كيږي ځكه په دې صورت كي "قَائِمَانِ" خبر دئ او كه چيري "كِلَاهُمَا" مبتداء سي نو بيا په "قَائِمَانِ" كي دواړه وجه ويل جائز دي مګر افراد يې اولى دئ.

(²) كله كله لفظ د "كُلٌّ" د مؤكد د مثل ته مضاف سي نو په دې صورت كي بيا دی صفت جوړيږي په معنى د تاكيد سره لكه: "رَأَيْتُ الرَّجُلَ كُلَّ الرَّجُلِ". (همع الهوامع)

پنځمه خبره:

څلورم قسم لفظ د "اَجْمَعُ، جُمَعَاءُ، جُمَعُ، اَجْمَعِيْنَ" دئ: داغه الفاظ که چيري د "كُلٌّ" څخه وروسته واقع سي نو بيا دوی د شموليت او د احاطه معنى ور کوي چي هغه بعينه د "كُلٌّ" معنى ده لکه: "فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ (۱)". او که چيري دوی د "كُلٌّ" بغير استعمال سي نو بيا دوی د اتحاد في الوقت معنى ور کوي او کله کله بغير د لفظ د "كُلٌّ" هم مطلقا د تاکيد معنى ور کوي نه د اتحاد في الوقت لکه: "وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ" او داغه رنګه(۲) "اَكْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ" د "اَجْمَعُ" تابع دي نه تر "اَجْمَعُ" مقدم کېدای سي او نه د "اَجْمَعُ" بغيره استعمالېدای سي او نه دوی څلور په اضافت سره استعمالېدای سي او دوی څلور سره د مفرد او د جمع د مذکر او مؤنث د تاکيد دپاره استعمالېږي لېکن د تثنيه د تاکيد دپاره نه استعمالېږي ځکه د تثنيه د تاکيد دپاره "كِلَا وَكِلْتَا" استعمالېږي چي هغه د دوی د تثنيه څخه استغناء راوستلې ده، د واحد مذکر مثال لکه: "اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ اَجْمَعَ. اَكْتَعَ. اَبْتَعَ. اَبْصَعَ"، د واحد مؤنث مثال لکه: "اِشْتَرَيْتُ الْاَمَةَ جُمْعٰى، كُتْعٰى، بُتْعٰى، بُصْعٰى". د جمع مذکر مثال لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ، اَكْتَعُوْنَ، اَبْتَعُوْنَ، اَبْصَعُوْنَ". د جمع مؤنث مثال لکه: "حَضَرَتِ الطَّالِبَاتُ كُلُّهُنَّ جُمَعُ. كُتَعُ. بُتَعُ. بُصَعُ".

---

(۱) ملا جيون رحمة الله عليه "فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ" مثال د هغه وهم ازاله او رفع جوړ کړی دئ چي ملائکو په يوه وخت کي سجده نه ده کړې لېکن بعض حضراتو د "اَجْمَعُوْنَ" لفظ د اتحاد وقت دپاره جوړ کړی دئ لېکن دا خبره غلطه ده ځکه د ده تعلق د اتحاد وخت سره نه دئ لکه: په "وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ" کي "اِغْوَاء" د شيطن په وخت واحد کي نه ده بلکه: د "اَجْمَعِيْنَ" معنى د لفظ د "كُلٌّ" په شان ده چي تاکيد على التاکيد دئ. (شرح شذور الذهب صفحه ۳۰۴).

(۲) تاکيد معنوي کله کله د غير تاکيد. دپاره په حسب اقتضاء د عامل سره فاعل، مفعول، يا مبتداء يا خبر واقع کيږي لکه: "رَأَيْتُ جَمِيْعَهُمْ. رَأَيْتُ عَامَّتَهُمْ" او داغه رنګه د تاکيد معنوي په الفاظو کي حرف عطف راوړل جائز نه دئ. (ضوابط نحوية)

فائده:

لفظ د "جَمِيْعٌ وَ عَامَّةٌ" [۱] د "كُلٌّ" په حكم كي دي لېكن په دوى سره تاكيد ډېر كم راځي او د لفظ د "كُلٌّ" او "جَمِيْعٌ" او "عَامَّةٌ" د تاكيد د جوړېدلو دپاره شرط دا دئ چي د دوى سره به ضمير متصل ور سره وي ورنه بيا دوى حال جوړيږي لكه: "هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا". او داغه رنګه لفظ د "جَمِيْعٌ" او "عَامَّةٌ" كه چيري بغير اضافت مستعمل وي بيا هم دوى حال جوړيږي.

فائده:

كله چي د ضمير متصل تاكيد په "نَفْسٌ وَ عَيْنٌ" سره مقصود وي نو اولاً به د ده تاكيد په منفصل سره راوړل كيږي لكه: "جِئْتُ اَنَا نَفْسِيْ وَ عَيْنِيْ". نو دا دواړه د ضمير متصل تاكيدونه دي.

شپږمه خبره:

بدل:

دريم قسم د توابع څخه بدل دئ:

د بدل لغوي او اصطلاحي معنى:

بدل په لغت كي عوض ته ويل كيږي لكه: په قرآن كريم كي راځي: "عَسَىٰ رَبُّنَا أَنْ يُبْدِلَنَا خَيْرًا مِنْهَا".
او په اصطلاح كي بدل هغه تابع دئ چي په كلام كي دى په خپله مقصود بالنسبة وي او د متبوع ذكر صرف د توطيه او د تمهيد دپاره وي لكه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ اَخُوْكَ".

د بدل اقسام:

بدل پر څلور (۴) قسمه دئ:

۱. اول: بدل كل.
۲. دوهم: بدل اشتمال.
۳. دريم: بدل بعض.

---

[۱] په لفظ د "عَامَّةٌ" كي تاء د تانيث نه ده بلكه د مبالغي دپاره ده نو ځكه په حالت د تذكير و تانيث دواړو كي پر خپل حال باندي پاته كيږي لكه: د "نَافِلَةٌ" تاء په دې مثال كي "وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً". (شرح شذور الذهب)

۴. څلورم: بدل غلط.

د بدل([1]) الکل تعریف:

بدل الکل هغه بدل دئ چي په ده کي د بدل او مبدل منه مصداق یو وي یعني د بدل مصداق بعینه د مبدل منه مصداق وي لکه: "اَخُوْکَ" په "جَائَنِيْ زَیْدٌ اَخُوْکَ" کي.

د بدل بعض تعریف:

بدل بعض هغه بدل دئ چي د ده معنی د مبدل منه د معنی یو جزء وي عام تر دې که جزء قلیل وي یا مساوي وي یا اکثر وي مثال یې لکه: "رَاْسُهٗ" په "ضُرِبَ زَیْدٌ رَاْسُهٗ" کي یا لکه: "اَکَلْتُ الرَّغِیْفَ ثُلُثَهٗ اَوْ نِصْفَهٗ، اَوْ ثُلُثَیْهِ. اَلْکَلِمَةُ ثَلَاثَةُ اَقْسَامٍ: اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ".

د بدل اشتمال تعریف:

بدل اشتمال هغه بدل دئ چي نه د مبدل منه جزء وي او نه کل وي بلکه د کلیت او جزئیت څخه علاوه د بدل او مبدل منه په مینځ کي یو بل قسم تعلق وي لکه: "ثَوْبٌ" په "سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ" کي دلته "ثَوْبٌ" نه د "زَیْدٌ" "جُزْء" دئ نه یې "کُلْ" دئ بلکه په بل اعتبار سره یې تعلق دئ چي "ثَوْبٌ" د "زَیْدٌ" ملکیت دئ لکه: "اَعْجَبَنِيْ زَیْدٌ عِلْمُهٗ اَوْ حُسْنُهٗ".

اوومه خبره:

د بدل بعض او بدل اشتمال دپاره مشترک شرطونه:

([1]) صاحب دا الفیه د بدل الکل نوم بدل مطابق ایښی دئ ځکه د الله تعالی نوم هم بدل الکل واقع کیږي په دې مثال کي: "اِلٰی صِرَاطِ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ" او دا ښکاره خبره ده چي د کل اطلاق صرف پر ذي اجزاء شیانو باندي کیږي حالانکه الله تعالی پاک دئ د اجزاء څخه نو ځکه د دې قسم بدل نوم د بدل الکل بجای بدل مطابق ایښول بهتره دي.

په بدل الکل في البعض کي هم اختلاف دئ جمهور ددې قسم بدل انکار کوي او بعض علماء د دې قائله دي او راجح هم داغه مذهب دئ لکه: "لَقِیْتُهٗ غَدْوَةَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ" دلته د "یَوْمَ" ظرف ثاني جوړول صحیح نه دي ځکه ظرف زمان بغیر د عطف څخه متعدد نسي راتلای نو دا معلومه خبره ده چي دلته "یَوْمُ الْجُمُعَةِ" بدل الکل دئ د "غَدْوَةٌ" څخه.

او علامه سیوطي رحمه الله د بدل الکل من البعض ثبوت په قرآن کریم کي پیش کړی دئ لکه: "فَاُولٰئِكَ یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا یُظْلَمُوْنَ شَیْئًا جَنّٰتِ عَدْنِ نِ الَّتِيْ". لیکن علامه خضري د دې خبري تردید کړی دئ چي دلته بدل الکل من البعض نه دئ بلکه دلته بدل الکل من الکل دئ او په "اَلْجَنَّةَ" کي الف لام د جنس دئ. (همع الهوامع جلد ۳ صفحه ۱۵۴)

د بدل بعض او د بدل اشتمال د پاره دوه (۲) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: چې په مبدل منه سره به استغناء صحيح کيږي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: چې ضمير رابط به موجود وي خواه که ملفوظ وي او که مقدر وي د بدل بعض ضمير ملفوظ مثال لکه: "ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِنْهُمْ" او د مقدر مثال يې لکه: "وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا اَىْ مِنْهُمْ".

د بدل اشتمال ضمير ملفوظ مثال لکه: "يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ" او د مقدر مثال لکه: "قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ. النَّارِ: اَىْ فِيهِ".

او دا شرط په بدل کل کې نسته ځکه د بدل کل معنی د مبدل منه عين وي د رابط تقاضا نه کوي لکه: څنګه چې جمله خبر د مبتداء عين وي.

د بدل غلط تعريف:

بدل غلط هغه بدل دئ چې د خولې څخه په غلطۍ کې د يو لفظ د وتلو وروسته ذکر کيږي لکه: "حِمَارٌ" په "مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ" کې او وده ته بدل مبائن هم ويل کيږي او بدل مبائن په درې (۳) شکلو سره راځي:

۱. اول شکل: بدل غلط، چې د سبقت لساني په وجه سره راځي.

۲. دوهم شکل: بدل نسيان چې متکلم اولاً د هيرې په وجه د متبوع قصد کړي وي بيا د په ياد بدلو څخه وروسته تابع ذکر کړي نو د بدل غلط تعلق د ژبې سره وي او د بدل نسيان تعلق د زړه سره وي، لېکن اکثره نحويانو يې فرق نه دئ کړی بلکه دواړه يې يو شی شمار کړي دي يعني بدل غلط.

۳. دريم شکل: "بَدَلُ الْإِضْرَابِ" دئ چې و هغه ته "بَدَلُ الْبَدَاءِ" ([1]) هم ويل کيږي "بدل الاضراب" هغه بدل دئ چې په جمله کې قصد د بدل او مبدل منه دواړو صحيح کيږي لېکن

([1]) په بدل البداء کې د نحاتو اختلاف دئ لېکن صحيح خبره دا ده چې دا قسم بدل ثابت دئ ځکه علامه ابن مالک رحمة الله عليه په دې مثال کې يو حديث شريف پيش کړی دئ هغه حديث شريف دا دئ: "إِنَّ الرَّجُلَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ مَا كُتِبَ لَهُ نِصْفُهَا، ثُلُثُهَا، رُبُعُهَا" دلته "ثُلُثُهَا" بدل الاضراب دئ او علامه سيوطي رحمة الله عليه فرمايلي دئ چې د "بدل الاضراب" قائله امام سبويه رحمة الله عليه دئ لېکن دا خبره په کتاب د سبويه کې نه ده ذکر سوې. (تنوير)

متکلم د مبدل منه د قصد څخه اعراض او عدول وکړي د بدل قصد وکړي لکه: "خُذِ الْقَلَمَ اَلْوَرَقَةَ" لېکن دا بدل په کلام د بلغاء کي نه واقع کیږي بلکه هغه د اعراض دپاره کلمه د "بَلْ" ذکر کوي.

ضابطه:

د بدل په اقسامو کي د تابع او متبوع په مینځ کي موافقت صرف په اعراب کي ضروري دئ نه په نورو شیانو کي ماسوا د بدل الکل څخه ځکه په بدل الکل کي د افراد تثنیه، جمع، تذکیر، تانیث، لحاظ ساتل ضروري دي لېکن که چیري بدل الکل د مصدر څخه راغلی وو لکه: "مَفَازًا حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا" یا د بدل کل څخه مراد تفصیل وو لکه: "جَائَنِيْ ذُوْ رِجْلَيْنِ رِجْلٌ صَحِيْحَةٌ وَ رِجْلٌ شَلَّةٌ" نو په دې دواړو صورتو کي په بدل الکل کي هم په افراد، تثنیه، جمع کي موافقت نه دئ ضروري.

جملې:

عنوان	خبریه، انشاء	مسند	مسند الیه	تعیین حروف عامله وغیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام بدل
فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ	خبریه فعلیه	(سَجَدَ) فعل	(الْمَلَائِكَةُ) فاعل	(فَ) عاطفه	(سَجَدَ) فعل معروف	(كُلُّ) اسم مضاف	(الْمَلَائِكَةُ) فاعل (كُلُّهُمْ) تاکید اول (أَجْمَعُوْنَ) تاکید ثاني،	۔	(هُمْ) مضاف الیه	(الْمَلَائِكَةُ) مؤکد (كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ) تاکید معنوي
قَالُوْا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ رَبِّ مُوْسَى وَهَارُوْنَ	خبریه فعلیه	(قَالُوْا) فعل	(هُمْ) فاعل	(وَ) عاطفه	(قَالُوْا آمَنَّا) فعل معروف	(۲) (رَبِّ) صیغه صفت مشبه اسم مضاف	(هُمْ، نَا) فاعل	۔	(رَبِّ) مجرور بحرف جر متعلق (آمَنَّا) (الْعَالَمِيْنَ) مضاف الیه مجرور متعلق (آمَنَّا) (مُوْسَى وَهَارُوْنَ) مضاف الیه غیر منصرف علمیت و عجمه (رَبِّ) بدل من (رَبِّ) اول	(رَبِّ الْعَالَمِيْنَ) مبدل منه (رَبِّ مُوْسَى وَهَارُوْنَ) بدل الکل
وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا	خبریه فعلیه	جَاءَ	(رَبُّكَ) فاعل	(وَ، وَ) عاطفه	(جَاءَ) فعل معروف	(أَمْرُ) محذوف (رَبُّ) اسم مضاف	(رَبُّ، وَالْمَلَكُ) (أَمْرُ) مضاف محذوف فاعل	(صَفًّا) حال من الفاعل (صَفًّا) تاکید	(كَ) مضاف الیه	(صَفًّا) مؤکد (صَفًّا) تاکید لفظي
يَسْأَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ	خبریه فعلیه	(يَسْأَلُوْنَ) فعل	(هُمْ) فاعل	(عَنِ) جاره متعلق (يَسْأَلُوْنَ) (فِيْ) جاره متعلق (قِتَالٍ)	(يَسْأَلُوْنَ) فعل معروف	(قِتَالٍ) مصدر	(هُمْ) فاعل	(كَ) مفعول به	(الشَّهْرِ) مجرور بحرف الجر (الْحَرَامِ) صفت (قِتَالٍ) بدل (ه) مجرور بحرف الجر	(الشَّهْرِ الْحَرَامِ) مبدل منه (قِتَالٍ) بدل اشتمال [illegible]

عنوان	خبر، انشاء	مسند	مسند الیہ	افعال عاملہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام بدل
وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا	خبریہ ظرفیہ	(لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ) باعتبار متعلق خبر مقدم	(حِجُّ الْبَيْتِ) مبتدا مؤخر	(اسْتَطَاعَ) فعل معروف	(وَ) استنافیہ (لِ، عَلَى) جارہ متعلق ثابت (إِلَى) متعلق بمحذوف حال من سبیلًا	(حِجُّ) مصدر مضاف	(لِلّٰهِ، عَلَى النَّاسِ) محلا خبر مقدم (حِجُّ) مبتدا (هُوَ) فاعل	(سَبِيلًا) مفعول بہ	(اللّٰهِ، النَّاسِ) لفظا مجرور بحرف جر (مَنِ اسْتَطَاعَ) بدل (مِنَ النَّاسِ) (الْبَيْتِ) مضاف الیہ (ہ) مجرور	(النَّاسِ) مبدل منہ (مَنِ اسْتَطَاعَ) بدل بعض من الکل
فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ	خبریہ ظرفیہ	(فِيهِ) باعتبار متعلق خبر مقدم	(آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ) مبتدا مؤخر	+	(فِي) جارہ متعلق ثابت	(مَقَامُ) اسم مضاف	(فِيهِ) محلا باعتبار متعلق خبر مقدم (آيَاتٌ) مبتدا (بَيِّنَاتٌ) صفت لہ (مَقَامُ) بدل من (آيَاتٌ)	+	(إِبْرَاهِيمَ) مجرور والجر تابع للنصب غیر منصرف للعلمیۃ والعجمۃ (ہ) مجرور	(آيَاتٌ) مبدل منہ (مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ) بدل الاشتمال لان آیات مشتمل علی مقام ابراہیم
قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ	خبریہ فعلیہ	(قُتِلَ) فعل مجہول	(أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ) نائب فاعل	(قُتِلَ) فعل مجہول رافع (لِأَصْحَابُ الْأُخْدُودِ)	+	(أَصْحَابُ) (ذَاتِ) اسم مضاف	(أَصْحَابُ) نائب فاعل	+	(الْأُخْدُودِ) مضاف الیہ (النَّارِ) بدل من (الْأُخْدُودِ) (ذَاتِ) صفۃ لہ (الْوَقُودِ) مضاف الیہ	(الْأُخْدُودِ) مبدل منہ (النَّارِ) بدل الاشتمال منہ لان الاخدود مشتمل علی النار
سَافَرَ عَلِيٌّ إِلَى بَغْدَادَ جَدَّةَ	خبریہ فعلیہ	(سَافَرَ) فعل	(عَلِيٌّ) فاعل	(سَافَرَ) فعل معروف	(إِلَى) جارہ ظرف لغو متعلق (سَافَرَ)	+	(عَلِيٌّ) فاعل	+	(بَغْدَادَ) مجرور والجر تابع للنصب (جَدَّةَ) مجرور بدل من بغداد غیر منصرف علمیت، تانیث لفظی، مجر	(بَغْدَادَ) مبدل منہ (جَدَّةَ) بدل نسیان
جَاءَ حِمَارٌ رَجُلٌ	خبریہ فعلیہ	(جَاءَ) فعل	(حِمَارٌ) فاعل	(جَاءَ) فعل معلوم	+	+	(حِمَارٌ) فاعل (رَجُلٌ) بدل من الفاعل	+	+	(حِمَارٌ) مبدل منہ (رَجُلٌ) بدل غلط
خُذِ الْقَلَمَ وَالْوَرَقَةَ	انشائیہ فعلیہ	(خُذْ) فعل	(أَنْتَ) فاعل	(خُذْ) فعل معلوم	(وَ) عاطفہ	+	(أَنْتَ) فاعل	(الْقَلَمَ) مفعول بہ (وَالْوَرَقَةَ) بدل من المفعول	+	(الْقَلَمَ) مبدل منہ (الْوَرَقَةَ) بدل اضراب
وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ	انشائیہ فعلیہ	(اُذْكُرْ) فعل	(أَنْتَ) فاعل	(اُذْكُرْ) فعل معلوم	(وَ) استنافیہ، (وَ) عاطفہ فی المواضع الثلاثۃ	(عِبَادَ، أُولِي) اسم مضاف	(أَنْتَ) فاعل	(عِبَادَ) مفعول بہ (إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ) بدل من (عِبَادَ) غیر منصرف فیہ الجر تابع للنصب (أُولِي) معلوم	(نَا) مضاف الیہ (الْأَيْدِي) مضاف الیہ (الْأَبْصَارِ) معطوف علی (الْأَيْدِي)	(عِبَادَ) مبدل منہ (إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ) بدل الکل
وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا	خبریہ ظرفیہ	(أَرْسَلَ) فعل محذوف	(نَا) فاعل	(أَرْسَلَ) فعل معلوم	(وَ) استنافیہ۔ (إِلَى) جارہ متعلق (بِأَرْسَلْنَا) محذوف	(أَخَا) اسم مضاف	(نَا) فاعل فعل محذوف	(أَخَا) مفعول بہ لفعل محذوف (هُودًا) بدل من (أَخَا)	(عَادٍ) مجرور بحرف الجر (هُمْ) مضاف الیہ	(أَخَا) مبدل منہ (هُودًا) بدل الکل

التمرين:

"وَقَالَ مُوسَى لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي،، أَلَا بُعْدًا لِعَادٍ قَوْمِ هُودٍ،، حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ،، إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا،، وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِي،، اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ،، وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ،، قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا نِصْفَهُ،، جَزَاءً مِنْ رَبِّكَ عَطَاءً حِسَابًا رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ،، إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ".

جملي:

عنوان	خبر/انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام تاکید
هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ	خبریہ فعلیہ	(هَيْهَاتَ) اسم فعل بمعنی (بَعُدَ) فعل ماضی	(لِمَا تُوعَدُونَ) جملہ بتاویل مصدر فاعل	(لِ) جارہ زائدہ (مَا) مصدریہ یا موصولہ	(بَعُدَ) فعل معلوم لازمی (تُوعَدُونَ) فعل مجہول	•	(لِمَا تُوعَدُونَ) مرفوع محلاً بوجہ فاعل للفعل (أَنْتُمْ) یا (وَ) فاعل	•	(مَا تُوعَدُونَ) محل قریب الجر	(هَيْهَاتَ) مؤکد (هَيْهَاتَ) تاکید لفظی بتکرار لفظ
كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ	خبریہ فعلیہ	(تَعْلَمُونَ) فعل	(أَنْتُمْ) یا (وَ) فاعل	۲ (كَلَّا) حرف ردع للزجر ۲ (سَوْفَ) حرف استقبال (ثُمَّ) للعطف کلہم غیر عامل	۲ (تَعْلَمُونَ) فعل معلوم	•	(۲) (أَنْتُمْ) فاعل (تَعْلَمُونَ)	•	•	(كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ) مؤکد (كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ) تاکید لفظی
الْحَاقَّةُ مَا الْحَاقَّةُ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ	خبریہ اسمیہ	(مَا الْحَاقَّةُ) (مَا) مبتدا، (الْحَاقَّةُ) خبر، جملہ خبر (الْحَاقَّةُ) الاولی	(الْحَاقَّةُ) مبتدا	(وَ) عاطفہ	(أَدْرَى) فعل معلوم	(الْحَاقَّةُ) الثانیہ صیغہ صفت عامل فی ضمیرہ (هِيَ)، ۲ (مَا) اسم استفہام	(الْحَاقَّةُ) الاولی مبتدا (مَا الْحَاقَّةُ) الثانیہ جملہ خبر فی محل رفع (هُوَ) فاعل (أَدْرَى)	(كَ) مفعول اول (مَا الْحَاقَّةُ) مبتدا و خبر محلاً منصوب مفعول ثانی للفعل	•	(مَا الْحَاقَّةُ) مؤکد (مَا الْحَاقَّةُ) تاکید لفظی (للزیادۃ) للتفخیم
فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا	الانشائیہ فعلیہ	(مَهِّلْ) فعل	(أَنْتَ) فاعل	(فَ) جزائیہ جواب لشرط محذوف ای إن کان کذا فکذا	(مَهِّلْ) أَمْهِلْ فعل معلوم	(الْكَافِرِينَ) صیغہ صفت عامل فی ضمیرہ (هُمْ) بالاستتار	(أَنْتَ) فاعل، (أَنْتَ) فاعل	(الْكَافِرِينَ) مفعول بہ (هُمْ) مفعول بہ (رُوَيْدًا) بتصغیر مصدر و اسم الفعل مفعول مطلق نائب عن المصدر فهو مرفوق	•	(فَمَهِّلْ) مؤکد (أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا) جملہ تاکید لفظی
فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ	الانشائیہ اسمیہ	(أُقْسِمُ) فعل مقدر	(أَنَا) فاعل	(فَ) استئنافیہ، (وَ) قسمیہ جارہ، (لَام) للقسم، (نَّ) تاکید ثقیلہ	(أُقْسِمُ، نَسْأَلُ) فعل معلوم	(رَبِّ) اسم مضاف	(أَنَا) فاعل، (نَحْنُ) فاعل	(هُمْ) مفعول بہ (أَجْمَعِينَ) تاکید لضمیر الجمع	(رَبِّ) مجرور بحرف جر متعلق (أُقْسِمُ) محذوف (كَ) مضاف الیہ	(هُمْ) مؤکد (أَجْمَعِينَ) تاکید معنوی

مثال	خبر/انشاء	مسند	مسندالیه	تعیین حروف عامله وغیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام تاکید
وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ	خبريه فعليه	(قُلْ) فعل	(نَا) فاعل	(وَ) عاطفه (يَا) حرف نداء (وَ) عاطفه	(قُلْ، اُسْكُنْ) فعل معلوم	(زَوْجُ) اسم مضاف	(نَا، أَنْتَ) فاعل (اُسْكُنْ) تاکید (زَوْجُ) معطوف علی الضمیر (آدَمُ) [illegible]	(الْجَنَّةَ) مفعول به (اُسْكُنْ) (يَا آدَمُ اسْكُنْ) جمله فی محل النصب مقوله قول	(كَ) مضاف الیه	ضمير (اُسْكُنْ) (أَنْتَ) مؤكد (أَنْتَ) تاكيد لفظی
فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا	خبريه اسميه	(مَعَ الْعُسْرِ) باعتبار متعلق خبر مقدم	(يُسْرًا) اسم مؤخر	(فَ) مستانفه (إِنَّ، إِنَّ) مشبه بالفعل	.	(۲) (مَعَ) ظرف مضاف	(مَعَ الْعُسْرِ، مَعَ الْعُسْرِ) باعتبار متعلق محلا مرفوع فی محل خبر	(يُسْرًا، يُسْرًا) اسم مؤخر فی محل المنصوب	(الْعُسْرِ، الْعُسْرِ) مضاف الیه	(فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا) جمله مؤكد (إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا) جمله تاكيد لفظی
كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كُلِّهَا	خبريه فعليه	(كَذَّبُوا) فعل	(هُمْ) يا (وْ) فاعل	(بِ) جاره حرف متعلق (بِكَذَّبُوا)	(كَذَّبُوا) فعل معلوم	(آيَاتِ) (كُلِّ) اسم مضاف	(هُمْ) فاعل	.	(آيَاتِ) مجرور بحرف جر و (نَا) مضاف الیه (هَا) مضاف الیه (كُلِّ) تاكيد [illegible]	(آيَاتِ) مؤكد (كُلِّهَا) تاكيد معنوی

التمرين:

"لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ.. كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا. لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ.. اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ.. وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ.. فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ.. سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا.. الْقَارِعَةُ مَا الْقَارِعَةُ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ. قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ.. فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ".

الدرس السابع والثلاثون:

د نن د سبق خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د بدل (۱) او مبدل منه أقسام په اعتبار د ظاهر او د ضمير سره:

---

(۱) ضوابط:

۱. اوله ضابطه: كه چيري مبدل منه متضمن معنى د استفهام يا د شرط لره وه نو په بدل كي په همزه استفهام يا په حرف شرط سره تفصيل ضروري دی د استفهام مثال لكه: "كَمْ مَالُكَ أَعِشْرُونَ أَمْ ثَلَاثُونَ. مَاصَنَعْتَ أَخَيْرًا أَمْ شَرًّا" د شرط مثال يي لكه: "مَا تَصْنَعْ إِنْ خَيْرًا وَإِنْ شَرًّا تُجْزَ بِهِ. مَنْ يَقُمْ إِنْ زَيْدٌ وَإِنْ عَمْرٌو أَقُمْ مَعَهُ". (جامع الدروس العربية)

بدل او مبدل منه په اعتبار د ظاهر او د ضمیر سره پر څلور (۴) قسمه دي:

۱. اول قسم: دواړه مظهر وي.

۲. دوهم قسم: دواړه مضمر وي.

۳. دريم قسم: اول مظهر دوهم مضمر.

۴. څلورم قسم: اول مضمر دوهم مظهر.

۱. کله کله مبدل مظهر من المظهر وي لکه: "جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ".

۲. کله کله بدل مضمر من المضمر وي لکه: "ضَرَبْتُهُ إِيَّاهُ" لېکن د ابن مالک رحمه الله په نزد باندي دا تاکید دئ بدل نه دئ.

۳. بدل المضمر من المظهر لکه: "ضَرَبْتُ زَيْدًا إِيَّاهُ" او ابن مالک رحمه الله د دې قسم هم انکار کړی دئ او دا يې تاکيد بللی دئ. لېکن دا قول يو څه محل د نظر دئ ځکه د قوي تاکيد په ضعيف سره نه کيږي لېکن بدل واقع کېدای سي لکه: په "زَيْدٌ هُوَ الْفَاضِلُ" کي نحاتو د "هُوَ" بدليت جائز بللی دئ داغه رنګه د "هُوَ" ابتدائيت او فصل يې هم جائز بللی دئ.

۴. بدل المظهر من المضمر په دې کي يو څه تفصيل دئ هغه دا چي د ظاهر بدليت د ضمير غائب څخه مطلقا جائز دي لکه: "وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ".

---

۲. دوهمه ضابطه: فعل د فعل څخه بدل جوړېدای سي ماسوا د بدل البعض مثال يې لکه: "وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ" اسم د اسم څخه بدل واقع کېدای سي لکه: "جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ" جمله د جمله څخه بدل جوړېدای سي لکه: "وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُونَ ۝ أَمَدَّكُمْ بِأَنْعَامٍ وَبَنِينَ" دلته "أَمَدَّكُمْ" ټوله جمله د "أَمَدَّكُمْ" څخه بدل واقع سوی ده او د علامه ابن جني او زمخشري په نزد باندي جمله د مفرد څخه بدل جوړېدای سي لکه: په دې شعر کي "إِلَى اللّٰهِ أَشْكُوْ بِالْمَدِيْنَةِ حَاجَةً وَبِالشَّامِ أُخْرٰى. كَيْفَ يَلْتَقِيَانِ" دلته "كَيْفَ يَلْتَقِيَانِ" بدل دئ د "مِنْ حَاجَةٍ أَوْ أُخْرٰى" څخه، "عَرَفْتُ زَيْدًا أَبُوْ مَنْ هُوَ" لېکن ابن مالک رحمة الله عليه د دې مثال د قرآن کريم څخه پېش کړی دئ لکه: "مَا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ". لېکن حرف هيڅ کله بدل نسي واقع کېدای. (همع الهوامع جلد ۳ صفحه ۱۵۴)

۳. دريمه ضابطه: د بعض نحاتو په نزد باندي په بدل کي جلا مستقل عامل دئ لکه: څنګه چي په متبوع کي مستقل عامل دئ لېکن د جمهورو نحاتو په نزد باندي د دواړو عامل يو دئ لېکن په تابع کي نوی عامل منل کيږي حکما هغه پر دې بنياد چي متبوع مقصود بالعرض ده. (ضوابط نحوية)

داغه رنګه د ظاهر بدلیت د ضمیر متکلم او د ضمیر مخاطب څخه بدل البعض و بدل الاشتمال بیا مطلقا جائز دي د ضمیر مخاطب د بدل بعض مثال لکه: "لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ" دلته "لِمَنْ" جار و مجرور بدل د "لَكُمْ" د مخاطب د ضمیر څخه. د ضمیر متکلم د بدل اشتمال مثال لکه: "بَلَغَنَا السَّمَاءَ مَجْدُنَا وَسَنَاؤُنَا" دلته "مَجْدُنَا" بدل الاشتمال دئ د "بَلَغَنَا" د ضمیر متکلم څخه. لېکن د بدل الکل دپاره دا شرط دئ چي دی به پر شمولیت او پر احاطه باندي دلالت کوي نو بیا د ده بدلیت جائز دئ لکه: "تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا".

دوهمه خبره:

د بدل او مبدل منه اقسام په اعتبار د تعریف و تنکیر سره:

بدل او مبدل منه په اعتبار د تعریف او د تنکیر سره هم پر څلور (۴) قسمه دئ:

۱. اول قسم: کله کله دواړه معرفه وي لکه: "اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ" یا لکه: "إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ. اللهِ الَّذِي".

۲. دوهم قسم: کله کله دواړه نکره وي لکه: "إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا. حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا".

۳. دریم قسم: کله کله مبدل منه نکره وي او بدل معرفه وي لکه: "إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ صِرَاطِ اللهِ".

۴. څلورم قسم: مبدل منه معرفه وي او بدل نکره وي لکه: "بِالنَّاصِيَةِ. نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ" اول دري صورتونه مطلقا جائز دي عند الکل لېکن د غه څلورم صورت په نزد د جمهورو علماء کرامو باندي مطلقا جائز دئ ځکه د دوی په نزد د بدل او مبدل منه په مینځ کي مطابقت په تعریف و تنکیر کي ضروري نه دئ لکه: په دریم صورت کي لېکن په نزد د بعض نحاتو باندي چي په دې صورت کي چونکه ادنی والی او کم والی د بدل تر مبدل منه راځي حالانکه مقصود بالذات بدل دئ نو ځکه د ده د صحت دپاره شرط دا دئ چي د بدل صفت نکره راوړل ضروري دي یعني بدل به نکره موصوفه وي بیا یې بدلیت جائز دي لکه: "بِالنَّاصِيَةِ. نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ" دلته یې صفت په "كَاذِبَةٍ" نکره سره راغلی دئ.

دريمه خبره:

عطف بالحرف ([1]):

ثلورم قسم د توابع څخه عطف بالحرف دئ.

د عطف بالحرف تعريف:

([1]) د عطف اقسام: عطف پر دري قسمه دئ:

۱. اول قسم: اصل عطف پر لفظ يعني پر محل قريب باندي وي لکه: "لَيْسَ زَيْدٌ بِقَائِمٍ وَلَا قَاعِدٍ".

۲. دوهم قسم: کله کله عطف پر محل بعيد باندي راځي لکه: "أَنَّ اللّٰهَ بَرِيءٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ" دلته "رَسُولُهُ" عطف دئ پر لفظ د "اَللّٰهُ" باندي لفظ د "اَللّٰهُ" که څه هم لفظًا منصوب دئ لېکن په محل د رفع کي دئ ځکه دی په حقيقت مبتداء دئ.

۳. دريم قسم: کله کله عطف پر توهم باندي راځي لکه: "لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا وَلَا قَاعِدٍ" دلته توهم دا دئ چي د "لَيْسَ" پر خبر باندي باء حرف جر داخله وه نو ځکه يې و "قَاعِدٍ" ته جرور کړی دئ. يعني "تَوَهُّمًا" باء داخله ده نه حقيقتا. (ضوابط نحوية)

اوله ضابطه: د يوه عامل پر متعدد معمولاتو باندي عطف د يوه حرف عطف په ذريعه باندي جائز دئ لکه: "أَعْلَمَ زَيْدٌ عَمْرًوا بَكْرًا مُقِيمًا وَعَبْدُاللّٰهِ جَعْفَرًا عَاصِمًا دَاخِلًا".

دوهمه ضابطه: د دوه مختلفو عاملين پر معمولين باندي د يوه حرف عطف په ذريعه عطف جائز دئ او که نه دئ په دې مسئله پوله اووه (۷) اقوال دي په دې کي مشهوره دري قولونه دي:

۱. اول قول: د امام فراء رحمة الله عليه په نزد باندي مطلقا جائز دئ.

۲. دوهم قول: د امام سبويه رحمة الله عليه په نزد باندي مطلقا نا جائز دئ.

۳. دريم قول: د جمهورو نحاتو په نزد باندي صرف په يوه صورت کي جائز دي هغه دا چي کله معمول مجرور مقدم وي لکه: "فِي الدَّارِ زَيْدٌ وَالْحُجْرَةِ عَمْرٌو".

کله چي د حرف عطف په ذريعه سره د مبتداء متعدد خبرونه راسي يا د فعل متعدد مفعولات راسي يا متعدد صله جات راسي او د معطوف و معطوف عليه په مينځ کي فاصله کثيره وي نو په هغه ځای کي دوه قسمه عطف جائز دئ:

۱. اول قسم: عطف د مفرد پر مفرد باندي.

۲. دوهم قسم: عطف د جمله پر جمله باندي. لکه: "اَلْبَاءُ لِلْإِلْصَاقِ وَلِلْاِسْتِعَانَةِ".

کله کله معطوف عليه حذف کيږي لکه: "أَفَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ". دلته "اَلَمْ تَأْتِكُمْ" محذوف وي او کله کله معطوف هم حذف کيږي لکه: "فَمَنْ كَانَ مِنكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ" د دې څخه وروسته "فَاَفْطَرَ" معطوف محذوف دئ.

آيا د ظرف زمان عطف پر مکان باندي يا د مکان عطف پر زمان باندي جائز دئ او که نه دئ جائز صاحب صفي د ابو علي فارسي څخه جواز نقل کړی دئ لکه: "وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ". (ضوابط نحوية و تنوير)

عطف بالحرف هغه تابع دئ چي تر حرف عطف څخه وروسته ذکر کيږي دئ او متبوع دواړه مقصود بالنسبة وي او دواړه په نسبت کي سره شريکان وي او ده ته عطف نسق هم ويل کيږي او علامه سبويه رحمه الله د ده نوم باب الشرکت ايښى دئ لکه: "جَائَنِيْ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو" جزء اول ته معطوف عليه او جزء ثاني ته معطوف ويل کيږي.

د معطوف او معطوف عليه د پيژندلو طريقه:

د معطوف د پيژندلو طريقه خو اسانه ده ځکه دی تر حرف عطف وروسته ذکر کيږي د معطوف عليه د پيژندلو طريقه دا ده که چيري د معطوف د معطوف عليه پر ځاى باندي په درولو سره معنى صحيح کېده نو بس داغه معطوف عليه دئ لېکن که چيري په درولو سره معنى خرابېده نو بيا عطف نه صحيح کيږي لکه: "قَامَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو".

څلورمه خبره:

د اسماؤ او د افعالو و ضمائرو او د جملو يو پر بل باندي د عطف کولو مختصره تشريح:

د فعل عطف پر فعل باندي جائز دئ خواه که د ماضي عطف پر مضارع وي لېکن په دې شرط چي ماضي به د مضارع په معنى سره وي او دوهم شرط چي د فعل عطف پر فعل باندي کيږي اتحاد د زمانې شرط دئ لېکن اتحاد د نوع نه دئ شرط لکه: د مضارع عطف پر ماضي باندي او د دې بر عکس لکه: مثال "يَوْمَ يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ". او کله مضارع عطف سي پر ماضي باندي او مضارع د ماضي په معنى سره وي لکه: "أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً".

او د فعل عطف پر اسم باندي جائز دئ په دې شرط چي دوى به سره متشابه المعنى وي لکه: "فَالْمُغِيْرَاتِ صُبْحًا فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا، أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ".

د اسم عطف پر فعل باندي په دې شرط چي متشابه المعنى به وي لکه: "يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ".

د جملې عطف پر مفرد باندي په دې شرط چي جمله به د مفرد په تاويل سره وي يعني دا جمله به يا صفت واقع سوى وي يا حال يا خبر يا د افعال قلوب مفعول لکه مثال: "دَعَانَا لِجَنْبِهِ قَاعِدًا اَوْ قَائِمًا" دلته د "قَاعِدًا" عطف پر "لِجَنْبِهِ" باندي راغلى دي په تقدير د "اَوْ" مقدر سره، داغه رنګه "بَيَاتًا أَوْ

هُمْ قَائِلُونَ" لېکن د مازني، مبرد، او زجاج په نزد باندې د اسم عطف پر فعل باندې يا د فعل عطف پر اسم باندې ناجائز دئ.

پنځمه خبره:

عطف د جملې پر جملې باندې:

دلته دوه (۲) صورتونه جوړېږي:

۱. اول صورت: عطف د جملې فعليې پر جمله اسميه باندې يا بر عکس په دې کې درې مذهبونه دي:

اول مذهب: عند الجمهور مطلقا جائز دي او اصح قول هم داغه دئ.

دوهم مذهب: د ابن جني په نزد باندې مطلقا نا جائز دئ.

دريم مذهب: د ابو علي فارسي په نزد باندې عطف بالواو جائز دئ.

۲. دوهم صورت: عطف د جملې انشائيه پر جمله خبريه يا بر عکس عند الجمهور نا جائز دئ لېکن د علامه صفار او ابو حيان او امام سبويه او د نحويين د يو جماعت په نزد باندې جائز دئ هغه په دليل کې د قرآن کريم دا آيت پېشوي لکه: "وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ" دا ټوله جمله پر ماقبل جمله خبريه باندې عطف ده يا لکه: دا شعر: "وَاِنَّ شِفَائِيْ عِبْرَةٌ مُهْرَاقَةٌ فَهَلْ عِنْدَ رَسْمٍ دَارِسٍ مِنْ مُعَوَّلٍ" دلته عطف د انشاء چې "فَهَلْ عِنْدَ رَسْمٍ" دئ پر خبر باندې چې "وَاِنَّ شِفَائِيْ" دئ، لېکن د جمهورو د طرف څخه دا جواب دئ چې دلته عطف د انشاء پر انشاء دئ ځکه دلته "قُلْ" امر حاضر مقدر دئ يا عطف القصة على القصة ده.

د ضمائرو عطف:

پر اسم ظاهر او پر ضمير منفصل او متصل باندې بغير د څه شرط څخه عطف صحيح کېږي د ظاهر مثال لکه: "قَامَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو" د ضمير منفصل مثال لکه: "اِيَّاكَ وَالْاَسَدَ" د ضمير منصوب متصل مثال لکه: "جَمَعْنَاكُمْ وَالْأَوَّلِيْنَ" لېکن پر ضمير مرفوع متصل خواه که بارز وي او که مستتر وي پر ده باندې د عطف کولو دپاره شرط دا دئ چې د ده تاکيد به په منفصل سره راغلی وي لکه: "لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ" او پر ضمير مجرور متصل باندې د عطف کولو دپاره شرط دا دئ: چې

اعاده د جار (۱) ضروري ده خواه که جار حرف جر وي لکه: "فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ". يا جار اسم مضاف وي لکه: "قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ" لیکن عند البعض اعاده د جار نه ده ضروري لکه: "وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ. تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ".

شپږمه خبره:

عطف بیان (۲):

د توابع څخه پنځم قسم عطف بیان دئ.

د عطف بیان تعریف:

"اَلتَّابِعُ الْمُشَبَّهُ لِلصِّفَةِ فِي تَوْضِيحِ مَتْبُوْعِهِ إِنْ كَانَ مَعْرِفَةً وَتَخْصِيصِ إِنْ كَانَ نَكِرَةً". عطف بیان هغه تابع غیر صفت دئ چي خپل متبوع روښانه او واضح کوي که چیري دوی دواړه معرفه وه یا په متبوع کي تخصیص پیدا کوي که چیري دواړه نکره وه لکه: "أَقْسَمَ (۳) بِاللهِ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرَ. اِشْتَرَيْتُ حُلِيًّا سِوَارًا".

---

(۱) د بصریین په نزد باندي اعاده د جار واجب ده ځکه ضمیر مشابه دئ د تنوین سره لکه: څنګه چي پر تنوین باندي عطف نه دئ جائز داغه رنګه پر ده باندي هم نه دئ جائز ځکه د متعاطفین دپاره دا ضروري ده چي هغه به یو د بل پر ځای د واقع کېدلو صلاحیت لري چونکه ضمیر مجرور د معطوف پر ځای باندي د واقع کېدلو صلاحیت نه لري نو ځکه پر ده باندي عطف بغیر د اعاده د جار نه صحیح کیږي.

لیکن ابن مالک رحمة الله علیه دا جواب ور کړی دئ که چیري د ضمیر د تنوین سره د مشابهت په وجه عطف ممتنع دئ نو بیا باید چي د تنوین په شان د ده تاکید او بدل واقع کېدل هم ممتنع سي حالانکه دا بالاجماع جائز دي. (تنویر)

(۲) ابو حیان د عطف بیان وجه د تسمیه دا بیان کړې ده چونکه چي په ده کي د زیادت د بیان دپاره د اول لفظ تکرار وي نو ځکه ده ته عطف بیان ویل کیږي د جمهورو بصریین په نزد باندي عطف بیان په معرفه پوري خاص دئ لیکن د کوفیین او د بعض بصریین لکه: ابو علي فارسي، ابن جني او د متاخرین څخه زمخشري ابن عصفور او د ابن مالک رحمة الله علیه په نزد باندي عطف بیان په معرفه پوري نه دئ خاص لکه: دا قول د الله تعالی "أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ" داغه رنګه دا قول د الله تعالی "مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ".

جمهور بصریین وایي: چي بیان هغه شی واقع کېدای سي چي معلوم وي او نکره خو مجهوله وي او مجهول د مجهول بیان نسي جوړېدای لیکن د دې څخه بعض نحاتو دا جواب ور کړی دئ چي دلته بعض نکره اخص وي او دا ښکاره خبره ده چي اخص د غیر اخص بیان کولای سي. (ضوابط نحویه)

(۳) په دې مثال کي عمر عطف بیان دئ او ابو حفص مُبَیَّن دئ او ابو حفص د حضرت عمر رضي الله عنه کنیت دئ دلته عمر د ابو حفص دپاره هغه وخت بیان جوړېدای سي چي کله عمر تر ابو حفص زیات مشهوره وي او دلته عمر در ابو حفص زیات مشهوره دئ.

د عطف بيان د پېژندلو طريقه:

لفظاً يې د پېژندلو طريقه دا ده چي تابع او متبوع به دواړه اسمونه وي او يو به علم وي او بل به کنيت وي چي وروسته کم يو ذکر سي هغه به عطف بيان وي او مخکنی به متبوع او مُبَيَّن وي معناً يې د پېژندلو طريقه دا ده چي د ده په معنی کي د (يعني) لفظ راځي لکه "اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرَ" قسم يې خوړلی وو ابو حفص يعني عمر.

د عطف بيان شرائط:

د عطف بيان دپاره هغه شرطونه دي کم چي د صفت دپاره دي يعني په لسو شيانو کي مطابقت غواړي او په ترکيب کي به په يوه وخت کي څلور دانې موجود وي([1]).

د عطف بيان او د صفت په مينځ کي فرق:

د عطف بيان او د صفت په مينځ کي درې (۳) فرقونه دي:

۱. اول فرق يې دا دئ: عطف بيان مُوَضِّح او مُخَصِّص د ذات وي صفت د ذات وضاحت نه کوي.

۲. دوهم فرق يې دا دئ: صفت حقيقي پر ضمير باندي مشتمل وي او عطف بيان پر ضمير باندي نه وي مشتمل.

دا ذکر سوي مصرع د يو اعرابي قول دئ چي کله دی د حضرت عمر ﷛ په خدمت کي حاضر سو او ورته يې وويل چي جناب زما کور ليري دئ او زما اوښه بالکل وچه کلکه ده او دنګره سوې ده او د دې ملا هم زخمي ده او د دې په پښو کي سوري دي نو مهرباني وکه ماته يوه اوښه راکړه حضرت عمر ﷛ د ده په جواب کي قسم وخوړئ چي ته دروغ وايې او د اوښې د ورکولو څخه يې انکار وکړئ اعرابي چي دا واورېدل نو روان سو او د خپلي اوښې په شا پسي وه په سخته دبرېنه مځکه کي روان وو او دا شعر يې د ځانه سره وايي: "اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرْ. مَا مَسَّهَا مِنْ نَقَبٍ وَّلَا دَبَرٍ اِغْفِرْلَهُ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ فَجَرْ": ترجمه: حضرت عمر ﷛ قسم خوړلی دئ چي د دې پښې نه سوري مسح کړی دي او نه د دې ملا زخم مسح کړی ده ای الله که چيري ده ناحقه قسم خوړلی وي نو ده ته مغفرت وکړې اتفاقا حضرت عمر ﷛ د يو شلې څخه راپورته کېدئ کله چي يې دا واورېدل نو يې و فرمايل ای الله ته دا اعرابي رشتونی کړې، ځکه اعرابي د حضرت عمر ﷛ مغفرت مشروط کړی وو که چيري ده ناحقه قسم خوړلی وو نو ته د ده مغفرت و کړې نو که چيري اعرابي رشتيا ګويه سي نو د حضرت عمر ﷛ قسم به ناحقه سي نو د حضرت عمر ﷛ مغفرت به وسي کله چي حضرت عمر ﷛ د ده اوښه وليده نو اعرابي يې رشتيا ګولی پيدا کړئ بيا يې يو اوښ او يو څه د لاري توښه يې ور کړه او رخصت يې کړئ. (نصر الخبير)

([1]) پاته سو د علامه زمخشري "مَقَامُ اِبْرَاهِيْمَ" د "فِيْهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ" څخه عطف بيان جوړول د نحاتو د اجماع خلاف دي ځکه د بصريين او کوفيين اجماع ده چي معرفه د نکره څخه عطف بيان نسي واقع کېدای داغه رنګه مفرد د جمع څخه عطف بيان نسي واقع کېدای. (ضوابط نحويه)

۳. دریم فرق یې دا دئ: چې صفت اکثره مشتق راځي او عطف بیان اکثره جامد راځي.

د صفت او د عطف بیان په مینځ کې مابه الاشتراک:

عطف بیان او صفت په دوو (۲) شیانو کې شراکت سره لري.

۱. اول: دواړه مُوَضِّحْ او مُخَصِّصْ دي.

۲. دوهم: په دواړو کې قطع د متبوع څخه جائز ده.

اوومه خبره:

د بدل او عطف بیان په مینځ کې فرق:

د بدل او عطف بیان په مینځ کې فرق په یو څو شیانو کې دئ:

۱. اول فرق یې دا دئ: چې عطف بیان ضمیر [1] او تابع د ضمیر نه واقع کیږي او بدل واقع کیږي.

۲. دوهم فرق یې دا دئ: عطف بیان فعل او تابع د فعل نه واقع کیږي او بدل واقع کیږي.

۳. دریم فرق یې دا دئ: عطف بیان جمله او تابع د جملې نه واقع کیږي او بدل واقع کیږي.

۴. څلورم فرق یې دا دئ: د عطف بیان مطابقت د خپل متبوع سره په تعریف و تنکیر کې لازم دئ د بدل مطابقت نه دئ لازم.

۵. پنځم فرق یې دا دئ: عطف بیان بعینه لفظ د متبوع نسي واقع کېدای بخلاف د بدل بدل واقع کېدای سي په دې شرط چې په ده کې به بیان تر متبوع زیات وي.

۶. شپږم فرق یې دا دئ: عطف بیان په حکم د تکرار د عامل کې نسي کېدای بخلاف د بدل.

۷. اووم فرق یې دا دئ: د عطف بیان او صفت دپاره اسمیت ضروري دئ بخلاف د نورو توابع.

---

(۱) ضمیر په اتفاق سره عطف بیان نسي واقع کېدای او د بعض نحاتو په نزد باندې د ضمیر څخه عطف بیان واقع کول جائز دي لکه: ددې مثال علامه زمخشري رحمة الله علیه دا قول پېش کړی دئ "أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ" دلته "أَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ" ده ضمیر څخه عطف بیان واقع سوی دئ که څه هم اشموني دا قول رد کړی دئ، لېکن بعض نحاتو ودې قول ته ترجیح ور کړې ده. (اشموني)

فائده:

د ابن عصفور او علامه زمخشري د عطف بيان دپاره دا شرط لګولی دئ چې دی به تر متبوع اعرف وي که څه هم دا خبره د علامه سبويه د تصريح خلاف ده ځکه علامه سبويه په "يَا هٰذَا الْجُمْعَةُ" کې "هٰذَا" اسم اشاره متبوع مبين جوړه کړې ده او "اَلْجُمْعَةُ" يې عطف بيان جوړ کړی دئ حالانکه اسم اشاره تر معرف باللام اوضح ده او دا خبره د قياس هم مخالفه ده ځکه عطف بيان په منزله د نعت سره دئ او د نعت دپاره بالاتفاق اعرف والی او اخص والی نه دئ ضروري.

جملې:

عنوان	خبريه، انشائيه	مسند	مسند اليه	تعيين حروف عامله وغير عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعيين مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعيين معطوف، معطوف عليه
فَالْتَقَطَهٗ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا	خبريه فعليه	(اِلْتَقَطَ) فعل	(آلُ) (فِرْعَوْنَ) فاعل	(فَ) عاطفه (اللام) للعاقبة جاره (اللام) جاره (وَ) عاطفه	(اِلْتَقَطَ) فعل معلوم (يَكُوْنَ) فعل ناقص	(آلُ) اسم مضاف	(آلُ) فاعل (هُوَ) اسم يكون	(هٗ) مفعول به (يَكُوْنَ) منصوب بأن مقدره (عَدُوًّا) (حَزَنًا) خبر يَكُوْنَ	(فِرْعَوْنَ) غير منصرف مضاف اليه (لَهُمْ) باعتبار متعلق محذوف حال مقدم من (عَدُوًّا)	(فَالْتَقَطَهٗ) معطوف على الاستئناف المقدر (عَدُوًّا) معطوف عليه (حَزَنًا) معطوف
اَنِّيْ اَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ فَيَكُوْنُ طَيْرًا	خبريه اسميه	(اَخْلُقُ) خبر (اِنَّ)	(ى) اسم اِنَّ	(اِنَّ) مشبه بالفعل (اللام، مِنْ، كَ) جاره (فَ) عاطفه (فِ) جاره (فَ) عاطفه	(اَخْلُقُ، اَنْفُخُ) فعل معلوم (يَكُوْنُ) فعل ناقص	(هَيْئَةِ) اسم مضاف	(اَخْلُقُ، اَنَا) فاعل (اَنْفُخُ) فعل مضارع (اَنَا) فاعل (يَكُوْنُ) (هُوَ) اسم معطوف على اَخْلُقُ	(طَيْرًا) خبر فعل ناقص (ي) محلا منصوب اسم (اِنَّ)	(كُمْ، الطِّيْنِ) مجرور بحرف الجر متعلق (اَخْلُقُ) (هَيْئَةِ) مجرور بحرف الجر متعلق محذوف (الطَّيْرِ) مضاف اليه (ه) مجرور بحرف الجر متعلق (اَنْفُخُ)	(اَخْلُقُ) معطوف عليه (فَاَنْفُخُ فَيَكُوْنُ) معطوف
ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا	انشائيه اسميه	(اَشَدُّ) خبر	(اَنْتُمْ) مبتدا	(أ) همزه استفهام توبيخي (اَمْ) عاطفه	(بَنٰى) فعل معلوم	(اَشَدُّ) اسم تفضيل	(اَنْتُمْ) مبتدا (اَشَدُّ) مع ضمير خبر (اَلسَّمَاءُ) معطوف على (اَنْتُمْ) (هُوَ) فاعل	(خَلْقًا) تميز (هَا) مفعول		(اَنْتُمْ) معطوف عليه (اَلسَّمَاءُ) معطوف
ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً	خبريه فعليه	(قَسَتْ) فعل	(قُلُوْبُكُمْ) فاعل	(ثُمَّ) عاطفه (مِنْ) جاره (اَلْ) للعهد (كَ) للخطاب (فَ) تعليليه (كَ) جاره (اَوْ) عاطفه	(قَسَتْ) فعل معلوم	(قُلُوْبُ) اسم مضاف (بَعْدِ) ظرف مضاف (اَشَدُّ) اسم تفضيل تام	(قُلُوْبُ) فاعل (قَسَتْ) (ذُوْ) فاعل (اَشَدُّ) (هِيَ) مبتدا (كَالْحِجَارَةِ) باعتبار متعلق خبر	(قَسْوَةً) تميز من ضمير اسم تفضيل	(كُمْ) مضاف اليه (بَعْدِ) مجرور متعلق (قَسَتْ) (ذٰلِكَ) مضاف اليه (اَلْحِجَارَةِ) مجرور بحرف الجر متعلق محذوف	(قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ) معطوف على الخ (فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ) جمله معطوف عليه (اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً) معطوف

عنوان	خبریہ / انشائیہ	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین معطوف ومعطوف علیہ
إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا	خبریہ اسمیہ	(هَدَيْنَا) خبر (إِنَّ)	(نَا) اسم (إِنَّ)	(إِنَّ) مشبہ بالفعل (إِمَّا) تفصیلیہ (وَ) زائدہ (إِمَّا) تفصیلیہ عاطفہ	(هَدَيْنَا) فعل معلوم	(شَاكِرًا) اسم فاعل (كَفُورًا) اسم مبالغہ عامل فی ضمیرہ (هُوَ)	(هَدَيْنَا) خبر ان (هُوَ) فاعل الصفۃ	(هُ) مفعول اول (السَّبِيلَ) مفعول ثانی (شَاكِرًا) حال (كَفُورًا) معطوف	+	(شَاكِرًا) معطوف علیہ (كَفُورًا) معطوف
مَاتَ النَّاسُ حَتَّى الْأَنْبِيَاءُ	خبریہ فعلیہ	(مَاتَ) فعل	(النَّاسُ) فاعل	(حَتَّى) عاطفہ	(مَاتَ) فعل معلوم	+	(النَّاسُ) فاعل (الْأَنْبِيَاءُ) معطوف	+	+	(النَّاسُ) معطوف علیہ (الْأَنْبِيَاءُ) معطوف
وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ	خبریہ فعلیہ	(قَالُوا) فعل	(هُمْ) یا (وَاوْ) فاعل	(وَ) استینافیہ (بَلْ) عاطفہ للاضراب	(اتَّخَذَ) متعدی بیک مفعول (قَالُوا، نُسَبِّحُ) مقدر فعل معلوم	(سُبْحَانَ) اسم مضاف (مُكْرَمُونَ) اسم مفعول	(هُمْ) فاعل (قَالُوا) (الرَّحْمَنُ) فاعل (اتَّخَذَ) (نَحْنُ) فاعل (نُسَبِّحُ) مقدر (هُمْ) مبتدا محذوف (عِبَادٌ) خبر (مُكْرَمُونَ) صفت	(وَلَدًا) مفعول ثانی (الْمَلَائِكَةَ) محذوف مفعول اول (اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ) فی محل النصب مقولہ قول	(هُ) مضاف الیہ	(وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا) معطوف علیہ (عِبَادٌ مُكْرَمُونَ) معطوف
جَاءَ سَعِيدٌ لَا خَالِدٌ	خبریہ فعلیہ	(جَاءَ) فعل	(سَعِيدٌ) فاعل	(لَا) عاطفہ	(جَاءَ) فعل معلوم	+	(سَعِيدٌ) فاعل (خَالِدٌ) معطوف	+	+	(سَعِيدٌ) معطوف علیہ (خَالِدٌ) معطوف
مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ	خبریہ فعلیہ	(أَبَا أَحَدٍ) خبر (كَانَ)	(مُحَمَّدٌ) اسم (كَانَ)	(مَا) نافیہ (وَ) زائدہ (لَكِنْ) عاطفہ عند ابن عصفور (مِنْ) جارہ	(كَانَ) فعل ناقص (كَانَ) محذوف بعد (لَكِنْ)	(أَبَا) (رِجَالِ) (رَسُولَ) اسم مضاف	(مُحَمَّدٌ) اسم (كَانَ) (هُوَ) اسم (كَانَ) مقدر	(أَبَا) خبر فعل ناقص (رَسُولَ) معطوف	(أَحَدٍ، كُمْ) (اللَّهِ) مضاف الیہ (رِجَالِ) مجرور بحرف الجر متعلق بمحذوف صفت لأحد	(أَبَا أَحَدٍ) معطوف علیہ (رَسُولَ اللَّهِ) معطوف
كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ	انشائیہ فعلیہ	(تَكْفُرُونَ) فعل	(أَنْتُمْ) وَاوْ فاعل	(بِ) جارہ ظرف لغو متعلق (بِتَكْفُرُونَ)	(تَكْفُرُونَ) فعل	(كَيْفَ) استفہام تعجب لیس للشرط غیر عامل	(تَكْفُرُونَ) فعل مضارع مرفوع (۳) ضمیر (أَنْتُمْ) (وَاوْ) فاعل	(كَيْفَ) مبنی محلا حال من ضمیر (تَكْفُرُونَ)	(اللَّهِ) مجرور بحرف الجر متعلق (تَكْفُرُونَ)	(كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ) جملہ مستانفہ لا محل لہا من الاعراب (كَيْفَ تَكْفُرُونَ) معطوف علیہ
وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا	خبریہ اسمیہ	(أَمْوَاتًا) خبر (كَانَ)	(تُمْ) اسم (كَانَ)	(وَ) حالیہ غیر عاملہ	(كُنْ) فعل ناقص	+	(تُمْ) مرفوع محلا اسم (كَانَ)	(أَمْوَاتًا) خبر كَانَ	+	(وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا) جملہ فی محل النصب مع تقدیر (قَدْ) (وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا) معطوف علیہ
فَأَحْيَاكُمْ	خبریہ فعلیہ	(أَحْيَا) فعل	(هُوَ) فاعل	(فَ) عاطفہ غیر عاملہ	(أَحْيَا) فعل معروف	+	(هُوَ) فاعل	(كُمْ) منصوب محلا مفعول بہ	+	(فَأَحْيَاكُمْ) فی محل النصب معطوف
ثُمَّ يُمِيتُكُمْ	خبریہ فعلیہ	(يُمِيتُ) فعل	(هُوَ) فاعل	(ثُمَّ) عاطفہ غیر عاملہ	(يُمِيتُ) فعل معروف	+	(هُوَ) فاعل	(كُمْ) منصوب محلا مفعول بہ	+	(فَأَحْيَاكُمْ) معطوف علیہ (يُمِيتُكُمْ) جملہ فی محل النصب معطوف

عنوان	خبر و انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین معطوف و معطوف علیہ
ثُمَّ يُحْيِيكُمْ	خبریہ فعلیہ	(يُحْيِي) فعل	(هُوَ) فاعل	(ثُمَّ) عاطفہ غیر عاملہ	(يُحْيِي) فعل معروف	+	(هُوَ) فاعل	(كُمْ) منصوب محلا مفعول بہ	+	(يُحْيِيكُمْ) معطوف علیہ (ثُمَّ يُحْيِيكُمْ) فی محل النصب معطوف
ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ	خبریہ فعلیہ	(تُرْجَعُونَ) فعل	(أَنْتُمْ، وَاوْ) فاعل	(ثُمَّ) عاطفہ غیر عاملہ (إِلَى) جارہ	(تُرْجَعُونَ) فعل معروف	+	(أَنْتُمْ وَاوْ) فاعل	+	(هٗ) مجرور محلا ظرف لغو متعلق (بِتُرْجَعُونَ)	(ثُمَّ يُحْيِيكُمْ) معطوف علیہ (تُرْجَعُونَ) فی محل النصب معطوف

التمرين:

"فَوَكَزَهُ مُوسَى فَقَضَى عَلَيْهِ،، أَفْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا أَمْ بِهِ جِنَّةٌ،، وَلَا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ،، ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ثُمَّ نَظَرَ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ،، أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ بَلْ جَاءَهُمْ بِالْحَقِّ،، إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ،، اَلْعَدَدُ إِمَّا زَوْجٌ وَإِمَّا فَرْدٌ،، غَلَبَكَ النَّاسُ حَتَّى الصِّبْيَانَ،، قَامَ بَكْرٌ لٰكِنْ خَالِدٌ لَمْ يَقُمْ،، خُذِ الْكِتَابَ لَا الْقَلَمَ".

جملے:

عنوان	خبر و انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین مبین و عطف بیان
مِنْ وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَى مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ	خبریہ ظرفیہ	(مِنْ وَرَائِهِ) باعتبار متعلق خبر مقدم (يُسْقَى) فعل	(جَهَنَّمُ) مبتداء (هُوَ) نائب فاعل	(مِنْ) جارہ (وَ) عاطفہ (مِنْ) جارہ	(يُسْقَى) فعل مجہول	(ثَابِتٌ) اسم فاعل (هُوَ) فاعلہ (وَرَاءَ) اسم مضاف (صَدِيدٍ) صیغہ صفت	(مِنْ وَرَائِهِ) محلا خبر (جَهَنَّمُ) مبتداء (هُوَ) نائب فاعل	+	(وَرَاءِ) مجرور ظرف الجر ظرف مستقر متعلق (ثَابِتٌ) (ہ) مضاف الیہ (مَاءٍ) مجرور متعلق (يُسْقَى) (صَدِيدٍ) صفت	(مَاءٍ) مبین یا مبدل منہ (صَدِيدٍ) عطف بیان یا بدل
وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا	خبریہ فعلیہ	(أَرْسَلَ) فعل محذوف	(نَا) فاعل	(وَ) عاطفہ (إِلَى) جارہ	(أَرْسَلَ) فعل معروف	(أَخَا) اسم مضاف	(نَا) فاعل	(أَخَاهُمْ) مفعول للفعل المحذوف (أَرْسَلْنَا) (هُودًا) بدل منہ	(عَادٍ) مجرور ظرف مستقر متعلق (بِأَرْسَلْنَا) محذوف (هُمْ) مضاف الیہ	(أَخَا) مبین یا مبدل منہ (هُودًا) عطف بیان یا بدل جو منصوبا محلا لیا من الاعراب
ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ	خبریہ اسمیہ	(لَا رَيْبَ فِيهِ) خبر اول (هُدًى لِلْمُتَّقِينَ) خبر ثانی	(ذٰلِكَ الْكِتَابُ) مبتداء	(ل) للبعد (كَ) للخطاب (لَا) نافیہ للجنس (فِي، لِ) جارہ	+	(ذَا) اسم اشارہ غیر عاملہ (هُدًى) بمعنی (الهادی) (الْمُتَّقِينَ) اسم فاعل عامل فی ضمیرہ	(ذٰلِكَ) مرفوع محلا مبتداء (لَا رَيْبَ فِيهِ) خبر اول (هُدًى لِلْمُتَّقِينَ) خبر ثانی	(رَيْبَ) مبنی بر فتح فی محل النصب	(هٗ) مجرور ظرف مستقر متعلق محذوف (لِلْمُتَّقِينَ) مجرور متعلق (بِهُدًى) او بمحذوف نعت لہ	(ذٰلِكَ) مبین (الْكِتَابُ) عطف بیان جملہ لا محل لہا من الاعراب ابتدائیہ

عنوان	خبر، انشاء	مسند	مسند الیہ	تعین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعین مبین و عطف بیان
قَالَ سَيِّدُنَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	خبریہ فعلیہ	(قَالَ) فعل	(سَيِّدُنَا) فاعل	(عَلَى) جارہ (وَ) عاطفہ	(قَالَ، صَلَّى، سَلَّمَ) فعل معروف	(سَيِّدُ) اسم مضاف	(سَيِّدُنَا) فاعل (مُحَمَّدٌ) عطف بیان (اَللّٰهُ) فاعل (هُوَ) فاعل	+	(نَا) مضاف الیہ (هٖ) مجرور متعلق (صَلَّى)	(سَيِّدُنَا) مبین (مُحَمَّدٌ) عطف بیان
جَاءَ عَبْدُ اللّٰهِ اَبُو الْبَرَكَاتِ	خبریہ فعلیہ	(جَاءَ) فعل	(عَبْدُ اللّٰهِ) فاعل	+	(جَاءَ) فعل معلوم	(اَبُوْ) (عَبْدُ) اسم مضاف	(عَبْدُ) فاعل (اَبُوْ) عطف بیان	+	(اَللّٰهِ، اَلْبَرَكَاتِ) مضاف الیہ	(عَبْدُ اللّٰهِ) مبین (اَبُو الْبَرَكَاتِ) عطف بیان
أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِيْنَ	خبریہ ظرفیہ	(عَلَيْهِ) محذوف خبر مقدم باعتبار متعلق	(كَفَّارَةٌ) مبتداء مؤخر	(أَوْ) عاطفہ	+	(طَعَامُ) اسم مضاف	(عَلَيْهِ) محذوف باعتبار متعلق خبر مقدم (كَفَّارَةٌ) مبتداء (طَعَامُ) عطف بیان	+	(مَسَاكِيْنَ) جمع منتہی الجموع غیر منصرف فیہ الجر تابع للنصب	(كَفَّارَةٌ) مبین (طَعَامُ) عطف بیان
وَالصَّلَاةُ عَلَى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ	خبریہ اسمیہ	(عَلَى رَسُوْلِهٖ) باعتبار متعلق خبر	(الصَّلَاةُ) مبتداء	(وَ) عاطفہ (عَلَى) جارہ	+	(رَسُوْلِ) اسم مضاف	(اَلصَّلَاةُ) مبتداء (عَلَى رَسُوْلِهٖ) باعتبار متعلق خبر	+	(رَسُوْلِ) مجرور متعلق بمحذوف (هٖ) مضاف الیہ (مُحَمَّدٍ) عطف بیان	(رَسُوْلِ) مبین (مُحَمَّدٍ) عطف بیان
غَضِبَ الْكَلِيْمُ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ	خبریہ فعلیہ	(غَضِبَ) فعل	(الْكَلِيْمُ) فاعل	(عَلَى) جارہ	(غَضِبَ) فعل معلوم	+	(اَلْكَلِيْمُ) فاعل (مُوْسٰى) عطف بیان (عَلَيْهِ) باعتبار متعلق خبر مقدم (اَلسَّلَامُ) مبتداء	+	(هٖ) مجرور متعلق بمحذوف	(اَلْكَلِيْمُ) مبین (مُوْسٰى) عطف بیان
جَاءَ عَالِمٌ زَيْدٌ	خبریہ فعلیہ	(جَاءَ) فعل	(عَالِمٌ) فاعل	+	(جَاءَ) فعل معلوم	+	(عَالِمٌ) فاعل (زَيْدٌ) عطف بیان	+	+	(عَالِمٌ) مبین (زَيْدٌ) عطف بیان
إِمَامُنَا النُّعْمَانُ أَبُوْ حَنِيْفَةَ	خبریہ اسمیہ	(النُّعْمَانُ) خبر	(إِمَامُنَا) مبتداء	+	+	(أَبُوْ) (إِمَامُ) اسم مضاف	(إِمَامُنَا) مبتداء (اَلنُّعْمَانُ) خبر (أَبُوْ حَنِيْفَةَ) عطف بیان	+	(نَا) (حَنِيْفَةَ) مضاف الیہ غیر منصرف تانیث لفظی، علیت	(اَلنُّعْمَانُ) مبین (أَبُوْ حَنِيْفَةَ) عطف بیان

التمرین:

"آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ،، رَبِّ مُوْسٰى وَهَارُوْنَ،، هٰذَا عَلِيٌّ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ،، جَاءَ سَيْفُ اللّٰهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ،، قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ اَبُوْ هُرَيْرَةَ،، ذَهَبَ عُثْمَانُ ذُو النُّوْرَيْنِ،، هٰذَا عَسْجَدٌ اَیْ ذَهَبٌ،، جَاءَ زَيْدٌ اَبُوْ حَارِثٍ،، وَإِلٰى ثَمُوْدَ أَخَاهُمْ صَالِحًا"۔

فصل دوم در منصرف و غیر منصرف الخ:.................. الی قوله بحث مستثنی.

ترجمه:

دوهم فصل د منصرف او غیر منصرف په بیان کي دئ.
منصرف هغه دئ چي په ده کي یو سبب د اسبابو څخه د منع صرفی نه وي. او غیر منصرف هغه دئ چي په ده کي دوه سببه د اسبابو څخه د منع صرفی وي، (یا یو سبب چي قائم مقام د دوو سببو وي).
اسباب د منع صرفی نه (۹) دي: عدل، وصف، تانیث، معرفه، عجمه، جمع، ترکیب، وزن فعل، الف و نون زائدتان.
چنانچه په "عُمَرُ" کي عدل او علمیت دئ، او "ثُلٰثَ مَثْلَثَ" کي وصف او عدل دئ، په "طَلْحَةُ" کي تانیث لفظي او علمیت دئ، په "زَیْنَبُ" کي تانیث معنوي او علمیت دئ، په "حُبْلٰی" کي تانیث دئ په الف مقصوره سره، او په "حَمْرَاءُ" کي تانیث دئ په الف ممدوده سره، او دا تانیث یواځي د دوو سببو قائم مقام دئ، په "اِبْرَاهِیْمُ" کي عجمه او علمیت دئ، په "مَسَاجِدُ" او "مَصَابِیْحُ" کي جمع منتهی الجموع ده چي قائم مقام د دوو سببو ده، او په "بَعْلَبَکَّ" کي ترکیب او علمیت دئ، په "اَحْمَرُ" کي وزن فعل او علمیت دئ، په "سَکْرَانُ" کي الف و نون زائدتان او وصف دئ، په "عُثْمَانُ" کي الف و نون زائدتان او علمیت دئ. د غیر منصرف نور تحقیق به د نورو کتابو څخه معلوم سي.

فصل سوم در حروف غیر عامله:

ترجمه:

دریم فصل د حروف غیر عامله په بیان کي دئ، او هغه شپاړس (۱٦) قسمه دي:
اول حروف تنبیه، هغه دري (۳) دي: "اَلَا. اَمَا. هَا". دوهم حروف ایجاب، هغه شپږ (٦) دي: "نَعَمْ. بَلٰی. اَجَلْ. اِیْ. جَیْرِ. اِنَّ". دریم حروف تفسیر دي، هغه دوه (۲) دي: "اَیْ. اَنْ"، لکه د الله تعالی په دې قول کي: "وَنَادَیْنَاهُ أَنْ یَا إِبْرَاهِیمُ" څلورم حروف مصدریه دي، هغه دري (۳) دي: "مَا. اَنْ. اَنَّ". او دوی پر فعل داخلیږي، دپاره د دې چي فعل په تاویل د مصدر و ګرځوي. پنځم حروف تحضیض دي، هغه څلور (۴) دي: "الا. هَلَّا. لَوْلَا. لَوْمَا". شپږم حرف توقع دئ، هغه یواځي "قَدْ"

دئ. "قَدْ" د تحقيق دپاره راځي پر ماضي باندې او ماضي حال ته قريب کوي او په مضارع کي د قلت دپاره استعماليږي. اووم حروف استفهام دي، هغه درې (۳) دي: "مَا. هَمْزَة. هَلْ". اتم حرف ردع دئ، هغه يوائحي "كَلَّا" دئ. د را ګرځول او بندولو په معنى دئ، او داغه رنګه د "حَقًّا" په معنى هم استعماليږي، لکه "كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ". نهم تنوين دئ، او تنوين پر پنځه (۵) قسم دئ: تنوين تمکن لکه: "زَيْدًا" تنوين تنکير لکه: "صَهٍ" يعني "اُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِي وَقْتٍ مَّا" (يعني په يو وخت د وختو کي خو يو څه خاموشه سه!)، تنوين عوض لکه: "يَوْمَئِذٍ"، تنوين مقابله لکه: "مُسْلِمَاتٌ"، تنوين ترنم چي د اشعارو په آخر کي راځي لکه: "اَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ وَ قُوْلِيْ اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ"، دا تنوين په اسم، فعل او حرف درو سرو کي را تلای سي، هغه اول يوائحي په اسم کي راځي. لسم نون تاکيد دئ، هغه د فعل مضارع په آخر کي راځي ثقيله وي او که خفيفه وي، لکه "اِضْرِبَنَّ. اِضْرِبَنْ". يوولسم حروف زيادت دي، هغه اته (۸) دي، "اِنْ. اَنْ. مَا. لَا. مِنْ. کاف. بَا. لَام" د دې آخري څلورو تذکره په حروف جاره وو کي سوې ده. دولسم حروف شرط دي، هغه دوه (۲) دي، "اَمَّا. لَوْ" اَمَّا د تفسير دپاره راځي او "فَا" د ده په جواب کي ضرور وي، لکه: "فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ فَأَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ. وَأَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ" او "لَوْ" د انتفاء د ثاني دپاره راځي په سبب د انتفاء د اول، لکه: "لَوْ كَانَ فِيْهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا". ديارلسم "لَوْلَا" دئ، او دی وضع سوی دئ دپاره د انتفاء د ثاني د وجه د وجود د شي اول، لکه: "لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ". څوارلسم "لَامْ" مفتوحه دئ، دا د تاکيد دپاره استعماليږي، لکه "لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو". پنځلسم "مَا" بمعنى "مَادَامَ" دئ، لکه: "اَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ". شپاړسم حروف عطف دي، هغه لس (۱۰) دي: "وَاو. فَا. ثُمَّ. حَتّٰى. اَمَّا. اَوْ. اَمْ. لَا. بَلْ. لٰكِنَّ" فقط.

الدرس الثامن و الثلاثون:

د نن د سبق خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

.حروف غير عامله:

د حروف غير عامله تعريف:

حروف غير عامله هغه حروف دي چي په لفظو کي عمل نه کوي او د يو خاص معنى دپاره وضع سوي وي.

د حروف غير عامله اقسام:

حروف غير عامله پر شپاړس قسمه دي:

۱. حروف تنبيه.	۲. حروف ايجاب.
۳. حروف تفسير.	۴. حروف مصدريه.
۵. حروف تحضيض.	٦. حروف توقع.
۷. حروف استفهام.	۸. حروف ردع.
۹. تنوين.	۱۰. نون تاکيدي.
۱۱. حروف زيادت.	۱۲. حروف شرط.
۱۳. لَوْلَا.	۱۴. لام مفتوح برائ تاکيد.
۱۵. مَا بمعنى مَا دَامَ.	۱٦. حروف عطف.

دوهمه خبره:

اول حروف تنبيه دي:

د حروف تنبيه تعريف:

حروف تنبيه هغه حروف دي چي د جملې په شروع کي د مخاطب د تنبيه دپاره راوړل کيږي دپاره د دې چي د مخاطب پوره توجه د کلام و طرف ته سي او دا حروف هيڅ عمل نه کوي.

د حروف تنبيه تعداد:

حروف تنبيه درې دانې دي: "آلَا، اَمَا، هَا".

د حروف تنبيه مختصره تشريح:

اول "آلَا" دئ:

"آلَا" په لفظ کي "هَلَا" هم ویل کیږي د دې مثال لکه: "أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ، أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللهِ قَرِيبٌ".
او "آلَا" د نورو (۱) معناګانو دپاره هم استعمالیږي.

دوهم "اَمَا" دئ:

"اَمَا" په تلفظ کي "هَمَا، عَمَا" هم ویل کېدای سي اکثره د ده څخه وروسته قسم راځي لکه: "اَمَا وَاللهِ لَاُعَذِّبَنَّ زَيْدًا، اَمَا وَالَّذِيْ اَبْكٰى وَاَضْحٰى وَالَّذِيْ اَمَاتَ وَاَحْيٰى".

دریم "هَا" (۲) ده:

"هَا" حرف تنبیه پر اسم اشاره او پر ضمیر باندي داخلیږي چي کله ضمیر مبتداء واقع سوی وي او د حرف نداء او د "اَیٌّ" څخه وروسته یعني پر دري سره شیانو باندي داخلیږي لکه: "هَا اِنَّ عَدُوَّكَ بِالْبَابِ، هٰذَا، هَا أَنْتُمْ هٰؤُلَاءِ، يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ". او په قسم کي پر لفظ د "اَللّٰهُ" باندي هم داخلیږي کله چي حرف قسم محذوف وي لکه: "هَا اَللّٰهُ".

دریمه خبره:

دوهم قسم حروف ایجاب دي:

د حروف ایجاب تعریف:

د ایجاب معنی ثابتول حروف ایجاب هغه حروف دي چي د هغه په ذریعه سره د یو شي اقرار یا خودي د یو شي ثابتول مقصود وي.

د حروف ایجاب تعداد:

حروف ایجاب شپږ داني دي: "نَعَمْ، بَلٰى، اَجَلْ، جَيْرِ، اِیْ، اِنَّ". کله کله "جَلَلْ"، و"لَا" هم استعمالیږي.

---

(۱) "آلَا" کله کله د تمنی دپاره هم راځي، لکه: "اَلَا تَزُوْلُ عِنْدِيْ"، کله د توبیخ دپاره راځي، لکه: "اَلَا زَيْدٌ قَائِمٌ"، کله د عرض دپاره راځي، لکه: "اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ" کله د تحضیض دپاره راځي، لکه: "اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا". (تنویر)

(۲) "ها" اسم فعل په معنی د "خُذْ" سره هم راځي، او د دې تلفظ په الف مقصوره (یعني ها) او الف ممدوده (یعني هاء) دواړو سره کیږي، او د دې په آخر کي کاف خطاب هم ملحق کیږي، لکه: "هَاكَ، هَاءَكَ".
"هَا" واحد مذکر مؤنث، "هَاؤُمَا" تثنیه، "هَاؤُمْ" جمع مذکر مؤنث، لکه "هَاؤُمُ اقْرَءُوْا كِتَابِيَهْ". (تنویر)

د حروف ایجاب مختصره تشریح:

اول "نَعَمْ" دئ:

د "نَعَمْ" د استعمال صورتونه:

"نَعَمْ" معنی (وه) د کلام سابق د تصدیق دپاره راځي که چیري کلام سابق مثبت وي نو بیا په "نَعَمْ" سره د هغه کلام د مثبت والي تاکید راځي لکه: یو څوک پوښتنه وکړي "اَشَرِبَ زَيْدٌ" نو په جواب کي "نَعَمْ" ورته وویل سي او که چیري کلام منفي وي نو بیا په "نَعَمْ" سره د کلام د منفي والي تاکید راځي لکه: څوک وایي: "اَمَا جَاءَ خَالِدٌ" نو په جواب کي "نَعَمْ" ورته استعمال سي.

دوهم "بَلٰی" دئ:

د "بَلٰی" د استعمال صورتونه:

د "بَلٰی" معنی (ولي نه) "بَلٰی" د منفي (۱) کلام په جواب کي راځي دپاره د نفي د باطلولو او لیري کړلو او د کلام د مثبت جوړولو دپاره راځي لکه: "اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلٰی، زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ لَنْ يُبْعَثُوا قُلْ بَلٰی وَرَبِّي".

دریم "اَجَلْ، جَيْرِ، اِنَّ" (۲) دي:

د "اَجَلْ، جَيْرِ، اِنَّ" د استعمال طریقه:

د دې دري سره حروفو استعمال د "نَعَمْ" په شان دئ او دوی د جملې خبریې په شروع کي د تاکید و تصدیق دپاره راځي لکه: "هَلْ فَازَ سُلَيْمٰنُ فِي الْاِمْتِحَانِ". په جواب کي "اَجَلْ، جَيْرِ، اِنَّ" دري سره استعمالیږي بل مثال لکه: د یو سړی دا قول "لَعَنَ اللهُ نَاقَةً حَمَلَتْنِي اِلَيْكَ" عبد الله ابن زبیر په جواب کي ورته وویل "اِنَّ وَرَاكِبُهَا".

څلورم "اِيْ" دئ:

---

(۱) "بَلٰی" په "بَلٰی" کي الف اصلي دئ لیکن عند البعض زائد دئ؛ ځکه دا په اصل کي "بَلْ" دئ.

(۲) "اَجَلْ" د بعض نحاتو په نزد باندي په خبر پوري خاص دئ، لیکن د اخفش په نزد باندي د خبر څخه وروسته "اَجَلْ" احسن دئ او د استفهام څخه وروسته "نَعَمْ" بهتر دئ. "جَيْرِ" د "اَمْسِ" او "كَيْفَ" دواړو پر وزن باندي صحیح دئ. (همع الهوامع)

د "اِیْ" د استعمال طریقه:

"اِیْ" په معنی د (بلی) سره راځي د کلام سابق د ثابتولو دپاره د استفهام په جواب کي راځي او د ده څخه وروسته جمله قسمیه بطور تاکید راوړل کیږي لکه: څوک ووایي: "هَلْ کَتَبَ زَیْدٌ" نو په جواب کي وویل سي "اِیْ وَاللهِ".

څلورمه خبره:

دریم قسم حروف تفسیر دي:

د حروف تفسیر تعریف:

حروف تفسیر هغه حروف دي چي د هغه په وجه د یو شي ابهام لیري کیږي یا د یو اجمال وضاحت کیږي.

د حروف تفسیر تعداد:

حروف تفسیر دوه (۲) داني دي: "اَیْ. اَنَّ".

د حروف تفسیر مختصره تشریح:

اول "اَیْ" دئ:

د "اَیْ" د استعمال طریقه:

"اَیْ" په معنی د (یعني) سره راځي لکه: "جَاءَنِیْ اَبُوْ حَامِدٍ اَیْ اَحْمَدُ" او کله کله دی د جمله د تفسیر دپاره هم استعمالیږي لکه: "قُطِعَ رِزْقُهٗ اَیْ مَاتَ" او د ده مابعد په ترکیب کي عطف بیان یا بدل واقع کیږي معطوف نه واقع کیږي.

دوهم "اَنَّ" دئ:

د "اَنَّ" د استعمال طریقه:

د "اَنَّ" داستعمال دپاره شرط دا دئ چي دی به د دوو جملو په مینځ کي وي او دی د هغه فعل د تفسیر دپاره راځي چي په معنی د قول سره وي یعني د اولي جملې معنی به د قول وي لکه: "وَنَادَیْنَاهُ اَنْ یَا اِبْرَاهِیْمُ".

پنځمه خبره:

ځلورم قسم حروف مصدریه دي:

د حروف مصدریه تعریف:

حروف مصدریه هغه حروف دي چي خپل مدخول په تاویل د مصدر سره اړوي.

د حروف مصدریه تعداد:

حروف مصدریه درې (۳) دانې دي: "مَا" (۱) "اَنْ" (۲) "اَنَّ" (۳).

د حروف مصدریه مختصره تشریح:

د "مَا" او د "اَنْ" د استعمال طریقه:

"مَا واَنْ" دواړه پر جمله فعلیه داخلیږي فعل په تاویل د مصدر سره اړوي لکه: "ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ اَیْ بِرَحْبِهَا، اَعْجَبَنِيْ اَنْ تَضْرِبَ زَيْدًا اَیْ ضَرْبُکَ زَيْدًا".

د "اَنَّ" د استعمال طریقه: "اَنَّ" پر جمله اسمیه داخلیږي په تاویل د مصدر سره یې اړوي، لکه: "اَعْجَبَنِيْ اَنَّکَ غَائِبٌ اَیْ غَيْبُوْبَتُکَ یا غَيَابُکَ".

پنځم قسم حروف تحضیض دي:

د حروف تحضیض تعریف:

د تحضیض معنی ده برانګیخته کول حروف تحضیض هغه حروف دي چي د هغه په ذریعه سره مخاطب پر یو کار باندي برانګیخته کیږي یا د یو کار ترغیب ور کول کیږي یا د زجر او توبیخ چون وچرا د پاره د کلمې په شروع کي راوړل کیږي.

د حروف تحضیض تعداد:

حروف تحضیض ځلور (۴) دانې دي: "اَلَا، هَلَّا، لَوْلَا، لَوْمَا" د دې ټولو لغوي معنی ده (ولي نه).

د حروف تحضیض د استعمال طریقه:

---

(۱) "مَا" مصدریه پر دوه قسمه دئ: اول زمانیه لکه: "مَا دُمْتُ حَيًّا" په دې شرط چي دی به پخپله د ظرفیت پر معنی دلالت نه کوي ورنه بیا "مَا" اسمیه وي. دوهم غیر زمانیه لکه: "عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ".

۲ "اَنْ" پر ماضي او مضارع دواړو باندي داخلیږي په تاویل د مصدر سره یې اړوي لیکن عمل صرف په مضارع کي کوي.

۳ "اَنَّ" مشدد یا مخفف په هر صورت کي خپل مدخول په تاویل د مصدر سره اړوي او په دواړو صورتو کي عمل کوي. (تنویر)

که چیري دا حروف پر ماضي باندي داخل سي نو بیا دوی د زجر و توبیخ فائده ور کوي لکه: "هَلَّا شَقَقْتَ قَلْبَهُ. اَلَا حَفِظْتَ الدَّرْسَ" او که چیري دوی پر مضارع باندي داخل سي نو بیا د دوی په ذریعه سره ترغیب او برانګیخته کول مقصود وي لکه: "هَلَّا تَفُوْزُ بِالشَّرْفِ الْاَوَّلِ. اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا" او د حروف تحضیض څخه وروسته اکثره جوابي جمله راځي پر هغه باندي "فَا" داخلیږي او د ده څخه وروسته فعل مضارع منصوب ویل کیږي.

شپږمه خبره:

شپږم قسم حروف توقع دي:

د حروف توقع تعریف:

حروف توقع صرف "قَدْ" دئ او "قَدْ" د پنځو معناؤ دپاره راځي:

۱. اوله معنٰی: توقع یعني "اُمَیْد" عام طور په دې صورت کي دی پر مضارع باندي راځي لکه: "قَدْ يَقْدُمُ الْغَائِبُ الْيَوْمَ" توقع ده چي غائب به نن ورځ راسي.

۲. دوهمه معنٰی: تحقیق لکه: "قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ.، قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى.، قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ" په تحقیق سره الله تعالی یې پېژني.

۳. دریمه معنٰی: تقریب یعني ماضي حال ته رانژدې کوي لکه "قَدْدُقَّ الْجَرَسُ" اوس داغه دئ کهنټی وټکول سوه، "قَدْ قَامَ زَيْدٌ".

۴. څلورمه معنی: تقلیل: تقلیل خواه که په فعل کي وي لکه: "قَدْ يَصْدُقُ الْكَذُوْبُ قَدْ يَجُوْدُ الْبَخِيْلُ" بخیل کله کله سخا کوي یا په متعلق د فعل کي وي لکه: "قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ".

۵. پنځمه معنی: د تقصیر دپاره لکه: "قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ".

اوومه خبره:

اووم قسم حروف استفهام (١) دي:

د حروف استفهام تعريف:

استفهام په لغت کي پوښتنه ته ويل کيږي او په اصطلاح کي حروف استفهام هغه حروف دي چي دوی د يو خبري د پوښتلو دپاره د جملې په شروع کي راوړل کيږي.

د حروف استفهام تعداد:

حروف استفهام درې (٣) داني دي:

"هَلْ، مَا، أَ"، لکه: "هَلْ جَاءَ زَيْدٌ، مَاسْمُکَ، أَزَيْدٌ قَائِمٌ".

فائده:

کله کله "مَا" د بعض حروف جاره سره بغير د الف څخه ويل کيږي لکه: د "لِمَا" څخه "لِمَ" او د "عَمَّا" څخه "عَمَّ" او د "فِيْمَا" څخه "فِيْمَ" ويل.

اتم حروف ردع دي:

د حروف ردع تعريف:

ردع په لغت کي انکار ته ويل کيږي يا و غندلو ته او په اصطلاح کي حرف ردع هغه حروف دي چي د سامع د يو خبري څخه د بندولو او يا د دهمکۍ ورکولو دپاره استعماليږي.

د حروف ردع تعداد:

حروف (٢) ردع صرف يو (١) لفظ دئ چي "کَلَّا" دئ لکه: څوک يو پوښتنه وکړي "زَيْدٌ يُبْغِضُکَ" (زيد ستا سره دښمني لري) ته په جواب کي ورته ووايې: "کَلَّا" (هيڅکله نه).

---

(١) همزه د طلب تصور او د طلب تصديق د دواړو دپاره راځي او "هَلْ" په طلب تصديق پوري خاص دي او دوی په استفهام کي اصل دي او ما استفهاميه اسميه دئ او د ده شمول په حروف کي بنا بر مسامحت دئ. (جامع الدروس العربية)

(٢) "کَلَّا" حرف ردع که چيري په ابتداء کي راسي نو په دې کي درې (٣) قولونه دي:

١. اول قول: د کسائي او د ده د متبعين په نزد باندي دی په معنی د "حَقًّا" سره دئ.

٢. دوهم قول: د ابو حاتم او د ده د متبعين په نزد باندي په معنی د "اِلَّا" ابتدائيه سره دئ.

د حروف ردع د استعمال طريقه:

حروف ردع د درو معناګانو دپاره استعماليږي:

اوله معنی: د منع کولو دپاره لکه: يو څوک وايي: "هَلْ غَضِبْتَ عَلَيَّ" نو په جواب "كَلَّا" ورته وويل شي.

دوهمه معنی: د "حَقًّا" په معنٰی سره راځي لکه: "كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى. كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ" او دا خبره حق ده چې انسان سرکښه دئ.

دريمه معنی: د يو خبري د نه قبلولو دپاره استعماليږي لکه: يو څوک وايي: "أَتَشْرَبُ الْخَمْرَ" ته ورته وايي: "كَلَّا" هيڅکله نه.

جملې:

عنوان	خبر، انشاء	مسند	مسند الیه	تعین حروف عامل وغیر عامل	افعال عامل	اسماء عامل	تعین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	حروف غیر عامل
أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ	خبریه اسمیه	(لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ) الخ خبر "إِنَّ"	(أَوْلِيَاءَ اللّٰهِ) اسم "إِنَّ"	(أَلَا) حرف تنبیه (إِنَّ) مشبه بالفعل (لَا) نفی جنس [illegible] (وَ) عاطفه	(يَحْزَنُونَ) فعل معروف	(أَوْلِيَاءَ) اسم مضاف	(خَوْفٌ) اسم لا (هُمْ) مبتدا (يَحْزَنُونَ) خبر (و) فاعل (لا خوف الخ) خبر ان	(أَوْلِيَاءَ) اسم ان (عليهم) باعتبار متعلق خبر لا	(اللّٰهِ) مضاف الیه (عَلَيْهِمْ) مجرور [illegible] متعلق محذوف	(أَلَا) حرف تنبیه [illegible] (لا) زائده [illegible]
هَا أَنْتُمْ هٰؤُلَاءِ حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ	خبریه اسمیه	(حَاجَجْتُمْ) الخ خبر	(أَنْتُمْ) مبتدا	(هَا) حرف تنبیه (هَا) حرف تنبیه (فِ، بِ، لَ) جاره	(حَاجَجْتُمْ) فعل معروف	+	(أَنْتُمْ) مبتدا (هٰؤُلَاءِ) [illegible] (حَاجَجْتُمْ) مرفوع محلا خبر (وَلَهُمْ) مبتدا (لَكُمْ) خبر	+	(لَكُمْ) مجرور متعلق [illegible] (بِهِ) متعلق (حَاجَجْتُمْ) [illegible] متعلق [illegible] (عِلْمٌ)	(هَا) حرف تنبیه اول قسم جمله [illegible] من الاعراب استینافیه
أَمَا قَدْ حَانَ وَقْتُ الرِّحْلَةِ	خبریه فعلیه	(حَانَ) فعل	(وَقْتُ) فاعل	(أَمَا) حرف تنبیه (قَدْ) حرف تقریب	(حَانَ) فعل معروف	(وَقْتُ) ظرف مضاف	(وَقْتُ) فاعل	+	(الرِّحْلَةِ) مضاف الیه	(أَمَا) حرف تنبیه اول قسم (قَدْ) حرف تقریب

---

۳. دريم قول: د نضر ابن شميل او د فراء په نزد ثابت دی د "نَعَمْ" په معنی سره دئ لیکن صاحب مغنی اللبیب د ابو حاتم قول ته ترجيح ورکړې ده لکه: "كَلَّا وَالْقَمَرِ". (مغنی اللبيب د تشوير)

عنوان	خبریہ انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	حروف غیر عاملہ
هَلْ تَذْهَبُ؟ نَعَمْ أَنَا أَذْهَبُ	انشائیہ فعلیہ	(تَذْهَبُ) فعل (أَذْهَبُ) خبر	(أَنْتَ) فاعل (أَنَا) مبتداء	(هَلْ) حرف استفہام (نَعَمْ) حرف ایجاب	(تَذْهَبُ) فعل معروف (أَذْهَبُ) فعل معروف	+	(أَنْتَ) فاعل (أَنَا) مبتداء (أَذْهَبُ) خبر (أَنَا) فاعل	+	+	(نَعَمْ) حرف ایجاب (۲) قسم (هَلْ) حرف استفہام (۷) قسم
أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا	انشائیہ فعلیہ	(بِرَبِّكُمْ) خبر لیس (قَالُوا) فاعل (شَهِدَ)	(تُ) اسم لیس (هُمْ) نَا	(أَ) استفہام (بِ) جارہ (بَلَى) حرف ایجاب	(قَالُوا) فعل معروف (شَهِدْنَا) فعل معروف (لَيْسَ) فعل ناقص	(رَبِّ) اسم مضاف صیغہ صفت	(أَنْتَ) محذوف مبتداء (رَبُّنَا) محذوف خبر (تُ) اسم لیس (وْ) یا (هُمْ) فاعل (نَا) فاعل	(بَلَى) (أَنْتَ) (رَبُّنَا) محذوف جملہ فی محل النصب مقولہ قول	(رَبِّ) مجرور متعلق بمحذوف خبر لیس (كُمْ، نَا) مضاف الیہ	(بَلَى) حرف ایجاب (۲) قسم (أَ) حرف استفہام (۷) قسم
وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ	خبریہ فعلیہ	(قُلْ) (أَحَقٌّ) (يَسْتَنْبِئُونَ) فعل	(أَنْتَ) (هُوَ، وَاو) فاعل (هُ)	(وَ) استینافیہ (ہمزہ) استفہامیہ (إِي) حرف ایجاب (وَ) حرف قسم (إِنَّ) مشبہ بالفعل (لَ) تاکیدیہ	(يَسْتَنْبِئُونَ) (قُلْ) فعل معروف (أُقْسِمُ) فعل معروف	(حَقٌّ) اسم تفضیل (رَبّ) اسم مضاف	(يَسْتَنْبِئُونَ) (۳) قسم رفعہ باثبات النون (واو) فاعل (حَقٌّ) خبر (هُوَ) مبتداء (أَنْتَ) فاعل (أَنَا) فاعل (الْحَقُّ) خبر ان	(كَ) مفعول بہ (أَحَقٌّ، هُوَ) جملہ فی محل النصب مفعول ثانی (إِي، وَرَبِّي) فی محل النصب مقولہ قول (إِنَّهُ لَحَقٌّ) لا محل لہا من الاعراب (هُ) اسم ان	(ي) مضاف الیہ	(إِي) حرف ایجاب (۲) قسم (وَاو) قسمیہ
أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأٌ؟ جَيْرِ أَجَلْ إِنْ أَتَى نَبَأٌ	انشائیہ فعلیہ	(يَأْتِي) فعل (أَتَى) فعل	(نَبَأٌ، نَبَأٌ) فاعل	(ہمزہ) استفہام (لَمْ) جازمہ جحدیہ (جَيْرِ، أَجَلْ، إِنْ) حروف ایجاب	(يَأْتِي، أَتَى) فعل معروف	+	(نَبَأٌ، نَبَأٌ) فاعل	(كُمْ) مفعول بہ	+	(جَيْرِ، أَجَلْ، إِنْ) بمعنی نعم حروف ایجاب (۲) قسم (أَ) استفہام (۷) قسم
فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا	خبریہ فعلیہ	(أَوْحَى) فعل (اصْنَعِ) فعل	(نَا) فاعل (أَنْتَ) فاعل	(فَ) عاطفہ (إِلَى، بِ) جارہ (أَنْ) تفسیریہ (وَ) عاطفہ	(أَوْحَيْنَا، اِصْنَعْ) فعل معروف	(أَعْيُنِ، وَحْيِ) اسم مضاف	(نَا، أَنْتَ) فاعل (أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ) لا محل لہا جملہ تفسیریہ	(الْفُلْكَ) مفعول بہ	(أَعْيُنِ) مجرور متعلق (اِصْنَعْ) (نَا، نَا) مضاف الیہ (وَحْيِ) معطوف علی (أَعْيُنِ)	(فَ، وَ) عاطفہ (۱۶) قسم (أَنْ) حرف تفسیر (۳) قسم
قَطَعَ رِزْقَهُ أَيْ مَاتَ	خبریہ فعلیہ	(قَطَعَ) فعل (مَاتَ) فعل	(رِزْقُهُ) فاعل (هُوَ) فاعل	(أَيْ) حرف تفسیر	(قَطَعَ) (مَاتَ) فعل معروف	(رِزْقُ) اسم مضاف	(رِزْقُ) [illegible] (هُوَ) [illegible]	+	(هُ) مضاف الیہ	(أَيْ) حرف تفسیر (۳) قسم
قُلْ إِنَّمَا يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَاحِدٌ	انشائیہ فعلیہ	(قُلْ) فعل (يُوحَى) فعل مجہول	(أَنْتَ) فاعل (أَنَّمَا إِلٰهُكُمْ) الخ نائب فاعل	(إِنَّمَا) کافہ مکفوفہ (إِلَى) جارہ (أَنْ) مصدریہ (مَا) کافہ	(قُلْ) فعل معروف (يُوحَى) فعل مجہول	(إِلٰهُ) اسم مضاف (وَاحِدٌ) صیغہ صفت عامل فی ضمیرہ (هُوَ) فاعلہ	(أَنْتَ) فاعل (إِلٰهُكُمْ) مبتداء (إِلٰهٌ وَاحِدٌ) موصوف وصفت خبر جملہ نائب فاعل (يُوحَى)	(يُوحَى إِلَيَّ) الخ جملہ فی محل النصب مقولہ قول	(يَ) مجرور متعلق (يُوحَى) (كُمْ) مضاف الیہ	(أَنْ) حرف مصدریہ (۳) قسم جملہ لا محل لہا من الاعراب مستانفہ

متون	خبریہ انشاء	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	حروف غیر عاملہ
إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ	خبریہ فعلیہ	(ضَاقَتْ) فعل (رَحُبَتْ) فعل	(الْأَرْضُ) فاعل (هِيَ) فاعل	(إِذَا) ظرفیہ (عَلَى) جارہ (بِ) جارہ (مَا) مصدریہ	(ضَاقَتْ، رَحُبَتْ) فعل معلوم	+	(الْأَرْضُ) فاعل (هِيَ) فاعل	(بِمَا رَحُبَتْ) فی محل النصب حال من الارض باظہار متعلق	(الهم) مجرور متعلق ضاقت (بما رحبت) فی [illegible]	(مَا) حرف مصدریہ (۳) قسم
فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوا آلَ لُوطٍ مِنْ قَرْيَتِكُمْ	خبریہ فعلیہ	(جَوَابَ قَوْمِهِ) خبر مقدم (قَالُوا) فعل (أَخْرِجُوا) فعل	(إِلَّا أَنْ قَالُوا) اسم مؤخر (هُمْ) فاعل (أَنْتُمْ) فاعل	(فَ) استنافیہ (مَا) نافیہ (إِلَّا) ادات استثناء (أَنْ) مصدریہ (مِنْ) جارہ	(كَانَ) فعل ناقص (قَالُوا) (أَخْرِجُوا) فعل معروف	(جَوَابَ، قَوْمَ، آلَ، قَرْيَةِ) اسم مضاف	(إِلَّا أَنْ قَالُوا) جملہ بتاویل مصدر اسم كان (هُمْ) (أَنْتُمْ) فاعل	(جَوَابَ) خبر كان (أَخْرِجُوا) فی محل النصب مقولہ قول (آلَ) مفعول بہ للفعل	(قَوْمِ، هِ، لُوطٍ، كُمْ) مضاف الیہ (قَرْيَةِ) مجرور متعلق (اخرجوا)	(أَنْ) حرف مصدریہ (۳) قسم
لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ	انشائیہ فعلیہ	(تَسْتَغْفِرُونَ) فعل (تُرْحَمُونَ) خبر (لَعَلَّ)	(أَنْتُمْ) فاعل (كُمْ) اسم (لَعَلَّ)	(لَوْلَا) حرف تحضیض (لَعَلَّ) مشبہ بالفعل	(تَسْتَغْفِرُونَ) فعل معروف (تُرْحَمُونَ) فعل مجہول	+	(تَسْتَغْفِرُونَ) مرفوع (۳) قسم (أَنْتُمْ) فاعل (تُرْحَمُونَ) مع نائب فاعل فی محل الرفع خبر (لَعَلَّ)	(اللهَ) مفعول بہ (كُمْ) اسم (لَعَلَّ)	+	(لَوْلَا) حرف تحضیض (۵) قسم جملہ لا محل لہا من الاعراب (لعلكم ترحمون) جملہ تعلیلیہ لا محل لہا
لَوْ مَا تَأْتِينَا بِالْمَلَائِكَةِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ	انشائیہ فعلیہ	(تَأْتِي) فعل (مِنَ الصَّادِقِينَ) خبر (كُنْتَ)	(أَنْتَ) فاعل (تَ) اسم (كَانَ)	(لَوْمَا) حرف تحضیض آدہ عرض (بِ) جارہ (إِنْ) حرف شرط جازم (مِنْ) جارہ	(تَأْتِي) فعل معروف (كُنْ) فعل ناقص	(صَادِقِينَ) اسم فاعل عامل فی ضمیرہ	(تَأْتِي) مرفوع (۲) قسم (أَنْتَ) فاعل (تَ) اسم (كَانَ)	(نَا) مفعول بہ (مِنَ الصَّادِقِينَ) فی محل النصب خبر (كَانَ)	(الْمَلَائِكَةِ) مجرور متعلق (تَأْتِينَا) (الصَّادِقِينَ) مجرور متعلق خبر محذوف خبر (كَانَ)	(لَوْمَا) حرف تحضیض (۵) قسم جملہ لا محل لہا مستقلہ (إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ) لا محل لہا مستقلہ بوجب الشرط المحذوف
أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ	انشائیہ فعلیہ	(تُحِبُّونَ) فعل (يَغْفِرَ) فعل	(أَنْتُمْ) فاعل (اللهُ) فاعل	(أَلَا) حرف تحضیض (أَنْ) مصدریہ (لِ) جارہ	(تُحِبُّونَ) (يَغْفِرَ) فعل معلوم	+	(تُحِبُّونَ) مرفوع (۳) قسم (أَنْتُمْ) فاعل (اللهُ) فاعل	(يَغْفِرَ) منصوب بتاویل مصدر مفعول بہ (تُحِبُّونَ)	(كُمْ) مجرور متعلق (يَغْفِرُ)	(أَلَا) حرف تحضیض (۵) قسم (أَنْ) مصدریہ (۳) قسم
هَلَّا شَقَقْتَ قَلْبَهُ	انشائیہ فعلیہ	(شَقَقْ) فعل	(تَ) فاعل	(هَلَّا) حرف تحضیض	(شَقَقْتَ) فعل معروف	(قَلْبَ) اسم مضاف	(تَ) فاعل	(قَلْبَ) مفعول بہ	(هُ) مضاف الیہ	(هَلَّا) حرف تحضیض (۵) قسم
وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ	خبریہ فعلیہ	(نَصَرَ) (أَذِلَّةٌ) خبر	(اللهُ) فاعل (أَنْتُمْ) مبتداء	(وَ) استنافیہ (لَ) جواب قسم محذوف (قَدْ) حرف تحقیق (بِ) جارہ (وَ) حالیہ	(نَصَرَ) فعل معروف	(أَذِلَّةٌ) صفت مشبہ جمع (ذَلِيلٌ)	(اللهُ) فاعل (أَنْتُمْ) مبتداء (أَذِلَّةٌ) خبر	(كُمْ) مفعول بہ (وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ) فی محل النصب حال من (كُمْ)	(بَدْرٍ) مجرور ظرف لغو متعلق (نَصَرَ)	(قَدْ) حرف تحقیق وتوقع (۶) قسم
قَدْ يَقْدَمُ الْغَائِبُ الْيَوْمَ	خبریہ فعلیہ	(يَقْدَمُ) فعل	(الْغَائِبُ) فاعل	(قَدْ) حرف توقع	(يَقْدَمُ) فعل معروف	(الْغَائِبُ) اسم فاعل	(الْغَائِبُ) فاعل (يَقْدَمُ) مضارع مرفوع (۱) قسم	(الْيَوْمَ) مفعول فیہ	+	(قَدْ) حرف توقع (۶) قسم
كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى	خبریہ اسمیہ	(لَيَطْغَى) خبر (إِنَّ)	(الْإِنْسَانَ) اسم (إِنَّ)	(كَلَّا) حرف ردع (إِنَّ) مشبہ بالفعل (لَامُ) التاکید	(لَيَطْغَى) فعل معروف	+	(لَيَطْغَى) خبر (إِنَّ) (هُوَ) فاعل	(الْإِنْسَانَ) اسم (إِنَّ)	+	(كَلَّا) حرف ردع (۸) قسم جملہ لا محل لہا من الاعراب مستانفہ

التمرين:

"هَا أَنْتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ.، أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ.، اَمَا قَدْ جَاءَ الْأُسْتَاذُ.، قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ.، هَلْ اَنْتَ صَائِمٌ نَعَمْ، اَجَلْ، جَيْرِ، اِنْ اَنَا صَائِمٌ.، اِيْ وَاللهِ اَنَا اَذْهَبُ اِلَى الْبَيْتِ.، وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ.، رَاَيْتُ اَسَدًا اَيْ لَيْثًا.، وَاللهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ.، سُرَّنِي اَنْ تُلَازِمَ الْفَضِيْلَةَ.، عَلِمْتُ اَنَّكَ قَائِمٌ.، هَلَّا يَرْتَدُّ فُلَانٌ عَنْ غَيِّهِ.، وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللهُ.، مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ.، أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.، قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ.، قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ.، كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ.، كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ".

الدرس التاسع والثلاثون:

د نن د سبق خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

نهم قسم تنوين دئ:

د تنوين تفصيلي بحث مخکي تېر سوی دئ.

د تنوين اقسام:

تنوين پر پنځه قسمه راځي:

۱. اول قسم: تنوين تمکن.
۲. دوهم قسم تنوين تنکير.
۳. دريم قسم: تنوين عوض.
۴. څلورم قسم: تنوين مقابله.
۵. پنځم قسم: تنوين ترنم.

تنوين تنکير د درې قسم اسمو په آخر کي لګېږي:

۱. اول: کله د علم په آخر کي چي کله مبني وي لکه: "سِيبَوَيْهٍ" دلته تنوين قياسي دئ.
۲. دوهم: کله د اسم فعل پر آخر باندي لکه: "صَهٍ".
۳. دريم د اسم صوت په آخر کي دا تنوين راوړل هم سماعي.

تنوین عوض:

تنوین عوض کله د جملې په عوض کي راوړل سوی وي لکه: "يَوْمَئِذٍ" په اصل کي "يَوْمَ إِذْكَانَ كَذَا" وو. کله کله د یو اسم په بدله کي راوړل کیږي لکه: "قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَى شَاكِلَتِهِ" دلته د "كُلٌّ" تنوین د مضاف الیه په عوض کي راوړل سوی دئ په اصل کي "كُلُّ إِنْسَانٍ یا كُلُّ وَاحِدٍ" وو. یا تنوین د یو حرف په بدله کي راسي لکه: "جَوَارٍ" په اصل کي "جَوَارِيْ" وو.

لسم قسم نون تاکید دئ:

د نون تاکید تعریف:

نون تاکید پر دوه قسمه دئ ثقیله و خفیفه دواړهٔ د فعل مضارع په آخر کي د تاکید د معنی د پیدا کولو دپاره راځي او په لفظ کي هیڅ عمل نه کوي لکه: "لَيَضْرِبَنَّ، لِيَضْرِبَنْ".

دوهمه خبره:

یوولسم قسم حروف زیادت دي:

د حروف زیادت تعریف:

حروف زیادت هغه حروف دي چي دوی په کلام کي زائد واقع کیږي لېکن د دوی معنی نه اخستل کیږي که څه هم دوی بامعنی حروف دي بلکه دوی د تحسین د کلام دپاره راوړل کیږي که چیري دوی حذف سي په معنی کي هیڅ خلل نه راځي.

د حروف زیادت تعداد:

حروف زیادت اته (۸) دانې دي: "إِنْ، أَنْ، مَا، لَا، مِنْ، كَاف، بَا، لَامْ".

د حروف زیادت استعمال:

اول "إِنْ" دئ:

"إِنْ" مخفف تر "مَا" نافیه "مَا" مصدریه او تر "لَمَّا" وروسته زیاتیږي لکه: "مَا إِنْ مَدَحْتُ مُحَمَّدًا بِمَقَالَتِيْ، لٰكِنْ مَدَحْتُ مَقَالَتِيْ بِمُحَمَّدٍ".

"أَنْ" په درو (۳) ځایو کي زائد راځي:

۱. اول ځای: تر "لَمَّا" وروسته لکه: "فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيْرُ".

۲. دوهم ځای: د "لَوْ" او د قسم په مينځ كي چي راسي لكه: "وَاللهِ اَنْ لَوْ قَامَ زَيْدٌ قُمْتُ".

۳. دريم ځای: چي تر كاف، وروسته راسي لكه: "كَاَنْ".

دريم "مَا" دئ.

"مَا" تر "اِذَا وَ مَتٰى وَ اَيْنَ وَ اَىُّ وَ اِنْ" شرطيه څخه وروسته زائد كيږي كله چي دا الفاظ د شرط په معنى سره وي لكه: "اِذَامَا بُتُلِيْتَ فَاصْبِرْ".

څلورم "لَا" دئ:

"لَا" په درو (۳) ځايو كي زياتيږي:

۱. اول ځای: د واو څخه وروسته كله چي دى تر نفي وروسته وي لكه: "مَا جَائَنِيْ زَيْدٌ وَ لَا عَمْرٌو".

۲. دوهم ځای: در "اَنْ" مصدريه وروسته لكه: "مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ أَمَرْتُكَ".

۳. دريم ځای: تر قسم وروسته لكه: "لَا أُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ".

پنځم قسم "مِنْ" زائده دئ.

"مِنْ" په دوو (۲) ځايو كي زياتيږي:

۱. اول ځای: تر "اِنْ" نافيه وروسته لكه: "وَإِنْ مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا خَلَا فِيْهَا نَذِيْرٌ".

۲. دوهم ځای: د "كَمْ" خبريه او د "كَاَيِّنْ" پر تميز باندي زياتيږي لكه: "وَ كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنَاهَا. وَكَاَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ".

شپږم قسم كاف دئ.

كاف هم كله كله زائده راځي لكه: "لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْئٌ".

اووم قسم "بَا" ده:

"بَا" په دوو (۲) ځايو كي زائده راځي:

۱. اول ځای: د "مَا" مشابه بليس پر خبر باندي زائده راځي لكه: "وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيْدٍ".

۲. دوهم ځای: او د "لَيْسَ" پر خبر باندي زائده راځي لكه: "أَلَيْسَ اللهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ".

اتم قسم لام دئ:

لام هم په کلام کي کله کله زیاتیږي لکه: "رَدِفَ لَكُمْ". دلته لام زائد دئ، ځکه "رَدِفَ" بنفسه خو د متعدي دئ.

دریمه خبره:

دولسم قسم حروف شرط دي:

د حروف شرط تعداد:

حروف شرط دوه (۲) داني دي: "اَمَّا، لَوْ".

د "اَمَّا" د استعمال طریقه:

"اَمَّا" همېشه د شرط د تاکید دپاره راځي او د تفصیل او استیناف دپاره غالبًا راځي او "اَمَّا" شرطیه د "مَهْمَا" قائمقام دئ چي د ده شرط همېشه محذوفه وي او د ده پر جزاء باندي فاء راوړل ضروري دي لېکن د ده جزاء د ده سره متصله نه وي بلکه د ده او د فاء جزائیه په مینځ کي فصل په یو د دا پنځو شیانو (۱) سره راوړل ضروري دي لکه: "فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ. فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ".

---

(۱) د "اَمَّا" او جزاء په مینځ کي فاصله په پنځو شیانو سره راوړل ضروري ده:

۱. په مبتدا سره، لکه: "اَمَّا زَيْدٌ فَمُنْطَلِقٌ".

۲. په خبر سره، لکه: "اَمَّا فِي الدَّارِ زَيْدٌ".

۳. په جمله شرطیه سره، لکه: "فَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ. فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ"

۴. په منصوب علی شریطة التفسیر سره، لکه: "اَمَّا زَيْدٌ فَاضْرِبْهُ".

۵. د "اَمَّا" په مابعد منصوب لفظ سره، لکه: "فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ".

د "اِمَّا" عاطفه او "اَمَّا" شرطیه د پېژندلو او ندط طریقه دا ده چي که چیري د "اَمَّا" په جواب کي "فا" راغله نو "اَمَّا" شرطیه دئ او که نه راغله نو "اِمَّا" عاطفه دئ.

د وهمه طریقه یې دا ده چي که که چیري د "اِمَّا" څخه وروسته یو بل "اِمَّا" راغلی وو، یا "اَوْ" راغلی وو نو "اِمَّا" عاطفه دئ لکه: "اِمَّا حَقِيقَةً اَوْ مَجَازًا یا اِمَّا مَجَازًا" که چیري دا یو هم نه وو راغلی نو "اَمَّا" شرطیه دئ، لکه. "وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ.

د "لَوْ" د استعمال طريقه:

"لَوْ" راځي دپاره د انتفاء د اول په سبب د انتفاء د ثاني سره يعني "لَوْ" پر داسي جمله باندي داخليږي چي د هغه دوې حصې وي د اولي حصې د نفي په وجه د دوهمي حصې نفي راځي لکه: "لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا". په دې مثال کي دوې حصې دي:

۱. اوله حصه: د الله څخه علاوه د بل معبود وجود.

۲. دوهمه حصه: فساد کېدل اوس چي کله د نورو معبودانو نفي وسوې نو د فساد نفي هم وسوې.

"إِمَّا" همېشه په تکرار سره دئ، اول "إِمَّا" بغير د تکرار څخه او دوهم په "وَاوْ" سره، نو اول "إِمَّا" ته ترديديه تفصيليه ويل کيږي او دوهم ته عاطفه ويل کيږي، او واو زائد وي چي د "إِمَّا" عاطفه دپاره شرط دئ.

"لَوْ" پر درې قسمه راځي:

۱. اول مصدريه، چي د "أَنْ" مرادف وي، او دی اکثره د "وَدَّ. يَوَدُّ" څخه وروسته راځي، لکه: "وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ. يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ. رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ". که چيري دی پر ماضي داخل سي، نو دی پر خپله اصلي معنی پاته کيږي او که چيري پر مضارع داخل سي، نو بيا مضارع پر استقبال پوري خاصه وي.

۲. دوهم دی د تعليق في المستقبل دپاره راځي چي مرادف د "إِنْ" شرطيه دئ، لکه: "وَلَوْ تَلْتَقِيْ أَصْدَاءَنَا بَعْدَ مَوْتِنَا"، په دې صورت کي که چيري دی پر ماضي باندي داخل سي، نو بيا په مستقبل پوري خاصيږي، لکه: "وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ".

۳. دريم دئ د تعليق في الماضي دپاره راځي، او دا د ده کثيرالاستعمال صورت دئ، او په دې صورت کي دی پر امتناع باندي دلالت کوي.

او پاته سو د ده جواب، نو د هغه تفصيل دا دئ: که چيري د شرط څخه ماسوا بل سبب نه وو، نو جواب به يې هم منفي وي، نو ځکه د دغه وجه ويل کيږي "لَوْ لِانْتِفَاءِ الثَّانِيْ بِسَبَبِ انْتِفَاءِ الْأَوَّلِ"، لکه: "وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ. لَوْ كَانَتِ الشَّمْسُ طَالِعَةً كَانَ النَّهَارُ مَوْجُودًا". او که چيري د جزا او د جواب دپاره بل سبب کېدای سو، نو بيا به جواب منفي نه وي، لکه: "لَوْ لَمْ يَخَفِ اللهَ لَمْ يَعْصِهِ"، په دې صورت کي که چيري دی پر مضارع را هم سي، نو د ماضي په تاويل يې ګرځوي، لکه: "لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ". ليکن قليلا د فعل پر معمول چي اسم وي پر هغه داخليږي، لکه: "تَذْهَبُ أَخِلَّائِيْ لَوْ غَيْرُ الْحِمَامِ أَصَابَكُمْ". (تنوير)

څلورمه خبره:

ديارلسم قسم "لَوْلَا" دئ:

د "لَوْلَا" د استعمال طريقه:

"لَوْلَا" د اولې جملې د ثبوت او وجود په وجه د دوهمې جملې نفي کوي لکه: "لَوْلَا عَلِيٌّ (۱) لَهَلَکَ عُمَرُ". چونکه علي موجوده وو نو ځکه د عمر څخه د هلاکت نفي راغلې او دې پر دوو جملو باندې داخليږي اوله جمله اسميه وي او دوهمه جمله فعليه وي.

څوارلسم قسم لام مفتوحه دئ:

لام مفتوحه د تاکيد دپاره راځي لکه: "لَزَيْدٌ قَائِمٌ. لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍ" دې چونکه کله د اسم او کله د فعل په شروع کې راځي نو ځکه وده ته لام ابتدائيه ويل کيږي او لام غير عامله څو قسمه راځي:

۱. اول قسم: لام ابتدائيه.

۲. دوهم قسم: لام جوابيه چې د "لَوْلَا" يا د قسم په جواب کې راځي.

۳. دريم قسم: چې محض د تاکيد دپاره راځي.

پنځمه خبره:

پنځلسم قسم "مَا" دئ:

"مَا" په معنی د "مَادَامَ" سره راځي او دې د فعل ناقص په معنی کې استعماليږي لکه: "اَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ اَیْ مَادَامَ جَلَسَ الْاَمِيْرُ".

شپاړسم قسم حروف عطف دي:

د حروف عطف تعداد:

حروف عطف لس دانې دي: "وَاوْ، فَا، ثُمَّ، اَوْ، اِمَّا، اَمْ، حَتّٰى، لٰكِنْ، بَلْ، لَا".

---

(۱) بيان داسې سوی دئ چې يو وار حضرت عمر ﷺ د حامله ښځې چې زنا يې کړې وه د رجم حکم يې ورکړی وو نو حضرت علي ﷺ وفرمايل چې د حامله ښځې رجم د دې د وضع د حمل څخه وروسته کيږي بس د حضرت عمر ﷺ د زبان او ژبې مبارکې څخه دا جمله جاري سوه "لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَکَ عُمَرُ" که چيرې علي نه وای عمر به هلاک سوی وای چونکه علي موجوده وو نو ځکه عمر نسو هلاک په دې مثال کې وجود د علي د عمر د هلاکت د انتفاء دپاره سبب جوړ سو. (نصر الخبير)

د حروف عطف مختصره تشریح:

اول "وَاوْ" دئ:

"وَاوْ" د دوو شیانو په یوه حکم کي د جمع کولو دپاره راځي لکه: "جَاءَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو".

دوهم "فَا" ده:

"فَا" د جمع، ترتیب، تعقیب بلا تاخیر دپاره راځي او د سبب ورښولو دپاره راځي لکه: "جَاءَ حَمِيْدٌ فَرَشِيْدٌ. اِقْرَاِ الْقُرْآنَ. فَاِنَّهُ يَنْفَعُكَ".

دریم "ثُمَّ" دئ:

"ثُمَّ" د جمع و ترتیب تراخي دپاره راځي لکه: "ذَهَبَ قَاسِمٌ ثُمَّ هَاشِمٌ".

څلورم "اَوْ" (¹) دئ:

"اَوْ" د دوو شیانو څخه د یو شي د متعین کولو دپاره راځي لکه: "خُذْ هَذَا اَوْ ذَاكَ".

پنځم "اِمَّا" دئ:

"اِمَّا" هم د "اَوْ" په معنی سره استعمالیږي او دی همېشه مکرر راځي لکه: "اَلثَّمَرُ اِمَّا حُلْوٌ وَاِمَّا مُرٌّ".

شپږمه خبره:

شپږم "اَمْ" دئ:

"اَمْ" پر دوه قسمه دئ: یو متصله ییا د دې دوه صورتونه دي: کله د همزه تسویه څخه وروسته وي لکه: "سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ.. سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنْتُمْ صَامِتُونَ". یا د طلب د یقین دپاره وي لکه: "أَأَنْتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا.. وَإِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ أَمْ بَعِيدٌ مَا تُوعَدُونَ". دوهم منقطعه په دې صورت کي دی په معنی د اضراب سره راځي او دی غیر عاطفه وي لکه: "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ".

(¹) "اَوْ" د طلب تاخیر دپاره یا د اباحت دپاره یا د ابهام دپاره یا د تفصیل دپاره یا د تقسیم دپاره راځي او د کوفیین په نزد باندي د اضراب دپاره او په معنی د واو سره هم راځي. (جامع الدروس العربية)

اووم "حَتّٰی" دئ:

"حَتّٰی" چي کله عاطفه جوړېږي د دې دپاره درې (۳) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: معطوف به اسم ظاهر وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: معطوف به د معطوف عليه بعض وي حقيقتا لکه: "اَكَلْتُ السَّمَكَةَ حَتّٰى رَأْسَهَا" يا تاويلا لکه: "اَلْقِ الصَّحِيْفَةَ كَيْ يُخَفِّفَ رَحْلَهُ وَالزَّادَ حَتّٰى تَعْلَمَ اَلْقَاهَا".

۳. دريم شرط يې دا دئ: چي دی به تر معطوف عليه زيات يعني اشرف وي لکه: "مَاتَ النَّاسُ حَتّٰى الْاَنْبِيَاءُ" او يا به کم يعني اخس وي لکه: "غَلَبَكَ النَّاسُ حَتّٰى الصِّبْيَانُ".

اتم "لٰكِنَّ" دئ:

د "لٰكِنَّ" دپاره درې (۳) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: معطوف به مفرد وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: مقرون به په واو سره نه وي.

۳. دريم شرط يې دا دئ: تر نفي يا د نهي وروسته به وي لکه: "مَا مَرَرْتُ بِرَجُلٍ صَالِحٍ لٰكِنْ طَالِحٍ".

اوومه خبره:

نهم "بَلْ" دئ:

"بَلْ" دپاره دوه (۲) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: معطوف به مفرد وي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ: اثبات به تر نفي نهي يا تر امر وروسته وي لکه: "مَا قَامَ زَيْدٌ بَلْ عَمْرٌو".

لسم "لَا" دئ:

د "لَا" دپاره څلور (۴) شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ: معطوف به مفرد وي، يا به جمله محل د اعراب وي.

۲. دوهم شرط یې دا دئ: اثبات به یا تر امر یا دعاء یا تر تحضیض وروسته وي.

۳. دریم شرط یې دا دئ: حرف عطف به متصل نه وي.

۴. څلورم شرط یې دا دئ: د معطوف او معطوف علیه په مینځ کې به عناد وي لکه: "جَاءَ رَجُلٌ لَا اِمْرَءَةٌ".

جملې:

عنوان	خبریه و انشائیه	مسند	مسند الیه	حروف عامله و غیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	مرفوعات	منصوبات	مجرورات	اقسام حروف غیر عامله
وَمَا أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ	خبریه شرطیه	(أَفَاءَ) فعل (أَوْجَفَ)	(اللهُ) فاعل (تُمْ) فاعل	(وَ) عاطفه (۲) (عَلَى مِنْ) جاره (مِنْ) زائده (فَ) جزائیه (وَ) عاطفه (لَا) (مَا) نافیه	(أَفَاءَ، أَوْجَفْتُمْ) فعل معلوم	(مَا) اسم شرط جازم (رَسُولِ) اسم مضاف	(اللهُ) فاعل (تُمْ) فاعل	۱. (مَا) في محل النصب مفعول به مقدم عامله الفعل (خَيْلٍ) في محل النصب مفعول به	(رَسُولِ) (مِنْهُمْ) متعلق (أَفَاءَ) (هِ) مضاف الیه (عَلَيْهِ) متعلق (أَوْجَفَ) (خَيْلٍ، رِكَابٍ) لفظاً مجرور	(وَ) عاطفه (۱۶) قسم (مِنْ) حرف زیادت (۱۱) قسم جمله لا محل لها من الاعراب معطوفه
فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا	خبریه شرطیه	(جَاءَ، إِرْتَدَّ) فعل	(الْبَشِيرُ، هُوَ) فاعل	(فَ) عاطفه (لَمَّا) ظرف بمعنى حين حقق (أَلْقَاهُ) متضمن معنى شرط لما (أَنْ) زائده (فَ) جزائیه (عَلَى) جاره	(جَاءَ، أَلْقَاهُ، إِرْتَدَّ) فعل معلوم	(وَجْهِ) اسم مضاف (بَصِيرًا) صفت مشبه	(الْبَشِيرُ) فاعل، (هُوَ) فاعل (هُوَ) فاعل (هُوَ) فاعل	(أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ) لا محل لها جواب الشرط غير جازم (هُ) مفعول به (بَصِيرًا) حال من الفاعل	(عَلَى وَجْهِهِ) متعلق (أَلْقَاهُ) (هِ) مضاف الیه	(فَ) عاطفه (۱۶) قسم (أَنْ) حرف زیادت (۱۱) قسم جمله في محل الجر مضاف الیه
أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى	خبریه شرطیه	(تَدْعُو، لَهُ) خبر مقدم	(أَنْتُمْ) فاعل (الْأَسْمَاءُ) مبتدا	(مَا) زائده (فَ) جزائیه (لَامْ) جاره	(تَدْعُوا) فعل معلوم	(الْحُسْنَى) اسم تفضیل عامل في ضمیره (أَيًّا) اسم شرط جازم	(أَنْتُمْ) فاعل (لَهُ) خبر مقدم متعلق (الْأَسْمَاءُ) مبتدا (الْحُسْنَى) صفت المبتدا (هي) فاعل	(أَيًّا) في محل النصب مفعول به مقدم	(هُ) متعلق بمحذوف	(مَا) حرف زیادت (۱۱) قسم
لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ	خبریه فعلیه	(أُقْسِمُ) فعل	(أَنَا) فاعل	(لَا) زائده (بِ) جاره (هَا) تنبیه	(أُقْسِمُ) فعل معلوم	(هَذَا) اسم اشاره غیر عامل	(أُقْسِمُ) فعل مضارع مرفوع (۱) قسم (أَنَا) فاعل	+	(هَذَا) مجرور بحرف الجر متعلق (أُقْسِمُ) موصوف (الْبَلَدِ) مشار الیه صفت او عطف بیان	(لَا) حرف زیادت (۱۱) قسم جمله لا محل لها من الاعراب ابتدائیه (هَا) حرف تنبیه (۱۱) قسم
لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ	خبریه اسمیه	(مِثْلِهِ) خبر مقدم لیس	(شَيْءٌ) اسم مؤخر لیس	(كَ) زائد	(لَيْسَ) فعل ناقص	(مِثْلِ) اسم مضاف	(شَيْءٌ) اسم لیس	(مِثْلِ) محلاً منصوب خبر (لَيْسَ)	(هِ) مضاف الیه	(كَ) حرف زیادت (۱۱) قسم

عنوان	خبریہ انشاء	مسند	مسند الیہ	حروف عاملہ وغیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	مرفوعات	منصوبات	مجرورات	اقسام حروف غیر عاملہ
وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ	انشائیہ فعلیہ	(لَا تُلْقُوا) فعل	(أَنْتُمْ) فاعل	(وَ) عاطفہ (لَا) ناہیہ جازمہ (بِ) زائدہ عند ابن ہشام (إِلَى) جارہ	(لَا تُلْقُوا) فعل معلوم	(أَيْدِي) اسم مضاف (التَّهْلُكَةِ) مصدر غیر عامل	(أَنْتُمْ) فاعل	(أَيْدِي) منصوب محلا مفعول بہ للفعل	(التَّهْلُكَةِ) مجرور بحرف لغو متعلق (تُلْقُوا) (أَيْدِي) لفظا مجرور (كُمْ) مضاف الیہ	(بِ) حرف زیادت (۱۱) قسم جملہ معطوفہ لا محل لہا من الاعراب (وَ) عاطفہ (۱۶) قسم
رَدِفَ لَكُمْ	خبریہ فعلیہ	(رَدِفَ) فعل	(هُوَ) فاعل	(لَامْ) زائدہ	(رَدِفَ)	+	(هُوَ) فاعل	(كُمْ) محلا منصوب مفعول بہ للفعل	(كُمْ) لفظا مجرور بحرف الجر زائدہ	(لَامْ) حرف زیادت (۱۱) قسم
مَا إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ	خبریہ اسمیہ	(قَائِمٌ) خبر	(زَيْدٌ) مبتدا	(مَا) نافیہ غیر عامل (إِنْ) زائدہ	+	(قَائِمٌ) اسم فاعل عامل فی ضمیرہ (هُوَ)	(زَيْدٌ) مبتدا (قَائِمٌ) خبر (هُوَ) فاعل	+	+	(إِنْ) حرف زیادت (۱۱) قسم
أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى فَأَنْتَ لَهُ تَصَدَّى	خبریہ شرطیہ	(اسْتَغْنَى تَصَدَّى فَأَنْتَ لَهُ) خبر	(هُوَ أَنْتَ) (أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى) مبتدا (أَنْتَ) مبتدا	(أَمَّا) حرف شرط (فَ) جزائیہ (لَ) جارہ	(تَصَدَّى، اسْتَغْنَى) فعل معلوم	(مَنْ) موصول مبنی غیر عامل موصول صلہ مبتدا	(مَنِ اسْتَغْنَى) فی محل رفع مبتدا (هُوَ) فاعل (أَنْتَ) مبتدا (تَصَدَّى) خبر (أَنْتَ) فاعلہ جملہ فی محل الرفع خبر	+	(هُ) مجرور ظرف لغو متعلق (تَصَدَّى)	(أَمَّا) حرف شرط (۱۲) قسم جملہ لا محل لہا من الاعراب مستانفہ
وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ	خبریہ شرطیہ	(مَوْجُودَةٌ) خبر محذوف وجوبا (مِنَ الْمُحْضَرِينَ) خبر کان	(نِعْمَةُ) (رَبِّي) مبتدا (تُ) اسم کان	(وَ) عاطفہ (لَوْلَا) حرف شرط (لَامْ) واقع فی جواب لولا (مِنْ) جارہ	(كُنْ) فعل ناقص	(رَبِّ) اسم مضاف یا ملحق مشبہ باسم فاعل (الْمُحْضَرِينَ) اسم فاعل (نِعْمَةُ) اسم مضاف	(نِعْمَةُ) مبتدا (تُ) اسم کان (مَوْجُودَةٌ) خبر محذوف وجوبا	(مِنَ الْمُحْضَرِينَ) باعتبار متعلق فی محل النصب خبر (كَانَ)	(الْمُحْضَرِينَ) مجرور بحرف الجر (رَبِّ) مضاف الیہ (ي) مضاف الیہ	(لَوْلَا) حرف شرط (۱۳) قسم جملہ لا محل لہا من الاعراب معطوفہ
أَقُومُ مَا قَامَ الْأُسْتَاذُ	خبریہ فعلیہ	(أَقُومُ، قَامَ) فعل	(أَنَا الْأُسْتَاذُ) فاعل	(مَا) بمعنی (مَادَامَ) غیر عامل	(أَقُومُ، قَامَ) فعل معروف	+	(أَقُومُ) مرفوع (۱) (أَنَا) فاعل (الْأُسْتَاذُ) فاعل	+	+	(مَا) بمعنی (مَا دَامَ) حرف غیر عامل (۱۳) قسم
قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَنْ تَذْهَبُوا بِهِ	خبریہ فعلیہ	(قَالَ) فعل (لَيَحْزُنُ) الخ (تَذْهَبُوا)	(هُوَ) فاعل (ي) اسم ان (أَنْ تَذْهَبُوا) فاعل (أَنْتُمْ) فاعل	(إِنَّ) مشبہ بالفعل (لَامْ) تاکید (نِ) وقایہ (أَنْ) ناصب مصدریہ (بِ) جارہ	(قَالَ، يَحْزُنُ، تَذْهَبُوا) فعل معروف	+	(هُوَ) فاعل (أَنْ تَذْهَبُوا) ہوا فی محل الرفع فاعل (يَحْزُنُ أَنْتُمْ) فاعلہ (لَيَحْزُنُنِي) فی محل الرفع خبر (إِنَّ)	(ي) اسم إِنَّ (إِنِّي لَيَحْزُنُنِي) فی محل النصب مقول قول (نِي) نون الوقایہ یاء المتکلم مفعول بہ مقدم	(هِ) مجرور متعلق (تَذْهَبُوا)	(لَامْ) حرف تاکید (۱۴) قسم جملہ لا محل لہا من الاعراب استئنافیہ بیانی

عنوان	خبریه انشاء	مسند	مسند الیه	حروف عامله وغیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	مرفوعات	منصوبات	مجرورات	اقسام حروف غیر عامله
وَتَاللّٰهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ	انشائیه طلبیه	(أُقْسِمُ) (أَكِيدَنَّ) (تُوَلُّوا) فعل	(أَنَا، أَنَا، أَنْتُمْ)	(وَ) عاطفه (تَا) حرف قسم (لَامُ) حرف قسم (نَّ) تاکید ثقیله (أَنْ) ناصبه مصدریه	(أُقْسِمُ، أَكِيدَنَّ، تُوَلُّوا) فعل معروف	(أَصْنَامَ) اسم مضاف (بَعْدَ) ظرف مضاف (مُدْبِرِينَ) اسم فاعل	(أُقْسِمُ) مرفوع (۱) حکماً (أَنَا) فاعل (أَنَا) فاعل (أَنْتُمْ) (أَنْتُمْ) فاعل	(أَصْنَامَ) مفعول به (بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا) ظرف منصوب محلاً فیه (مُدْبِرِينَ) حال من ضمیر (تُوَلُّوا) (اللّٰه) لا نصب محلاً	(اللّٰهِ) مجرور (كُمْ) فی محل الجر (أَنْ تُوَلُّوا) فی محل الجر مضاف الیه	(نَّ) حرف تاکید غیر عامل (۲) قسم جمله لا محل لها من الاعراب
وَكُلًّا وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى	خبریه	(وَعَدَ) فعل	(اللّٰهُ) فاعل	(وَ) اعتراضیه	(وَعَدَ) فعل معلوم	(الْحُسْنٰى) اسم تفضیل مؤنث (كُلّ) اسم مضاف محذوف عوضه التنوین	(اللّٰهُ) فاعل (هِيَ) فاعل	(كُلًّا) مفعول به اول مقدم (الْحُسْنٰى) مفعول ثانی	(وَاحِد) مضاف الیه محذوف عوضه التنوین علی قول	(وَ) عاطفه (۲) قسم (كُلًّا) حرف تنوین غیر عامل عوض عن المضاف الیه (۲) قسم لا محل لها من الاعراب اعتراضیه
قُلْ عَسٰى أَنْ يَكُونَ رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِي تَسْتَعْجِلُونَ	انشائیه طلبیه	(قُلْ، عَسٰى، رَدِفَ لَكُمْ) فعلان (تَسْتَعْجِلُونَ)	(أَنْتَ) فاعل (أَنْ يَكُونَ) بتأویل مصدر فاعل (عَسٰى) (بَعْضُ) فاعل (رَدِفَ) (أَنْتُمْ) (هُوَ) اسم يكون	(أَنْ) ناصبه مصدریه (لَام) زائده	(قُلْ، عَسٰى) فعل ماضی (يَكُونَ) فعل ناقص (رَدِفَ، تَسْتَعْجِلُونَ) فعل معلوم	(بَعْضُ) اسم مضاف (الَّذِي) اسم موصول	(أَنْتَ) فاعل (أَنْ يَكُونَ) فاعل (عَسٰى) (هُوَ) اسم (يَكُونَ) (بَعْضُ) فاعل (رَدِفَ) (تَسْتَعْجِلُونَ) مرفوع (۱) حکماً (أَنْتُمْ) فاعل	(عَسٰى أَنْ يَكُونَ) فی محل نصب مقول قول (رَدِفَ الخ) فی محل نصب خبر (يَكُونَ) (كُمْ) مفعول به	(الَّذِي) فی محل الجر مضاف الیه لبعض	(أَنْ) مصدریه (۲) قسم (لَام) حروف زیادات (۲) قسم جمله لا محل لها من الاعراب مستأنفه

التمرين :

"مَا إِنْ رَأَيْتُ زَيْدًا، وَاللّٰهِ أَنْ لَوْ قَامَ زَيْدٌ لَقُمْتُ، فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ، فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا، مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ، مَا جَاءَنِي زَيْدٌ وَلَا عَمْرٌو، مَا جَاءَنَا مِنْ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ، وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيدًا، فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً، لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ، لَوْلَا زَيْدٌ لَفَرِحَ بَكْرٌ، إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ، أَدْرُسُ مَا أَكُونُ حَيًّا".

چون بحث مستثنیٰ در کتاب نحومیر نه بود برائے فائده طلاب افزوده شد از شارح.

ترجمه:

چونکه د مستثنیٰ بحث په اصل کتاب کې نه وو موجود د طلباء د فائدې د پاره د دې اضافه وشوه.

پوه سه! چې مستثنیٰ هغه لفظ ته ویل کیږي چې تر "إِلَّا" یا د دې د هم معنی الفاظو وروسته واقع سي او هغه الفاظ دا دي یعني "غَيْرُ، سِوٰی، حَاشَا، خَلَا، عَدَا، مَا خَلَا، مَا عَدَا، لَيْسَ، لَا يَكُونُ" د پاره د دې

چي دا خبر معلومه سي چي د مستثنى و طرف ته هغه حکم نه دئ منسوب کم چي د مستثنى منه و طرفته منسوب وي دا پيا پر دوه قسمه ده متصل و منقطع متصل هغه ده چي د متعدد څخه رائستل سوي وي د "اِلَّا" يا د "اِلَّا" د هم معنى الفاظو په ذريعه سره لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا" و ګوره دلته زيد په قوم کي د فرد په حيثيت سره داخل وو لېکن د راتګ د حکم څخه و ايستل سو او مستثنى منقطع هغه ته ويل کيږي چي تر "اِلَّا" او د ده د اخواتو وروسته ذکر سي لېکن د متعدد څخه نه وي راوتلې په دې وجه چي مستثنى په مستثنى منه کي داخله نه وه لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا" حمار په قوم کي نه دئ داخل.

پوه سه! چي د مستثنى اعراب پر څلور (۴) قسمه دئ: اول هغه مستثنى چي د "اِلَّا" څخه وروسته په کلام موجب کي واقع سي نو داسي مستثنى به همېشه منصوبه وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا" او کلام موجب هغه دئ چي په هغه کي نفي نهي استفهام نه وي او داغه رنګه په کلام غير موجب کي که چيري مستثنى پر مستثنى منه باندي مقدم سي نو مستثنى ته نصب ور کول کيږي لکه: "مَاجَائَنِيْ اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ" او مستثنى منقطع همېشه منصوبه وي او که چيري تر "خَلَا، عَدَا" وروسته واقع سي نو د اکثرو علماؤ پر مذهب باندي منصوب کيږي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا عَدَا زَيْدًا" او تر "مَاخَلَا" او "مَاعَدَا" او "لَيْسَ وَلَايَكُوْنُ" څخه وروسته همېشه منصوبه وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ مَا خَلَا زَيْدًا مَاعَدَا زَيْدًا لَيْسَ زَيْدًا لَايَكُوْنُ زَيْدًا" دوهم صورت دا دئ چي استثناء په کلام غير موجب کي د "اِلَّا" وروسته واقع سي او مستثنى منه مذکوره وي نو په دې کي دوه صورتونه ويل جائز دي: اول نصب بناء بر استثنائيت دوهم رفع بناء بر بدليت لکه: "مَا جَائَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا اَوْ اِلَّا زَيْدٌ" دريم صورت دا دئ: چي مستثنى مفرغ وي يعني مستثنى منه مذکوره نه وي او په کلام غير موجب کي راغلى وي نو په دې وقت کي د مستثنى اعراب په اعتبار د عوامل سره بدليږي لکه: "مَاجَائَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ، مَارَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا وَ مَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ". څلورم صورت دا دئ چي مستثنى لفظ د "غَيْرُ سِوٰى اَوْ سِوَاءَ" څخه وروسته واقع نو بيا مستثنى مجروره ويل کيږي او د "حَاشَا" څخه وروسته د اکثره علماء پر مذهب باندي مجروره وي او د بعض په نزد باندي نصب هم جائز دئ لکه: "مَاجَائَنِي الْقَوْمُ غَيْرُ زَيْدٍ سِوٰى زَيْدٍ".

پوه سه چي د لفظ د "غَيْرُ" اعراب په مثل د "اِلّا" د مستثنی سره دئ لکه ته چي وايې "جَائَنِيْ الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ يا غَيْرَ حِمَارٍ، او مَا جَائَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ نِ الْقَوْمُ، او مَا جَائَنِيْ اَحَدٌ غَيْرَ زَيْدٍ يا غَيْرُ زَيْدٍ، او مَا جَائَنِيْ غَيْرُ زَيْدٍ، مَارَاَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ، وَمَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ".

پوه سه! چي لفظ د "غَيْرُ" وضع سوی د صفت دپاره دئ او کله کله د استثناء دپاره راځي او "اِلّا" د استثناء دپاره وضع سوی دئ او کله کله د صفت دپاره استعماليږي لکه: د الله تعالی ارشاد دئ "لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا". دلته "اِلّا" په معنی د "غَيْرُ" سره دئ يعني "غَيْرُ اللّٰهِ" او داغه رنګه په کلمه طيبه په "لَااِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ" کي دئ.

الدرس الاربعون:

د نن د سبقه خلاصه اووه (۷) خبري دي:

اوله خبره:

د مستثنی بحث:

د استثناء تعريف:

استثناء مصدر دئ د افعال د باب څخه د استثناء لغوي معنی رائستل يا راجلا کول.

د مستثنی تعريف:

مستثنی د اسم مفعول صيغه ده د استثناء څخه په معنی د را جلا کړول سوی يعني هغه شی چي هغه رائستل سوی وي يا راجلا سوی وي په اصطلاح کي مستثنی هغه اسم دئ چي دی تر حرف استثناء يعني تر "اِلّا" يا د ده تر اخوات يعني د ده د هم معنی الفاظو وروسته واقع سوی وي لکه: په "جَائَنِيْ الْقَوْمُ اِلّا زَيْدًا" کي "زَيْدًا".

د مستثنی منه تعريف:

مستثنی منه هغه اسم دئ چي دده څخه مستثنی راوتلی وي لکه: په "جَائَنِيْ الْقَوْمُ اِلّا عَمْرًا" کي "اَلْقَوْمُ".

د استثناء الفاظ:

د استثناء دپاره یوولس (۱۱) الفاظ دي: "اِلَّا، غَيْرُ، سِوَای، سِوَاءَ، حَاشَا، خَلَا، عَدَا، مَاعَدَا، مَاخَلَا، لَيْسَ، لَايَكُوْنُ".

دوهمه خبره:

د مستثنی اقسام:

مستثنی پر دوه قسمه ده:

۱. اول قسم مستثنی متصل ده.

۲. دوهم قسم مستثنی منقطع ده.

د مستثنی متصل تعریف:

مستثنی متصل هغه مستثنی ده چي دا په مستثنی منه کي داخله وي او د مستثنی منه د جنس څخه وي لکه: په "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا خَالِدًا" کي "خَالِدًا".

د مستثنی منقطع تعریف:

مستثنی منقطع هغه مستثنی ده چي په مستثنی منه کي نه وي داخله او نه د مستثنی منه د جنس څخه وي لکه: په "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا" کي "حِمَارًا".

د کلام تقسیم:

په کم کلام کي چي استثناء موجوده وي هغه کلام پر دوه قسمه دئ:

۱. اول قسم کلام موجب دئ.

۲. دوهم قسم کلام غیر موجب دئ.

د کلام موجب تعریف:

کلام موجب هغه کلام دئ چي په ده کي نفي، نهي، استفهام نه وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا".

د کلام غیر موجب تعریف:

کلام غیر موجب هغه کلام دئ دئ چي په ده کي نفي یا نهي یا استفهام راغلی وي لکه: "مَاجَائَنِي اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا".

دریمه خبره:

د مستثنی دوهم تقسیم:

مستثنی د دوهم تقسیم په اعتبار سره پر دوه قسم ده:

۱. اول قسم مستثنی مفرغ.

۲. دوهم قسم مستثنی غیر مفرغ.

د مستثنی مفرغ تعریف:

مستثنی مفرغ هغه مستثنی ده چي مستثنی منه نه وي ذکر سوې او عامل و مستثنی ته فارغ وي لکه: "مَاجَائَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ".

د مستثنی غیر مفرغ تعریف:

مستثنی غیر مفرغ هغه مستثنی ده چي په دې کي مستثنی منه ذکر سوې وي یعني عامل و مستثنی ته نه وي ور فارغه لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا".

څلورمه خبره:

د مستثنی اعراب:

مستثنی د اعراب په اعتبار سره پر پنځه (۵) قسمه ده:

۱. اول قسم مستثنی به منصوبه وي.

۲. دوهم قسم په مستثنی کي رفع و نصب دواړه جائز دي.

۳. دریم قسم د مستثنی اعراب په حسب د عوامل سره دئ.

۴. څلورم قسم مستثنی به مجروره وي.

۵. پنځم قسم مستثنی به منصوب وي یا به مجروره وي.

د اول قسم اعراب:

اول د مستثنی د نصب صورتونه:

په پنځو (۵) ځایو کي مستثنی منصوبه راځي:

۱. اول صورت: که چیري مستثنی متصل وروسته تر "اِلَّا" په کلام موجب کي واقع سوه نو په دې صورت کي به مستثنی همېشه منصوبه وي لکه: په "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا" کي "زَيْدًا".

۲. دوهم صورت: که چیري مستثنی په کلام غیر موجب کي واقع سوی وو او مستثنی پر مستثنی منه باندي مقدم وه نو په دې صورت کي به هم مستثنی منصوبه وي لکه: "مَا جَائَنِي اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ".

۳. دریم صورت: مستثنی منقطع همېشه منصوبه وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا".

۴. څلورم صورت تر "مَاعَدَا وَ مَاخَلَا، لَيْسَ، لَايَكُوْنُ" وروسته به مستثنی همېشه منصوب وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ مَا خَلَا زَيْدًا مَا عَدَا زَيْدًا، لَيْسَ زَيْدًا، لَا يَكُوْنُ زَيْدًا اَیْ جَائَنِي الْقَوْمُ لَيْسَ وَلَايَكُوْنُ الْجَائِيْ زَيْدًا".

۵. پنځم صورت: که چیري مستثنی تر "خَلَا" او تر "عَدَا" وروسته واقع سوه نو بیا د اکثره علماء په نزد باندي دا منصوبه وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا عَدَا زَيْدًا".

پنځمه خبره:

دوهم قسم اعراب:

دوهم د مستثنی د رفع او د نصب د دواړو د جواز صورتونه:

۱. اول صورت: مستثنی که چیري په کلام غیر موجب کي تر "اِلَّا" وروسته واقع سوه او مستثنی منه مذکوره وه نو په دې صورت کي پر مستثنی باندي دوه اعرابه ویل جائز دي:

۱. اول اعراب: د نصب اعراب بناء بر استثنائیت لکه: "مَاجَائَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا".

۲. دوهم اعراب: د رفع دئ بناء بر بدلیت لکه: "مَاجَائَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا بَكْرٌ".

دریم قسم اعراب په اعتبار د عوامل سره:

که چیري مستثنی په کلام غیر موجب کي تر "اِلَّا" وروسته واقع سوه او مستثنی منه نه وه ذکر سوې نو په دې صورت کي به د مستثنی اعراب په اعتبار د عوامل سره وي که چیري یې عامل د رفع وو مستثنی به مرفوع وي لکه: "مَا جَائَنِي اِلَّا زَيْدٌ" که چیري یې عامل د نصب وو مستثنی به منصوبه وي لکه: "مَارَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا" او که چیري یې عامل د جر وو نو بیا به مستثنی مجروره وي لکه: "مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ".

شپږمه خبره:

څلورم قسم اعراب د جر دئ:

که چیرې مستثنی د لفظ د "غَيْرُ، سِوٰى، سِوَاءَ" څخه وروسته واقع سوه نو په دې صورت کې به مستثنی مجروره وي ځکه په دې صورت دغه الفاظ و مستثنی ته مضاف وي او مستثنی مضاف الیه وي او مضاف الیه همېشه مجروره وي لکه: "مَاجَائَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ، وَغَيْرُ زَيْدٍ، سِوٰى زَيْدٍ، سِوَاءَ زَيْدٍ".

د مستثنی د پنځم قسم اعراب چې نصب و جر دئ.

که چیرې مستثنی د "حَاشَا" څخه وروسته واقع سوه نو د اکثره علماء په نزد باندې به دا مجروره وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدٍ" لېکن د بعض علماء په نزد باندې به دا منصوبه وي لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدًا".

خودې د لفظ د "غَيْرُ" اعراب:

د "غَيْرُ" د لفظ اعراب په ټولو صورتو کې د هغه مستثنی د اعراب په شان دئ کمه مستثنی چې تر "اِلَّا" وروسته واقع سي او د "غَيْرُ" د مستثنی اعراب یعني د "غَيْرُ" څخه وروسته چې کم لفظ راسي هغه به د مضاف الیه والي پر بنیاد باندې مجروره وي. د کلام موجب مثال لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ" د مستثنی منقطع مثال لکه: "جَائَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ حِمَارٍ" د مستثنی منه مقدم مثال لکه: "مَا جَائَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ نِ الْقَوْمُ" د کلام غیر موجب مثال چې کله مستثنی غیر مفرغ وي لکه: "مَا جَائَنِي اَحَدٌ غَيْرُ زَيْدٍ، وَغَيْرَ زَيْدٍ". د مستثنی مفرغ مثال لکه: "مَا جَائَنِيْ غَيْرُ زَيْدٍ مَارَاَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ، مَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ".

اوومه خبره:

د لفظ د "غَيْرُ" معنٰی:

"غَيْرُ" د دوو معنٰی دپاره راځي:

۱. اوله معنٰی: "غَیْرُ" د صفت په معنی کي استعمالیږي ځکه دا په اصل کي د "فَعْلُ" د صفت مشبه پر وزن ده.

۲. دوهمه معنٰی: "غَیْرُ" کله کله د "اِلَّا" حرف استثناء په معنی کي استعمالیږي او لفظ د "غَیْرُ" په اصل وضع کي د صفت د معنی دپاره وضع سو دئ نو ځکه دی د خپل مابعد مضاف الیه سره ملاویږي د ماقبل دپاره صفت جوړیږي لکه: "جَائَنِيْ رَجُلٌ غَیْرُ جَاهِلٍ".

د لفظ د "اِلَّا" معنی:

لفظ د "اِلَّا" د دوو معناوُ دپاره راځي:

۱. اوله معنی لفظ د "اِلَّا" د استثنی د معنی دپاره استعمالیږي ځکه د ده وضع د داغه معنی دپاره سوې ده.

۲. دوهمه معنی: کله کله "اِلَّا" د "غَیْرُ" صفتي په معنی کي هم استعمالیږي لکه: "لَوْ کَانَ فِیهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا.. لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" دلته "اِلَّا" د "غَیْرُ" صفتي په معنی سره دئ نه د استثناء په معنی سره.

جدول د اقسامو د مستثنی:

نمبر	قواعد	امثله
	(۱) که چیري مستثنی متصل د "اِلَّا" څخه وروسته په کلام موجب کي واقع وه نو مستثنی به همیشه منصوبه وي.	جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا
	(۲) که چیري په کلام غیر موجب کي مستثنی پر مستثنی منه باندي مقدم وه نو بیا به منصوبه وي.	مَا جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا اَحَدٌ
(۱)	(۳) مستثنی منقطع همیشه منصوبه وي	جَائَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا
	(۴) د "خَلَا" و "عَدَا" څخه وروسته مستثنی د اکثرو علماء په نزد باندي منصوبه وي.	جَاءَ الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا وَعَدَا زَیْدًا
(۲)	(۵) کله مستثنی چي د "اِلَّا" څخه وروسته په کلام غیر موجب کي واقع سي او د ده مستثنی منه مذکوره وي نو په دې کي دوه صورتونه جائز دي: یو خو بطور استثناء منصوبه کیږي.	مَا جَائَنِي اَحَدٌ اِلَّا زَیْدًا
	(٦) دوهم دا چي د ماقبل څخه بدل وي او د مبدل منه اعراب یې وي.	مَا جَائَنِي اَحَدٌ اِلَّا بَکْرٌ
(۳)	(۷) که چیري مستثنی مفرغ وه او په کلام غیر موجب کي واقع سوې وه نو بیا به د مستثنی اعراب په حسب د عوامل سره وي	مَا جَائَنِي اِلَّا زَیْدٌ مَا رَاَیْتُ اِلَّا زَیْدًا مَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَیْدٍ

نمبر	قواعد	امثله
(۴)	(۸) که چیري مستثنی لفظ د "غَيْرُ، سِوَای، سِوَاءَ او حَاشَا" (بر مذهب اکثره) وروسته واقع سوي وه نو بیا به مجروره وي.	جَائَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ وَ سِوٰی زَيْدٍ وَ سِوَاءَ زَيْدٍ وَ حَاشَا زَيْدٍ

جدول د لفظ د غیر د اعراب د صورتو

قواعد	او امثله
۱. مستثنی متصل	جَائَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ
۲. مستثنی منقطع	جَاءَ الْقَوْمُ غَيْرَ حِمَارٍ
۳. کلام غیر موجب وي مستثنی پر مستثنی منه باندي مقدم وي.	مَا جَائَنِي غَيْرَ زَيْدٍ أَحَدٌ
کلام غیر موجب وي او مستثنی منه مذکوره وي.	مَا جَائَنِي الْقَوْمُ غَيْرُ زَيْدٍ وَغَيْرَ زَيْدٍ
مستثنی مفرغ وي او په کلام غیر موجب کي واقع سوي وي.	مَا جَائَنِي غَيْرُ زَيْدٍ مَا رَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ مَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ

جملې:

عنوان	خبریه انشائیه	مسند	مسندالیه	تعیین حروف عامله و غیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام د صور د اعراب مستثنی و کذالک تعیین مستثنی و مستثنی منه
فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ	خبریه فعلیه	(شَرِبُوْا) فعل	(هُمْ) فاعل	(فَ) استئنافیه، (مِنْ) جاره، (إِلَّا) حرف استثنا غیر عامل	(شَرِبُوْا) فعل معلوم	(قَلِيلًا) صفت مشبه	(هُمْ) فاعل	(قَلِيلًا) مستثنی فی الاصل صفة لمحذوف ای قِسْمًا قَلِيلًا	(هٖ) مجرور متعلق (شَرِبُوْا) (هُمْ) مجرور متعلق محذوف صفة (لِقَلِيلًا)	(قَلِيلًا) مستثنی متصل غیر مفرغ فی کلام موجب منصوب (۱) اول قسم اول صورت، (هُمْ) مستثنی منه
وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِنْ دِيَارِكُمْ مَا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِنْهُمْ	خبریه اسمیه	(كَتَبْنَا) خبر أَنَّ، كُتُبْ، اُقْتُلُوا، اُخْرُجُوا، فَعَلُوْا	(نَا) اسم أَنَّ، نَا، أَنْتُمْ، أَنْتُمْ، هُمْ	(وَ) عاطفه، (أَنَّ) مشبه بالفعل، (عَلٰى) جاره، (أَوْ) عاطفه (مَا) نافیه، (أَنْ) مصدریه، (مِنْ) جاره یا تفسیریه	(كَتَبْنَا، اُقْتُلُوا، اُخْرُجُوا، فَعَلُوْا) فعل معلوم	(أَنْفُسَ، دِيَارِ) اسم مضاف (قَلِيلٌ) صفت مشبه	(كَتَبْنَا) جمله خبر أَنَّ (نَا) فاعل، (أَنْتُمْ) فاعل، (أَنْتُمْ) فاعل (هُمْ) فاعل (قَلِيلٌ) بدل من ضمیر فاعل	(نَا) اسم أَنَّ (أَنِ اقْتُلُوا) جمله فی محل النصب مفعول به لِكَتَبْنَا علی تقدیر ان مصدریه (أَنْفُسَ) مفعول به (هٗ) مفعول به	(عَلَيْهِمْ) متعلق كَتَبْنَا (كُمْ، كُمْ) مضاف الیه، (مِنْ دِيَارِ) متعلق اُخْرُجُوا، (مِنْهُمْ) متعلق بنعت محذوف (لِلْقَلِيلِ)	(قَلِيلٌ) مستثنی متصل غیر مفرغ فی کلام غیر موجب مرفوع (۲) دوهم قسم جوړ نصب و رفع صورت بدلیت (هُمْ) مبدل منه مستثنی منه
يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ	انشائیه نهیه	(اُدْعُوْ، لَا تَغْلُوْا، لَا تَقُوْلُوْا) فعل	(أَنَا، أَنْتُمْ، أَنْتُمْ) فاعل	(يَا) حرف ندا قائم مقام أَدْعُوْ (لَا) ناهیه جازمه (فِيْ، عَلٰى) جاره (وَ) عاطفه (إِلَّا) حرف استثنا	(أَدْعُوْ، لَا تَغْلُوْا، لَا تَقُوْلُوْا) فعل معلوم	(أَهْلَ، دِيْنِ) اسم مضاف	(أَنَا) فاعل أَدْعُوْ (أَنْتُمْ، أَنْتُمْ) فاعل	(أَهْلَ) مفعول به (لِأَدْعُوْ) منادی مضاف (الْحَقَّ) مفعول للفعل (تَقُوْلُوْا)	(الْكِتَابِ، كُمْ) مضاف الیه (فِيْ دِيْنِ) متعلق بالفعل (لَا تَغْلُوْا) (عَلَى اللّٰهِ) متعلق بمحذوف حال من الحق ای موقوفا علی الله	(الْحَقَّ) مستثنی مفرغ فی کلام غیر موجب منصوب (۳) قسم بحسب العوامل (۴) صورت عامل ناصب (قَوْلًا) مستثنی منه محذوف

متون	خبریہ / انشائیہ	مسند	مسند الیہ	تعیین حروف عاملہ و غیر عاملہ	افعال عاملہ	اسماء عاملہ	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام و صورۃ اعراب مستثنیٰ، کذالک تعیین مستثنیٰ و مستثنیٰ منہ
فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ	انشائیہ فعلیہ	(أَسْرِ) (لَا يَلْتَفِتْ) فعل	(أَنْتَ، أَحَدٌ) فاعل	(فَ) عاطفہ شرطیہ (بِ، بِ، (۲) مِنْ) جارہ (وَ) عاطفہ، (لَا) ناہیہ جازمہ، (إِلَّا) ادوات استثناء	(أَسْرِ، لَا يَلْتَفِتْ) فعل معلوم	(أَهْلِ، امْرَأَةَ) اسم مضاف	(أَنْتَ) فاعل، (أَحَدٌ) فاعل	(امْرَأَةَ) منصوب مستثنیٰ منقطع	(بِأَهْلِكَ، بِقِطْعٍ) متعلق فعل أَسْرِ (مِنَ اللَّيْلِ) جار مجرور متعلق صفت (لِقِطْعٍ) (مِنْكُمْ) متعلق محذوف حال من (أَحَدٌ) فاعل (كَ) مضاف الیہ	(امْرَأَةَ) مستثنیٰ منقطع غیر مفرغ فی کلام غیر موجب منصوب (۱) اول قسم (۳) دوم صورت (أَحَدٌ، یا أَهْلَ) مستثنیٰ منہ
يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ	خبریہ فعلیہ	يُضِلُّ، يَهْدِي، مَا يُضِلُّ فعل	(هُوَ، هُوَ، هُوَ) فاعل	(بِ، بِ، بِ) جارہ (وَ) اول عاطفہ (وَ) ثانی استنافیہ او حالیہ (مَا) نافیہ (إِلَّا) ادوات الاستثناء	يُضِلُّ، يَهْدِي، مَا يُضِلُّ فعل معروف	۲. (كَثِيرًا) صفت مشبہ (الْفَاسِقِينَ) اسم فاعل	(هُوَ، هُوَ) فاعل (هُوَ) فاعل	(كَثِيرًا، كَثِيرًا) مفعول بہ (الْفَاسِقِينَ) مفعول بہ	(بِهِ) متعلق (يُضِلُّ) (بِهِ) متعلق (يَهْدِي) (بِهِ) متعلق (مَا يُضِلُّ)	(الْفَاسِقِينَ) مستثنیٰ متصل مفرغ فی کلام غیر موجب منصوب (۳) قسم بحسب العوامل (۴) صورت عامل بحسب (أَحَدٌ) مستثنیٰ منہ محذوف
قَالَ النَّارُ مَثْوَاكُمْ خَالِدِينَ فِيهَا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ	خبریہ فعلیہ	(قَالَ، خَالِدِينَ، مَثْوَاكُمْ) خبر (شَاءَ) فعل	(هُوَ، هُمْ، اللَّهُ) فاعل (النَّارُ) مبتدا	(فِي) جارہ (إِلَّا) ادوات الاستثناء	(قَالَ، شَاءَ) فعل معلوم	(مَثْوَا) اسم مضاف (خَالِدِينَ) اسم فاعل (مَا) اسم موصول (مَثْوَا) مصدر یعنی (أَي النَّارُ ذَاتُ ثَوَائِكُمْ)	(هُوَ) فاعل (النَّارُ) مبتدا (مَثْوَا) خبر (اللَّهُ) فاعل (هُمْ) فاعل	(خَالِدِينَ) حال منصوب من ضمیر مجرور (مَثْوَاكُمْ) (مَا) فی محل النصب بنا بر استثناء (إِلَّا زَمَنًا يُرِيدُهُ اللَّهُ)	(كُمْ) مضاف الیہ (فِيهَا) متعلق خالدین	(مَا شَاءَ اللَّهُ) مستثنیٰ متصل غیر مفرغ فی کلام موجب (۱) قسم (۱) صورت (خَالِدِينَ) مستثنیٰ منہ
قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الظَّالِمُونَ	انشائیہ فعلیہ	قُلْ، رَأَيْ، أَتَى، يُهْلَكُ فعل	(أَنْتَ، تَ، عَذَابُ، الْقَوْمُ) فاعل	(أَ) حرف استفہام (إِنْ) حرف شرط (أَوْ) عاطفہ (هَلْ) حرف استفہام (إِلَّا) ادوات الحصر	(قُلْ، رَأَيْ، أَتَى) فعل معلوم (يُهْلَكُ) فعل مجہول	(عَذَابُ) اسم مضاف (بَغْتَةً، جَهْرَةً) مصدرین (الظَّالِمُونَ) اسم فاعل	(أَنْتَ، تَ عَذَابُ) فاعل (الْقَوْمُ) نائب فاعل (الظَّالِمُونَ) صفۃ القوم (إِنْ أَتَاكُمْ إلخ) شرط وجملۃ الشرطیۃ جواب الشرط محذوف ای فاخبرونی	(كُمْ، كُمْ) مفعول بہ (أَرَأَيْتَكُمْ) فی محل النصب مقول قول (بَغْتَةً) حال (جَهْرَةً) معطوف (هَلْ يُهْلَكُ) فی محل النصب مفعول ثانی (أَرَأَيْتَكُمْ)	(اللَّهِ) مضاف الیہ	(الْقَوْمُ الظَّالِمُونَ) مستثنیٰ متصل مفرغ فی کلام غیر موجب (۳) قسم بحسب العوامل (۱) صورت عامل درفع (أَحَدٌ) مستثنیٰ منہ محذوف
فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَاهَا مِنَ الْغَابِرِينَ	خبریہ فعلیہ	(أَنْجَيْ، قَدَّرْ) فعل	(نَا، نَا) فاعل	(فَ) استنافیہ (وَ) عاطفہ (إِلَّا) ادوات استثناء (مِنْ) جارہ	(أَنْجَيْنَا، قَدَّرْنَا) فعل معلوم	(امْرَأَةَ أَهْلَ) اسم مضاف (الْغَابِرِينَ) اسم فاعل	(نَا، نَا، هُمْ) فاعل	(هُ، أَهْلَ، هَا) مفعول بہ (امْرَأَةَ) مستثنیٰ منصوب	(هُ، هُ) مضاف الیہ (مِنَ الْغَابِرِينَ) متعلق (قَدَّرْنَا)	(امْرَأَةَ) مستثنیٰ متصل و منقطع غیر مفرغ فی کلام موجب منصوب (۱) قسم (۱) صورت یا (۳) صورت (أَهْلَ) مستثنیٰ منہ
إِنْ جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِلَيْلٍ	خبریہ فعلیہ	(جَعَلَ) فعل (يَأْتِي) فعل (إِلَٰهٌ) خبر	(اللَّهُ) فاعل (مَنْ) مبتدا (هُوَ) فاعل	(إِنْ) حرف شرط جازم (عَلَى، إِلَى، بِ) جارہ	(جَعَلَ، يَأْتِي) فعل معلوم	(يَوْمِ) ظرف مضاف (غَيْرُ) اسم مضاف (مَنْ) اسم استفہام	(اللَّهُ) فاعل (مَنْ) محلا مبتدا (إِلَٰهٌ) خبر (غَيْرُ) صفۃ لہ (هُوَ) فاعل	(النَّهَارَ) مفعول اول (سَرْمَدًا) مفعول ثانی (كُمْ) مفعول بہ	(عَلَيْكُمْ) متعلق (جَعَلَ) (إِلَى) متعلق (يَوْمِ) مجرور بحرف (سَرْمَدًا) (الْقِيَامَةِ) مضاف الیہ (اللَّهِ) مضاف الیہ (بِلَيْلٍ) متعلق (يَأْتِي)	(غَيْرُ) لفظ ولیس للاستثناء

عنوان	نمبر، اقسام	مسند	مسند الیه	تعیین حروف عامله و غیر عامله	افعال عامله	اسماء عامله	تعیین مرفوعات	منصوبات	مجرورات	تعیین اقسام و صورت و اعراب مستثنی، کذالک تعیین مستثنی، مستثنی منه
إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللّٰهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُوْنَ	خبریه اسمیه	(لَا يَيْأَسُ) لَا يَيْأَسُ فعل	(ه) اَلْقَوْمُ فاعل	(إِنَّ) مشبه بالفعل (لَا) نفی (مِنْ) جاره (إِلَّا) برائے حصر	(لَا يَيْأَسُ) فعل معلوم	(رَوْح) اسم مضاف (اَلْكَافِرُوْنَ) اسم فاعل	(لَا يَيْأَسُ) فی محل الرفع خبر (إِنَّ) (اَلْقَوْمُ) فاعل (اَلْكَافِرُوْنَ) صفت قوم	(ه) اسم (إِنَّ)	(مِنْ رَوْحِ) متعلق (لَا يَيْأَسُ) (اَللّٰهِ) مضاف الیه	(اَلْقَوْمُ) مستثنی متصل مفرغ فی کلام غیر موجب مرفوع بحسب العامل (۳) قسم (۳) صورت [illegible] (أَحَدٌ) مستثنی منه
كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ	خبریه اسمیه	(هَالِكٌ) هَالِكٌ	(كُلُّ شَيْءٍ و هُوَ)	(إِلَّا) برائے استثناء	•	(كُلُّ) اسم مضاف (هَالِكٌ) اسم فاعل (وَجْهَ) اسم مضاف	(كُلُّ) مبتدا (هَالِكٌ) خبر (هُوَ) فاعل	(وَجْهَهُ) منصوب بنابر استثناء	(شَيْءٍ) مضاف الیه (ه) مضاف الیه	(وَجْهَهُ) مستثنی متصل غیر مفرغ فی کلام موجب منصوب (۱) قسم (۱) صورت (شَيْءٍ) مستثنی منه
لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوْفٍ	خبریه اسمیه	فِيْ كَثِيْرٍ، أَمَرَ	خَيْرَ، هُوَ	(لَا) نافیه جنس (فِيْ، مِنْ، بَا) جاره (إِلَّا) برائے استثناء (أَوْ) عاطفه (مَنْ) اسم موصول	\ (أَمَرَ) فعل معلوم	(خَيْرَ) اسم تفضیل (كَثِيْرٍ) صفت مشبه (مَعْرُوْفٍ) اسم مفعول (نَجْوَا) اسم مصدر مضاف	(خَيْرَ) محلاً مرفوع فی محل الابتداء اسم (لَا) (هُوَ) فاعل (أَمَرَ)	(إِلَّا مَنْ) فی محل النصب مستثنی منقطع	(فِيْ كَثِيْرٍ) متعلق محذوف (خَيْرَ) (مِنْ نَجْوَا) متعلق صفت محذوف (اَلْكَثِيْرِ) (اَلصَّدَقَةِ) متعلق (بِأَمَرَ) فعل (مَعْرُوْفٍ) فی معطوف (علی صدقة)	(إِلَّا مَنْ) مستثنی منقطع [illegible] (اَلنَّجْوَا فِيْ مَنْ أَمَرَ) غیر مفرغ فی کلام غیر موجب (۲) قسم (۳) صورت [illegible] (اَلنَّجْوَا هُمْ) مستثنی منه

التمرين:

"فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ.. خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ.. وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ.. وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ.. لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ.. وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلَّا الْفَاسِقُونَ.. لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا.. وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ.. فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ إِلَّا إِبْلِيسَ.. فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا".

د نحومير خلاصه:

لفظ مستعمل په كلام د عربو كي پر دوه قسمه دئ:

۱. اول لفظ موضوع دئ.

۲. دوهم لفظ مهمل دئ.

موضوع پر دوه قسمه دئ:

۱. اول مفرد دئ.

۲. دوهم مرکب دئ.

مفرد پر درې قسمه دئ:

۱. اول اسم دئ.

۲. دوهم فعل دئ.

۳. دریم حرف دئ.

مرکب پر دوه قسمه دئ:

۱. اول مفید دئ.

۲. دوهم غیر مفید دئ.

مفید ته جمله او کلام هم ویل کیږي.

جمله پر دوه قسمه ده:

۱. اوله جمله خبریه ده.

۲. دوهمه جمله انشائیه ده.

جمله خبریه پر دوه قسمه ده:

۱. اوله جمله اسمیه ده.

۲. دوهمه جمله فعلیه ده.

د اسمیه اول جزء ته مبتداء، محکوم علیه او مسند الیه ویل کیږي او دوهم جزء ته یې خبر محکوم به او مسند ویل کیږي.

او د فعلیه اول جز ته فعل او مسند ویل کیږي او دوهم جز ته یې فاعل او مسند الیه ویل کیږي.

اسم مسند او مسند الیه دواړه را تلای سي، فعل یوائي مسند را تلای سي او حرف نه مسند را تلای سي او نه مسند الیه.

جمله انشائیه پر لس (۱۰) قسمه ده:

امر، نهي، استفهام، تمنی، ترجی، عقود، ندا، عرض، قسم، تعجب.

مرکب غیر مفید پر دوه قسمه دئ:

۱. اول تقیدي دئ.

۲. دوهم غیر تقیدي دئ.

تقیدي پر دوه قسمه دئ:

۱. اول اضافي دئ.
۲. دوهم توصیفي دئ.
غیر تقیدي پر درې قسمه دئ:
۱. اول بنائي دئ.
۲. دوهم منع صرف دئ.
۳. دریم صوتي دئ.
د اسم یوولس (۱۱) علامې دي، د فعل اووه (۷) علامې دي بطبق نحو میر او د حرف یوه علامه ده.
معرب پر ده قسمه دئ:
۱. اول اسم متمکن چي په ترکیب کي واقع سوی وي.
۲. دوهم فعل مضارع چي د نون جمع مؤنث او نون تاکید څخه خالي وي.
مبني پر دوه قسمه دئ:
۱. اول مبني اصل.
۲. دوهم مبني غیر اصل.
مبني اصل درې شیان دي:
۱. اول ماضي ده.
۲. دوهم امر حاضر دئ.
۳. دریم جمله حروف دي.
مبني غیر اصل هم درې دئ:
۱. اول اسم غیر متمکن دئ.
۲. دوهم فعل مضارع سره د نون د جمع مؤنث او د نون تاکید سره.
۳. دریم اسم متمکن چي په ترکیب کي نه وي واقع سوی.
اسم غیر متمکن اته (۸) قسمه دئ:
مضمرات (مضمرات پنځه دي: مرفوع متصل، مرفوع منفصل، منصوب متصل، منصوب منفصل، مجرور متصل)، اسماء إشارات، اسماء موصولات، اسماء افعال بمعنی ماضي، اسماء افعال بمعنی امر حاضر معروف، اسماء اصوات، اسماء ظروف، اسماء کنایات، مرکب بنائي.
اسم په عتبار د تعریف او تنکیر سره پر دوه قسمه دئ:

۱. معرفه.

۲. نکره.

معرفه پر اووه (۷) قسمه ده:

(۱) اعلام. (۲) مضمرات. (۳) اسماء اشارات. (۴) اسماء موصولات. (۵) منادی. (٦) معرف باللام. (۷) مضاف الی احدها سِوی المنادی.

د جنس په اعتبار سره اسم پر دوه قسمه دئ:

۱. اول مذکر دئ.

۲. دوهم مؤنث دئ.

د تانیث علامې څلور دئ: الف مقصوره، الف ممدوده، تاء ملفوظه، تاء مقدره.

مؤنث پر دوه قسمه دئ:

۱. اول مؤنث قیاسي دئ.

۲. دوهم مؤنث سماعي دئ.

بیا مؤنث پر دوه قسمه دئ:

۱. اول مؤنث حقیقي دئ.

۲. دوهم مؤنث لفظي دئ.

د تعدد په اعتبار سره اسم پر درې قسمه دئ:

۱. اول واحد دئ.

۲. دوهم تثنیه ده.

۳. دریم جمع ده.

جمع د لفظ په اعتبار سره پر دوه قسمه ده:

۱. اول جمع تکسیره ده.

۲. دوهم جمع سالمه ده.

جمع سالم پر دوه قسمه ده:

۱. اول مذکره ده.

۲. دوهم مؤنثه ده.

د معنی په اعتبار سره جمع پر دوه قسم ده:

۱. اول جمع قلته ده.

۲. دوهم جمع کثرته ده.

د جمع قلت شپږ اوزان دي.

اسم متمکن پر شپاړس (١٦) قسمه دئ:

مفرد منصرف صحيح، مفرد منصرف جاري مجرای صحيح، جمع مکسر منصرف، جمع مؤنث سالم، غير منصرف، اسماء سته مکبره، تثنيه حقيقي، معنوي، صوري، جمع حقيقي، معنوي، صوري، اسم مقصور، مضاف الی ياء المتکلم غير جمع مذکر سالم، اسم منقوص، جمع مذکر سالم مضاف الی ياء المتکلم.

مضارع د اعراب په اعتبار سره پر څلور قسمه ده.

(۱) مفرد صحيح. (۲) مفرد معتل واوي، يايي. (۳) مفرد معتل الفي. (۴) تثنيه، جمع، واحده مؤنثه.

عامل پر دوه قسمه دئ:

۱. اول لفظي دي.

۲. دوهم معنوي دي.

بيا لفظي پر دوه قسمه دئ:

۱. اول حروف عامله دي.

۲. دوهم اسماء عامله دي.

حروف عامله پر دوه قسمه دي:

۱. اول عامله در اسم دي.

۲. دوهم عامله در فعل دي.

بيا عامله در اسم اووه قسمه دي:

حروف جاره (هغه اوولس دي)، حروف مشبه بالفعل (هغه شپږ دي)، "مَا" و "لَا" مشابهتان بليس، "لَاء" نفي جنس، حروف ندا (هغه پنځه دي).

عامله در فعل پر دوه قسمه دي:

حروف ناصبه (هغه څلور دي)، حروف جازمه (هغه پنځه دي).

افعال عامله پر شپږ قسمه دي:

فعل معروف (او د ده معمولات اووه (۷) دي: فاعل، مفعول مطلق، مفعول فيه، مفعول معه، مفعول له، حال، تميز. که چيري فعل متعدي وي، نو مفعول به هم په معمولاتو کي شامل وي، نو د فعل متعدي اته معمولات سوه)، فعل مجهول، افعال ناقصه، افعال مقاربه، افعال مدح و ذم، فعل تعجب.

اسماء عامله یوولس (۱۱) دي:

اسماء شرطيه، اسماء افعال بمعنی ماضي، اسماء افعال بمعنی امر حاضر، اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضيل، مصدر، اسم مضاف، اسم تام، اسماء کنايه.

عوامل معنوي دوه قسمه دي:

۱. اول ابتداء يعني د اسم خالي والی د عوامل لفظيه وو څخه.

۲. دوهم خُلوَ يعني د فعل مضارع خالي والی د نواصبو او جوازمو څخه.

توابع پر پنځه قسمه دي:

صفت بحال الموصوف، صفت بحال متعلق الموصوف، تاکيد لفظي و معنوي، بدل الکل والبعض والاشتمال والغلط، عطف بحرف، عطف بيان.

حروف غير عامله اوولس دي:

حروف تنبيه، حروف ايجاب، حروف تفسير، حروف مصدريه، حروف تحضيض، حروف توقع، حروف استفهام، حروف ردع، تنوين، نون تاکيد، حروف زيادت، حروف شرط، لولا، لام مفتوح برای تاکيد، "مَا" بمعنی "مَادَامَ" حروف عطف.

مستثنی پر دوه قسمه ده:

۱. اول مستثنی متصله ده.

۲. دوهم مستثنی منفصله ده.

په دوهم اعتباره سره بيا پر دوه قسمه ده:

۱. اول مستثنی مفرغه ده.

۲. دوهم مستثنی غير مفرغه ده.

د مستثنی اعراب څلور قسمه دئ:

(۱) نصب. (۲) رفع او نصب دواړه، (۳) د مستثنی اعراب په اعتبار د عواملو سره (۴) جر دئ.

د ځنځیري ترکیب د اجراء نمونه:

اَللّٰهُ اَحَدٌ	اَللّٰهُ	اَحَدٌ	فَعَلَ رَبُّكَ	فَعَلَ	رَبُّ	كَ	خلاصه
	لفظ، موضوع، مفرد، اسم، بوجه علم، معرب، اسم متمکن، مفرد، منصرف، صحیح، معرفه، علم، مذکر، واحد، عامل، لفظی، مبتدا، مرفوع	لفظ، موضوع، مفرد، اسم، بوجه تنوین، معرب، اسم متمکن، مفرد، منصرف، صحیح، نکره، مذکر، واحد، عامل، لفظی، خبر، مرفوع مبتدا مع الخبر، مرکب، مرکب مفید، جمله اسمیه خبریه	.	لفظ، موضوع، مفرد، فعل، بوجه فتحه در آخر بغیر عامل، مبنی اصل، فعل، ماضی، عامل، لفظی، فعل، عامل، فعل معروف، فعل لازم.	لفظ، موضوع، مفرد، اسم، بوجه اضافت، معرب، اسم متمکن، مفرد، منصرف، صحیح، عامل، لفظی، اسم عامل، اسم مضاف	لفظ، موضوع، مفرد، اسم، مبنی غیر اصل، بر فتح اسم غیر متمکن، ضمیر، مجرور، متصل، معرفه، مذکر، واحد، مضاف الیه معمول برائے رب	"رَبُّ" مضاف مع مضاف الیه مرکب غیر مفید، تقییدی، مرکب اضافی معمول و فعل معروف، فاعل، مرفوع، "فَعَلَ" فعل مع الفاعل مرکب مفید، جمله فعلیه خبریه
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الرَّحْمٰنِ	اَلْحَمْدُ	لام "لِ"	اَللّٰهِ	اَلرَّحْمٰنِ	خلاصه		
	لفظ، موضوع، مفرد، بوجه الف لام، معرب، اسم متمکن، مفرد، منصرف، صحیح، معرفه، معرف باللام، مذکر، واحد، عامل لفظی، مبتدا، مرفوع	لفظ، موضوع، مفرد، حرف، مبنی الاصل، حرف مؤنث سماعی، عامل، لفظی، حرف، عامل، در اسم قسم اول یعنی حرف جار	لفظ، موضوع، مفرد، اسم بوجه علم، معرب، اسم متمکن، مفرد منصرف صحیح، معرفه، علم، مذکر، واحد، عامل، لفظی، متبوع، موصوف	لفظ، موضوع، مفرد، اسم، بوجه الف لام، معرب، اسم متمکن، مفرد، منصرف، صحیح، معرفه، معرف، باللام، مذکر، واحد، معمول، تابع، صفت، بحال الموصوف	موصوف، مع الصفة مرکب غیر مفید، تقییدی، مرکب توصیفی، "لِلّٰهِ" حرف جر مع المجرور متعلق "کَائِنٌ" محذوف "کَائِنٌ" اسم فاعل، لفظ، موضوع، مفرد، اسم بوجه تنوین، معرب، اسم متمکن، مفرد، منصرف، صحیح، نکره، مذکر، واحد، عامل، لفظی، اسم عامل، اسم فاعل، فیه ضمیر مستتر "هُوَ" لفظ، موضوع، مفرد، اسم مبنی، غیر اصل، اسم غیر متمکن، ضمیر، مرفوع، منفصل، معرفه، مضمر، مذکر، واحد، معمول، فاعل، مرفوع، "کَائِنٌ" صیغه اسم فاعل مع فاعله "هُوَ" و متعلقه "لِلّٰهِ" شبه جمله اسمیه خبریه، عامل لفظی خبر، "اَلْحَمْدُ" مبتدا مع الخبر، جمله اسمیه، خبریه، لفظاً انشائیه معنًا		

تمت بالخیر:

کمپوز:...................... عبدالوهاب "متعلم".

معاون:..................... ملا موسیٰ کلیم "متعلم".